خصوصیات

- معرب متن
- په متن باندی اعراب
- د باب نمبر
- د حدیث نمبر
- ترجمه او تشریح
- حل لغات
- د راوی حالات
- د حدیث تخریج
- تحقیق د مذاهب اربعه
- متن مع السند بالاستیعاب

الورد الشذی

پښتو شرح د

جامع الترمذی

افادات
شیخ الاسلام فقیه العصر
محمد حسن جان المدنی شهید رحمه الله

حدیث
۱ تا ۳۰۵

جمع و ترتیب
خادم العلماء
ابو هلال عبد الخالق

مکتبه رحمانیه
محله جنگی قصه خوانی پشاور
0302-6209819
0316-9400041

وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوىٰ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُّوحىٰ

الـــورد الشـــذي

بشرح

جامع الترمذي

الجـــزء الســـابع

من _٣١٤٩_ الى _ ٣٢٠٤_

جمع وترتيب: خادم العلماء المفتقر الي الله ابوهلال: **عبد الخالق بن خان محمد**
خريج الجامعة امداد العلوم الاسلامية پشاور_ وفاضل وفاق المدارس العالمية (ايم اے اسلاميات)

ازافادات

شيخ الاسلام فقيه العصر محمد حسن جان (المدني) شهيد (رحمه الله)

ناشـــر: مكتبه رحمانيه پشاور

اسم الكتاب: الورد الشذي بشرح الجامع للترمذي

جلد: سـابع

من _٣١٤٩_ الى _ ٣٢٠٤_

تاليف: ابوهلال "عبدالخالق" خَرِيْجُ الْجَامِعَة اِمْدَادُ الْعُلُوْمِ الْاِسْلَامِيَّةِ بِشَاوَر_
وفاضل وفاق المدارس العالمية (ايم اى اسلاميات) رابطه نمبر: ٠٣٣٣٩١٢١١٩٢

سال اشاعت: ٢٠٢١

تعداد: ١٠٠٠

ناشر: مكتبه رحمانيه محله جنگي نزد قصه خواني (پشاور)
اهتمام طباعت: الحاج شاه زاده صاحب

بسم الله الرحمن الرحيم

فهرس العناوين والمحتويات

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ، وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

(سورة الصافات: ۱۸۲)

****

بسم الله الرحمن الرحيم

١٩_باب وَمِنْ سُورَةِ الْكَهْفِ

دسورة كهف دبعضي ايتونو تفسير

دَ دي سورة نوم دَ ايت ۱۰ إِذْأَوَى الْفِتْيَةُ إِلَى الْكَهْفِ نه اخستي شوي ده. يعنى هغه سورة چي په هغي كي كهف لفظ راغلي دي

شان نزول

داسورة دنزول په اعتبار مكي دي . دقراؤ دقول مطابق په ۱۱۹ ايتونو مشتمل دي اود اهل كوفه په نزد په ۱۱۸ ايتونو مشتمل دي. حاكم(په مستدرك كي) دابوهريره رضي الله عنه نه دشيخينو دشرط مطابق روايت نقل كړي دي اوصحيح هم گنړلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به په مونځ كي داسمان طرف ته كتل نو دا ايت كريمه نازل شو
دَ دي سورة نه دَ هغه سورتونو اغاز كيږي چي هغه دَ مكي دور په دريم دور كي نازل شوي دي يعنى دَ ۵ هـ نه تر ۱۰ هـ پوري. دَ دي دور نه مخكي مخالفينو دَ نبى صلى الله عليه وسلم دَ دعوت او دَ هغوئ دَ جماعت دَ دباولو دپاره دَ توقو مسخرو اعتراضونو الزامونو تخويف طمع او د مخالف پراپيگنډو نه كار اخستلو ليكن په دي دور كي هغوئ د ظلم وستم وهل ټكول او دَ معاشى دباؤ وسله (اسلحه) استعمالوله. تردي چي دَ مومنانو لوئ تعداد حبشي ته په هجرت كولو باندي مجبوره شو. او باقي مومنان او نبى صلى الله عليه وسلم او دَ هغوئ صلى الله عليه وسلم خاندان په شعب ابى طالب كي بند كړي شول. او دَ دوئ سره ئي مكمل معاشى او معاشرتى بائى كاټ (مقاطعه) اوكړله. ليكن بيا هم په دي دور كي دوه شخصيتونه داسي ؤو چي هغوئ دَ نبى صلى الله عليه وسلم مدد كؤو ابوطالب او خديجه رضى الله عنها په ۱۰ هـ كي چي دا دواړه وفات شول. نو دا دور ختم شو او څلورم دور شروع شو. په دي دور كي په نبى صلى الله عليه وسلم دَ مكي زمكه تنګه شوه. او اخر كار دوئ مديني ته هجرت اوكړو. دَ سورة كهف په مضمون باندي دَ غور كولو نه معلوميږي. چي دا سورة دَ ۵ هـ په آغاز كي نازل شوي دي. ظلم وستم اگر چي انتها ته رسيدلي ؤو ليكن حبشي ته هجرت نهٔ ؤو شوي. په دي وخت كي په مؤمنانو باندي چي كوم ظلمونه كيدل نو دَ مومنانو دَ تسلئ او دَ زړه دَ مضبوطولو دپاره دوئ ته دَ اصحاب كهف قصه بيان كړي شوه چي دويته معلومه شي چي اهل ايمان د خپل ايمان دَ بچ كولو دپاره دَ دينه مخكي څه كړي دي.
ابن جرير په سند داسحاق ديومصري شيخ په حواله دعكرمه په واسطه دابن عباس رضي الله عنهما قول نقل كړي دي چي قريشو نضر بن حارث او عقبه بن ابي معيط لره دمديني ديهودو

علماؤ ته وليږل اوداهدايت يي ورته اوکړو چي محمد صلي الله عليه وسلم چي څه واني او ددوئ چي کوم حالات دي دابه ديهوديانو عالمانو ته بيان کړئ هغوئ اهل کتاب دي اودهغوئ سره چي ځومره علمي ذخيره ده دومره زمونږ سره نشته هغوئ چي هر څه فيصله اوکړه مونږ ته به يي بيان کړئ.

دواړه قاصدان دمشوري مطابق مديني ته ورسيدل اوديهودي عالمانوسره يي ملاقات اوشو درسول الله صلي الله عليه وسلم څه خبري او حالات يي هم ورته بيان کړل ، يهودي عالمانو اوونيل تاسو ورشئ اودمحمد (صلي الله عليه وسلم) نه د دري خبرو تپوسونه اوکړئ کچري بيان يي کړل نو يقينا دي دالله تعالي مرسل نبي دي اوکه بيان يي نکړل نوپوهه شئ چي دروغژن دي.

(١) يو خو ورنه دا تپوس اوکړئ چي دهغه نوجوانانو تعداد څو وو کوم چي مخکني زمانه کي تير شوي دي او واقعات يي ددنيا نه بالکل مختلف وو او دهغوئ واقعه څه وه (٢) دويم دا چي هغه سړي ځوك وو چي په ټوله زمکه کي دمشرق نه ترمغرب پوري ګرځيدلي وو دهغه واقعه او حالات څه وو (٣) دريم دا چي تپوس ورنه اوکړئ چي دروح حقيقت څه دي.

دواړه نمائينده ګان دمديني نه مکي ته واپس لاړل او قريشو ته يي اوونيل مونږ يوه فيصله کونکي طريقه راوړي ده دکومي په سبب چي ستاسو اودمحمد (صلي الله عليه وسلم) په مينځ کي قطعي فيصله کيږي اوبيا ددينه پس رسول الله تشريف راوړو اوخلقو ورنه پورتني ذکر شوي دري سوالونه اوکړل نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ددي جواب به درته سبا درکړم، دجوابونو ورکولو وعده خو يي اوکړه مګر انشاء الله يي ورسره اونه ونيل ددي نتيجه داشوه چي دوحي په راتلو کي پينځلس ورځي تاخير اوشو په دي موده کي نه چرته جبرائيل راغي اونه وحي راوليږلي شوه اخر داچي دوحي دنه راتلو په وجه رسول الله ته ډيره پريشاني لاحق شوه اومکي والا بد خبرونه خورول شروع کړل اودقريشو دطرف نه طعن او تشنيع کولو باران شروع شو اخر داچي دالله تعالي دطرف نه جبرائيل سورة کهف راوړو په دي سورة کي ددواړو سوالونو جواب دي اودروح متعلق ايت کريمه "ويسئلونك عن الروح... هم بيان شوي دي ، اوکافرانو دهدايت په غم کي په غمژن کيدو باندي عتاب هم دي.

٣١٤٩_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ. عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ. عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ. قَالَ: قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ: إِنَّ نَوْفًا الْبِكَالِيَّ يَزْعُمُ أَنَّ مُوسَى صَاحِبَ بَنِي إِسْرَائِيلَ لَيْسَ بِمُوسَى صَاحِبِ الْخَضِرِ. قَالَ: كَذَبَ عَدُوُّ اللهِ. سَمِعْتُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ. يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. يَقُولُ: "قَامَ مُوسَى خَطِيبًا فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ فَسُئِلَ أَيُّ النَّاسِ أَعْلَمُ ؟ فَقَالَ: أَنَا أَعْلَمُ فَعَتَبَ اللهُ عَلَيْهِ

إذ لم يَرُدَّ العلمَ إليه، فأوحى اللهُ إليه أنّ عبدًا من عبادي بمجمع البحرين هو أعلم منك. قال: أي ربِّ فكيف لي به؟ فقال له: احمِلْ حوتًا في مِكْتَلٍ فحيثُ تفقدُ الحوتَ فهو ثَمَّ فانطلقَ وانطلقَ معه فتاه وهو يوشع بن نون فجعل ويقال يوسع. فحمل موسى حوتًا في مكتلٍ. فانطلق هو وفتاه يمشيان حتى أتيا الصخرة. فرقد موسى وفتاه فاضطرب الحوتُ في المكتلِ حتى خرج من المكتلِ فسقط في البحرِ. قال: وأمسك اللهُ عنه جِرْيَةَ الماءِ. حتى كان مثل الطاقِ وكان للحوتِ سربًا. وكان لموسى ولفتاه عجبًا. فانطلقا بقيّةَ يومِهما وليلتِهما ونَسِيَ صاحبُ موسى أن يُخبِرَه. فلمّا أصبح موسى قال لفتاه: آتِنا غداءَنا لقد لقِينا من سفرِنا هذا نصبًا (الكهف :٦٢). قال: ولم ينصب حتى جاوزَ المكانَ الذي أُمِرَ به قال أرأيتَ إذ أوينا إلى الصخرةِ فإني نسيتُ الحوتَ وما أنسانيهُ إلا الشيطانُ أن أذكرَه واتخذَ سبيلَه في البحرِ عجبًا (الكهف :٦٣) قال موسى: ذلك ما كنّا نبغ فارتدّا على آثارِهما قصصًا (الكهف :٦٤). قال: فكانا يقصّان آثارَهما. قال سفيان: يزعم ناسٌ أنّ تلك الصخرةَ عندها عينُ الحياةِ ولا يصيبُ ماؤها ميّتًا إلّا عاش. قال: وكان الحوتُ قد أُكِلَ منه فلمّا قُطِرَ عليه الماءُ عاش. قال: فقصّا آثارَهما حتى أتيا الصخرةَ. فرأى رجلًا مُسجّى عليه بثوبٍ فسلّم عليه موسى. فقال: أنّى بأرضِك السلامُ. قال: أنا موسى. قال: موسى بني إسرائيل؟ قال: نعم. قال: يا موسى إنّك على علمٍ من علمِ اللهِ علّمكَه لا أعلمُه وأنا على علمٍ من علمِ اللهِ علّمنيه لا تعلمُه. فقال موسى: هل أتّبعُك على أن تعلّمنِ ممّا عُلّمتَ رشدًا (٦٦) قال إنّك لن تستطيعَ معيَ صبرًا (٦٧) وكيف تصبرُ على ما لم تُحِطْ به خُبرًا (٦٨) قال ستجدُني إن شاءَ اللهُ صابرًا ولا أعصي لك أمرًا (الكهف :٦٩٦٦) قال له الخضرُ: فإن اتّبعتني فلا تسألني عن شيءٍ حتى أُحدِثَ لك منه ذكرًا (الكهف:٧٠) قال: نعم. فانطلق الخضرُ وموسى يمشيان على ساحلِ البحرِ. فمرّت بهما سفينةٌ فكلّماهم أن يحملوهما فعرفوا الخضرَ فحملوهما بغيرِ نَوْلٍ. فعمد الخضرُ إلى لوحٍ من ألواحِ السفينةِ فنزعه. فقال له موسى: قومٌ حملونا بغيرِ نَوْلٍ عمدتَ إلى سفينتِهم فخرقتَها لتُغرِقَ أهلَها لقد جئتَ شيئًا إمرًا. قال ألم أقل إنّك لن تستطيعَ معيَ صبرًا (٧٢) قال لا تؤاخذني بما نسيتُ ولا تُرهِقني من أمري عسرًا (الكهف :٧٣٧١) ثمّ خرجا من السفينةِ فبينما هما يمشيان على الساحلِ وإذا غلامٌ يلعبُ مع الغلمانِ فأخذ الخضرُ برأسِه فاقتلعه بيدِه فقتله. فقال له موسى: أقتلتَ نفسًا زكيّةً بغيرِ نفسٍ لقد جئتَ شيئًا نُكرًا. قال ألم أقل لك إنّك لن تستطيعَ معيَ

صَبْرًا (الكهف :٧٥٧٤) . قَالَ: وَهَذِهِ أَشَدُّ مِنَ الأُولَى قَالَ إِنْ سَأَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصَاحِبْنِي قَدْ بَلَغْتَ مِنْ لَدُنِّي عُذْرًا . فَانْطَلَقَا حَتَّى إِذَا أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةٍ اسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنْقَضَّ (الكهف :٧٦ ـ ٧٧) . يَقُولُ: مَائِلٌ. فَقَالَ الخَضِرُ بِيَدِهِ هَكَذَا فَأَقَامَهُ (الكهف :٧٧) فَقَالَ لَهُ مُوسَى قَوْمٌ أَتَيْنَاهُمْ فَلَمْ يُضَيِّفُونَا وَلَمْ يُطْعِمُونَا لَوْ شِئْتَ لَاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا . قَالَ هَذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيلِ مَا لَمْ تَسْتَطِعْ عَلَيْهِ صَبْرًا . (الكهف :٧٨٧٧) . قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يَرْحَمُ اللَّهُ مُوسَى لَوَدِدْنَا أَنَّهُ كَانَ صَبَرَ حَتَّى يَقُصَّ عَلَيْنَا مِنْ أَخْبَارِهِمَا. قَالَ: وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الأُولَى كَانَتْ مِنْ مُوسَى نِسْيَانٌ. قَالَ: وَجَاءَ عُصْفُورٌ حَتَّى وَقَعَ عَلَى حَرْفِ السَّفِينَةِ ثُمَّ نَقَرَ فِي البَحْرِ . فَقَالَ لَهُ الخَضِرُ: مَا نَقَصَ عِلْمِي وَعِلْمُكَ مِنْ عِلْمِ اللَّهِ إِلَّا مِثْلُ مَا نَقَصَ هَذَا العُصْفُورُ مِنَ البَحْرِ . قَالَ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ : وَكَانَ يَعْنِي ابْنَ عَبَّاسٍ يَقْرَأُ، وَكَانَ أَمَامَهُمْ مَلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ صَالِحَةٍ غَصْبًا. وَكَانَ يَقْرَأُ. وَأَمَّا الغُلَامُ فَكَانَ كَافِرًا ".

قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَرَوَاهُ الزُّهْرِيُّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وَقَدْ رَوَاهُ أَبُو إِسْحَاقَ الهَمْدَانِيُّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قَالَ أَبُو عِيسَى: سَمِعْت أَبَا مُزَاحِمٍ السَّمَرْقَنْدِيَّ، يَقُولُ: سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ المَدِينِيِّ، يَقُولُ: حَجَجْتُ حَجَّةً وَلَيْسَ لِي هِمَّةٌ إِلَّا أَنْ أَسْمَعَ مِنْ سُفْيَانَ يَذْكُرُ فِي هَذَا الحَدِيثِ الخَبَرَ حَتَّى سَمِعْتُهُ، يَقُولُ: حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ وَقَدْ كُنْتُ سَمِعْتُ هَذَا مِنْ سُفْيَانَ مِنْ قَبْلِ ذَلِكَ وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ الخَبَرَ . [1]

ترجمه : سعيد بن جبير بيان دي فرمايي چي ما ابن عباس ته عرض اوكړو دنوف دبكالي قول دي چې دخضر والا موسي دبني اسرائيلو موسي نه وو (دواړه جدا جدا وو) وبي فرمائيل دالله دشمن درته دروغ وئيلي دي مونږ ته ابیٰ بن كعب وئيلي دي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم نه يي پخپله اوريدلي وو چې يوه ورځ موسي عليه السلام بني اسرائيلو ته دتقرير كولو دپاره اودريدو چا ورنه تپوس اوكړو نن په ټولو كې زيات عالم څوك دي موسي عليه السلام جواب وركړو زه يم ، دالله تعالي دموسي عليه السلام دا خبره خوښه نشوه خكه چي

[1] ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /العلم ١٦ (٧٤) ، ١٩ (٧٨) ، ٤٤ (١٢٢) . والإجارة ٧ (٢٢٦٧) . والشروط ١٢ (٢٧٢٨) . وبدء الخلق ١١ (٣٢٧٨) . والأنبياء (٣٤٠٠) . وتفسير الكهف ٢ (٤٧٢٥) . والتوحيد ٣١ (٧٤٧٨) . صحيح مسلم /الفضائل ٤٦ (٢٣٨٠) (تحفة الأشراف: ٣٩)

خپل ځان ته يې دپوهيدو نسبت اوکړو ‌او داسې يې اونه ونيل چې الله تعالي ته ښه معلومه ده چې څوك زيات عالم دي، نو الله تعالي وحي راوليږله اي موسي ستانه زيات عالم زما يوبل بنده دي څوك چې ددوه سمندرونو ديوځاي کيدو په بريد کې دي موسي عليه السلام عرض اوکړو اي زما پروردګاره دهغه سره به زما ملاقات څنګه اوشي؟ الله تعالي اوفرمائيل په يوه ټکرئ کې يو مهي کيږده او د درياب په کناره خه کله چې مهي دټوکرئ نه اوبو ته ټوپ کړل او غائب شو نو هم هغلته به ستا ملاقات کيږي نو موسي عليه السلام په توشه دان يا ټوکرئ کې يوپوخ مهي دځان سره واخستو اوروان شو اودده خادم يوشع بن نون هم ورسره وو په روانه روانه يوکانړي ته ورنزدې شول او هلته اودريدل اوپه کانړو يې سرونه کيخودل او دواړه اوده شول نو مهي دټوکرئ نه درياب ته ورټوپ کړل او په اوبو کې يې دسرنګ پشان ځان له لار جوړه کړه الله تعالي داوبو رفتار اودرولو اود اوبو يو محراب جوړ شو ،ددې واقعي په وخت کې يوشع بيدار وو اودده دنظر په وړاندې مهي سمندر ته وردانګلي وو ، موسي عليه السلام چې بيدار شو نودورځي په باقي حصه کې هم روان وو ،يعني دخوب نه چې بيدار شو نوبيا روان شو اودمابنامه پورې مسلسل روان وو خوديوشع نه موسي عليه السلام ته ددې واقعي وريادول هير شول، موسي عليه السلام ټوله ورځ مزل اوکړو اوشپه يې هم په روانه تيره کړه خوکله چې ددويم ورځې سحر شو نويوشع ته يې اوونيل مونږ خودې سفر ډير ستړي کړو خوراك راته راوړه کله چې موسي عليه السلام دمهي دټوپ کولو مقام نه تير شوي نه وو تردغه وخته ستړي شوي هم نه وو خوکله چې ددې ځاي نه تير شو نو ستړيا ورته ښکاره شوه ، يوشع اوونيل کله چې مونږ دکانړي سره دمه کړي وه هم هغلته مهي سمندر ته ټوپ کړي وو او زمانه هير شوي وو چې تاته مې ياد کړي وي ، شيطان زمانه هير کړل مهي خو په سمندر کې دځان دپاره ناشنا لار جوړه کړي وه موسي عليه السلام اوونيل هم ددغه ځاي خو مونږ په تلاش کې راوتلي يو اوبيا دواړه پخپلو قدمونو راواپس شول تردې چې مقرر شوي ګټي ته راورسيدل اوهلته يې يوسړي اوليدو چې په څادر يې مخ پټ کړي وو موسي عليه السلام ورباندې سلام واچولو خضر اوونيل ستاسو په دې زمکه کې دسلام طريقه چرته ده موسي عليه السلام اوونيل زه موسي يم حضر عليه السلام اوونيل ايا دبني اسرائيلو موسي موسي عليه السلام اوونيل هو. او زه تاته ددې غرض دپاره راغلي يم چې کوم علم تاته درکړي شوي دې دهغې نه يوڅه ماته راوابنايې .
حضر عليه السلام اوونيل اي موسي ته به زما سره ټينګ نه شي ماته دالله دطرف نه هغه علم راکړي شوي دي دکوم نه چې ته واقف نه يې اوتاته چې الله کوم علم درکړي دي دهغې نه زه واقف نه يم
موسي عليه السلام اوونيل انشاء الله صبرناك به مې بيامومې او زه به ستاد حکم خلاف نه کوم حضر عليه السلام اوونيل کچرې ته زما سره تلل غواړې نو ترڅوچې مې پخپله درته بيان کړي

نه وي نوته به زمانه دكومي پيښيدونكي واقعي متعلق هيڅ تپوس نه كوي دمعاهدي كولو نه پس دواړه روان شول اوپه تلو تلو دسمندر كناري ته ورسيدل چې هلته يوه كشتۍ تيريدله دوئ دواړو كشتۍ والاته دسوريدو اووئيل اوكشتۍ والاحضر عليه السلام پيژندلو نوپه دي وجه يي دوئ دواړه بغير كرايه سواره كړل كله چې روان شول نودلاري په مينځ كې ناڅاپه موسي عليه السلام اوليدل چې جضر عليه السلام په ځتيك دكشتۍ يوه تخته اوباسي موسي عليه السلام ورته اووئيل ناشناكار كوي دي خلقو خو مونږ بغير كرايه سواره كړي يو او ته يي كشتۍ ماتوي چې مونږ ټول په اوبو كې ډوب شو؟ خضر اووئيل ايامادرته مخكې نه وو ونيلي چې ته به زما سره صبر اونكړي شي موسي عليه السلام اووئيل دا خورانه هير شوي وو اوپه هيريدو به مي نه نيسي اوزما اميد دي چې ته به زما په معامله كې په ما تنگي نه راولي.
رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي دموسي عليه السلام اولني حركت دهيريدو په وجه شوي وو او دويم حركت يي په طوږ دشرط وو او دريم حركت يي قصدا په ارادي سره وو.
رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل يوه مرغۍ راغله اودكشتۍ په كناره كيناستله اوپه مخوكه يي د درياب نه اوبه څكلي خضر موسي عليه السلام ته اووئيل زما اوستا علم دالله تعالي دعلم په مقابله كې ددينه زيات نه دي څومره چې دي مرغۍ پخپله مخوكه دسمندر نه اوبه اوڅكلي دي مرغۍ داوبو په څكلوسره دسمندر په اوبو كې هيڅ كمي ندي كړي بيا دواړه روان شول خضر په لاره كې يو هلك اوليدو چې دماشومانوسره يي لوبي كولي خضر اونيولو اودهغه څټ يي پخپل لاس مات كړو اوقتل يي كړو موسي عليه السلام اووئيل داخودي يو ډير بد كار اوكړو چې يو معصوم او بي گناه دي قتل كړو خضر اووئيل ايا ما درته نه وو ونيلي چې ته زماسره صبر نشي كولي ، درسول الله صلي الله عليه وسلم فرمان دي چې دخضر دا حركت دمخكې نه زيات سخت وو نوځكه موسي عليه السلام په بي صبرۍ سره تپوس اوكړو ، موسي عليه السلام اوفرمائيل كچري ددينه پس مي بيا تپوس اوكړو نوبيامي دخان سره مه پريږده اوتاته به زما دطرف نه دمعذرت كومه موقعه پاتي نه وي ددينه پس بيا دواړه روان شول او يوكلي ته ورسيدل دكلي والانه يي خوراك طلب كړو خو هغوئ ورته هيڅ ورنكړل نوهلته يي يوديوال اوليدو چې پريوتو والا وو نوخضر هغه لره جوړ كړو موسي عليه السلام اووئيل مونږ دي كلي ته راغلو اوهيچا راته خوراك رانكړو او نه يي زمونږ ميلمستيا اوكړه (اوتاددوئ ديوال جوړ كړو) كه ستا خوښه وي نو ددوئ نه دي مزدوري اخستلي وه خضر اووئيل اوس زما اوستا په مينځ كې جدائي ده اودا يي هم اووئيل داهغه خبرو وضاحت دي دكومو معلومولو نه بغير چې تا صبر نشو كولي ، درسول الله صلي الله عليه وسلم فرمان دي كاش چې موسي عليه السلام صبر كړي وي اوپه انينده كې يي نور واقعات معلوم كړي وي تردي چې الله تعالي به مونږ ته ددوئ دتفصيل خبر راكړي وي. راوي وائي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل

دموسي عليه السلام داول خل سوال كولو سبب نسيان دي فرمانيل يي چې يوه چنچڼه راغله او دكشتۍ په يو ګوټ كي راپرېوتله او بيا يي په مخوكه كي دسمندر نه اوبه اوچتي كړي خضر ورته اوونيل زما او ستا علم دالله په علم كي دومره كمي نه دي راوستلي لكه ددي مرغۍ مخوكي چې په دي بحر كي كمي نه دي پيدا كړي سعيد بن جبير اوونيل پكار داوه چې ابن عباس داسي لوستلي وي "وكان امامهم ملك يأخذ كل سفينة صالحة غصبا" او هغه به لوستلي وي "واما الغلام فكان كافرا".

امام ترمذي رحمه الله وايي: دابو مزاحم سمرقندي نه مي اوريدلي دي ونيل يي ما دعلي بن المديني نه اوريدلي دي يو خل زه حج ته تلي وم او په ما كي همت نه وو مګر صرف دا وو چې زه دسفيان ثوري نه هغه خبر واورم كوم چې هغه په دي حديث كي ذكر كوي تردي چې ما ورنه واوريدل هغه ونيل "حدثنا عمرو بن دينار" او ما دا سند دسفيان نه ددينه مخكي بل خل اوريدلي وو مګر ددي خبر ذكر يي نه وو كړي.

****

٣١٥٠_حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو قُتَيْبَةَ سَلْمُ بْنُ قُتَيْبَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْجَبَّارِ بْنُ الْعَبَّاسِ الْهَمْدَانِيُّ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْغُلَامُ الَّذِي قَتَلَهُ الْخَضِرُ طُبِعَ يَوْمَ طُبِعَ كَافِرًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه: دابي بن كعب رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمانيل كوم هلك چې حضر عليه السلام قتل كړي وو هغه پيدائشي كافروو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

٣١٥١_حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا سُمِّيَ الْخَضِرَ لِأَنَّهُ جَلَسَ عَلَى فَرْوَةٍ بَيْضَاءَ

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /العلم ١٦ (٧٤)، ١٩ (٧٨)، ٤٤ (١٢٢)، والإجارة ٧ (٢٢٦٧)، والشروط ١٢ (٢٧٢٨)، وبدء الخلق ١١ (٣٢٧٨)، والأنبياء (٣٤٠٠)، وتفسير الكهف ٤ (٤٧٢٥)، والتوحيد ٣١ (٧٤٧٨)، صحيح مسلم/الفضائل ٤٦ (٢٣٨٠) (تحفة الأشراف: ٣٩)

فَاهْتَزَّتْ تَحْتَهُ خَضْرَاءَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (١)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي حضر نوم وړباندي خکه ايخودلي شوي دي چې هغه به په اوچې شوي ګيا کيناستو نو دا ګيا به دده دکيناستو په وجه په شنه ګيا تبديل کيدله (داالله تعالي دطرفه معجزه وه).

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

٣١٥٢_حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ فُضَيْلٍ الْجَزَرِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا صَفْوَانُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ يُوسُفَ الصَّنْعَانِيِّ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِي قَوْلِهِ: وَكَانَ تَحْتَهُ كَنْزٌ لَهُمَا (الكهف :٨٢)، قَالَ: "ذَهَبٌ وَفِضَّةٌ".

حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا صَفْوَانُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ يُوسُفَ الصَّنْعَانِيِّ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ، عَنْ مَكْحُولٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. (٢)

ترجمه : دابوالدرداء رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دايت کريمه "وکان تحته کنزلهما" باره کي اوفرمائل په دي ايت کي دکنز نه مراد سره زر او سپين زر دي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: يزيد بن يزيد بن جابر دمکحول نه په مذکوره سند دماقبل هم معني روايت نقل کړي دي او داحديث غريب دي.

****

٣١٥٣_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، المعنى واحد واللفظ لِمُحَمَّدِ بن بشار، قَالُوا: حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ، مِنْ حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السَّدِّ، قَالَ: "يَحْفِرُونَهُ كُلَّ يَوْمٍ حَتَّى إِذَا كَادُوا يَخْرِقُونَهُ، قَالَ الَّذِي عَلَيْهِمْ: ارْجِعُوا فَسَتَخْرِقُونَهُ غَدًا، فَيُعِيدُهُ اللَّهُ كَأَمْثَلِ مَا كَانَ حَتَّى إِذَا بَلَغَ مُدَّتَهُمْ، وَأَرَادَ اللَّهُ أَنْ

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٤٩٥)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٩٩٦)

يَبْعَثُهُمْ عَلَى النَّاسِ، قَالَ الَّذِي عَلَيْهِمْ: ارْجِعُوا فَسَتَخْرِقُونَهُ غَدًا إِنْ شَاءَ اللَّهُ وَاسْتَثْنَى، قَالَ: فَيَرْجِعُونَ فَيَجِدُونَهُ كَهَيْئَتِهِ حِينَ تَرَكُوهُ فَيَخْرِقُونَهُ فَيَخْرُجُونَ عَلَى النَّاسِ فَيَسْتَقُونَ الْمِيَاهَ، وَيَفِرُّ النَّاسُ مِنْهُمْ فَيَرْمُونَ بِسِهَامِهِمْ فِي السَّمَاءِ فَتَرْجِعُ مُخَضَّبَةً بِالدِّمَاءِ. فَيَقُولُونَ: قَهَرْنَا مَنْ فِي الأَرْضِ وَعَلَوْنَا مَنْ فِي السَّمَاءِ قَسْوَةً وَعُلُوًّا فَيَبْعَثُ اللَّهُ عَلَيْهِمْ نَغَفًا فِي أَقْفَائِهِمْ فَيَهْلِكُونَ. فَوَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ إِنَّ دَوَابَّ الأَرْضِ تَسْمَنُ وَتَبْطَرُ وَتَشْكَرُ شَكَرًا مِنْ لُحُومِهِمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِثْلَ هَذَا. (1)

ترجمه: ابورافع دابوهريره رضي الله عنه په واسطه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په مروي حديث كي دسلطان سكندر دسد متعلق حصه بيان كړي ده چې فرمائيل يي چې ياجوج او ماجوج ددوئ اولاد هره ورځ دا ديوال راكني كله چې دوئ ددي سوري كولو ته رانږدي شي نو ددوئ نګران دوئ ته وائي واپس لاړ شئ سبا به يي سوري كړو او بل طرف ته الله تعالي دي لړ دمخكي نه نور زيات مضبوط كړو بيا چې كله ددي موده پوره شي او الله تعالي خلقو ته ددوئ دليږلو اراده اوكړي دغه وخت كي به د ديوال دكنستونكي نګران اووائي واپس شئ سبا به يي انشاء الله ماتوو، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بيا چې دوئ كله سبا واپس راشي نو دوئ به يي په هم هغه حالت كي بيامومي په كوم حالت چې دوئ پرون پريخودلي وو او بيا به يي مات كړي او په خلقو به دوئ ظهور اوكړي او ټولي اوبه به اوڅكي خلق به ددوئ نه دبچ كيدو دپاره تختي دوئ به خپل غشي اسمان طرف ته اوولي تردي چې ددوئ غشي به په وينو رنګ شوي داسمان نه واپس راوغورځيږي دوئ به وائي مونږ په زمكي والا غالب شو مګر داسمان والانه هم په قوت او لوړوالي كي مخكي شو (يعني الله تعالي) بيابه الله تعالي ددوئ په څټونو كي يوچينجي پيداكړي دكوم په وجه چې به دوئ مړه شي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زمادي په هغه ذات قسم وي دچا په لاس كي چې دمحمد (صلي الله عليه وسلم) روح دي دزمكي ځناور چې ددوئ غوښي اوخوري نوڅاربه او تازه به شي او ددوئ دغوښي په خوړلو به دالله تعالي شكر اداء كړي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي او مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو.

****

٣١٥٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ الْبُرْسَانِيُّ، عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ جَعْفَرٍ، أَخْبَرَنِي أَبِي، عَنِ ابْنِ مِينَاءَ، عَنْ أَبِي سَعْدِ بْنِ أَبِي فَضَالَةَ الأَنْصَارِيِّ وَكَانَ مِنَ

---

[1] _ سنن ابن ماجه/الفتن ٣٣ (٤٠٨٠) (تحفة الأشراف: ١٣٦٨٠) ، و مسند احمد (٢/٥١٠،٥١١)

الصَّحَابَةِ. قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. يَقُولُ: "إِذَا جَمَعَ اللهُ النَّاسَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ يَوْمَ لَا رَيْبَ فِيهِ نَادَى مُنَادٍ مَنْ كَانَ أَشْرَكَ فِي عَمَلٍ عَمِلَهُ لِلَّهِ أَحَدًا فَلْيَطْلُبْ ثَوَابَهُ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللهِ فَإِنَّ اللهَ أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ بَكْرٍ. [1]

ترجمه دابوسعيد بن ابي فضاله انصاري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي فرمائيل یي چې كله الله تعالي خلق دقيامت په ورځ دكومي په راتلو كي چې ديو ذري برابر شك هم نشته راجمع كړي نو يو اواز كونكي به اواز اوكړي چاچې دالله تعالي دپاره كار كړي وي او په دي كار كي يي بل څوك شريك كړي وي نو چې څوك يي ورسره شريك كړي وي دي دي خپل ثواب دهغه نه اوغواړي خكه چې الله تعالي دشرك نه په كلي طور بيزاره او بي نيازه دي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي او مونږ یي صرف دمحمد بن بكر په روايت پيژنو.

****

٢٠ــبَاب وَمِنْ سُورَةِ مَرْيَمَ

دسورة مريم دبعضي ايتونو تفسير

وجه د تسميه د سورت مريم

دَ دي سورة نوم دَ ايت وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مَرْيَمَ نه اخستي شوي دي. مراد دا دي چې دا هغه سورت دي چې په دي كي دَ مريم ذكر راغلي دي.

شان نزول

دَ رواياتو نه معلوميږي چې دا سورة دَ حبشي دَ هجرت نه وړاندي نازل شوي دي. مهاجرين اسلام چې د نجاشي دربار ته راوستلي شول. نو جعفر رضی الله عنه په ډك دربار كي دا سورت اولوستلو

په دي سورة كي اشاره ده چې مومنان اګر چې دَ يو مظلوم پناه ګزين په حيثيت خپل وطن پريږدي او هجرت كوي. ليكن په دي حالاتو كي هم الله تعالى دويته دَ دين په باره كي دَ سستئ

[1] سنن ابن ماجه/الزهد ٢١ (٤٢٠٣) (تحفة الأشراف: ١٢٠٢٢)

کولو ذره برابر تعلیم نهٔ دي ورکړي. بلکه دَ هجرت په وخت دَ لاړي دَ توخي په طور دا سورة ئي هغوئ ته ورکړو. چي دَ عیسایانو په ملك کي دَ عیسیٰ علیه السلام صحیح حیثیت پیش کړی. او دَ دي خبري رد اوکړی. چي هغه دَ الله تعالیٰ خوي ؤو.

په رومبنو څلویښتو ایتونو کي دَ یحیٰی علیه السلام او دَ عیسیٰ علیه السلام دَ قصي بیانولو نه پس دَ زماني دَ حالاتو په مناسبت سره دَ ایت ۴۱ نه تر ایت ۵۰ پوري دَ ابراهیم علیه السلام قصه بیان شوي ده ځکه چي په داسي حالاتو کي هغه هم دَ خپل پلار. خاندان او دَ ملك دَ خلقو دَ ظلمونو نه تنګ راغلي ؤو او هجرت ئي کړي ؤو. په دي کي دَ مکي کفارو ته سبق دي. چي نن دَ نبی صلی الله علیه وسلم ملګری دَ ابراهیم علیه السلام په شان هجرت کوی او تاسو دَ ابراهیم علیه السلام دَ زماني دَ ظالمانو په شان ئي. چي هغوئ ابراهیم علیه السلام دَ خپل ملك نه ویستلي ؤو. په دي کي مهاجرینو ته بشارت دي. چي په هجرت سره به تاسو دَ ابراهیم علیه السلام په شان کامیاب شئ او بیا دَ ایت ۵۱ نه دَ نورو پیغمبرانو ذکر دي. او مقصد په کي دا دي چي دَ ټولو پیغمبرانو دین یو دي. او دَ محمد صلی الله علیه وسلم دعوت هم هغه دین طرف ته دي. لیکن دَ انبیاء علیهم السلام دَ زماني نه پس دَ هغوئ امتونه ګمراه شول په آخری ایتونو کي دَ کفارو په ګمراهئ باندي سخت تنقید شوي دي او مومنانو ته بشارت دي چي دَ حق دَ دشمنانو په مقابله کي به تاسو کامیاب شئ نن که کفار تاسو ته په بد نظر ګوری لیکن ډیر زر به تاسو دَ عزت خاوندان شئ.

۳۱۵۵ـ حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الأَشَجُّ، وَأَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، قَالاَ: حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ. قَالَ: بَعَثَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى نَجْرَانَ. فَقَالُوا لِي: أَلَسْتُمْ تَقْرَءُونَ يَا أُخْتَ هَارُونَ وَقَدْ كَانَ بَيْنَ عِيسَى، وَمُوسَى مَا كَانَ. فَلَمْ أَدْرِ مَا أُجِيبُهُمْ. فَرَجَعْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ. فَقَالَ: " أَلاَ أَخْبَرْتَهُمْ أَنَّهُمْ كَانُوا يُسَمُّونَ بِأَنْبِيَائِهِمْ وَالصَّالِحِينَ قَبْلَهُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ إِدْرِيسَ. [1]

ترجمه. دمغیره بن شعبه رضي الله عنه بیان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم زه نجران ته اولیږلم (او هلته نصاري اباد وو) هغوئ ماته اووئیل ایا تاسو "یااخت هارون" نه لولئ په داسي حال کي چي دموسي او عیسي علیهما السلام په مینځ کي کافي فاصله وه او زه

---

[1] ـ صحیح مسلم/الآداب۱(۲۱۳۵)(تحفة الأشراف: ۱۱۵۱۹)

نه پوهيدم چې دوئ ته څه جواب ورکړم؟ نو زه واپس شوم او نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته راغلم او واقعه مې ورته بيان كړه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل تا ورته ولې نه وئيل چې خلقو به دخان نه په مخكې تير شوو صالحينو انبياؤ نومونه ايخودل
امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث صحيح غريب دي او مونږ يې صرف دابن ادريس په روايت پيژنو.

د مغيره بن شعبه رضي الله عنه حالات

نوم مغيره دپلار نوم يې شعبه بن ابي عامر وو اوكنيت يې ابو عبدالله وو. ابن الاثير ۲ /۲۱۷
په غزوه خندق كې د هجرت په پنځم كال مسلمان شوي وو او په همدې كال يې مدينې ته هجرت وكړو استيعاب ۱/ ۲۵۸.
په حديبيه او ددينه پس په متعددو غزواتو شريك شو . دې او ابو سفيان رسول الله په يوه خاص سريه كې طائف ته ليږلي وو، اوپه ډيرې بهادرئ سره يې دشمن ته شكست وركړو
ويلي شوي دي چې كله يې رسول الله قبرته كوزولو نوګوتمه يې وغورځوله . علي رضي الله عنه اوفرمائيل چې دي را اوباسئ نو ده درسول الله قدم مبارك مسه كړو اودقبر نه راووتلو .
ويلي شوي دي چې درسول الله اخري جدا كيدونكي صحابي مغيره رضي الله عنه وو
مغيره يو ډير زكي انسان وو، دقبيصه بن جابر بيان دي چې زه ډيره زمانه دجابر سره پاتې شوم چې ډير مدبر اوشجاعت والا انسان وو.
دهجرت په پنځوسم كال په كوفه كې دطاعون په وبا كې مړ شو او عمر يې اويا كاله وو(ابن اثير ۱/ ۲۰۲).
دمروياتو تعداد يې۱۳۳ دي چې ۹ پكې متفق عليه دي اوپه يو كې امام بخاري او په دوه وو كې امام مسلم متفرد دي (تهذيب الكمال۳۸۵).

****

۳۱۵٦_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ أَبُو الْمُغِيرَةِ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ (مريم :۳۹) ، قَالَ: " يُؤْتَى بِالْمَوْتِ كَأَنَّهُ كَبْشٌ أَمْلَحُ حَتَّى يُوقَفَ عَلَى السُّورِ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، فَيُقَالُ: يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ، فَيَشْرَئِبُّونَ، وَيُقَالُ: يَا أَهْلَ النَّارِ، فَيَشْرَئِبُّونَ، فَيُقَالُ: هَلْ تَعْرِفُونَ هَذَا ؟ فَيَقُولُونَ: نَعَمْ هَذَا الْمَوْتُ، فَيُضْجَعُ فَيُذْبَحُ فَلَوْلَا أَنَّ اللَّهَ قَضَى لِأَهْلِ الْجَنَّةِ الْحَيَاةَ فِيهَا وَالْبَقَاءَ لَمَاتُوا فَرَحًا، وَلَوْلَا أَنَّ اللَّهَ قَضَى لِأَهْلِ النَّارِ الْحَيَاةَ فِيهَا وَالْبَقَاءَ لَمَاتُوا تَرَحًا ". قَالَ أَبُو

عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه ابو سعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم دايت كريمه "وانذرهم يوم الحسرة" متعلق اوفرمائيل مرګ به دخوږب ګډ په شكل كي راوستلي شي او دجنت او جهنم په مينځ كي په ديوال باندي به اودرولي شي اواز به اوكړي شي اي جنتيانو نو جنتيان به سرونه وراوچت كړي او اوبه ګوري بيابه اواز اوكړي شي اي جهنميانو نو جهنميان به سرونه پورته كړي او ورته به اوګوري بيا به تپوس اوكړي شي ايا تاسو دا پيژنئ؟ دوئ ټول به اووائي هو دا مرګ دي بيا به په اړخ باندي ذبح كړي شي كچري دجنتيانو بارد كي دزندګئ او بقاء فيصله شوي نه وي نو دوئ به دخوشحالئ نه مړه شوي وو. او كچري ددوزخيانو دپاره دجهنم دزندګئ او په جهنم كي دهميشوالي فيصله شوي نه وي نو دوئ به دغم په وجه مړه شوي وو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣١٥٧ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا الحُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا شَيْبَانُ، عَنْ قَتَادَةَ، فِي قَوْلِهِ: وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا (مريم :٥٧) قَالَ: حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: "لَمَّا عُرِجَ بِي رَأَيْتُ إِدْرِيسَ فِي السَّمَاءِ الرَّابِعَةِ". قَالَ: وَفِي البَابِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ سَعِيدُ بْنُ أَبِي عَرُوبَةَ، وَهَمَّامٌ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ صَعْصَعَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثَ المِعْرَاجِ بِطُولِهِ وَهَذَا عِنْدَنَا مُخْتَصَرٌ مِنْ ذَاكَ. ([2])

ترجمه: قتاده دايت كريمه "وَرَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا" متعلق فرمائي چې مونږ ته انس رضي الله عنه بيان كړي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي ي كله چې زه معراج ته بوتلي شوم نو ما ادريس عليه السلام په څلورم اسمان كي اوليدو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي، سعيد بن ابي عروبه او همام او بعضي نورو راويانو دقتاده نه او هغه دانس نه دمالك بن صعصعه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دمعراج پوره حديث نقل كړي دي او دا حديث زمونږ په نزد مختصر دي، او په دي باب

---

[1] ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير مريم ١(٤٧٣٠)، صحيح مسلم /الجنة ١٣(٢٨٤٩) (تحفة الأشراف: ٤٠٠٢)

[2] ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٠٢)

كي دابوسعيد خدري په واسطه هم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه روايت مروي دي
****

٣١٥٨_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا يَعْلَى بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ ذَرٍّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِجِبْرِيلَ: "مَا يَمْنَعُكَ أَنْ تَزُورَنَا أَكْثَرَ مِمَّا تَزُورُنَا؟ قَالَ: فَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةَ وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلا بِأَمْرِ رَبِّكَ (مريم :٦٤ إِلَى آخِرِ الآيَة".
قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ عُمَرَ بْنِ ذَرٍّ، نَحْوَهُ. ([1])

ترجمه : ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلي الله عليه وسلم جبرائيل عليه السلام ته اوفرمائيل تا څه شى منع كوي چې مونږ سره ملاقات اوكړى ددى نه زيات خومره چې ته كوى ، نو دا ايت مبارك نازل شو "وماتنزل الابامر ربك" مونږ نه راكوزيږو مګر ستا درب په حكم دهغه دي څه چې زمونږ مخكى دي او څه چې زمونږ شاته دي او څه چې يى تر مينځه دي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث غريب دى، وكيع هم د عمرو بن ذر نه ددي هم معني روايت نقل كړى دى.

لغات : تزورنا: زاره زيارةً دنصر نه دچا دملاقات دپاره تللو ته وئيلي شي صفت يي زائر راځي او جمع يي زائرين ده.

تشريح: يو خل دځلويښتو ورځو پورې جبرائيل عليه السلام نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته رانغلو نو په دي وجه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اى جبرائيل ورځي دي ډيرې تيرې كړي كه لږ زر زر راځې نو په دي باره كې الله تعالي دا ايت نازل كړو "وماتنزل الا بامر ربك" يعني اي جبرائيل پيغمبرته اووايه چې زما راتلل دالله په حكم سره دي او دالله تعالي دحكم نه بغير زه نه شم راتلى "مابين ايدينا" يعني كوم چې زمونږ په وړاندي دى ددينه مراد اخرت دى "وماخلفنا او كوم چې زمونږ نه شاته دى يعني دنيا "مابين ايدينا" ددي جملي نه دداړو نفخو درمياني حالت مراد دي.
په دي ايت كي د ملائكو د عجز ذكر دي چې هغوئ هم عاجز دى او الله تعالى ته محتاج دى

[1] ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /بدء الخلق ٦ (٣٢١٨) . وتفسير سورة مريم ٥ (٤٧٣١) . والتوحيد ٢٨ (٧٤٥٥) (تحفة الأشراف: ٥٥٠٥)

په هر حال او په هر كار كي ترد‌ي چي زمكي ته هم په خپل اختيار نشى راتللي. ابن عباس رضى الله عنه فرمائيلي دى. چي رسول الله صلى الله عليه وسلم جبرائيل عليه السلام ته اوفرمائيل مَا يَمْنَعُكَ أَنْ تَزُورَنَا أَكْثَرَ مِمَّا تَزُورَنَا (صحيح بخارى) (يعنى ته به مونږ ته ډير راتلي نو اوس څه څيز د زر راتلو نه منع كړي ئي)

نو جبرائيل عليه السلام ورته جواب وركړو. "وماتنزل الا بامر ربك" يعني اي جبرائيل پيغمبرته اووايه چي زما راتلل دالله په حكم سره دي او دالله تعالي دحكم نه بغير زه نه شم راتلى، او په دي كي اشاره ده چي دا تير شوي كلام رشتنى دي. څكه چي دا جبرائيل عليه السلام د الله تعالى په حكم سره راوړي دي.

****

٣١٥٩_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنِ السُّدِّيِّ، قَالَ: سَأَلْتُ مُرَّةَ الْهَمْدَانِيَّ، عَنْ قَوْلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ: وَإِنْ مِنْكُمْ إِلا وَارِدُهَا سورة مريم :٧١ فَحَدَّثَنِي أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ حَدَّثَهُمْ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَرِدُ النَّاسُ النَّارَ ثُمَّ يَصْدُرُونَ مِنْهَا بِأَعْمَالِهِمْ، فَأَوَّلُهُمْ كَلَمْحِ الْبَرْقِ ثُمَّ كَالرِّيحِ ثُمَّ كَحُضْرِ الْفَرَسِ ثُمَّ كَالرَّاكِبِ فِي رَحْلِهِ ثُمَّ كَشَدِّ الرَّجُلِ ثُمَّ كَمَشْيِهِ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَرَوَاهُ شُعْبَةُ، عَنِ السُّدِّيِّ، فَلَمْ يَرْفَعْهُ. [1]

ترجمه : د سدي قول دي ما دمره همداني نه دايت كريمه "وان منكم الا واردها" ه باره كي تپوس اوكړو نو هغه ماته داحديث بيان كړو چي عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دوئ ته بيان كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي خلق به اول جهنم ته لاړ شي بيا به ددينه دخپلو اعمالو په بركت راوخي اولنئ ډله (دچا اعمال چي ډير بهتر وي) دوئ به دبجلئ دبرق پشان په تيزئ سره راوخي، بله ډله به دهوا درفتار پشان، بله ډله به داس دتيزي منډي پشن بيا به دعام اس درفتار پشان بيا به دانسان دمنډي پشان او بيابه دپيدل تلونكي دعام رفتار په طريقه دخلقو راوتل كيږي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن دي داحديث شعبه دسدي نه نقل كړي دي ليكن شعبه مرفوع نه دي ذكر كړى.

****

٣١٦٠_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ السُّدِّيِّ، عَنْ مُرَّةَ،

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٥٥٣)

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَإِنْ مِنْكُمْ إِلا وَارِدُهَا (مريم :٧١، قَالَ: يَرِدُونَهَا ثُمَّ يَصْدُرُونَ بِأَعْمَالِهِمْ ".[1]

ترجمه دابن مسعود رضي الله عنه نه دايت كريمه "وان منكم الا واردها" باره كي مروي دي فرمائيل يي چې خلق به يو ځل جهنم ته لاړ شي او بيا به داعمال صالحه په ذريعه ددينه واپس راوځي.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنِ السُّدِّيِّ بِمِثْلِهِ، قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ، قُلْتُ لِشُعْبَةَ: إِنَّ إِسْرَائِيلَ حَدَّثَنِي، عَنِ السُّدِّيِّ، عَنْ مُرَّةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ شُعْبَةُ: وَقَدْ سَمِعْتُهُ مِنَ السُّدِّيِّ مَرْفُوعًا وَلَكِنِّي عَمْدًا أَدَعُهُ.[2]

ترجمه : شعبه هم دسدي نه ددي په مثل روايت نقل كړي دي دعبدالرحمن قول دي چې شعبه ته مي اوونيل ماته اسرائيل دسدي نه روايت بيان كړي دي او هغه د مره نه دعبدالله بن مسعود په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه، شعبه اوونيل يقينا ما داحديث دسدي نه مرفوع اوريدلي دي ليكن ما قصدا پريخودلي دي.

****

٣١٦١_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " إِذَا أَحَبَّ اللَّهُ عَبْدًا نَادَى جِبْرِيلَ إِنِّي قَدْ أَحْبَبْتُ فُلَانًا فَأَحِبَّهُ، قَالَ: فَيُنَادِي فِي السَّمَاءِ ثُمَّ تَنْزِلُ لَهُ الْمَحَبَّةُ فِي أَهْلِ الْأَرْضِ، فَذَلِكَ قَوْلُ اللَّهِ: إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَنُ وُدًّا (مريم :٩٦، وَإِذَا أَبْغَضَ اللَّهُ عَبْدًا نَادَى جِبْرِيلَ إِنِّي أَبْغَضْتُ فُلَانًا، فَيُنَادِي فِي السَّمَاءِ ثُمَّ تَنْزِلُ لَهُ الْبَغْضَاءُ فِي الْأَرْضِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَى عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا.[3]

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٥٥٣)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٥٥٣)

[3] _ صحيح مسلم/البر والصلة ٤٨ (٢٦٣٧) (تحفة الأشراف : ١٢٧٠٥)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چې الله تعالي يو بنده لره خوښوي نو جبرائيل راوغواړي او ورته اوواني ما فلاني خپل حبيب جوړ كړو او ته هم ورسره محبت كوه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بياجبرائيل په اسمان كي اعلان كوي او بيا دزمكي والاپه زړونو كي دده سره محبت پيدا شي او همدا دايت كريمه "إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَنُ وُدًّا" يقينا هغه خلق چې ايمان ئي راوړيدي او عمل ئي كړيدي د سنت برابر زر ده چې پيدا به كړي دوئ لره رحمان مينه. مفهوم دي. او كله چې الله تعالي كوم بنده لره نه خوښوي (نو هغه سره بغض او نفرت كوي) نوجبرائيل راوغواړي او ورته اووائي زه فلاني لره نه خوښوم بيا هغه په اسمان كي اعلان اوكړي او ټولو ته خبر وركړي نو دزمكي دمخلوق په زړونو كي دده دپاره نفرت او بغض پيدا شي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي او ددي پشان حديث عبدالرحمن بن عبدالله بن دينار دخپل پلار نه او هغه دده دابوصالح نه او هغه دابوهريره رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي.

تشريح: په دي ايت كي هغه خلقو ته بشارت دي چا چې په دنيا كي ايمان راوړيدي او د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په طريقه ئي عمل كړي دي. نو الله تعالى. ملائك او خلق د هغهٔ سره محبت كوی.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دی (الله تعالى چي د چا سره محبت اوكړی نو جبرئيل عليه السلام ته اوفرمانی. چي څه د فلانی سره محبت كوم. ته هم ورسره محبت اوكړه. نو جبرئيل عليه السلام ورسره هم محبت اوكړی. بيا جبرئيل عليه السلام په اسمان والو كي اعلان اوكړی. چي الله تعالى د فلانی سره محبت كوی. نو تاسو ورسره هم محبت اوكړي نو آسمان والا ورسره هم محبت اوكړی. او په زمكه كي په خلقو كي مقبول شی) (صحيح بخاری. صحيح مسلم).

او په دي ايت كي اشاره ده. چي نن خو مومنان د مكي په كوڅو كي ذليله او خوار ګڼړلي شی ليكن هغه وخت ډير نزدي دي چي دوئ به د خپلو نيكو عملونو او خو اخلاقو په وجه د خلقو خوښ شی د دنيا خلق به د دوئ عزت كوی.

د نافرماني او د ګناهونو. د غرور او تكبر او د رياكاري په طاقت باندي چي كوم حكومت قائم وی. نو هغوئ په خپل حكم باندي خلق تابع كولي شی. ليكن د خلقو زړونه نشی تابع كولي. د دي برعكس چي كوم خلق په صداقت او دیانتداري او اخلاص او ښو اخلاقو سره نيغي لاري ته خلق رابلی. نو په شروع كه خلق د هغوئ نه خان لري ساتی. خو اخر د خلقو زړونه هغوئ ته

مانله شي او د بدو خلقو دروغ تر ډير وخته پوري د هغوئ لار نشي بندولي

****

٣١٦٢_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي الضُّحَى، عَنْ مَسْرُوقٍ، قَالَ: سَمِعْتُ خَبَّابَ بْنَ الأَرَتِّ، يَقُولُ: " جِئْتُ العَاصِ بْنَ وَائِلٍ السَّهْمِيَّ أَتَقَاضَاهُ حَقًّا لِي عِنْدَهُ، فَقَالَ: لَا أُعْطِيكَ حَتَّى تَكْفُرَ بِمُحَمَّدٍ، فَقُلْتُ: لَا حَتَّى تَمُوتَ ثُمَّ تُبْعَثَ، قَالَ: وَإِنِّي لَمَيِّتٌ ثُمَّ مَبْعُوثٌ ؟ فَقُلْتُ: نَعَمْ، فَقَالَ: إِنَّ لِي هُنَاكَ مَالًا وَوَلَدًا فَأَقْضِيكَ فَنَزَلَتْ: أَفَرَأَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِآيَاتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا (مريم :٧٧ الاية ".[1])

حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ نَحْوَهُ، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه : دمسروق بيان دي فرمائي چې ما دخباب بن ارت رضي الله عنه نه اوريدلي دي فرمائي چې زه عاص بن وائل سهمي (كافر) ته دخپل حق غوښتلو دپاره ورغلم كوم چې زما په هغه باندي وو هغه راته اووئيل تر څو پوري چې تا دمحمد (صلي الله عليه وسلم) درسالت نه انكار نه وي كړي ترهغي پوري زه تاته ستا حق نشم دركولي ما ورته اووئيل هيڅ كله نه زه درسول الله صلي الله عليه وسلم دنبوت او رسالت نه انكار نشم كولي اګر كه ته دخپلي خبري په كولو كولو مړ هم شي او بيا دوباره ژوندي شي او بيا هم دوباره دا خبره اوكړي (نو بيا به يي هم زه اونه منم) هغه اووئيل ايا زد به مړ كيږم او بيا به ژوندي راپورته كيږم؟ ما اووئيل هو، هغه اووئيل هلته به هم زما سره مال وي او اولاد به وي هلته به ستا حق تاته واپس دركړم تردي چې په دي وخت كي ايت كريمه " أَفَرَأَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِآيَاتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا " نازل شو.

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي.

د خباب بن الارت رضي الله عنه حالات

نوم خباب كنيه ابو عبدالله او دپلار نوم يي ارت بن جندله دجاهليت په زمانه كي دغلامئ په صفت په مكه كي خرڅ كړى شوى وو (اسد الغابه).

داسلام په ابتدائي زمانه كي دزيد بن ارقم رضي الله عنه په كور كي مسلمان شوى دى (طبقات

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /البيوع ٢٩ (٢٠٩١) ، والإجارة ١٥ (٢٢٧٥) ، والخصومات ١٠ (٢٤٢٥) ، وتفسير مريم ٢ (٤٧٣٢) ، و ٥ (٤٧٣٣) ، و٦ (٤٧٣٥) ، صحيح مسلم /المنافقين ٢ (٢٧٩٥) (تحفة الأشراف : ٣٥٢٠)

[2] _ البخاري في الجامع الصحيح /البيوع ٢٩ (٢٠٩١) ، والإجارة ١٥ (٢٢٧٥) ، والخصومات ١٠ (٢٤٢٥) ، وتفسير مريم ٢ (٤٧٣٢) ، و ٥ (٤٧٣٣) ، و٦ (٤٧٣٥) ، ومسلم /المنافقين ٢ (٢٧٩٥)

ابن سعد ۱۱۲/۳).
په اسلام راوړونکو کې دی شپږم نمبر شخصیت دی په ابتداء کې مسلمان شوی غلام وو نو په دي وجه ورته مشرکانو سختي سزاګاني ورکړي وي او په بربنډه خیټه یي په سکروټو څملولی وو او په سینه یي ورله درانه درانه کاڼي ایخودلي وو تردي چې دسکروټو اور به دده د بدن درطوبت په وجه پخپله مړ شو (طبقات ابن سعد ۱۱۷/۳).
مدینې ته چې کله هجرت اوشو نو رسول الله صلي الله علیه وسلم دخراش بن صمه سره دده اخوت قائم کړو او په تمامو غزاواتو کې یي شرکت کړی دی (طبقات ابن سعد).
دتورو جوړولو کاروبار به یي کولو او عمرفاروق رضي الله عنه به هم دده ډیر احترام کولو یو ځل عمرفاروق رضي الله عنه دده لره پخپله ګدئ کینولو او په خلقو کې یي اعلان اوکړو چې دده نه علاوه صرف یو کس بل شته کوم چې په دي ګدئ دکیناستو مستحق دی خباب رضي الله عنه تپوس اوکړو هغه کس څوك دی عمر فاروق اوونیل بلال دی خباب اوونیل هغه زما سره برابر څنګه کیدی شي په مشرکانو کې خو دده مددګاران وو لیکن دالله نه علاوه په دوئ کې زما هیڅوك مددګار نه وو او بیا یي ددینه پس دخپلو مصیبتونو قصه بیان کړه (مستدرك حاکم).
وفات: دهجرت په ۳۷کال په کوفه کې بیمار شو او د دوه اویا کالو په عمر کې وفات شو او په دغه وخت کې علي رضي الله عنه دجنګ صفین نه واپس راغلی وو څنګه چې ورته دده دوفات خبر ورسیدونو فورا حاضر شو او جنازه یي ورباندي اوکړه.
مرویات: دده دمرویاتو شمیر ۳۳دی چې دري په دي کې متفق علیه دي ، او دوه صرف په بخاري کې دي او یو په مسلم کې دي.

****

٢١_بَاب وَمِنْ سُورَةِ طه

دسورة طه دبعضي ایتونو تفسیر

وجه دتسمیه دسورت

د دي سورة نوم د ړومبنی ایت طٰہٰ نه د علامت دپاره ایخودي شوي دي.

شان نزول

د دي د نزول زمانه سورة مریم ته نژدي ده. ممکنه ده چې دا حبشي ته د هجرت کولو په زمانه کي یا د دینه روستو نازل شوي وی او دا خبره یقیني ده چي د عمر رضی الله عنه د اسلام

قبلولو نه وراندي دا سورت نازل شوي دي.
د هغوئ د اسلام قبلولو د ټولو نه زيات معتبر روايت دا دي. چي عمر رضى الله عنه د نبى صلى الله عليه وسلم د وژلو په نيت رااووتلو. نو يو سړي ورته اوئيل چي اول د خپل كور خبر واخله. ستا خور او د هغي خاوند په دي نوى دين كي داخل شويدى. عمر رضى الله عنه چي دا خبره واوريدله نو د خور كور ته راغلو. نو فاطمه بنت خطاب او د هغي خاوند سعيد بن زيد ناست وو او خبّاب بن ارت دويته د يو صحيفي نه تعليم وركوو عمر رضى الله عنه چي راغلو نو خور ئي زر هغه صحيفه پټه كړله. ليكن عمر رضى الله عنه د دوئ د لوستلو اواز اوريدلي وو. عمر رضى الله عنه ترينه اول تپوس اوكړو. او بيا ئي خپل أوخي اووهلو خور خپل خاوند بچ كولو. نو هغه ئي هم اووهله. تردي چي د هغي سر زخمى شو. آخر كار هغوئ دواړو اوئيل چي او مونږه ايمان راوړي دي.او تهٔ چي څه كولي شي نو هغه اوكړه. عمر رضى الله عنه چي د خور وينه اوليدله نو خفه شو. او ورته ئي اوئيل. چي ماته هغه څيز او ښائي چي تاسو لوستلو خور ورله قسم وركړو. چي دا به نهٔ شلوي. بيا ئي ورته اوئيل. چي تا څو پوري غسل نه وى كړي. نو تهٔ ديته لاس نشي لګولي. عمر رضى الله عنه غسل اوكړو. بيا ئي هغه صحيفه واخستله او وي لوستله. په دي كي سورة طٰهٰ ليكلي شوي وو. عمر رضى الله عنه اوفرمائيل چي دا خو ډير عجيبه كلام دي خَبّاب بن ارت چي د عمر رضى الله عنه په راتلو پټ شوي وو هغه چي دا خبره واوريدله نو بهر رااووتلو. او وي وئيل چي څه اميد لرم. چي الله تعالى به ستا نه د خپل نبى په دعوت خورولو كي كار اخلي. پرون ما د نبى صلى الله عليه وسلم نه دا اوريدلي وو چي يا الله ابو الحكم بن هشام يا عمر بن خطاب دواړو كي يو د اسلام حامى جوړ كړي. پس اي عمر الله تعالى طرف ته لاړ شه. الله تعالى طرف ته لاړ شه په دي جملي سره هم هغه وخت عمر رضى الله عنه د خباب بن ارت سره د نبى صلى الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو او اسلام ئي قبول كړو. د حبشي د هجرت لږه موده پس دا واقعه شوي ده

٣١٦٣_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ، أَخْبَرَنَا صَالِحُ بْنُ أَبِي الأَخْضَرِ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: " لَمَّا قَفَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خَيْبَرَ أَسْرَى لَيْلَةً حَتَّى أَدْرَكَهُ الْكَرَى أَنَاخَ فَعَرَّسَ، ثُمَّ قَالَ: يَا بِلَالُ، اكْلَأْ لَنَا اللَّيْلَةَ. قَالَ: فَصَلَّى بِلَالٌ ثُمَّ تَسَانَدَ إِلَى رَاحِلَتِهِ مُسْتَقْبِلَ الْفَجْرِ فَغَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ فَنَامَ فَلَمْ يَسْتَيْقِظْ أَحَدٌ مِنْهُمْ. وَكَانَ أَوَّلَهُمْ اسْتِيقَاظًا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: أَيْ بِلَالُ. فَقَالَ بِلَالٌ: بِأَبِي أَنْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَخَذَ بِنَفْسِي الَّذِي أَخَذَ بِنَفْسِكَ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اقْتَادُوا ثُمَّ أَنَاخَ فَتَوَضَّأَ فَأَقَامَ الصَّلَاةَ ثُمَّ صَلَّى مِثْلَ صَلَاتِهِ لِلْوَقْتِ فِي تَمَكُّثٍ، ثُمَّ قَالَ: وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي (طه :١٤

*. قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَيْرُ مَحْفُوظٍ رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الْحُفَّاظِ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. وَصَالِحُ بْنُ أَبِي الأَخْضَرِ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ ضَعَّفَهُ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ، وَغَيْرُهُ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. (1)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرماني چې کله رسول الله صلي الله عليه وسلم دخيبر نه واپس راتلو دشپې سفر يي اختيار کړو په تلو تلو کي ورته خوب راتلل شروع شول نو مجبورا يي اوښ کينولو او قيام يي اوکړو بلال رضي الله عنه ته يي اوفرمائيل اي بلال نن به ته زمونږ حفاظت او پهره داري کوي. ابو هريره رضي الله عنه وائي بلال دشوګيري کولو دپاره دا طريقه اختيار کړه چې مونځ يي اوکړو او سباکيدو ته وخت نزدي وو. دنمر ختلو ته يي دانتظار کولو په حال کي خپلي کجاوي ته معمولي شان ډډه اووهله نو سترګي يي ورغلي او اوده شو او بيا هيڅوا بيدار نکړي شو په دوئ تولو کي نبي کريم صلي الله عليه وسلم اول بيدار شو او ويې فرمائيل اي بلال (داځه اوشول) بلال عرض اوکړو زما مور او پلار دي په تا باندي قربان شي زه هم هغه څيز راګير کړم کوم چې تاسو راګير کړي وئ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ددي ځاي نه خپل اوښان مخکي بوځئ او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم خپل اوښ کينولو او اودس يي اوکړو او مونځ يي قائم کړو او داسي مونځ يي اوکړو څنګه چې به هغه داطمينان په وخت کي کول تردي چې دي وخت کي رسول الله صلي الله عليه وسلم ايت کريمه "اقم الصلاة لذکري" تلاوت کړو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غير محفوظ دي. دا يو څو حافظانو دزهري نه او هغه دسعيد بن مسيب نه او هغه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه مرسل نقل کړي دي او دوئ پخپلو روايتونو کي دابوهريره ذکر نه دي کړي. صالح بن ابي الاخضر په باب دحديث کي ضعيف ګڼرلي شوي دي چې يحي بن سعيد القطان ورباندي دحفظ په اعتبار سره کلام کړي دي.

****

۲۲ـ باب وَمِنْ سُورَةِ الأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ السَّلاَمُ

دسورة انبياء دبعضي ايتونو تفسير

وجه دتسميه دسورت

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۳۱۷۴)

د دي سورت نوم د يو خاص ايت نه ماخوذ نه دي بلکه په دي سورة کي مسلسل د ډيرو پيغمبرانو ذکر راغلي دي د دي وجي نه د دي نوم الانبياء ايخودي شوي دي

سبب د نزول

د مضمون او د انداز بيان دواړو نه معلوميږي چي د دي د نزول زمانه د مکی دور په مينځ کي ده. د دي په پس منظر کي هغه حالات نيشته کوم چي د اخری دور په سورتونو کي ښکاره دی.

٣١٦٤ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ مُوسَى الأَشْيَبُ بَغْدَادِيٌّ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ دَرَّاجٍ، عَنْ أَبِي الهَيْثَمِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الوَيْلُ وَادٍ فِي جَهَنَّمَ يَهْوِي فِيهِ الكَافِرُ أَرْبَعِينَ خَرِيفًا قَبْلَ أَنْ يَبْلُغَ قَعْرَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ حَدِيثِ ابْنِ لَهِيعَةَ. [1]

ترجمه . دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ويل په جهنم کي يوه کنده ده (او ژوروالي يي دومره دي) کله چي کافر ديته ورغورځولي کيږي نو ددي تل ته درسيدو نه مخکي به څلويښت کاله وخت تير شي

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي او دا مونږ ته دابن لهيعه دسند نه علاوه په بل سند نه دي معلوم چي دا يي مرفوعا نقل کړي وي

****

٣١٦٥ـ حَدَّثَنَا مُجَاهِدُ بْنُ مُوسَى البَغْدَادِيُّ، وَالفَضْلُ بْنُ سَهْلٍ الأَعْرَجُ بَغْدَادِيٌّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ غَزْوَانَ أَبُو نُوحٍ، حَدَّثَنَا لَيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَجُلًا قَعَدَ بَيْنَ يَدَيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ لِي مَمْلُوكِينَ يُكَذِّبُونَنِي وَيَخُونُونَنِي وَيَعْصُونَنِي وَأَشْتُمُهُمْ وَأَضْرِبُهُمْ، فَكَيْفَ أَنَا مِنْهُمْ؟ قَالَ: "يُحْسَبُ مَا خَانُوكَ وَعَصَوْكَ وَكَذَّبُوكَ وَعِقَابُكَ إِيَّاهُمْ، فَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ بِقَدْرِ ذُنُوبِهِمْ كَانَ كَفَافًا لَا لَكَ وَلَا عَلَيْكَ، وَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ دُونَ ذُنُوبِهِمْ كَانَ فَضْلًا لَكَ، وَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ فَوْقَ ذُنُوبِهِمْ اقْتُصَّ لَهُمْ مِنْكَ الفَضْلُ". قَالَ: فَتَنَحَّى الرَّجُلُ فَجَعَلَ يَبْكِي وَيَهْتِفُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَمَا تَقْرَأُ كِتَابَ اللَّهِ {وَنَضَعُ المَوَازِينَ القِسْطَ لِيَوْمِ القِيَامَةِ فَلَا

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٠٦٢)

تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَإِنْ كَانَ مِثْقَالَ (الأنبياء: ٤٧) " الآيَةَ. فَقَالَ الرَّجُلُ: وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا أَجِدُ لِي وَلِهَؤُلَاءِ شَيْئًا خَيْرًا مِنْ مُفَارَقَتِهِمْ أُشْهِدُكُمْ أَنَّهُمْ أَحْرَارٌ كُلُّهُمْ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ غَزْوَانَ، وَقَدْ رَوَى أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ غَزْوَانَ هَذَا الحَدِيثَ. ([1])

ترجمه. دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرماني چې يو کس دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شو او مخامخ کيناستو او عرض يي اوکړو اي دالله رسوله زما دوه غلامان دي چې دروغ راته وايي، او زما په مال کي خيانت کوي، او زما نافرماني کوي. زه ورته کنځل کوم او وهم يي نو دوی لره زما دوهلو څه حکم دي؟ رسول الله اوفرمائيل هغوی تاسره خيانت کړي دي او ستانافرماني يي کړي ده او تاته دروغ واني ددي ټولو کارونو حساب کتاب به کيږي او تا چې دوی ته کومه سزا ورکړي ده ددي به هم حساب کتاب کيږي نو که ستا سزا ددوی دګناهونو په مقدار وي نو ته او دوی به برابر په برابر پاتي شي نه به ستا حق په دوی پاتي شي او نه به ددوی حق په تا باندي پاتي شي او که ستا سزا ددوی دګناه نه کمه وي نو دا به ستا فضل او احسان وي او که ستا سزا ددوی دګناه نه زياته شوه نو ستا نه به دهغي په حساب دزياتي بدله اخستلي شي ددي خبري په اوريدو هغه کس دژړا په حالت کي او دخان وهلو په حالت کي واپس روان شو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ايا ته دالله کتاب نه لولي الله تعالي فرمائيلي دي " وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَإِنْ كَانَ مِثْقَالَ" الايه. اوږدو به مونږ تلي د انصاف په ورځ د قيامت نو ظلم به نشي کيدي په يو نفس هيڅ قسم او که وی عمل په اندازه د داني د دأوری راوړو به هغي لره او پوره يو مونږ حساب کوونکی. دي کس اوونيل زما دي په الله قسم وي زه دخپل خان او ددوی دپاره ددينه زياته بهتره خبره نه مومم چې مونږ ديو بل نه جدا شو او زه تا ګواه کوم چې دوی ټول زما دطرفه ازاد دي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي او مونږ يي صرف دعبدالرحمن بن غزوان په روايت پيژنو، احمد بن حنبل هم دا حديث دعبدالرحمن بن غزوان نه نقل کړي دي.

تشريح: په دي کي د قيامت په ورځ د تلو د عملونو د وزن او د حساب په وجه انسان ته يره ورکوی. ..مَوَازِينَ.. د مِيزان جمع ده. او د قيامت په ورځ به د عملونو د وزن کولو دپاره يا خو به ډيري تلي وی يا تله خو به يوه وی. خو صرف د تلي د شان د بيان دپاره يا د مختلفو عملونو

[1] ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦٦٠٨)

په اعتبار سره د جمع لفظ استعمال شويدي.
"ليوم القيامه" كي لام په معني دفي دي يعني في يوم القيامة. يا دجزا لفظ ديوم نه مخكي محذوف دي يعني دقيامت دورځي دبدلي دپاره يعني ديوم نه مخكي اهل محذوف دي دبعضي علماؤ قول دي چي دميزان نه حقيقي تله مراد نه ده بلكه درست تول او درسته محاسبه اوداعمالو مطابق بدله وركول مراد دي او ميزان په طور دتمثيل او تشبيه مجازا ذكر شوي دي چي درس حساب ورنه مراد دي . داهل سنتوپه نزد دا تاويل درست نه دي بلكه صحيح خبره دا ده چي ميزان دعدل به په شكل دتله كي حقيقتا قائم وي . ابن مبارك په كتاب الزهد كي او اجري په الشريعة كي دسلمان رضي الله عنه موقوف روايت بيان كړي دي او ابن حبان هم دكلبي په سند سره دابو صالح نه دابن عباس بيان نقل كړي دي چي دميزان به يوه ژبه او دوه پلي وي ، ابن مردويه پخپل تفسير كي ليكلي دي چي عائشه رضي الله عنها فرمائيلي دي ماپخپله درسول الله نه اوريدلي دي چي فرمائيل يي چي الله تعالي داسمان اوزمكي پشان دميزان دوه پلي پيدا كړي دي (الحديث).
بيهقي دابن عمررضي الله عنهما په سند سره عمر فاروق رضي الله عنه بيان دجبرائيل دحديث په ضمن كي نقل كړي دي چي جبرائيل عليه السلام اوونيل اي محمد (صلي الله عليه وسلم) ايمان څه شي دي رسول الله اوفرمائيل (ايمان دادي) چي ته الله تعالي اودهغه پيغمبران او جنت او دوزخ او ميزان اومني او دمرګ نه پس په دوباره ژوندي كيدو يقين اوساتي او په ښه اوبد تقدير كي هم عقيده وي جبرائيل اوونيل كه چري زه داسي اوكړم نو ايا زه به مومن شم نو رسول الله اوفرمائيل هو، جبرائيل اوونيل رښتيادي اوونيل
حاكم په مستدرك كي دمسلم دشرط مطابق روايت بيان كړي دي او صحيح يي ګڼړلي دي چي سلمان رضي الله عنه اوونيل رسول الله فرمائيلي دي دقيامت په ورځ به ميزان قائم كړي شي اوكه چري په دي كي زمكه او اسمان تللي كيږي نودا په دي كي راتلي شي
ترمذي او بيهقي دانس رضي الله عنه نه روايت نقل كړي دي او ترمذي حسن هم ګڼړلي دي چي انس رضي الله عنه اوفرمائيل چي مارسول الله ته عرض اوكړواي دالله رسوله دقيامت په ورځ زما شفاعت اوكړه نو ويي فرمائيل همداسي به اوكړم ما عرض اوكړو اي دالله رسوله زه به تاچرته لټوم نو ويي فرمائيل دټولو نه مخكي به ما په پل صراط لټوي ما عرض اوكړو كه چري هلته دي بيانه مومم نو ويي فرمائيل دميزان سره به مالټوي ما اوونيل كه هلته دي هم اونه مومم نو ويي فرمائيل دحوض سره مي تلاش اوكړه
حاكم او بيهقي او اجوري دام المومنين عائشه رضي الله عنها بيان نقل كړي دي چي فرمائيل يي ما عرض اوكړو چي تاسو به په قيامت كي خپلي بي بياني يادوئ نو ويي فرمائيل دري مقامات داسي دي چي هلته څوك چالره نه يادوئ .

(۱) په هغه خاي کي چرته چي ميزان قـائميږي ترڅو چي چاتـه دا نـه وي معلومـه شـوي چي دده داعمالو وزن سپك شو او كه درونډ.
(۲) په هغه خاي کي چرته چي پل صراط قائميږي ترديږوري چي دا ورتـه نـه وي معلومـه شـوي چي دصراط نه يي نجات بيامونډو او كه نه
۳) په هغه خاي کي چرته چي عمل نامي تقسيمولي شي ترهغه وختـه پوري چي نـه وي معلومـه شوي چي دده عملنامـه بـه دكوم خـاي نـه راخـي اوپـه ښـي لاس بـه ملاويږي او كـه پـه كس لاس.
داسي احاديث په كثرت سره وارد دي په كومو سره چي دميزان ذكر راغلي دي . دسورة قارعـه دايت كريمه " فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ . فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ " دتفسير پـه ضـمن كي موږ نقل كړي دي
ابن ابي حاتم دابن عباس رضي الله عنهما قول نقل كړي دي چي دقيامت په ورځ به دخلقو محاسبه كيږي ، پس دچا دنيكو تعداد چي د بدو نه يوه هم زياته شي هغه به جنت ته خي او دچا دګناهونو په تعداد كي چي يوه په نيكو ورزياته شي هغه به دوزخ ته ځي ، دا هم دابن عباس نه مروي دي چي ديوي داني په وزن سره به ميزان درونډ يا سپكيږي او دچا نيكۍ او بدۍ چي يوشان وي هغه به داعراف والانه وي او دوی به پـه صراط حصارولي شي.
****

٣١٦٦_حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ يَحْيَى الأُمَوِيُّ، حَدَّثَنِي أَبِي، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاق، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَمْ يَكْذِبْ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَام فِي شَيْءٍ قَطُّ إِلَّا فِي ثَلَاثٍ قَوْلِهِ: إِنِّي سَقِيمٌ وَلَمْ يَكُنْ سَقِيمًا. وَقَوْلُهُ: لِسَارَةَ أُخْتِي، وَقَوْلِهِ: بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا". وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسْتَغْرَبُ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ إِسْحَاق، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : ابوهريره ﷺ درسول الله صلي الله عليه وسلم نه روايت بيانوي چي فرمائيلي يي وو يقينا ابراهيم عليه السلام چرته دروغ نه وو وئيلي مګردري پيري يو دروغ دهغه په دي قول كي وو: انى سقيم يعني زه بيمار يم او هغه بيمار نه وو. او يوځل هغه وئيلي وو ساره زماخورده اوپه دريم ځل بل فعله كبيرهم يي وئيلي وو.

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /أحاديث الأنبياء ٨ (٣٣٥٧) . والنكاح ١٢ (٥٠١٣) . صحيح مسلم الفضائل ٤١ (٢٣٧١) (تحفة الأشراف : ١٣٨٦٥) . ومسند احمد (٢/٤٠٣)

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث د ابو هريره په واسطه د رسول الله نه په ډيرو سندونو مروي دي ،اود ابو اسحاق په سند غريب ګڼلي شوي دي. مګر حسن صحيح دی.

****

٣١٦٧_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، وَوَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، وَأَبُو دَاوُدَ، قَالُوا: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ النُّعْمَانِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَوْعِظَةِ، فَقَالَ: " يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّكُمْ مَحْشُورُونَ إِلَى اللهِ عُرَاةً غُرْلًا ثُمَّ قَرَأَ: كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا (الأنبياء :١٠٤ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ، قَالَ: أَوَّلُ مَنْ يُكْسَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِبْرَاهِيمُ، وَإِنَّهُ سَيُؤْتَى بِرِجَالٍ مِنْ أُمَّتِي، فَيُؤْخَذُ بِهِمْ ذَاتَ الشِّمَالِ فَأَقُولُ: رَبِّ أَصْحَابِي، فَيُقَالُ: إِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ، فَأَقُولُ كَمَا قَالَ الْعَبْدُ الصَّالِحُ: وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَا دُمْتُ فِيهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنْتَ أَنْتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ وَأَنْتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ١١٧ إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ١١٨ (المائدة :١١٨١١٧، فَيُقَالُ: هَؤُلَاءِ لَمْ يَزَالُوا مُرْتَدِّينَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ مُنْذُ فَارَقْتَهُمْ ".([1])

ترجمه : ابن عباس رضي الله عنهما بيان كوي چې يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته وعظ او نصيحت كولو دپاره اودريدو او ويې فرمائيل خلقو! تاسو به په ورځ دمحشر دالله تعالي وړاندي ځپي ابله ، بربنډ ، ناسنته حالت كې پاڅولی شئ؛ څنګه چې دالله تعالي ارشاد دی: مونږ چې كوم حالت كې اول ځل پيدا كړي وئ هغه حالت كې به دوباره واپس كړی شئ دا زمونږ وعده ده او مونږ به دا پوره كوو. واورئ چې په مخلوق كې به دټولو نه مخكې ابراهيم عليه السلام ته كپړي اغوستولی كيږي دا هم واورئ چې څما دامت څني خلق به راوستلی شي چې دوزخ طرف ته به روان كړی شوي وي نو څه به اووايم ای الله! دا خو زما امتيان دي، الله تعالي به ارشاد اوفرمائي چې تاته پته نشته، دوي ستا نه پس كومی كومی نوی خبري (بدعات ستا په دين كې) ايجاد كړي وو ، بيابه څه هم هغه وايم كم چې دالله تعالي يونيك بنده (عيسي عليه السلام) وئيلي وو يعني وكنت عليهم شهيدا ، نه ترد انت العزيز الحكيم پوري بيا به ماته اووئيلی شي چې ستاسو دجدا كيدلو نه پس دوي مسلسل ستاسو ددين نه په شابيرته واپس كيدونكي وو

لغات: حفاة:حفي حفاً دسمع نه په معني د ځپي ابله ګرځيدو او دګرځيدو په وجه دځپو

[1] .. انظر حديث رقم ٢٢٢٢

دپرسيدو دي
عراة: عري عرية وعريا دسمع نه په معني دبربنډيدو دي.
غرلا غرل غرلا دسمع نه ناسنته ماشوم ته ونيلي شي
تشريح حفاة عراة غرلا: كما بدءنا اول خلق نعيده. يعني بربنډي خپي او بربنډ بدن او بغير دختني نه به راپورته كړي شي؛ . دا مضمون په ډيرو احاديثو كې اوپه قران كريم كې هم راغلي دي مثلا كما بدءكم تعودون، كما بدءنا اول خلق نيعده..
علامه ابن عبد البر وايي دقيامت په ورځ چې كله انسانان راپورته كولی شي نو دوئ به په داسي حالت كې وي لكه چې په دنيا كې څنګه دپيدانش په وخت كې وو، په دنيا كې چې ورنه څه كټ شوي وي هغه به هم ورسره پيوند كړي شي لكه دختني څرمن
په حديث كې راخي ان اول الخلائق يكسي يوم القيامة ابراهيم عليه السلام، علماؤ ددينه متعدد جوابونه كړي دي يو دادي چې هغه به په دنيا كې مسكينانو ته جامي ډيري وركولي . بل دادي كله نمرود اور ته غورځولو نو دده جامي ويستلي شوي وي، بله داچې په دنياكې دستر پوشئ ډير زيات اهتمام كولو.
اوبه همدي وجه خلق وايي چې د ټولو نه مخكې اول دپرتوګ استعمال ابراهيم علبه السلام كړي وو . اول به ابراهيم عليه السلام ته لباس واغوستولی شي، ددي دا مطلب نه دی چې ابراهيم عليه السلام ته به درسول الله نه مخكې جامي واغوستولی شي خكه چې درسول الله صلي الله عليه وسلم په باره كې په يو روايت كې راخي :انا اول من يشق عنه الارض فاكسي حلة من حلل الجنة ثم اقوم عن يمين العرش، يعني دقيامت په ورځ به زمكه اوشليږي او زه به دټولو نه مخكې راپاسيږم او دجنت لباس به واغوندم او دعرش په ښي طرف كې به اودريږم
فاقول كما قال العبد الصالح : ، يعني زه به هغه كلمات اووايم كوم چې دالله نيك بنده عيسي عليه السلام ونيلي وو كله چې به دعيسي عليه السلام نه سوال كيږي دهغه دقوم دګمراهئ په باره كې نو هغه به دبيزارئ اظهار كوي نو داسي سوال به درسول الله نه هم كيږي او هغه به هم دبيزارئ اظهار اوكړي
****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ. حَدَّثَنَا شُعْبَةُ. عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ النُّعْمَانِ. نَحْوَهُ. قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَرَوَاهُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ. عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ النُّعْمَانِ. نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو

عِيسَى: كَأَنَّهُ تَأَوَّلَهُ عَلَى أَهْلِ الرِّدَّةِ. (1)

ترجمه شعبه هم دمغيره بن نعمان نه دماقبل هم معني روايت نقل کړي دي

امام ترمذي رحمه الله وايي دا حديث حسن صحيح دي او سفيان ثوري هم دا حديث دمغيره بن نعمان نه دماقبل هم معني نقل کړي ده داسي ښکاري لکه چې دا يي په اهل الردة مؤل کړي وي.

* * * * * * * * * * * * * * *

٢٣ـ باب وَمِنْ سُورَةِ الْحَجِّ

دسورة حج دبعضي ايتونو تفسير

د ايت ٢٧ دَ جملي. واذن في الناس بالحج. نه مستفاد دي

پس منظر

په دي سورة کي د مکی او مدنی سورتونو خصوصيات شته.

د دي وجي د مفسرينو اختلاف دي چي دا مکی سورة دي او که مدنی سورة دي. ليکن د دي د مضمونونو او اندازِ بيان دا رنگ د دي وجي نه دي. چي د دي يوه حصه مکی ده او بله حصه مدنی ده د دي وجي نه د دوارو ادوارو خصوصيات په دي کي شته دي.

د شروع د حصي مضمون او انداز بيان دا ښائی چي دا په مکه کي نازل شوي ده. او غالبًا د مکی دور په آخر کي د هجرت نه وړاندي نازله شوي ده.

او دا حصه په ايت. د دينه پس نه د مضمون رنگ بدليږی. او دا خبره صفا معلوميږی چي د سورة تر آخر پوري په مدينه کي نازل شوي دي او کيدي شی چي دا د هجرت نه پس په رومبنی کال ذی الحجه کي نازل شوي وی خکه چي د ايت ٢٥ نه تر ٤١ پوري دا مضمون د دي خبري نشان دهی کوی.

او د ايت ٣٩. ٤٠ شان نزول هم د دي تائيد کوی. خکه چي هغه وخت مهاجرين تازه د خپل وطن نه وتلي وو. او مديني ته راغلي وو

٣١٦٨ـ حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ. عَنِ ابْنِ جُدْعَانَ. عَنِ الْحَسَنِ. عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا نَزَلَتْ: يَأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ إِلَى قَوْلِهِ وَلَكِنَّ عَذَابَ اللَّهِ شَدِيدٌ (الحج :١-٢ قَالَ: أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ هَذِهِ الآيَةُ وَهُوَ

---

[1] ـ انظر حديث رقم ٢٢٢٢

فِي سَفَرٍ. فَقَالَ: " أَتَدْرُونَ أَيُّ يَوْمٍ ذَلِكَ ؟ " فَقَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: " ذَلِكَ يَوْمَ يَقُولُ اللَّهُ لِآدَمَ ابْعَثْ بَعْثَ النَّارِ. فَقَالَ: يَا رَبِّ، وَمَا بَعْثُ النَّارِ ؟ قَالَ: تِسْعُ مِائَةٍ وَتِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ إِلَى النَّارِ وَوَاحِدٌ إِلَى الْجَنَّةِ ". قَالَ: فَأَنْشَأَ الْمُسْلِمُونَ يَبْكُونَ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " قَارِبُوا وَسَدِّدُوا فَإِنَّهَا لَمْ تَكُنْ نُبُوَّةٌ قَطُّ إِلَّا كَانَ بَيْنَ يَدَيْهَا جَاهِلِيَّةٌ ". قَالَ: فَيُؤْخَذُ الْعَدَدُ مِنَ الْجَاهِلِيَّةِ فَإِنْ تَمَّتْ، وَإِلَّا كُمِّلَتْ مِنَ الْمُنَافِقِينَ، وَمَا مَثَلُكُمْ وَالْأُمَمِ إِلَّا كَمَثَلِ الرَّقْمَةِ فِي ذِرَاعِ الدَّابَّةِ، أَوْ كَالشَّامَةِ فِي جَنْبِ الْبَعِيرِ. ثُمَّ قَالَ: " إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ تَكُونُوا رُبُعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ. فَكَبَّرُوا ". ثُمَّ قَالَ: " إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ تَكُونُوا ثُلُثَ أَهْلِ الْجَنَّةِ. فَكَبَّرُوا ". ثُمَّ قَالَ: " إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ تَكُونُوا نِصْفَ أَهْلِ الْجَنَّةِ. فَكَبَّرُوا ". قَالَ: لَا أَدْرِي. قَالَ: الثُّلُثَيْنِ أَمْ لَا. قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ. عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [1]

ترجمه : دعمران بن حصين رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې كله ايت كريمه " يَأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ (إِلَى قَوْلِهِ) وَلَكِنَّ عَذَابَ اللَّهِ شَدِيدٌ " اې خلقو يره كوي د خپل رب نه يقينا زلزله د قيامت يو څيز لوئ دي . ليكن عذاب د الله سخت دى. نازل شو نو نبي كريم صلي الله عليه وسلم دغه وخت كي په سفر كي وو خلقو ته يي اوفرمائيل ايا تاسو ته معلومه ده دا كومه ورځ ده خلقو اووئيل الله او دهغه رسول ډير ښه پوهيږي رسول الله اوفرمائيل دا هغه ورځ ده په كومه ورځ چې الله تعالي ادم عليه السلام ته اوفرمائي چې ددى خلقو نه دوزخيان بيل كړه هغوئ به عرض اوكړي په څه حساب سره. حكم به اوشي په زرو كي يو كم زر دوزخيان دي او صرف يو به جنت ته خي دي وخت كي به مسلمانان په ژړا شي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله تعالي ته نزديكت حاصل كړئ او هر كار په درسته طريقه كوئ ،نو دجنتيانو نه به شئ، ځكه چې هيڅ كله داسي نه دي شوي چې دنبوت سلسله جاري شوي وي او ددينه دي مخكي جاهليت نه وي رسول الله اوفرمائيل دا ،٩٩٩تعداد، عدد به هم ددي د ورونو د جاهلانو نه پوره كړي شي او كه دا تعداد دجاهليت نه پوره نشي نو ددوئ سره به منافقين يوځاي كولي شي ستاسو او دمخكنو امتونو مثال داسي دي لكه د داغ نشان چې دځاروي په سخكئ خپه كي وي او ياتور نشان چې داوښ په تشي كي وي بيا يي اوفرمائيل زما اميد دي جنت ته په تلونكو كي يوه ربعه به ستاسو نه وي ددي خبري په اوريدو خلق خوشحاله شول او د الله اكبر اواز يي پورته كړو رسول الله اوفرمائيل زما اميد دي چې

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٨٩٩)

دجنتيانو دريمه حصه به تاسو يئ نوخلقو په تيز اواز الله اكبر ناره اووهله بيارسول الله اوفرمائيل زما اميد دي چې په جنت كي به نيمه حصه ستاسو وي خلقو بيا په تيز اواز تكبير اووئيلو راوي وائي ددينه مخكي ماته معلومه نه ده چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ثلث هم ذكر كړواو كنه

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي او دا حديث يو څو راويانو دعمران بن حصين په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي.

تشريح رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ. دا زلزله به كله وى نو ظاهره دا ده چې دا زلزله به د قيامت نه وړاندي د مخلوق د فنا سره وى. لكه په سورة زلزال كي هم دا مراد ده.

بعض مفسرين وائى چې دا زلزله به هغه وخت وى كله چې خلق دوباره ژوندى كړي شى او خپل رب ته به حاضر كړي شى. ليكن دا خبره راجحه نۀ ده. ځكه چې وريسي ايت د رومبنئ خبري تائيد كوى. چې مور به بچى ته پئ وركوى. نو هغه به پريږدى او د هيبت نه به تختى. او حمل والا زنانه به خپل بچى اوغورځوى. نو دا حال په دنيا كي دي. د دوباره ژوند نه پس به دا حال نۀ وى

په پورتني ايت كي دعذاب نه ويريدو حكم شوي وو نو په دي ايت كي يي ددي علت بيان كړو، مطلب دادي چې دقيامت په دهشتناك كيدو باندي غور وكړئ او په دي پوهه شئ چې ددينه محفوظ كيدونكي داهل تقوي نه علاوه نور هيڅوك نشي كيدي نوځكه دالله تقوي اود هغه داحكامو تعميل اختيار كړئ

دعلقمه اوشعبي په نزد دا زلزله به دقيامت دقائميدونه مخكي راځي او دا به دقيامت خصوصي علامه وي. جلال الدين محلي ليكلي دي چې دمغرب دطرفه دنمر راختونه مخكي به دا زلزله واقع شي ،علامه ابن عربي او مفسر قرطبي هم دا قول خوښ كړي دي، ځكه چې د راروان ايت نه هم ددي مضمون تائيد معلوميږي.

****

٣١٦٩_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ، فَتَفَاوَتَ بَيْنَ أَصْحَابِهِ فِي السَّيْرِ، فَرَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَوْتَهُ بِهَاتَيْنِ الآيَتَيْنِ: "يَأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ إِلَى قَوْلِهِ عَذَابَ اللَّهِ شَدِيدٌ (الحج :١-٢ "، فَلَمَّا سَمِعَ ذَلِكَ أَصْحَابُهُ حَثُّوا الْمَطِيَّ وَعَرَفُوا أَنَّهُ عِنْدَ قَوْلٍ يَقُولُهُ، فَقَالَ: "هَلْ تَدْرُونَ أَيُّ يَوْمٍ ذَلِكَ؟" قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: "ذَاكَ يَوْمٌ يُنَادِي اللَّهُ فِيهِ آدَمَ فَيُنَادِيهِ رَبُّهُ، فَيَقُولُ: يَا آدَمُ ابْعَثْ

بَعْثَ النَّارِ. فَيَقُولُ: يَا رَبِّ، وَمَا بَعْثُ النَّارِ ؟ فَيَقُولُ: مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعُ مِائَةٍ وَتِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ إِلَى النَّارِ وَوَاحِدٌ فِي الْجَنَّةِ ". فَيَئِسَ الْقَوْمُ حَتَّى مَا أَبَدَوْا بِضَاحِكَةٍ. فَلَمَّا رَأَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي بِأَصْحَابِهِ، قَالَ: " اعْمَلُوا وَأَبْشِرُوا، فَوَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، إِنَّكُمْ لَمَعَ خَلِيقَتَيْنِ مَا كَانَتَا مَعَ شَيْءٍ إِلَّا كَثَّرَتَاهُ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ، وَمَنْ مَاتَ مِنْ بَنِي آدَمَ وَبَنِي إِبْلِيسَ. قَالَ: فَسُرِّيَ عَنِ الْقَوْمِ بَعْضُ الَّذِي يَجِدُونَ. فَقَالَ: " اعْمَلُوا وَأَبْشِرُوا فَوَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، مَا أَنْتُمْ فِي النَّاسِ إِلَّا كَالشَّامَةِ فِي جَنْبِ الْبَعِيرِ، أَوْ كَالرَّقْمَةِ فِي ذِرَاعِ الدَّابَّةِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: دعمران بن حصين رضي الله عنه نه مروي دي فرماني چې مونږ په يو سفر کي درسول الله سلي الله عليه وسلم سره موجود وو مګر په تلو کي يو د بل نه مخکي روستو شول او رسول الله په دغه وخت کي دا دوه ايتونه " يَأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ إِلَى قَوْلِهِ عَذَابَ اللَّهِ شَدِيدٌ " تلاوت کړل ، ددي په اوريدو سره صحابه کرامو خپلي سورلۍ نوري هم تيزي کړي او په دي پوهه شول چې څه خبره ضرور شته چې رسول الله دهغي کونکي دي او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ايا تاسو ته معلومه ده دا کومه ورځ ده خلقو اووئيل الله او دهغه رسول ډير ښه پوهيږي رسول الله اوفرمائيل دا هغه ورځ ده په کومه ورځ چې الله تعالي ادم عليه السلام ته اوفرمائي او دي به خپل رب ته جواب ورکوي الله تعالي به بيا اوفرمائي "ابعث بعث النار" چي ددی خلقو نه دوزخيان بيل کړه هغوی به عرض اوکړي "وما بعث النار" يعني په څه حساب سره. حکم به اوشي په زرو کي يو کم زر دوزخيان دي او صرف يو به جنت ته ځي دي وخت کي به مسلمانان په ژړا شي. او دومره به نا اميده شي چې په تول ژوند کي به هيڅ کله اونه خاندي بيا چې کله رسول الله صلي الله عليه وسلم چې دخلقو ويره اووينې نو اوبه فرمائي، الله تعالي ته نزديکت حاصل کړئ او جنت په نيکو اعمالو حاصل کړئ زما دي په هغه ذات قسم وي دچا په لاس کي چې دمحمد روح دي دداسي دوه مخلوقونو سره يئ چې دوئ دواړه دچا سره نه دي ملګري شوي مګر زيات کړي يې دي چې هغه ياجوج او ماجوج دي او دويمه هغه دي کوم چې د ادم عليه السلام اولاد اودابليس دملګرو نه په حالت دکفر کي مړه شوي دي درسول الله په دي خبرو خلق په غم او فکر کي کمي راغلو چې خلقو په شدت سره محسوس کولو او په زړونو کي يې موجود موندلو رسول الله اوفرمائيل دنيکئ عمل جاري ساتئ او يو بل ته زيري ورکړئ زما دي په هغه ذات قسم وي دچا په لاس کي چې

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٤٩٩)

دمحمد روح دي تاسو خو په خلقو کي داسي يئ لکه داوښ په اړخ کي چې کوم تور داغ يا نشان دي او يا دخاروي په مخکئ خپه کي داغ وي
امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي

****

٣١٧٠_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ صَالِحٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي اللَّيْثُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ خَالِدٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا سُمِّيَ الْبَيْتَ الْعَتِيقَ: لِأَنَّهُ لَمْ يَظْهَرْ عَلَيْهِ جَبَّارٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا. ([1])

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ عُقَيْلٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ. ([2])

ترجمه: دعبدالله بن زبيررضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په کعبه باندي البيت العتيق نوم خکه ايخودلي شوي دي چې په دي باندي هيڅ کله څوك جابر مسلط شوي نه دي.
امام ترمذي رحمه الله وايي. داحديث حسن صحيح دي او دا حديث دزهري په سند دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه مرسل هم مروي دي.

****

٣١٧١_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، وَإِسْحَاقُ بْنُ يُوسُفَ الْأَزْرَقُ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ مُسْلِمٍ الْبَطِينِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "لَمَّا أُخْرِجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَكَّةَ، قَالَ أَبُو بَكْرٍ: أَخْرَجُوا نَبِيَّهُمْ لَيَهْلِكُنَّ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ (الحج :٣٩ الْآيَةَ، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: لَقَدْ عَلِمْتُ أَنَّهُ سَيَكُونُ قِتَالٌ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. ([3])

ترجمه: دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې کله نبي کريم صلي الله عليه وسلم

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٥٢٨٣)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٥٢٨٣)

[3] _ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ٥٦١٨)

دمکي نه اوويستلي شو ابوبکر رضي الله عنه اووئيل دي ظالمانو خپل پيغمبر دخپل کور نه اوويستلو او دوئ به ضرور هلاکيږي دي وخت کي الله تعالي دا ايت کريمه نازل کړو " أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ" اعلان کړي شوي دي هغه کسانو ته چي هغوي سره جنګ کيدي شي ،دجنګ کولو، په دي سبب چي په دوئ باندي ظلم شوي دي . اويقينا الله تعالي ددوئ په مدد کولوباندي خامخاقدرت لري نو ابوبکر رضي الله عنه اووئيل زه په دي پوهه شوم چي ډير نزدي وخت کي به جنګ شروع شي

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي

تشريح : ... يعني مسلمانانو ته دجهاد کولو او دکافرانو سره دجنګيدلو اجازت ورکړي شوي دي . بغوي ليکلي دي داکثرو مفسرينو قول دي چي دمکي مشرکانو صحابه کرامو ته ډير تکليفونه رسول صحابه کرام به درسول الله په خدمت کي حاضريدل نو دچا به سر مات وو او دچابه بل خاي زخمي شوي وو او څوك به په بل بدحال راغي او ټولو به رسول الله ته شکايت کولو چي زمونږ سره داسي سلوك کيږي رسول الله به ورته تسلي ورکوله او ورته به يي فرمائيل چي صبر کوئ اوس لاماته د جنګ کولو حکم نه دي شوي . بيادينه پس دا ايت دهجرت نه بعد په مدينه کي نازل شو.

عبدالرزاق، عبد بن حميد، ترمذي، نسائي، ابن ماجه، بزار، ابن جرير، ابن المنذر ابن ابي حاتم ، ابن حبان، حاکم ، ابن مردويه او بيهقي په دلائل کي دابن عباس په حواله روايت بيان کړي دي او ترمذي حسن هم ګڼرلي دي او حاکم يي تصحيح کړي ده چي څه دپاسه په اويا ايتونو کي دقتال دممانعت نه پس داجازت متعلق دا دټولو نه اولني ايت نازل شوي دي ، ابن ابي حاتم دعروه بن زبير رضي الله عنه په روايت سره او عبدالرزاق او ابن المنذر دظهري په روايت سره هم ددي تخريج کړي دي. بغوي دمجاهد قول نقل کړي دي چي دا ايت خاص دهغه کسانو متعلق نازل شوي دي چاچي مکه پريخودلي وه او مديني ته دتلو په خيال وتلي وو او کافران ددوئ دپاره دلاري ازغي جوړ شوي وو په دي ايت کي الله تعالي ددي کافرانو سره او درکاوټ پيداکونکو سره دجنګيدو اجازت ورکړي دي

"بانهم ظلموا" يعني کافرانو چونکه په دوئ زياتي کړي دي او ناحقه ضررونه يي ورته رسولي دي نو ځکه دوئ ته هم دجنګيدو اجازت ورکړي شو، مظلوميت يي په دي ايت کي دقتال داجازت علت ګرځولي دي ، ددينه معلومه شوه چي په کومو کافرانو کي دظلم کولو قوت نشته دهغوئ سره دمسلمانانو جنګيدل او ددوئ دقتل کولو اجازت نشته ، پس دحربي کافرانو دښځو قتل کول په اتفاق داهل علمو ناجائز دي مګر که هغوئ دمسلمانانو په خلاف په مشوري ورکولو کي مدد کړي وي او يا خو مالدار وي او پخپل مال سره دکافرانو مدد کوي

نو بيا ددوئ سره جهاد كول جائز دي او ددوئ قتل كول درست دي . همدا رنگي كمزوري او ناكاره بوډاگان او ساده راهبان او ړانده او شل او گوډو سره جنگ كول جائز نه دي . دامام شافعي يو قول ددي په خلاف راغلي دي چي ددوئ سره د قتال نه كولو حكم په هغه وخت كي دي كله چي دمسلمانانو سره دجنگيدو په مشورو او تدبيرونو كي شريك شوي نه وي او دخپل عقل نه يي دمسلمانانو په خلاف كار نه وي اخستلي يعني ددوئ په خلاف يي خپل عقل نه وي استعمال كړي او كه داسي نه وي نو په اتفاق دامت سره ددوئ قتل كول جائز دي.

دامام ابو حنيفه په نزد دمرتدي ښځي قتل كول جائز نه دي بلكه قيد كول يي پكار دي او تردي وخته به په قيد كي وي ترڅو چي يي توبه ويستلي نه وي او يا په قيد كي مړ شوي نه وي

امام مالك او امام شافعي او امام احمد په نزد دارتداد په حكم كي په نارينه او زنانه كي څه فرق نشته دواړه به قتل كيږي زمونږ دليل دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائيل يي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دښځو او ماشومانو دقتل كولو نه ممانعت فرمائيلي دي (بخاري . مسلم)

****

وَقَدْ رَوَاهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ وَغَيْرُهُ. عَنْ سُفْيَانَ. عَنِ الأَعْمَشِ. عَنْ مُسْلِمٍ الْبَطِينِ. عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَقَدْ رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ. عَنْ سُفْيَانَ. عَنِ الأَعْمَشِ. عَنْ مُسْلِمٍ الْبَطِينِ. عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ مُرْسَلًا. لَيْسَ فِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. (1)

ترجمه : دارنگي داحديث عبدالرحمن بن مهدي وغيره دسفيان په سند داعمش نه او هغه دمسلم البطين نه او هغه دسعيد بن جبير په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مرسل نقل كړي دي او په دي كي يي دابن عباس واسطه هم ذكر كړي ده دارنگي دا روايت نورو ډيرو راويانو دسفيان نه او هغه د اعمش نه او هغه دمسلم بطين نه او هغه دسعيد بن جبير نه مرسل نقل كړي دي او دابن عباس واسطه يي نه ده ذكر كړي.

****

٣١٧٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ. عَنِ الأَعْمَشِ. عَنْ مُسْلِمٍ الْبَطِينِ. عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ. قَالَ: لَمَّا أُخْرِجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَكَّةَ قَالَ رَجُلٌ: أَخْرَجُوا نَبِيَّهُمْ. فَنَزَلَتْ: أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ .

[1] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ٥٦١٨)

الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ (الحج: ٣٩-٤٠) النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ.[1]

ترجمه دسعيد بن جبير بيان دي فرماني چې هركله نبي كريم صلي الله عليه وسلم دمكي نه اوويستلي شو نو يو كس اوونيل دي ظالمانو خپل پيغمبر دخپل ملك نه اوويستلو نو دي وخت كي دا ايت كريمه " أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ " نازل شو يعني خپل پيغمبر او دهغه اصحاب يي دخپل ملك نه ويستلو ته مجبور كړل.

****

٢٤_باب وَمِنْ سُورَةِ الْمُؤْمِنُونَ

د سورة مؤمنون دبعضي ايتونو تفسير

دَ انداز بيان او دَ مضمون نه دا معلوميږي چي دَ دي سورت دَ نزول زمانه دَ مكي په درمياني (مينځني) دور كي ده. دَ دي په پس منظر كي دا خبره محسوس كيږي. چي دَ نبي صلى الله عليه وسلم او دَ كفارو په مينځ كي سخت كشمكش روان وو. ليكن تراوسه دَ كفارو ظلم په پوره زور كي نه وو. دَ ايت. ٧٥. ٨٦ نه دا معلوميږي چي دا دَ مكي دَ هغه قحط په زمانه كي نازل شويدي او دَ معتبر رواياتو نه دا معلومه ده چي دا قحط په مينځني دور كي راغلي وو دَ عروه بن زبير دَ يو روايت نه معلوميږي چي دهٔ په دي وخت كي اسلام قبول كړي وو هغه دَ عبدالرحمن بن عبدالقاري په حواله سره دَ عمر رضى الله عنه قول نقل كړي دي. چي دا سورت دَ عمر رضى الله عنه په موجودګي كي نازل شوي دي. او دَ وحى دَ نزول په وخت كي عمر رضى الله عنه دَ نبى صلى الله عليه وسلم حالت ته كتل. څه وخت چي وحى پوره شوه نو نبى صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چي اوس په ما باندي داسي لس ايتونه نازل شوي دى چي څوك دَ دي په معيار پوره اوختلو. نو يقينا هغه به جنت ته داخليږي. بيا نبى صلى الله عليه وسلم دَ دي سورت لس رومبنى ايتونه تلاوت كړل (احمد. ترمذى. نسائى. حاكم).

٣١٧٣_حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، وَعَبْدُ بْنُ حميد، وغير واحد، المعنى واحد، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ يُونُسَ بْنِ سُلَيْمٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدٍ الْقَارِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نَزَلَ

[1] _ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ٥٦١٨)

عَلَيْهِ الْوَحْيُ سُمِعَ عِنْدَ وَجْهِهِ كَدَوِيِّ النَّحْلِ، فَأُنْزِلَ عَلَيْهِ يَوْمًا فَمَكَثْنَا سَاعَةً، فَسُرِّيَ عَنْهُ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ، وَقَالَ: "اللَّهُمَّ زِدْنَا وَلَا تَنْقُصْنَا، وَأَكْرِمْنَا وَلَا تُهِنَّا، وَأَعْطِنَا وَلَا تَحْرِمْنَا، وَآثِرْنَا وَلَا تُؤْثِرْ عَلَيْنَا، وَارْضِنَا وَارْضَ عَنَّا". ثُمَّ قَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أُنْزِلَ عَلَيَّ عَشْرُ آيَاتٍ مَنْ أَقَامَهُنَّ دَخَلَ الْجَنَّةَ، ثُمَّ قَرَأَ: قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ حَتَّى خَتَمَ عَشْرَ آيَاتٍ".([1])

ترجمه دعبدالرحمن بن عبدالقاري بيان دي فرمائي چې د امير المؤمنين عمرفاروق رضي الله عنه نه مي اوريدلي دي فرمائي چې كله به په نبي كريم صلي الله عليه وسلم وحي نازليدله نو دهغوئ دخولي نه به دشهدو دمچئ د الوتلو پشان ګونړ ګونړ اواز اوريدلي كيدو ،ديوې ورخي واقعه ده، چې په رسول الله وحي نازله شوه او مونږ يود شيبه خاموشي اختيار كړي وه كله چې درسول الله نه دوحي دنزول كيفيت ختم شو نو قبلې ته مخامخ شو او دواړه لاسونه يي پورته كړل او دا دعا يي اوغوښتله " اللَّهُمَّ زِدْنَا وَلَا تَنْقُصْنَا، وَأَكْرِمْنَا وَلَا تُهِنَّا، وَأَعْطِنَا وَلَا تَحْرِمْنَا، وَآثِرْنَا وَلَا تُؤْثِرْ عَلَيْنَا، وَارْضِنَا وَارْضَ عَنَّا "او بيا يي اوفرمائيل په ما باندي لس ايتونه نازل شول څوك چې په دي باندي عمل كول جاري ساتي جنت ته به داخل شي او بيا يي "قد افلح المؤمنون" نه شروع اوكړه او دلسو ايتونو تلاوت يي مكمل كړو.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ يُونُسَ بْنِ سُلَيْمٍ، عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا أَصَحُّ مِنَ الْحَدِيثِ الأَوَّلِ، سَمِعْتُ إِسْحَاقَ بْنَ مَنْصُورٍ، يَقُولُ: رَوَى أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَعَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ، وَإِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبْدِ الرَّزَّاقِ، عَنْ يُونُسَ بْنِ سُلَيْمٍ، عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ هَذَا الْحَدِيثَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَمَنْ سَمِعَ مِنْ عَبْدِ الرَّزَّاقِ قَدِيمًا، فَإِنَّهُمْ إِنَّمَا يَذْكُرُونَ فِيهِ عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ، وَبَعْضُهُمْ لَا يَذْكُرُ فِيهِ، عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ، وَمَنْ ذَكَرَ فِيهِ يُونُسَ بْنَ يَزِيدَ فَهُوَ أَصَحُّ، وَكَانَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ رُبَّمَا ذَكَرَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ يُونُسَ بْنَ يَزِيدَ وَرُبَّمَا لَمْ يَذْكُرْهُ، وَإِذَا لَمْ يَذْكُرْ فِيهِ يُونُسَ فَهُوَ مُرْسَلٌ.([2])

ترجمه يونس بن يزيد هم دزهري نه په مذكوره سند دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث داولني حديث نه زيات صحيح دي داسحاق بن منثور نه

[1] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ١٠٥٩٢)

[2] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ١٠٥٩٢)

مي اوريدلي دي وئيل يي چې امام احمد بن حنبل او علي بن المديني او اسحاق بن ابراهيم دعبدالرزاق نه او هغه ديونس بن سليم نه او هغه دزهري نه هم داحديث نقل کړي دي. امام ترمذي وائي چاچې دعبدالرزاق نه په اول وخت کي احاديث اوريدلي دي هغوئ دځپل روايت په سند کي ديونس بن يزيد واسطه ذکر کوي مګر بعضي نور راويان يي نه ذکر کوي مګر چاچې ديونس بن يزيد واسطه ذکر کړي ده دهغوئ روايت زيات صحيح دي او عبدالرزاق به کله کله پخپل روايت کي ديونس بن يزيد واسطه ذکر کوله او کله کله به يي نه ذکر کوله او چې په کوم روايت کي يي ديونس بن يزيد واسطه نه وي ذکر کړي هغه مرسل دي

****

٣١٧٤_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ الرُّبَيِّعَ بِنْتَ النَّضْرِ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ ابْنُهَا حَارِثَةُ بْنُ سُرَاقَةَ أُصِيبَ يَوْمَ بَدْرٍ أَصَابَهُ سَهْمٌ غَرَبٌ، فَأَتَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: أَخْبِرْنِي عَنْ حَارِثَةَ لَئِنْ كَانَ أَصَابَ خَيْرًا احْتَسَبْتُ وَصَبَرْتُ، وَإِنْ لَمْ يُصِبِ الْخَيْرَ اجْتَهَدْتُ فِي الدُّعَاءِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أُمَّ حَارِثَةَ إِنَّهَا جِنَانٌ فِي جَنَّةٍ، وَإِنَّ ابْنَكِ أَصَابَ الْفِرْدَوْسَ الأَعْلَى، وَالْفِرْدَوْسُ رَبْوَةُ الْجَنَّةِ وَأَوْسَطُهَا وَأَفْضَلُهَا". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ أَنَسٍ.[1]

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ربيع بنت نضر دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضره شوه او دهغي خوي حارث بن سراقه په جنګ بدر کي شهيد شوي وو اوهغه په يوناشنا غشي لګيدلي وو دکوم باره کي چې هيڅ پته نه لګيده هغه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته عرض اوکړو چې تاسو ماته زما دخوي حارثه باره کي معلومات راکړه کچري هغه ته خير رسيدلي وي نو زه به دثواب اميد کوم او صبر به کوم او که خير ورته نه وي رسيدلي نو زه به دهغه دپاره نوري زياتي دعاګاني غواړم رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي دحارثه موري په جنت کي نور ډير جنتونه دي او ستا خوي جنت الفردوس ته رسيدلي دي او فردوس په جنت کي يوه اعلي غونډئ ده چې دجنت په مينځ کي ده او په جنت کي دټولو نه بهتر مقام دي

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث دانس په روايت حسن صحيح غريب دي

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجهاد ١٤ (١٨٠٩)، والمغازي ٩ (٣٩٨٢)، والرقاق ٥١ (٦٥٥٠، ٦٥٦٧) (تحفة الأشراف ١٢١٤)، ومسند احمد (٣/١٢٤، ٢١٠، ٢١٥، ٢٦٤، ٢٧٢، ٢٨٣)

****

٣١٧٤_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ مِغْوَلٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَعِيدِ بْنِ وَهْبٍ الْهَمْدَانِيِّ، أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ هَذِهِ الآيَةِ: وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوْا وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ (المؤمنون :٦٠، قَالَتْ عَائِشَةُ: أَهُمُ الَّذِينَ يَشْرَبُونَ الْخَمْرَ وَيَسْرِقُونَ ؟ قَالَ: " لَا يَا بِنْتَ الصِّدِّيقِ وَلَكِنَّهُمُ الَّذِينَ يَصُومُونَ وَيُصَلُّونَ وَيَتَصَدَّقُونَ وَهُمْ يَخَافُونَ أَنْ لَا يُقْبَلَ مِنْهُمْ. أُولَئِكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ ". قَالَ: وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا. (1)

ترجمه دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرماني چې ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه ددې ايت كريمه " وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوْا وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ " باره كې تپوس اوكړو ايا دا هغه كسان دي څوك چې شراب څكي او غلاګاني كوي؟ رسول الله اوفرمائيل نه اې دصديق لوږې بلكه دا هغه كسان دي چې روژې نيسي اومونځونه كوي اوصدقې وركوي او ددې باوجود هم ويريږي ددې خبرې نه چې چرته ددوئ نيكياني دقبوليت نه پاتې نشي. او دا هغه كسان دي چې په نيكو كولو كې ديو بل نه مخكې كيږي او هم دوئ به نيكو كې ديو بل نه مخكې كيدونكي خلق دي

امام ترمذي رحمه الله وايي عبدالرحمن بن سعيد هم دا حديث دابوحازم نه او هغه دابوهريره رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه د همدې مضمون مطابق نقل كړي دي

****

٣١٧٦_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ يَزِيدَ أَبِي شُجَاعٍ، عَنْ أَبِي السَّمْحِ، عَنْ أَبِي الْهَيْثَمِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ (المؤمنون :١٠٤، قَالَ: تَشْوِيهِ النَّارُ فَتَقَلَّصُ شَفَتُهُ الْعُلْيَا حَتَّى تَبْلُغَ وَسَطَ رَأْسِهِ وَتَسْتَرْخِي شَفَتُهُ السُّفْلَى حَتَّى تَضْرِبَ سُرَّتَهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (2)

---

1 _ سنن ابن ماجه/الزهد ٢٠ (٤١٩٨) (تحفة الأشراف: ١٦٢٠١)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٠٦١)

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم دايت كريمه "وهم فيها كلحون" باره كي اوفرمائيل جهنم به ددوئ مخونه اوسوزوي چې ددي په وجه به ددي پورتنئ شونډي سر ته اورسيږي او لاندينئ شونډي به يي زوړندي شي چې دنوم سره به يي لګيږي.
امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح غريب دي

****

٢٥_ باب وَمِنْ سُورَةِ النُّورِ

دسورة نوردبعضي ايتونوتفسير

وجه دتسميه د سورت اوشان نزول

دَ ايت ٣٥ اللهُ نورُ السَّمٰوٰتِ وَالاَرْضِ . نه نوم د سورت مستفاد دي.
دا خبره اتفاقي ده چې دا سورت دَ عزوه بني المُصطَلِقَ نه روستو نازل شوي دي. دَ قرآن پاك دَ بيان نه دا ظاهره ده چې دَ دي نزول د افك دَ واقعي په سلسله كي شوي دي چې دَ هغي ذكر دَ ايت ١١ نه تر ايت ٢٠ پوري شوي دي. او دا سورة دَ سورة احزاب نه څو مياشتي روستو په ٦ ه كي نازل شوي دي. په سورة احزاب كي دَ پردي دَ احكامو اغاز اوشو او په دي سورة كي باقي احكام بيان شول.
دَ جنګ بدر دَ فتحي نه پس چې دَ اسلام ترقي او عروج شروع شو. او مخالفينو دا محسوس كړه چې دَ وسلي (اسلحي) په زور دَ دي تحريك ختمول ممكن نهٔ دي. نو مخالفينو او منافقانو دَ نبي صلی الله عليه وسلم دَ بدنامولو دپاره كوششونه شروع كړل دَ مومنانو په جماعت كي منافقينو به فتني پيدا كولي او مخالفينو به هغي له هوا وركوله دَ دي فتنو ظهور په ذي القعده ٥ ه كي شروع شو كله چې نبی صلی الله عليه وسلم دَ خپل متبنَی زيد بن حارثه دَ طلاقي شوي ښځي زينب رضی الله عنها بنت جحش سره دَ نكاح اعلان اوكړو نو په دي موقعه باندي منافقانو پروپيګنډه شروع كړه چې نبی صلی الله عليه وسلم دَ خوی د ښځي (انګور) سره نكاح اوكړه او دَ بهر يهوديانو او مشركانو دا خبره په ډير زور او شور سره خوره كړه او په دي فتنه كي مختلف الزامونه په نبی صلی الله عليه وسلم پوري كول. نزدي پوري چې بعض صحابه هم دَ دي دَ اثر نه بچ نهٔ شول.
دَ دينه پس دويمه حمله ني دَ غزوه بنی المُصطَلِق په موقعه اوكړه او هغه دَ اولني فتني نه هم زياته سخته وه. په شعبان ٦ ه كي نبی صلی الله عليه وسلم ته اطلاع اوشوه چې كفار د مومنانو خلاف دَ جنګ تياري كوی او نور قبائل هم دَ خان سره يوخي كوی.

نو نبی صلی الله علیه وسلم دَ یو لښکر سره روان شو. چي دَ دي فتني دَ راپورته کیدلو نه
مخکي دا ختم کړی. په دي لښکر کي منافقان هم ښهٔ ډیر ؤو او دَ دوئ مشر عبدالله بن اُبیَ ؤو.
نبی صلی الله علیه وسلم دَ مریسیع په مقام باندي دشمن راګیر کړو. او پوره قبیله ئي دَ مال
اسباب سره ګرفتاره کړه دَ دي مهم نه چي فارغ شول نو دوئ په هغي ځايْ کي لا موجود ؤو
چي یوه ورځ دَ عمر رضی الله عنه نوکر (جهجاه بن مسعود غفاری) او دَ قبیله خزرج یو حلیف
(یسنان بن دَ بر جهنی) په مینځ کي جهګړه شوه. نو یو انصارو ته اواز اوکړو او بل مهاجرینو ته.
اواز اوکړو دَ دواړو طرفونه خلق راجمع شول او دا جهګړه ختم شوه. لیکن عبدالله بن اُبیَ چي
هغه دَ انصارو دَ قبیله خزرج سره تعلق ساتلو هغه دا خبره تازه کړه. او وي وئیل. چي دا مهاجر
په مونږ باندي زورآورتیا کوی او دوئ خمونږه حریفان شوي دی او دَ دوئ مثال دَ هغه سپو په
شان دي چي څوك ئي ساتی نو بیا نو هغه چیچی. دا ستاسو غلطی ده چي دوئ له مو ځايْ ورکړو.
په خپل مال او جانیداد کي ورله مونږه حصه ورکړه. نن که تاسو دَ دوئ نه لاس راخکلو نو دوئ
به د دي ځاني نه تختی. او بیا ئي قسم اوخوړلو چي مونږه مدیني ته واپس لاړ شو. نو په مونږ
کي به عزت مند خلق ذلیل خلق اوباسی (په سورة منافقون کي الله تعالی دَ دوئ دا قول نقل
کړي دي).
دَ دي خبرو اطلاع چي نبی صلی الله علیه وسلم ته اوشوه. نو عمر رضی الله عنه اوئیل چي دا
سړي وژل پکار دی. لیکن نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل فکیف یا عمر اِذَا تَحَدَّثَ النَّاسُ
اَنَّ محمدًا یَقْتُلُ اَصْحَابَهُ (یعنی اي عمر خلق به وائی چي محمد صلی الله علیه وسلم خپل
ملګری وژنی) دوئ دَ هغه ځايْ نه را روان شول. لیکن په دي سفر کي یوه بله فتنه راپورته شوه. او
فتنه هم دومره لویه وه. که نبی صلی الله علیه وسلم او دَ هغه ملګرو دَ صبر او دَ حکمت نه کار نه
وي اخستي. نو دَ مدیني په دي سوسائتی کي به خانه جنګی شروع شوي وه

٣١٧٧ـحَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ الأَخْنَسِ، أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: كَانَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ مَرْثَدُ بْنُ أَبِي مَرْثَدٍ، وَكَانَ رَجُلًا يَحْمِلُ الأَسْرَى مِنْ مَكَّةَ حَتَّى يَأْتِيَ بِهِمُ المَدِينَةَ، قَالَ: وَكَانَتِ امْرَأَةٌ بَغِيٌّ بِمَكَّةَ يُقَالُ لَهَا عَنَاقٌ وَكَانَتْ صَدِيقَةً لَهُ، وَإِنَّهُ كَانَ وَعَدَ رَجُلًا مِنْ أُسَارَى مَكَّةَ يَحْمِلُهُ، قَالَ: فَجِئْتُ حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى ظِلِّ حَائِطٍ مِنْ حَوَائِطِ مَكَّةَ فِي لَيْلَةٍ مُقْمِرَةٍ، قَالَ: فَجَاءَتْ عَنَاقٌ فَأَبْصَرَتْ سَوَادَ ظِلِّي بِجَنْبِ الحَائِطِ، فَلَمَّا انْتَهَتْ إِلَيَّ عَرَفَتْهُ، فَقَالَتْ: مَرْثَدٌ، فَقُلْتُ: مَرْثَدٌ، فَقَالَتْ: مَرْحَبًا وَأَهْلًا هَلُمَّ فَبِتْ عِنْدَنَا اللَّيْلَةَ، قَالَ: قُلْتُ: يَا عَنَاقُ، حَرَّمَ اللَّهُ الزِّنَا، قَالَتْ: يَا أَهْلَ الخِيَامِ، هَذَا الرَّجُلُ يَحْمِلُ أَسْرَاكُمْ، قَالَ: فَتَبِعَنِي ثَمَانِيَةٌ

وَسَلَكْتُ الْخَنْدَمَةَ، فالتهيت إلى كهف أو غار فدخلت، فجاءوا حتى قاموا على رأسي فبالوا، فظل بولهم على رأسي وأعماهم الله عني. قَالَ: ثُمَّ رَجَعُوا وَرَجَعْتُ إِلَى صَاحِبِي فَحَمَلْتُهُ وَكَانَ رَجُلًا ثَقِيلًا، حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى الإِذْخِرِ، فَفَكَكْتُ عَنْهُ كَبْلَهُ، فَجَعَلْتُ أَحْمِلُهُ وَيُعْيِينِي حَتَّى قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ.
فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَنْكِحُ عَنَاقًا مَرَّتَيْنِ فَأَمْسَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ شَيْئًا حَتَّى نَزَلَتْ: الزَّانِي لا يَنْكِحُ إِلا زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً وَالزَّانِيَةُ لا يَنْكِحُهَا إِلا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ وَحُرِّمَ ذَلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ (النور: ٣، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا مَرْثَدُ " الزَّانِي لَا يَنْكِحُ إِلَّا زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً، وَالزَّانِيَةُ لَا يَنْكِحُهَا إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ، فَلَا تَنْكِحْهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه : عمروبن شعیب دخپل پلار اوهغه دده دنیکه عمروبن العاص رضي الله عنه نه روایت کوي فرمائي مرثدبن ابي مرثد غنوي به په مکه کې قیدیان وړل او مدینې ته به یې رسول او هلته په مکه کې یوه زناکاره ښځه اوسیدله دچاچې عناق نوم وو اوهغه دجاهلیت په زمانه کې دده محبوبه وه ، هغه دمکې په قیدیانو کې دیو قیدي سره وعده کړې وه چې زه به دې دقید نه اوباسم او دخان سره به دې بوځم کله چې مادقید نه ازاد کړو او مدینې ته دبوتلو دپاره وزغلم نو زه دسپوږمۍ په شپه دمکې په دیوالونو کې دیو دیوال دسوري لاندې کیناستم کتل مې چې دې وخت کې عناق راغله او هغې د دیوال لاندې زما دسوري توروالي اولیدو کله چې ماته رانژدې شوه نو زه یې اوپیژندم ماته یې اوونیل ایا مرثد یې؟ ما ورته اوونیل بالکل مرثد یم عناق اوونیل پخیر راغلي او هر کله راشي، نن شپه خو زمونږ سره تیره کړه ما ورته اوونیل اې عناق الله تعالی زنا حرامه کړې ده هغې اوونیل اې دخیمو اوسیدونکو داکس ستاسو قیدیان دخان سره بوځي، دې وخت کې په ماپسې اته کسانو رامنډه کړل او زه خندمه نوم غر طرف ته اوتختیدم او یو غار ته چې ورسیدم وردننه شوم او خان مې پکې پټ کړو تردې چې هغوئ هم غر ته راوختل او زما دسر سره نژدې اودریدل ، هغوئ هلته متیازې کولې او څاڅکې یې زما په سر اولګیدل لیکن الله تعالی په ماباندې ړانده کړل او زه یې اونه لیدم هغوئ چې واپس شول نو زه هم واپس خپل ملګري طرف ته ورروان شوم (څوك چې مې دخان سره بوتلل غوښتل) تردې چې ورسره یوځای شوم او هغه هم یو وزن داره سړی وو ما راپاڅولو او په شا مې راوړلو او ازخر ګیا ته مې راورسولو او هلته مې دده دلاسونو نه بیړئ ماتې کړې او بیا مې پاڅولو او روان شو کله کله به هغه زما مدد هم کولو (او هغه هم داسې چې په بیړو کې

[1] ــ سنن ابي داود/ النكاح ٥ (٢٠٥١) ، سنن النسائي/النكاح ١٢ (٣٢٢٨) (تحفة الأشراف : ٨٧٥٣)

روان وو ترڈي چې په دې طريقه زه مديني ته راورسيدم . مرثد واني چې زه د رسول ... صلي الله عليه وسلم په خدمت کې حاضرشوم اوعرض مي ورته وکړوچې اي دالله رسوله دعناق سره نکاح وکړم ؟رسول الله صلي الله عليه وسلم چې دا واوريدل نوخاموش شو په دې وخت کې دا ايت کريمه نازل شو (وَالزَّانِيَةُ لاَ يَنْكِحُهَا إِلاَّ زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ) زه ئي راوغوښتلم اودا ايت کريمه ئي راته واوروللو اودهغي سره دنکاح کولونه ئي منع کړم

امام ترمذي رحمه الله وايي دا حديث حسن غريب دي او ددي سند نه يي علاوه په مونږ په بل سند نه پيژنو

دعمروبن شعيب راوي حالات

نوم عمرو بن شعيب بن محمد بن عبدالله بن عمرو بن العاص هغه عموما دخپل پلار او سعيد بن المسيب نه روايتونه اوريدلي دي او دی دحديث په اسناد کې اکثر موندلی شي "ابيه" کې ضمير پلار ته راجع دی او ددي مصداق شعيب دی "جده" په دي ضمير کې دوه احتماله دي اول ددي مصداق محمد دی . دويم احتمال دادی چې دجد مرجع ابيه دی او دجد مصداق عبدالله بن عمرو دی کوم چې دشعيب نيکه دی مطلب دا شو چې شعيب دخپل نيکه عبدالله نه روايت کوي ددي احتمالاتو په وجه په سند کې اختلاف راغی پاتي شوه دا خبره چې دا سند قابل داحتجاج دی يا نه دی نو صحيح رائي داده چې دا سند قابل داحتجاج دی کم از کم دحسن درجي دی اصحاب سنن او امام احمد وغيره دا سند قبول کړی دی (ميزان الاعتدال. تدريب الرامي)

****

٣١٧٨ـحَدَّثَنَا هَنَّادٌ. حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ. عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ. قَالَ: سُئِلْتُ عَنِ الْمُتَلَاعِنَيْنِ فِي إِمَارَةِ مُصْعَبِ بْنِ الزُّبَيْرِ. أَيُفَرَّقُ بَيْنَهُمَا ؟ فَمَا دَرَيْتُ مَا أَقُولُ. فَقُمْتُ مِنْ مَكَانِي إِلَى مَنْزِلِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ. فَاسْتَأْذَنْتُ عَلَيْهِ. فَقِيلَ لِي إِنَّهُ قَائِلٌ. فَسَمِعَ كَلَامِي. فَقَالَ لِيَ: ابْنَ جُبَيْرٍ ؟ ادْخُلْ مَا جَاءَ بِكَ إِلَّا حَاجَةٌ. قَالَ: فَدَخَلْتُ فَإِذَا هُوَ مُفْتَرِشٌ بَرْذَعَةَ رَحْلٍ لَهُ. فَقُلْتُ: يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ. الْمُتَلَاعِنَانِ أَيُفَرَّقُ بَيْنَهُمَا ؟ فَقَالَ: سُبْحَانَ اللهِ. نَعَمْ. إِنَّ أَوَّلَ مَنْ سَأَلَ عَنْ ذَلِكَ فُلَانُ بْنُ فُلَانٍ. أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ لَوْ أَنَّ أَحَدَنَا رَأَى امْرَأَتَهُ عَلَى فَاحِشَةٍ كَيْفَ يَصْنَعُ ؟ إِنْ تَكَلَّمَ تَكَلَّمَ بِأَمْرٍ عَظِيمٍ. وَإِنْ سَكَتَ سَكَتَ عَلَى أَمْرٍ عَظِيمٍ. قَالَ: فَسَكَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يُجِبْهُ. فَلَمَّا كَانَ بَعْدَ ذَلِكَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: إِنَّ الَّذِي سَأَلْتُكَ عَنْهُ قَدِ ابْتُلِيتُ بِهِ. فَأَنْزَلَ اللهُ هَذِهِ الْآيَاتِ: وَالَّذِينَ يَرْمُونَ

أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلا أَنْفُسُهُمْ (النور :٦) حَتَّى خَتَمَ الآيَاتِ. قَالَ: فَدَعَا الرَّجُلَ فَتَلَاهُنَّ عَلَيْهِ وَوَعَظَهُ وَذَكَّرَهُ وَأَخْبَرَهُ أَنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الآخِرَةِ. فَقَالَ: لَا وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا كَذَبْتُ عَلَيْهَا. ثُمَّ ثَنَّى بِالْمَرْأَةِ وَوَعَظَهَا وَذَكَّرَهَا وَأَخْبَرَهَا أَنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الآخِرَةِ. فَقَالَتْ: لَا وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا صَدَقَ. فَبَدَأَ بِالرَّجُلِ. فَشَهِدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ وَالْخَامِسَةَ أَنَّ لَعْنَةَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ. ثُمَّ ثَنَّى بِالْمَرْأَةِ فَشَهِدَتْ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ. ثُمَّ فَرَّقَ بَيْنَهُمَا". وَفِي الْبَابِ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ. قَالَ: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : د سعيد بن جبير بيان دي چي د مصعب بن زبير په زمانه کي زما نه چا د مسئلي تپوس وکړو چي ايا دلعان کونکو ښځي خاوند مينځ کي به جدايي واقع کولی شي او که نه؟ نو زه نه پوهيدم چي څه جواب ورته ورکړم نو زه د خپل خاي نه پاڅيدم اود ابن عمر رضي الله عنه کورته روان شوم کله چي ورسيدم عرض مي وکړو ابن جبير يم دننه داخليدل غواړم ماته ووئيلی شوي وو چي هغه دي وخت کي قيلوله کوي مگر ابن عمر زما خبري اتري ددروازي نه واوريدلي او ماته يي اواز راکړو ابن جبير دننه راځه داسي ښکاري چي کوم ضرورت دلته راوستلی يي نو زه ورداخل شوم او هغه د کجاوي لاندي اچولو والا کمبل غوړلی وو ما ووئيل اي ابو عبد الرحمن ايا دلعان کونکو ښځي خاوند مينځ کي به جدايي واقع کولی شي او که نه؟ هغه ووېل سبحان الله . واوره د هرچا نه اولني هغه کس چي درسول الله نه يي په دي باره کي تپوس کړی وو فلان بن فلان وو. هغه ووېل اي د الله رسوله که خپلي ښځي سره په قابل اعتراض حالت کي سړي ويني نو څه به کوي ؟ که په دي باره کي څه وايي نو دا ډيره لويه خبره کول دي او چپ پاتي کيږي نو په بيا هم په يوه لويه خبره چپ کيدل دي ؟ رسول الله چي دا واريدل خاموشي يي اختيار کړه او هيڅ جواب يي ورنکړو . نو مذکوره انسان څه موده پس بيا په خدمت نبوي کي حاضر شو او عرض يي وکړو ما چي د کومي مسئلي ذکر تاسو ته کړي وو زه پخپله دهغي سره مخامخ شوي يم نوپه دي وخت کي دا ايتونه نازل شول : (وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلاَّ أَنْفُسُهُمْ) . تردي چي مذکوره ايتونه يي ختم کړل نو متهم شخص يي راوغوښتلو اودا ايت کريمه يي ورته بيان کړو اونصيحت يي هم ورته وکړو اودالله دعذاب نه يي ويرولو چي داددنيادتکليف نه د اخرت عذاب ډير سخت دی هلال عرض اوکړو په الله قسم چي ددي ښځي حال ماپه ريښتياسره بيان کړی دی بيا يي ښځي ته مسئله بيان

[1] ـ انظر حديث رقم ١٢٠٢

کړو اونصیحت یی هم ورته وکړو اودالله دعذاب نه یی ویروله چې داددنیادتکلیف نه د اخرت عذاب ډیر سخت دی ښځي ووئیل داسي بلکل نه ده زما دي په هغه ذات قسم وي چا چي ته په حقه سره رالیږلي یي چي ده رښتیا ونه وئیل نو د لعان اوله شروع یي د سړي نه وکړله او هغه څلور ځله ګواهیاني ورکړلي چي زه رښتوني یم او په پنځم ځل یي دا ګواهي ورکړله چې کچري زه دروغژن یم نوپه مادي دالله لعنت وي ، بیا ښځي ته دګواهۍ ورکولو ووئیلي شول نو هغي څلور ځله ګواهیاني ورکړلي چي زه رښتوني یم او په پنځم ځل یي دا ګواهي ورکړله چې کچري زه دروغژنه یم نوپه مادي دالله لعنت وي ددینه پس رسول الله صلي الله علیه وسلم په دوي دواړوکې جدائي وکړه.

امام ترمذي رحمه الله وایي په دي باب کي د سهل بن سعد نه هم حدیث وارد دي او داحدیث حسن صحیح دی.

****

٣١٧٩_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ حَسَّانَ، حَدَّثَنِي عِكْرِمَةُ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ هِلَالَ بْنَ أُمَيَّةَ قَذَفَ امْرَأَتَهُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَرِيكِ بْنِ السَّحْمَاءِ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْبَيِّنَةَ وَإِلَّا حَدٌّ فِي ظَهْرِكَ". قَالَ: فَقَالَ هِلَالٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِذَا رَأَى أَحَدُنَا رَجُلًا عَلَى امْرَأَتِهِ أَيَلْتَمِسُ الْبَيِّنَةَ ؟ فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. يَقُولُ: "الْبَيِّنَةَ وَإِلَّا فَحَدٌّ فِي ظَهْرِكَ"، قَالَ: فَقَالَ هِلَالٌ: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ إِنِّي لَصَادِقٌ وَلَيَنْزِلَنَّ فِي أَمْرِي مَا يُبَرِّئُ ظَهْرِي مِنَ الْحَدِّ، فَنَزَلَ: وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلا أَنْفُسُهُمْ فَقَرَأَ حَتَّى بَلَغَ وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ (النور :٦ـ٩. قَالَ: فَانْصَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَأَرْسَلَ إِلَيْهِمَا. فَجَاءَا. فَقَامَ هِلَالُ بْنُ أُمَيَّةَ: فَشَهِدَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. يَقُولُ: "إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ أَنَّ أَحَدَكُمَا كَاذِبٌ. فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ؟" ثُمَّ قَامَتْ فَشَهِدَتْ. فَلَمَّا كَانَتْ عِنْدَ وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ (النور :٩ قَالُوا لَهَا: إِنَّهَا مُوجِبَةٌ. فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَتَلَكَّأَتْ وَنَكَسَتْ حَتَّى ظَنَنَّا أَنْ سَتَرْجِعُ. فَقَالَتْ: لَا أَفْضَحُ قَوْمِي سَائِرَ الْيَوْمِ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَبْصِرُوهَا فَإِنْ جَاءَتْ بِهِ أَكْحَلَ الْعَيْنَيْنِ سَابِغَ الْأَلْيَتَيْنِ خَدَلَّجَ السَّاقَيْنِ فَهُوَ لِشَرِيكِ بْنِ السَّحْمَاءِ. فَجَاءَتْ بِهِ كَذَلِكَ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْلَا مَا مَضَى مِنْ كِتَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ لَكَانَ لَنَا وَلَهَا شَأْنٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ. وَهَكَذَا رَوَى عَبَّادُ بْنُ مَنْصُورٍ هَذَا

الحَدِيثَ عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَرَوَاهُ أَيُّوبُ، عَنْ عِكْرِمَةَ مُرْسَلًا وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. [1]

ترجمه - دعبدالله بن عباس رضي الله عنهمانه روايت دی فرمائي چې هلال بن اميه خپله ښځه د نبي كريم صلي الله عليه وسلم په وړاندي په شريك بن سمحاء باندي بدنامه كړه نبي كريم صلي الله عليه وسلم ورنه ګواهان اوغوښتل او ورته يې وفرمائيل كه ګواهان دي پيش نكړل نو د كوړو حد به دي په ملا باندي جاري كيږي، راوي وايي چې هلال ووېل اې د الله رسوله كله چې په مونږ كي يو كس دخپلي ښځي سره پردي سړي ووېني ايا هغه به په ګواهانو پسي ګرځي نو رسول الله شروع شو چې بار بار يې ونيل ګواهان به پيش كوي ، كنه نو د كوړو حد به دي په ملا باندي جاري كيږي، هلال ووېل اې د الله رسوله په هغه ذات قسم چا چې ته په حقه راليږلى يې چې زه رښتوني يم زما يقين دي چې ضرور به زما په صفايي كي اسماني حكم نازليږي تردي چې په دي وخت كې دا ايت كريمه : (وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنفُسُهُمْ) نازل شو راوي وايي چې رسول الله واپس روان شو او دوئ ښځه اوخاوند يې راوغوښتل نو دوئ راغلل او هلال بن اميه څلور خل ګواهي وركړله او رسول الله به ورته فرمائيل چې الله تعالي ته ښه معلومه ده چې په تاسو دواړو كي يو كس ضرور دروغژن دی ايا په تاسو دواړو كوم يو توبې ويستلو ته تيار دی ؟ تردي چې بيا ښځي هم اميه څلور خل ګواهي وركړله او په پنځم خل يې ووېيل كه زما خاوند رښتوني وي نو په ما دي د الله غضب وي خلقو ورته ووېيل ګواهي وركول د الله غضب لره واجبونكي ده ، دابن عباس بيان دي چې بيا ښځي چې دا واوريدل نويوه شيبه متحيره شوه اوبيايې اوونيل په الله مي دي قسم وي زه خپل قوم نه شرموم اوپنځم خل ګواهي يې هم وركړه داچې كه زماخاوند رښتونی وي نويه مادي دالله غضب نازل شي ددينه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم په دوي دواړوكي جدائي وكړه اودافيصله يې وكړه ددي ښځي په خيټه كې چې كوم بچي دی دهغه نسبت دي پلار ته ونه كړی شي ليكن په دي ښځه دي دزنا تهمت هم ونه لګولی شي اونه په دي ماشوم باندي ، اوځوك چې په دي ماشوم دزناتهمت ولګوي نويه هغه باندي به حد قذف جاري كيږي اودافيصله يې هم وكړه چې په خاوند باندي دا لازمي نه دي چې دي ته به خانې وركوي يابه ورته نفقه وركوي ځكه چې دوي دواړه بغيردطلاقو جداشوي دي او همدارنګي بغيردوفات نه جداشوي دي اوبيايې اوفرمائيل كچري ماشوم خړ رنګ والا خړ رنګ ويښتووالا او وچ كلك اونرو پندو

---

[1] - اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير سورة النور ٣ (٤٧٤٦) . والطلاق ٢٩ (٥٣٠٨) . سنن ابي داود/ الطلاق ٢٧ (٢٢٥٣) . سنن ابن ماجه/الطلاق ٢٧ (٢٠٦٧) (تحفة الأشراف : ٦٢٢٥) . ومسند احمد (٢٧٣/١)

والاپيداشو نودابه دهلال نه وي اوكچري غنمرنگې گونجي وينبتو والا اوخربو پنډو والا او اوخربو كوناټو والاوي نوبيادا دهغه كس بچى دى په چاباندي چې تهمت لگيدلى دى . نوبياددغي بنخي بچى په ورستني بيان شوي شكل كې پيداشو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كچري مخكې شهادتونه شوي نه وى نومابه دي بنځي ته دعبرت سزاور كړي وه.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث په دي سند حسن غريب دى دا رانگي عباد بن منصور هم دا حديث د عكرمه نه د ابن عباس په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړى دى ، او ايوب دعكرمه نه مرسل هم نقل كړى دى اود ابن عباس واسطه يي نده ذكر كړي

****

٣١٨٠_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، أَخْبَرَنِي أَبِي، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: لَمَّا ذُكِرَ مِنْ شَأْنِي الَّذِي ذُكِرَ وَمَا عَلِمْتُ بِهِ، قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيَّ خَطِيبًا، فَتَشَهَّدَ وَحَمِدَ اللَّهَ، وَأَثْنَى عَلَيْهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ، ثُمَّ قَالَ: "أَمَّا بَعْدُ، أَشِيرُوا عَلَيَّ فِي أُنَاسٍ أَبَنُوا أَهْلِي وَاللَّهِ مَا عَلِمْتُ عَلَى أَهْلِي مِنْ سُوءٍ قَطُّ، وَأَبَنُوا بِمَنْ وَاللَّهِ مَا عَلِمْتُ عَلَيْهِ مِنْ سُوءٍ قَطُّ، وَلَا دَخَلَ بَيْتِي قَطُّ إِلَّا وَأَنَا حَاضِرٌ، وَلَا غِبْتُ فِي سَفَرٍ إِلَّا غَابَ مَعِي". فَقَامَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، فَقَالَ: ائْذَنْ لِي يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنْ أَضْرِبَ أَعْنَاقَهُمْ، وَقَامَ رَجُلٌ مِنَ بَنِي الْخَزْرَجِ وَكَانَتْ أُمُّ حَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ مِنْ رَهْطِ ذَلِكَ الرَّجُلِ، فَقَالَ: كَذَبْتَ أَمَا وَاللَّهِ أَنْ لَوْ كَانُوا مِنَ الْأَوْسِ مَا أَحْبَبْتَ أَنْ تُضْرَبَ أَعْنَاقُهُمْ، حَتَّى كَادَ أَنْ يَكُونَ بَيْنَ الْأَوْسِ وَالْخَزْرَجِ شَرٌّ فِي الْمَسْجِدِ وَمَا عَلِمْتُ بِهِ، فَلَمَّا كَانَ مَسَاءُ ذَلِكَ الْيَوْمِ خَرَجْتُ لِبَعْضِ حَاجَتِي وَمَعِي أُمُّ مِسْطَحٍ، فَعَثَرَتْ، فَقَالَتْ: تَعِسَ مِسْطَحٌ، فَقُلْتُ لَهَا: أَيْ أُمُّ تَسُبِّينَ ابْنَكِ، فَسَكَتَتْ، ثُمَّ عَثَرَتِ الثَّانِيَةَ، فَقَالَتْ: تَعِسَ مِسْطَحٌ، فَانْتَهَرْتُهَا، فَقُلْتُ لَهَا: أَيْ أُمُّ تَسُبِّينَ ابْنَكِ؟ فَسَكَتَتْ، ثُمَّ عَثَرَتِ الثَّالِثَةَ، فَقَالَتْ: تَعِسَ مِسْطَحٌ، فَانْتَهَرْتُهَا، فَقُلْتُ لَهَا: أَيْ أُمُّ تَسُبِّينَ ابْنَكِ؟ فَقَالَتْ: وَاللَّهِ مَا أَسُبُّهُ إِلَّا فِيكِ، فَقُلْتُ: فِي أَيِّ شَيْءٍ، قَالَتْ: فَبَقَرَتْ لِي الْحَدِيثَ، قُلْتُ: وَقَدْ كَانَ هَذَا؟ قَالَتْ: نَعَمْ، وَاللَّهِ لَقَدْ رَجَعْتُ إِلَى بَيْتِي وَكَأَنَّ الَّذِي خَرَجْتُ لَهُ لَمْ أَخْرُجْ لَا أَجِدُ مِنْهُ قَلِيلًا وَلَا كَثِيرًا، وَوُعِكْتُ، فَقُلْتُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَرْسِلْنِي إِلَى بَيْتِ أَبِي فَأَرْسَلَ مَعِي الْغُلَامَ، فَدَخَلْتُ الدَّارَ فَوَجَدْتُ أُمَّ رُومَانَ فِي السُّفْلِ وَأَبُو بَكْرٍ فَوْقَ الْبَيْتِ يَقْرَأُ، فَقَالَتْ أُمِّي: مَا جَاءَ بِكِ يَا بُنَيَّةُ؟ قَالَتْ: فَأَخْبَرْتُهَا وَذَكَرْتُ لَهَا الْحَدِيثَ، فَإِذَا هُوَ لَمْ يَبْلُغْ مِنْهَا مَا بَلَغَ مِنِّي، قَالَتْ: يَا بُنَيَّةُ خَفِّفِي عَلَيْكِ الشَّأْنَ فَإِنَّهُ وَاللَّهِ لَقَلَّمَا كَانَتِ امْرَأَةٌ حَسْنَاءُ عِنْدَ رَجُلٍ يُحِبُّهَا لَهَا ضَرَائِرُ إِلَّا حَسَدْنَهَا

وَقِيلَ فِيهَا فَإِذَا هِيَ لَمْ يَبْلُغْ مِنْهَا مَا بَلَغَ مِنِّي. قَالَتْ: قُلْتُ: وَقَدْ عَلِمَ بِهِ أَبِي ؟ قَالَتْ: نَعَمْ. قُلْتُ: وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَتْ: نَعَمْ. وَاسْتَعْبَرْتُ وَبَكَيْتُ فَسَمِعَ أَبُو بَكْرٍ صَوْتِي وَهُوَ فَوْقَ الْبَيْتِ يَقْرَأُ فَنَزَلَ. فَقَالَ لِأُمِّي: مَا شَأْنُهَا ؟ قَالَتْ: بَلَغَهَا الَّذِي ذُكِرَ مِنْ شَأْنِهَا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ. فَقَالَ: أَقْسَمْتُ عَلَيْكِ يَا بُنَيَّةُ إِلَّا رَجَعْتِ إِلَى بَيْتِكِ فَرَجَعْتُ. وَلَقَدْ جَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْتِي. فَسَأَلَ عَنِّي خَادِمَتِي. فَقَالَتْ: لَا وَاللهِ مَا عَلِمْتُ عَلَيْهَا عَيْبًا إِلَّا أَنَّهَا كَانَتْ تَرْقُدُ حَتَّى تَدْخُلَ الشَّاةُ فَتَأْكُلَ خَمِيرَتَهَا أَوْ عَجِينَتَهَا. وَانْتَهَرَهَا بَعْضُ أَصْحَابِهِ. فَقَالَ: أَصْدِقِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَسْقَطُوا لَهَا بِهِ. فَقَالَتْ: سُبْحَانَ اللهِ. وَاللهِ مَا عَلِمْتُ عَلَيْهَا إِلَّا مَا يَعْلَمُ الصَّائِغُ عَلَى تِبْرِ الذَّهَبِ الْأَحْمَرِ. فَبَلَغَ الْأَمْرُ ذَلِكَ الرَّجُلَ الَّذِي قِيلَ لَهُ فَقَالَ: سُبْحَانَ اللهِ. وَاللهِ مَا كَشَفْتُ كَنَفَ أُنْثَى قَطُّ. قَالَتْ عَائِشَةُ: فَقُتِلَ شَهِيدًا فِي سَبِيلِ اللهِ. قَالَتْ: وَأَصْبَحَ أَبَوَايَ عِنْدِي فَلَمْ يَزَالَا حَتَّى دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ صَلَّى الْعَصْرَ. ثُمَّ دَخَلَ وَقَدِ اكْتَنَفَنِي أَبَوَايَ عَنْ يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي. فَتَشَهَّدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ. ثُمَّ قَالَ: " أَمَّا بَعْدُ يَا عَائِشَةُ إِنْ كُنْتِ قَارَفْتِ سُوءًا أَوْ ظَلَمْتِ فَتُوبِي إِلَى اللهِ. فَإِنَّ اللهَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ ".

قَالَتْ: وَقَدْ جَاءَتِ امْرَأَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ وَهِيَ جَالِسَةٌ بِالْبَابِ. فَقُلْتُ: أَلَا تَسْتَحْيِي مِنْ هَذِهِ الْمَرْأَةِ أَنْ تَذْكُرَ شَيْئًا. فَوَعَظَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَالْتَفَتُّ إِلَى أَبِي. فَقُلْتُ: أَجِبْهُ. قَالَ: فَمَاذَا أَقُولُ ؟ فَالْتَفَتُّ إِلَى أُمِّي فَقُلْتُ: أَجِيبِيهِ. قَالَتْ: أَقُولُ مَاذَا ؟ قَالَتْ: فَلَمَّا لَمْ يُجِيبَا تَشَهَّدْتُ فَحَمِدْتُ اللهَ وَأَثْنَيْتُ عَلَيْهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ. ثُمَّ قُلْتُ: أَمَا وَاللهِ لَئِنْ قُلْتُ لَكُمْ إِنِّي لَمْ أَفْعَلْ وَاللهُ يَشْهَدُ إِنِّي لَصَادِقَةٌ مَا ذَاكَ بِنَافِعِي عِنْدَكُمْ لِي لَقَدْ تَكَلَّمْتُمْ وَأُشْرِبَتْ قُلُوبُكُمْ. وَلَئِنْ قُلْتُ: إِنِّي قَدْ فَعَلْتُ وَاللهُ يَعْلَمُ أَنِّي لَمْ أَفْعَلْ لَتَقُولُنَّ إِنَّهَا قَدْ بَاءَتْ بِهِ عَلَى نَفْسِهَا وَإِنِّي وَاللهِ مَا أَجِدُ لِي وَلَكُمْ مَثَلًا. قَالَتْ: وَالْتَمَسْتُ اسْمَ يَعْقُوبَ فَلَمْ أَقْدِرْ عَلَيْهِ إِلَّا أَبَا يُوسُفَ حِينَ قَالَ: فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَاللهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ (يوسف :١٨) قَالَتْ: وَأُنْزِلَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ سَاعَتِهِ. فَسَكَتْنَا فَرُفِعَ عَنْهُ وَإِنِّي لَأَتَبَيَّنُ السُّرُورَ فِي وَجْهِهِ وَهُوَ يَمْسَحُ جَبِينَهُ وَيَقُولُ: " الْبُشْرَى يَا عَائِشَةُ. فَقَدْ أَنْزَلَ اللهُ بَرَاءَتَكِ ". قَالَتْ: فَكُنْتُ أَشَدَّ مَا كُنْتُ غَضَبًا. فَقَالَ لِي أَبَوَايَ: قُومِي إِلَيْهِ. فَقُلْتُ: لَا وَاللهِ لَا أَقُومُ إِلَيْهِ وَلَا أَحْمَدُهُ وَلَا أَحْمَدُكُمَا وَلَكِنْ أَحْمَدُ اللهَ الَّذِي أَنْزَلَ بَرَاءَتِي. لَقَدْ سَمِعْتُمُوهُ فَمَا أَنْكَرْتُمُوهُ وَلَا غَيَّرْتُمُوهُ. وَكَانَتْ عَائِشَةُ تَقُولُ: أَمَّا زَيْنَبُ بِنْتُ جَحْشٍ فَعَصَمَهَا اللهُ بِدِينِهَا فَلَمْ تَقُلْ إِلَّا خَيْرًا. وَأَمَّا

أُخْتُهَا حَمْنَةُ فَهَلَكَتْ فِيمَنْ هَلَكَ، وَكَانَ الَّذِي يَتَكَلَّمُ فِيهِ مِسْطَحٌ، وَحَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍ، وَالْمُنَافِقُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ ابْنُ سَلُولَ وَهُوَ الَّذِي كَانَ يَسُوسُهُ وَيَجْمَعُهُ، وَهُوَ الَّذِي تَوَلَّى كِبْرَهُ مِنْهُمْ هُوَ وَحَمْنَةُ، قَالَتْ: فَحَلَفَ أَبُو بَكْرٍ أَنْ لَا يَنْفَعَ مِسْطَحًا بِنَافِعَةٍ أَبَدًا، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى هَذِهِ الْآيَةَ: وَلا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ (النور :٢٢ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ. يَعْنِي: أَبَا بَكْرٍ أَنْ يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَى وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يَعْنِي: مِسْطَحًا، إِلَى قَوْلِهِ أَلا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ (النور :٢٢) قَالَ أَبُو بَكْرٍ: بَلَى، وَاللَّهِ يَا رَبَّنَا إِنَّا لَنُحِبُّ أَنْ تَغْفِرَ لَنَا، وَعَادَ لَهُ بِمَا كَانَ يَصْنَعُ . قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، وَقَدْ رَوَاهُ يُونُسُ بْنُ يَزِيدَ، وَمَعْمَرٌ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، وَسَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، وَعَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ اللَّيْثِيِّ، وعبيد الله بن عبد الله، عَنْ عَائِشَةَ هَذَا الْحَدِيثَ أَطْوَلَ مِنْ حَدِيثِ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ وَأَتَمَّ.
([1])

ترجمه : ام المومنين عائشه رضي الله عنها فرمائيلي دي كله چي زما باره كي افواه ګاني خوريدل شروع شول كومي چي خوري شوي وي اوزه ورنه خبره هم نه وم،خو نبي كريم صلي الله عليه وسلم اودريدو او زما متعلق يي يوه خطبه ارشاد اوفرمائيله چي شهادتين يي ولوستل اود الله لائق شان حمد اوثناء اوصلاة اوسلام يي بيان كړو او ويي فرمائيل: اي خلقو ماته دهغه كسانو باره كي مشوره راكړئ چا چي زما په كور والا تهمت لګولى دى په الله قسم ما هيڅكله په خپله بي بي كي كوم عيب او بدي نه ده ليدلي، هغوئ زما كور والا په داسي كس متهمه كړي ده دچا باره كي چي زه په الله قسم خورم چي ما هيڅكله په هغه كي كوم قباحت او عيب ندي كتلي هغه داسي كس دى چي زما په غير موجودګئ كي هيڅكله زما كور ته نه دي داخل شوي ، او چي كله هم زما كور ته داخل شوي دى نو زما په موجودګئ كي داخل شوى دى، او چي كله زه د كور نه غائب شوى يم نو دى هم راسره په سفر كي موجود پاتي شوي دى، ددي بيان په اوريدو سعد بن معاذ رضي الله عنه ودريدو او عرض يي وكړو اي د الله رسوله ماته اجازت راكړه چي زه ددوئ څټونه اووهم ، ددي خبري په اوريدو د خزرج قبيلي يو كس چي د حسان بن ثابت د مور د قبيلي سره يي تعلق لرلو ودريدو او سعد بن معاذ ته يي وونيل : نه دروغ وايي په الله قسم كچري دا تهمت لګونكي د اوس قبيلي والاوى نو تابه دا نه وه خوښه كړي چي ته ددوئ څټونه اووهي، تردي چي دا بحث او تكرار دومره زيات شو نژدي وه چي د

[1] ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير سورة النور ٦ (٤٧٥٠) و ١١(٤٧٥٧) (تعليقاً) . والإعتصام ٢٩ (تعليقاً) صحيح مسلم /التوبة ١٠(٥٨/٢٧٧٠) . سنن ابي داود/ الأدب ١٥٦(٥٢١٩) (تحفة الأشراف : ١٦٧٩٨) . ومسند احمد(٦/٥٩)

اوس او خزرج په مينځ کي په مسجد کي يو لوي فساد واقع شوی وي، (عائشه رضي الله عنها وايي) زه ددينه هم خبره نه وم . مګر کله چي مابنام شو نو زه د قضاء حاجت په اراده بهر وتلم اود مسطح مور هم راسره وه، د مسطح مور په لاره تندك وخوړلو نو يودم يي ووئيل مسطح تباه او برباد شو، ما ورته ووئيل ته څنګه مور يي چي خوي ته خيري او کنځل کوي؟ نو هغه خاموش پاتي شوه کله چي يي بيا تيندك وخوړلو نو بيا يي خپله خبره تکرار کړله چي مسطح هلاك شو، نو ما ورتله چي ته خو ډيره بي کاره مور يي چي خپل خوي ته خيري او ازار کوي، تردي چي کله په دريم ځل هم داسي وشول نو خپل خوي ته يي بد رد ونيل شروع کړل او ماته يي ووئيل اي لوري زه ورته صرف ستا په معامله کي بدرد وايم او خيري ورته کوم ما ورته ووئيل زما په کومه معامله کي نو هغي راته ټوله معامله بيان کړه . ددي خبرو په اوريدو زه واپس راروانه شوم اود قضاحت حاجت ضرورت مي بيا بلکل نه محسوسولو بلکه تيزه تبه راباندي راغله او رسول الله صلي الله عليه وسلم ته مي ووئيل ما د پلار کره وليږه نو رسول الله يو هلك راسره کړو او زه د پلار کور ته راداخل شوم ، او خپله مور ام رومان مي لاندي ومونده او خپل پلار ابو بکر مي د کور دپاسه وليدلو چي تلاوت يي کولو، زه چي دمور پلار کره اورسيدم نو مور ته مي اووئيل اي موري زه څه اورم او داخلق څه څه خبري کوي مور راته ووئيل بچيه ددي خبرو غم مه کوه کله چي کومه ښځه دخپل خاوند په نظر کي پرقيدونکي وي او خاوند ورسره محبت کوي او دهغي بني هم وي نو ددي بني ددي په خلاف ډيري لوي لوي خبري جوړوي . ما اووئيل سبحان الله خلق خو دا خبري کوي ماچي دا خبري واوريدي نو ټوله شپه مي په ژړا تيره کړه چي نه مي اوښکي اودريدي او نه خوب راتلو او بيامي سحر لاهم ژړل ابو بکر زما اواز واوريدو او هغه د کور د چت دپاسه تلاوت کولو او راکوز شو زما د مور نه يي تپوس وکړو چي ددي څه مسئله ده مور مي ورته ووئيل د خپلي واقعي باره کي خبره شوي ده. او چي کومه واقعه زما باره کي تيره شوي وه هغه يي ورته بيان کړه نو ستر ګي يي د اوښکو نه ډکي شوي او ماته يي ووئيل اي بچيه ستا دقي قسم وي خپل کور ته واپس رازه . دي وخت کي رسول الله زمونږ کره راغلو اورسول الله صلي الله عليه وسلم زما خادمه بريره رضي الله عنها راوغوښتله او تپوس يي ورنه وکړو اياتاچرته دعائشي کوم داسي حرکت ليدلي دي دکوم په وجه چي ستا په زړه کي شك تيري شوي وي بريري اووئيل زما دي په هغه ذات قسم وي چاچي ته په حقه سره نبي جوړ کړي يي اوته يي راليږلي يي چي ما دعائشي نه هيڅ کومه داسي خبره نه ده اوريدلي چي زه ورباندي اعتراض اوکړي شم مګر صرف دومره خبره ضرور ده چي هغه يوه کم عمره جينۍ ده او هر وخت ورباندي خوب غالب وي اکثر ورنه اوړه هم داخکلو په وخت کي همداسي پاتي شوي وي او دا اوده شوي وي نو بعضي صحابه کرامو ورتله چي رښتيا اووايه نوهغي ووئيل په الله قسم عائشه ماته د سرو زرو د ټوټي پشان سپينه پرقيدونکي

صفا ښکاري . بیا هغه کس ته خبر ورسیدو دچا باره کې تهمت لګولی شوی وو، هغه ووئیل سبحان الله زما دې په الله قسم وي ما خو اوسه پوري هیڅکله هیڅ قسم ښځي ته لاس ندي ور نژدي کړي، ام المؤمنین وایي چي دغه کس بیا د الله په لاره کي شهید کړی شو، ام المؤمنین وایي چي مور او پلار مي راسره یو خاي شپه صبا کړه تردي چي رسول الله مونږ کره د مازیګر مونځ کولو نه پس تشریف راوړو، او دي وخت کي زما مور پلار زما نه ښي او ګس طرف ته ناست وو، تردي چي رسول الله دکیناستو سره اول دشهادت کلمه اولوستله او بیایي اوفرمائیل اي عائشي ماته ستا په باره کې داسي داسي خبرونه رارسیدلي دي کچري ته ددي خبرو نه پاکه یي نو الله تعالي به ستا پاکي ظاهره کړي اوکچري ته اتفاقا په کومه ګناه کي مبتلا شوي یي نو دالله تعالي نه ددي توبه او استغفار اوغواړه بنده چي دګناه اقرار اوکړي او معافي اوغواړي نو الله تعالي دهغه توبه قبلوي. دعائشه رضي الله عنها بیان دي چي یوي انصاریه ښځي د دننه راتلو اجازت اوغوښتلو نو ما ورته اجازت ورکړو دننه دراتلو سره کیناسته او زما سره په ژړا شروع شوه. ما ووئیل ایا تاسو ددي ښځي نه نه شرمیږئ چي ددي په وړاندي مو هرڅه ښکاره بیان کړل، بیا یوه شیبه پس رسول الله نصیحت شروع کړو نو ماته زما پلار کتل ما ورته ووئیل جواب ورته ورکړه. او ما به ورته بیا بیا دا خبره کوله، بیا راته مور هم راکتل او ما ورته همدا ونیل چي جواب ورته ورکړه. هرکله چي ماته معلومه شوه چي دوئ خو ورته هیڅ جواب ورنکړو نو ما دشهادت کلمه وویله اود الله تعالي ثنا او حمد مي بیان کړو چي څنګه یي د شان سره لائق دي، او بیا مي ووئیل نو اوس که زه اووایم چي زه ددي خبرو نه پاکه یم او الله تعالي ښه پوهیږي چي زه ددینه پاکه یم نو تاسو به ما رښتوني اونه ګڼئ او که زه ستاسو په وړاندي اقرار اوکړم نو دا هم الله تعالي ته معلومه ده چي زه ددي خبرو نه پاکه یم نو تاسو به مي رښتوني اوګڼئ نو په دي وجه زه پخپله معامله کي تاسو ته هیڅ وئیلي نشم زه تاسوته خپل او ستاسو دحالت په باره کي ددینه علاوه بل کوم مثال نشم درکولي مګر علاوه ددینه چي دیوسف علیه السلام پلار وئیلي وو "فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ" ام المومنین عائشه رضي الله عنها فرمائي چي په همدغه وخت کي په رسول الله د وحي د نزول اثار ظاهریدل شروع شو نو مونږ خاموشي اختیار کړه تردي چي الله تعالي پخپل نبي وحي نازله کړه او د وحي دنزول په وخت کي چي به په رسول الله کوم تکلیف وو هغه وربانديي شروع شو کله چي دوحي د نزول اثر ختم شو نو مونږ د رسول الله په مخ د سرور او خوشحالي داسي حالت ولیدو چي تاسو ته یي نشم بیانولی. دخندا په حالت کي چي کوم اولني لفظ رسول الله دخولي نه ویستلي وو هغه دا وو اي عائشي خوشحاله شه الله تعالي ستادپاکدامنئ اظهار اوکړو . ام المومنین عائشه رضي الله عنها فرمائي چي زه لاد غصي په حالت کي وم چي مور او پلار راته اوویل(تعظیما، ورته ودریږه ما ووېل هیڅ کله نه په الله قسم او نه یي شکریه ادا

كوم او نه ستاسو تعريف كوم ليكن دهغه ذات تعريف وايم چا چې زما پاكدامني بيان كړي ده، تاسو خو دا بهتان اوريدلو او انكار مو ورنه ونكړو او نه مو منع كړو، چې ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها به فرمائيل ام المؤمنين زينب بنت جحش رضي الله عنها لره الله تعالى دهغې ددينداري په وجه ددي تهمت نه بچ وساتله هغې دخير دكلمې نه علاوه نور هيڅ ونه ونيل. ليكن ددې خور حمنه دهلاكيدونكو سره هلاكه شوه (يعني دتهمت لګونكو سره ملګرې شوه) اوخبرې كونكي مسطح، حسان بن ثابت، اوعبدالله بن ابي، به دامې خبرې راوړلې اوجمع كولې به يې عروه په اهل افك كې حسان بن ثابت، مسطح بن اثاثه، حمنه بنت جحش اوبعضې نور كسان چې نومونه يې ماته معلوم ندي ليكن دومره ضرور معلوميږي چې يو جماعت وو لكه چې الله تعالى عصبة فرمائيلي دي (اوعصبة دلسو نه كموته نشي ونيلې)

دبعضو قول دي چې د "وَالَّذِيْ تَوَلّٰى كِبْرَهٗ" نه مراد څلور كسان دي عبدالله بن ابي بن سلول، حسان بن ثابت، مسطح ، بن اثاثه ، حمنه بنت جحش ، دا قول كمزوري دي او كچرې دامې وي نو د "وَالَّذِيْ تَوَلّٰى كِبْرَهٗ" په ځاي به والذين تولوا دجمعې صيغه راغلې وه او ددينه علاوه حسان او مسطح خو بدريان وو او د شركاء بدر مخكني او وروستني ګناهونه الله تعالى معاف كړي دي نوځكه به په دوي باندې په اخرت كې عذاب نه وي، محدثينو روايت بيان كړي دي چې كله دافك واقعه پيښه شوې نو صديق اكبر رضي الله عنه اوفرمائيل په الله قسم په انده كې به مصطح ته هيڅ خرچې ورنكړم، مصطح بن اثاثه دصديق اكبر رضي الله عنه رشته دار وو اومسطح يو نادار مفلس وو هم ددوي په باره كې دا ايت كريمه وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنكُمْ وَالسَّعَةِ نازل شو ا بو بكر وويل ولې نه اي زمونږ ربه مونږ غواړو چې ته مونږ ته مغفرت وكړې نردې چې دده سره يې سابقه سلوك دوباره برحال كړو

امام ترمذي رحمه الله وايي دا حديث حسن صحيح غريب دی د هشام بن عروه په روايت. او يونس بن يزيد او معمر او نورو راويانو هم د زهري نه نقل كړی دی او هغه د عروه بن زبير او سعيد بن مسيب او علقمه بن وقاص ليثي او عبيد الله بن عبد الله نه او هغوی د عائشه رضي الله عنها نه او دا حديث د هشام بن عروه د روايت نه زيات اوږد او كامل دی

****

٣١٨١ـحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "لَمَّا نَزَلَ عُذْرِي قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَذَكَرَ ذَلِكَ وَتَلَا الْقُرْآنَ، فَلَمَّا نَزَلَ أَمَرَ بِرَجُلَيْنِ وَامْرَأَةٍ فَضُرِبُوا حَدَّهُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا

حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاق. [1]

ترجمه: دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې كله زما دپاكوالي او پاكدامنۍ ايت نازل شو نورسول الله صلي الله عليه وسلم په منبر اودريدو او زما دپاكدامنۍ ذكر يي اوكړو دقران تلاوت يي اوكړو او دمنبر نه دكوزيدو نه پس يي په دوه سړو اوپوې ښځې دتهمت حد جاري كړو چنانچې په دوئ ټولو باندې حد جاري كړې شو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي او دا حديث مونږ ته دمحمد بن اسحاق دسند نه علاوه په بل سند معلوم نه دي.

****

٢٦_باب وَمِنْ سُورَةِ الْفُرْقَانِ

د سورة الفرقان دبعضي ايتونو تفسير

وجه دتسميه او مختصر پس منظر د سورت

نوم د سورت د ړومبنى ايت ,,تَبَارَكَ الَّذِىْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ، نه اخستې شويدې. دا هم د قرآن پاك د اكثرو سورتونو د نومونو په شان د علامت په طور باندې دي. ليكن بيا هم د سورة د مضمون سره د دې يو نزدې مناسبت شته دې.

فرقان مصدر دي يعني فارق بين الشيئين، قران ته دفرقان وئيلو وجه داده چې دي دخپل بيان په سبب حق لره دباطل نه جدا كوي اوپه خپل اعجاز سره په اهل حق او اهل باطل كې فرق كوي. يا داچې دفرقان وئيلو وجه داده چې تمام قران په يوځل دفعة نه دي نازل شوي بلكه لږ لږ نازل شوي دي په مختلفو وختونو كې دضرورت مطابق.

چونكه په قران كې خيركثير دي اود الله برتري يي ثابته كړې ده نوپه دي وجه يې دقران نازلونكي لره دخير كثير نازلونكي ګرځولي دي اوتبارك يي فرمائيلي دي.

د غور كولو نه پس دا معلوميږي چې د دې د نزول زمانه هغه ده كومه چې د سورة مومنون ده. يعنى د مكې د قيام درميانه دور. ابن جرير او امام رازى د ضحّاك بن مُزاحم او مُقاتل بن سليمان نه دا روايت نقل كړي دي چې دا سورة د سورة نساء نه ٨ كاله وړاندې نازل شوې دې. نو د دې حساب نه هم د دې د نزول زمانه هغه درميانه دور دي. (ابن جرير، جلد، ١٩ ص ٢٨. ٣٠، تفسير كبير ج ٢ ص ٣٥٨).

---

[1] ـ تفرد به المؤلف رحمه الله.

٣١٨٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ وَاصِلٍ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُرَحْبِيلَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الذَّنْبِ أَعْظَمُ؟ قَالَ: "أَنْ تَجْعَلَ لِلَّهِ نِدًّا وَهُوَ خَلَقَكَ". قَالَ: قُلْتُ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: "أَنْ تَقْتُلَ وَلَدَكَ خَشْيَةَ أَنْ يَطْعَمَ مَعَكَ". قَالَ: قُلْتُ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: "أَنْ تَزْنِيَ بِحَلِيلَةِ جَارِكَ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه: دعبدالله رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې ماعرض وکړو اې دالله رسوله کومه ګناه ډيره لويه ده؟راته ني اوفرمائيل داچې ته دالله تعالي سره شريك پيداکړي ماعرض وکړو په دي پسي بله کومه يوه ګناه ډيره لويه ده؟ راته ني اوفرمائيل چې خپل بچي ددي ويري نه مړکړي چې بيابه درنه خوراك غواړي، ماعرض وکړو په دي پسي بله کومه يوه ګناه ډيره لويه ده؟ راته ني اوفرمائيل داچې ته دګاونډي دښځي سره زنا وکړي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن غريب دی.

تشريح: علماؤ وئيلي دي چې دزنادحرمت دپاره اهم وجوهات دادي .اوله داده چې په دي سره بی حياني راځي اوپه انسان کې حياء نه پاتي کيږي په نورو الفاظوکې ددي په ذريعه باندي انسان دانسانيت نه محروميږي اوپه کې دکوم نيك اوبدکار تميز نه پاتي کيږي اويوه وجه داهم ده چې په دي سره نسب بربادیږي اودنسب دخرابيدوپه وجه په مخلوق کې ديوبل سره صله رحمي اوهمدردي اوخير خواهي نه پاتي کيږي، اودهر قسم جرائيمو دروازه کولاويږي لکه غلا ، ډاکه، قتل، وغيره ددي متعلق په حديث پاك کې راغلي دي اذا فاتك الحياء فافعل ماشئت. يعني چې کله درنه حياء لاړه نوبياچې څه دي خوښه وي هغه کوه په دي وجه باندي رسول پاك صلي الله عليه وسلم حياء دايمان يوه اهمه حصه ګرځولي ده

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ، وَالأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُرَحْبِيلَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،

[1] ـ اورده البخاري في الصحيح /تفسير البقرة ٣ (٤٤٧٧)، والأدب ٢٠ (٦٠٠١)، والحدود ٢٠ (٦٨١١)، والديات ٢ (٦٨٦١)، والتوحيد ٤٠ (٧٥٢٠)، و٤٦ (٧٥٣٢)، صحيح مسلم /الإيمان ٣٧ (٨٦) (الطلاق ٥٠ (٣٣١٠) (تحفة الأشراف: ٩٣٨٠)، و مسند احمد (١/٣٨٠، ٤٣١، ٤٣٤، ٤٦٢)

بِمِثْلِهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه: عمرو بن شرحبيل پخپل سند عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دي.

****

٣١٨٣_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ الرَّبِيعِ أَبُو زَيْدٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ وَاصِلٍ الْأَحْدَبِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ الذَّنْبِ أَعْظَمُ ؟ قَالَ: " أَنْ تَجْعَلَ لِلَّهِ نِدًّا وَهُوَ خَلَقَكَ، وَأَنْ تَقْتُلَ وَلَدَكَ مِنْ أَجْلِ أَنْ يَأْكُلَ مَعَكَ أَوْ مِنْ طَعَامِكَ، وَأَنْ تَزْنِيَ بِحَلِيلَةِ جَارِكَ ". قَالَ: وَتَلَا هَذِهِ الْآيَةَ: وَالَّذِينَ لا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ وَلا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلا بِالْحَقِّ وَلا يَزْنُونَ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ يَلْقَ أَثَامًا ، يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا ، الفرقان :٦٨-٦٩، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ سُفْيَانَ، عَنْ مَنْصُورٍ، وَالْأَعْمَشِ، أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ وَاصِلٍ، لِأَنَّهُ زَادَ فِي إِسْنَادِهِ رَجُلًا.[2]

ترجمه: دعبدالله رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې ماعرض وكړو اي دالله رسوله كومه ګناه ډيره لويه ده؟راته ئي اوفرمائيل داچې ته دالله تعالي سره شريك پيداكړي ماعرض وكړو په دي پسې بله كومه يوه ګناه ډيره لويه ده؟ راته ئي اوفرمائيل چې خپل بچي ددي ويري نه مړكړي چې بيابه درنه خوراك غواړي ، ماعرض وكړو په دي پسې بله كومه يوه ګناه ډيره لويه ده؟ راته ئي اوفرمائيل داچې ته دګاونډي دښځي سره زنا وكړي او بيا يي دا ايت كريمه " : وَالَّذِينَ لا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ وَلا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلا بِالْحَقِّ وَلا يَزْنُونَ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ يَلْقَ أَثَامًا ٦٨ يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا " او دا هغه كسان دي چې اواز نۀ كوى د الله تعالى سره مددګار بل ته او نۀ وژنى نفس لره هغه چې حرام كړيدى الله تعالى وژل د هغۀ بغير د شرعى جرم نه او زنا نۀ كوى او كه چا اوكړل دا كارونه مخامخ به شى د ګناه سزا سره. زياتى كيدي به شى هغۀ لره عذاب په ورځ د قيامت او هميشه به وى په هغي كي ذليل كړي شوي. . تلاوت كړو.

---

[1] _ اورده البخاري في الصحيح /تفسير البقرة ٣ (٤٤٧٧) . والأدب ٢٠ (٦٠٠١) . والحدود ٢٠ (٦٨١١) . والديات ٢ (٦٨٦١) . والتوحيد ٤٠ (٧٥٢٠) . و٤٦ (٧٥٣٢) . مسلم/الإيمان ٣٧ (٨٦) (الطلاق ٥٠ (٣٣١٠) . و مسند احمد (١/٣٨٠، ٤٣١، ٤٣٤، ٤٦٢)

[2] _ انظر ماقبله (تحفة الأشراف : ٩٣١١)

امام ترمذي رحمه الله وايي: دسفيان حديث دمنصور نه او داعمش حديث زيات صحيح دي د واثل دحديث نه خكه چې دهغه په سند کي ديو کس اضافه ده (چې مجهول دي).

تشريح: بالحق ، يعني په حق باندي قتل کوي مثلا په قصاص کي قتل کوي ، اومحصن لره په زنا کي سنګساروي وغيره ، په دي ايتونو کي دبنيادي ګناهونو نفي شوي ده ، ددينه دطاعاتو اصول ثابت شوي دي ، دنفي او اثبات نه مقصود دمومنانو دايماني کمال اظهار اوپه دي خبره تنبيه ورکول دي چې دکوم اجر وعده شوي ده هغه دهغه مسلمانانو سره شوي ده چې په دي اصولو دطاعاتو متصف وي اود لويو ګناهونو نه مجتنب وي ، په ضمني طور سره په دي کي کافرانو ته تعريض هم دي چې دوئ دګناهونو نه اجتناب نه کوي او اصول دطاعاتو نه ادا کوي او ددوئ اوصاف دمومنانو داوصافو نه بلکل برعکس وي نو په دي وجه يي په راروان ايت کي دمرتکب معصيت دپاره وعيد بيان کړو او وئي فرمائل چه:

وَمَنْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا. دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي چې داثام نه مراد دګناه سزا ده اود ابو عبيده په قول داثام نه مراد ګناه ده اودمجاهد په قول داثام نه مراد په جهنم کي يوه کنده ده.

بغوي ليکلي دي چې عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما ته هم ددي قول نسبت شوي دي ، په حديث کي راغلي دي چې غي او اثام په جهنم کي دوه کوهيان دي په کوم کي چې ددوزخيانو وينه او زوه وي.

دابن جرير ، بيهقي اوطبراني بيان دي چې رسول پاك صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي که چري کوم کاڼړي چې وزن د لسو اوقيوو نه کم وي اودجهنم دکناري ور وغورځولي شي نوپه اوياکالو کي به غي اواثام ته ورسيږي ، دراوي بيان دي چې ما عرض وکړو چې غي او اثام څه شي دي نو وئي وئيل چې دجهنم په تل کي دوه نهرونه دي چې ددوزخيانو وينه او زوه پکي بهيږي.

وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا. بخاري او مسلم دابوهريره رضي الله عنه نه روايت بيان کړي دي چې په مشرکانو کي بعضي کسانو په کثرت سره قتال وکړو او ورسره يي دزنا دجرم ارتکاب هم وکړو اوبياد رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شول او عرض يي وکړو ته چې موږ ته کوم حکمونه کوي او کوم څيز ته مو رابلي هغه خو ښه دي مګر دا راته ووايه زموږ داګناهونه به څنګه ختم شي نو په دي باره کي مذکوره ايت نازل شو.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ وَاصِلٍ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ، قَالَ: وَهَكَذَا رَوَى شُعْبَةُ، عَنْ وَاصِلٍ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَمْرَو بْنَ شُرَحْبِيلَ. (1)

ترجمه ابووائل پخپل سند دعبدالله بن مسعود په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي

امام ترمذي رحمه الله وايي دارنګي دا حديث شعبه دواثل نه او هغه دابووائل نه او هغه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه نقل كړي دي او دوئ پخپل سند كي دعمرو بن شرحبيل ذكر نه دي كړي

****

٢٧_باب وَمِنْ سُورَةِ الشُّعَرَاءِ

دسورة الشعراء دبعضي ايتونو تفسير

٣١٨٤_حَدَّثَنَا أَبُو الأَشْعَثِ أَحْمَدُ بْنُ الْمِقْدَامِ الْعِجْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الطُّفَاوِيُّ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ: وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الأَقْرَبِينَ (الشعراء :٢١٤، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا صَفِيَّةُ بِنْتَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، يَا فَاطِمَةُ بِنْتَ مُحَمَّدٍ، يَا بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، إِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا، سَلُونِي مِنْ مَالِي مَا شِئْتُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهَكَذَا رَوَى وَكِيعٌ وَغَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، نَحْوَ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الطُّفَاوِيِّ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ عَائِشَةَ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَلِيٍّ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. (2)

ترجمه دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي كله ايت كريمه 'وانذر عشيرتك الاقربين'' نازل شو نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي صفيه بنت عبدالمطلب، اي فاطمه بنت محمد، اي بني عبدالمطلب واورئ زه دالله تعالي سره په متعلقه

---

[1] _ انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ٩٢١١)

[2] انظر حديث رقم ٢٢١٠

معاملاتو كي ستاسو هيڅ حمايت او سفارش نشم كولي. مګر دومره خبره دده كه په دنيا كي څوك زما د مال نه څه حصه غواړي نو غوښتلي يې شي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي دارنګي وكيع او نورو راويانو دهشام بن عروه نه او هغه دخپل پلار نه او هغه دعائشه رضي الله عنها نه دمحمد بن عبدالرحمن الطفاوي دحديث پشان حديث نقل كړي دي او بعضي راويانو داحديث دهشام بن عروه نه او هغه دخپل پلار نه او هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مرسل نقل كړي دي او پخپل سند كي يې دعائشه ذكر نه دي كړي، او په دي باب كي دعلي او ابن عباس رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي

****

٣١٨٥ـحَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا زَكَرِيَّا بْنُ عَدِيٍّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو الرَّقِّيُّ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الأَقْرَبِينَ (الشعراء :٢١٤) جَمَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُرَيْشًا فَاجْتَمَعُوا فَخَصَّ وَعَمَّ. فَقَالَ: "يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ، أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، فَإِنِّي لاَ أَمْلِكُ لَكُمْ مِنَ اللَّهِ ضَرًّا وَلاَ نَفْعًا، يَا مَعْشَرَ بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، فَإِنِّي لاَ أَمْلِكُ لَكُمْ مِنَ اللَّهِ ضَرًّا وَلاَ نَفْعًا، يَا مَعْشَرَ بَنِي قُصَيٍّ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، فَإِنِّي لاَ أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلاَ نَفْعًا، يَا مَعْشَرَ بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ، فَإِنِّي لاَ أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلاَ نَفْعًا، يَا فَاطِمَةُ بِنْتَ مُحَمَّدٍ أَنْقِذِي نَفْسَكِ مِنَ النَّارِ فَإِنِّي لاَ أَمْلِكُ لَكِ ضَرًّا وَلاَ نَفْعًا إِنَّ لَكِ رَحِمًا سَأَبُلُّهَا بِبَلاَلِهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ يُعْرَفُ مِنْ حَدِيثِ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ. حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا شُعَيْبُ بْنُ صَفْوَانَ، عَنْ عبدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ، بِمَعْنَاهُ.[1]

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه روايت كوي چي كله دا ايت "وانذر عشيرتك الاقربين" نازل

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الوصايا ١١ (٢٧٥٣) والمناقب ١٣ (٣٥٢٧)، وتفسير سورة الشعراء ٢ (٤٧٧١). صحيح مسلم/الإيمان ٨٩ (٢٠٤)، سنن النسائي/الوصايا ٦ (٣٦٧٦ ـ ٣٦٧٧) (تحفة الأشراف : ١٣٦٢٣)، و مسند احمد (٢/٣٣٣، ٣٦٠، ٥١٩)، سنن الدارمي/الرقاق ٢٣ (٢٧٧٤)

نژدي رشته دار اويروه، نازل شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم قريش راوبلل پس عوام اوخواص ټول جمع شول نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اى د قريشو ډلي خپل خانونه دجهنم داور نه بچ کړئ، ځکه چې زه دالله تعالي دطرفه ستاسو دپاره د نفعي رسولو او ضرر نه دبچ کولو مالك نه يم ، اي د قصئ قبيلي خلقو خپل خانونه دجهنم داور نه بچ کړئ. ځکه چې زه :الله تعالي دطرفه ستاسو دپاره د نفعي رسولو او ضرر نه دبچ کولو مالك نه يم د بني عبد المطلب خاندان خلقو خپل خانونه دجهنم داور نه بچ کړئ، ځکه چې زه دالله تعالي دطرفه ستاسو دپاره د نفعي رسولو او ضرر نه دبچ کولو مالك نه يم. اي فاطمه بنت محمد(صلي الله عليه وسلم) خپل خانون دجهنم داور نه بچ کړئ، ځکه چې زه دالله تعالي دطرفه ستا دپاره د نفعي رسولو او ضرر نه دبچ کولو مالك نه يم. تاسره زما د ويني رشته ده پس زه به احساس تيز او تازه ساتم.(يعني تاسره زما درشتي تعلق دئ چي فائده به يي درته ضرور در رسوم)

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي او دموسي بن طلحه په حديث ياديږي

لغات : سأبلها بله د نصر بلة وبلا معني يي په اوبو لمدول دي

حديث شريف کي لفظ ببلالها کې باء ثانيه زور او زير دواړو طريقو سره راغلى دى بلال په معني داوبو دى حديث شريف کې دقطع رحمئ حرارت او ګرمي دصله رهمئ په سبب مري او يخيږي

تشريح : فاني لا املك لكم من الله شيئا: يعني زه ستاسو دپاره دالله تعالي دطرفه دهيڅ شي اختيار نه لرم . محدثين وائي دا ارشاد نبوي ددي قراني ارشاد په وجه دى چې

لا املك لنفسي نفعا ولا ضرا الا ماشاء الله. قل فمن يملك لكم من الله شيئا ان ارادبكم ضرا او ارادبكم نفعا.

((أَنَّ لَكُمْ رَحِماً سَأَبُلُّهَا بِبِلَالِهَا)) يعني زما ستاسو سره رشته داري ده او په همدي وجه درسره صله رحمي کوم، د ببلالها نه مراد د رشته دارئ تعلق قائم ساتل دي چې په دنيا کې درشته دارو سره خه سلوك کول او ددوئ سره امداد کول شرعا مامور به دي او زه يي کوم، اوددنيا دنقصان نه مو هم بچ کوم ليکن داخرت دعذاب نه مو نشم بچ کولي ، بعضي علما وايي چې ببلالها دبلل جمع ده په معني دلوند والي دي چې اهل عرب يي داحسان او سلوك دپاره استعمالوي. ددي نه علماؤاستدلال کړي دي چې که رشته دار کافر هم وي نو صله رحميي ورسره کول پکار دي.

****

٣١٨٦ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، حَدَّثَنَا أَبُو زَيْدٍ، عَنْ عَوْفٍ، عَنْ قَسَامَةَ بْنِ زُهَيْرٍ، حَدَّثَنَا الأَشْعَرِيُّ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الأَقْرَبِينَ (الشعراء: ٢١٤ وَضَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُصْبُعَيْهِ فِي أُذُنَيْهِ فَرَفَعَ مِنْ صَوْتِهِ، فَقَالَ: "يَا بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ يَا صَبَاحَاهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ أَبِي مُوسَى، وَقَدْ رَوَاهُ بَعْضُهُمْ، عَنْ عَوْفٍ، عَنْ قَسَامَةَ بْنِ زُهَيْرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ أَبِي مُوسَى، وَهُوَ أَصَحُّ ذَاكَرْتُ بِهِ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ فَلَمْ يَعْرِفْهُ مِنْ حَدِيثِ أَبِي مُوسَى. [1]

ترجمه دابوموسي اشعري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې کله ايت کريمه "وانذر عشيرتك الاقربين" نازل شو نو نبي کريم صلي الله عليه وسلم خپلې گوتې په غوږونو کې داذان پشان ورکړې او په تيز اواز يې چغه اووهله اي بني عبد مناف "ياصباحاه" اي عبد مناف قبيلې والاخلقو راجمع شئ (او واورئ دجهنم داور نه دخپلو خانونو دبچ کولو کوشش اوکړئ).

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند غريب دي، بعضي راويانو داحديث دعوف نه او هغه دقسامه بن زهير په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه مرسل نقل کړي دي او هغوئ په دي کې دابوموسي واسطه نه ده ذکر کړې او همدا زيات صحيح سند دي ما ددي حديث باره کې دامام بخاري سره مذاکره اوکړه نو هغوئ دابوموسي اشعري په واسطه ددي حديث دمعرفت نه دخپل لاعلمئ اظهار اوکړو.

****

٢٨ـ باب وَمِنْ سُورَةِ النَّمْلِ

دسورة النمل دبعضي ايتونو تفسير

٣١٨٧ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أَوْسِ بْنِ خَالِدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "تَخْرُجُ الدَّابَّةُ مَعَهَا خَاتَمُ سُلَيْمَانَ وَعَصَا مُوسَى فَتَجْلُو وَجْهَ المُؤْمِنِ، وَتَخْتِمُ أَنْفَ الكَافِرِ بِالخَاتَمِ حَتَّى إِنَّ أَهْلَ الخُوَانِ لَيَجْتَمِعُونَ، فَيَقُولُ: هَاهَا يَا مُؤْمِنُ، وَيُقَالُ: هَاهَا يَا كَافِرُ، وَيَقُولُ هَذَا: يَا مُؤْمِنُ، وَيَقُولُ هَذَا: يَا كَافِرُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الحَدِيثُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الوَجْهِ فِي دَابَّةِ الأَرْضِ، وَفِي البَابِ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، وَحُذَيْفَةَ بْنِ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٠٢٦)

أَسِيدٍ. (¹)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي قيامت ته قريب تر به دزمكي نه يو ځناور راوځي او دهغه سره به دسليمان عليه السلام ګوتمه مهر، او دموسي عليه السلام همسا وي او په دي همسا به كرخه راكاږي او دمومن مخ به روښانه كړي او ددغه ګوتي په ذريعه به دكافر په پوزه مهر اولګوي تردي پورې چې دسترخوان والاكله په دسترخوان راجمع كيږي نو دوئ به وائي اي مومن او هغوئ به وائي اي كافر

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن غريب دي. د دابة الارض په سلسله كي ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم داحديث دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چې دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه يي نقل كوي. او په دي باب كي دابوامامه. حذيفه بن اسيد رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي

****

٢٩_باب وَمِنْ سُورَةِ الْقَصَصِ

دسورة قصص دبعضي ايتونو تفسير

وجه د تسميه او پس منظر د نزول د سورت

نوم ددي سورت د ايت ٢٥ د دي جملي وَقَصَّ عَلَيْهِ الْقَصَصَ نه ماخوذ دي يعنى هغه سورة چي په هغي كي د القصص لفظ راغلي دي د لغت په اعتبار سره د قصص معنى ترتيب وار واقعات بيانول دي نو په دي لحاظ دا لفظ د معنى په اعتبار سره هم د سورة عنوان كيدي شي خكه چي په دي كي د موسى عليه السلام قصه په تفصيل سره بيان شويده.

٣١٨٨_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ. عَنْ يَزِيدَ بْنِ كَيْسَانَ. حَدَّثَنِي أَبُو حَازِمٍ الأَشْجَعِيُّ هُوَ كُوفِيٌّ اسْمُهُ سَلْمَانُ مَوْلَى عَزَّةَ الأَشْجَعِيَّةِ. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَمِّهِ: " قُلْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ أَشْهَدُ لَكَ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ. قَالَ: لَوْلَا أَنْ تُعَيِّرَنِي بِهَا قُرَيْشٌ إِنَّمَا يَحْمِلُهُ عَلَيْهِ الْجَزَعُ لأَقْرَرْتُ بِهَا عَيْنَكَ. فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ إِنَّكَ لا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ (القصص : ٥٦ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ يَزِيدَ بْنِ كَيْسَانَ. (²)

---

[1] _ سنن ابن ماجه/الفتن ٣١ (٤٠٦٦) (تحفة الأشراف : ١٢٢٠٢) . و مسند احمد (٢/٢٩٥، ٤٩١)

[2] _ سنن ابن ماجه/الفتن ٣١ (٤٠٦٦) (تحفة الأشراف : ١٢٢٠٢) . و مسند احمد (٢/٢٩٥، ٤٩١)

ترجمه . دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم خپل تره ابوطالب ته اوفرمائيل ته لااله الاالله اووايه زه به دقيامت په ورځ ستا په ايمان راوړلو گواهي ورکړم ابوطالب اووئيل کچري دا ويره نه وي چې قريش به ماته پيغور راکړي چې دمرگ نه دويري په وجه دي ايمان قبول کړو نو ما به ضرور ستا په وړاندي ددي کلمي اقرار کړي وي تردي چې په دي باره کي الله تعالي دا ايت کريمه " إِنَّكَ لا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ " نازل کړو.
امام ترمذي رحمه الله وايي دا حديث حسن غريب دي او مونږ دا صرف ديزيد بن کيسان په سند پيژنو

****

۳۰_باب وَمِنْ سُورَةِ الْعَنْكَبُوتِ

دسورة عنکبوت دبعضي ايتونو تفسير

وجه د تسميه او شان نزول د سورت

دَ ايت ۴۱ دَ جملي. ان اوهن البيوت لبيت العنكبوة، نه اخستلي شوي دي يعنى دا هغه سورت دي چې په هغي کي دَ عنکبوت لفظ راغلي دي
دَ ايت ۵۲ نه تر ايت ۷۰ پوري دَ دي نه معلوميږي چې دا سورة دَ حبشي دَ هجرت نه لږ وړاندي نازل شوي دي او دَ سورة دَ مضمون نه هم دَ دي تائيد کيږي بعض مفسرينو صرف په دي دليل باندي قياس کړي دي چې دَ دي سورة رومبنى لس ايتونه مدنى دى او باقى سورة مکى دي خکه چې په دي ايتونو کي دَ منافقينو ذکر راغلي دي او دَ نفاق ظهور په مدينه کي شوي دي حالانکه دلته چې دَ کومو خلقو د نفاق ذکر شوي دي نو دا هغه خلق دي چې هغوئ دَ کفارو دَ ظلم او ستم دَ وجي نه منافقانه طرز عمل اختيار کړي وُو. او ظاهره ده چې داسي منافقت په مکه کي کيدلي شو او دا رنگ بعض مفسرينو وئيلي دى. چې په دي سورة کي مومنانو ته دَ هجرت تلقين شويدي نو دَ دي وجي نه هغوئ وائي چې دا سورة دَ مکى دور په آخر کي نازل شوي دي حالانکه دَ مديني دَ هجرت نه وړاندي مومنانو حبشي ته هم هجرت کړي وُو دَ دي وجي نه دَ سورة په مضمون چې غور اوکړي شى نو معلوميږي چې دا سورة دَ مکى دور په اخر کي نهٔ بلکه دَ هغه حالاتو نشاند هى کوى په کومو حالاتو کي چې هجرت حبشي ته شوي وُو.

۳۱۸۹_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، قَالَا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ.

عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، قَالَ: سَمِعْتُ مُصْعَبَ بْنَ سَعْدٍ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِيهِ سَعْدٍ، قَالَ: أُنْزِلَتْ فِيَّ أَرْبَعُ آيَاتٍ، فَذَكَرَ قِصَّةً، فَقَالَتْ أُمُّ سَعْدٍ: أَلَيْسَ قَدْ أَمَرَ اللَّهُ بِالْبِرِّ؟ وَاللَّهِ لَا أَطْعَمُ طَعَامًا وَلَا أَشْرَبُ شَرَابًا حَتَّى أَمُوتَ أَوْ تَكْفُرَ، قَالَ: فَكَانُوا إِذَا أَرَادُوا أَنْ يُطْعِمُوهَا شَجَرُوا فَاهَا، فَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ: وَوَصَّيْنَا الإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا وَإِنْ جَاهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِي (العنكبوت :٨ الآيَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه دسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې زما باره کي څلور ايتونه نازل شوي دي او بيا هغه يوه واقعه بيان کړه، ام سعد رضي الله عنها اوونيل ايا الله تعالي داحـــان کولو حکم نه دي کړي؟ په الله قسم نه به زه څه اوخورم او نه به زه څه اوڅکم تردي چې مړه به شم او يا خو به ته دخپل ايمان نه واپس ګرځي، سعد رضي الله عنه وائي کله چې به خلقو ديته دخوراك ورکولو اراده ورکوله نو يو لرګي به يي ددي په مرئ کي ورکوز کړو او ددي خوله به يي کولاو کړه او په همدي موقعه دا ايت کريمه " وَوَصَّيْنَا الإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا وَإِنْ جَاهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِي " نازل شو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣١٩٠_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ بَكْرٍ السَّهْمِيُّ، عَنْ حَاتِمِ بْنِ أَبِي صَغِيرَةَ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أُمِّ هَانِئٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: " وَتَأْتُونَ فِي نَادِيكُمُ الْمُنْكَرَ (العنكبوت :٢٩) قَالَ: كَانُوا يَخْذِفُونَ أَهْلَ الأَرْضِ وَيَسْخَرُونَ مِنْهُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ حَاتِمِ بْنِ أَبِي صَغِيرَةَ عَنْ سِمَاكٍ. حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمُ بْنُ أَخْضَرَ، عَنْ حَاتِمِ بْنِ أَبِي صَغِيرَةَ بِهَذَا الإِسْنَادِ، نَحْوَهُ. ([2])

ترجمه دام هاني رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم دا ايت کريمه "وتاتون في ناديكم المنكر" اوراتلل کوئ په مجالـــو خپلوکي بدوکارونوته. باره کي اوفرمائيل هغوئ به پخپلو محفلونو کي په خلقو باندي کاڼړي ورغورځول (بدتميزي به يې

[1] _ انظر حديث رقم ٣٠٤٩

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٨٠٩٩)

کوله، او مسخري به یې ورپورې کولې.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن دی او دا مونږ صرف دحاتم بن ابي صغيره په روايت پیژنو چې دسماك نه یې نقل کوي، او په دې سند سليم بن اخضر دحاتم بن ابي صغيره نه په مذکوره سند ددې روايت پشان روايت نقل کړی دی.
تشریح : ... بغوي دابوصالح په سند سره دام هاني رضي الله عنها نه روايت بيان کړی دی چه د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه یې دايت کريمه " وَتَأْتُونَ فِي نَادِيكُمُ الْمُنكَرَ" متعلق تپوس اوکړو او عرض یې اوکړو هغه بده خبره کومه وه کومه چه به قوم لوط پخپلو مجلسونو کې کوله نو ويې فرمائيل دوئ به دلارو په سرونو کيناستل او په لاره تلونکو راتلونکو مسافرو پورې به یې مسخري کولې (رواه احمد والترمذي).
بغوي ليکلي دي په يو روايت کې راغلي دي چه قوم لوط والا به پخپلو مجلسونو کې ناست وو او په دوئ کې به دهر کس سره په يو لوښي کې کاڼي وو چه کوم مسافر به یې په خوا کې تيريدو نو دوئ به ونيل دخپل ښکار درواخلئ او په دې کاڼو به یې دمسافر نشان ديښې کوله دچا په کاڼي چه به کوم مسافر اولګيدو هم هغه به دده مستحق ګڼړلې شو او دهغه ټول سامان به یې لوټ کړو او بد فعلي به یې ورسره اوکړه ، دري درهمه به یې ورته ورکړل اوبې عزتي به یې وکړله او ددوئ قاضي دپنځه درهمو ورکولو فيصله کوله.
دقاسم بن محمد قول دی چه په مجلسونو کې به یې علانيه تيزونه اچول اوهوا به یې خارجوله اوپه يوبل به یې لاړې توکلې ، دمکحول قول دی چه قوم لوط په بدوحرکتونو کې داهم وو چه جاولې به یې جولې ، په نکريزو به یې لاسونه سره کول شپيلې به یې وهل اوپه ګيتو به یې ويشتل کول اوبد فعلياني به یې کولې (شرح السنة، معالم)

****

٣١ــ بَاب وَمِنْ سُورَةِ الرُّومِ

دسورة الروم دبعضي ايتولو تفسير

وجه دتسميه اوسبب نزول دسورت

د رومبی ايت د جملې :غُلِبَتِ الرُّوْمُ نه ماخوذ دی
په شروع کې چې د کومې تاريخی واقعې ذکر شوي دی نو د دينه معلوميږی. چې په کومه زمانه کې د عرب سره متصل اردن. شام او فلسطين د رومی حکومت په قبضه کې ؤو او په دې علاقو کې په روميانو باندې د ايرانيانو غلبه په ٦١٥ سنه، کې مکمل شويوي وه. نو دا سورت د حبشي د

هجرت په کال نازل شوي دي. او دا هغه کال ؤو چي مومنانو حبشي ته هجرت کړیؤو
کومه پیشن گونی چي د دي سورة په شروع کي شویده هغه د قرآن مجید او د محمد صلی الله علیه وسلم د نبوت د صداقت دلیل دي. په دي سورة باندي د پوهي حاصلولو دپاره دا ضروری ده. چي په هغه تاریخی واقعاتو نظر واچولي شی. چي هغه د دي ایتونو سره تعلق لری
د نبی صلی الله علیه وسلم د نبوت نه اتۀ کاله وړاندي د قیصر روم ماریس خلاف بغاوت اوشو او یو سړی فوکاس د روم سلطنت قبضه کړو دۀ د ماریس د سترګو د وړاندي د ماریس پنخه ځامن قتل کړل او بیا ئي ماریس قتل کړو. او د دي ټولو سرونه ئي په قسطنطنیه کي زوړند کړل. او د دي نه څۀ ورځي پس ئي د دۀ ښځه او دري لونړه هم اووژلي د دي واقعه په وجه د ایران بادشاه خسرو پرویز ته په روم باندي د حملي کولو خه موقع په لاس ورغله او قیصر ماریس په دۀ باندي ډیر احسانات کړي ؤو. او د دۀ په وجه پرویز ته د ایران حکومت حاصل شوي ؤو. پرویز به ماریس ته خپل پلار وئیلو. نو د ایران بادشاه پرویز اعلان اوکړو چي خه به د دي ظلم بدله اخلم. په ۶۰۳ ھ کي دۀ د روم خلاف د جنګ اغاز اوکړو او آخر ئي رومیانو ته شکست ورکړو. د افریقي ګورنر خپل ځوئ قسطنطیه ته رااولیږلو هغه فوکاس مغروله کړو او هر قل د روم بادشاه شو. او دۀ د فوکاس سره هغه شان معامله اوکړه کومه چي دۀ د ماریس سره کړي وه. او دا واقعه ۶۱۰ ھ کي شوي وه او دا هغه کال دي چي په دي کي نبی صلی الله علیه وسلم ته الله تعالی نبوت ورکړو. لیکن د ایران پرویز خپل جنګ جاری اوساتلو. او دي جنګ ته ئي د مجوسیت او مسیحیت مذهبی رنګ ورکړو. د عیسایانو کومو فرقو ته چي رومی حکومت ملحدین وئیلي ؤو او ظلمونه ئي په هغوئ کول (یعنی نسطوری او یعقوبی فرقي) نو هغه هم د ایران د مجوسیانو ملګری شول. او یهودیانو هم د مجوسیانو سره ملګرتیا اوکړه. په خپله د خسرو پرویز په فوج کي یهودیان شپږیش (۲۶۰۰۰) زره ؤو. نو په دي وجه هر قل د دي مقابله اونۀ کړي شوه.
او ایرانیانو په ړومبنی ځل انطاکیه قبضه کړه. بیا ئي په ۶۱۲ ھ کي دمشق فتح کړو او په ۶۱۴ ھ کي بیت المقدس باندي قبضه اوکړه. او ګرجي وغیره ئي وراني کړي او په رومیانو باندي ئي ظلمونه اوکړل. او لس کم یو لاکھ عیسایان ئي قتل کړل د دي فتح نه پس په یو کال کي دننه ایرانی فوجونو په أردن فلسطین او جزیره نماني سیا قبضه اوکړه او د مصر حدود ته اورسیدل دا هغه زمانه وه. چي په مکه معظمه کي د ایرانیانو د جنګ نه ډیر لوي تاریخی جنګ روان ؤو. دلته د توحید د علمبردار سیدنا محمد صلی الله علیه وسلم په قیادت کي او د شرك د پیروکارو سرداران قریش په قیادت کي د یو بل سره په جنګ کي اخته ؤو. او نوبت دیته رااورسیدلو چي په ۶۱۵ ھ کي د مومنانو ډیر تعداد خپل کورونه او وطن پریخودلو او په حبشه کي په عیسائی سلطنت کي (چي هغه د رومیانو خلیف ؤو) پناه واخستله. په دي زمانه

کي د ایران د غلبي غوغا وه. په مکه کي مشرکانو د ایرانیانو په کامیابي او د رومیانو په شکست باندي خوشحالي کولي او مومنانو ته به ئي وئیل چي د ایران مجوسیان کامیابیږی او د وحی او رسالت منونکی شکست مومی نو مونږ د عرب بت پرست به ستاسو دین هم ختم کړو او تاسو به هم ختم کړو نو په دي حالاتو کي قرآن مجید دا سورة نازل شو

٣١٩١_حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَالِدٍ ابْنُ عَثْمَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْجُمَحِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ الزُّهْرِيُّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأَبِي بَكْرٍ فِي مُنَاحَبَةِ: "الم . غُلِبَتِ الرُّومُ (الروم :١-٢) ، أَلَا احْتَطْتَ يَا أَبَا بَكْرٍ فَإِنَّ الْبِضْعَ مَا بَيْنَ الثَّلَاثِ إِلَى التِّسْعِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، مِنْ حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. [1]

ترجمه دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ابوبکر رضي الله عنه ته دقریشو سره دشرط لګولو په باره کي اووئیل اي ابوبکر تا په شرط لګولو کي د "الم غلبت الروم" احتیاط نه ولي کار نه اخستلو خکه چي بضع د دریو نه تر نهو پوري استعمالیږي.

امام ترمذي رحمه الله وايي داحدیث په دي سند چي زهري دعبیدالله په واسطه دابن عباس نه نقل کوي حسن غریب دي

****

٣١٩٢_حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ سُلَيْمَانَ الْأَعْمَشِ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ بَدْرٍ ظَهَرَتْ الروم عَلَى فَارِسَ فَأَعْجَبَ ذَلِكَ الْمُؤْمِنِينَ، فَنَزَلَتْ الم غُلِبَتِ الرُّومُ إِلَى قَوْلِهِ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ بِنَصْرِ اللَّهِ (الروم :١-٥. قَالَ: فَفَرِحَ الْمُؤْمِنُونَ بِظُهُورِ الروم عَلَى فَارِسَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، كَذَا قَرَأَ نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ: ، غَلَبَتِ الرُّومُ ،. [2]

ترجمه : دابوسعید خدري رضي الله عنه بیان دي کله چي په غزوه بدر کي رومیان په اهل فارس غالب شول نو مومنان په دي باندي حوشحاله شول تردي چي په دي باره کي "الم غلبت الروم" نه تر "یفرح المؤمنون بنصرالله" پوري نازل شو راوي وائي چي درومیانو په فارس غلبه

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٨٥٦)

[2] ـ انظر حديث رقم ٢٩٣٥

كيدو باندي مسلمانان بي حده خوشحاله شول.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي دا رنګي نضر بن علي غَلَبت
الروم دغين او لام په فتح سره لوستلي دي.
****

٣١٨٣ـحَدَّثَنَاالحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَامُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْأَبِي إِسْحَاقَ الْفَزَارِيِّ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي عَمْرَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، فِي قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: الم ، غُلِبَتِ الرُّومُ ، فِي أَدْنَى الأَرْضِ (الروم :١-٢، قَالَ: غُلِبَتْ وَغَلَبَتْ كَانَ الْمُشْرِكُونَ يُحِبُّونَ أَنْ يَظْهَرَ أَهْلُ فَارِسَ عَلَى الروم لِأَنَّهُمْ وَإِيَّاهُمْ أَهْلُ أَوْثَانٍ، وَكَانَ الْمُسْلِمُونَ يُحِبُّونَ أَنْ يَظْهَرَ الروم عَلَى فَارِسَ لِأَنَّهُمْ أَهْلُ كِتَابٍ، فَذَكَرُوهُ لِأَبِي بَكْرٍ، فَذَكَرَهُ أَبُو بَكْرٍ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " أَمَا إِنَّهُمْ سَيَغْلِبُونَ "، فَذَكَرَهُ أَبُو بَكْرٍ لَهُمْ، فَقَالُوا: اجْعَلْ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ أَجَلًا فَإِنْ ظَهَرْنَا كَانَ لَنَا كَذَا وَكَذَا، وَإِنْ ظَهَرْتُمْ كَانَ لَكُمْ كَذَا وَكَذَا، فَجَعَلَ أَجَلًا خَمْسَ سِنِينَ فَلَمْ يَظْهَرُوا، فَذَكَرُوا ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: " أَلَا جَعَلْتَهُ إِلَى دُونَ "، قَالَ: أُرَاهُ الْعَشْرِ، قَالَ أَبُو سَعِيدٍ: وَالبِضْعُ مَا دُونَ الْعَشْرِ، قَالَ: ثُمَّ ظَهَرَتِ الروم بَعْدُ، قَالَ: فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى: الم غُلِبَتِ الرُّومُ إِلَى قَوْلِهِ وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ بِنَصْرِ اللهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ (الروم :١ ـ ٥، قَالَ سُفْيَانُ: سَمِعْتُ أَنَّهُمْ ظَهَرُوا عَلَيْهِمْ يَوْمَ بَدْرٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي عَمْرَةَ. [1]

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه دايت كريمه "الم غلبت الروم في ادني الارض" بارد كي مروي دي فرمائيل يي چې غَلبتْ او غُلِبَتْ دواړه لوستلي كيږي، دكفار او مشركينوداخواهش وو چې اهل فارس په روميانو غالب شي څكه چې كفار او مشركين او دوئ ټول په بت پرستئ كي شريك وو مګر مسلمانانو دا غوښتل چې روميان په اهل فارس غالب شي څكه چې روميان اهل كتاب وو او هغوئ ددي ذكر ابوبكر رضي الله عنه ته اوكړو او ابوبكر ددي ذكر رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اوكړو رسول الله اوفرمائيل روميان به دمغلوب كيدو نه پس غالب كيږي ابوبكر رضي الله عنه ورغلو او دوئ ته يي دا خبره اوكړه هغوئ اووئيل كه خبره همداسي وي نو زمونږ او ستاسو مينځ كي يوه موده مقرر كړئ كچري مونږ غالب شو نو مونږ به تاسو ته دومره دومره تاوان دركوو او كچري تاسو غالب شوئ نو مونږ

[1] _

به درته دومره دومره تاوان درکوو تردي چې هغوئ پنځه کاله موده مقررکړه ليکن روميان په دي موده کي غالب نشول او ابوبکر داخبره هم رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اوکړه رسول الله ورته اووئيل تاسو ددي مودي نه لږه زياته موده ولي نه مقرروله؟ راوي وائي زماخيال دي چې درسول الله مراد دمودي دزياتوالي نه لس کاله نيته مقررول وو، ابوسعيد وائي چې بضع دلسو نه کم ته ونيلي شي او بيا ددي مودي نه پس روميان غالب شول، ابن عباس رضي الله عنهما وائي دالله تعالي دقول "الم غلبت الروم" نه تر "ويومئذ يفرح المؤمنون بصرالله ينصر من يشاء" پوري ايتونو نه همدا معلوميږي سفيان ثوري وائي ما اوريدلي دي چې روميان په دوئ باندي په هغه ورځ غالب شول په کومه ورځ چې غزوه بدر شوي وه.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي او مونږ يي صرف دسفيان ثوري په هغه روايت پيژنو کوم چې هغه دحبيب بن ابوعمرو په واسطه بيان کړي دي.

تخريج: تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٣٨٩) . و مسند احمد (٢٧٦/١، ٣٠٣)

****

٣١٩٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ أَبِي أُوَيْسٍ، حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ نِيَارِ بْنِ مُكْرَمٍ الأَسْلَمِيِّ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ الم ١ غُلِبَتِ الرُّومُ ٢ فِي أَدْنَى الأَرْضِ وَهُمْ مِنْ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ ٣ فِي بِضْعِ سِنِينَ (الروم :١ـ ٤ فَكَانَتْ فَارِسُ يَوْمَ نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَة قَاهِرِينَ لِلرُّومِ، وَكَانَ الْمُسْلِمُونَ يُحِبُّونَ ظُهُورَ الروم عَلَيْهِمْ لِأَنَّهُمْ وَإِيَّاهُمْ أَهْلُ كِتَابٍ، وَفِي ذَلِكَ قَوْلُ اللَّهِ تَعَالَى: وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ ٤ بِنَصْرِ اللَّهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ٥ (الروم :٥٤ وَكَانَتْ قُرَيْشٌ تُحِبُّ ظُهُورَ فَارِسَ، لِأَنَّهُمْ وَإِيَّاهُمْ لَيْسُوا بِأَهْلِ كِتَابٍ وَلَا إِيمَانٍ بِبَعْثٍ، فَلَمَّا أَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى هَذِهِ الآيَة خَرَجَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَصِيحُ فِي نَوَاحِي مَكَّةَ: الم ١ غُلِبَتِ الرُّومُ ٢ فِي أَدْنَى الأَرْضِ وَهُمْ مِنْ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ ٣ فِي بِضْعِ سِنِينَ (الروم :١ـ ٤ قَالَ نَاسٌ مِنْ قُرَيْشٍ لِأَبِي بَكْرٍ: فَذَلِكَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ زَعَمَ صَاحِبُكُمْ أَنَّ الروم سَتَغْلِبُ فَارِسًا فِي بِضْعِ سِنِينَ، أَفَلَا نُرَاهِنُكَ عَلَى ذَلِكَ. قَالَ: بَلَى، وَذَلِكَ قَبْلَ تَحْرِيمِ الرِّهَانِ. فَارْتَهَنَ أَبُو بَكْرٍ وَالْمُشْرِكُونَ وَتَوَاضَعُوا الرِّهَانَ، وَقَالُوا لِأَبِي بَكْرٍ: كَمْ تَجْعَلُ الْبِضْعُ ثَلَاثُ سِنِينَ إِلَى تِسْعِ سِنِينَ فَسَمِّ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ وَسَطًا تَنْتَهِي إِلَيْهِ، قَالَ: فَسَمَّوْا بَيْنَهُمْ سِتَّ سِنِينَ، قَالَ: فَمَضَتِ السِّتُّ سِنِينَ قَبْلَ أَنْ يَظْهَرُوا، فَأَخَذَ الْمُشْرِكُونَ رَهْنَ أَبِي بَكْرٍ، فَلَمَّا دَخَلَتِ السَّنَةُ السَّابِعَةُ ظَهَرَتِ الروم عَلَى فَارِسَ فَعَابَ الْمُسْلِمُونَ عَلَى أَبِي بَكْرٍ تَسْمِيَةَ سِتِّ سِنِينَ، لِأَنَّ اللَّهَ تَعَالَى، قَالَ: فِي بِضْعِ سِنِينَ (الروم

:٤ وَأَسْلَمَ عِنْدَ ذَلِكَ نَاسٌ كَثِيرٌ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ نِيَارِ بْنِ مُكْرَمٍ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي الزِّنَادِ. [1]

ترجمه دنيار بن مكرم اسلمي رضي الله عنه بيان دي فرماني كله چې ايت كريمه " غُلِبَتِ الرُّومُ ٢ فِي أَدْنَى الأَرْضِ وَهُمْ مِنْ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ ٣ فِي بِضْعِ سِنِينَ " نازل شو دغه وخت كي اهل فارس په روميانو قابض او غالب وو او مسلمانانو دا غوښتل چې روميان په دوئ باندي غالب شي خكه چې روميان او مسلمانان دواړه اهل كتاب دي او په همدي سلسله كي دا ايت " وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ ٤ بِنَصْرِ اللَّهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ " نازل شو قريشو دا غوښتل چې اهل فارس غالب شي خكه چې دوئ او اهل فارس دواړه نه اهل كتاب وو او نه يي په قيامت ايمان وو كله چې الله تعالي دا ايت نازل كړو ابوبكر رضي الله عنه دمكي په اطرافو كي داعلان كولو دپاره اووتلو او په چغو چغو يي په تيز اواز اعلان اوكړو " الم ١ غُلِبَتِ الرُّومُ ٢ فِي أَدْنَى الأَرْضِ وَهُمْ مِنْ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ ٣ فِي بِضْعِ سِنِينَ " يعني دوئ به دمغلوب كيدو نه پس په يو څو كلونو كي غالب كيږي نو يو څو قريشيانو ابوبكر رضي الله عنه ته اووئيل راځئ چې مونږ او تاسو په دي خبره شرط اوتړو لكه چې ستاسو دنبي دا خيال دي چې روميان به په فارسيانو په يو څو كلونو كي غالب كيږي. ايا داسي نشي كيدي چې مونږ په دي خبره شرط اوتړو هغوئ اووئيل ولي نه مونږ تيار يو نو ابوبكر رضي الله عنه دمشركينو سره شرط اولګولو او دشرط مال يي چاسره كيخودو مشركينو ابوبكر رضي الله عنه ته اووئيل تاسو بضع لره د دري كالو نه تر نهو كالو پوري په څو كلونو مشروط كوئ؟ زمونږ او ستاسو په مينځ كي يو موده متعين كړئ چې فيصله ورباندي اوشي راوي وائي چې هغوئ دشپږ كالو موده متعين كړه راوي وائي دروميانو په مشركانو دغالب كيدو نه مخكي شپږ كلونه تير شول مشركانو دابوبكر رضي الله عنه مال چې په طور دشرط يي جمع كړي وو واخستو مګر كله چې اوم كال شروع شو او روميان په فارسيانو غالب شول نو مسلمانانو په ابوبكر رضي الله عنه تنقيدونه كول شروع كړل چې دا دهغه غلطي وه چې دشپږ كالو موده يي مقرر كړي وه او حال دادي چې الله تعالي بضع سنين وئيلي دي او بضع د دري كلونو نه تر نهو كلونو پوري وي راوي وائي چې ددي پيش ګويي دحق ثابت كيدو په وجه ډيرو زياتو خلقو ايمان راوړو

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث دنيار بن مكرم په روايت حسن صحيح غريب دي او مونږ

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٧١٩)

يې صرف دعبدالرحمن بن ابوالزناد په روايت پېژنو.

****

۳۲_باب وَمِنْ سُورَةِ لُقْمَانَ

دسورة لقمان دبعضي ايتونو تفسير

وجه دتسميه او شان نزول د سورت

په دې سورة کې هغه نصيحتونه نقل کړې شوي دی کوم چې لقمانِ حکيم خپل خوی ته کړې ؤو. د دې مناسبت د وجې نه د دې نوم سورة لقمان ايخودلې شوي دې.
چې دا په هغه زمانه کې نازل شوي دي کله چې د اسلام د دعوت د ختمولو دپاره کفارو جبر او ظلم کؤو ليکن دا مخالفت ډير زيات او سخت نهٔ ؤو. لکه په آيت. ۱۴. ۱۵ کې ديته اشاره ده.
چې په دې کې نوي نوي مومنانو ته ونيلې شوي دی چې بيشکه د مور پلار حقونه ډير زيات دی. ليکن که چرې هغوئ تاسو د اسلام نه منع کوی. نو د هغوي خبره مهٔ مني او دا خبره په سورة عنکبوت کې هم ده. نو معلومه شوه چې دا دواړه سورتونه په يو دور کې نازل شوي دی.
ليکن د انداز بيان نه معلوميږی چې سورة لقمان مخکې نازل شوي دي. ځکه چې د دې په پس منظر کې د سخت مخالفت څه نښه نيشته او په سورة عنکبوت کې په مومنانو باندې د سخت جبر او ظلم ذکر شته دي.

۳۱۹۵_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا بَكْرُ بْنُ مُضَرٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ زَحْرٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ الْقَاسِمِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ وَهُوَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " لَا تَبِيعُوا الْقَيْنَاتِ وَلَا تَشْتَرُوهُنَّ وَلَا تُعَلِّمُوهُنَّ وَلَا خَيْرَ فِي تِجَارَةٍ فِيهِنَّ وَثَمَنُهُنَّ حَرَامٌ، وَفِي مِثْلِ هَذَا أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ هَذِهِ الْآيَةَ: وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ (لقمان :٦) إِلَى آخِرِ الآية ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ إِنَّمَا يُرْوَى مِنْ حَدِيثِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، وَالْقَاسِمُ ثِقَةٌ، وَعَلِيُّ بْنُ يَزِيدَ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ، قَالَ: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيل، يَقُولُ: الْقَاسِمُ ثِقَةٌ، وَعَلِيُّ بْنُ يَزِيدَ يُضَعَّفُ.[1]

ترجمه : دابوامامه رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي سندرې ويونکې وينځې مه خرڅوئ او نه به يې اخلئ او مه ورته دسندرو وئيلو تعليم ورکوئ

[1] _ انظر حديث رقم ۱۲۸۲

ددوئ په تجارت کي هيڅ بهتري نشته او ددوئ قيمت حرام دي د همداسي مواقعو په مناسبت ايت کريمه "ومن الناس من يشتري لهوالحديث ليضل عن سبيل الله" او بعض دَ خلقو نه هغه دی چي اخلی بيفاندي خبري دَ دي دپاره چي واړوی خلق دَ الله تعالی دَ لاري نه بغير دَ دليل نه اوګرځوی هغي لره ټوقي. دغه کسان دوئ لره عذاب ذليل کونکي دي، نازل شوي دي. امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي داحديث دقاسم نه دابوامامه په واسطه مروي دي او قاسم ثقه دي او علي بن يزيد کي ضعف موندلي کيږي او دا تحقيق ما دامام بخاري نه اوريدلي دي.

تشريح: په دي ايت کي دَ قرآن کريم مخالفينو ته زورنه او تخويف دي. او دِ هغوئ دري حالات ني ذکر کړي دی. او دَ اشتراء نه مراد خوَخوَل او غوره کول دی او په دي کي اشاره ده چي په دي باندي خپل مال هم مه خرج کوی. او دَ حسن بصری نه روايت دي چي دَ دي نه مراد هر هغه څيز دي چي انسان دَ قرآن کريم نه او دَ الله تعالی دَ بندګی نه غافله کوی. دَ شرکياتو او بدعاتو قصي. او فسق وفجور. ګپ شپ او هغه دنيوی کارونه او عملونه چي انسان دَ قرآن کريم او دين نه غافله کوی. لِيُضِلَّ کي اشاره ده. چي دي په خپله ګمراه دي او نور خلق هم ګمراه کوی. بِغَيْرِ عِلْمٍ کي اشاره ده چي هر ګمراه جاهل دي. هُزُوًا چي سپك او بي مقصده ئي ګڼړی

****

٣٣ـ باب وَمِنْ سُورَةِ السَّجْدَةِ

دسورة الم السجده دبعضي ايتونو تفسير

٣١٩٦ـ حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللهِ الأُوَيْسِيُّ. عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بِلَالٍ. عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ. عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ. أَنَّ هَذِهِ الآيَةَ: تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ (السجدة :١٦) نَزَلَتْ فِي انْتِظَارِ الصَّلَاةِ الَّتِي تُدْعَى الْعَتَمَةَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ.[1]

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي دا ايت "تتجافي جنوبهم عن المضاجع" لري کيږي اړخونه ددوئ دبسترونه، دهغه مونځ کونکو په حق کي نازل شوي دي چاچي به دشپي اخري دريمه حصه کي تهجد کولو.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٦٦٢)

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي او مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي.

تشريح: دخوابګاهونو(يعني دارام كولو اوپريوتلودځايونو) نه دارخونو د جدا ساتلو مطلب دادي چه دوئ دبسترو نه جدا كيږي ، داسماء بنت يزيد رضي الله عنها نه روايت دي چه رسول لله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل : يجمع الله يوم القيامة الناس فى صعيد واحد يسمعهم الداعي وينفذهم البصر فيقوم مناد فينادى اين الذين كانوا يحمدون الله تعالى فى السراء والضراء فيقومون وهم قليل فيدخلون الجنة بغير حساب ثم يعود فينادى اين الذين كانت تتجافى جنوبهم عن المضاجع فيقومون وهم قليل فيدخلون الجنة بغير حساب ثم يقوم سائر الخلق فيحاسبون۔

ابن راهويه او ابويعلي هم دا روايت پخپلو مسندونو كي ددي هم معني بيان كړي دي ليكن ددي اضافي سره: ينادى اولا بصوت يسمع الخلائق سيعلم اهل الجمع من اهل الكرم.

ليكن حسن بصري او مجاهد او امام مالك او اوزاعي اود علماؤ ديوجماعت قول دي چه ددينه مراد هغه مجتهدين دي چه دصلاة الليل دپاره قيام كوي.

امام احمد ، ترمذی ، ابن ماجه ، ابن ابی شيبه او ابن راهويه پخپلو مسندونو كي او حاكم هم دمعاذ رضي الله عنه روايت نقل كړي دي دمعاذ بن جبل رضي الله عنه بيان دي چه :ما عرض اوكړو اي دالله تعالي رسوله كوم داسي عمل راته اوښايه چه جنت ته مي اورسوي او ددوزخ نه مي لري كړي نو راته يي اوفرمائيل ديو لوي كار په باره كي دي تپوس اوكړو ليكن چه چاته يي الله تعالي اسان كړي نو دهغه دپاره اسان هم دي، ته دالله تعالي عبادت كوه او په عبادت كي ورسره هيڅ يو شي مه شريكوه ، مونځ قائموه او زكواة ادا كوه او درمضان روژي نيسه ، دكعبي حج كوه، او په اخر كي يي اوفرمائيل ايا دكاميابئ دروازه درته اونه ښايم؟ ياد ساته روژي نيول دعذاب نه بچ كونكي دي او خيرات وركول دګناهونو اور لره داسي مړكونكي دي لكه چه اوبه اور لره مړكونكي دي او دشپي په مينځ كي مونځ كول هم دګناهونو اور لره مړ كوي او بيايي ايت كريمه "تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ. فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ" تلاوت كړو او بيايي اوفرمائيل اياتاته ددينې امورو سر او ستن اوددي كوهان او غونډئ اونه ښايم ، خبردار اسلام ددي سر دي او مونځ يي ستن ده او جهاد ددي غونډئ ده او بيايي اوفرمائيل تاسو ته يو داسي څيز اونه ښايم دكوم مدار چه په دي ټولو دي؟ ما عرض اوكړو ضرور يي راته اوښايه نو رسول الله خپله ژبه اونيوله او ويي فرمائيل دي لره نيولي ساته ما عرض اوكړو اي

دالله رسوله ايا په خبرو کولو به هم مونږ نيولي کيږو نو ويې فرمائيل اي معاذ مور دې درباندي بوره شه صرف دخولي نه دوتلو الفاظو نتيجي خلقو لره په دوزخ کې پرمخي غورځونکي دي «رواه احمد والترمذي في الجامع وابن ماجه في سننه»

د ابو مالك اشعري رضی الله عنه بيان دي چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلي دي ان فی الجنة غرفا يری ظاهرها من باطنها وباطنها من ظاهرها أعدها الله لمن الان الكلام واطعم الطعام وتابع الصيام وصلّی بالليل والناس نيام رواه البيهقي فی شعب الايمان

ترمذی هم دا حديث ددی روايت هم معنی نقل کړي دي.

د ابو هريره رضی الله عنه بيان دي چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلي دي:أفضل الصيام بعد رمضان شهر الله المحرم وأفضل الصلاة بعد الفريضة صلوة الليل رواه مسلم۔

بغوي هم د ابن مسعود رضی الله عنه نه روايت بيان کړي دي چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلي دي عجب ربنا عن رجلين رجل ثار عن وطائه ولحافه من بين حبه واهله الی صلوته فيقول الله لملائكته انظروا الی عبدی ثار عن فراشه ووطائه من بين حبه واهله رغبة فيما عندی وشفقة ممّا عندی ورجل غزا فی سبيل الله فانهزم مع أصحابه فعلم ما عليه فی انهزامه وماله فی الرجوع فرجع حتی أهريق دمه فيقول الله لملائكته انظروا الی عبدی رجع

د انس رضی الله عنه بيان دي چه ايت کريمه تَتَجافٰى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضاجِعِ ، دهغه کسانو په حق کې نازل شوی دی چه د ماښام دمونځ کولو نه پس دماخوستن دمونځ په انتظار کې وي.

بغوي دانس رضي الله عنه بيان نقل کړي دي فرمائيل يي چه دا ايت دانصارو په حق کې نازل شوي دي ، مونږ چه به دماښام مونځ وکړو نو کورونو ته به نه واپس کيدو تردي چه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره به مو دماخوستن مونځ هم ادا کړو.

دا هم د انس رضی اللہ عنه بيان دي چه ايت کريمه تَتَجافٰى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضاجِعِ. درسول الله دصحابه کرامو په حق کې نازل شوي دي چه دماښام مونځ به يي وکړو نو کورونو ته به نه واپس کيدل تردي چه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره به مو دماخوستن مونځ ادا کړو.

دا روايت ابن مردويه نقل کړي دي اوددي اصل په ابوداود کې دي ، ابن ابي حاتم هم دمحمد بن منکدر نه دا مضمون نقل کړي دي چه ددينه مراد صلاة الاوابين دي.

بزار په کمزوري سند سره دبلال رضي الله عنه بيان نقل کړي دي چه مونږ به په مجلس کې ناست وو اوبعضي صحابه کراموبه دماښام دماخوستن پوري مونځونه کول نو ددوی په حق کې دا ايت کريمه نازل شو:

بغوي ليكلي دي چه ابو الدرداء، ابوذر، او عبادة بن الصامت رضي الله عنهم به دماخوستن اودسحر مونځ درسول الله سره په جماعت ادا کول

مسلم او امام احمد دعثمان رضي الله عنه په حواله روايت نقل کړي دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چه دماخوستن مونځ په جماعت سره ادا کړي نوګويا کي ده ترنيمي شپې پوري قيام وکړو اوچاچه دسحر مونځ دجماعت سره ادا کړو نوګويا کي ټوله شپه قيام يي دمونځ دپاره وکړو.

بخاري اومسلم دابو هريره رضي الله عنه په حواله دا ارشاد نبوي نقل کړي دي چه رسول الله اوفرمائيل کچري خلقو ته داذان کولو اوپه اولني صف کي دودريدو فضيلت معلوم وي او دا اعمال ورته بغير دقرعه اندازئ نه ميسر نه وي نو دوئ به ددي دپاره ضرور قرعه اندازي کړي وه ، اوکچري دماسپخين دمونځ ثواب دوئ ته معلوم وي نو په منډو منډو به ورته ورغلي وو اوکچري دسحر اوماخوستن دباجماعته مونځ فضيلت ورته معلوم وي نو په کوناټو به وزته ورخويدلي وو(رواه البخاري ومسلم واحمد والنسائي).

****

٣١٩٧_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: أَعْدَدْتُ لِعِبَادِيَ الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ، وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ، وَتَصْدِيقُ ذَلِكَ فِي كِتَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ: فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (السجدة :١٧) ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چې الله تعالي فرماني ما دخپلو نيکانو بنديانو دپاره داسې نعمتونه تيار کړي دي چې نه دچا سترګو ليدلي دي نه دچا غوږونو اوريدلي دي او نه دچا په زړه کې تير شوي دي او ددي تصديق د الله تعالي په دي قول کې دی" فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ " يعني هيچاته نه دي معلوم هغه نعمتونه کوم چې دجنتيانو دسترګو يخولو دپاره پټ تيار شوي دي. امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

لغات : نفس: النفس مصدر دي روح يا ويني ته ويلي شي ، عظيم النفس لوي جسامت والا.

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /بدء الخلق ٨ (٣٢٤٤) . وتفسير سورة السجدة ١ (٤٧٧٩. ٤٧٨٠) . والتوحيد ٣٥ (٧٤٩٨). صحيح مسلم/الجنة١ (٢٨٢٤) (تحفة الأشراف : ١٣٦٤٥)

تشريح : كله چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم ارشاد الهي نقل كړي ديته حديث قدسي ونيلي شي نو پورتني حديث هم حديث قدسي دي.
"مالاعين رأت" يعني نه به كومي سترګي ليدلي وي مطلب دادی چې دجنت اعلي مظاهر او اوازونه او شكل او صورت او دهغه خاي نعمتونه به هيڅ سترګي ليدلي نه وي او نه به كومو غوږونو اوريدلي وي او نه به چا ددي تصور كړی وي.
قرة عين: قرة لفظ دقر نه جوړ شوی دی په معني دقرار دی يعني دا سترګي چې كله محبوب ځيز اويني نو قرار به ورته راشي او مطمئن به شي او بيايي بل ځيز ته توجه نه ورخي ددي برعكس كچري سترګي ناخوښه ځيز اويني نو په دي باندي نظر سترې كيږي بعضي علماء وائي قرة دقره نه ماخوذ دی په معني ديخوالي مطلب دادی چې كله سترګي خپل محبوب ځيز اويني نو په زړه كې يخوالی شان پيدا كيږي دجنت په نعمتونو كې به دا دواړه قسم صفات حاصليږي.

****

٣١٩٨_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مُطَرِّفِ بْنِ طَرِيفٍ، وَعَبْدِ الْمَلِكِ وَهُوَ ابْنُ أَبْجَرَ، سَمِعَا الشَّعْبِيَّ. يَقُولُ: سَمِعْتُ الْمُغِيرَةَ بْنَ شُعْبَةَ عَلَى الْمِنْبَرِ. يَرْفَعُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. يَقُولُ: "إِنَّ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام سَأَلَ رَبَّهُ. فَقَالَ: أَيْ رَبِّ. أَيُّ أَهْلِ الْجَنَّةِ أَدْنَى مَنْزِلَةً؟ قَالَ: رَجُلٌ يَأْتِي بَعْدَمَا يَدْخُلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ. فَيُقَالُ لَهُ: ادْخُلِ الْجَنَّةَ. فَيَقُولُ: كَيْفَ أَدْخُلُ وَقَدْ نَزَلُوا مَنَازِلَهُمْ وَأَخَذُوا أَخَذَاتِهِمْ؟ قَالَ: فَيُقَالُ لَهُ: أَتَرْضَى أَنْ يَكُونَ لَكَ مَا كَانَ لِمَلِكٍ مِنْ مُلُوكِ الدُّنْيَا؟ فَيَقُولُ: نَعَمْ. أَيْ رَبِّ قَدْ رَضِيتُ. فَيُقَالُ لَهُ: فَإِنَّ لَكَ هَذَا وَمِثْلَهُ وَمِثْلَهُ وَمِثْلَهُ. فَيَقُولُ: رَضِيتُ أَيْ رَبِّ. فَيُقَالُ لَهُ: فَإِنَّ لَكَ هَذَا وَعَشَرَةَ أَمْثَالِهِ. فَيَقُولُ: رَضِيتُ أَيْ رَبِّ. فَيُقَالُ لَهُ: فَإِنَّ لَكَ مَعَ هَذَا مَا اشْتَهَتْ نَفْسُكَ وَلَذَّتْ عَيْنُكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنِ الْمُغِيرَةِ وَلَمْ يَرْفَعْهُ، وَالْمَرْفُوعُ أَصَحُّ. (١)

ترجمه دشعبي بيان دي فرماني چې ما دمغيره بن شعبه رضي الله عنه نه په منبر باندي واوريدل چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم نه يې حديث بيانولو ونيل يې چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمانيل موسي عليه السلام دخپل رب نه سوال اوكړو او ونيل يې چې اي زما ربه په جنتونو كې كوم يو جنت دټولو نه كمي درجي والا دي؟ الله تعالي اوفرمائيل جنت ته

[1] _ صحيح مسلم/الإيمان ٨٣ (١٨٩) (تحفة الأشراف: ١١٥٠٢)

دجنتيانو د داخليدو نه پس به يو كس راشي هغه ته به اوونيلي شي ته هم جنت ته داخل شه هغه به عرض اوكړي زه څنګه جنت ته داخل شم او حال دادي چې خلق زما نه جنت ته په ننوتو كي مخكي شوي دي او پخپلو كورونو كي اباد شوي وي او خپل خپل څيزونه يي وصول كړي وي موسي عليه السلام اوفرمائيل هغه ته به اوونيلي شي ددنيا په بادشاهانو كي چې ديوبادشاه سره څومره څيزونه وي دومره به تاته دركړي شي نو ايا ته په دي باندي خوشحاله او راضي نه يي؟ هغه به اووائي هو اي زما ربه زه راضي يم هغه ته به اوونيلي شي ورځه ستادپاره دومره څيزونه مقرر شول او دومره دومره ورسره نور دي به اووائي اي زما ربه زه راضي يم ده ته به بيا اوونيلي شي ورځه ستادپاره داتول څيزونه مقرر شول او ددي لس دومره نور هم دي به اووائي اي زما ربه بس زه راضي شم ده ته به اوونيلي شي ددي دومره ورکړو باوجود ايا ستا زړه نور هم څه غواړي او كه په نور څه هم تاته لذت ملاوېږي هغه هم ستادپاره شول.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي او بعضي راويانو دا حديث دشعبي په واسطه دمغيره نه نقل كړي دي او مرفوع يي نه دي بيان كړي مګر مرفوع زيات صحيح دي.

****

٣٤ـ بَابٌ وَمِنْ سُورَةِ الأَحْزَابِ

د سورة احزاب دبعضي ايتونو تفسير

وجه دتسميه او شان نزول د سورت

د ايت نوم د د جملی يَحْسَبُوْنَ الْاَحْزَابَ لَمْ يَذْهَبُوْا ٢٠ نه ماخوذ دی.

په دی سورة کي دری اهم واقعات مذکور دی يو عزوهٔ احزاب چه په شوال سنه ۵ هجری کي شوی وه. دويم غزوه بني قريظه. چه په ذي القعده ۵هجری کي پيښه شوی وه دريم دَ زينب رضی الله عنها نکاح دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم سره. چه هغه هم په ذی القعده سنه ۵ هجري کي شوي وه. نو دَ دی تاريخی واقعاتو نه دَ دی سورة دَ نزول زمانه متعين کيږی.

واقعه داسي وه چي په شوال سنه ۳ هجري کي دَ جنګ احد نه دوه مياشتی پس دَ نجد قبيلی أسدْ په مدينه باندی دَ حملی کولو تياری اوکړو. نو نبی صلى الله عليه وسلم دَ دوی دَ حملی دَ بندولو دَپاره. ابو سلمه رضی الله عنه سره دَ لښکر نه اوليږلو. بيا په صفر ۴ هـ کي دَ عَضَل قبائيلو دَ نبی صلى الله عليه وسلم نه څهٔ صحابه کرام أغوختل چه دوی ته دين اوښائي. نبی صلى الله عليه وسلم دوی سره شپږ صحابه کرام اوليږل او په دوی باندی نی په لار کي دَ رجيع (جده) او رابغ په مينځ کي دَ قبيلهٔ هُذَيل کفار را اوخيژول. هغوی شپږ صحابه شهيدان کړل او

دوه (خُبیب بن عدی او زید بن الدّثنه) ئی په مکه کې خرڅ کړل. بیا دَ بنی عامر دَ یو سردار په درخواست باندی نبی صلی الله علیه وسلم یو تبلیغی وفد دَ څلویښتو کسانو یا دَ اویا کسانو نجد طرف ته روان کړو. مګر دَ دوئ سره هم غداری اوشوه. او دَ بنی سُلَیم قبایلو عُصَیّة او رِعْل او ذکوان دوئ دَ بئر معونه په مقام باندی شهیدان کړل. په دی دروان کې دَ مدینی یهودی قبیلی حوصله ا, موندله او مسلسل ئی لوظونه ماتول. تردی چه په ربیع الاول ۴ هـ کې دَ بنی غطفان دوو قبیلو بنو ثَعْلَبَه او بنو مُحَارِب په مدینه باندی دَ حملی کولو کوشش اوکړو. او نبی صلی الله علیه وسلم دا حمله منع کړه.

کوم قبائیل چه دَ مدینی نه جلاوطن کړی شول نو په هغوئ کې بنی النضیر راپاسیدل او نور قبایل غطفان. هذیل وغیره ئی راجمع کړل او قریش هم ورسره ملګری شول. او په شوال سنه ۵ هـ کې ئی په مدینه باندی دَ حملی تیاری اوکړه. نبی صلی الله علیه وسلم دَ دی حملی نه خبر ؤو. نو نبی صلی الله علیه وسلم په شپږ ورځو کې دَ حملی نه وړاندی یو خندق اوکنستلو او دَ دری زره فوج سره ئی بچاؤ اوکړو. دا دَ ژمی موسم ؤو. پنځویش ورځی فوجونه یو بل ته پراته ؤو. الله تعالی یوه تیزه سیلئ او طوفان راوستلو دَ کفارو خیمی وغیره ئی ګډی وډی کړلی. او په دی وجه ټول مخالفین او تختیدل نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: لَنْ تَغْزُوْكُمْ قُرَيْشٌ بَعْدَ عَامِكُمْ هٰذَا وَلٰكِنَّكُمْ تَغْزُوْنَهُمْ (دَ دینه پس به قریش تاسو سره جنګ نشی کولی. لیکن تاسو به ورسره جنګ کوئ).

نبی صلی الله علیه وسلم چه دَ خندق نه واپس کور ته راغلو. نو دَ ماسپخین په وخت کې جبرئیل علیه السلام حکم راوړو. چه وسله (اسلحه) مهٔ ږدی دَ بنی قریظه معامله باقی ده. نبی صلی الله علیه وسلم فوراً اعلان اوکړو. چه څوك په حکم منلو او طاعت باندی قائم وی نو هغوئ دی دَ مازیګر مونځ په بنی قریظه کې اوکړی. نبی صلی الله علیه وسلم یو لښکر اولیږلو او علی رضی الله عنه ئی دَ هغوئ سالار کړو. او دوئ ئی وړاندی اولیږل. او نبی صلی الله علیه وسلم پوره لښکر سره ورپسی لاړلو. دَ بنی قریظه یهودیانو خو اول بد رد وئیل. خو چه کله ئی نبی صلی الله علیه وسلم او دَ هغوئ لښکر اولیدلو. نو وارختا شول. نبی صلی الله علیه وسلم دَ هغوئ محاصره اوکړه او دوه دری هفتی پس دوئ خپل خانونه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته په دی شرط حواله کړل. چه د اوس قبیلی سردار حضرت سعد بن مُعاذ رضی الله عنه د دوئ په باره کې څه فیصله اوکړی. نو مونږ به ئی منو. او د بنی قریظه د یهودیانو دا خیال ؤو چه مونږه به هم د مدینی نه د نورو یهودیانو په شان لاړ شو او سعد بن مُعاذ به داسی فیصله اوکړی. چه دوئ دی جلا وطن کړی شی. او د اوس قبیلی خلقو هم د سعد رضی الله عنه نه دا تقاضا کوله چه دَ خپلو خلیفانو سره نرمی اوکړی. لیکن د بنی قریظه د یهودیانو جرم ډیر

سخت ؤو. او عين د جنگ په موقع کي ئې لوظ مات کړو او د نورو يهوديانو سره ملگرې شول. نو سعد رضی الله عنه دا فيصله اوکړه. چه د دوئ نارينه دې قتل کړې شي او د دوئ ښځې او بچې دې غلامان کړې شي او د دوئ ټول مالونه دې په مومنانو کي تقسيم کړې شي. په دې فيصله باندې عمل اوکړې شو. او کله چه مومنان د دوئ کورونو ته ورغلل. نو معلومه شوه چه په جنگ احزاب کي د حصې اخستلو دپاره دوئ پنځلس سوه توری. درې سوه زغرې. دوه زره نيزې او پنځلس سوه ډهالونه تيار کړې ؤو. که مومنانو سره د الله تعالی مدد نۀ وې. نو دا ټول سامان به عين د جنگ په وخت کي د مومنانو خلاف استعمال شوې ؤو. نو د دې انکشاف نه پس معلومه شوه. چه کومه فيصله سعد رضی الله عنه د دوئ په حق کي اوکړه. نو هغه بالکل صحيح وه.

معاشرتي اصلاحات: د جنگ احد او جنگ احزاب په مينځ کي د دوؤ کالو زمانه اگر چه لگه وه. ليکن بيا هم په دې دور کي د اسلامی معاشرې د قائمولو او آبادئ دپاره د معاشرتی اصلاحاتو ضرورت ؤو.

په دې سلسله کي د ټولو نه ضروری مسئله د تَبنيّت مسئله وه يعنی څوک چه پردی اولاد ته خوی يا لُور اووائی. داسی اولاد به په عرب کښې د حقيقی اولاد په شان گڼلې شو. په مال کي به وارث ؤو. د متبنّٰی ښځه به د هغه سړی انگور وه. او حرامه به ئې گڼله د خپلې انگور په شان. دارنگ د متبنّٰی دپاره به هم د هغه سړی ښځه د مور په شان وه. د هغۀ لونړه به ئې د خور په شان گڼلې او نکاح به ئې ورسره حرام گڼله. نو الله تعالی دا رواج ختم کړو. او په داسی رواج ئې پابندی اولگوله.

ليکن دا رواج دومره په آسانه نۀ شو ختميدلی. نو ضروری وه چه دا رسم نبی صلی الله عليه وسلم په خپله ختم کړی. او کوم کار چه نبی صلی الله عليه وسلم کړی وی او د الله تعالی په حکم سره ئې کړی وی. نو د يو مسلم په ذهن کي د هغې کراهيت نۀ شی پاتی کيدلی. په دې وجه د جنگ احزاب نه لږ وړاندې الله تعالی نبی صلی الله عليه وسلم ته وحی اوکړه. چه ته د خپل متبّی زيد بن حارثه د طلاقې کړې بی بی سره نکاح اوکړه. او په دې حکم نبی صلی الله عليه وسلم د بنی قريظه د محاصرې په دوران کي عمل کړی ؤو. په دې نکاح باندې منکرينو پروپيگنډه اوکړه. او د هغوئ دا خيال ؤو. چه مونږ به په دې پروپيگنډه سره د نبی صلی الله عليه وسلم اخلاقی برتری ختم کړو. ليکن منکرين په دې مهم کي هم کامياب نۀ شول.

د پردې ابتدائی احکام: په معاشره کي د شهوانيت عنصر ډير زيات ؤو. د دې د ختمولو دپاره د پردې ابتدائی احکام نازل شول او باقی احکام د دينه يو کال روستو په سورة نور کي نازل شول.

د نبي صلى الله عليه وسلم خانګي معاملات: په دې زمانه کې دوه مسئلې نورې هم وې. د هغو اصلاح ضروري وه. يوه د نبي صلى الله عليه وسلم مالي حالت. په ړومبنو څلورو کالو کې: نبي صلى الله عليه وسلم مالي حالت انتهائي کمزوري ؤو. په څلورمه هجري کې د بني النضير د جلاوطن کولو نه پس د هغوی په مالونو کې الله تعالى د نبي صلى الله عليه وسلم دپاره يو حصه مقرر کړه. ليکن هغه هم کافي نۀ وه. يو طرف ته د نبوت بوج ؤو. بل طرف ته مالي تنګي وه. نو بيبيانو چه به د نبي صلى الله عليه وسلم نه د خرچ دپاره مطالبه کوله. نو په نبي صلى الله عليه وسلم به بوج نور هم زياتيدلو.

دويمه مسئله دا وه. چه د زينب رضى الله عنها سره د نکاح نه وړاندې د نبي صلى الله عليه وسلم څلور بيبيانې موجود وې. سوده رضى الله عنها. عائشه رضى الله عنها. حفصه رضى الله عنها او امّ سلمه رضى الله عنها او پنځمه زينب رضى الله عنها شوه.

په دې باندې مخالفينو اعتراض اوکړو. او د صحابه کرامو په زړه کې هم شبهات راپيدا شول چه د نورو خلقو دپاره په يو وخت کې د څلورو ښځو نه زياتو زنانو سره نکاح کول منع دي ليکن نبي صلى الله عليه وسلم دا پنځمه نکاح څنګه اوکړه. نو الله تعالى د دې دواړو په باره کې حکم اوکړو.

مروی دي چې ابي بن کعب رضي الله عنه "زر" (بن حبيش) ته اوفرمائيل په سورة احزاب کې تاسو څومره ايتونه شميرلي دي هغه اووئيل زما دي په هغه ذات قسم وي چې ابي: ورباندې قسم کوي چې سورة احزاب دسورة بقرې سره برابر وو او ياخوددينه هم زيات اوږد وو او يقيناموږ په دې کې درجم ايت الشيخ والشيخة إذا زنيا فارجموهما نكالا من الله والله عزيز حكيم. هم لوستلي وو.

جويبر په واسطه دضحاك دابن عباس رضي الله عنهما بيان نقل کړي دي چې اهل مکه په کومو کې چې وليد بن مغيره او شيبه بن ربيعه هم شامل وو درسول الله نه دا مطالبه کړې وه چې ته به دخپلې خبرې نه منع شې او موږ به درته دخپل مال نه يوه حصه درکړو، دمدينې يهوديانو او منافقانو رسول الله ته دهمکي ورکړې وه چې که ته منع نشوې نو موږ به دې قتل کړو نو په دې باره کې لاندينې ايت کريمه نازل شو.

٣١٩٩ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا صَاعِدٌ الحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، أَخْبَرَنَا قَابُوسُ بْنُ أَبِي ظَبْيَانَ، أَنَّ أَبَاهُ حَدَّثَهُ، قَالَ: قُلْنَا لِابْنِ عَبَّاسٍ، أَرَأَيْتَ قَوْلَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ: مَا جَعَلَ اللهُ لِرَجُلٍ مِنْ قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِ (الأحزاب: ٤) مَا عَنَى بِذَلِكَ؟ قَالَ: قَامَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا يُصَلِّي، فَخَطَرَ خَطْرَةً. فَقَالَ المُنَافِقُونَ الَّذِينَ يُصَلُّونَ مَعَهُ: أَلَا تَرَى أَنَّ لَهُ قَلْبَيْنِ: قَلْبًا مَعَكُمْ، وَقَلْبًا

مَعَهُمْ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ: مَا جَعَلَ اللَّهُ لِرَجُلٍ مِنْ قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِ (الأحزاب: ٤".([1])

ترجمه : ابو ظبيان وايي چي مونږ دابن عباس رضي الله عنهما نه تپوس وکړو چي د الله تعالي ددي قول" مَا جَعَلَ اللَّهُ لِرَجُلٍ مِنْ قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِ " څه مطلب دي ابن عباس ورته په جواب کي ووئيل: رسول الله صلي الله عليه وسلم يو خل په مونځ اودريدو او ديو کار په باره کې يي په زړه کې څه تير شول، کوم منافقان چي پدغه وخت کې موجود وو اووئيل اوګورئ ددي کس دوه زړونه دي يو زړه يي ستاسو سره دي او بل زړه يي دخپلو ملګرو سره دي نو په دي باره کې الله تعالي دا ايت " مَا جَعَلَ اللَّهُ لِرَجُلٍ مِنْ قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِ " نازل کړو.

تشريح: قاضي ثناء الله پاني پتي ددي ايت کريمه " مَا جَعَلَ اللَّهُ لِرَجُلٍ مِنْ قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِ " داسي تشريح بيان کړي ده: حيواني زړه او روح دتمامو قوتونو سرچشمه ده نو په دي وجه ديو سړي دوه زړونه نشي کيدي او که بالفرض دچا دوه زړونه وي نو هغه خو به يا په يو زړه باندي تول کارونه سر ته رسول نو بيا خو يي دويم زړه بيکاره پاتي کيدو او يا به يي په دواړو زړونو يوکار سرته رسولي نو بيا دوه زړونو ته ضرورت نه پاتي کيدو يا به يي په يو زړه سره کولي او بل زړه به دده په خلاف کار کولي نو په دي وخت کې بيا په دواړو زړونو کې تناقض پيدا کيدو

بغوي او ابن ابي حاتم دسدي او ابن نجيح په واسطه د مجاهد بيان نقل کړي دي چي ابو معمر جميل بن معمر فهري داسي کس وو چي عقل يي تيز وو او حافظه يي هم دومره قوي وه چي هر څه به يي واوريدل هغه به يي ياد شوي وو قريشو به وئيل دمعمر حافظه دومره قوي ده لکه چي دده په سينه کې دوه زړونه وي هغه به پخپله هم وئيل چي زما دوه زړونه دي ، محمد صلي الله عليه وسلم چي څومره معلومات لري ددينه زيات معلومات زما په يو زړه کې دي او زه صرف په يو زړه باندي دده نه زيات پوهيږم نو دده متعلق ددي ايت نزول اوشو.

دبدر په ورځ چي کله کافرانو شکست اوخوړلو نو ابو معمر هم اوتختيدو چي يو پيزار يي په خپه کې وو او بل يي په لاس کې نيولي وو او په همدي حالت کې دابو سفيان سره مخامخ شو ابو سفيان ورنه تپوس اوکړو اي ابو معمر څه حالت دي ابو معمر اووئيل زمونږ ملګرو شکست اوخوړلو ابو سفيان اووئيل ستا دا څه حالت دي چي يو پيزار دي په خپه کې دي او يو دي په لاس کې دي ابو معمر اووئيل زما خو دا خيال وو چي دواړه پيزارونه مي په خپو دي نو خلقو ته پدغه وخت کې معلومه شوه چي دده دوه زړونه نشته کچري دده دوه زړونه وي نو په لاس کې نيولي پيزار به ورنه هير شوي نه وو.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٢٠٦)

ابن ابي حاتم په ضعيف سند سره دسعيد بن جبير اومجاهد او عكرمه بيان نقل كړي دي چي يوكس ته به ددوه زړونو والاونيلي شول او هم دهغه په باره كې ددي ايت نزول شوي دي.
ابن جرير په واسطه دعوفي دابن عباس او په واسطه دقتاده دحسن بصري نه هم دا قول نقل كړي دي ليكن په دي كې دومره اضافه ده چي دغه كس به ونيل زما يو زړه ماته ديوكار كولو حكم كوي او دويم زړه مي منع كوي.
دزهري او مقاتل قول دي چي په دي ايت كې هيڅوك ددوه زړونو والا سړي مراد نه دي او نه ظاهري ترجمه مراد ده بلكه په طور دتمثيل الله تعالي دهغه كس حالت بيان كړي دي څوك چي دخپلي ښځي سره ظهار كوي او دهغه كس كيفيت يي بيان كړي دي څوك چي پردو خامنو لره په خويتوب نيسي ، ګوياكې دا ونيل مقصود دي لكه څنګه چې ديو سړي دوه زړونه نشي كيدي نو همدا رنګي ظهار كونكي ښځه دده مور نشي جوړيدي او چالره په خويتوب باندي نيول حقيقي خوي نه ګرځي.

****

حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. ([1])

ترجمه : احمد بن يونس هم د زهير په واسطه د ماقبل هم معني روايت نقل كړى دى.
امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دى.

****

٣٢٠٠_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ الْمُغِيرَةِ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ عَمِّي أَنَسُ بْنُ النَّضْرِ: سُمِّيتُ بِهِ لَمْ يَشْهَدْ بَدْرًا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَبُرَ عَلَيَّ، فَقَالَ: أَوَّلُ مَشْهَدٍ شَهِدَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غِبْتُ عَنْهُ. أَمَا وَاللَّهِ لَئِنْ أَرَانِي اللَّهُ مَشْهَدًا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا بَعْدُ لَيَرَيَنَّ اللَّهُ مَا أَصْنَعُ. قَالَ: فَهَابَ أَنْ يَقُولَ غَيْرَهَا، فَشَهِدَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ مِنَ الْعَامِ الْقَابِلِ، فَاسْتَقْبَلَهُ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ، فَقَالَ: يَا أَبَا عَمْرٍو، أَيْنَ؟ قَالَ: وَاهًا لِرِيحِ الْجَنَّةِ أَجِدُهَا دُونَ أُحُدٍ، فَقَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ، فَوُجِدَ فِي جَسَدِهِ بِضْعٌ وَثَمَانُونَ مِنْ بَيْنِ ضَرْبَةٍ وَطَعْنَةٍ وَرَمْيَةٍ، فَقَالَتْ عَمَّتِي الرُّبَيِّعُ بِنْتُ النَّضْرِ: فَمَا عَرَفْتُ أَخِي إِلَّا بِبَنَانِهِ، وَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةَ: رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٣٠٦)

قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلا (الأحزاب :٢٣ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه: دانس رضي الله عنه نه روايت دی چي زما تره انس بن نضر د چا په نامه چي زما نوم اينبودلی شوی وو، دبدر په غزا کي نه وو شريك شوی نو هغه عرض اوکړو چي زه په دي کار ډير سخت پريشان يم چي داد رسول الله صلي الله عليه وسلم اولني جهاد وو او زه ورنه غائب ووم ، کچري الله تعالي په ما باندي کومه داسي د جهاد موقع راوستله نو الله تعالي به ووني چي زه څه کولو والايم، راوي وايي چي هغه ددينه ويريدو چي ددي نه علاوه نور څه اووايي . تردي چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم احد ته په راتلونکي کال کي حاضر شو. څه ګوري چي سعد بن معاذ رضي الله عنه ورسره مخامخ شو، او ده ته يي ووئيل اي ابو عمرو چرته دي دتلو اراده ده؟ هغه ووئيل واه واه د احد دغر طرف نه د جنت خوشبو راروانه ده راوي وايي چي په جنګ کي ورګډ شو تردي چي شهيد کړی شو، اوپه جسم يي د غشو او نيزو اتيا زخمونه موجود وو، زما د ترور د ربيع بنت نضر بيان دی چي ما خپل ورور صرف د ګوتو په بندونو وپيژندلو او دغه وخت کي دا ايت کريمه " رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلا " دوئ داسي سړي دي چي د الله تعالي سره يي کړي وعده پوره کړي ده ، بعضو په دوئ کي خپله حصه د زندګئ پوره کړي ده، او بعضي په دوئ کي دا وخت انتظار کوي، او دوئ پخپله رويه کي د يوي زري په مقدار هم بدل نشول ، نازل شو. يعني په مومنانو کي ځني خوانان داسي دي چي الله سره کړي وعدی يی پوره کړي الخ

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

لغات: "ليرين د "ي" په پيښ او د "ر" په زير هم روايت شوی دی يعني الله به خلقو ته اوښائي او د "ي" او "ر" دواړو په زور هم روايت شوی دی يعني الله تعالي ته اوښي چي زه څه کوم، والله اعلم.

غاب: غاب غيبا وغيابا د ضرب نه په معني دغائب کيدو ، لري کيدو ، جدا کيدو دي.

طعنه: طعن طعنا دنصر او فتح نه په معني دنيزي ويشتلو او کله چي ددي مصدر طعانا وي نو معني به يي په چا کي عيب لتول وي.

بنيانه: البنيان دګوتو اطرافو ته وئيلي شي او بندونو ته وئيلي شي، جمع يي بنانات راځي.

[1] ـ صحيح مسلم/الإمارة ٤١ (١٩٠١) (تحفة الأشراف: ٤٠٦)

تشريح : "عن قتال بدر" بدر ديو كلي نوم دى چرته چي به هر كال ميله كيدله او دا دشام نه مديني ته دتلو په لار كې واقع دى او دمديني نه تقريبا اتيا ميله لري دى په دي كې مسلمانانو ته فتح نصيب شوي وه.

فلما كان يوم احد. احد ديو غر نوم دى دا دمديني نه شمالي جانب ته تقريبا يو نيم ميل فاصله باندي واقع دى چرته چي په ابتداء كې مسلمانانو شكست خوړلى وو مګر بيايي فتح حاصله كړه.

"اني اجد ريحها من دون أُحُدٍ" يعني داحد دطرف نه ماته دجنت بوي راځي، محدثينو ددي جملي حقيقي معني بيان كړي ده چي حقيقتا دوئ ته دجنت خوشبو داحد نه راتله ليكن بعضي محدثينو ددي جملي نه دمسلمانانو دشهادت شوق مراد كړى دى

فَوُجِدَ فِي جَسَدِهِ بِضْعٌ وَثَمَانُونَ مِنْ بَيْنِ ضَرْبَةٍ وَطَعْنَةٍ وَرَمْيَةٍ يعني څه دپاسه اتيا ګذارونه ورباندي دتوري وو بضع د دريو نه دنهو پوري عدد ته ونيلى شي چي په دي كې د ۸۱نه تر ۸۹ پوري احتمال شته.

رجال صدقوا ما عاهدوا الله عليه.دا ايت ددوئ پشان خلقو په حق كې نازل شوى دى دا ايت دڅه باره كې نازل شوى دى په دي كې دعلماؤ اختلاف دى بعضو همدا نضر بن انس رضي الله عنه ليكلى دى او بعضو علماؤ داحد شهيدان ليكلي دي او بعضو دعقبه ثانيه بيعت كونكي ليكلي دي.(روضة الصالحين)

****

٣٢٠١ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا حُمَيْدٌ الطَّوِيلُ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ عَمَّهُ غَابَ عَنْ قِتَالِ بَدْرٍ، فَقَالَ: غِبْتُ عَنْ أَوَّلِ قِتَالٍ قَاتَلَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُشْرِكِينَ، لَئِنِ اللَّهُ أَشْهَدَنِي قِتَالًا لِلْمُشْرِكِينَ لَيَرَيَنَّ اللَّهُ كَيْفَ أَصْنَعُ. فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ انْكَشَفَ الْمُسْلِمُونَ، فَقَالَ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَبْرَأُ إِلَيْكَ مِمَّا جَاءَ بِهِ هَؤُلَاءِ، يَعْنِي الْمُشْرِكِينَ وَأَعْتَذِرُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ هَؤُلَاءِ يَعْنِي أَصْحَابَهُ، ثُمَّ تَقَدَّمَ فَلَقِيَهُ سَعْدٌ، فَقَالَ: يَا أَخِي مَا فَعَلْتَ، أَنَا مَعَكَ فَلَمْ أَسْتَطِعْ أَنْ أَصْنَعَ مَا صَنَعَ، فَوُجِدَ فِيهِ بِضْعٌ وَثَمَانُونَ مِنْ ضَرْبَةٍ بِسَيْفٍ وَطَعْنَةٍ بِرُمْحٍ وَرَمْيَةٍ بِسَهْمٍ. فَكُنَّا نَقُولُ فِيهِ وَفِي أَصْحَابِهِ نَزَلَتْ: فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ (الأحزاب :٢٣ قَالَ يَزِيدُ يَعْنِي هَذِهِ الْآيَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَاسْمُ عَمِّهِ أَنَسُ بْنُ النَّضْرِ. [1]

---

[1] ـ انظر ماقبله (تحفة الأشراف : ٨٠٨)

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه روايت دی چي زما تره انس بن نضر دبدر په غزا کې نه وو شريك شوی نو هغه عرض اوکړو يا رسول الله ! زه دړومبي جنګ نه چي تامشرکانو سره کړی دی غير حاضروم، که الله تعالي بيا مشرکانو سره دجنګ موقع راکړه نو الله تعالي به خلقو ته اوښائي چي زه څنګه جنګ کوم بيا.کله چي داحد دغزا په ورځ مسلمانان ګډوډ شولو نو انس رضي الله عنه اووئيل يا الله زه دخپلو ملګرو دطرفه معافي غواړم او مشرکانو دعمل نه ويزاره يم بيا دجنګ ميدان ته ورمخکې شو نو سعد بن معاذ رضي الله عنه په مخه ورغلو ورته يې اووئيل ای وروره ته چي هرڅه کوي زه هم درسره يم ، سعد وايي چي هغه چي هرڅه وکړل هغه کار ما ونکړی شو او مونږ دهغه په بدن کې دتورو دنيزو او دغشو زخمونه څه دپاسه اتيا زخمونه اوليدل انس رضي الله عنه فرمائي زمونږ دا خيال دی چي دا ايتونه ﴿فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ﴾ دده او دغه شان نورو خوانانو په حق کې نازل شوي دي چي فرمائي «دوئ داسي سړي دي چي د الله تعالي سره يي کړي وعده پوره کړي ده . بعضو په دوئ کي خپله حصه د زندګئ پوره کړي ده، او بعضي په دوئ کي دا وخت انتظار کوي. او دوئ پخپله رويه کي د يوي په مقدار هم بدل نشول »
امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دی اود انس د تره نوم انس بن النضر دی.
تشريح : ددينه معلومه چي که دچا دکومي نيکئ اراده وي نو دهغي دپاره دي اوږدي اوږدي دعوي نه کوي بلکه دوخت په راتلو سره دي دخپل عزم مطابق خپل پوره طاقت استعمال او خرج کړي.

****

٣٢٠٢_حَدَّثَنَا عَبْدُ الْقُدُّوسِ بْنُ مُحَمَّدٍ الْعَطَّارُ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ يَحْيَى بْنِ طَلْحَةَ، عَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى مُعَاوِيَةَ، فَقَالَ: أَلَا أُبَشِّرُكَ. فَقُلْتُ: بَلَى. قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "طَلْحَةُ مِمَّنْ قَضَى نَحْبَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ مُعَاوِيَةَ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَإِنَّمَا رُوِيَ هَذَا عَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ عَنْ أَبِيهِ. [1]

ترجمه : دموسي بن طلحه بيان دي فرمائي چي زه معاويه رضي الله عنه ته ورغلم هغه راته اووئيل ايا زه تاته يو زيري درنکړم؟ ما ورته اووئيل ولي نه ضرور يي راته راکړه هغه اووئيل

[1] ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ١١(١٢٦) (تحفة الأشراف : ١١٤٢٥)

مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي طلحه دهغه كسانو دجملي نه دي دچا متعلق چي الله تعالي "ممن قضي نحبه" فرمائيلي دي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي او مونږ دا صرف دمعاويه رضي الله عنه په همدي سند پيژنو مگر داحديث دموسي بن طلحه صرف د طلحه په سند ذكر كيږي (كوم چي وروسته راروان دي).

****

۳۲۰۳ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ، عَنْ طَلْحَةَ بْنِ يَحْيَى، عَنْ مُوسَى، وَعِيسَى ابني طلحة، عَنْ أَبِيهِمَا طَلْحَةَ، أَنَّ أَصْحَابَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالُوا لِأَعْرَابِيٍّ جَاهِلٍ: سَلْهُ عَمَّنْ قَضَى نَحْبَهُ مَنْ هُوَ؟ وَكَانُوا لَا يَجْتَرِئُونَ عَلَى مَسْأَلَتِهِ يُوَقِّرُونَهُ وَيَهَابُونَهُ. فَسَأَلَهُ الْأَعْرَابِيُّ، فَأَعْرَضَ عَنْهُ، ثُمَّ سَأَلَهُ فَأَعْرَضَ عَنْهُ، ثُمَّ سَأَلَهُ فَأَعْرَضَ عَنْهُ، ثُمَّ إِنِّي اطَّلَعْتُ مِنْ بَابِ الْمَسْجِدِ وَعَلَيَّ ثِيَابٌ خُضْرٌ، فَلَمَّا رَآنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَيْنَ السَّائِلُ عَمَّنْ قَضَى نَحْبَهُ؟" قَالَ الْأَعْرَابِيُّ: أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَذَا مِمَّنْ قَضَى نَحْبَهُ".
قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ يُونُسَ بْنِ بُكَيْرٍ. [1]

ترجمه : دطلحه رضي الله عنه نه روايت دي چي صحابه كرامو يو جاهل باندچي ته اوونيل په داسي حال كي چي هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دايت كريمه "ممن قضي نحبه" متعلق تپوس اوكړو چي ددينه مراد څه دي؟ او دوئ ستانه پخپله دسوال كولو همت نه كوي او هغوئ ادب او احترام كوي اوستاسو نه ويره هم كوي نو اعرابي درسول الله نه تپوس اوكړو مگر رسول الله صلي الله عليه وسلم اعراض اوكړو ، نو اعرابي بيا تپوس اوكړو نو رسول الله ورته توجه اونكړه هغه بيا تپوس اوكړو نو رسول الله بيا توجه اونه كړه بيا زه دمسجد په دروازه كي ښكاره شوم او ورداخل شوم او ما شني جامي اغوستلي وي كله چي زه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوليدم نو ويي فرمائيل "ممن قضي نحبه" باره كي تپوس كونكي څوك دي؟ باندچي اوونيل اي دالله رسوله زه حاضر يم او تپوس كونكي زه يم رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا سړي (طلحه) دهغه كسانو دجملي نه دي چاچي خپلي ذمه واړياني پوره كړي دي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي اومونږ يي صرف ديونس بن بكير په سند پيژنو

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۵۰۰۵)

دطلحه بن عبيد الله حالات

نوم طلحه كنيه ابو محمد فياض او خير دده لقبونه دي دپلار نوم يي عبيدالله او دمور نوم يي صعبه وو دطلحه نسب په شپږم پوشت كې درسول الله سره يوځاي كيږي دهجرت نبوي نه ۲۴ يا ۲۵ كلونه مخكې دده پيدانش شوی دی داتلسو كالو په عمر كې بصري ته لاړو او هلته ورته يو راهب دبعثت نبوي خبر وركړو او بيا دابوبكر رضي الله عنه په دعوت سره په اسلام كې داخل شو طلحه دغزوه بدر په موقعه په مدينه كې موجود وو ددينه علاوه يي په تمامو غزواتو كې شركت كړی دی او په بيعة الرضوان كې هم شامل وو او دنورو خلفاؤ په جنګونو كې هم شريك پاتي شوی دی.

طلحه به ډير زيات سخاوت كولو دفقيرانو مسكينانو دپاره به يي دروازه هر وخت پرانيستلي وه، دقيس بن ابي هاضم بيان دی چي ما دطلحه نه زيات سخاوت كونكی بل څوك نه دی ليدلی الله تعالي ورته فراخه مال هم وركړی وو چي روزانه اوسط امدن يي زر دينارو ته رسيدو (طبقات ابن سعد).

په جنګ جمل كې شهيد شو او پدغه وخت كې دده عمر ۶۲ يا ۶۴ كلونه وو او په همدي ميدان كې دفن كړی شو ليكن دلته به اوبه اودريدلي نو په خوب كې اوليدلی شو وئيل يي چي زما قبر كوم محفوظ ځاي ته منتقل كړئ نو عبدالله بن عباس رضي لله عنهما دابوبكر رضي الله عنه كور په لس زره درهم واخستو او هلته يي منتقل كړو او په دومره ورځو كې دده جسم بالكل محفوظ وو خراب شوی نه وو ترديّ چي په سترګو يي كافور لګولی شوي وو هغه هم محفوظ وو دده دمروياتو شمير ۳۸ دی چي دوه په دي كې متفق عليه دي او دوه په مسلم كې دي او دوه په بخاري كې دي.

****

٣٢٠٤ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: لَمَّا أُمِرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَخْيِيرِ أَزْوَاجِهِ بَدَأَ بِي، فَقَالَ: " يَا عَائِشَةُ إِنِّي ذَاكِرٌ لَكِ أَمْرًا فَلَا عَلَيْكِ أَنْ لَا تَسْتَعْجِلِي حَتَّى تَسْتَأْمِرِي أَبَوَيْكِ ". قَالَتْ: وَقَدْ عَلِمَ أَنَّ أَبَوَايَ لَمْ يَكُونَا لِيَأْمُرَانِي بِفِرَاقِهِ، قَالَتْ: ثُمَّ قَالَ: " إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى، يَقُولُ: يَأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ حَتَّى بَلَغَ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا (الأحزاب: ٢٨ـ ٢٩) ، فَقُلْتُ: فِي أَيِّ هَذَا أَسْتَأْمِرُ أَبَوَيَّ، فَإِنِّي أُرِيدُ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ، وَفَعَلَ أَزْوَاجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ مَا فَعَلْتُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ

صَحِيحٌ وَقَدْ رُوِيَ هَذَا أَيْضًا عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا. [1]

ترجمه دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرماني چي كله رسول الله صلي الله عليه وسلم ته حكم اوكړي شو چي هغوئ خپلو بيبيانو ته اختيار وركړو نو رسول الله ددي كاروائي ابتداء زما نه اوكړه او ماته يي اوونيل اي عائشي زه تاته ديوي خبري يادونكي يم خو ته به دخپل مور او پلار سره دمشوري كولو نه بغير جواب نه راكوي او په جواب وركولو كي به جلتي نه كوي عائشه رضي الله عنها وائي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ښه معلومه وه چي زما مور او پلار ماته دجدائي اختيارولو باره كي هيڅ كله حكم نشي كولي او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله تعالي فرمانيلي دي " يَأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا فَتَعَالَيْنَ حَتَّى بَلَغَ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ أَجْرًا عَظِيمًا" (يعني: اي پيغمبره اووايه ته بيبيانو خپلوته كه ستي تاسو چي اراده لرئ دژوند نږدی اودښائست ددی پس راځئ چي نفع دركړم تاسو لره او اوازادی كړم تاسو په ازادولو نيكوسره اوكه يئي تاسی اراده لرئ دالله تعالی اودرسول دده اودكورداخرت پس بيشكه چي خدای تيارکړی دی دپاره دنيكئ كونكوله تاسو نه اجر لوي) ما اوونيل ايا زه په دي باره كي دمور او پلار نه مشوره اوغواړم؟ (هيڅ كله نه) زه هيڅ قسم مشوري كولو ته ضرورت نه لرم) زه الله او دهغه رسول خوښوم او كور داخرت خوښوم او درسول الله نورو بيابيانو چي څه ونيلي وو هغه شان ما هم اوونيل.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي داحديث دزهري نه هم مروي دي چي دعروه نه يي نقل كوي او عروه دعائشه رضي الله عنها نه نقل كړي دي.

بغوي ليكلي دي پدغه زمانه كي درسول الله صلي الله عليه وسلم نهه بيبياني وي دپينځو تعلق دقريشو سره وو چي يوه په هغوئ كي عائشه بنت ابي بكر ، حفصه بنت عمر، ام حبيبه بنت ابي سفيان ، ام سلمه بنت اميه، سوده بنت زمعه، او دباقي څلورو تعلق دقريشو سره نه وو چي زينب بنت جحش اسدي ، ميمونه بنت حارث هلالي، صفيه بنت حي بن اخطب اسرائيلي ، جويريه بنت حارث. رضي الله عنهن

كله چي دتخير پورتني ذكر شوي اي نازل شو نودټولو نه مخكي رسول الله صلي الله عليه وسلم دعائشه رضي الله عنها نه تپوس اوكړو چي ته دالله درسول په ټولو كي زياته مخوره او ډيره خوښه بي بي وي او ددي په وړاندي يي دا ايت هم ولوستلو او دوئ ته يي اختيار وركړو نو

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير سورة الأحزاب ٢ (٤٧٨٥) . صحيح مسلم/الطلاق ٢ (١٤٧٥) . سنن النسائي/النكاح ٢ (٣٢٠٣) . والطلاق ٢٦ (٣٤٦٩) . سنن ابن ماجه/الطلاق ٢٠ (٢٠٥٣) (تحفة الأشراف : ١٦٦٦٤) . و مسند احمد (٦/٦٨، ١٠٣، ١٨٥، ٢٤٨، ٢٦٣، ٢٦٤) . وسنن الدارمي/الطلاق ٥ (٢٢٧٤)

عائشه رضي الله عنها دالله رسول او كور داخرت لره اختيار كړو پس ددي خبري په وجه درسول الله صلي الله عليه وسلم په مخ مبارك كي دخوشحالئ اثار ښكاره شول او ددينه علاوه نورو بيبيانو هم دعائشه رضي الله عنها پيروي اوكړه.
دقتاده بيان دي چي كله امهات المومنين الله اودهغه رسول او كور داخرت لره اختيار كړو نو الله تعالي هم ددوئ اعزاز اوكړو او رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يي په دوئ باندي داكتفا كولو او په انينده كي دبلي نكاح نه كولو حكم اوكړو او ويي فرمائيل "لا يحل لك النساء من بعد " يعني ددي بيبيانو نه غير دنورو ښځو سره ستا دپاره نكاح كول جائز نه دي.
مسلم او امام احمد او نسائي په واسطه دابو الزبير دجابر رضي الله عنه بيان نقل كړي دي چي صديق اكبر رضي الله عنه په دربار نبوت كي د داخليدو اجازت طلب كړو ليكن اجازت ورته ملاؤ نشو ددينه پس عمرفاروق رضي الله عنه راغي هغه هم اجازت طلب كړو ليكن هغه ته هم اجازت ملاؤ نشو خو بيا يي يوه شيبه پس دواړو ته اجازت وركړو دوئ چي كله دننه ورداخل شول نو رسول الله صلي الله عليه وسلم پدغه وخت كي غمژن او خاموش ناست وو او ګيرچاپير ورنه بيبياني موجودي وي، عمرفاروق رضي الله عنه بيان دي زما په زړه كي تيرشول چي كومه داسي خبره كول پكار دي چي دهغي په اوريدو سره رسول الله صلي الله عليه وسلم په خندا شي نو ما عرض اوكړو كچري دخارجه لور (يعني زما ښځي) زما نه اضافي خرچي غوښتلي وي نو ما به يي څټ مات كړي وي ، ددي خبري په اوريدو سره رسول الله صلي الله عليه وسلم اوخاندل او ويي فرمائيل تاسو خو وينئ چي زما ګير چاپير دا ښځي جمع شوي دي او زما نه دزيات خرچ طلب كوي ، ددي خبري په اوريدو سره صديق اكبر رضي الله عنه دعائشه رضي الله عنها په څټ دګذار كولو دپاره پاڅيدو او عمرفاروق رضي الله عنه هم په حفصه رضي الله عنها دګذار كولو دپاره ورمخكي شو او دواړو اوونيل دالله درسول سره چي كوم څيز موجود نه وي تاسو به هرګز دهغي سوال نه كوئ ليكن بيادددينه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم دټولو بيبيانو نه يوه مياشت يعني ۲۹ ورځي كناره كشي اختيار كړه اوبيا دا ايت نازل شو. رسول الله صلي الله عليه وسلم ابتدا دعائشه رضي الله عنها نه اوكړه او ويي فرمائيل اي عائشي زه تاته يوه خبره پيش كول غواړم خو زما دا خواهش دي چي ددي خبري په باره كي به دمور او پلار سره دمشوري كولو نه بغير په جواب وركولو كي جلتي نه كوي ام المومنين اوونيل اي دالله رسوله هغه څه خبره ده ؟ نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ذكر شوي ايت تلاوت كړو عائشه رضي الله عنها اوونيل اي دالله رسوله ايا ستا په باره كي زه دخپل مور او پلار سره مشوره اوكړم (داسي هركز نشي كيدي) زه خو الله اودهغه رسول او كور داخرت لره اختياروم ليكن تاته زما دا درخواست دي چي پخپلو بيبيانو كي به هيڅ يوي بي بي ته زما ددي فيصلي خبر نه وركوي ، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زما نه چي هره يوه

ښځه تپوس کوي نو زه ورته وايم الله تعالي زه په فتنه کي داچولو دپاره نه يم راليږلي بلکه دسعادت ورکولو او دمعلم په صفت يي راليږلي يم.
بخاري پخپل صحيح کي دزهري نه روايت بيان کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ديوي مياشتي پوري خپلو بيبيانو ته دنه ورتلو قسم اوکړو، ماته عروه دعائشه رضي الله عنها قول بيان کړي دي چي د ۲۹ ورځو نه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم دټولو نه مخکي ماته تشريف راوړو ما عرض اوکړو اي دالله رسوله تا خو قسم خوړلي وو چي زمونږ خواته به تر يوي مياشتي پوري نه راځي او نن خو ۲۹ ورځ ده او زه يي شميرم نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا مياشت د ۲۹ ورځو ده.
فائده: بغوي ليکلي دي په علماؤ کي اختلاف دي چي کوم اختيار رسول الله صلي الله عليه وسلم بيبيانو ته ورکړي وو ايا دا دطلاقو دتفويض اختيار وو نو که ښځو خپل ځان اختيار کړي وي نو طلاق خو واقع کيدل او نورو طلاقو ته ضرورت نه پاتي کيدو او که نه داسي نه وه بلکه په دي طريقه صرف دښځو مرضي ظاهرول مطلوب وو او ددي باوجود دطلاقو اختيار درسول الله صلي الله عليه وسلم په لاس کي پاتي کيدو ؟ بعضي علماء وائي دا اختيار دطلاق دتفويض دپاره وو ليکن دحسن او قتاده او اکثر اهل علمو قول دادي چي دا د طلاقو دتفويض دپاره نه وو بلکه دطلب طلاق اختيار ورکړي شوي وو کچري ښځو دنيا غوره کړي وي نو رسول الله صلي الله عليه وسلم به دوئ پريخودلي وي ځکه چي په ايت کريمه کي راغلي دي "يٰأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلًا" ددي ايت نه معلوميږي کچري ښځو دنيا اختيار کړي وي نو ددي باوجود به هم دازادولو اختيار درسول الله صلي الله عليه وسلم په لاس کي باقي پاتي وو.
مسئله کچري خاوند ښځي ته اووئيل تاته خپل اختيار حاصل دي او ددي جملي نه يي مراد تفويض دطلاق وي يعني مقصد يي دا وي که ته غواړي نو خپل ځان ته طلاق ورکړه نو په دي مجلس کي چي څو پوري دا ښځه موجوده وي ديته به اختيار حاصل وي که اوغواړي نو خپل ځان ته دي طلاق ورکړي ليکن که ددي ځاي نه پاځيده يا په کوم بل کار کي مشغوله شوه نو دطلاق اختيار به ددي سره باقي نه وي ځکه چي دا تمليك دفعل دي او تمليك دفعل ددي تقاضا کوي چي په همدي مجلس کي دي جواب ورکړي شي لکه چي په بيع کي قبول دي.
تفسير مظهري ددي لاندي د طلاق د تخير مسئله هم په پوره تفصيل سره ذکر کړي ده.

****

۳۲۰۵ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ بْنِ الْأَصْبَهَانِيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ

أَبِي رَبَاحٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ، رَبِيبِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّمَا يُرِيدُ اللهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا (الأحزاب: ٣٣) فِي بَيْتِ أُمِّ سَلَمَةَ، فَدَعَا فَاطِمَةَ، وَحَسَنًا، وَحُسَيْنًا فَجَلَّلَهُمْ بِكِسَاءٍ وَعَلِيٌّ خَلْفَ ظَهْرِهِ فَجَلَّلَهُ بِكِسَاءٍ، ثُمَّ قَالَ: " اللَّهُمَّ هَؤُلَاءِ أَهْلُ بَيْتِي، فَأَذْهِبْ عَنْهُمُ الرِّجْسَ وَطَهِّرْهُمْ تَطْهِيرًا ". قَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ: وَأَنَا مَعَهُمْ يَا نَبِيَّ اللهِ، قَالَ: " أَنْتِ عَلَى مَكَانِكِ وَأَنْتِ عَلَى خَيْرٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ عَطَاءٍ عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ. (1)

ترجمه: عمر بن ابي سلمه (د رسول الله صلي الله عليه وسلم پرکتي) وائي هر کله چي ايت کريمه " إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرا " دام سلمه په کور کي په رسول الله صلي الله عليه وسلم نازل شو نو دي وخت کي رسول الله فاطمه حسن او حسين رضي الله عنهم راوغوښتلو او ديو څادر لاندي يې کينولو او علي رضي الله عنه درسول الله صلي الله عليه وسلم شاته وو رسول الله هغه لره هم دڅادر نه رالاندي کړي او بيا يې اوفرمائيل اي الله دا زما اهل بيت دي او زما کورنئ ده ددوئ نه ناپاکي لري کړي او پاك کړي دوئ لره په پاکولو سره، ام سلمه رضي الله عنها وائي زه هم ددوئ سره يم اي دالله رسوله رسول الله اوفرمائيل ته پخپل ځاي ټهيك يې او تاته هم دخير مقام اودرجه حاصل ده.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند په کوم چي عطاء دعمر بن ابي سلمه رضي الله عنها نه نقل کړي دي غريب دي.

د عمر بن ابي سلمه عبدالله بن عبدالاسد رضي الله عنه حالات

عمرو دام سلمه رضي الله عنها بچي دی کوم چي ددي دمخکني خاوند ابوسلمه نه پيدا شوی وو عمرو دهجرت نه دوه کاله مخکي پيداشوی وو او دا هغه وخت وو کله چي ام سلمه په حبشه کي وه عمرو پخپلو خويندو او رونړو کي دټولو نه مشر وو کله چي دام سلمه رضي الله عنها سره درسول الله صلي الله عليه وسلم نکاح اوشوه په دي وخت کي دی ماشوم وو او بيا ددينه پس درسول الله صلي الله عليه وسلم په فرورش کي راغی دی درسول الله صلي الله عليه وسلم نه هم براه راست روايات نقل کوي او دخپلي مور ام سلمه رضي الله عنها نه هم نقل کوي (سير اعلام النبلاء).

عمرو دعبدالملك بن مروان په زمانه کي وفات شو (اسد الغابه) دابن الاسير په قول دده دوفات کيدو کال ۸۳هجري دی.

---

1 ـ تفرد به المؤلف وأعاده في المناقب ٣٢ (برقم ٣٧٨٧) (تحفة الأشراف: ١٠٦٨٤)

****

٣٢٠٦حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَفَّانُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمُرُّ بِبَابِ فَاطِمَةَ سِتَّةَ أَشْهُرٍ إِذَا خَرَجَ إِلَى صَلَاةِ الفَجْرِ، يَقُولُ: الصَّلَاةَ يَا أَهْلَ البَيْتِ: إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ البَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا (الأحزاب: ٣٣". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ. قَالَ: وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي الحَمْرَاءِ، وَمَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ، وَأُمِّ سَلَمَةَ. [1]

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم د فاطمه رضي اللهعنها د دروازي مخي ته شپږو مياشتو پوري تيريدو كله چي به دسحر مانځه ته وتلو نو ونيل به يي "الصلاة يا اهل البيت" يعني اي زما كورنۍ دسحر مانځه ته پاځئ "إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرً" الله تعالي غواړي چي ستاسو نه نجاست لري كړي او تاسو په كامل طور پاك كړي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي او مونږ يي صرف دحماد بن سلمه په روايت پيژنو، او په دي باب كي دابوالحمراء، معقل بن يسار، او ام سلمه رضي الله عنها نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٢٠٧_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا دَاوُدُ بْنُ الزِّبْرِقَانِ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: لَوْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَاتِمًا شَيْئًا مِنَ الوَحْيِ لَكَتَمَ هَذِهِ الآيَةَ: " وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ يَعْنِي بِالإِسْلَامِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ يَعْنِي بِالعِتْقِ فَأَعْتَقْتَهُ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللَّهَ وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللَّهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى النَّاسَ وَاللَّهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشَاهُ إِلَى قَوْلِهِ وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ مَفْعُولًا (الأحزاب: ٣٧)، وَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا تَزَوَّجَهَا، قَالُوا: تَزَوَّجَ حَلِيلَةَ ابْنِهِ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِجَالِكُمْ وَلَكِنْ رَسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ (الأحزاب: ٤٠، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَبَنَّاهُ وَهُوَ صَغِيرٌ، فَلَبِثَ حَتَّى

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٩٩)

صَارَ رَجُلًا يُقَالُ لَهُ: زَيْدُ بْنُ مُحَمَّدٍ فَأَنْزَلَ اللَّهُ: ادْعُوهُمْ لآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ فَإِنْ لَمْ تَعْلَمُوا آبَاءَهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَمَوَالِيكُمْ (الأحزاب :٥) فُلَانٌ مَوْلَى فُلَانٍ وَفُلَانٌ أَخُو فُلَانٍ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ (الأحزاب :٥) يَعْنِي أَعْدَلُ عِنْدَ اللَّهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. قَدْ رُوِيَ عَنْ دَاوُدَ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ. قَالَتْ: "لَوْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَاتِمًا شَيْئًا مِنَ الْوَحْيِ لَكَتَمَ هَذِهِ الآيَةَ: وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ (الأحزاب:٣٧)" هَذَا الْحَرْفُ لَمْ يُرْوَ بِطُولِهِ. حَدَّثَنَا بِذَلِكَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَضَّاحٍ الْكُوفِيُّ. حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ أَبِي هِنْدٍ. ([1])

ترجمه: دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي كه رسول الله صلي الله عليه وسلم چرته دوحي نه دكوم څيز پټونكي وي نو دا ايت " وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ " به يي پټ كړي وو، رسول الله صلي الله عليه وسلم چي كله د زينب سره واده اوكړو نو خلقو وئيل ده دخپل متبني (چالره په خوي نيولو) دښځي سره واده اوكړو نو دي باره كي الله تعالي دا ايت كريمه "ماكان محمد ابا احدمن رجالكم ولكن كان رسول الله خاتم النبيين" نازل كړو، زيد چي وړوكي وو نورسول الله صلي الله عليه وسلم په خوي توب نيولي وو او هغه مسلسل ورسره وو تردي پوري چي خوان شو خلقو به ورته زيد بن محمد وئيل نو په دي باره كي دا ايت " ادْعُوهُمْ لآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ فَإِنْ لَمْ تَعْلَمُوا آبَاءَهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَمَوَالِيكُمْ" نازل شو، دوئ ستاسو ديني ورونړه دي او ستاسو دوستان دي، فلاني دفلاني دوست دي او فلاني دفلاني ديني ورور دي .

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي په مذكوره سند دا روايت مسروق دعائشه رضي الله عنها نه نقل كړي دي فرمائيل يي كه رسول الله صلي الله عليه وسلم چرته دوحي نه دكوم څيز پټونكي وي نو دا ايت " وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ " به يي پټ كړي وو

تشريح: اقسط خو داسم تفضيل صيغه ده ليكن نسبتي زيادت مراد نه دي بلكه دعدل في نفسه زيادت مراد دي يعني كامله ربښتوني خبره ورنه مراد ده، بخاري دابن عمر رضي الله عنهما قول نقل كړي دي چي مونږ به زيد رضي الله عنه ته زيد بن حارثه نه وئيل بلكه زيد بن

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦/١٦٩)

محمد (صلي الله عليه وسلم) به ورته مونږ ونيل تردي چي ايت كريمه ادْعُوْهُمْ لِاٰبَآئِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ نازل شو، يعني ددينه پس بيا مونږ زيد بن حارثه ونيل شروع كړل.
بيضاوي ليكلي دي خوي نيول زمونږ په نزد يعني دامام شافعي په نزد څه اعتبار نه لري اوبه دي دعوي سره دخوي كيدو حكم نه جاري كيږي ليكن دامام ابو حنيفه په نزد كه څوك غلام په خويتوب اونيسي نو ازاديږي او كچري كوم مجهل النسب لره خپل خوي اوګرخوي او هغه داسي وي چي دهغه الحاق ددي مدعي سره كيدي شي نودي به دمدعي خوي ګڼرلي كيږي ليكن قاضي بيضاوي غلط شوي دي دامام ابو حنيفه قول دادي كچري كوم مالك خپل غلام ته چي په عمر كي دمالك نه كم وي يا زيات وي خوي اووائي نو غلام به ازاديږي اودمالك كلام به د درست ګرخولو دپاره په مجاز حمل كولي شي ، ګويا لكه مالك چي دغلام متعلق داسي ونيلي وي دا زما خوي دي نو ددي مجازي معني داده چي دا ازاد دي دسبب په ذكر كولو سره مجازا مسبب وګرخوي بنوت دازادئ سبب دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي دخپل محرم رشته دار مالك شي نو محرم ازاديږي (رواه احمد واصحاب السنن).
ليكن دصاحبينو قول دامام صاحب دقول په خلاف دي دامام ابو يوسف او امام محمد قول دي كچري كوم مالك خپل غلام ته چي په عمر كي دده نه زيات وي دا خبره اوكړي چي دا زما خوي دي نو غلام به نه ازاديږي ، ددي اختلاف بنياد يوه دويمه اختلافي ضابطه ده دكومي تفصيل چي په اصول فقه كي مذكور دي .
اصل اختلافي قاعده داده چي دامام صاحب په نزد دمجازي معني مراد كولو دپاره دا ضروري نه دي چي حقيقي معني كه ممكن هم وي فقط په تكلم كي دحقيقي معني صحت مجازي معني ته راجع كولو دپاره كافي شي ، همدا وجه ده كچري دمالك نه زيات عمر والا غلام ته مالك خپل خوي اووائي نو غلام ازاديږي ، ليكن دصاحبينو په نزد مجاز دحقيقت دقائم مقام په حكم كي وي كچري په كوم خاي كي دحقيقي معني امكان نه وي نو مجازي معني ته رجوع كول درست نه دي نو په مذكوره صورت كي به غلام ازاد نه وي .
اوكچري كوم مجهول النسب يي خپل خوي اوګرخولو او دغه مجهول النسب داسي وي چي دهغه الحاق دده سره كيدي شي يعني دمالك نه دومره كشر وي چي دهغه حقيقي خوي كيدل ممكن وي نو چونكه مالك پخپله اقرار كړي دي نو په دي وجه به دده دپاره دمجهول النسب خوي كيدل دده په حق كي منلي كيږي مګر دبل چا په حق كي به نه منلي كيږي همدا وجه ده كچري دكوم مجهول النسب دورور كيدو دعوه چا اوكړه نو دا به نه منلي كيږي او دمقر دپلار سره به دمجهول النسب والا نسب نه تړلي كيږي مګر كه دمرګ په وخت كي مقر پخپل اقرار قائم پاتي شو اوكوم بل وارث هم نه وو نه په اصحاب فرائض كي او نه په عصباتو كي او نه په

ذوي الارحام كي نو مقرله ته به دمقر ترکه ورکولي شي او په بيت المال به مقر له ته ترجيح ورکولي شي ، يوه خبره دا هم ده کچري دچا په حق کي يې دپوره مال وصيت اوکړو نو پده باندي به مذکوره مقرله مقدم گڼرلي کيږي.

بغوي ليکلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به خلقو ته جهادي دعوتونه ورکول خو بعضو خلقو به په جواب کي وئيل چي مونږ جهاد دپاره تلو ته تيار يو ليکن دخپل مور او پلار نه به تپوس کوو نو په دي باره کي لاتديني ايت نازل شو.(تفسير مظهري)

****

٣٢٠٨ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبَانَ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: " لَوْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَاتِمًا شَيْئًا مِنَ الوَحْيِ لَكَتَمَ هَذِهِ الآيَةَ: وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ (الأحزاب: ٣٧" الآيَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائيل يې چي که رسول الله صلي الله عليه وسلم چرته دوحي نه دکوم څيز پټونکي وي نو دا ايت " وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ " به يې پټ کړي وو ايت تر اخره پوري.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح : په مذکوره ايت کي دَ هغه اعتراضونو جواب دي. کوم چي مخالفينو کول. دَ دي نکاح په باره کي. او په دي کي ئي ټول شبهات دفع کړي دی کوم چي دَ مومنانو په زړونو کي پيدا کولي شول. مومنانو ته وئيلي شوي دی چي دَ نبی صلی الله عليه وسلم مرتبه او مقام ډېر اوچت دي. او نبی صلی الله عليه وسلم ته هم تلقين دي چي دَ کفارو او . منافقينو په اعتراضونو باندي صبر کوه.

****

٣٢٠٩ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: مَا كُنَّا نَدْعُو زَيْدَ بْنَ حَارِثَةَ إِلَّا زَيْدَ ابْنَ مُحَمَّدٍ، حَتَّى نَزَلَ القُرْآنُ: ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ (الأحزاب: ٥)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (٢)

[1] ـ تفرد به المؤلف. وانظر صحيح مسلم/الإيمان ٧٧ ٢٨٨/١٧٧) (تحفة الأشراف: ١٦٣٦)

[2] ـ تفرد به المؤلف

ترجمه دابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي فرمانيل يي چي مونږ به زيد بن حارثه ته دزيد بن محمد په نوم اواز كولو تردي پوري چي په قران كريم كي دا ايت "ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ" نازل شو.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٢١٠ـ حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ قَزَعَةَ البَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مَسْلَمَةُ بْنُ عَلْقَمَةَ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ عَامِرٍ الشَّعْبِيِّ، فِي قَوْلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ: مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِجَالِكُمْ (الأحزاب: ٤٠، قَالَ: مَا كَانَ لِيَعِيشَ لَهُ فِيكُمْ وَلَدٌ ذَكَرٌ. (١)

ترجمه: دعامر الشعبي نه دالله تعالي ددي قول " مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِجَالِكُمْ " باره كي مروي دي چي ددينه مراد دنارينه اولاد ژوندي نه پاتي كيدل دي.
(يعني څوك چي درسول الله سره داولاد كيدو علاقه نه لري لكه چي د "من رجالكم" په اضافت سره قطع داضافت درسول الله نه مقصود ده، رسول الله ته د داسي ابوت علاقه حاصله نه ده كوم چي په كوم صحيح دليل سره موجب دتحريم دهغه دښځي اوكرځي پس هر كله چي دطعن مبني باطل ده نو مبني به محض فاسد هم وي البته يو دويم قسم روحاني ابوت يقينا حاصل دي چنانچه، ته دالله رسول يي (او رسول په روحاني مربي كيدو سره اوس روحاني دي) او په دي كي په دومرد درجه كامل دي چي دټولو رسولانو نه اكمل او افضل دي چنانچي رسول الله دټولو نبيانو په اخر كي دي (او هر نبي چي داسي وي هغه په ابوت روحانيه كي هم دهرچانه مخكي وي ځكه چي دنوررو ترتيب خو غير مابد وي او دخاتم دوره دنبوت كه چري دنوررو انبياؤ دزماني نه زياته نه وي نو بيا هم دابوت دتقويت كيفيه دپاره نفس تابيد كافي كيږي نو هر كله چي زمانه هم دنوررو نه زياته شوه او تقويت مكيه هم منزم شو نو قوت نور هم زيات شو او كه دعموم دبعثت لحاظ هم اوكړي نو مزيد زيات قوت به نور هم حاصل شي مطلب داچي ابوت جسمانيه خو نشته كوم چي موجب داعتراض جوړيدو البته ابوت روحانيه په درجه دكمال كي دي او هغه پخپله قاطع داعتراض دي ځكه چي دنبي اعتقاد او دهغه انقياد فرض دي او كه څوك دا وسوسه اوكړي چي دا نكاح خو ناجائز نه ده ليكن كه شوي نه وي نو بهتر به وه چي داعتراض هدوموقعه راغلي نه وي نو دلته په دي پوهيدل پكار دي چي الله تعالي ته دهر

---

(١) ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /التفسير الأحزاب ٢ (٤٧٨٢)، و٥ (٤٧٨٦). صحيح مسلم/ فضائل الصحابة ١٠ (٢٤٢٥). ويأتي عند المؤلف في المناقب (٣٨١٤) (تحفة الأشراف: ٤٠٢١)

ځیزدوجود یا دعدم مصلحت ډیر ښه معلوم دي (پس ددي په وجود کی مصلحت وو نو ځکه یې دنبي دپاره تجویز کړو) بیان القران.

****

۳۲۱۱_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ كَثِيرٍ، عَنْ حُصَيْنٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ أُمِّ عُمَارَةَ الأَنْصَارِيَّةِ، أَنَّهَا أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: مَا أَرَى كُلَّ شَيْءٍ إِلَّا لِلرِّجَالِ، وَمَا أَرَى النِّسَاءَ يُذْكَرْنَ بِشَيْءٍ، فَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ: إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ (الأحزاب :٣٥) الآيَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَإِنَّمَا نَعْرِفُ هَذَا الْحَدِيثَ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (۱)

ترجمه دام عماره انصاریه رضي الله عنها نه روایت دي فرمائي چې زه دنبي کریم صلي الله علیه وسلم په خدمت کي حاضر شوم او عرض مې اوکړو څه وجه ده چې زه هر ځیز لره (په قران کي) دسړو دپاره وینم او دښځو په قران کي چرته ذکر نه وینم؟ تردي چې په دي باره کي دا ایت "إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ" ایت تر اخره پوري نازل شو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي او مونږ يې صرف په همدې يو سند پیژنو

تشریح: دقتاده نه منقول دي چې بعضي زنانه ازواج مطهراتو ته ورغلي او ورته يې وويل چې ستاسو ذکر خو په قران کي راغلو او زمونږ ندي راغلي یعني په دي موقع ندي راغلي نو په دي باره کي دا ایت نازل شو، ، اوپه بعضي روایاتو کي چې راغلي دي چې ام سلمه رضي الله عنها تمنا کړي وه چې زمونږ ذکر که په قران کي راشي نو ښه به وي نو په دي باره کي دا ایت نازل شو ،كذا في الدر ، او په دي کي دي داشبه ونکړي شي چې په پورتني ایت کي خو ددوی ذکر راغلي وو شاید چې تمنا به يې ددي خبري کړي وي چې د تشریع عام په طورد عامو ښځو ذکر هم راشي. اود نارینوو دذکرپه یوځاي کي دي ته اشاره ده ، استقلالا دجواب ذکر کولو ته ځکه ضرورت نشته چې شرائع په نارینه او زنانه کي مشترك دي، نو بیا نارینه متبوع وي دهغوی خطاب کافي وي. (درمنثور)

****

۳۲۱۲_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٨٣٢٤)

هَذِهِ الآيَةَ: وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللَّهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى النَّاسَ (الأحزاب :٣٧ فِي شَأْنِ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ جَاءَ زَيْدٌ يَشْكُو. فَهَمَّ بِطَلَاقِهَا. فَاسْتَأْمَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللَّهَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه دانس رضي الله عنه بيان دي فرماني چي ايت كريمه " وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللَّهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى النَّاسَ" دزينب بنت جحش رضي الله عنها په باره كي نازل شوي دي دزينب خاوند زيد راغلو او رسول الله ته يي شكايت كولو او زينب ته يي دطلاق وركولو اراده وه نو په دي وجه يي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه اجازت واخسته نورسول الله ورته اوفرمائيل " امسك عليك زوجك واتق الله" يعني خپله ښځه دخان سره اوساته طلاق مه وركوه او په دي باره كي دالله تعالي نه اوويريږه .

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث صحيح دي.

تشريح : او د "ماالله مبديه" تفسير په محبت وغيره سره كول لكه په بعضي اقوال شاذه وغيره مستند الي الدليل الصحيح كى دي ځكه چى ددوئ نه به تپوس كيږي چى بيا الله تعالي ددي ابداء چرته اوكړه په خلاف دتفسير بالنكاح چى په" زوجناكها" كى ددي ابداء شوي ده او د زوجناكها نه مراد يا خو دادي چى ظاهري نكاح ته هم حاجت نه وو يا دادي چى مونږ حكم كوو چى نكاح اوكړئ دواړه طرفونه مفسر شول او هر څوك په مقابل روايت كى مناسب تاويل كوي او كوم تفسير چى درجالكم شوي دي په هغي كى زنانه هم شريكي دي ليكن كلام دزيد باره كى كيږي نو ځكه درجال تخصيص شوي دي گوياكى عيسي عليه السلام به نبي وي او نبوت به يي حادث نه وي او په مستقل طور به نه راځي.(اشرف علي تهانوي)

****

٣٢١٣ـحَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الفَضْلِ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ فِي زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ فَلَمَّا قَضَى زَيْدٌ مِنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَاكَهَا (الأحزاب :٣٧) قَالَ: فَكَانَتْ تَفْخَرُ عَلَى أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، تَقُولُ: زَوَّجَكُنَّ أَهْلُكُنَّ، وَزَوَّجَنِي اللَّهُ مِنْ فَوْقِ سَبْعِ سَمَاوَاتٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /التفسير الأحزاب٦ (٤٧٨٧). والتوحيد ٢٢ (٧٤٢٠)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /التوحيد ٢٢ (٧٤٢١). سنن النسائي/النكاح ٢٦ (٣٢٥٢) (تحفة الأشراف: ٣٠٤. و مسند احمد(٣/٢٢٦)

ترجمه . دانس رضي الله عنه بيان دي فرماني چي كله ايت كريمه " فَلَمَّا قَضَى زَيْدٌ مِنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَاكَهَا" دزينب بنت جحش رضي الله عنها باره كي نازل شوي دي دانس بيان دي فرماني چي په همدي وجه هغي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په نورو بيبيانو دا فخر كولو چي ستاسو ودونه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره ستاسو اهل د كورنو كړي دي او زما واده ورسره الله تعالي په اوم اسمان كي كړي دي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٢١٤_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ السُّدِّيِّ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أُمِّ هَانِئٍ بِنْتِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَتْ: " خَطَبَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَاعْتَذَرْتُ إِلَيْهِ فَعَذَرَنِي، ثُمَّ أَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: إِنَّا أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَاجَكَ اللَّاتِي آتَيْتَ أُجُورَهُنَّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْكَ وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّاتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَالَاتِكَ اللَّاتِي هَاجَرْنَ مَعَكَ وَامْرَأَةً مُؤْمِنَةً إِنْ وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ (الأحزاب :٥٠ الْآيَةَ. قَالَتْ: فَلَمْ أَكُنْ أَحِلُّ لَهُ لِأَنِّي لَمْ أُهَاجِرْ، كُنْتُ مِنَ الطُّلَقَاءِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ السُّدِّيِّ. ([1])

ترجمه : دام هاني بنت ابي طالب رضي الله عنها بيان دي فرماني چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته دنكاح پيغام راكړو نو ما ورته معذرت اوكړو تردي چي رسول الله زما معذرت قبول كړو او بيا الله تعالي دا ايت كريمه " إِنَّا أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَاجَكَ اللَّاتِي آتَيْتَ أُجُورَهُنَّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْكَ وَبَنَاتِ عَمِّكَ وَبَنَاتِ عَمَّاتِكَ وَبَنَاتِ خَالِكَ وَبَنَاتِ خَالَاتِكَ اللَّاتِي هَاجَرْنَ مَعَكَ وَامْرَأَةً مُؤْمِنَةً إِنْ وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ" نازل كړو دام هاني بيان دي چي ددي ايت په بنا زه درسول الله دپاره حلاله نشوم خكه چي ما هجرت نه وو كړي دفتح مكي په موقعه زه د "الطلقاء" يعني د ازادو كړو غلامانو نه وم (او په همدغه وخت كي مي ايمان راوړي وو.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي او مونږ يي دسدي په روايت صرف په همدي سند پيژنو.

****

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٨٩٩٩)

٣٢١٥_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا رَوْحٌ، عَنْ عَبْدِ الحَمِيدِ بْنِ بَهْرَامَ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، قَالَ: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا " نُهِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَصْنَافِ النِّسَاءِ إِلَّا مَا كَانَ مِنَ المُؤْمِنَاتِ المُهَاجِرَاتِ ". قَالَ: لا يَحِلُّ لَكَ النِّسَاءُ مِنْ بَعْدُ وَلا أَنْ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ أَزْوَاجٍ وَلَوْ أَعْجَبَكَ حُسْنُهُنَّ إِلا مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ (الأحزاب :٥٢ فَأَحَلَّ اللَّهُ فَتَيَاتِكُمُ المُؤْمِنَاتِ وَامْرَأَةً مُؤْمِنَةً إِنْ وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ (الأحزاب :٥٠، وَحَرَّمَ كُلَّ ذَاتِ دِينٍ غَيْرَ الإِسْلَامِ، ثُمَّ قَالَ: وَمَنْ يَكْفُرْ بِالإِيمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ وَهُوَ فِي الآخِرَةِ مِنَ الخَاسِرِينَ (المائدة :٥ وَقَالَ: يَأَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَاجَكَ اللَّاتِي آتَيْتَ أُجُورَهُنَّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْكَ إِلَى قَوْلِهِ خَالِصَةً لَكَ مِنْ دُونِ المُؤْمِنِينَ (الأحزاب :٥٠ وَحَرَّمَ مَا سِوَى ذَلِكَ مِنْ أَصْنَافِ النِّسَاءِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الحَمِيدِ بْنِ بَهْرَامَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ الحَسَنِ يَذْكُرُ، عَنْ أَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ، قَالَ: لَا بَأْسَ بِحَدِيثِ عَبْدِ الحَمِيدِ بْنِ بَهْرَامَ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ.

([1])

ترجمه : دعبدالله ابن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم د مومنو او مهاجرو ښځو نه علاوه دنور ښځو سره دنكاح كولو نه منع كړي شو لكه چي الله تعالي فرمائيلي دي " لا يَحِلُّ لَكَ النِّسَاءُ مِنْ بَعْدُ وَلا أَنْ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ أَزْوَاجٍ وَلَوْ أَعْجَبَكَ حُسْنُهُنَّ إِلا مَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ " الله تعالي ستاسو دنبي دپاره ستاسو ځواني مومني مسلماني ښځي حلالي كړي دي " وامرءة مؤمنة ان وهبت نفسها للنبي" يعني هغه مومناني ښځي هم حلالي دي ځوك چي ځپل ځان پخپله پيغمبر ته پيش كړي او داسلام نه علاوه باقي هر دين والا ورباندي حرامي كړي شوي دي بيا الله تعالي اوفرمائيل "ومن يكفر بالايمان فقدحبط عمله وهو في الاخرة من الخاسرين" او الله تعالي دا هم فرمائيلي دي " يَأَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَاجَكَ اللَّاتِي آتَيْتَ أُجُورَهُنَّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِينُكَ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَيْكَ إِلَى قَوْلِهِ خَالِصَةً لَكَ مِنْ دُونِ المُؤْمِنِينَ" يعني دا حكم ستا دپاره خاص دي او دنورو مومنانو دپاره نه دي ،ځكه چي ددوئ نكاح بغير دمهر نه نشي كيدي، او ددوئ نه علاوه نور قسم ښځي حرامي كړي شوي دي په تاباندي

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن دي مونږ يي صرف دعبدالحميد بن بحران په

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٥٦٨٣)

روايت پيژنو احمد بن حنبل واني دشهر بن حوشب نه دعبدالحميد بن بحرام په روايت نقل كولو كي هيڅ حرج نشته.

ف: اتيت قيد واقعي دي ځكه چې ددي مصداق موجوده ازواج دي (مجاهد) او ظاهره ده چې په دي صورت كې قيد اشتراطي نشي كيدي، دويم په "افاء الله عليك" كې قيد اتفاقي دي اصل مقصود يي دادي چې سبب دتملك مشروع كيدل متيقن شي او فئ ددي يو مثال دي پس په اشتراء ياهبې سره چې څوك مملوك شي دهغه غير حال كيدل ثابت نه دي چنانچې په اخر دايت كې په ماملكت يمينك كې كوم قيد نشته كذا في الروح، دريم په دويم حكم كې چې "په خاص طور سره" لفظ راغلي دي ددي بيان خو چرته تصريحا زما دنظر نه نه دي تير شوي ليكن دكلام دسياق نه چې بيان دمقام داختصاص دي دومره معلوميږي چې دمملوكاتو په باره كې هم كوم حكم درسول الله دپاره خاص دي (كذا في الكبير في تفسير قوله تعالي قد علمنا الخ، فان له في النكاح خصائص ليس لغيره).

پاتي شوه دا چې دا څه شي دي نو څه عجيبه نه ده چې هغه دا وي چې كومه وينځه درسول الله سره داخري زندګئ پوري وي لكه ماريه قبطيه دادي دنورو دپاره حرامه وي پشان دازواجو نقله في الروح في تفسير قوله تعالي ولا ان تنكحوا ازواجه او ممكن ده چې ددينه علاوه نور څه وي كوم چې هغه زماني والاته معلوم دي او خاص دهغوئ دمعلومولو ضرورت دي ځكه چې هم هغه داختصاص دظهور وخت وو ددومره ليكلو نه پس كله چې دماسپخين په مونځ اودريدم نو من جانب الله مي په زړه كې دمملوكاتو دوه احكام وارد شول يو داچې دغنيمت دتقسيم نه مخكي درسول الله سره دغنيمت ديو ځيز اخستلو اختيار موجود وي او دغه ځيز ته به صفي وئيلي شو لكه په غزوه خيبر كې چې يي صفيه رضي الله عنها اخستلي وه (رواه ابو داود) او دنورو اهل حرب دطرفه چې به كومه خاص هديه راتلله هغه به درسول الله به لكه چې مقوقس بادشاه ماريه په هديه كې وركړي وه خو دبل چا دپاره صفي جائز نه دي او هديه دعامو مسلمانانو حق دي كذا في الدر المختار، څلورم حكم په دريم كې چې هاجرن قيد راغلي دي دا قيد احترازي دي لكه چې دام هاني بنت ابي طالب رضي الله عنها دقول نه معلوميږي فلم اكون احله لاني لم اهاجر معه كنت من الطلقاء ، او همدا رنګي د لايحل لك النساء من بعد چې كوم تفسير ما اختيار كړي دي ددي تائيد دابن عباس دمجاهد نه منقول دي چنانچې دمجاهد الفاظ دادي لا يحل لك النساء من بعد ما بينت لك هذه الاصناف بنات عمك الي قوله فاحل له من هذه الاصناف ماشاء ، پنځم حكم دبنات عم او عمات او بنات خال او خالات چې كوم تفسير شوي دي په معالمو او نورو تفسيرونو كې داسي دي پس خاص عم او خال عمه او

خاله مراد نه دي، شپږم حکم په څلورم کی چی دواهباتو ذکر راغلي دي په دي کی ان وهبت شرط نه دي بلکه شرط خو صرف ایمان دي او دا قید درفعي دشبهي دپاره دي او اثبات الحکم في النکاح بالاولي دپاره دي څکه چی حره محل دهبي نه ده کله چی په دي بلا عوضه عقد دا حلالیږي نو په نکاح بالعوض سره خو به په طریقه اولي حلالیږي پس حاصل داشو چی داقاربو دپاره خو هجرت شرط دي او داجانبو دپاره ایمان کافي دي گویا کی چی بغیر عوضه نکاح اوشي قاله شعبي او په دي کی اختلاف دي چی داسي کومه بي بي وه او که نه وه قائلینو داول قول دا نومونه خودلي دي خوله بنت حکیم، ام شریك، میمونه، لیلي بنت حطین، په دي کی د ثانیه متعلق قبلها الفاظ هم راغلي دي او ثالثه په ازواجو کی مشهوره ده او باقي به بي نه وي قبول کړي دقول ثاني قائلین وائي لم یکن عندرسول الله صلي الله علیه وسلم امرئة وهبت نفسها له پس کلام به په طور دشرط او جزا وي چی که داسي اوشي نو درست به وي لیکن داسي نه دي شوي یعني شرط ثاني ان ارادالنبي متحقق شوي نه دي او اولني شرط ان وهبت یقینا واقع شوي دي خو قائلین دقول ثاني روایات د قائلین دقول اول ثابت نه مني ممکن ده چی په دي کی دچاسره نکاح شوي وي په لفظ دهبي به نه وي ، اوم حکم په څلورم کی چی مومنه قید راغلي دي هغه هم دهجرت دقید پشان احتراضي دي چنانچی د لایحل لك النسـاء په تفسـیر کی هم دیته اشاره شوي وه او همدا تفسیر دمجاهد نه منقول دي "لایحل لك النساء من بعد یهودیات ولا نصرانیات لاینبغي ان یکن امهات المؤمنین الا ماملکت یمینك قال هي الیهودیات والنصرانیات لاباس ان یشتریها" اتم حکم دلته اوه احکام مختص دي داولني حکم اختصاص دادي چی په دغه وخت کی درسول الله نهه ببیاني وي او دومره ببیاني په نکاح کي جمع کول دکوم امتي دپاره جائز نه دي وجه دشرف کیدل ددي ظاهر دي د دویم حکم داختصاص تقریر په دریمه فائده کی تیر شوي دي او ددي وجه دشرف کیدل هم ظاهر دي په دریم حکم کی اختصاص دادي هجرت قید چي دنورو خلقو دپاره نه دي په دي کی هم درسول الله شرف ظاهر دي چی اکمل څیز دده دپاره تجویز کړي شوي دي، دڅلورم حکم داختصاص وجه داده چي مهر ورباندي واجب شوي ندي. په دي کي امتیاز ظاهر دي دپنځم حکم تقریر هم ددریم پشان دي، دشپږم حکم اختصاص وجه دشرف کیدل ظاهر دي د اوم حکم اختصاص هم ظاهر دي چي دنورو امتیانو دپاره دا تبدل ممنوع ندي موجب دشرف کیدل په دي وجه چي په دي تبدل سره شبه دعدد کیدل دي ، پداسي شان سره که بل امتي څلور ببیاني ساتي نو پنځمه ورله بغیر دمذکوره تبدل نه جائز نده پس دا په موجب دشرف کیدو کي اولني حکم ته قریب تر ده.

نهمه فائده په اولني ایت کي چي خالصة راغلي دي زمخشري داد څلورو متعلق گرخولي دي.

لــمه فائده په اولنو پنځه حکمونو کي چي کوم حکمت بيان شوي دي لکي لا يکون عليك حرج هلته په تفسير کي ددريم اوپنځم حکمت بيان اجمالا شوي دي او ددويم حکم دتقرير وعده شوي ده باقي دشپږم حکم حکمت پخپله په قران کي وارد دي چي ذلك ادنی ان تقر اعينهن ، الخ، اود اوم حکم حکمت دا کيدي شي چي په داسي تبدل کي کم فهمه خلق په شبه دغرض پرستئ کي واقع کيدي شي، چي دخپلي يوي نفساني نفع دپاره جديد مسائل حاصل شي. او قديمي ته ضرر اورسولي شي په خلاف ددي چي قديمي ته طلاق او دجديدي سره نکاح مجتمع نه وي نو بيا ددي شبهي گنجائش نه شي کيدي.(بيان القران)

****

٣٢١٦ـحَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرٍو، عَنْ عَطَاءٍ، قَالَ: قَالَتْ عَائِشَةُ: " مَا مَاتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أُحِلَّ لَهُ النِّسَاءُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دعطاء نه مروي دي فرمائيلي يي دي چي عائشه رضي الله عنها اوفرمائيل درسول الله صلي الله عليه وسلم دوفات کيدو نه مخکي هغه ته ښځي حلالي کړي شوي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٢١٧ـحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى. حَدَّثَنَا أَشْهَلُ بْنُ حَاتِمٍ، قَالَ ابْنُ عَوْنٍ: حَدَّثَنَاهُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: " كُنْتُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَأَتَى بَابَ امْرَأَةٍ عَرَّسَ بِهَا. فَإِذَا عِنْدَهَا قَوْمٌ فَانْطَلَقَ فَقَضَى حَاجَتَهُ فَاحْتُبِسَ. ثُمَّ رَجَعَ وَعِنْدَهَا قَوْمٌ فَانْطَلَقَ فَقَضَى حَاجَتَهُ فَرَجَعَ وَقَدْ خَرَجُوا، قَالَ: فَدَخَلَ وَأَرْخَى بَيْنِي وَبَيْنَهُ سِتْرًا، قَالَ: فَذَكَرْتُهُ لِأَبِي طَلْحَةَ، قَالَ: فَقَالَ: لَئِنْ كَانَ كَمَا تَقُولُ لَيَنْزِلَنَّ فِي هَذَا شَيْءٌ. فَنَزَلَتْ :الْحِجَابِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَعَمْرُو بْنُ سَعِيدٍ، يُقَالُ لَهُ: الْأَصْلَعُ. ([2])

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرماني چي زه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره

---

[1] ـ سنن النسائي/النكاح ٣ (٣٢٠٦، ٣٢٠٧) (تحفة الأشراف: ١٧٣٤٩) . وسنن الدارمي/النكاح ٤٣ (٢٢٨٧)

[2] ـ راجع: اورده البخاري في الجامع الصحيح /النكاح ٦٤ (٥١٦٦) . والأطعمة ٥٩ (٥٤٦٦) . والاستئذان ١٠ (٦٢٣٨) . وصحيح مسلم/النكاح ١٥ (١٤٢٨) (تحفة الأشراف: ١١٠٩)

موجود وم چي هغوی پخپلو بيبيانو کي ديوي بي بي دروازي ته ورغلو چي هلته يي دشپي تيرولو اراده وه هلته يي څه کسان موجود اوليدل نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ددغه خاي نه لاړو او خپل څه ضروري کارونه يي اوکړل او يوه شيبه حصار وو او بيا دوباره راغلو نو بيا هغه خلق دا وخت ددي خاي نه تلي وو دانس رضي الله عنه بيان دي بيا دننه داخل شو او زمونږ او خپل مينځ کي يي يوه پرده زوړنده کړه مادذي خبري ذکرابوطلحه ته اوکړو هغه اوونيل که خبره همداسي وي لکه چي ته يي وائي نو دي باره کي به ضرور کوم حکم نازليږي تردي چي بيا ايت دحجاب نازل شو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند غريب دي.

****

٣٢١٨_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ الضُّبَعِيُّ، عَنِ الْجَعْدِ بْنِ عُثْمَانَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: تَزَوَّجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ بِأَهْلِهِ، قَالَ: فَصَنَعَتْ أُمِّي أُمُّ سُلَيْمٍ حَيْسًا فَجَعَلَتْهُ فِي تَوْرٍ، فَقَالَتْ: يَا أَنَسُ اذْهَبْ بِهَذَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْ لَهُ: بَعَثَتْ إِلَيْكَ بِهَا أُمِّي وَهِيَ تُقْرِئُكَ السَّلاَمَ، وَتَقُولُ: إِنَّ هَذَا لَكَ مِنَّا قَلِيلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: فَذَهَبْتُ بِهِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: إِنَّ أُمِّي تُقْرِئُكَ السَّلاَمَ، وَتَقُولُ: إِنَّ هَذَا مِنَّا لَكَ قَلِيلٌ، فَقَالَ: " ضَعْهُ "، ثُمَّ قَالَ: " اذْهَبْ فَادْعُ لِي فُلاَنًا وَفُلاَنًا وَمَنْ لَقِيتَ فَسَمَّى رِجَالاً "، قَالَ: فَدَعَوْتُ مَنْ سَمَّى وَمَنْ لَقِيتُ، قَالَ: قُلْتُ لأَنَسٍ عَدَدُ كَمْ كَانُوا ؟ قَالَ: زُهَاءَ ثَلاَثِ مِائَةٍ، قَالَ: وَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أَنَسُ هَاتِ التَّوْرَ"، قَالَ: فَدَخَلُوا حَتَّى امْتَلأَتِ الصُّفَّةُ وَالْحُجْرَةُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لِيَتَحَلَّقْ عَشَرَةٌ عَشَرَةٌ، وَلْيَأْكُلْ كُلُّ إِنْسَانٍ مِمَّا يَلِيهِ "، قَالَ: فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا، قَالَ: فَخَرَجَتْ طَائِفَةٌ وَدَخَلَتْ طَائِفَةٌ حَتَّى أَكَلُوا كُلُّهُمْ، قَالَ: فَقَالَ لِي: "يَا أَنَسُ، ارْفَعْ"، قَالَ: فَرَفَعْتُ فَمَا أَدْرِي حِينَ وَضَعْتُ كَانَ أَكْثَرَ أَمْ حِينَ رَفَعْتُ، قَالَ: وَجَلَسَ مِنْهُمْ طَوَائِفُ يَتَحَدَّثُونَ فِي بَيْتِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ وَزَوْجَتُهُ مُوَلِّيَةٌ وَجْهَهَا إِلَى الْحَائِطِ، فَثَقُلُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَخَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ عَلَى نِسَائِهِ ثُمَّ رَجَعَ، فَلَمَّا رَأَوْا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ رَجَعَ ظَنُّوا أَنَّهُمْ قَدْ ثَقُلُوا عَلَيْهِ، قَالَ: فَابْتَدَرُوا الْبَابَ فَخَرَجُوا كُلُّهُمْ، وَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَرْخَى السِّتْرَ وَدَخَلَ وَأَنَا جَالِسٌ فِي الْحُجْرَةِ، فَلَمْ يَلْبَثْ إِلاَّ يَسِيرًا حَتَّى خَرَجَ عَلَيَّ وَأُنْزِلَتْ هَذِهِ الآيَاتُ، فَخَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَأَهُنَّ عَلَى

النَّاسِ: "يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلَكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا وَلا مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ (الأحزاب: ٥٣) إِلَى آخِرِ الآيَة". قَالَ الْجَعْدُ: قَالَ أَنَسٌ: أَنَا أَحْدَثُ النَّاسِ عَهْدًا بِهَذِهِ الآيَاتِ، وَحُجِبْنَ نِسَاءُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَالْجَعْدُ هُوَ ابْنُ عُثْمَانَ، وَيُقَالُ: هُوَ ابْنُ دِينَارٍ، وَيُكْنَى أَبَا عُثْمَانَ بَصْرِيٌّ وَهُوَ ثِقَةٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ. رَوَى عَنْهُ يُونُسُ بْنُ عُبَيْدٍ، وَشُعْبَةُ وَحَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ. ([1])

ترجمه دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم نكاح اوكړه او دخپلي ښځي (زينبت بنت جحش رضي الله عنها) خواته ورغلو او په دي موقعه زما مور ام سليم رضي الله عنها حيس تيار كړو او دا يي په يو وړوكي لوښي كي واچولو او بيا يي ماته اووئيل اي انس دا خان سره واخله اورسول الله صلي الله عليه وسلم ته يي ورسوه او ورته اووايه دا خوراك زما مور تاسو ته ليږلي دي او هغوئ تاته سلام پيش كوي او ورته اووايه اي دالله رسوله چي دا وړه شان هديه زما دطرفه ستاسو په خدمت كي پيش كيږي مادا لوښي راپورته كړو او رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راغلم او عرض مي اوكړو زما مور سلام پيش كوي او وائي چي دا وړه شان هديه زما دطرف نه قبول كړي رسول الله اوفرمائيل دا كيږده او بيا يي اوفرمائيل لاړ شه او فلاني او فلاني او يو څو نومونه يي واخستل چي په دوئ كي څوك درته ملاؤ شي ټول ماته راوله دانس بيان دي رسول الله چي دكومو كسانو نومونه اخستلي وو هغوئ ټول او څوك چي به په تگ راتگ كي ماسره ملاويدو ټول مي راوغوښتل دحديث دراوي جعد بن عثمان بيان دي مادانس رضي الله عنه نه تپوس اوكړو چي دا خلق به تقريبا ټول څومره وو هغه اووئيل تقريبا دري سوه، انس رضي الله عنه وائي بيا ماته رسول الله اوفرمائيل اي انس دا لوښي راوړه، انس وائي خلق دننه داخل شول ترددي پوري چي صفه او كمره ټول ډك شو رسول الله اوفرمائيل دلسو لسو كسانو پيندي جوړي كړئ او هر يو سړي دي دخپلي مخي نه خوري خلقو په مړه خيټه خوراك اوكړو يوه پينده چي به مړيدله دا به بهر وتله او بله پينده به دننه داخليده په دي شان سره ټولو خوراك اوكړو رسول الله ماته اوفرمائيل اي انس اوس دا لوښي راوچت كړه ما لوښي اوچت كړو مگر صحيح صحيح وئيلي نشم چي كله ما دا لوښي راوړي وو هغه وخت به دي كي حيث زيات وو او كه دلوښي پورته كولو نه پس پكي

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /النكاح ٦٥ (تعليقا) صحيح مسلم /النكاح ١٥ (٩٣/١٤٢١). وانظر ماقبله (تحفة الأشراف: ٥١٣)

زيات وو؟ کله چي خلق دخوراك نه فارغ شول ، راوي وائي چي بيا يو څو کسان هلته ناست پاتي شول چي ګپ شپ او خبري يي شروع کړي او رسول الله صلي الله عليه وسلم هم موجود وو او درسول الله صلي الله عليه وسلم بي بي محترمه هم دديوال نه اخوا ديوال طرف ته مخامخ ناسته وه مګر درسول الله صلي الله عليه وسلم دخلقو دغه شان ناسته خوښه نشوه لهذا بهر اووتلو او دټولو ازواجو مطهراتو حجرو ته يي چکر اولګولو او دسلام کولو نه بعد واپس راغلو کله چي هغوئ رسول الله صلي الله عليه وسلم دواپس راتلو په حال کي اوليدو نو ورته معلومه شوه چي ددوئ په ناسته رسول الله صلي الله عليه وسلم خوشحاله نه دي او دا ناسته يي خوښه نه شوه لهذا په جلتئ سره ټول د دروازي نه بهر اووتلو او رسول الله دننه داخل شو او دپردي اچولو نه پس داخل شو انس رضي الله عنه وائي زه په حجره کي ناست وم يوه شيبه چي تيره شوه رسول الله صلي الله عليه وسلم زما خواته راغلو او دا ايتونه نازل شول او رسول الله صلي الله عليه وسلم بهر اووتلو او خلقو ته يي دا ايتونه واورول " يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلَكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا وَلا مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ" اي مومنانو دنبي کورته (بغير بللو) مه ورځئ مګر کله چي تاسو دطعام دپاره اوبللي شئ (نوڅه مضائقه نشته مګر بيا هم تلل پداسي شان سره) چي ددي طعام تياريدو ته به انتظار کوونکي نه يئ (يعني بي دعوته خو مه ورځئ او که دعوت درکړي شوي هم وي نو بيا هم ډير دمخکي نه مه ورځئ) مګر کله چي تاسو وبللي شئ (چي اوس راشئ خوراك تيار دي) نو بيا خير دي تلي شئ (نو بيا چي کله د خوراك کولو نه فارغ شئ نو فورا به ځئ او خبرو ته غوږ اينښودونکي مه کيني (ځکه چي نبي داسي خبري نه خوښوي ، هغه خو ستاسو لحاظ کوي (اوپه خوله درته نه وايي چي رخصت شئ) ، دجعد بيان دي چي انس رضي الله عنه اووئيل دا ايتونه دهر چانه مخکي ماته رسيدلي دي او ازواج مطهراتو ددغي ورځي نه پس پرده کول شروع کړل.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي او جعد دعثمان ځوي دي هغه ته ابن دينار هم ونيلي شي کنيه يي ابوعثمان بصري ده او دمحدثينو په نزد ثقه راوي دي يونس بن عبيد ، شعبه او حمدا بن زيد دده نه نقل دروايت کوي.

ف: په اولني ايت کی چی کوم احکام د دخول دبيوت او طعام مذکور دي هغه په تصريح دعلماؤ سره رسول الله پوري خاص نه دي يعني دا قسم خبري که چاته ګراني او ناخوښه وي نو جائز نه دي او د "فيستحي منکم والله لايستحي من الحق" په وجه دي دا شبه اونکړي شي چي رسول الله به کله کله اظهار دحق نه کولو اصل خبره داده چي اظهار دحق واجب دي او داالله حق دي او دکوم کار نه چی دهغه استحياء واقع شوي وي هغه حق النفس دي چی پخپل خان

بې مشقت برداشت كړي دي ددېنه دشرعي حكم اخفاء نه لازمېږي ترديو چې منشاء دوسوسي گرځي او دحجاب په مسئله كې د "واذا سالتموهن" دزياتولو فائده دترجمې په تقرير كې ظاهره ده چې دمبالغې دپاره دي يعني هسې خو به حجاب ولي ضروري نه وي كله چې دداسې حاجت شديده په وخت كې هم ضروري دي او دا ايت دحجاب دايت "وقرن في بيوتكن" نه مقدم دي ځكه چې ددې نزول دزينب رضي الله عنها په اولني واده كې شوي دي او دتخير دايت وخت چې "وقرن " الخ، سره متعلق دي ددې نزول دزينب دنكاح نه پس شوي دي چنانچې په مخيراتو كې هغه هم شامله ده دكوم نه مخكې چې طلب دنفقاتو شوي وو چې ددې دواده دزماني نه پس په دوئ كې ډير اتفاق شروع شو پس په دې ايت حجاب فرض شو او په "قرن" سره ددې تاكيد اوشو او مسائل دحجاب او دقرار في البيوت دايت "وقرن" په تفسير كې مذكور دي دازواج مطهراتو سره دنكاح حرمت خو مجملا منصوص او اجماعي دي البته په بعضې تفصيلاتو كې اختلاف دي امام الحرمين او رافعي تحريم لره په مدخول بها پورې خاص كړي دي او امام رازي او غزالي وغيره هغه زوجه حلاله گڼي څوك چې دتخير نه پس دنيا لره اختيار كړي او بعضې علماؤ په مملوكاتو كې صرف هغه حرامې كړي دي كومې چې دوفات دوخته پورې درسول الله سره وي او په ايت "لاجناح عليهن" كې چې كوم مستثنايات دي په دوئ كې انحصار مقصود نه دي بلكه جميع محارم نسبيه وي او كه رضاعيه او كوم چې په ايت دسورة نور كې ذكر دي ټول مراد دي ددې ايت دبعضې اجزاؤ تفسير په سورة نور كې تير شوي دي.

قوله تعالى "ان ذلكم كان يؤذي النبي" الخ، دذلكم مشار اليه دخوراك نه پس درسول الله په كور كې حصاريدل دي ددېنه دوه خبرې معلومې شوې يو دا چې په داسې موقعه په واضح طور نه وئيل دطبعي كرم مقتضي ده او په صفا طور وئيل دعقل حكيم مقتضي ده پس مصلح دمقتضي دعقل لره په مقتضي دطبع ترجيح وركوي، دويمه خبره دمعاشرې داصلاح واجب كيدل او په كوم حركت چې نورو ته ضرر رسيږي او ضروري نه وي دهغې حرام كيدل، نن سبا په اهل علمو او مشائخو كې هم په دې امورو كې احتياط نه موندلې كيږي.

****

٣٢١٩ـ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ بْنِ مُجَالِدٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ بَيَانٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: " بَنَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِامْرَأَةٍ مِنْ نِسَائِهِ، فَأَرْسَلَنِي فَدَعَوْتُ قَوْمًا إِلَى الطَّعَامِ، فَلَمَّا أَكَلُوا وَخَرَجُوا قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْطَلِقًا قِبَلَ بَيْتِ عَائِشَةَ، فَرَأَى رَجُلَيْنِ جَالِسَيْنِ فَانْصَرَفَ رَاجِعًا، فَقَامَ الرَّجُلَانِ فَخَرَجَا، فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

لا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ (الأحزاب: ٥٣". وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ بَيَانٍ، وَرَوَى ثَابِتٌ عَنْ أَنَسٍ هَذَا الْحَدِيثَ بِطُولِهِ. ([1])

ترجمه دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپلو بيابيانو كي ديو بي بي سره واده اوكړو د واده شپه چي تيره شوه بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم زه په څه كسانو پسي اوليږلم كله چي خلقو خوړل څكل اوكړل او رخصت شول نو رسول الله پاځيدو او دعائشه رضي الله عنها دكور طرف ته يي مخه اوكړه چي بيا يي په دوه ناستو كسانو نظر اولګيدو رسول الله فورا راواپس شو (او هغوئ ته درسول الله دواپسي احساس اوشو) نو دواړه فورا پاځيدل او ددي خاي نه اووتل په همدي موقعه الله تعالي ايت كريمه " يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلَكِنْ إِذَادُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا وَلا مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ " نازل كړو او په دي حديث كي يوه اوږده قصه ده.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي په روايت دبيان او ثابت دانس نه داحديث نقل كړي دي او يوه اوږده قصه يي بيان كړي ده.

****

٣٢٢٠_حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ نُعَيْمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْمُجْمِرِ، أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ الأَنْصَارِيَّ، وَعَبْدَ اللَّهِ بْنَ زَيْدٍ الَّذِي كَانَ أُرِيَ النِّدَاءَ بِالصَّلاةِ أَخْبَرَهُ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الأَنْصَارِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: أَتَانَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ فِي مَجْلِسِ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ، فَقَالَ لَهُ بَشِيرُ بْنُ سَعْدٍ: أَمَرَنَا اللَّهُ أَنْ نُصَلِّيَ عَلَيْكَ، فَكَيْفَ نُصَلِّي عَلَيْكَ ؟ قَالَ: فَسَكَتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى تَمَنَّيْنَا أَنَّهُ لَمْ يَسْأَلْهُ، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قُولُوا: " اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ فِي الْعَالَمِينَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، وَالسَّلامُ كَمَا قَدْ عُلِّمْتُمْ ". وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَلِيٍّ، وَأَبِي حُمَيْدٍ، وَكَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، وَطَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَزَيْدِ بْنِ خَارِجَةَ، وَيُقَالُ: ابْنُ جَارِيَةَ، وَبُرَيْدَةَ. قَالَ أَبُو

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /النكاح ٦٩ (٥١٧٠)، وانظر ماقبله (تحفة الأشراف: ٢٥٤)

عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه دابومسعود بدري رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته راغلو اومونږ دسعد ابن عباده رضي الله عنه سره ناست وو نو دسعد خوئ بشير عرض اوکړو يا رسول الله مونږ ته الله تعالي تاسو باندی درود ويلو حکم کړی دی . نو مونږ په څنګه الفاظو درود ووايو. رسول الله صلي الله عليه وسلم يوساعت غلی شو فورا يې جواب ورنکړو، دومره ډير ساعت غلی وو چي مونږ اووئيل کاش چي ده دا تپوس نه وی کړی بيا کافي ساعت پس رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل درود داسی واني اللهم صلي علي محمد وعلي ال محمد کما صليت علي ابراهيم وبارك علي محمد وعلي ال محمد کما بارکت علي ابراهيم في العالمين انك حمد مجيد، اودسلام طريقه خو درته معلومه ده په تشهد کښ بنودلي شوی ده.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دعلي، ابوحميد، کعب بن عجره، او طلحه بن عبيدالله، ابوسعيد خدري، او زيد بن خارجه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او زيد ته ابن جاريه او ابن بريده هم وئيلي شي.

لغات : مجلس: جلس يجلس جلوسا معني کيناستل المجلس معني دناستي ځاي، الجليس همنشين جلساء يي جمع ده.

تشريح امرنا الله ان نصلي عليك: الله تعالي مونږ ته حکم کړی دی چي په تا باندي درود اووائي ددينه مراد دقران کريم دا ايت دی "ياايهاالذين امنوا صلوا عليه وسلموا تسليماً الايه:

حتي تمنينا انه لم يسئله: تردي پوري چي مونږ دا تمنا اوکړه چي کاش درسول الله نه دا سوال شوی نه وی ځکه چي دسوال نه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم خاموش شو نو صحابه کرام اوبريدل هسي نه چي دا سوال چرته دنبوت دمنشاء خلاف نه وي ددي سوال دکولو په وجه خو مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلم ته تکليف ورکړو يا دا چي رسول الله ته به ددي سوال جواب معلوم نه وي نو ځکه يي خاموشي اختيار کړه.

په بعضي روايتونو کي راغلي دي چي ددينه پس په رسول الله صلي الله عليه وسلم وحي نازله شوه او بيايي پورتنی مذکوره حديث بيان کړو.

په يو بل روايت کي راغلي دي کله چي يو صحابي سوال اوکړو چي دسلام طريقه خو مونږ ته معلومه شوه ليکن کله چي په مونځ کي يو نو په تا باندي به درود څنګه وايو ددي سوال په

---

[1] ـ صحيح مسلم /الصلاة ۱۷ (۴۰۵) . سنن ابي داود/ الصلاة ۱۸۳ (۹۸۰) . سنن النسائي/السهو ۴۹ (۱۲۸۶) (تحفة الأشراف: ۱۰۰۰۶) . موطا امام مالک/ صلاة السفر ۲۲ (٦٧) . ومسند احمد (۵/۲۷۳) . وسنن الدارمي/الصلاة ۸۵ (۱۳۸۲)

اوريدو سره رسول الله صلي الله عليه وسلم اوږده خاموشي اوکړه مونږ دا خواهش اوکړو چي کاش دا سوال مو ورنه کړی نه وی او بيارسول الله ددينه پس اوفرمائيل په مونځ کې به درود ضرور وائي "اللهم صلي علي محمد الخ"

****

٣٢٢١_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، عَنْ عَوْفٍ، عَنِ الحَسَنِ، وَمُحَمَّدٍ، وَخِلَاسٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَّ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام كَانَ رَجُلًا حَيِيًّا سَتِيرًا مَا يُرَى مِنْ جِلْدِهِ شَيْءٌ اسْتِحْيَاءً مِنْهُ، فَآذَاهُ مَنْ آذَاهُ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ". فَقَالُوا: مَا يَسْتَتِرُ هَذَا التَّسَتُّرَ إِلَّا مِنْ عَيْبٍ بِجِلْدِهِ، إِمَّا بَرَصٌ، وَإِمَّا أُدْرَةٌ، وَإِمَّا آفَةٌ، وَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ أَرَادَ أَنْ يُبَرِّئَهُ مِمَّا قَالُوا، وَإِنَّ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام خَلَا يَوْمًا وَحْدَهُ فَوَضَعَ ثِيَابَهُ عَلَى حَجَرٍ، ثُمَّ اغْتَسَلَ، فَلَمَّا فَرَغَ أَقْبَلَ إِلَى ثِيَابِهِ لِيَأْخُذَهَا، وَإِنَّ الحَجَرَ عَدَا بِثَوْبِهِ فَأَخَذَ مُوسَى عَصَاهُ فَطَلَبَ الحَجَرَ، فَجَعَلَ يَقُولُ: ثَوْبِي حَجَرُ ثَوْبِي حَجَرُ، حَتَّى انْتَهَى إِلَى مَلَإٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ فَرَأَوْهُ عُرْيَانًا أَحْسَنَ النَّاسِ خَلْقًا، وَأَبْرَأَهُ مِمَّا كَانُوا يَقُولُونَ، قَالَ: وَقَامَ الحَجَرُ فَأَخَذَ ثَوْبَهُ وَلَبِسَهُ وَطَفِقَ بِالحَجَرِ ضَرْبًا بِعَصَاهُ فَوَاللهِ إِنَّ بِالحَجَرِ لَنَدَبًا مِنْ أَثَرِ عَصَاهُ ثَلَاثًا أَوْ أَرْبَعًا أَوْ خَمْسًا فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى: يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَكُونُوا كَالَّذِينَ آذَوْا مُوسَى فَبَرَّأَهُ اللهُ مِمَّا قَالُوا وَكَانَ عِنْدَ اللهِ وَجِيهًا (الأحزاب: ٦٩". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَفِيهِ عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [1]

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي موسي عليه السلام يو حيادار او پرده پوش انسان دي دهغه دبدن هيڅ يوه حصه دهغه نه دشرم کولو په وجه ځانشوه کتلي نو تکليف ورته اورسولو هغه چا چي تکليف يي ورته رسولي وو دبني اسرائيلو نه هغوئ ونيل دا کس دومره مضبوطه پرده صرف په دي وجه کوي چي يا خو به په ده باندي دچرمي بيماري وي، يا به ورباندي ابرص مرض وي، او يا به يي شرم ګاه پرسوب کړي وي او يا ورباندي چرته کوم بل مرض لګيدلي وي، الله تعالي اوغوښتل چي په ده باندي کوم تهمت او الزامونه لګولي شي دهغي نه دده برائت ظاهر کړي (نو داسي اوشول) موسي عليه

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /أحاديث الأنبياء ٢٨ (٣٤٠٣)، وتفسير سورة الأحزاب ١١ (٤٧٩٩) (تحفة الأشراف: ١٢٢٤٤، و١٢٣٠٢، و١٤٤٨٠)

السلام یوه ورځ یواځي وو چي جامي یي اوویستلي او په یو کمریي کیخودي او دغسل کولو اراده یي وه، کله چي دغسل کولو نه فارغ شو او پخپلو جامو پسي واپس راغي نو کمر ورنه جامي اوتختولي موسي عليه السلام خپله همسا راوچته کړه او کمر ته به یي اوازونه کول او دا الفاظ به یي ونیل "ثوبي حجر ثوبي حجر" یعني اي کانړیه زما جامي اي کانړیه زما جامي راکړه او ددي وینا کولو په حال کي وریسي وو تردي پوري چي دا کانړي دبني اسرائیلو یو جماعت ته وررورسیدو نورو خلقو هغه لره په دغه حالت کي دخلقت په لحاظ دهر چانه بهتر اولیدله او الله تعالي ورته دټولو خرابیانو او عیبونو نه پاك او صاف اوخودل کوم عیب چي به هغوئ په ده کي بیانو لو هغه نه وو رسول الله اوفرمائیل چي بیا دا کانړي اودریدو او موسي عليه السلا م ورنه خپلي جامي واخستلي او بیا یي واغوستلي او بیا یي پخپله همسا په کانړي غوزارونه شروع کړل قسم په الله چي بیا په دغه کانړي باندي دموسي عليه السلام دهسا دګذار څلور یا پنځه نشانات لیدلي کیده او همدا مطلب دي ددي ایت کریمه "یا ایها الذین امنوا لاتکونوا کالذین اذوا موسي فبراه الله مما قالو وکان عندالله وجیها".

امام ترمذي رحمه الله وایي: داحدیث حسن صحیح دي دا حدیث په یو څو نورو سندونو هم دابوهریره رضي الله عنه په واسطه دنبي کریم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي او په دي باب کي یو حدیث دانس په واسطه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مروي دي.

****

٣٥_باب وَمِنْ سُورَةِ سَبَإٍ

دسورة سبا دبعضي ایتونو تفسیر

وجه دتسمیه اوشان نزول د سورت

نوم د سورت د ایت. ١٥ د جملي : لقد كان لسبأ في مسكنهم اية، نه اخستلی شوی دی. یعنی هغه سورت چه په هغی کي د سَبَا ذکر راغلی دی.

د نزول زمانه: د دی د نزول زمانه په معتبر روایت سره نهٔ معلومه ده. البته د بیان د انداز نه معلومیږی چه دا د مکی په مینځنی دور کي نازل شوی دی یا په اول دور کي. که په مینځنی دور کي وی نو غالبًا دا د ابتدائی زمانی سره تعلق لری: ځکه چه د ظلم اوستم سختی زیاته نهٔ وه. صرف توقی مسخری او افواګانی وی. دروغ الزامونه وو او د وسوسو په ذریعه د اسلامی تحریك مخالفت کیدلو.

٣٢٢٢_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، وَعَبْدُ بْنُ حميد، وغير واحد، قَالُوا: أَخْبَرَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ

الحَكَمِ النَّخَعِيِّ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو سَبْرَةَ النَّخَعِيُّ، عَنْ فَرْوَةَ بْنِ مُسَيْكٍ الْمُرَادِيِّ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَلَا أُقَاتِلُ مَنْ أَدْبَرَ مِنْ قَوْمِي بِمَنْ أَقْبَلَ مِنْهُمْ؟ فَأَذِنَ لِي فِي قِتَالِهِمْ وَأَمَّرَنِي، فَلَمَّا خَرَجْتُ مِنْ عِنْدِهِ، سَأَلَ عَنِّي: "مَا فَعَلَ الغُطَيْفِيُّ؟" فَأُخْبِرَ أَنِّي قَدْ سِرْتُ، قَالَ: فَأَرْسَلَ فِي أَثَرِي فَرَدَّنِي، فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ فِي نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِهِ، فَقَالَ: "ادْعُ القَوْمَ، فَمَنْ أَسْلَمَ مِنْهُمْ فَاقْبَلْ مِنْهُ، وَمَنْ لَمْ يُسْلِمْ فَلَا تَعْجَلْ حَتَّى أُحْدِثَ إِلَيْكَ". قَالَ: وَأُنْزِلَ فِي سَبَإٍ مَا أُنْزِلَ، فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا سَبَأٌ أَرْضٌ أَوِ امْرَأَةٌ؟ قَالَ: "لَيْسَ بِأَرْضٍ وَلَا امْرَأَةٍ، وَلَكِنَّهُ رَجُلٌ وَلَدَ عَشَرَةً مِنَ العَرَبِ فَتَيَامَنَ مِنْهُمْ سِتَّةٌ وَتَشَاءَمَ مِنْهُمْ أَرْبَعَةٌ، فَأَمَّا الَّذِينَ تَشَاءَمُوا: فَلَخْمٌ، وَجُذَامُ، وَغَسَّانُ، وَعَامِلَةُ، وَأَمَّا الَّذِينَ تَيَامَنُوا: فَالأَزْدُ، وَالأَشْعَرِيُّونَ، وَحِمْيَرٌ، وَكِنْدَةُ، وَمَذْحِجٌ، وَأَنْمَارٌ". فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَا أَنْمَارٌ؟ قَالَ: "الَّذِينَ مِنْهُمْ خَثْعَمُ، وَبَجِيلَةُ". وَرُوِيَ هَذَا عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه دفروه بن مسيك مرادي بيان دي فرمائي چي زه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ورغلم او عرض مي اوکړو اي دالله رسوله ايا زه دخپل قوم هغه خلقو سره ملاؤ شم چاچي ايمان راوړي دي او ايا دهغه خلقو سره جنګ اونکړم چاچي ايمان نه دي راوړي نو رسول الله ماته دهغوئ سره دجنګيدو اجازت راکړو او زه يي دخپل قوم امير مقرر کړم کله چي زه ددوئ دخوانه روان شوم نو رسول الله زما باره کي تپوس اوکړو چي هغه غطيفي څه اوکړل؟ ورته اووئيلي شول چي تلي دي نو زما دواپس راوستلو دپاره يي په ماپسي څوك په منډه راوليږلو نو زه ورته واپس راغلم او په دغه وخت کي رسول الله دصحابه کرامو په مينځ کي ناست وو او وېي فرمائيل خلقو ته دعوت ورکړه په دوئ کي چي څوك اسلام راوړي دهغوئ اسلام او ايمان قبول کړه او څوك چي اسلام رانوړي دهغوئ په معامله کي جلتي مه کوه تردي پوري چي تاته نوي حکم نه وي ليږلي شوي. راوي وائي دسبا باره کي چي څه نازل شوي وو هغه خو نازل شوي وو مګر يو کس اووئيل اي دالله رسوله سبا څه څيز دي دکوم ملك نوم دي او که دکومي ښځي نوم دي رسول الله اووئيل نه دکوم ملك نوم دي او نه دکومي ښځي نوم دي بلکه دا ديوسړي نوم دي چي عرب وو او لس بچي يي وو چي شپږ يي په دي بچو کي باعث دخير او برکت ګڼړل او په نورو څلورو يي بدفالي نيوله (يعني سپيره يي ګڼړل) پس کوم چي هغه سپيره ګڼړل هغه نجم، جذام، غسان، او عامله دي او چي کوم يي مبارك ګڼړل هغه ازد، اشعري، حمير، مذجج، انمار، او کنده دي يو کس اووئيل اي دالله رسوله انمار کومه يوه قبيله ده، رسول الله صلي الله

---

1 ـ سنن ابي داود/ الحروف ٢٠ (٣٩٨٨) (تحفة الأشراف: ١١٠٢٢)

عليه وسلم اوفرمائيل ددي قبيلي يو دوه شاخونه دي چي خثعم او بجيله ورته وائي.
امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث دابن عباس نه مروي دي او هغه يي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كوي او دسند په لحاظ حسن غريب دي.

****

٣٢٢٣_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا قَضَى اللَّهُ فِي السَّمَاءِ أَمْرًا ضَرَبَتِ الْمَلَائِكَةُ بِأَجْنِحَتِهَا خُضْعَانًا لِقَوْلِهِ، كَأَنَّهَا سِلْسِلَةٌ عَلَى صَفْوَانٍ، فَإِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوبِهِمْ، قَالُوا: مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ؟ قَالُوا: الْحَقَّ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ. قَالَ: وَالشَّيَاطِينُ بَعْضُهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي الله تعالي په اسمان كي دكومي معاملي حكم او فيصله ثابتوي نو فرشتي دعجز او انكسارئ په حالت كي دحكم دتعميل په جذبه كي خپلي وزري خوزوي او ددوئ دوزرو خوزولو سره داسي اواز پيدا كيږي لكه په كاڼړي چي زنځير راښكلي شي مګر كله چي ددوئ دزړونو نه ويره ختمه شي نو بيا يو دبل نه تپوس كوي چي ستاسو رب څه فرمائيلي دي؟ هغوئ جواب وركوي چي حق يي بيان كړي دي اوخاص هغه لوئ ذات او لوي صفاتو والا دي رسول الله اوفرمائيل شيطانان يو دبل دپاسه سواره شي او داسمان نه د غيبي فيصلو خبرونه راته كوي.
امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٢٢٤_حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: بَيْنَمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ فِي نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِهِ إِذْ رُمِيَ بِنَجْمٍ فَاسْتَنَارَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا كُنْتُمْ تَقُولُونَ لِمِثْلِ هَذَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ إِذَا رَأَيْتُمُوهُ؟" قَالُوا: كُنَّا نَقُولُ: يَمُوتُ عَظِيمٌ أَوْ يُولَدُ عَظِيمٌ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فَإِنَّهُ لَا يُرْمَى بِهِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ، وَلَكِنَّ رَبَّنَا عَزَّ وَجَلَّ إِذَا قَضَى أَمْرًا سَبَّحَ لَهُ حَمَلَةُ الْعَرْشِ ثُمَّ سَبَّحَ أَهْلُ السَّمَاءِ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ حَتَّى يَبْلُغَ التَّسْبِيحُ إِلَى هَذِهِ

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح تفسير سورة الحجر ١ (٤٧٠١)، والتوحيد ٣٢ (٧٤٨١)، سنن ابي داود/ الحروف ٢١ (٣٩٨٩)، سنن ابن ماجه المقدمة ١٣ (١٩٤) (تحفة الأشراف ١٤٢٤٩).

السَّمَاءِ. ثُمَّ سَأَلَ أَهْلُ السَّمَاءِ السَّادِسَةِ أَهْلَ السَّمَاءِ السَّابِعَةِ: مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ؟ قَالَ: فَيُخْبِرُونَهُمْ. ثُمَّ يَسْتَخْبِرُ أَهْلُ كُلِّ سَمَاءٍ حَتَّى يَبْلُغَ الخَبَرُ أَهْلَ السَّمَاءِ الدُّنْيَا. وَتَخْتَطِفُ الشَّيَاطِينُ السَّمْعَ فَيَرْمُونَ فَيَقْذِفُونَهُ إِلَى أَوْلِيَائِهِمْ فَمَا جَاءُوا بِهِ عَلَى وَجْهِهِ فَهُوَ حَقٌّ وَلَكِنَّهُمْ يُحَرِّفُونَهُ وَيَزِيدُونَ".
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه دابن عباس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دصحابه كرامو په يو جماعت كي موجود وو چي يو دم يو ستوري مات شو او رنړا ورنه خوره شوه رسول الله دخلقو نه تپوس اوكړو ايا دجاهليت په زمانه كي چي كله تاسو داسي حالت اوليدلو نو څه به مو ونيل؟ هغوئ اوونيل مونږ به داسي ونيل يا خو به كوم لوي بنده وفات كيږي او يا به دكوم لوي شخصيت پيدائش كيږي رسول الله اوفرمائيل ستوري دچا دمرګ په وجه نه ماتيږي بلكه دالله تعالي لوي ذات دطرفه چي كومه فيصله كيږي نو عرش لره پورته كونكي فرشتي تسبيح او تهليل وائي او بيا هغوئ ته نزدي اسمان والا فرشتي تسبيح وائي او بيا چي هغوئ ته كوم نزدي اسمان والا فرشتي وي هغوئ تسبيح وائي تردي پوري چي دتسبيح ونيلو دا غلغله مونږ ته نزدي ترين اسمان ته راورسيږي شپږم اسمان والا فرشتي داوم اسمان والافرشتو نه تپوس كوي چي ستاسو رب څه ونيلي دي (څه حكم يي كړي دي) نو دوئ يي ورته اوواني بيا دا رنګي هره اسمان والا د خپل څان نه پورتني اسمان والاو نه دا شان تپوس كوي تردي چي خبره هغه اسمان ته ورسيږي كوم چي دنيا ته قريب ترين وي او كيدونكي خبري شيطانان راپتوي كله چي دوئ دخبرو پټولو كوشش كوي نو دغوږ ايخودلو نه دمنع كولو دپاره په ستورو ويشتلي كيږي او هغوئ چي خبري پټوي نو خپلو يارانو (كاهنانو) طرف ته يي راغورځوي نو هغوئ چي څنګه څه اوريدلي وي هغه راورسوي داخو حق وي مګر دلته يي خلق بدلوي او كمي او زيادت پكي كوي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الحَدِيثُ عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الحُسَيْنِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ رِجَالٍ مِنَ الأَنْصَارِ. قَالُوا. كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَرَوَى الأَوْزَاعِيُّ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ رِجَالٍ مِنَ الأَنْصَارِ. قَالُوا: كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَذَكَرَ نَحْوَهُ

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٣٨٥)

بِمَعْنَاهُ. حَدَّثَنَا بِذَلِكَ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ. حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ. حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ. (1)

ترجمه ابن عباس رضي الله عنهما دبعضي انصاري صحابه كرامو نه روايت نقل كوي فرمانيل چي مونږ د نبي كريم صلي الله عليه وسلم سره موجود وو او باقي حديث يي د ما قبل حديث پشان د ماقبل هم معني بيان كړو.

امام ترمذي رحمه الله وايي. دا روايت حسين بن حريث هم د وليد بن مسلم په واسطه د اوزاعي نه نقل كړى دى.

****

٣٦_بَاب وَمِنْ سُورَةِ الْمَلَائِكَةِ

دسورة فاطر دبعضي ايتونو تفسير

وجه دتسميه اوپس منظر دسورت:

٣٢٢٥_حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، وَمُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. قَالَا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ. حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ عَيْزَارٍ، أَنَّهُ سَمِعَ رَجُلًا مِنْ ثَقِيفٍ يُحَدِّثُ. عَنْ رَجُلٍ مِنْ كِنَانَةَ. عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. أَنَّهُ قَالَ فِي هَذِهِ الْآيَةِ: "ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِنَفْسِهِ وَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ (فاطر :٣٢) قَالَ: هَؤُلَاءِ كُلُّهُمْ بِمَنْزِلَةٍ وَاحِدَةٍ وَكُلُّهُمْ فِي الْجَنَّةِ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ حَسَنٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دايت كريمه " ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِنَفْسِهِ وَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ " يعني بيا په ميراث كي وركړو مونږ كتاب لره هغه كسانو ته چي غوره كړي دى مونږ د بندګانو خپلو نه نو بعض د دوئ نه ظلم كوونكى دى په خپلو خانونو او بعض د دوئ نه ميانه روه دى او بعض د دوئ نه وړاندي كيږى په نيكو كي. متعلق اوفرمائيل دوئ به ټول په يوه درجه كي وي او ټول به جنت ته تلونكي خلق وي

امام ترمذي رحمه الله وايي. داحديث غريب حسن دي مونږ يي صرف په هدي سند پيژنو.

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٢٢٦)

2 _ تفرد به المؤلف رحمه الله.

يعني بيا به ميراث كي وركړو مونږ كتاب لره هغه كسانو ته چي غوره كړي دي مونږ د بندګانو خپلو نه نو بعض د دوی نه ظلم كوونكى دي په خپلو خانونو او بعض د دوی نه ميانه روه دي او بعض د دوی نه وړاندي كيږي په نيكو كي

تشريح: په دي كي د اصحاب قرآن درجي ذكر كوی او هغوی ته بشارت دي ثُمَّ د تعقيب دپاره دي خكه چي مخكي ئي د قرآن كريم د نزول ذكر كړي دي او دا د هغي تفصيل دي الذين اصطفينا مراد ترينه صحابه كرام دي او د هغوی نه روستو د قرآن كريم تابعداران دي أَوْرَثْنَا په معنى د وركولو سره دي. ليكن په ارث سره تعبير كولو كي اشاره ده چي دوی د قرآن كريم مستحق دی لكه چي وارث د ميراث حقدار وی. او اصطفاء كي اشاره ده چي دوی لره ئي توفيق د دين اسلام د منلو وركړي دي. لكه چي الله تعالى فرمائى كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ. تاسو غوره امت ئي. وكذلك جعلناكم امة وسطا او هم دغه شان مونږ تاسو درميانه (معتدل) امت جوړ كړي ئي فمنهم ظالم دا تقسيم دي په الذين اصطفينا كي ضمير ئي راجع دي الذين ته او مفسر قرطبى شربينى او نورو مفسرينو مرفوع حديث نقل كړيدي. چي دا ټول به جنت كي داخليږي. او امام قرطبى د شپږو صحابه كرامو نه نقل كړي دى چي دا ټول قسمونه په مؤمنانو كي دى او مراد د ظالم نه هغه مؤمن دي چي ګناهونه ئي ډير وی او لِنَفْسِه كي اشاره ده چي د دهٔ ظلم بل چاته متعدى نه دي. يعني بل څوك ګمراهي ته نهٔ رابلي. او مُقْتَصِدٌ نه مراد هغه كسان دي چي نيكئ او ګناهونه ئي برابر دی. او سَابِقٌ نه مراد هغه كسان دی چي ګناهونه ئي لږ وی او نيكئ ئي ډيري وی بِإِذْنِ اللهِ. مراد دا دي چي دا مرتبي د الله تعالى په تقدير سره حاصلي شوي دي. ذالك اشاره ده اصطفاء ته يا كتاب وركولو ته. يعنى دا غوره كول يا كتاب وركول د الله تعالى ډير لوي فضل دي.

****

٣٧_بَابٌ وَمِنْ سُورَةِ يس

دسورة يس دبعضي ايتونو تفسير

سورت يس مكي دي دري اتيا اياتونه او پنځه ركوع لري

تسمى بسورة قلب القرلن. والمعمة، والمدافعة، والقاضية، والعزيزة، والعظيمة

,, رومبنى دوه حرفونو د سورت نه ,, يسٓ نوم ماخوذ دى.

٣٢٢٦_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ وَزِيرٍ الْوَاسِطِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ يُوسُفَ الأَزْرَقُ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ،

عَنْ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: كَانَتْ بَنُو سَلِمَةَ فِي نَاحِيَةِ الْمَدِينَةِ فَأَرَادُوا النُّقْلَةَ إِلَى قُرْبِ الْمَسْجِدِ. فَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةَ: إِنَّا نَحْنُ نُحْيِي الْمَوْتَى وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا وَآثَارَهُمْ (يس: ١٢). فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ آثَارَكُمْ تُكْتَبُ فَلَا تَنْتَقِلُوا". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ الثَّوْرِيِّ، وَأَبُو سُفْيَانَ هُوَ طَرِيفٌ السَّعْدِيُّ.[1]

ترجمه: دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي دبنو سلمه قبيلي خلق دمديني په مضافاتو کي اوسيدل او هغوئ دخپل ځاي نه منتقل شول او مسجد نبوي ته يې نژدي داوسيدو اراده اوکړه نو دي باره کي دا ايت کريمه " إِنَّا نَحْنُ نُحْيِي الْمَوْتَى وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا وَآثَارَهُمْ " يعني يقينا مونږ به ژوندی کړو مړي اوليکو مونږ هغه عملونه چي دوئ مخکي ليږلي دی او روستو کارونه د دوئ. نازل شو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ستاسو قدمونه ليکلي کيږي پس په دي وجه تاسو لره پکار دي چي خپل کورونه بدل نکړئ
امام ترمذي رحمه الله وايي دثوري نه مروي داحديث حسن غريب دي. اود ابو سفيان راوي نوم طرفي دی چي په سعدي مشهور دی

تشريح: په دي کي د جزا وخت ذکر کوی چي هغه د مرګ نه روستو ژوند دي. او دا د توحيد دپاره عقلی دليل دي. إِنَّا نَحْنُ نُحْيِ الْمَوْتَىٰ. د دي ظاهری معنی د قيامت د اثبات دپاره دليل دي يعنی چي څنګه د نطفي نه انسان ژوندي کړو نو دغه شان به د قبرونو نه مړی ژوندی کړو. وَنَكْتُبُ د دي نه مراد کتابت د کرامًا کاتبين دي. چي هغوئ د انسان اعمال په صحيفو کي ليکی. مَاقَدَّمُوا هغه اعمال چي انسان کړي وی او وړاندي ئي ليږلي وی. وَآثَارَهُمْ. د دي نه مراد هغه نيك او بد عملونه دی چي انسان ئي روستو خلقو ته پريږدی او خلق پري عمل کوی په سورة اذا السماء انفطرت کي الله تعالی فرمائی. علمت نفس ما قدمت واخرت يعنی هر انسان ته به خپل وړاندنی او روستنی عملونه معلوم شي. ينبؤ الانسان يومئذ بما قدم واخر. انسان ته به د وړاندنو او روستنو عملونو خبر ورکړي شی. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائی إِذَا مَاتَ الإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَمَلُهُ إِلاَّ مِنْ ثَلاَثَةٍ. إِلاَّ مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ او عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُوا لَهُ. (صحيح مسلم کتاب الوصية) چي کله انسان مرشی نو د دهٔ عمل کول بند شی مګر د دريو خبرو. يو صدقه جاريه. دويم علم چي خلق د هغي نه فائده اخلی يا نيك اولاد چي

---
[1] - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۴۳۵۸)

دۀ لره دعاګاني غواړي.
په بل حديث کي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي:
مَنْ سَنَّ فِي الإِسْلاَمِ سُنَّةً حَسَنَةً فَعُمِلَ بِهَا وَلاَ يَنْقُصُ مِنْ أُجُوْرِهِمْ شَيْءٌ وَمَنْ سَنَّ فِي الإِسْلاَمِ سُنَّةً سَيِّئَةً فَعُمِلَ بِهَا بَعْدَهُ كُتِبَ عَلَيْهِ مِثْلُ وِزْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا وَلاَ يَنْقُصُ مِنْ أَوْزَارِهِمْ شَيْءٌ. (صحيح مسلم كتاب العلم).
چا چي په اسلام کي ښه طريقه جاري کړه او د دۀ نه روستو په هغي عمل کولي شي نو دي سړی له به الله تعالى د عمل کوونکی پشان اجر ورکوی. او چا چي بده طريقه جاري کړه. او د ده نه روستو په هغي باندي عمل کولي شي نو دي سړی له به الله تعالى د عمل کوونکی پشان بدله ورکوی.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي. مَنْ دَعَا إِلى هُدًى كَانَ لَهُ مِنَ الأَجْرِ مِثْلُ أُجُوْرِ مَنْ تَبِعَهُ وَلاَ يَنْقُصُ ذَالِكَ مِنْ أُجُوْرِهِمْ شياءً وَمَنْ دَعَا الى ضَلاَلَةٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الإِثْمِ مِثْلُ آثامِ مَنْ تَبِعَهُ لاَ يَنْقُصُ ذَالِكَ مِنْ آثامِهِمْ شياءً (صحيح مسلم كتاب العلم) څوك چي هدايت طرف ته بلنه کوی نو دۀ لره به اجر وی پشان د اجر د هغه چا چي تابعداری کوی د هدايت. او د عمل کوونکی نه به هيڅ اجر نه کميږی اوچا چي ګمراهي ته بلنه اوکړه نو په دۀ باندي به ګناه وی په مثل د ګناه کوونکی. او د ګناه کوونکی په سزا کي به څه نۀ کميږی. (صحيح مسلم).

****

٣٢٢٧_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ حِينَ غَابَتِ الشَّمْسُ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَتَدْرِي يَا أَبَا ذَرٍّ أَيْنَ تَذْهَبُ هَذِهِ؟" قَالَ: قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: "فَإِنَّهَا تَذْهَبُ فَتَسْتَأْذِنُ فِي السُّجُودِ فَيُؤْذَنُ لَهَا، وَكَأَنَّهَا قَدْ قِيلَ لَهَا اطْلُعِي مِنْ حَيْثُ جِئْتِ فَتَطْلُعُ مِنْ مَغْرِبِهَا. قَالَ: ثُمَّ قَرَأَ" وَذَلِكَ مُسْتَقَرٌّ لَهَا". قَالَ: وَذَلِكَ فِي قِرَاءَةِ عَبْدِ اللَّهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دابوذر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي زه مسجد ته دنمر پريوتو وخت کي داخل شوم او رسول الله هلته موجود وو ويي فرمائيل اي ابوذر ايا تاته معلومه ده نمر چي رفتار اوکړي چرته ځي؟ ابوذر وائي ما اووئيل الله او دهغه رسول ته بهتره معلومه ده رسول الله

[1] _ انظر حديث رقم ٢١٨٦

اوفرمائيل دي چي لاړ شي دسجدي كولو اجازت غواړي نو اجازت ورته وركړي شي دا داسي ده لكه چي ده ته اوونيلي شي دكوم خاي نه چي راغلي يي دهم هغه خاي نه راوخيژه او بيا به قيامت ته په نزدي ورځ نمر ده وبيدو دخاي نه راوخيژي دابوذر رضي الله عنه بيان دي چي بيارسول الله "وذلك مستقرلها" تلاوت كړو راوي واني او همدا دعبدالله بن مسعود قراءت دي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

دابوذر رضي الله عنه دزندگئ حالات

نوم جندب كنيه ابو ذر دپلار نوم جناده او دمور نوم يي رمله وو چي دبني غفار قبيلي سره يي تعلق وو ، په شروع كې مشهور ډاكو وو خو يك دم يي په زندگئ كې انقلاب راغئ پخپله دابوذر رضي الله عنه بيان دى چي داسلام راوړو نه دري كاله مخكې هم ما مونځونه كول (طبقات ابن سعد).

كله چي درسول الله ددعوت نه خبر شو نو خپل ورور انيس يي دتحقيق كولو دپاره اوليږلو او پخپله دعلي رضي الله عنه سره ملاؤ شو او درسول الله په خدمت كې حاضر شو او اسلام يي قبول كړو نو رسول الله دى دده قوم ته دتبليغ دپاره اوليږلو ددينه پس به يي خپل ټول وخت په تبليغ او دعوت كې خرج كولو تردي چي نيمه قبيله په همدي وخت مسلمانه شوه او نيمه قبيله يي دهجرت نه پس مسلمانه شوه (مسند احمد).

درسول الله دهجرت نه پس هغوئ مديني ته هجرت كړى دى (طبقات ابن سعد).

ابوذر يوتارك الدنيا او زاهد انسان وو درسول الله او ابوبكر په زمانه كې په مدينه كې پاتي شوى دى او بيايي شام ته هجرت كړى دى.

وفات: كله چي دده طبعيت خراب شو نو ښځي يي ژړل چي په دي صحرا كې به څوك زمونږه انتظام كوي هغه ورته اوونيل زه تاسو ته زيرى دركوم چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي په تاسو كې به يو تن په صحرا كې مري او هلته به دمسلمانانو يو جماعت راځي او هغوئ به دده تدفين كوي زما نه چي علاوه كوم خلق وو هغوئ په ابادئ كې مره شوي دي چنانچي همداسي اوشول عبدالله بن مسعود ديوي دلي سره راغئ او هغه عراق ته روان وو په ده باندي يي جنازه اوكړه او هم دلته يي دفن كړو (مستدرك حاكم).

مرويات: دده درواياتو شمير ۲۸۱ دى چي دولس متفق عليه دي او ده په بخاري كې دي او اوه په مسلم كې دي (تهذيب الكمال ۴۴۹).

****

٣٨_باب وَمِنْ سُورَةِ الصَّافَّاتِ

دسورة صافات دبعضي ايتونو تفسير

٣٢٢٨_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنَا لَيْثُ بْنُ أَبِي سُلَيْمٍ، عَنْ بِشْرٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ دَاعٍ دَعَا إِلَى شَيْءٍ إِلَّا كَانَ مَوْقُوفًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَازِمًا لَهُ لَا يُفَارِقُهُ، وَإِنْ دَعَا رَجُلٌ رَجُلًا ثُمَّ قَرَأَ قَوْلَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ: وَقِفُوهُمْ إِنَّهُمْ مَسْئُولُونَ . مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُونَ (الصافات :٢٤-٢٥) ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. (١)

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هرچاچي هر څيز ته دعوت ورکړو دقيامت په ورځ به په هم هغه څيز پوري انختلي او دهم هغه څيز سره به موجود وي او دي به يي پريخودلي نشي چي وراندي ورنه لاړ شي اګر که يو کس بل کس لره رابللي وي او بيا رسول الله ايت کريمه "وَقِفُوهُمْ إِنَّهُمْ مَسْئُولُونَ. مَالَكُمْ لا تَنَاصَرُونَ" تلاوت کړو

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي

تشريح: وَقِفُوهُمْ. يعنی د جهنم په لار به روان شی او لار به د جهنم دپاسه يو پُل وی. نو ‌د هغي دپاسه به اودرولي شی

إِنَّهُمْ مَسْئُولُونَ. د ټولو ګناهونو په باره کي تپوس کول. او دي ته حساب ونيلي شی. مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُونَ. دا هم داخل دي په تپوس کولو کي او د دوئ په دعوی باندي رد دي چي دوئ به په دنيا کي ونيل چي دا خمونږ مشران دی او دوئ به زمونږ مدد کوی. او مراد د نصرت نه دلته د أور نه بچ کول دی

****

٣٢٢٩_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنْ زُهَيْرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: وَأَرْسَلْنَاهُ إِلَى مِائَةِ أَلْفٍ أَوْ يَزِيدُونَ (الصافات :١٤٧) قَالَ: "عِشْرُونَ أَلْفًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا

١_ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٢٨)

حَدِيثٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه: دابي بن كعب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دايت كريمه " وَأَرْسَلْنَاهُ إِلَى مِائَةِ أَلْفٍ أَوْ يَزِيدُونَ " نو وبي فرمائيل دوئ يولاكه او شل زره وو.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي.

تشريح: " وَأَرْسَلْنَاهُ إِلَى مِائَةِ أَلْفٍ أَوْ يَزِيدُونَ " په دي كي مقصد دوباره راليږل دی واپس خپل قوم ته. اگر چي د مخكي نه رسول وو. او كوم روايت چي بعض مفسرينو نقل كړيدي چي د مهی د خيټي نه د راوتلو نه پس رسول كړي شو. نو دا روايت ضعيف دي د دي په سند كي شهر بن حوشب راوی دي او هغه ضعيف او متروك دي. أَوْيَزِيْدُوْنَ كي أَوْ په معنى د بَلْ (بلكه) سره دي. يعنى دغه قوم زياتيدلو. فَآمَنُوا. سورة يونس ۹۸ كي دی چي دوئ د عذاب علامات اوليدل نو ايمان ئي راوړو. او دلته ذكر دی چي ايمان ئي روستو راوړو. نو د دي جواب دا دي. چي د عذاب د راتللو په وخت كي د دوئ ايمان جبری او اجمالی وو. او دلته دوئ حقيقی او تفصيلی ايمان راوړو.

****

۳۲۳۰_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَالِدٍ ابْنُ عَثْمَةَ. حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ بَشِيرٍ. عَنْ قَتَادَةَ. عَنِ الْحَسَنِ. عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِ اللَّهِ: " وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبَاقِينَ (الصافات: ۷۷) قَالَ: حَامٌ. وَسَامٌ. وَيَافِثُ ". كَذَا قَالَ أَبُو عِيسَى: يُقَالُ: يَافِتُ. وَيَافِثُ بِالتَّاءِ وَالثَّاءِ. وَيُقَالُ: يَفِثُ. وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ سَعِيدِ بْنِ بَشِيرٍ. (2)

ترجمه: دسمره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دايت كريمه " وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبَاقِينَ " دتفسير باره كي اوفرمائيل چي دا كسان حام سام يافث وو.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي صرف دسعيد بن بشير په روايت پيژنو. يافث په ث او يافت په ت دواړه لوستلي كيږي.

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۵)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۴۶۰۵)

تشريح: د "جعلنا ذريته هم الباقين" مطلب دادي چې صرف ددوئ داولاد نسل پاتي شو او باقي كفار غرق شول او دباقي اهل كشتئ نسل هم پاتي نشو نو اوس چې په دنيا كې څومره خلق دي دتبولو انتهاء نوح عليه السلام ته رسيږي لكه چې ترمذي په دي ايت كې مرفوعا دوه حديثونه نقل كړي دي اول قال حام وسام ويافث ثاني ثام ابو العرب والحام ابو الجيش ويافث ابو الروم او ظاهرا دقران كريم نه لكه "وجعلنا ذريته هم الباقين" او " لاتذر علي الارض من الكافرين ديارا، قلنا احمل فيها من كل زوجين اثنين، وغيرها من الايات ، دزمكي دټول مخ دپاره ددينه دطوفان عام كيدل معلوميږي او دترمذي دمذكوره دوه روايتونو نه هم ظاهرا ددي تائيد كيږي او جمهور علماؤ همدا قول اختيار كړي دي دبعضي شاذ علماؤ داقول دي چې دا طوفان صرف دعربو په زمكه كې راغلي دي چرته چې نوح عليه السلام اوسيدو او په "جعلنا ذريته هم الباقين" كې حصر په اعتبار دخاص مغرقينو دارض عرب دي ګويا كې دنورو ممالكو دخلقو نسل باقي پاتي شو او په "لاتذر علي الارض" كې دارض نه مراد خاص زمكه اخلي نو دشق اول په بنا چې عموم دبعثت دنوح عليه السلام شبه كيږي ددي جواب دسورة ال عمران دايت فلما احس عيسي منهم الكفر په تفسير كې تير شوي دي ممكن ده چې په دغه وخت كې ابادي دزمكي خاص ترهغه مقام پوري محدود وي چرته چې نوح عليه السلام اوسيدو او دبعثت دعموم معني به دا وي كله چې اقوام متعدده كثيره عام الارض موجود وي نو دوئ ټولو ته به بعثت وي ورنه بيا د ادم عليه السلام دبعثت عموم هم لازميږي او د "انا كذلك نجري" په سبب دا نه لازميږي چې په ټولو امورو كې دي تشبيه وي بلكه معني داده چې نيكانو ته دنيكئ بدله وركوو نو اوس چې دكومي مرتبي احسان وي دهغه مرتبي به جزا هم وي پس دانبياء وغيره تساوي نه لازميږي او په ثم اغرقنا كې ثم د تراخي ذكري دپاره دي څكه چې اغراق ضمانا دبقاء دذريت نه متاخر نه دي. بيان القران

****

٣٢٣١_حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُعَاذٍ العَقَدِيُّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "سَامٌ أَبُو الْعَرَبِ، وَحَامٌ أَبُو الْحَبَشِ، وَيَافِثُ أَبُو الروم".(1)

ترجمه دسمره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي سام ابو

[1] _ تفرد به المؤلف.

العرب دي او حام ابو الحبش دي او يافث ابو الروم دي.

****

۳۹ ـ باب وَمِنْ سُورَةِ ص

دسورة ص دبعضي ايتونو تفسير

د سورت نوم د سورت په مبنې حرف ,,ص،، اخستلی شوی دی.

د بعض روایاتو په بنا دا سورة په هغه زمانه کي نازل شوی دی. چه کله نبی صلی الله علیه وسلم په مکه معظمه کې د دعوت اغاز اوکړو او د قریشو سرداران په لړزان شول په دی لحاظ سره د دی د نزول زمانه تقریبًا د نبوت څلورم کال دی. یا د نورو راویاتو په وجه د ابو طالب د اخری مرض په زمانه کي چه نبی صلی الله علیه وسلم ورته د ایمان راوړلو دعوت ورکړی وو دا سورة نازل شوی دی. که دا خبره صحیح وی نو د دی د نزول زمانه د نبوت لسم کال دی.

۳۲۳۲ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، وَعَبْدُ بْنُ حميد، المعنى واحد، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ يَحْيَى، قَالَ عَبْدٌ هُوَ ابْنُ عَبَّادٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: مَرِضَ أَبُو طَالِبٍ فَجَاءَتْهُ قُرَيْشٌ، وَجَاءَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَعِنْدَ أَبِي طَالِبٍ مَجْلِسُ رَجُلٍ، فَقَامَ أَبُو جَهْلٍ كَيْ يَمْنَعَهُ وَشَكَوْهُ إِلَى أَبِي طَالِبٍ، فَقَالَ: يَا ابْنَ أَخِي، مَا تُرِيدُ مِنْ قَوْمِكَ، قَالَ: " إِنِّي أُرِيدُ مِنْهُمْ كَلِمَةً وَاحِدَةً تَدِينُ لَهُمْ بِهَا الْعَرَبُ وَتُؤَدِّي إِلَيْهِمُ الْعَجَمُ الْجِزْيَةَ "، قَالَ: كَلِمَةً وَاحِدَةً ؟ قَالَ: " كَلِمَةً وَاحِدَةً ؟ " قَالَ: " يَا عَمِّ، قُولُوا: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ "، فَقَالُوا: إِلَهًا وَاحِدًا: مَا سَمِعْنَا بِهَذَا فِي الْمِلَّةِ الْآخِرَةِ إِنْ هَذَا إِلا اخْتِلاقٌ (ص :۷)، قَالَ: فَنَزَلَ فِيهِمُ الْقُرْآنُ: ص وَالْقُرْآنِ ذِي الذِّكْرِ بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي عِزَّةٍ وَشِقَاقٍ ۲ إِلَى قَوْلِهِ مَا سَمِعْنَا بِهَذَا فِي الْمِلَّةِ الْآخِرَةِ إِنْ هَذَا إِلا اخْتِلاقٌ (ص :۱ ـ ۷. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَرَوَى يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ الأَعْمَشِ نَحْوَ هَذَا الْحَدِيثِ، وَقَالَ يَحْيَى بْنُ عِمَارَةَ.

حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ سُفْيَانَ، نَحْوَهُ، عَنِ الأَعْمَشِ. (۱)

ترجمه دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي ابو طالب بيمار شو نو قريش ورته راغلل او رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته هم راغلل دابوطالب سره صرف ديو

[1] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ۵۶۲۵، و۵۶۳۸)

کس دکیناستو خاي وو . ابو جهل پاڅیدو ددي دپاره چي رسول الله هلته دکیناستو نه منع کړي او دوی ټولو ابوطالب ته درسول الله نه شکایت اوکړو ابوطالب رسول الله صلي الله علیه وسلم ته لوونیل اي وراره ته دخپل قوم نه څه غواړي رسول الله اوفرمائیل زه ددوی نه صرف یوه داسي کلمه تسلیمول غواړم کومه چي دوی قبول کړي نو ددي په برکت به پوره عرب ددوی تابعدار شي او عجم به دوی ته ټکس ورکوي هغوی اوونیل صرف یوه کلمه؟ رسول الله اوفرمائیل هو صرف دیوي کلمي په تسلیمولو او بیا یي اوفرمائیل اي تره تاسو صرف لااله الا الله اووائي هغه اوونیل ایا مونږ یو معبود تسلیم کړو؟ دا خبره خو مونږ په تیرو شوو خلقو کي نه ده اوریدلي دا خو صرف دخان نه جوړه شوي خبره ده (مونږ یي نشو تسلیمولي) ابن عباس وائي په همدي موضوع باندي ددي خلقو متعلق دسورة ص ایت " إِلَهًا وَاحِدًا: مَا سَمِعْنَا بِهَذَا فِي الْمِلَّةِ الآخِرَةِ إِنْ هَذَا إِلا اخْتِلاقٌ (ص :۷. قَالَ: فَنَزَلَ فِيهِمُ الْقُرْآنُ: ص وَالْقُرْءَانِ ذِي الذِّكْرِ . بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي عِزَّةٍ وَشِقَاقٍ . إِلَى قَوْلِهِ مَا سَمِعْنَا بِهَذَا فِي الْمِلَّةِ الآخِرَةِ إِنْ هَذَا إِلا اخْتِلاقٌ" پوري ایتونه نازل شول.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحدیث حسن دي یحي بن سعید هم دا روایت دسفیان نه او هغه داعمش نه ددي حدیث هم معني بیان کړي دي او یحي بن سعید دیحي بن عباده په ځاي یحي بن عماره لیکلي دي.

تشریح: سبب دنزول دابتدائي ایت دادي چي قریش ابوطالب ته دهغه دمرض په وخت کی راغلو او نبي کریم صلي الله علیه وسلم هم راغي نو قریشو ورته دده باره کي شکایت اوکړو ابو طالب درسول الله نه تپوس اوکړو ته دخپل قوم نه څه غواړي رسول الله اوفرمائیل صرف یوه کلمه غواړم په کومي چي به تمام عرب ددوی مطیع شي او عجم به دوی ته ټکسونه ورکوي هغه تپوس اوکړو هغه کومه یوه کلمه ده رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل "لااله الاالله" قریشو دي وخت کی اوونیل تا خو ټول معبودان ختم کړل او صرف یو معبود دي پریخودو دا خو ډیره عجیبه خبره ده نو دي وخت کی سورة ص د شروع نه تر "بل لما یذوقوا عذاب" پوري نازل شو ورو هفي اللباب عن احمد والترمذي النسائي والحاكم، او په یو روایت کی دي چي خفه شول او په غصه کی پاڅي شول او روان شول اورده في الروح عن غیر واحد ددي سورة په شروع کی چي په قران قسم خوړلي شوي دي ددینه که مراد کلام نفسي وي نو بیا خو څه اشکال نشته ځکه چي هغه غیر مخلوق صفت دي او که کلام لفظي مراد شي کوم چي مخلوق دي نو ددي توجیه دسورة حجر دایت "لعمرك" لاندي تیره شوي ده او په سورة صافات کی چي کوم حکمت دداسي قسمونو په خوړلو لیکلي شوي دي دلته دهغي تقریر دادي چي

قران په رسالت دليل دي

****

٣٢٣٣_حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ شَبِيبٍ، وَعَبْدُ بْنُ حميد، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَتَانِي اللَّيْلَةَ رَبِّي تَبَارَكَ وَتَعَالَى فِي أَحْسَنِ صُورَةٍ، قَالَ: أَحْسَبُهُ قَالَ فِي الْمَنَامِ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ هَلْ تَدْرِي فِيمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْأَعْلَى؟ قَالَ: قُلْتُ: لَا. قَالَ: فَوَضَعَ يَدَهُ بَيْنَ كَتِفَيَّ حَتَّى وَجَدْتُ بَرْدَهَا بَيْنَ ثَدْيَيَّ، أَوْ قَالَ: فِي نَحْرِي، فَعَلِمْتُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ، قَالَ: يَا مُحَمَّدُ هَلْ تَدْرِي فِيمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْأَعْلَى؟ قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: فِي الْكَفَّارَاتِ، وَالْكَفَّارَاتُ: الْمُكْثُ فِي الْمَسَاجِدِ بَعْدَ الصَّلَوَاتِ، وَالْمَشْيُ عَلَى الْأَقْدَامِ إِلَى الْجَمَاعَاتِ، وَإِسْبَاغُ الْوُضُوءِ فِي الْمَكَارِهِ، وَمَنْ فَعَلَ ذَلِكَ عَاشَ بِخَيْرٍ وَمَاتَ بِخَيْرٍ، وَكَانَ مِنْ خَطِيئَتِهِ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ، وَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ إِذَا صَلَّيْتَ فَقُلْ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ، وَتَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ، وَحُبَّ الْمَسَاكِينِ، وَإِذَا أَرَدْتَ بِعِبَادِكَ فِتْنَةً فَاقْبِضْنِي إِلَيْكَ غَيْرَ مَفْتُونٍ، قَالَ: وَالدَّرَجَاتُ إِفْشَاءُ السَّلَامِ، وَإِطْعَامُ الطَّعَامِ، وَالصَّلَاةُ بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ ذَكَرُوا بَيْنَ أَبِي قِلَابَةَ، وَبَيْنَ ابْنِ عَبَّاسٍ فِي هَذَا الْحَدِيثِ رَجُلًا، وَقَدْ رَوَاهُ قَتَادَةُ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ خَالِدِ بْنِ اللَّجْلَاجِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. (¹)

ترجمه دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي زما رب ماته نن شپه په بهترين صورت كي راغي راوي واني زما خيال دي رسول الله داسي اوفرمانيل چي په خوب كي رب العالمين ماته اوونيل اي محمد ابا تاته معلومه ده ملاء اعلي (دلوړي مرتبي والافرشتي) په څه خبره او پخپل مينځ كي جنګيږي؟ ما اوونيل زه نه پوهيږم نو الله تعالي خپل لاس زما ددواړو اوګو په مينځ كي كيخودو چي يخوالي يې ما دخپلي سيني په مينځ كي محسوس كړو راوي واني زما شك دي چي رسول الله بين كتفي لفظ اوونيلو او كه بين نحري لفظ يې اوونيلو دلاسونو ايخودلو نه پس چي په زمكه او اسمان كي څه وو په دي ټولو پوهه شو بيا الله تعالي اوفرمانيل اي محمد ايا تاته معلومه ده ملاء اعلي (دلوړي مرتبي والافرشتي) په څه خبره او پخپل مينځ كي جنګيږي؟ ما اوونيل دكفاراتو او دګناهونو ختمونكو څيزونو په باره كي دوئ پخپل مينځ كي په جګړه دي (چي دا كوم كوم څيزونه دي؟) او كفارات دادي (١) دمونځ كولو نه پس په مسجد كي دبل مونځ دانتظاركولو

¹ ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٤١٤)

دپاره ناسته كول (٢) پخپو پپادل دمونځ دپاره مسجد ته تلل (٣) دمشكلاتو باوجود په پابندئ سره اودس كول. څوك چي داسي كوي دكاميابئ زندګئ مرتبي به تيروي او دكاميابئ سره به مركيږي او دخپلو ګناهونو نه به داسي پاك شي څنګه چي دي په اول خل دمور نه پيداكيدو په وخت كي پاك وو رب العالمين به اووائي اي محمد كله چي مونځ اوكړي نو دا كلمات وايه "**اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ، وَتَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ، وَحُبَّ الْمَسَاكِينِ، وَإِذَا أَرَدْتَ بِعِبَادِكَ فِتْنَةً فَاقْبِضْنِي إِلَيْكَ غَيْرَ مَفْتُونٍ.**"او بيا رسول الله اوفرمائيل درجات لوړونكي څيزونه دادي (١) سلام خورول يعني عام كول (٢) محتاج او مسكين ته خوراك وركول (٣) دشپي تهجد كول په داسي حال كي چي خلق اوده وي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: بعضي محدثينو دابوقلابه او ابن عباس په مينځ كي ددي حديث په سند كي يو كس ذكر كړي دي او هغه خالد بن لجلاج دي (چي روايت يي وروسته راروان دي). داحديث قتاده دابو قلابه نه نقل كړي دي او هغه دخالد بن لجلاج نه او هغه دابن عباس رضي الله عنهما نه نقل كړي دي.
تشريح: ديو مونځ كولو نه پس دبل مونځ انتظار كولو . مطلب دادی چي سړی مونځ اوكړي اوبخپل خاي ناست پاتي شي دبل مونځ دوخت راتلو دپاره يا دا مطلب دی چي دمسجد نه خو اګر چي لاړ شي مګر "قلبه معلق بها" مګر زړه يي دمونځ سره انختلی وي.
"اسباغ الوضوء" يعني په مبالغي سره اودس كول داعضاؤ يو ځل وينځل خو فرض دي او دري پيري وينځل سنت او مستحب دي ليكن د دريو نه زيات پيري وينځل ددي روايت په بنا جائز معلوميږي.
علامه شامي قول دی چي دوينځلو دتعداد په باره كي داحنافو علماؤ كوم قول منقول نه دی او دا يي هم فرمائيلي دي لوزاد علي الثلاث لطمانئنة القلب لاباس به لقوله عليه السلام دع ما يريبك الي ما لايريبك.
علي المكاره يعني دمشقت سره ددي مراد دادی يا خو يخني زياته وي يا اوبه په زيات قيمت خرڅيږي او يا دجسماني تكليف په وجه داوبو استعمال مضر وي .
فعل الخيرات يعني نيك اعمال كول مراد دي. دتقوي نه مراد ترك المنكرات دی چي يو دبل سره په نيكو اعمالو كي او دګناهونو په پريخودو كي تعاون اوكړي په يو بل روايت كي راغلي دي الدال علي الخير كفاعله. يعني دنيكي لاري رهنمائي كونكي ته داسي ثواب ملاويږي څنګه چي په دي باندي عمل كونكي ته ملاويږي په يو بل روايت كي هم راغلي دي څوك چي خلقو ته دنيكي خبري دعوت وركوي نوځومره خلق چي په دي دعوت عمل كوي دی به دهغوئ سره په ثواب كي برابرشريك وي علاوه ددينه چي دهغوئ داجر نه څه كم كړی شي.

. دبعضي علماؤخيال دادى چي يو دهغوى نه علامه ماوردي هم دى چي دتقوي په ذريعه انسان الله راضي كړي او دبر په ذريعه يي خوشحاله كړي دالله تعالي او دبندگانو په خوشحالولو سره انسان سعادت خاصلوي او همدا دالله تعالي دطرف نه دانسان دپاره سعادت عظمي دى
دشپي په مونځونو كې بهترين مونځ دتهجد مونځ دى ددي وجه داده چي په دي مونځ كې په نفس باندي مشقت زيات اچولى شي او په دي كې اخلاص هم زيات وي او دا خبره هم ده چي په دي تهجد مونځونو سره دفرضو تكميل هم كيږي
يعني څوك چي دشپي پاڅي او مونځ كوي نو په دي مونځ كې اخلاص زيات وي او په دي باندي فرضي مونځونه درجي دكمال ته رسيږي. دجنيد بغدادي باره كې منقول دي چي د مرگ نه پس چا په خوب كې وليدو او تپوس يي ورنه وكړو چي الله درسره څه معامله وكړله نوهغه په جواب كې وويل تاهت العبادات وفنيت الاشارات وما نفعنا الا ركعات صلينا في جوف الليل.

****

٣٢٣٤_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ خَالِدِ بْنِ اللَّجْلَاجِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " أَتَانِي رَبِّي فِي أَحْسَنِ صُورَةٍ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، قُلْتُ: لَبَّيْكَ رَبِّ وَسَعْدَيْكَ، قَالَ: فِيمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْأَعْلَى؟ قُلْتُ: رَبِّ لَا أَدْرِي، فَوَضَعَ يَدَهُ بَيْنَ كَتِفَيَّ فَوَجَدْتُ بَرْدَهَا بَيْنَ ثَدْيَيَّ فَعَلِمْتُ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، فَقُلْتُ: لَبَّيْكَ رَبِّ وَسَعْدَيْكَ، قَالَ: فِيمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْأَعْلَى؟ قُلْتُ: فِي الدَّرَجَاتِ، وَالْكَفَّارَاتِ، وَفِي نَقْلِ الْأَقْدَامِ إِلَى الْجَمَاعَاتِ، وَإِسْبَاغِ الْوُضُوءِ فِي الْمَكْرُوهَاتِ، وَانْتِظَارِ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ، وَمَنْ يُحَافِظْ عَلَيْهِنَّ عَاشَ بِخَيْرٍ وَمَاتَ بِخَيْرٍ وَكَانَ مِنْ ذُنُوبِهِ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَائِشٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِطُولِهِ، وَقَالَ: " إِنِّي نَعَسْتُ فَاسْتَثْقَلْتُ نَوْمًا فَرَأَيْتُ رَبِّي فِي أَحْسَنِ صُورَةٍ، فَقَالَ: فِيمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْأَعْلَى ".[1]

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما رب ماته بهترين صورت كي راغي ماته اوونيل اي محمد ما وونيل اي زمونږ ربه زه حاضر يم او بار بار ستا عبادت كول خپل سعادت گنم، ايا تاته معلومه ده ملاء

---

[1] ـ انظر ماقبله (تحفة الأشراف : ٥٤٨٤)

اعلي «دلوړي مرتبې والافرشتي» په څه خبره او پخپل مينځ کي جنګيږي؟ ما اووئيل دکفاراتو او دګناهونو ختمونکو څيزونو په باره کي دوی پخپل مينځ کي په جګړه دي (چي دا کوم کوم څيزونه دي)؟ ما ووئيل: په درجاتو او کفاراتو او مسجدونو ته په قدمونو اخستلو اودتکليف باوجود ځانسته اودس کولو. اود يو مونځ نه پس د بل مونځ انتظار کولو باره کي بحث کوي. څوك چي داسي کوي دکاميابۍ ژندګۍ مرتبې به تيروي او دکاميابۍ سره به مړکيږي او دخپلو ګناهونو نه به داسي پاك شي څنګه چي دي په اول ځل دمور نه پيدا کيدو په وخت کي پاك وو.
داحديث په دي سند حسن غريب دي او په دي باب کي دمعاذ بن جبل، عبدالرحمن بن عائش رضي الله عنهما هم دنبي کريم سلي الله عليه وسلم نه ددي پشان روايت نقل کړي دي او همدا رنګي دا حديث دمعاذ بن جبل په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه مفصل هم مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيل په ما دخوب جوته راغله او بيا دروند خوب راغي او بيا ما خپل رب په بهترين صورت کي اوليدو چي فرمائيل يې "فيم يختصم الملاء الاعلي" يعني دفرشتو اعلي ترين جماعت په څه خبره په جګړه شوي دي.

****

٣٢٣٥ـ حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هَانِئٍ أَبُو هَانِئٍ الْيَشْكُرِيُّ، حَدَّثَنَا جَهْضَمُ بْنُ عَبْدِ اللهِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ سَلَّامٍ، عَنْ أَبِي سَلَّامٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَايِشٍ الْحَضْرَمِيِّ أَنَّهُ حَدَّثَهُ، عَنْ مَالِكِ بْنِ يَخَامِرَ السَّكْسَكِيِّ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: احْتُبِسَ عَنَّا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ غَدَاةٍ عَنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ حَتَّى كِدْنَا نَتَرَاءَى عَيْنَ الشَّمْسِ، فَخَرَجَ سَرِيعًا فَثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَجَوَّزَ فِي صَلَاتِهِ، فَلَمَّا سَلَّمَ دَعَا بِصَوْتِهِ، فَقَالَ لَنَا: " عَلَى مَصَافِّكُمْ كَمَا أَنْتُمْ ". ثُمَّ انْفَتَلَ إِلَيْنَا، ثُمَّ قَالَ: " أَمَا إِنِّي سَأُحَدِّثُكُمْ مَا حَبَسَنِي عَنْكُمُ الْغَدَاةَ أَنِّي قُمْتُ مِنَ اللَّيْلِ فَتَوَضَّأْتُ وَصَلَّيْتُ مَا قُدِّرَ لِي، فَنَعَسْتُ فِي صَلَاتِي حَتَّى اسْتَثْقَلْتُ فَإِذَا أَنَا بِرَبِّي تَبَارَكَ وَتَعَالَى فِي أَحْسَنِ صُورَةٍ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، قُلْتُ: " لَبَّيْكَ رَبِّ ". قَالَ: فِيمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْأَعْلَى؟ قُلْتُ: " لَا أَدْرِي ". قَالَهَا ثَلَاثًا، قَالَ: " فَرَأَيْتُهُ وَضَعَ كَفَّهُ بَيْنَ كَتِفَيَّ حَتَّى وَجَدْتُ بَرْدَ أَنَامِلِهِ بَيْنَ ثَدْيَيَّ، فَتَجَلَّى لِي كُلُّ شَيْءٍ وَعَرَفْتُ ". فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، قُلْتُ: " لَبَّيْكَ رَبِّ ". قَالَ: فِيمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْأَعْلَى؟ قُلْتُ: " فِي الْكَفَّارَاتِ ". قَالَ: مَا هُنَّ؟ قُلْتُ: " مَشْيُ الْأَقْدَامِ إِلَى الْجَمَاعَاتِ، وَالْجُلُوسُ فِي الْمَسَاجِدِ بَعْدَ الصَّلَوَاتِ، وَإِسْبَاغُ الْوُضُوءِ فِي الْمَكْرُوهَاتِ ". قَالَ: فِيمَ؟ قُلْتُ: " إِطْعَامُ الطَّعَامِ، وَلِينُ الْكَلَامِ، وَالصَّلَاةُ بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ ". قَالَ: سَلْ، قُلْتُ:

"اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فِعْلَ الخَيْرَاتِ، وَتَرْكَ المُنْكَرَاتِ، وَحُبَّ المَسَاكِينِ، وَأَنْ تَغْفِرَ لِي وَتَرْحَمَنِي، وَإِذَا أَرَدْتَ فِتْنَةَ قَوْمٍ فَتَوَفَّنِي غَيْرَ مَفْتُونٍ، أَسْأَلُكَ حُبَّكَ، وَحُبَّ مَنْ يُحِبُّكَ، وَحُبَّ عَمَلٍ يُقَرِّبُ إِلَى حُبِّكَ. قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّهَا حَقٌّ فَادْرُسُوهَا، ثُمَّ تَعَلَّمُوهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. سَأَلْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ هَذَا الحَدِيثِ، فَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَالَ: هَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ الوَلِيدِ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ اللَّجْلَاجِ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَائِشٍ الحَضْرَمِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ الحَدِيثَ، وَهَذَا غَيْرُ مَحْفُوظٍ، هَكَذَا ذَكَرَ الوَلِيدُ فِي حَدِيثِهِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَائِشٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَوَى بِشْرُ بْنُ بَكْرٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ هَذَا الحَدِيثَ بِهَذَا الإِسْنَادِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَائِشٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهَذَا أَصَحُّ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَائِشٍ لَمْ يَسْمَعْ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [1]

ترجمه : دمعاذ بن جبل رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي يو سحر رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته دمونځ راكولو نه حصار شو تردي پوري نزدي وه چي مونږ دنمر ښكلي اووينو او بيا ناڅاپه رسول الله په تيزئ سره دحجري نه بهر راووتلو او خلق يې دمونځ قائمولو دپاره راوغوښتل رسول الله مونځ وركړو او مونځ يې مختصر اوكړو بيا چي كله يې سلام اوګرځولو نو خلقو ته يې اواز وركړو او خان ته يې نزدي راوغوښتله او فرمائيل يې پخپل خپل خاي كيني: بيا زمونږ طرف ته متوجه شو او فرمائيل يې په صحيح وخت دسحر مونځ اداء كولو دپاره تاسو ته دراتلو نه څه څيز منع كړي وم، زه دشپې پاڅيدم اودس مي اوكړو او تهجد مونځ مي اوكړو څومره چي زما دپاره ليكلي شوي وو بيا چي په ماباندي په مونځ كي پرشاني راغله تردي پوري چي دروند خوب راغي يو دم مي اوليدل چي زه دالله رب العالمين سره يم او هغه په ډير بهتر شكل او صورت كي ماته يې فرمائيل اي محمد ما اووئيل اي زما ربه زه حاضر يم هغه اوفرمائيل ملاء اعلي (دفرشتو بهترين جماعت) په څه خبره په جګړه شوي دي ما عرض اوكړو اي پروردګاره زه نه پوهيږم تردي چي الله تعالي دا تپوس دري پيري اوكړو رسول الله اوفرمائيل ما الله ذوالجلال اوليدو چي خپل لاس يې زما د دواړو اوګو په مينځ كي كيخودو تردي پوري چي ما دهغه دګوتو يخوالي پخپله سينه كي دننه محسوس كړو او هر يو شي زما دپاره روښانه

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١١٣٦٢)

كړي شو او زه پوهه شوم بيا الله تعالي اوفرمائيل اي محمد ما اوونيل اي زما ربه زه حاضر يم نو وبي فرمائيل ملاء اعلي په څه خبره په جګړه شوي دي ما اوونيل دكفاراتو په باره كي زما نه يي تپوس اوكړو كفارات څه څيز دي ما اوونيل دجماعت مونځ دپاره پخپو تلل، دمونځ نه پس په مسجد كي دبل مونځ په انتظار كي كيناستل. او دمشكلاتو په وخت كي كامل اودس كول. زما نه يي تپوس اوكړو مزيد دڅه په باره كي بحث كوي ما اوونيل محتاجانو ته دخوراك وركولو او په خبرو كي دنرمۍ كولو او كله چي خلق اوده وي په هغه وخت كي مونځ كولو باره كي بحث كوي الله تعالي اوفرمائيل اوغواړه او دغوښتلو وخت كي داسي وايه "سَلْ. قُلْتُ:"
اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ، وَتَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ، وَحُبَّ الْمَسَاكِينِ، وَأَنْ تَغْفِرَ لِي وَتَرْحَمَنِي، وَإِذَا أَرَدْتَ فِتْنَةَ قَوْمٍ فَتَوَفَّنِي غَيْرَ مَفْتُونٍ، أَسْأَلُكَ حُبَّكَ، وَحُبَّ مَنْ يُحِبُّكَ، وَحُبَّ عَمَلٍ يُقَرِّبُ إِلَى حُبِّكَ." يعني اي الله تعالي زه ستانه دنيكو كارونو كولو او منكراتو نه دبچ كيدو توفيق غواړم او دمسكينانو سره محبت كول غواړم او زه دا غواړم چي ته راته معافي اوكړي او رحم راباندي اوكړي او كله چي ته كوم قوم لره په ازمائش كي مبتلا كوي نو مالره په فتنه كي اچولو نه مخكي مرګ راكړي، زه تاسره او دهغه كس سره څوك چي تاسره محبت كوي دمحبت كولو دتوفيق طلب ګار يم او ستا نه دداسي كار توفيق غواړم كوم چي ستا دمحبت دحصول سبب جوړيږي رسول الله اوفرمائيل دا حق دي دا لولئ او ياد يي كړئ او نورو خلقو ته يي هم ورسوئ او ورته يي ياد كړئ.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي ما دامام بخاري نه دي حديث باره كي تپوس اوكړو نو راته يي اوونيل دا حديث حسن صحيح دي او دا يي هم اوونيل چي دا حديث دوليد بن مسلم دهغه حديث نه زيات صحيح دي كوم چي هغه دعبدالرحمن بن يزيد بن جابر نه نقل كوي، امام ترمذي وائي مونږ ته خالد بن لجلاج حديث بيان كړي دي او هغه ته عبدالرحمن بن عايش حضرمي بيان دي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي او وړاندي يي همدا حديث بيان كړو او دا غير محفوظ سند دي همدا رنګي وليد پخپل سند كي كوم چي هغه دعبدالرحمن بن يزيد بن جابر نه نقل كړي دي وائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي مګر بشر بن بكر روايت بيانوي دعبدالرحمن بن يزيد بن جابر نه او داحديث په همدي سند هغوئ نقل كړي دي دعبدالرحمن بن عايش نه او عبدالرحمن ذنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه په عن لفظ سره او دا زيات صحيح دي ځكه چي عبدالرحمن بن عايش دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه اوريدل نه دي كړي.

****

٤٠_ باب وَمِنْ سُورَةِ الزُّمَرِ
دسورة الزمر دبعضي ايتونو تفسير

٣٢٣٦_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَلْقَمَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حَاطِبٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ: ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ (الزمر :٣١. قَالَ الزُّبَيْرُ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَتُكَرَّرُ عَلَيْنَا الْخُصُومَةُ بَعْدَ الَّذِي كَانَ بَيْنَنَا فِي الدُّنْيَا. قَالَ: " نَعَمْ. فَقَالَ: إِنَّ الأَمْرَ إِذًا لَشَدِيدٌ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه: عبدالله بن زبير رضي الله عنه دخپل پلار نه روايت كوي فرمائيل يي چي كله ايت كريمه "ثم انكم يوم القيامة عند ربكم تختصمون" يعني يقينا تهٔ مړ كيدونكي يي او يقينا دوئ هم به مړهٔ كيږي. بيا به يقينا تاسو په ورځ د قيامت د خپل رب په مخكي بحثونه كويْ نازل شو نو زبير بن عوام رضي الله عنه اوونيل اي دالله رسوله په دي دنيا كي چي زمونږ په مينځ كي جنګ جګړي كيږي ددينه پس به هم دوباره زمونږ په مينځ كي په اخرت كي جنګ جګړي كيږي؟ رسول الله اوفرمائيل هو زبير اوونيل بيا خو به معامله ډيره سخته وي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح: هر كله چي په مشركانو باندي سخت رد اوكړي شو. نو هغوئ د غصي نه خيري كولي. چي دا نبى دِي مړ شى چي مونږه ترينه خلاص شو. نو په دي ايت كي جواب دي. چي مرګ خو په ټولو باندي راځى. نو د بل په مرګ خوشحالى كول هيڅ فائده نهٔ كوي. او دا رنګ په مرګ سره د جګړو نه نهٔ خلاصيږيْ بلكه د مرګ نه روستو په دوباره ژوندكي به هم جګړي وى اوفيصليبه وى. تَخْتَصِمُوْنَ دا اختصام عام دي كه د مومنانو په مينځ كي وى او كه د كتابيانو كافرانو سره وى او كه د مشركانو سره وى.
ف: دلته دا بيانول مقصود نه دي چى جهنم ته دتلو دپاره مجموعه كذب علي الله او كذب بالصدق موقوف عليه دي يادارنګي دنجات دپاره مجموعه دعوت الي الصدق او تصديق موقوف عليه دي بلكه په دي مقام كى چى دكوم اهل اختصام ذكر دي په دي كى دواړو طرفونوته مجموعه متحقق وه او همدارنګي زيادت دمدحي او زيادت دقدحي مقصود دي

(١) ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٦٢٩)

پس تخصيص په اعتبار دوقوع يا په اعتبار دزيادت دمدحي او قدحي دي نه چې په اعتبار دقصد دتوقف. بيان القران.

****

٣٢٣٧_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَبَّانُ بْنُ هِلَالٍ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وحَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ، قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقْرَأُ: "يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا (الزمر :٥٣ وَلَا يُبَالِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ ثَابِتٍ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، قَالَ: وَشَهْرُ بْنُ حَوْشَبٍ يَرْوِي عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ الأَنْصَارِيَّةِ، وَأُمُّ سَلَمَةَ الأَنْصَارِيَّةُ هِيَ أَسْمَاءُ بِنْتُ يَزِيدَ. ([1])

ترجمه: داسماء بنت يزيد رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا ايت كريمه " يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا " يعني ته اووايه اې بندګانو زما. هغه كسان چې زياتې يې كړيدي په ځانونو خپلو. مه نااُميده كيږئ د رحمت د الله تعالى نه. يقينا الله تعالى بخي ګناهونه ټول. يقينا هغه بخنه كوونكي رحم كوونكي دي. واوريدو او دڅه خبري پرواه يې نه لرله.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي او مونږ يې صرف دثابت په سند دشهر بن حوشب په واسطه پيژنو او شهر بن حوشب دام سلمه انصاريه نه نقل كړي دي او دام سلمه انصاريه نوم اسماء بنت يزيد دي.

تشريح: په دې كې د شرك او ګناهونو نه توبه كولو ته ترغيب دي. او د عذاب نه د بچ كيدلو طريقه ذكر كوي. او هغه توبه كول دي د شرك او نورو ګناهونو نه. يا عِبَادِيَ د دې نه مومنان مراد دي. الذُّنُوبَ جَمِيعًا. نه مراد د كفر او شرك نه علاوه ګناهونه دي. يا مراد ټول بندګان دي مشركانو ته هم شامل دي نو په ګناهونو كې شرك هم داخل دي. او مغفرت په توبې كولو سره مراد دي ځكه چې شرك بغير د توبې نه، نه معاف كيږي.

اسماء بنت يزيد رضي الله عنها حالات

نوم اسماء كنيهام سلمه، اسماء بنت يزيد بن السكن بن رافع دهجرت نه پس ديو څو ښځو سره درسول الله په خدمت كې حاضره شوه او اسلام يې قبول كړو دهجرت په اول كال چې دعائشه

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٧٧٤)

رضي الله عنها رخصتي كيدله نو كومو بنخو چي دا سنگار كړي وه په هغې كې يوه اسماء رضي الله عنها هم وه، دهجرت په پينځلسم كال په يرموك جنګ كې هغې دخپل خيمې په موګي نهه روميان وژلي وو (اصابه).

علامه ابن حجر وائي كانت ذات العقل والدين يعني هغه په عقل او دين دواړو متصف وه او درسول الله صلي الله عليه وسلم خدمت يې كولو (مسند احمد).

اسماء رضي الله عنها ډيره مهمان نوازه وه يو خل ورته شهر په حوشب راغى او خوراك يې ورته پيش كړو شهر دخوړلو نه انكار اوكړو نو اسماء ورته دنبي كريم صلي الله عليه وسلم واقعه بيان كړه په هغې كې ديته اشاره وه چي دخوراك نه انكار كول مناسب نه دي نو په دي وخت كې شهر اووئيل بيابه هيڅ كله زه دا غلطي اونكړم (مسند احمد).

ددي دوفات دتاريخ باره كې اسماء الرجال والاخاموش دي او ۸۱ روايات ورنه منقول دي.

****

۳۲۳۸ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنِي مَنْصُورٌ، وَسُلَيْمَانُ الأَعْمَشُ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبِيدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: جَاءَ يَهُودِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ إِنَّ اللَّهَ يُمْسِكُ السَّمَاوَاتِ عَلَى إِصْبَعٍ، وَالأَرَضِينَ عَلَى إِصْبَعٍ، وَالجِبَالَ عَلَى إِصْبَعٍ، وَالخَلَائِقَ عَلَى إِصْبَعٍ، ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا المَلِكُ. قَالَ: فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ، قَالَ: "وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ(الأنعام :۹۱" قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه: دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي يو يهودي نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته راغلو او وئيل يې اي محمد (صلي الله عليه وسلم) الله تعالي اسمانونه په يوه ګوته اودرولي نيولي دي او زمكي يې په بله ګوته پورته كړي دي او غرونه يې په بله ګوته ټينګ كړي دي او ټول مخلوقات يې په بله ګوته اباد كړي دي او بيا وائي چي زه دټولي دنيا بادشاه يم ددي خبري په اوريدو رسول الله صلي الله عليه وسلم په خندا شو تردي پوري چي غابښونه مبارك يې ښكاره شول او بيا يې اوفرمائيل چي بيا هم خلقو دالله تعالي داسي قدر او عزت اونكړو څنګه چي كول پكار وو

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /التفسير سورة الزمر ۲ (۴۸۱۱)، والتوحيد ۱۹ (۷۴۱۴)، و۲۶ (۷۴۵۱)، و ۳۶ (۷۵۱۳).
صحيح مسلم/المنافقين ح ۱۹ (۲۷۸۶) (تحفة الأشراف: ۹۴۰۲)

٣٢٣٩_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا فُضَيْلُ بْنُ عِيَاضٍ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبِيدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعَجُّبًا وَتَصْدِيقًا.
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه دابن مسعود رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دتعجب او تصديق كولو په حال كي په خندا شو.
امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٢٤٠_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّلْتِ، حَدَّثَنَا أَبُو كُدَيْنَةَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ أَبِي الضُّحَى، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: مَرَّ يَهُودِيٌّ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا يَهُودِيُّ، حَدِّثْنَا". فَقَالَ: كَيْفَ تَقُولُ يَا أَبَا الْقَاسِمِ إِذَا وَضَعَ اللَّهُ السَّمَوَاتِ عَلَى ذِهْ، وَالأَرْضَ عَلَى ذِهْ، وَالْمَاءَ عَلَى ذِهْ، وَالْجِبَالَ عَلَى ذِهْ، وَسَائِرَ الْخَلْقِ عَلَى ذِهْ وَأَشَارَ أَبُو جَعْفَرٍ مُحَمَّدُ بْنُ الصَّلْتِ بِخِنْصَرِهِ أَوَّلاً، ثُمَّ تَابَعَ حَتَّى بَلَغَ الإِبْهَامَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ: وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ (الأنعام :٩١. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ، لاَ نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عَبَّاسٍ إِلاَّ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَأَبُو كُدَيْنَةَ اسْمُهُ يَحْيَى بْنُ الْمُهَلَّبِ، قَالَ: رَأَيْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ الْحَسَنِ بْنِ شُجَاعٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الصَّلْتِ. [2]

ترجمه دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي يو يهودي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خوا كي تير شو نورسول الله دي يهودي ته اوفرمائيل مونږ سره خو څه خبري اتري اوكړه يهودي اونيل اي ابوالقاسم ته څه وائي كله چي الله تعالي اسمانونه په دي باندي او زمكي په دي باندي او اوبه په دي باندي او غرونه په دي باندي او تمام مخلوق په دي باندي اوچت كړي، ابوجعفر محمد بن صلد راوي ددي حديث په بيانولو كي خپلي كچي ګوتي ته اشاره اوكړه او بيا دبلي نه پس يي اشاري كولي تردي چي غټي ګوتي ته راورسيدو تردي چي په دي موقعه الله تعالي په طور دتعجب "وماقدروا الله حق قدره" نازل كړو.

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير سورة الزمر ٢ (٣٨١١) . والتوحيد ١٩ (٤٣١٣) . و٢٦ (٤٣٥١) . و ٣٦ (٤٥١٣) .
صحيح مسلم/المنافقين ح ١٩ (٢٤٨٦) (تحفة الأشراف : ٣٩٠٣)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٦٣٥٤)

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن غريب صحيح دي مونږ دا دابن عباس په روايت صرف په همدي سند پيژنو او د ابو كدينه نوم يحي بن مهلب دي. امام ترمذي وائي ما امام بخاري ليدلي وو چي هغوئ داحديث دحسن بن شجاع نه او هغه دمحمد بن صلد نه نقل كولو.

****

٣٢٤١ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ عَنْبَسَةَ بْنِ سَعِيدٍ عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي عَمْرَةَ، عَنْ مُجَاهِدٍ، قَالَ: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: أَتَدْرِي مَا سَعَةُ جَهَنَّمَ؟ قُلْتُ: لَا. قَالَ: أَجَلْ وَاللَّهِ مَا تَدْرِي، حَدَّثَتْنِي عَائِشَةُ، أَنَّهَا سَأَلَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِهِ: وَالأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمَوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ (الزمر: ٦٧. قَالَتْ: قُلْتُ: فَأَيْنَ النَّاسُ يَوْمَئِذٍ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "عَلَى جِسْرِ جَهَنَّمَ". وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه: دمجاهد بيان دي عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائيلي دي ايا تاسو ته معلومه نه ده جهنم څومره لوي دي؟ ما اووئيل نه هغوئ اووئيل بيشكه په الله تعالى قسم ماته معلومه نه وه مګر عائشه رضي الله عنها ماته بيان كړل چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه يي ايت كريمه " وَالأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمَوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ" يعني او قدر نه دي كړي دوئ د الله تعالى لائق قدر د هغهٔ او زمكه ټوله د هغه په موټى كي به وي په ورځ د قيامت او اسمانونه به انغښتي شوي وي په ښي لاس د هغهٔ كي . باره كي تپوس اوكړو اي دالله رسوله په دغه ورځ به خلق چرته وي رسول الله اوفرمائيل په جهنم دپل صراط سره ددينه معلومه شوه، چي جهنم به ډير اوږد او پلن وي او دي حديث باره كي يوه اوږده قصه ده.
امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي.
.پاك دي هغه او اوچت دي د هغي نه چي دوئ يي ورسره شريك جوړوي.

تشريح: په دي كي زورنه ده مشركينو ته او قدر په معنى د تعظيم دي او حق تعظيم د الله تعالى دا دي چي د هغهٔ بندګى په داسي طريقه اوكړي شي. چي د هر قسم شرك نه پاكه وي او مشرك داسي نه كوي نو معلومه شوه چي مشرك بنده الله تعالى نهٔ دي پيژندلي. او نه يي تعظيم د هغهٔ كړيدي او نه يي صفت د هغهٔ كړي دي په لائق طريقي سره. وَالأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ په دي كي عظمت شان د الله تعالى ذكر كوي او جَمِيعًا. دلالت

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ١٦٢٢٨)

کوی چي د دي نه مراد تولي اووه زمکي دی اوقبض نه مراد دهغینیول دی په لاس کي
ددي وجي نه د قیامت تخصیص یي ذکر کړیدي. صرف قدرت ترینه مراد نهٔ دي خکه
چي قدرت یي په دنیا کي هم شته. نو تخصیص د قیامت ته حاجت نهٔ نیشته.
بیمینه. دا د متشابهاتو نه دي په کیفیت کي او د معنی په اعتبار سره محکم دي. یعنی
خي لاس او کیفیت د هغي الله تعالی پیژنی. مشبهه او مجسمه دلیل نیسی چي د الله
تعالی مشابه او جسم شته نو جواب یي اوکړو چه.

****

٣٢٤٢ـحَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ: وَالأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمَوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ (الزمر :٦٧ فَأَيْنَ الْمُؤْمِنُونَ يَوْمَئِذٍ؟ قَالَ: "عَلَى الصِّرَاطِ يَا عَائِشَةُ". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.([1])

ترجمه : دام المؤمنین عائشه رضي الله عنها بیان دي ما عرض اوکړو اي دالله رسوله ارشاد الهي دي، " وَالأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمَوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ " هر کله چي ټوله زمکه په دغه ورځ دالله تعالی په موټي کي او اسمانونه به ټول انغښتلي شوي وي نو مومنان به په دغه ورځ چرته وي؟ رسول الله اوفرمائیل اي عائشي خلق به په پل صراط باندي وي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحدیث حسن صحیح دي.

****

٣٢٤٣ـحَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ عَطِيَّةَ الْعَوْفِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَيْفَ أَنْعَمُ وَقَدِ الْتَقَمَ صَاحِبُ الْقَرْنِ الْقَرْنَ وَحَنَى جَبْهَتَهُ وَأَصْغَى سَمْعَهُ يَنْتَظِرُ أَنْ يُؤْمَرَ أَنْ يَنْفُخَ فَيَنْفُخَ". قَالَ الْمُسْلِمُونَ: فَكَيْفَ نَقُولُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "قُولُوا: حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ، تَوَكَّلْنَا عَلَى اللَّهِ رَبِّنَا". وَرُبَّمَا قَالَ سُفْيَانُ: "عَلَى اللَّهِ تَوَكَّلْنَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَقَدْ رَوَاهُ الأَعْمَشُ أَيْضًا عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ.
([2])

[1] ـ تفرد به المؤلف

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٤٢٢٢)

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زه به څنګه په ارام پاتي شم او حال دادي چي شپيلئ پوکلو والا په شپيلئ باندي خوله ايخودلي ده او خپل مخ يي ورته وړګرخولي دي او غوږ يي ورته نيولي دي او ديته انتظار کوي چي دشپيلئ پوکلو حکم به کله کيږي خو چي کله ورته حکم اوشي نو فورا به په شپيلئ کي پوکي اوکړي مسلمانانو عرض اوکړو اي دالله رسوله مونږ به په داسي وخت کي څه وايو رسول الله اوفرمائيل تاسو دا کلمات وائي "حسبنا الله ونعم الوکيل وتوکلنا علي الله ربنا" يعني الله تعالي زمونږ دپاره کافي دي او ځومره بهترين کارساز دي مونږ پخپل رب اعتماد کړي دي راوي وائي چي کله کله به سفيان د "وتوکلنا علي الله ربنا" په ځاي باندي "علي الله توکلنا" وئيل ددواړو يوه معني ده.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن دي او اعمش هم دا حديث دعاطيه په واسطه دابوسعيد خدري نه نقل کړي دي.

تشريح: په يو روايت کي راغلي دي کله چي رسول الله دکفارو دتعاقب اعلان اوکړو نو اويا زخمي صحابه کرام اودريدل کله چي رسول الله ددي صحابه کرامو سره حمراء الاسد ته ورسيدو نو هلته نعيم بن مسعود رضي الله عنه موجود وو هغه خبر ورکړو چي ابو سفيان دنور لښکر جمع کولو نه پس په مديني دحملي کولو اراده لري ددي خبر په اوريدو سره صحابه کرامو په اتفاق سره اووئيل "حسبنا الله نعم الوکيل"

ددينه معلومه شوه چي دهري پريشانئ په وخت کي ددي ايت کريمه لوستل مجرب دي او همدا دصحابه کرامو او انبياء اوتابعينو اودهري زماني دمسلمانانو عادت پاتي شوي دي همدارنګي ابوالانبياء ابراهيم عليه السلام واقعه بيان کړي شوي ده چي کله اور ته نمرود ده دغورځولو اراده اوکړه نو پدغه وخت کي فرشتي هم راغلي مګر ابراهيم عليه السلام همدا جمله اووئيله "حسبي الله ونعم الوکيل"

****

٣٢٤٤ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ. حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ. أَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ، عَنْ أَسْلَمَ الْعِجْلِيِّ. عَنْ بِشْرِ بْنِ شَغَافٍ. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا. قَالَ: قَالَ أَعْرَابِيٌّ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا الصُّورُ؟ قَالَ: "قَرْنٌ يُنْفَخُ فِيهِ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ. [1]

[1] ـ انظر حديث رقم ٣٢٣٠

ترجمه . دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي يو باندچي اووئيل اي دالله رسوله صور څه څيز دي رسول الله اوفرمائيل دا يو ښکر دي په کوم کي چي به پوکي کولي شي
امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن دي او مونږ يي صرف دسليمان تيمي په روايت پيژنو

****

٣٢٤٥ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ. حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو. حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ: قَالَ يَهُودِيٌّ بِسُوقِ الْمَدِينَةِ: لَا وَالَّذِي اصْطَفَى مُوسَى عَلَى الْبَشَرِ. قَالَ: فَرَفَعَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ يَدَهُ فَصَكَّ بِهَا وَجْهَهُ، قَالَ: تَقُولُ هَذَا وَفِينَا نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمَوَاتِ وَمَنْ فِي الأَرْضِ إِلا مَنْ شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَى فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنْظُرُونَ (الزمر :٦٨ فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ رَفَعَ رَأْسَهُ فَإِذَا مُوسَى آخِذٌ بِقَائِمَةٍ مِنْ قَوَائِمِ الْعَرْشِ. فَلَا أَدْرِي أَرَفَعَ رَأْسَهُ قَبْلِي أَمْ كَانَ مِمَّنْ اسْتَثْنَى اللَّهُ. وَمَنْ قَالَ: أَنَا خَيْرٌ مِنْ يُونُسَ بْنِ مَتَّى فَقَدْ كَذَبَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي يو يهودي په بازار کي اووئيل هيڅ کله نه زما دي په هغه ذات قسم وي چاچي موسي عليه السلام لره په تمامو خلقو کي چانړکړي او منتخب کړي دي. ددي خبري په اوريدو يو انصاري لاس پورته کړو او دده په مخ يي دسيپړي ګذار اوکړو او مطلب يي دا وو چي ته دا څنګه وائي ،دتمامو انسانانو او جناتو سردار، نبي کريم صلي الله عليه وسلم خو زمونږ مينځ کي موجود دي ،تردي چي دواړه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راغلل، نو رسول الله دا ايت کريمه تلاوت کړو " وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمَوَاتِ وَمَنْ فِي الأَرْضِ إِلا مَنْ شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَى فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنْظُرُونَ " او پوکي به اوکړي شي په شپيلئ پس بيهوشه به شي چي په اسمانونو کي دي او په زمکه کي دي مګر علاوه دهغه چانه چالره چي الله تعالي بچ کوي بيابه دوباره شپيلئ کي پوکي اوکړي شي پس ناڅاپه به دوئ نيغ ولاړ وي چي ګوري به ،الزمر، او زه به په سر پورته کونکو کي اولني کس يم پس ناڅاپه به موسي عليه السلام اوليدلي شي چي دعرش يوه خپه به يي نيولي وي ماته نه ده معلومه چي ده به زمانه مخکي سر پورته کړي وي او کنه او کنه دي به دهغه چانه وي دچا

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٥٠٦٢)

استثناء چي الله تعالي كړي ده او كه څوك اوواني چي زه ديونس بن متي (عليه السلام) نه غوره يم يقينا چي دروغ يي اوونيل.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.
ف: دلته يي قيام فرمائيلي دي او په سورة يس كى ينسلون راغلي دي وجه دتطبيق په سورة يسين كي ذكر شوي دي او د "الامن شاء" تفسير دسورة نمل اخري ركوع كى تير شوي دي او د "اشرقة الارض" او د "وترى الملائكة حافين" چي كوم تفسيرليكلي شوي دي دا تفسير د درمنثور دمرفوع حديث نه ماخوذ دي او دجنت دګرځيدو دخاي نه په مشي كولو تعبير دحقيقت او مجاز دواړو احتمال لري

****

٣٢٤٦_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا الثَّوْرِيُّ، أَخْبَرَنِي أَبُو إِسْحَاق، أَنَّ الأَغَرَّ أَبَا مُسْلِمٍ حَدَّثَهُ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "يُنَادِي مُنَادٍ: إِنَّ لَكُمْ أَنْ تَحْيَوْا فَلَا تَمُوتُوا أَبَدًا، وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَصِحُّوا فَلَا تَسْقَمُوا أَبَدًا، وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَشِبُّوا فَلَا تَهْرَمُوا أَبَدًا، وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَنْعَمُوا فَلَا تَبْأَسُوا أَبَدًا، فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى: وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ (الزخرف: ٧٢". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرَوَى ابْنُ الْمُبَارَكِ وَغَيْرُهُ هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ الثَّوْرِيِّ وَلَمْ يَرْفَعُوهُ. [1]

ترجمه: دابوسيد خدري او ابوهريره رضي الله عنهما نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يو اعلان كونكي به اعلان اوكړي په جنت كي به ستاسو دپاره هميشه اوسيدل وي او هيڅ كله به نه مرئ او صحت مند به يي بيماري به دربانديي نه راخي او هيڅ كله به كوم څيز ته محتاج كيږئ نه او دالله تعالي دقول " وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ " او دغه جنت هغه دي چي دركړي شويدي تاسو ته په وجه د هغه عملونو چي تاسو كول . همدامطلب دي
امام ترمذي رحمه الله وايي ابن مبارك وغيره دا حديث دثوري نه نقل كړي دي او هغوئ مرفوع نه دي نقل كړي

تشريح: په دي كي يي د جنت د حصول سبب ذكر كړيدي لكه چي سورة اعراف آيت: ۴۳ كي تير

[1] - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٠٦٢)

شوي دي. أُورِثْتُمُوهَا میراث یې دَ دي وجې اوفرمایل چې میراث بیتکلیفه حاصلیږی. نو دَ جنت دَ حاصلولو دپاره چې کوم عمل مؤمنانو کړیدي نو هغه ډیر لږ دي. بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ. دَ جنت استحقاق دَ الله تعالی په رحم سره دي. او درجات دَ جنت په عمل سره حاصلیږی نو دلته یې عمل سبب اوګرځوو

****

٤١ـ باب وَمِنْ سُورَةِ الْمُؤْمِنِ

دسورة مومن دبعضې ایتونو تفسیر

٣٢٤٧ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ وَالأَعْمَشِ، عَنْ ذَرٍّ، عَنْ يُسَيْعٍ الحَضْرَمِيِّ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: " الدُّعَاءُ هُوَ العِبَادَةُ، ثُمَّ قَرَأَ: وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ (غافر :٦٠ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه نعمان بن بشیر رضي الله عنهما نه روایت دی چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي دعا اصل عبادت دی او بیا یې دا ایت کریمه" ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ". تلاوت کړو.

امام ترمذي رحمه الله وایي: دا حدیث حسن صحیح دی.

لغات عبادة، معني فرمانبرداري، عبد دنصر نه عبادتا وعبودتا وعبودیة عبادت کول او دباب تفعیل وغیره نه هم راځي

تشریح په دي حدیث کې ددعا غوښتلونه عبادت سره تعبیر شوی دی ددي یو څو وجوهات دي

اول دعا کول دالله تعالي حکم دی او هریو شی چې دالله حکم وي دهغې دپوره کولو نعم عبادت دی.

دویم: دعبادت حقیقت عجز او انکساري ده او ددعاهم دغه مفهوم دی چې انسان خپل خان

---

(١) ـ انظر حدیث رقم ٢٩٦٩

هيڅ نه ګڼړي او دالله په وړاندي يې دفقيرانو پشان لاس غوړولي وي او خپل حاجتونه ورنه غواړي.
دريم: مبالغتا دعا ته عبادت ونيلى شوي دي لكه چي په يو ايت كريمه كې راخي ان الذين يستكبرون عن عبادتي سيدخلون جهنم داخرين.
ددي حديث نه علماؤ دا مسئله معلومه كړي ده چي هر كله دعا عبادت دى نو دالله نه علاوه خو بل هيڅوك لائق دعبادت نشته نو بيا خو دبزرګانو وغيره نه مرادونه غوښتل جائز نه دي خكه چي دعا عبادت دى او عبادت صرف دالله تعالي حق دى.

****

٤٢_ باب وَمِنْ سُورَةِ حم السَّجْدَةِ

دسورة حم السجدة دبعضي ايتونو تفسير

٣٢٤٨_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ. عَنْ مَنْصُورٍ. عَنْ مُجَاهِدٍ. عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ. عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ. قَالَ: اخْتَصَمَ عِنْدَ الْبَيْتِ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ قُرَشِيَّانِ وَثَقَفِيٌّ. أَوْ ثَقَفِيَّانِ وَقُرَشِيٌّ. قَلِيلا فِقْهُ قُلُوبِهِمْ. كَثِيرًا شَحْمُ بُطُونِهِمْ. فَقَالَ أَحَدُهُمْ: أَتَرَوْنَ أَنَّ اللَّهَ يَسْمَعُ مَا نَقُولُ؟ فَقَالَ الآخَرُ: يَسْمَعُ إِذَا جَهَرْنَا وَلَا يَسْمَعُ إِذَا أَخْفَيْنَا. وَقَالَ الآخَرُ: إِنْ كَانَ يَسْمَعُ إِذَا جَهَرْنَا فَإِنَّهُ يَسْمَعُ إِذَا أَخْفَيْنَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ: وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَنْ يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلا أَبْصَارُكُمْ وَلا جُلُودُكُمْ (فصلت: ٢٢". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه دابن مسعود رضي الله عنه بيان دى دكعبي سره نزدي دري كسان په جګړه شول چي دوه قريشيان او يو ثقفي وو يا دوه ثقفيان يو قريشي وو (دراوي شك دي)، چي په خيټو يې چربي راوريدلي وه او په دوى كي يو اوونيل ستاسو څه خيال دي مونږ چي څه وايو هغه الله تعالي اوري دويم كس اوونيل كوم چي مونږ په جهر سره وايو هغه خو اورو او كوم چي مونږ پټ وايو هغه نه اورو. دريم كس اوونيل هر كله چي هغه په جهر اوريدل اوري نو زمونږ پټ ونيل هم اوريدلي شي ترڅو چي په همدي باره كي الله تعالي دا ايت كريمه نازل كړو " وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَنْ يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلا أَبْصَارُكُمْ وَلا جُلُودُكُمْ" يعني او نه وي تاسو چي پرده مو كوله د دي نه چي ګواهي به اوكړي په تاسو باندي غوږونه ستاسو او نه سترګي ستاسو او

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير سورة المومن ١ (٤٨١٦) . و٢ (٤٨١٧) . والتوحيد ٤١ (٧٥٢١) . صحيح مسلم/المنافقين ح ٥ (٢٧٧٥) (تحفة الأشراف: ٩٣٣٥)

نه څرمني ستاسو. الخ.
امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي

تشريح: دا هم په تخويف کي داخل دي او دا قول د څرمنو دي يا د الله تعالى د طرف نه دي په اخرت کي يا زورنه دد په دنيا کي تَسْتَتِرُوْنَ په معنى د خان ساتلو دي يا په معنى د حيا کولو دي يا په معنى د يره کولو دي. كَثِيرًا ډير هغه عملونه چي دوئ پټ کول او ګمان يي دا وو چي الله تعالى ته د دي علم نشته

****

٣٢٤٩_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ. حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ. عَنِ الأَعْمَشِ. عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عُمَيْرٍ. عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ. قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللهِ: كُنْتُ مُسْتَتِرًا بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ. فَجَاءَ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ كَثِيرٌ شَحْمُ بُطُونِهِمْ. قَلِيلٌ فِقْهُ قُلُوبِهِمْ. قُرَشِيٌّ وَخَتَنَاهُ ثَقَفِيَّانِ. أَوْ ثَقَفِيٌّ وَخَتَنَاهُ قُرَشِيَّانِ. فَتَكَلَّمُوا بِكَلَامٍ لَمْ أَفْهَمْهُ. فَقَالَ أَحَدُهُمْ: أَتَرَوْنَ أَنَّ اللهَ يَسْمَعُ كَلَامَنَا هَذَا؟ فَقَالَ الآخَرُ: إِنَّا إِذَا رَفَعْنَا أَصْوَاتَنَا سَمِعَهُ وَإِذَا لَمْ نَرْفَعْ أَصْوَاتَنَا لَمْ يَسْمَعْهُ. فَقَالَ الآخَرُ: إِنْ سَمِعَ مِنْهُ شَيْئًا سَمِعَهُ كُلَّهُ. فَقَالَ عَبْدُ اللهِ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَأَنْزَلَ اللهُ: وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَنْ يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَا أَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُودُكُمْ إِلَى قَوْلِهِ فَأَصْبَحْتُمْ مِنَ الْخَاسِرِينَ (فصلت :٢٣ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ. حَدَّثَنَا وَكِيعٌ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ. عَنِ الأَعْمَشِ. عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عُمَيْرٍ. عَنْ وَهْبِ بْنِ رَبِيعَةَ. عَنْ عَبْدِ اللهِ. نَحْوَهُ. [1]

ترجمه عبدالرحمن بن يزيد وائي دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه قول دي فرمائي چي زه دکعبي په پردو کي پټ ولاړ وم او يو دري جاهلان زاغلل چي په خيټو يي چربي زاوړيدلي وه يو قريشي وو. او دود جاهلان ثقفيان دده ملګري وو او که يو ثقفي وو او دوه دده جاهلان ملګري قريشيان وو هغوئ په داسي ژبه کي خبري شروع کړي چي زه ورباندي پوهه نشوم په دوئ کي يو اوونيل ستاسو څه خيال دي ايا الله تعالي زمونږ دا خبري اوري؟ دويم اوونيل کله چي مونږ په تيز اواز خبري کوو نو هغه اوري او کله چي په خفيه خبري کوو هغه نه اوري دريم اوونيل هر کله چي الله تعالي زمونږ څه خبرو څه حصه اوريدي شي نو بيا خو ټولي اوريدي شي، عبدالله

[1] تفرد به المؤلف. وانظر ماقبله (تحفة الأشراف ـ ٩٠٢٠)

بن مسعود رضي الله عنه وائي ما ددي معاملي ذكر رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اوكړو نو الله تعالي په دي باره كي دا ايت نازل كړو " وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَنْ يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلا أَبْصَارُكُمْ وَلا جُلُودُكُمْ " نه تر "فاصبحتم من الخاسرين" پوري.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٢٥٠_حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ الْفَلَّاسُ. حَدَّثَنَا أَبُو قُتَيْبَةَ سَلْمُ بْنُ قُتَيْبَةَ. حَدَّثَنَا سُهَيْلُ بْنُ أَبِي حَزْمٍ الْقُطَعِيُّ. حَدَّثَنَا ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ. عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ. أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَرَأَ: " إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا (فصلت :٣٠ قَالَ: قَدْ قَالَ النَّاسُ: ثُمَّ كَفَرَ أَكْثَرُهُمْ فَمَنْ مَاتَ عَلَيْهَا فَهُوَ مِمَّنْ اسْتَقَامَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ سَمِعْتُ أَبَا زُرْعَةَ. يَقُولُ: رَوَى عَفَّانُ. عَنْ عَمْرِو بْنِ عَلِيٍّ حَدِيثًا. وَيُرْوَى فِي هَذِهِ الاية عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَأَبِي بَكْرٍ. وَعُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا. مَعْنَى اسْتَقَامُوا. [1]

ترجمه: دانس رضي الله عنه بيان دي فرماني چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ايت كريمه "ان الذين قالوا ربنا الله ثم استقاموا" يقينا هغه كسان چي وائي رب خمونږ الله تعالى دي بيا كلك وى په دي خبره. تلاوت كړو او ويي فرمائيل ډيرو خلقو د "ربنا الله" ونيلو باوجود هم كفر كړي دي او په ايمان مړ شو نو دي داستقامت دلاري اختيارونكو دجملي نه دي
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو مادابوذرعه نه اوريدلي دي چي عفان دعمرو بن علي نه يو حديث نقل كړي دي، ددي ايت په سلسله كي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم او ابوبكر او عمر رضي الله عنهما نه استقاموا معني مروي ده.

تشريح: په دي ايت كي دَ قرآن كريم والو حال ذكر كوى په طريقه د بشارت سره قَالُوا رَبُّنَا اللهُ. دا دَ قرآن دَ تاثير په وجه دَ دوئ عقيده جوړه شويده مراد دَ دي نه پوره ايمان او كمال توحيد دي يعنى خالق. مالك حاكم حقدار دَ بندګئ او د پالني ټول څيزونه پيدا كوونكي او په ټولو حاجتونو باندي قادر دي. او په ديكي هيڅ څوك شريك او برخه خور نهٔ منى. او نهٔ يي چالله اختيار وركړيدي. دي ټولو صفتونو ته لفظ دَ رب شامل دي. ثُمَّ اسْتَقَامُوْا په ايمان او توحيد

[1] تفردبه المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف ٣٢٣)

باندي كلك پاتي شول تر مرګه پوري او سفيان بن عبدالعزيز فرمائی. قُلْتُ يَارسولَ اللهِ قُلْ لِي فِي الإِسْلَامِ قَوْلاً لاَ أَسْأَلُ عَنْهُ أَحَدًا. قَالَ. قُلْ اٰمَنْتُ بِاللهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ (صحيح مسلم كتاب الايمان)

ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ته اونيل چي ماته دَ اسلام داسي كلمه اوفرمايه. چي دَ هغي په باره كي دَ بل چانه تپوس نهٔ كوم. نو وي فرمائيل. چي اووايه چي ما په الله تعالى باندي ايمان راوړي دي. او بيا په دي خبره كلك شه.

او أَقَامُوا يي نهٔ دي فرمائيلي. بلكه سين او تا يي په كي راوړيدي نو په دي كي اشاره ده چي هر وخت دَ الله تعالى نه په دين باندي كلك والي طلب كوی.

او دي ته كرامات دَ اولياءُ وائی نو معلومه شوه چي دَ ولی تعريف هم دا دي چي رَبُّنَا اللهُ وائی او دَ استقامت صفت په كي موجود وی. په دي ايت كي ئي په څلورو طريقو سره بشارت ذكر كړيدي. اول. صيغه دَ تتنزّل دلالت كوی چي وخت په وخت ملائك ورته راځی دا نهٔ چي صرف يو ځل راځی. په رشتينو خوبونو كي، دَ زنكدن په وخت كي. دَ قبرونو نه دَ پورته كيدلو په وخت كي. په حشر او د حساب كولو په وخت كي. دويم. د عذاب نه دَ نهٔ يريدلو او دَ مصيبتونو دَ فنا كيدلو زيري. دريم. په اولاد. او كور والا او خپلو خپلوانو پسي د نهٔ خفه كيدلو زيري څلورم. زيري دَ جنت. دَ هغه وعدو مطابق چي الله تعالى كړي دی.

استقامت څه شي دي

دابوبكر صديق رضي الله عنه نه چي كله داستقامت په باره كي تپوس اوكړي شو نو ويي فرمائيل استقامت ديته وائي چي ته هيڅا لره الله تعالي سره شريك نكړي.

بيا يو ځل عمرفاروق رضي الله عنه داستقامت په باره كي داسي اوفرمائيل **"الاستقامة ان تستقيم علي الامر والنهي ولاتروغ روغان الثعالب"** يعني استقامت دادي چي ته دالله تعالي په احكامو امر او نهي باندي كلك اودريږي او دګيدړ پشان ددينه دتيختي دپاره لاري اونه ګوري عثمان رضي الله عنه عملي اخلاص كړي وو. علي . ابن عباس . حسن بصري، قتاده وغيره فرمائي چي داستقامت نه مراد دالله اطاعت دي او فرائض ادا كول دي او دمجاهد په قول دمرګ پوري دتوحيد په كلمه كلك اودريدل دي اود مقاتل په نزد داستقامت نه مراد په مغرفت قائم اودريدل دي.

****

۴۳_ باب وَمِنْ سُورَةِ حم عسق
دسورة شوري دبعضي ايتونو تفسير

۳۲۵۱_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ مَيْسَرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ طَاوُسًا، قَالَ: سُئِلَ ابْنُ عَبَّاسٍ عَنْ هَذِهِ الْآيَةِ: قُلْ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ (الشورى: ۲۳)، فَقَالَ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ: قُرْبَىٰ آلِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: أَعَلِمْتَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ بَطْنٌ مِنْ قُرَيْشٍ إِلَّا كَانَ لَهُ فِيهِمْ قَرَابَةٌ، فَقَالَ: "إِلَّا أَنْ تَصِلُوا مَا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ مِنَ الْقَرَابَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. (۱)

ترجمه: دطاوس بيان دي چي ما دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه ددي ايت كريمه "قُلْ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ" دتفسير باره كي تپوس اوكړوسعيد بن جبير اوونيل دقربي نه مراد ال محمد دي ابن عباس اوونيل تاسو درشته دارۍ په تشريح كي جلدبازي كړي دد دقريشو هيڅ يو شاخ دا داسي نه وو په كوم كي چي درسول الله رشته داري نه وي ديو ايت مفهوم دي الله تعالي فرمائيلي دي زه ستاسو نه هيڅ اجر نه غواړم (زه خو صرف دا غواړم) چي زمونږ او ستاسو مينځ كي كومه رشته داري ده دهغي لحاظ اوساتلي شي او يو دبل سره حسن سلوك اوكړي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي او دا حديث په يو څو سندونو دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي.

تشريح: اشرف علي تهانوي د"الا المودة في القربي" داسي مطلب بيان كړى دى:

ته دوئ ته داسي اووايه چي زه ستاسو په مخاطباتو كى ستاسو نه نور څه نه غواړم علاوه دمحبت درشته دارۍ نه، يعني دومره درنه غواړم زما او ستاسو په مينځ كى چى درشته دارۍ كوم تعلقات دي كوم چي په تمامو قريشو كى بلكه په تمامو عربو كى خواره دي لري وي او كه نژدي وي په وررولي كى وي ددغه تعلقاتو خو خيال اوساتئ: همدا درشته دارۍ حق دي، ايا دي باره كى دا حق نه دي چي زما سره په عداوت كولو كى جلتي اونكړئ بلكه په ساده زړه دسهولت او اطمينان سره زما پوره خبره واورئ او دي لره دعقل په ميزان او صحيح دليل سره اوتلئ نو كه معقول وي نو قبول يي كړئ او كه څه شك مو وي نو پاك يي كړئ او په فرض

(۱) اورده البخاري في الجامع الصحيح/المناقب (۳۴۹۷)، وتفسير سورة الشورى (۴۸۱۸) (تحفة الأشراف: ۵۷۲۳)

دمحال سره كه باطل وي نو مالره پوهه كړئ لاړي ته مي راولئ غرض دا چې هره خبره وي په خيرخواهئ به وي دا نه ده پكار چې يو دم پاڅئ بلكه دپوهيدو نه پس هم دخلاف نه منع شئ او په دي دا گمان مه كوئ چې د "مودة في القربي" نه پس ايمان مطلوب نه دي اصل خبره داده چې دا دايمان تدريجي دي او لطافت طريقه موصله خودلي شوي ده ،وړاندي تتمه راخي دبشارت مذكوره يعني، هر څوك چې كومه نيكي اوكړي مونږ په هغه نيكئ كې ډير زيادت راولو ،يعني ددغه نيكئ مقتضي في نفسه چې څومره ثواب دي مونږه هغي نه زيات وركوو بيشكه چې الله تعالي دمونكو دگناهونو ډير زيات بخښونكي دي او دهغوئ دنيكيانو ډير قدردان دي او ثواب وركونكي دي

په دي كي دري تفسيرونه دي اول تفسير د مجاهد او د حسن بصري دي او د مجاهد رحمه الله قول امام قرطبي په سند مرفوع سره نقل كړي دي هغه دا دي چې خه ستاسو نه دا خبره غواړم چې محبت د الله تعالى سره اوكړي او هغهٔ ته نزديكت حاصل كړي په طاعت سره. نو قربى په معنى د تقرب الى الله دي. دويم تفسير امام شعبي د ابن عباس رضي الله عنه نه نقل دي چې قربى په معنى د نسبي قرابت دي چې د قريشو د ټولو خاندانونو سره خپل ولي وه. نو معنى دا ده چې خه خو ستاسو نه هيڅ اجر نه غواړم سوا د دي نه چې خما د قرابت او خپلولي لحاظ اوكړئ يعني پردي خلق كه په ما باندي ايمان نه راوړي نو تاسو خو زما خبره اومني

دريم قول دا دي. چې د قُربىٰ نه مراد رشته داري ده يعني خه ستاسو نه هيڅ اجر نهٔ غواړم مګر دا چې خما رشته دارو سره محبت كوئ بيا په دي قول كي بعض حضرات واني. چې د دينه مراد بني عبدالمطلب دي، او بعض واني چې د دينه مراد علي رضي الله عنه. فاطمه رضي الله عنها او د هغوئ اولاد دي دا تفسير د سعيد بن جبير او عمرو بن شعيب او كلبي سدّي دي او په بعض رواياتو كي دا تفسير عبدالله بن عباس او علي بن حسين ،زين العابدين، ته منسوب دي.

ليكن دا تفسير په ډيرو وجوهٔ سره كمزوري دي اوله وجه. چې په مكه معظمه كي دا سورت نازل شو نو هغه وخت د علي رضي الله عنه او فاطمي رضي الله عنها نكاح نهٔ وه شوي. په بني عبدالمطلب كي ټولو په نبي صلى الله عليه وسلم ايمان نهٔ وو راوړي بلكه بعض په كي بنكاره د دشمنانو ملګري ؤو لكه ابو لهب دويمه وجه د نبي صلى الله عليه وسلم رشته دار صرف بني عبدالمطلب نهٔ ؤو بلكه د نبي صلي الله عليه وسلم د مور او پلار او خديجي رضي الله عنها په واسطه سره د قريشو په ټولو خاندانو كي د نبي صلي الله عليه وسلم دشمنان هم ؤو او د هغوي د محبت مطالبه يي د خلقو نه كوله او بيا خاص بني عبدالمطلب يي څنګه مخصوص كول دريمه وجه. چې هغه ډيره اهم او ضروري ده چې يو پيغمبر د دعوت الى الله په اوچت مقام ولاړ دي. او په دي كار باندي هغه دا اجر غواړي چې خما د رشته دارو سره محبت كوئ.

دا ډيره كمزوري خبره ده. او د نبي صلى الله عليه وسلم د شان سره مناسب نهٔ ده. په قرآن كريم كي چي د انبياء عليهم السلام قصي بيان شوي دي. نو په هغي كي هر پيغمبر خپل قوم ته دا وائی چي څه ستاسو نه هيڅ اجر نهٔ غواړم. خما اجر په الله تعالى دي. د نبي صلي الله عليه وسلم د ژبي مباركي نه دا اعلان شويدي چي څه ستاسو نه هيڅ اجر نهٔ غواړم (انعام. ۹۰. يوسف. ۱۰۴. المومنون ۷۲. الفرقان ۵۷ سبا ۴۷ ص. ۸۲. والطور ۴۰. والقلم ۴۲)، نو د دينه پس آخر دا څنګه ويلي شي چي څه كوم دعوت الي الله كوم نو د دي په بدله كي تاسو خما رشته دارو سره محبت كوئ بيا دا خبره نوره هم بي موقعي ده. څكه چي د دي تقرير مخاطب اهل ايمان نهٔ دي بلكه كفار دي. نو په دي كلام كي د مخالفينو نه د اجر د طلب سوال كوم ځائ پيدا كيږي. اجر خو د هغه چا نه غوختلي شی چي د هغوي په نظر كي د دي كار څهٔ قدر وي، چي هغه كار چا د دوي دپاره كړي وي. كفارو د نبي صلي الله عليه وسلم د دي كار څومره قدر كوو. چي نبی صلی الله عليه وسلم ترينه د رشته دارو سره د محبت مطالبه كوله. كفارو خو البا دا كار جرم ګڼړلو. بلكه د نبي صلي الله عليه وسلم د وژلو كوششونه يي كول.

****

۳۲۵۲_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ الْوَازِعِ، قَالَ: حَدَّثَنِي شَيْخٌ مِنْ بَنِي مُرَّةَ، قَالَ: قَدِمْتُ الْكُوفَةَ فَأُخْبِرْتُ، عَنْ بِلَالِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ، فَقُلْتُ: إِنَّ فِيهِ لَمُعْتَبَرًا، فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ مَحْبُوسٌ فِي دَارِهِ الَّتِي قَدْ كَانَ بَنَى، قَالَ: وَإِذَا كُلُّ شَيْءٍ مِنْهُ قَدْ تَغَيَّرَ مِنَ الْعَذَابِ وَالضَّرْبِ وَإِذَا هُوَ فِي قُشَاشٍ، فَقُلْتُ: الْحَمْدُ لِلَّهِ يَا بِلَالُ لَقَدْ رَأَيْتُكَ وَأَنْتَ تَمُرُّ بِنَا تُمْسِكُ بِأَنْفِكَ مِنْ غَيْرِ غُبَارٍ وَأَنْتَ فِي حَالِكَ هَذَا الْيَوْمَ، فَقَالَ: مِمَّنْ أَنْتَ؟ فَقُلْتُ: مِنْ بَنِي مُرَّةَ بْنِ عَبَّادٍ، فَقَالَ: أَلَا أُحَدِّثُكَ حَدِيثًا عَسَى اللَّهُ أَنْ يَنْفَعَكَ بِهِ، قُلْتُ: هَاتِ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي أَبُو بُرْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ أَبِي مُوسَى، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يُصِيبُ عَبْدًا نَكْبَةٌ فَمَا فَوْقَهَا أَوْ دُونَهَا إِلَّا بِذَنْبٍ وَمَا يَعْفُو اللَّهُ عَنْهُ أَكْثَرُ، قَالَ: وَقَرَأَ: وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ (الشورى:۳۰". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ.(۱)

ترجمه : دبني مره ديو شيخ نه روايت دي فرماني چي زه كوفي ته راغلم او ماته دبلال بن ابوبرده دحالاتو علم حاصل شو نو ما په زړه كي اوونيل چي په دي كي عبرت او نصيحت دي نو زه هغه ته ورغلم او هغه پخپل كور كي محبوس او مقيد وو او دا په هغه كور كي كوم چي هغه

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۹۰۴۹)

پخپله دخپل خان دپاره جوړ کړي دي دعذاب او وهلو په سبب دهغه دهر څيز صورت دبل شوي وو اوزړي چړري يي اغوستلي وي ما اوونيل اي ابوبلال ټول تعريفونه خاص الله تعالي دپاره دي ما خو ته هغه وخت کي هم ليدلي يي کله چي به تا بغير دګرد او غبار نه په نزاکت او نفاست سره پوزه نيولي وه او زمونږ په خوا کي به تير شوي او نن ته په دي حالت کي يي؟ هغه اوونيل ته دکومي قبيلي سره تعلق لري؟ ما ورته اوونيل دبني مرده بن عباد قبيلي سره هغه اوونيل يوداسي حديث درته بيان نکړم دکوم نه چي دا اميد دي چي الله تعالي به تاته دهغي نه فائده ورسوي ما ورته اوونيل راته يي پيش کړه هغه اوونيل ماته زما پلار او زما پلارته ابوبرده حديث بيان کړي دي او ابوبرده دخپل پلار ابوموسي اشعري نه نقل کوي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په هر يو بنده چي وړوکي يا لوي مصيبت راشي نو دا په هغه باندي دهغه دګناهونو په سبب راځي او الله تعالي چي ده ته کوم ګناهونه معاف کړي وي هغه خو ډير زيات او بيا يي دا ايت کريمه تلاوت کړو " وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ " او هغه چي اورسيږي تاسو ته څهٔ مصيبت نو په وجه دَ هغه عمل چي کړی دی لاسونو ستاسو. او معافي کوی دَ ډيرونه.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي او مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو.

تشريح: دا دنيوي تخويف دي يعني ګناهونه دَ دنيوي مصيبت او عذاب سبب دي. دا خطاب دي مومنانو ته چي دَ هغوي دَ بعض ګناهونو عقوبت په دنيا کي ورکوي په ذريعه دَ مرضونو. غمونو قرضونو وغيره. او ډير ګناهونه ورته بغير دَ عقوبت نه معاف کوي اودا متعلق دي دَ ايت ۲۵ سره يا دا خطاب دي کافرانو ته يعني چي هرکله دوي دَ توحيد دَ دلائلو نه انکار کوي او په شرکياتو کي مشغول وي نو الله تعالي دَ بعض ګناهونو سزا په دنيا کي ورکوي. لکه سورة روم ايت ۴۱ پ ۲۱ کي ذکر دي.

****

٤٤_باب وَمِنْ سُورَةِ الزُّخْرُفِ

دسورة الزخرف دبعضي ايتونو تفسير

۳۲۵۳_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ العَبْدِيُّ، وَيَعْلَى بْنُ عُبَيْدٍ، عَنْ حَجَّاجِ بْنِ دِينَارٍ. عَنْ أَبِي غَالِبٍ. عَنْ أَبِي أُمَامَةَ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا ضَلَّ قَوْمٌ بَعْدَ هُدًى كَانُوا عَلَيْهِ إِلَّا أُوتُوا الجَدَلَ ". ثُمَّ تَلَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذِهِ الآيَةَ " مَا ضَرَبُوهُ لَكَ

إلا جَدَلا بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُونَ (الزخرف :٥٨". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ حَجَّاجِ بْنِ دِينَارٍ، وَحَجَّاجٌ ثِقَةٌ مُقَارِبُ الحَدِيثِ، وَأَبُو غَالِبٍ اسْمُهُ حَزَوَّرُ. (1)

ترجمه: دابو امامه رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي هر يو قوم چي دهدايت موندلو نه پس گمراه شي نو هغه جگړه مار او مناظره باز جوړ شي او بيا ددينه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم دا ايت تلاوت کړو " مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلا جَدَلا بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُونَ". نه بيانوي دا خبره تاته مگر د ضد دپاره. بلکه دوی قوم جگړمار دي

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي مونږ يې صرف دحجاج بن دينار په روايت پيژنو او حجاج يو ثقه او مقارب الحديث راوي دي او دابوغالب نوم حزور دي

تشريح: يعنی هر کله چي په قرآن کريم کي د مشرکانو د رد دپاره د عيسی عليه السلام عجز او عبديت په طريقه د مثال سره ذکر کړي شی. ما ضربوه لك الاجدلا يعنی چي دي مشرکانو د معبود من دُونِ الله دپاره د عيسی عليه السلام نوم په طور د مثال سره ذکر کړيدي نو د دوی مقصد ضد او عناد دي. ځکه چي دوی ښه پوهيږی چي هغه اله نه وو. او د ترمذی په حديث کي راغلي دی چي نبی صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چي کله يو قوم د علم باوجود بي لاري شی نو هغوی ته جدل ورکړي شی (يعنی په ضد او عناد کي اخته شی او دا ايت يې تلاوت کړو)

دابو امامه اياس بن ثعلبه حارثي رضي الله عنه حالات

نوم اياس ليکن دبعضو په نزد دده نوم عبدالله بن ثعلبه وو او ددي برعکس ثعلبه بن عبدالله هم ونيلی شوی دی کنيه يې ابو امامه وه اودپلار نوم يې ثعلبه يا عبدالله وو او دقبيله خزرج سره يې تعلق وو دده نه دوه يا دري روايتونه منقول دي يو په بخاري کي دی او يو په مسلم کي

****

٤٥_باب وَمِنْ سُورَةِ الدُّخَانِ

سورة دخان دبعضي ايتونو تفسير

٣٢٥٤_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ المَلِكِ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْجُدِّيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الأَعْمَشِ، وَمَنْصُورٍ، سَمِعَا أَبَا الضُّحَى يُحَدِّثُ، عَنْ مَسْرُوقٍ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى عَبْدِ اللهِ، فَقَالَ:

(1) ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ٧ (٤٨) (تحفة الأشراف : ٤٩٣٦)

إِنَّ قَاصًّا يَقُصُّ، يَقُولُ: إِنَّهُ يَخْرُجُ مِنَ الأَرْضِ الدُّخَانُ فَيَأْخُذُ بِمَسَامِعِ الكُفَّارِ. وَيَأْخُذُ المُؤْمِنَ كَهَيْئَةِ الزُّكَامِ. قَالَ: فَغَضِبَ وَكَانَ مُتَّكِئًا فَجَلَسَ. ثُمَّ قَالَ: إِذَا سُئِلَ أَحَدُكُمْ عَمَّا يَعْلَمُ فَلْيَقُلْ بِهِ. قَالَ مَنْصُورٌ: فَلْيُخْبِرْ بِهِ، وَإِذَا سُئِلَ عَمَّا لَا يَعْلَمُ فَلْيَقُلِ اللهُ أَعْلَمُ. فَإِنَّ مِنْ عِلْمِ الرَّجُلِ إِذَا سُئِلَ عَمَّا لَا يَعْلَمُ أَنْ يَقُولَ: اللهُ أَعْلَمُ. فَإِنَّ اللهَ تَعَالَى قَالَ لِنَبِيِّهِ: قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ (ص :٨٦) إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا رَأَى قُرَيْشًا اسْتَعْصَوْا عَلَيْهِ. قَالَ: " اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَيْهِمْ بِسَبْعٍ كَسَبْعِ يُوسُفَ ". فَأَخَذَتْهُمْ سَنَةٌ. فَأَحْصَتْ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى أَكَلُوا الْجُلُودَ وَالْمَيْتَةَ وَقَالَ أَحَدُهُمَا: الْعِظَامَ. قَالَ: وَجَعَلَ يَخْرُجُ مِنَ الأَرْضِ كَهَيْئَةِ الدُّخَانِ. قَالَ: فَأَتَاهُ أَبُو سُفْيَانَ. قَالَ: إِنَّ قَوْمَكَ قَدْ هَلَكُوا فَادْعُ اللهَ لَهُمْ. قَالَ: فَهَذَا لِقَوْلِهِ: يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ ١٠ يَغْشَى النَّاسَ هَذَا عَذَابٌ أَلِيمٌ ١١ (الدخان :١٠١١). قَالَ مَنْصُورٌ: هَذَا لِقَوْلِهِ: رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ إِنَّا مُؤْمِنُونَ (الدخان :١٢). فَهَلْ يُكْشَفُ عَذَابُ الآخِرَةِ. قَالَ: مَضَى الْبَطْشَةُ وَاللِّزَامُ وَالدُّخَانُ. وَقَالَ أَحَدُهُمَا: الْقَمَرُ. وَقَالَ الآخَرُ: الروم ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَاللِّزَامُ يَعْنِي يَوْمَ بَدْرٍ. قَالَ: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه دمسروق بیان دي فرمائي چي یو کس عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته راغلو او یو قصه کونکي قصه کوله چي قیامت ته به نږدې دزمکي نه لوګي راوځي او په هغې به دکافرانو غوږونه بند شي او په مسلمانانو به زکام راولي، مسروق وائي ددې خبري په اوریدو عبدالله بن مسعود غصه شو ددې خبري اوریدو نه مخکي دډډې وهلو په حالت کي ناست وو مګر چي دا يې واوريدل نو نيغ کيناستو او بيا يې اوونيل په تاسو کي چي کله دچا نه ديو ځيز باره کي تپوس اوکړي شي او هغه ته ددغه ځيز باره کي معلومات وي نو ښکار ده چي دا ځيز بيان کړي او چي ديو داسي ځيز باره کي درنه تپوس اوکړي شي دکوم باره کي چي تاسو ته معلومات نه وي نو داسي وخت کي والله اعلم ونيل ښکار دي يعني الله تعالي بهتر پوهيږي الله تعالي خپل نبي ته فرمائيلي دي " قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ " يعني ورته اووايه چي نه غواړم ستاسو نه زه په دې بيان اوتبليغ دقران باندي څه اجرت او نه يم زه دتكلف كونكو نه. «ددخان باره كي خبره داده» كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم قريش

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الاستسقاء ٢ (١٠٠٧)، و١٣ (١٠٢٠). يوسف ٢ (٣٦٩٣). و سورة الفرقان ٥ (٤٧٦٤). د الروم ١ (٤٧٧٤). وتفسير ص ٣ (٤٨٠٩). و الدخان ١ (٤٨٢٠). و ٢ (٤٨٢١). و ٣ (٤٨٢٢). مسلم /المنافقين ٧ (٢٧٩٨) (تحفة الأشراف ٩٥٧٤)

اوليدل چي صرف نافرمانياني كوي نو ويي فرمائيل اي الله ديوسف عليه السلام دزماني دقحط سالي، پشان په دوی باندي په قحط سالي، راوستلو سره زمونږ مدد اوكړي «درسول الله دعا قبوله شوه» او په دوی باندي قحط نازل شو چي هر يو څيز ورنه متاثر شو تردي چي خلق دچمړو او مردارو خوړلو ته مجبور شول «ددي حديث په دواړو راويانو اعمش او منصور كي يو كس هډوكي خوړل هم شروع كړل» عبدالله بن مسعود رضي الله عنه اوفرمائيل دلوګي پشان څيز به دزمكي نه راوخي دي وخت كي ابو سفيان رسول الله ته راغلو او ويي وئيل ستا قوم هلاك او برباد شو ته دالله تعالي نه دعا اوغواړه عبدالله بن مسعود وائي همدا ددي ايت كريمه "يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُّبِينٍ ١٠ يَغْشَى النَّاسَ هَذَا عَذَابٌ أَلِيمٌ" يعني رابه وړی اسمان لوګي ښكاره ،پټوي به خلق، دا عذاب دردناك دي. مطلب دي منصور وائي او همدا دايت كريمه "ربنا اكشف عناالعذاب انا مؤمنون" يعني اي ربه خمونږ لريكړي خمونږ نه عذاب يقينا مونږه ايمان راوړو، مفهوم دي، نو ايا داخرت عذاب روسته كيدي شي؟ عبدالله وائي بطشه، لزام «بدر» او دخان، ذكر او زمانه تيره شوي ده په منصور او اعمش دواړو راويانو كي يو اووئيل دقمر دشق زمانه تيره شوي ده او دويم اووئيل دروميانو دمغلوب كيدو واقعه هم تيره شوي ده.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي او دلزام نه مراد دبدر ورځ ده.

تشريح : مفسرينو ددي ايت دا مطلب بيان كړي دي چي زه په خپل نبوت او رسالت اوعلم او حكمت كي دتصنع اظهار نه كوم بلكه تاسو ته دالله تعالي احكام صحيح صحيح رسوم ډيرو احاديثو كي دتكلف كولومذمت راغلي دي لكه چي په يو روايت كي راخي اي خلقو په تاسو كي چي چاته دكومي خبري علم وي هغه دي خلقو ته ورسوي او كه دچا سره يي علم نه وي نو داسي دي وائي الله اعلم. ځكه چي الله تعالي هم دخپل رسول په باره كي فرمائيلي دي **قل ما اسئلكم عليه من اجر وما انا من المتكلفين**. يعني زه ستاسو نه معاوضه نه غواړم او نه تكلف كوم.

همدارنګي علامه بغوي ليکلي دي دمسروق قول دي چي زه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه په خدمت كي حاضر شوم فرمائيل يي كچري په كومه خبره پوهيږي نو بيان يي كړه او كه درته معلومه نه وي نو الله اعلم وايه ځكه چي كومه خبره تاته معلومه نه وي نو دهغي په باره كي الله اعلم وئيل هم دعلم يوه حصه ده ځكه چي الله تعالي خپل نبي ته هم فرمائيلي دي **قل ما اسئلكم عليه من اجر وما انا من المتكلفين**.

يعنى ايمان يي رانهٔ وړلو. دَ دي حديث په بنا باندي دَ دُخان نه مراد قحط دي او دَ الناس نه

مراد صرف مكي والادی او دويم قول دَ علی رضی الله عنه او ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دي او دَ ابوسعيد خدری رضی الله عنه نه مرفوعًا نقل دي. چي دُخان (لوګي) به رااوچت شی په ټولو خلقو باندي. نو په مؤمن باندي به دَ زكام په شان وی او دَ كافر ټول بدن به پري اوپرسيږی او په دي روايت كي دَ يَوْمَ نه مراد دَ قيامت نزدي ورځ ده. ځكه چي دَ صحيح مسلم په حديث كي راغلي دی چي دَ قيامت نه وړاندي لس لويْ علامات دی. اول يي په هغي كي دُخان شمارلي دي. او بنا په دي قول. دُخان به حقيقتًا وی او بيا به بل علامت شروع شی. او دا روايات دَ دواړو قولونو سره موافقت لری. او اول قول زيات مناسب دي يعنی دا دخان په مكه والو باندي واقع شويدي او بيا به دَ قيامت په علاماتو كي په ټولو خلقو باندي راځی. ثانی السَّمَآءُ. اسمان ته نسبت په دي وجه دي چي دَ زمكي نه به هيڅ سبب نهٔ معلوميږی يا مراد دَ اسمان نه جوّ (فضا) ده.

په دي ايتونو كي دنيوی تخويف دي. په واقعه دَ دُخان (لوګی) سره. په دي كي دَ مفسرينو دوه قولونه دی. اول دا چي امام بخاری په سند سره دَ عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه نقل كړي دي

قريشو چي دَ نبی صلی الله عليه وسلم مخالفت اوكړو نو هغهٔ ورته خيري اوكړي چي يا الله تعالی په دوی باندي دَ قحط كالو نه راولي په شان دَ قحط دَ كالونو د زماني دَ يوسف عليه السلام. نو په دوی باندي قحط شروع شو. تردي پوري چي دوی به هډوكی، څرمني او مرداري خوړلي او چي اسمان ته به يي كتل نو دَ لوګي په به ورته لوګي ښكاره كيدلو. نو ابوسفيان راغلو او وي ونيل. چي اي محمد صلی الله عليه وسلم. تهٔ دَ الله تعالی دَ اطاعت او دَ رشتو يو خایْ كولو حكم كوي. او ستا قوم هلاك شو نو تهٔ دَ الله تعالی نه دَ دوی دپاره سوال اوكړه نو نبی صلی الله عليه وسلم دا ايتونه اولوستل.اوپه يوروايت كي دا هم دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم د باران سوال اوكړو نو باران اوشو. او دا كافران بيا خپل كفر ته واپس شول (متفق عليه)

دمسروق رضي الله عنه حالات

نوم مسروق كنيه ابو عائشه دجاهليت په زمانه كې يي دپلار نوم اجدع وو بيا په عبدالرحمان باندي تبديل شو په يمن كې يي دهمدان خاندان سره تعلق لرلو دده داسلام راوړو په باره كې دومره معلوميږي چي دصديق اكبر رضي الله عنه په زمانه كي مسلمان شوی وو دی پخپل واني زما په ابوبكر صديق رضي الله عنه پسي مونځ كړی دی (طبقات ابن سعد)

كله چي دعمر فاروق په زمانه كې مديني ته راغی نو دنوم په باره كې ورنه اميرالمومنين تپوس اوكړو نو ده ورته اوونيل مسروق بن اجدع عمر فاروق ورته اوفرمائيل داسي مه وايه ته مسروق بن عبدالرحمان شوي.

دشعبي قول دی چي د مسروق پشان دعلم زده کولو شوقي ما بل څوك چرته نه دی ليدلی عائشه رضي الله عنها به ده ته دخپل ځوي درجه ورکوله او ورته به يي ونيل بچيه دهغي نه يي کافي علم حاصل کړی وو حافظ ذهبي واني مسروق فقيه وو علامه نووي قول دی چي دده جلالت شان ، توثيق. او فضيلت او امامت باندي دټولو علماؤ اتفاق دی ددي هر څه سره سره مسروق دالله تعالي نه يريدونکی هم ډير وو او بنکلی عبادت به يي هم کولو توبه او استغفار کونکی وو او ددنيا نه اعراض کونکی وو او دالله تعالي په ذات ډير اعتماد کونکی وو چي دهجرت په ۲۳کال وفات شو

****

٣٢٥٥_حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبَانَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا مِنْ مُؤْمِنٍ إِلَّا وَلَهُ بَابَانِ بَابٌ يَصْعَدُ مِنْهُ عَمَلُهُ، وَبَابٌ يَنْزِلُ مِنْهُ رِزْقُهُ، فَإِذَا مَاتَ بَكَيَا عَلَيْهِ فَذَلِكَ قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ: فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ وَالأَرْضُ وَمَا كَانُوا مُنْظَرِينَ (الدخان :٢٩). قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَمُوسَى بْنُ عُبَيْدَةَ، وَيَزِيدُ بْنُ أَبَانَ الرَّقَاشِيُّ يُضَعَّفَانِ فِي الْحَدِيثِ. (1)

ترجمه دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي دهر مومن پاره دوه دروازي دي يوه دروازه هغه ده په کومي چي دده نيك عمل خيژي او بله دروازه هغه ده په کومي چي دده تله راتيتيږي کله چي دي مړ کيږي نو دا دواړه دوازي په ده باندي ژړا کوي او همدا دالله تعالي ددي قول "فما بکت عليه السماء والارض وماکانوا منظرين" ژړا اونکړه په دوی باندي اسمان او زمکي، او نه ؤو دوی مهلت ورکړي شوي مطلب دي

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث غريب دي او مونږ ته صرف په همدي سند مرفوع رارسيدلي دي، او موسي بن عبيده او يزيد بن ابان رقاشي په باب دحديث کي ضعيف ګڼرلي شوي دي

تشريح: په دي کي د فرعونيانو سپك والي دي د زمکي او د اسمان ژړا په حقيقت باندي حمل ده د انس رضی الله عنه نه مرفوعًا روايت دي چي د مؤمن دپاره په اسمان کي دوه دروازي دی د يوي دروازي نه رزق نازليږي او د بلي دروازي ته عمل ورخيژي نو کله چي دي مړ شی نو دا دواړه دروازي په ده پسي ژاړی او بيا يي دا ايت اولوستلو او دا رنګ د ابن عباس رضی

---

1 _ تفرد به المؤلف،تحفة الأشراف : ١٦٧٥)

الله عنه نه روايت دي چي ځوك په زمكه باندي ركوع او سجده او نوراعمال كوی نو د دۀ د مرګ نه روستو زمكه په دۀ پسي ژاړی. نو د ايت مطلب دا دي چي د فرعونيانو هيڅ نيك عمل نه ؤو. نو د دوی د مرګ نه روستو په دوی پسي زمكي او اسمان ژړا اونكړه يا مراد د دي نه اهل د اسمان او اهل د زمكي دی. نو معنی دا شود چي په دوی پسي په اسمان او زمكه كي چا اونۀ ژړل.

****

٤٦_باب وَمِنْ سُورَةِ الأَحْقَافِ

دسورة احقاف دبعضي ايتو نو تفسير

٣٢٥٦_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ سَعِيدٍ الْكِنْدِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو مُحَيَّاةَ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنِ ابْنِ أَخِي عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ، قَالَ: "لَمَّا أُرِيدَ عُثْمَانُ جَاءَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلَامٍ، فَقَالَ لَهُ عُثْمَانُ: مَا جَاءَ بِكَ؟ قَالَ: جِئْتُ فِي نَصْرِكَ، قَالَ: اخْرُجْ إِلَى النَّاسِ فَاطْرُدْهُمْ عَنِّي فَإِنَّكَ خَارِجٌ خَيْرٌ لِي مِنْكَ دَاخِلٌ، فَخَرَجَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلَامٍ إِلَى النَّاسِ، فَقَالَ: أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّهُ كَانَ اسْمِي فِي الْجَاهِلِيَّةِ فُلَانٌ، فَسَمَّانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدَ اللَّهِ وَنَزَلَ فِيَّ آيَاتٌ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ نَزَلَتْ فِيَّ: وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى مِثْلِهِ فَآمَنَ وَاسْتَكْبَرْتُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (الأحقاف: ١٠، وَنَزَلَتْ فِيَّ: قُلْ كَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَمَنْ عِنْدَهُ عِلْمُ الْكِتَابِ (الرعد: ٤٣ إِنَّ لِلَّهِ سَيْفًا مَغْمُودًا عَنْكُمْ، وَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ قَدْ جَاوَرَتْكُمْ فِي بَلَدِكُمْ هَذَا الَّذِي نَزَلَ فِيهِ نَبِيُّكُمْ، فَاللَّهَ اللَّهَ فِي هَذَا الرَّجُلِ أَنْ تَقْتُلُوهُ، فَوَاللَّهِ إِنْ قَتَلْتُمُوهُ لَتَطْرُدُنَّ جِيرَانَكُمُ الْمَلَائِكَةَ وَلَتَسُلُّنَّ سَيْفَ اللَّهِ الْمَغْمُودَ عَنْكُمْ، فَلَا يُغْمَدُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، قَالَ: فَقَالُوا: اقْتُلُوا الْيَهُودِيَّ وَاقْتُلُوا عُثْمَانَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رَوَاهُ شُعَيْبُ بْنُ صَفْوَانَ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنِ ابْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ، عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ. ([1])

ترجمه: دعبدالله بن سلام رضي الله عنه دوراره بيان دي فرمائي چي كله دعثمان رضي الله عنه دقتل كولو اراده اوكړي شوه نو عبدالله بن سلام ورته ورغلو عثمان ورته اووئيل دخه دپاره دلته راغلي يې؟ هغه اووئيل ستا دمدد دپاره او ستا دبچ كولو دپاره راغلي يم عثمان اووئيل

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٣٢٣)

خلقو ته ورشه او هغوئ زما نه لري كړه زما په خوا كي بهر زما نه لري ستا اوسيدل زيات بهتر دي چنانچي عبدالله بن سلام خلقو ته ورغلو او هغوئ يي مخاطب كړل او ورته يي اووئيل اي خلقو په جاهليت كي زما نوم فلاني وو (يعني حصين) مګر بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم په ما عبدالله نوم كيخودو او زما باره كي دالله كتاب كي ډير ايتونه نازل شوي دي او زما په باره كي ايت كريمه "وشهد شاهد من بني اسرائيل علي مثله فامن واستكبرتم ان الله لا يهدي القوم الظالمين" نازل كړي دي ، يقينا دالله تعالي سره داسي توره ده كومه چي تاسو ته نه ښكاري او يقينا ستاسو په دي ښار كي كوم ته چي ستاسو نبي راليږلي شوي دي فرشتي ستاسو ګاونډياني دي پس دالله تعالي نه اوويريږئ او ددغه كس (عثمان) دقتل كولو نه منع شئ په الله قسم كچري تاسو دي قتل كړو نو تاسو به خپلي ګاونډياني فرشتي دخپل خان دمدد كولو نه اوزغلوئ او دالله تعالي كومه توره چي ستاسو نه پټه ده دا به ستاسو په خلاف برينده كړي شي او بيا به دا توره دقيامت دورځي پوري پخپل تيكي كي دننه نكړي شي، راوي وائي خلقو دعبدالله بن مسعود خبري واوريدي او ويي وئيل دايهودي خو قتل كړئ او عثمان هم قتل كړئ

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي. داحديث شعيب بن صفوان دعبدالملك بن عمير نه او هغه دابن عبدالله بن سلام نه او ابن محمد دخپل نيكه عبدالله بن سلام رضي الله عنه نه نقل كړي دي

****

٣٢٥٧ـحَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْأَسْوَدِ أَبُو عَمْرٍو الْبَصْرِيُّ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَبِيعَةَ. عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ. عَنْ عَطَاءٍ. عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا. قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " إِذَا رَأَى مَخِيلَةً أَقْبَلَ وَأَدْبَرَ. فَإِذَا مَطَرَتْ سُرِّيَ عَنْهُ. قَالَتْ: فَقُلْتُ لَهُ: فَقَالَ: وَمَا أَدْرِي. لَعَلَّهُ كَمَا قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا مُسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ قَالُوا هَذَا عَارِضٌ مُمْطِرُنَا (الأحقاف :٢٤ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (١)

ترجمه دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي كله چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم ورونكي وريځ اوليدله نو مخكي به وړاندي او شاته به وروسته شو، يعني بهر دننه كيدلو به، مګر كله چي به باران شروع شو نورسول الله به خوشحاله شو ما عرض اوكړو اي دالله رسوله داسي ولي كوئ نو ويئ فرمائيل ماته معلومه ده او شايد چي معامله همداسي وي څنګه چي

---

(١) ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /بدء الخلق ٥ (٣٢٠٦) . وتفسير الاحقاف ٢ (٤٨٢٩) (تحفة الأشراف: ١٤٣٨٤)

الله تعالي فرمائيلي دي " فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا مُسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ قَالُوا هَذَا عَارِضٌ مُمْطِرُنَا" يعني نو كله چي دوئ اوليدله پلنه وريځ چي مخامخ راتلله دَ دوئ ميدانونو ته. اونيل دوئ دا پلنه وريځ ده چي باران به أووروی په مونږ باندي

امام ترمذي رحمه الله وايي. داحديث حسن دي.

تشريح: په دي کي د هغوئ دَ عذاب تفصيلى ذکر دي. فلمّا راوه کي هٔ ضمير عذاب ته راجع دي. عارضًا. صفت دي دَ محذوف موصوف. يعنى سحابًا عارضًا (پلنه وريځ) قالوا هذا اه. مفسرينو ليکلي دى چي په دوئ باندي باران څۀ موده بند ؤو. نو چي دوئ وريځ اوليدله نو دوئ دَ خپل عقل موافق خوشحاله شو چي أوس به باران په مونږه اوشي. يعنى دَ خپلو بدو اعمالو هيڅ فکر يي اونکړو. بل هو ما استعجلتم به. دا قول دَ الله تعالى دي. په واسطه دَ هود عليه السلام سره. يا دا په زبان حال سره دي ريځ. يعنى هغه وريځ نه وه بلکه دَ سيلئ طوفان ؤو. چي اسمان يي پټ کړي ؤو. دَ وريځ په شان ښکاريدله.

****

٣٢٥٨_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ دَاوُدَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَلْقَمَةَ، قَالَ: قُلْتُ لِابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: هَلْ صَحِبَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ الجِنِّ مِنْكُمْ أَحَدٌ؟ قَالَ: مَا صَحِبَهُ مِنَّا أَحَدٌ، وَلَكِنْ قَدِ افْتَقَدْنَاهُ ذَاتَ لَيْلَةٍ وَهُوَ بِمَكَّةَ، فَقُلْنَا: اغْتِيلَ أَوِ اسْتُطِيرَ مَا فُعِلَ بِهِ، فَبِتْنَا بِشَرِّ لَيْلَةٍ بَاتَ بِهَا قَوْمٌ، حَتَّى إِذَا أَصْبَحْنَا أَوْ كَانَ فِي وَجْهِ الصُّبْحِ إِذَا نَحْنُ بِهِ يَجِيءُ مِنْ قِبَلِ حِرَاءَ، قَالَ: فَذَكَرُوا لَهُ الَّذِي كَانُوا فِيهِ، فَقَالَ: أَتَانِي دَاعِي الجِنِّ فَأَتَيْتُهُمْ، فَقَرَأْتُ عَلَيْهِمْ. فَانْطَلَقَ فَأَرَانَا آثَارَهُمْ وَآثَارَ نِيرَانِهِمْ. قَالَ الشَّعْبِيُّ: وَسَأَلُوهُ الزَّادَ وَكَانُوا مِنْ جِنِّ الجَزِيرَةِ، فَقَالَ: كُلُّ عَظْمٍ لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ يَقَعُ فِي أَيْدِيكُمْ أَوْفَرَ مَا كَانَ لَحْمًا، وَكُلُّ بَعَرَةٍ أَوْ رَوْثَةٍ عَلَفٌ لِدَوَابِّكُمْ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " فَلَا تَسْتَنْجُوا بِهِمَا فَإِنَّهُمَا زَادُ إِخْوَانِكُمُ الجِنِّ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دعلقمه بيان دي چي د ابن مسعود رضي الله عنه نه مي تپوس اوکړو چي ايا په ليلة الجن کي په تاسو کي څوك درسول الله صلي الله عليه وسلم سره موجود وو؟ ابن مسعود راته اوونيل مونږ بالکل درسول الله سره موجود نه وو. يوه شپه رسول الله صلي الله عليه وسلم

[1] _ صحيح مسلم/الصلاة ٣٣ (٤٥٠). ابي داود/الطهارة ٢٢ (٨٥) (تحفة الأشراف: ٩٣٦٣)

غائب شو او هغه په مكه كې وو، او مونږ په خوړونو او غونډو كې دهغه تلاش اوكړو ليكن پيدا مو نكړو مونږ اوونيل ايا څوك رالوتلي دي او دي يې وړي دي او كه ناڅاپه شهيد شوي دي غرض دا چې دغه شپه زمونږ دټولو دپاره بدترينه شپه وه اخر دا چې كله سحر شو رسول الله د حراء د طرفه راغې، راوي وايي چې مونږ ورته دهغه متعلق خپل تشويش ذكر كړو، او ويې فرمائيل دجناتو دطرفه ماته يو بلونكي راغلي وو او زه دهغه سره تلي وم او دټلو نه پس مې ورته قران بيان كړو. بيا رسول الله مونږ دخان سره بوتلو او دجناتو علامات او دهغوئ داور نښاني يې راته اوخودلې. د شعبي قول دی چې جناتو ورنه د خوراك متعلق سوال وكړو او دا جنات د جزيري نه راغلي وو. رسول الله ورته اوفرمائيل په هر هډوكي چې بسم الله ونيلې شوي وي هغه به ستاسو لاسونو ته درشي اويا د د غوښې نه ډك وي يا دخاروو دګيا خوړلو نه پس چې هغوئ پچې كړي وي ليكن لمدې نه وي دا به ستاسو خوراك وي، په همدې وجه رسول الله فرمائيلي وو چې په دې دوه څيزونو به تاسو استنجاء نه كوئ ځكه چې دا ستاسو دروڼړو دجناتو خوراك دي.

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دی

تشريح: د قاضي ثناء الله پاني پتي رايې داده: كله چې رسول الله دعكاظ بازار په اراده روان وو او دطائف نه واپس شوي وو نو پدغه خل په اوله پيره جناتو قران اوريدلي وو او په ايت كريمه "**قل اوحي الي انه استمع نفر**" كې الله تعالى همدا واقعه بيان كړي ده پاتې شوه دليلة الجن واقعه كومه چې ابن مسعود رضي الله عنه بيان كړي ده هغه ددينه پس په بل وخت كې پيښه شوي وه

بغوي د سورة احقاف په تفسير كې ددې قول نسبت ابن عباس رضي الله عنهما ته كړي دې چې د "**فاستجاب لهم**" نه مراد دادې كله چې په نخله مقام كې جناتو قران واوريدو او خپل قوم ته واپس شو او هغوئ ته يې تبليغ اوكړو نو داويا كسانو ديوې دلې دجناتو تبليغي دعوت ته لبيك اوونيل او درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كې حاضر شول او په بطحاء مقام كې درسول الله سره ملاؤ شول او رسول الله ورته بيا قران بيان كړو او امر او نهي يې اوفرمائيله.

خفاجي ذكر كړي دي چې دجناتو راتلل شپږ پيرې شوي وو، ددينه معلوميږي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم بعثت دجن او انس ټولو دپاره وو ، دمقاتل قول دي چې درسول الله نه مخكې دهيڅ يو نبي بعثت دجن او انس دواړو دپاره ندې شوي.

****

٤٧_باب وَمِنْ سُورَةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د سورة محمد د بعضي ايتونو تفسير

٣٢٥٩_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ (محمد :١٩، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللَّهَ فِي الْيَوْمِ سَبْعِينَ مَرَّةً". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَيُرْوَى عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَيْضًا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللَّهَ فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ". وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللَّهَ فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ". وَرَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. [1]

ترجمه : روايت دي دابو هريره رضي الله عنه نه وائي چې كله ايت كريمه وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ نازل شو ، رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمائيل والله زه هره ورځ اويا خله الله تعالي نه بخښنه غواړم

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دى، اود ابو هريره په واسطه هم درسول الله نه مروي دي، زه هره ورځ اويا خله الله تعالي نه بخښنه غواړم، اود رسول الله نه په نورو ډيرو سندونو هم دا روايت مروي دى چې زه هره ورځ اويا خله الله تعالي نه بخښنه غواړم ، او محمد بن عمرو هم د ابو سلمه په واسطه د ابو هريره رضي الله عنه نه نقل كړى دى.

لغات استغفر . غفر الشي ، دضرب نه په معني دپټولو دي لكه چې وئيلي شي استغفر الله الذنب ، يعني دالله نه يي دګناه بخښنه وغوښتله.

اتوب تاب توبا وتوبة وتابة الي الله، دنصر نه په معني د اعراض كولو دي دګناه نه او الله ته دمتوجه كيدو په معني دي يعني پښيماني كول او صفت يي تائب راځي

اكثر . كثر . كثرة د كرم نه په معني دډير كيدو دي، اوهم ددينه داسم تفضيل صيغه جوړه شوي ده او صفت ورنه كثير راځي.

درسول الله استغفار وئيل امت ته دتعليم وركولو دپاره وو

اكثر من سبعين مرة: يعني رسول الله به د اويا پيرو نه زيات استغفار كولو ، علماء فرمائي چې ددي پشان روايتونو كې امت ته تعليم وركول غرض وي، خكه چې انبياء عليهم السلام دالله تعالي دطرفه مغفور وي ، پس كله چې دوئ معصوم وي او ددي باوجود دوئ د استغفار

[1] سنن النسائي في عمل اليوم والليلة ١٢٥(٣٢ ٣٢٩٣ ١٢) (تحفة الأشراف : ١٥٢٤٨)

اهتمام كوي نو امت ته څومره ددې داهتمام ضرورت دي ، ددينه داخبره هم معلوميږي چي څوك څومره دالله نه ويريږي نو همدومره ورسره احساس وي لكه چي په يو روايت كې راغلي دي چي مومن دخپلو ګناهونو په باره كې دا خيال كوي لكه چي په ده باندي غر راپريوتي وي او فاسق او فاجر داسي ګڼړي لكه چي په ده باندي په پوزه مچ ناست وي او په خپل لاس يي الوزولي وي

ددي روايت نه دا هم معلومه شوه چي سړي دي دكثرت استغفار اهتمام وكړي خكه اكثر ګناهونه داسي هم وي د كومو چي ده ته شعور نه وي نو هغه هم دده په استغفار ونيلو سره معاف كيږي

****

٣٢٦٠ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا شَيْخٌ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ، عَنْ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: تَلَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا هَذِهِ الْآيَةَ: " وَإِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُمْ (محمد :٣٨، قَالُوا: وَمَنْ يُسْتَبْدَلُ بِنَا؟ قَالَ: فَضَرَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مَنْكِبِ سَلْمَانَ، ثُمَّ قَالَ: " هَذَا وَقَوْمُهُ، هَذَا وَقَوْمُهُ ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ فِي إِسْنَادِهِ مَقَالٌ، وَقَدْ رَوَى عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ أَيْضًا هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ. [1]

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دا ايت كريمه " وَإِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُمْ " تلاوت كړو صحابه كرامو اووئيل زمونږ په بدل كي به څوك راوستلي كيږي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم دسلمان په اوږه لاس كيخودو او بيا يي اوفرمائيل دا كس او دده قوم

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي په سند كي محدثينو كلام كړي دي، عبدالله بن جعفر هم داحديث دعلاء بن عبدالرحمن نه نقل كړي دي (چي روايت يي وړاندي راتلونكي دي)

تشريح: "وان تتولوا يستبدل قوما غيركم" په دي كي دهغه ګمان قطع كول دي چي څوك كوم ديني خدمت لره خپل خان موقوف اوګڼي لكه چي بعضي تعجب كونكي خلق خپل ځانونه ددين مدار ګڼي

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٣٠٢٦)

په "ان تتولوا" کی عدم تولي دصحابه کرامو يقيني ده ليکن ددينه دانه لازميږي چي قوما غيرکم پيدا شوي نه وي البته داستبدال نفي متيقين ده پس په حديث کی چي ددي قوم تفسير په مومنينو داهل فارس سره راغلي دي کوم چي پيدا شوي وي په دي کی هيڅ اشکال نشته.

****

٣٢٦١ـحَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ. أَنْبَأَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ. حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرِ بْنِ نَجِيحٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ قَالَ: قَالَ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَنْ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ ذَكَرَ اللَّهُ إِنْ تَوَلَّيْنَا اسْتُبْدِلُوا بِنَا ثُمَّ لَمْ يَكُونُوا أَمْثَالَنَا؟ قَالَ: وَكَانَ سَلْمَانُ بِجَنْبِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: فَضَرَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخِذَ سَلْمَانَ، وَقَالَ: "هَذَا وَأَصْحَابُهُ. وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ كَانَ الإِيمَانُ مَنُوطًا بِالثُّرَيَّا لَتَنَاوَلَهُ رِجَالٌ مِنْ فَارِسَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرِ بْنِ نَجِيحٍ هُوَ وَالِدُ عَلِيِّ بْنِ الْمَدِينِيِّ. وَقَدْ رَوَى عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ الْكَثِيرَ.

وَحَدَّثَنَا عَلِيٌّ بِهَذَا الْحَدِيثِ عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ جَعْفَرِ بْنِ نَجِيحٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ، وَحَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنِ الْعَلَاءِ، نَحْوَهُ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: مُعَلَّقٌ بِالثُّرَيَّا. ([1])

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي په صحابه کرامو کي بعضي کسانو اووئيل اي دالله رسوله داخوك دي دچا باره کي چي الله تعالي فرمائيلي دي کچري مونږ ددين نه واپس شو نو هغوئ به زمونږ په بدل کي راوستلي شي او هغوئ به زمونږ پشان نه وي؟ دي وخت کي سلمان رضي الله عنه رسول الله صلي الله عليه وسلم په اړخ کي ناست وو رسول الله دسلمان په زنګون لاس کيخودو او وبي فرمائيل دا کس او دده ملګري، زما دي په هغه ذات قسم وي دچا په لاس کي چي زما روح دي که ايمان دثريا سره هم معلق کړي شي نو بيا به بي هم بعضي فارسيان بيامومي.

امام ترمذي رحمه الله وايي. دا کس عبدالله بن جعفر بن نجيح دعلي بن المديني پلار دي، علي بن حجر دعبدالله بن جعفر نه په کثرت سره احاديث نقل کړي دي.

د علي او بشر بن معاذ روايتونه پخپلو خپلو سندونو هم د ماقبل روايت هم معني دي مګر بشر بن معاذ پخپل حديث کي معلق بالثريا لفظ ذکر کړی دی.

[1] ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٠٢٦)

****

٤٨_باب وَمِنْ سُورَةِ الْفَتْحِ

دسورة فتح دبعضي ايتونو تفسير

قاضي ثناء الله ليکلي دي جمهورصحابه اوتابعينو او علماؤ په نزد سورة الفتح دهجرت په شپږم کال په هغه وخت کي نازل شو کله چی رسول الله صلي الله عليه وسلم دعمري په اراده دصحابه کرامو دډلي سره مکي مکرمي ته روان شو او دحرم حدودو ته نژدي يي په حديبيه مقام کي قيام اوکړو مګر د مکي قريشو رسول الله لره مکي ته دداخليدونه منع کړو او بيا په دي باندي صلح کولو ته تيار شول چی په دي کال کي واپس لاړ شي او بل کال به عمره اوکړي. اکثر صحابه کرام خصوصا عمرفاروق رضي الله عنه په دي صلح راضي نه وو مګر نبي کريم صلي الله عليه وسلم دالقاء الهي په بنا ددي صلحي انجام دمسلمانانو دپاره کاميابي ګڼړله او قبوله يي کړه چی تفصيل يي په لاندو کرخو کي رارروان دی، کله چی رسول الله صلي الله عليه وسلم خپل احرام پرانيستلو او دحديبيه نه واپس روان شو نو په لاره کي دا تمام سورة نازل شو په کوم کي چی دا اوخودلی شول چی درسول الله خوب رښتونی دی ضرور به واقع کيږي مګردا يي وخت نه دی وروسته به دفتح مکي وخت راځي او ددي صلح حديبيه نه يي په فتح مبين سره تعبير اوکړو ځکه چی دا صلح په حقيقت کي دمکي دفتح کيدو سبب اوګرځيدو

دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه او بعضو نورو صحابه کرامو بيان دی چی تاسو خو فتح مکي فتح ګڼړئ او مونږ صلح حديبيه فتح ګڼړو . دبراء بن عازب رضي الله عنه قول دی چی تاسو خو فتح مکه فتح ګڼړئ په دي کي هيڅ شك نشته چی هغه فتح ده ليکن مونږ دصلح حديبيه په وخت کي بيعت الرضوان حقيقي فتح ګڼړو په کوم کي چی رسول الله صلي الله عليه وسلم دحاضرينو صحابه کرامو نه چی تعداد يي څوارلس سوه کسان وو ديوي وني لاندي بيعت واخستلو لکه چی په همدي سورت کي ددي بيعت ذکر وراندي رارروان دی (ملخص ازابن کثير).

کله چی معلومه شوه چی دا سورت دحديبيه دواقعي سره تعلق لري اوپه همدي سلسله کي نازل شوی دی او په دي سورت کي ددي واقعي ډيرو اجزاؤ ذکر هم راغلي دي نو په دي وجه دا مناسب وګرځيدله چی دا واقعه مختصر ذکر کړی شي ، په تفسير ابن کثير کي ددي ډيرتفصيل دی اوهمدارنګي ددي نه زيات تفصيل په تفسير مظهري کي دی چی تقريبا په څوارلسو صفحاتو کي داول نه تر اخره پوري دا واقعه دمفصل او مستند کتب حديث په حوالو سره بيان کړی ده کومه چی په ډيرو نصائحو او معجزاتواو علمي او ديني فوائدو مشتمله ده،

دلته ددي قصي صرف هغه اجزاء ذكر كولی شي دكومو ذكر چې په خپله په دي سورت كي راغلی دی اوي هغه حصه دكومي چې ددي قصي سره قوي تعلق دی تردي چې وړاندي دراتلونكو اياتونو په تفسير پوهيدل اسان شي

۳۲٦۲_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَالِدٍ ابْنُ عَثْمَةَ. حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ. عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ. عَنْ أَبِيهِ. قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. يَقُولُ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ. فَكَلَّمْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَكَتَ. ثُمَّ كَلَّمْتُهُ فَسَكَتَ. ثُمَّ كَلَّمْتُهُ فَسَكَتَ. فَحَرَّكْتُ رَاحِلَتِي فَتَنَحَّيْتُ. وَقُلْتُ: ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ. نَزَرْتَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ كُلُّ ذَلِكَ لَا يُكَلِّمُكَ. مَا أَخْلَقَكَ بِأَنْ يَنْزِلَ فِيكَ قُرْآنٌ. قَالَ: فَمَا نَشِبْتُ أَنْ سَمِعْتُ صَارِخًا يَصْرُخُ بِي. قَالَ: فَجِئْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: "يَا ابْنَ الْخَطَّابِ لَقَدْ أُنْزِلَ عَلَيَّ هَذِهِ اللَّيْلَةَ سُورَةٌ مَا أُحِبُّ أَنَّ لِي مِنْهَا مَا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. وَرَوَاهُ بَعْضُهُمْ عَنْ مَالِكٍ مُرْسَلًا. [1]

ترجمه: عمر بن الخطاب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مونږ درسول الله سلي الله عليه وسلم سره په يو سفر كي موجود وو ما رسول الله ته څه اوونيل نو هغه خاموش پاتي شو ما بيا څه خبره اوكړه رسول الله بيا خاموشي اختيار كړه ما ورسره بيا په دريم خل څه خبره اوكړه نو رسول الله خاموش پاتي شو دي وخت كي ما خپلي سورلئ ته يوه جټكه وركړه او يو طرف ته لاړو او خپل خان ته مي ونيل اي دخطاب خويه مور درباندي بوره شه رسول الله ته دي دري پيري دخه ونيلو كوشش اوكړو او يو خل يي هم درسره خبري اونكړي هسي نه چې ستا په حق كي كومه سزا په قران كي نازله شي، عمرفاروق وائي څه خاص وخت لاته ووتير شوي چې ديو اواز كونكي اواز مي واوريدو او ماته يي چغي وهلي عمر فاروق وائي زه درسول الله په خدمت كي حاضر شوم ماته يي اوفرمانيل اي دخطاب خويه نن په ماباندي يو داسي صورت نازل شوي دی كوم چې ماته دهغه ټولو څيزونو نه زيات محبوب دي په كومو چې نمر راخيژي او هغه دا سورة دي "انافتحنالك فتحامبينا".

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي او بعضي راويانو داحديث

[1] ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المغازي ۳۵ (۴۱۷۷)، وتفسير سورة الفتح ۱ (۴۸۳۳)، وفضائل القرآن ۱۲ (۵۰۱۲) (تحفة الأشراف: ۱۰۳۸۷)

دمالك نه مرسل نقل كړي دي.

تشريح: په مذكوره بالا ايت كي متعددو واقعاتو ته اشاره ده دايتونو دفهم دسهولت دپاره ددي واقعاتو ليكل مناسب معلوميږي.

اولنۍ واقعه نبي كريم صلي الله عليه وسلم په مدينه كي خوب اوليدو چي مونږ مكي ته په امن او امان سره لاړو او د عمري كولو نه پس مو حلق او قصر اوكړو رسول الله دا خوب صحابه كرامو ته بيان كړو خو رسول الله تعين دمودي نه وو كړي مگر دشوق دشدت په وجه دټولو خيال دي ته لاړو چي په دي كال به عمره مويسر كيږي او اتفاقا رسول الله قصد دعمري هم اوكړو . الخ.

دويمه واقعه رسول الله دعمري په قصد تقريبا ديونيم زر كسانو سره مكي ته روان شو او قرباني هم ورسره وه كله چي دا خبر مكي ته ورسيدو نو قريشو ډير لښكر راجمع كړو او اتفاق يي اوكړو چي دي به مكي ته نه راپريږدي چنانچي رسول الله په حديبيه كي چي مكي ته نژدي دي قيام اوكړو.

دريمه واقعه : رسول الله دمكي نه يو قاصد اوليږلو چي مونږ دجنگ دپاره نه يو راغلي مونږ عمري كولو ته درپريږدئ چي عمره اوكړو او واپس به خو ليكن دوئ ته هيڅ جواب رانغي تردي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي كار دپاره عثمان رضي الله عنه راوليږلو او دده په خوله يي قريشو ته دا پيغام راوليږلو او بعضي مسلمانان نارينه او زنانه كوم چي په مكه كي مغلوب او مظلومان وو هغوئ ته يي هم بشارت راوليږلو چي اوس به عنقريب په مكه كي اسلام غالب كيږي عثمان رضي الله عنه لره قريشو حصار كړو نو دهغه په واپسئ كي تايم زيات تير شو دلته دا خبر مشهور شو چي عثمان قتل كړي شوي دي دغه وخت كي رسول الله په دي خيال سره چي شايد چي دجنگ موقعه به راشي ټول صحابه كرام ديوي وني لاندي كينول او دجهاد بيعت يي ورسره اوكړو كله چي قريشو دبيعت خبر واوريدو نو اوويريدل او عثمان رضي الله عنه يي واپس راوليږلو

څلورمه واقعه: بيا دمكي يو څو سرداران غرض دصلحي په خدمت نبوي كي حاضر شول او صلح نامه ليكل منظور شول په كومي چي اول صرف په بسم الله كي قريشو نكړي نكړي كول چي مونږ بسم الله الرحمن الرحيم نه ليكو او نه تاسو ددي ليكلو ته پريږدو پخوانئ كلمه به ليكئ چي هغه "باسمك اللهم" وه او بيا يي دمحمد صلي الله عليه وسلم سره درسول الله په ليكلو بحث مباحثه اوكړه چي صرف ابن عبدالله ليكل پكار دي په دي باندي گفتگو روانه وه چي مسلمانانو ته غصه راغله او په جوش كي راغلل چي په توره دي معامله يو طرف ته كړي شي ليكن اخر رسول الله دواړه خبري منظور كړي او مسلمانانو هم ضبط وكړواو صلح نامه

ولیکلي شوه چي یو شرط پکي دا وو چي تاسو اوس په دي کال واپس ځئ او بل کال به عمرې له راځئ او بل شرط دا وو چي د لسو کالو پوري به جنګ نه وي چنانچي رسول الله په حدیبیه کي قرباني ذبح کړه اود قصر کولو نه پس یي احرام پرانستلو او مدیني ته واپس روان شول.

پنځمه واقعه په حدیبیه مقام کی دصلحي نه مخکي دا واقعه اوشوه چي یو مصلح جماعت دمکي والانه دلته په خفیه طور په دي اراده راورسیدو چي دموقعي موندلو سره به نعوذ بالله درسول الله صلي الله علیه وسلم کار تمام کړي صحابه کرامو اولیدل او ویي نیول لیکن رسول الله صلي الله علیه وسلم پریخودو.

شپږمه واقعه کله چي رسول الله مکي ته روان شوي وو نو دهغه هم دقریشو دطرفه دجنګ شبه وه او په همدي وجه یي دزیاتي ډلي سره تلل مصلحت اوګڼل چنانچي رسول الله په اعراب یعني بانډچیانو کی هم ددي خبرو اعلان اوکړو چي تاسو لره هم تلل پکار دي لیکن دا خلق په وجه دنفاق پاتي شول او پخپل مینځ کی یي وئیل چي په مکه کی ډیر خلق راجمع شوي دي مونږ دهغوئ مقابلي ته نه شو ورتلي او درسول الله اودمومنانو متعلق یي وئیل چي دا خلق به روغ واپس نه راځي کله چي رسول الله واپس راغي نو دوئ ورته حاضر شول او د دروغو عذرونه یي پیش کول.

اومه واقعه رسول الله دحدیبیه مقام نه مدیني ته واپس راروان وو چي په لاره کی دا سورة نازل شو کل یا اکثر علي اختلاف القولین او دا ټول واقعات په ذي قعد میاشت کی دهجرت په شپږم کال پیښ شوي وو.

اتمه واقعه رسول الله چي دحدیبیه نه واپس راغي نو دهجرت په اوم کال یي اهل حدیبیه روان کړل دفتح دخیبر دپاره کوم چي دمدیني نه په شمال کی څلورمنزله وړاندي دشام په طرف واقع ده خیبر دیهودیانو یو ښار وو هلته روان شو او فتح یي کړو او په دي غزوه کی هیڅ یو کس دمتخلفینو د حدیبیه نه شریك نه وو.

نهمه واقعه په راتلونکي کال ذي قعده اوم هجري کی رسول الله صلي الله علیه وسلم دمعاهدي موافق دفوت شوي عمري په ځاي دعمري کولو دپاره روان شو چنانچي مکي ته ورسیدو او په امان سره یي عمره ادا کړه.

لسمه واقعه: په صلح نامه کی چي دلس کالو جنګ بندي لیکلي شوي وه قریشو نقض عهد اوکړو او رسول الله په مکه حمله اوکړه او په رمضان اتم هجري کي یي مکه فتح کړه چي تفصیل یي په شروع دسورة توبي کي په دریمه فائده کی تیر شوي دي دا تمام روایات په روح المعاني کي سره دتصریح دماخذ نه موجود دي په بعضي نورو واقعاتو ته هم اشاره ده مګر اولا دهغوئ تفسیر مختلف فیه دي او ثانیا دهغوئ په تفصیل تفسیر موقوف نه دي او په دي

وجه هغه ددي ايتونو سره ليكلي شي اوس تفسير شروع كوو اول په فتح مبين سره امتنان درسول الله صلي الله عليه وسلم ذكر كوي

تهنيت دسيدالمرسلين په فتح مبين سره سره دغايات ملابسه دتقويت ددين

او مونږ په دي صلح حديبيه سره تاته يو ښكاره فتح دركړه ريعني په دي صلح حديبيه سره دا فائده اوشوه چي دا سبب اوګرځيدو ديو مطلوب فتح يعني دفتح مكي كما سيناتي ګويا كي دا صلح فتح اوګرځيده او فتح مكي ته يي فتح مبين ځكه ونيلي دي چي غايت دفتح غلبه وي داسلام دخلقو په اسلام سره يا په استئلام سره او همدا دهغي مطلوب اثر دي او په فتح مكي سره اسلام ته په دي وجه لويه غلبه ملاؤ شوه چي تمامو قبائلو دعربو ددي انتظار كولو چي رسول الله كه پخپل قوم غالب شو نو مونږ به يي هم اطاعت اوكړو چنانچي مكه كله فتح شوه نو دځلورو طرفو نه قبائل راوپاريدل او پخپله او يا په واسطه دوفد په دربار نبوي كي حاضر شول او مسلمانيدل شروع شول كذا رواه البخاري عن عمرو بن سلمة.

چونكه اثار دغلبي داسلام په دي فتح زيات ښكاره شول نو ځكه يي ديته فتح مبين اوفرمائيل او صلح حديبيه ددي سبب ځكه اوګرځيدو چي داهل مكه سره په تيرو ورځو كي جنګونه شوي وو او ددي په وجه مسلمانانو ته دخپل قوت او سامان زياتولو فرصت او مهلت نه ملاويدو اوس چي صلح اوشوه نو په خاطر جمعي سره مسلمانانو كوشش اوكړو دكوم په وجه چي ډير خلق مسلمانان شول او ډله لويه شوه او په فتح خيبر وغيره سره سامان هم درست شو او داسي اوشول چي په نورو خلقو هم دباؤ پريوتل بيا دقريشو دطرف نه بدعهدي اوشوه نو رسول الله دلس زره كسانو سره دمقابلي دپاره روان شو اهل مكه دومره دباؤ شول چي حد يي نشته او څه خاص زيات جنګ اونه شو او اطاعت يي قبول كړو او جنګ دومره معمولي شان اوشو چي اهل علم په دي كي مختلف دي چي مكه صلحا فتح شوي ده او كه عنوةً، غرض دا چي په دي شان سره دا صلح سبب دفتح اوګرځيدو نو په دي وجه مجازا او اطلاقا للمسبب علي السبب دي صلحي ته فتح اوفرمائيلي شوه په كومه كي چي پيښن ګويي هم دفتح مكي راغلي ده وړاندي ددي فتح دنيوي او اخروي ثمرات بيانوي چي دا فتح ځكه مويسرشوه تردي چي ددينه پس ددين دتبليغ په باب كي چي رسول الله كوم مساعي جميله كوي دهغي نتيجه ظاهر شي يعني خلق په كثرت سره مسلمانان شي اوپه دي سبب سره چي دچا په كوشش سره دچا ايمان راوړل موجب داجر مساعي وي ګويا كي په نفس سعي سره هم اجر ملاويږي ليكن مطابق دحديث من سن سنة حسنة فله اجرها واجر من عمل بها . په مسلمانيدو سره مزيد زيات اجر ملاويږي او په همدي وجه په قبوليت داسلام سره د خلق كثير په صله كي دده اجر ډير زيات شي ، اود كثرت داجر او قرب په بركت سره الله تعالي ستاسو دټولو سابقه ګناهونه

او خطاګاني معاف کړي او پتا چي الله تعالي کوم احسانات کوي (مثلا نبوت يي درکړي . قران يي درکړي . ډير علوم يي درکړي اود ډيرو اعمالو ثواب يي درکړي ددي احساناتو مزيد تکميل وکړي (يعني يو به دا نعمت درکړي چي ستا په لاس به ډير خلق مسلمانان شي چي په دي به ستا اجر نور زيات شي دا دوه خو اخروي نعمتونه دي د کوم حاصل چي دفع د مضرت اخروي ده او حصول دمنفعت اخرويه دي . ددي دپاره چي تا لره ددين په نيغه لاره روان کړي اود مخکي نه دي هم په صراط مستقيم باندي تلل يقيني دي ليکن کفار به پکي مصادم او مزاحم کيدل، او دويم نعمت دنيويه دا چي الله تعالي تاته داسي غلبه درکړي چي په کومه کي عزتونه وي يعني دکوم نه پس بيا بلکل چرته دباو لاندي رانشي لکه چي ددينه مخکي کله کله کيدل . د ينهديك حاصل نفي ده دمغلوبيت کوم چي دفع دمضرت ده، او ينصرك حاصل اثبات دغالبيت دي کوم چي حصول دمنفعت دي او دا مفهوم زيات دي د اولني مفهوم نه چنانچي هم داسي واقع شول او رفته رفته يي په تمام جزيره عرب تسلط راغي.

ف: په ليغفر لك الله ، کي د لام دا توجيه اسهل ترينه ده د کوم حاصل چي دادي چي فتح سبب دي داسلام دخلقو او اسلام دخلق کثير سبب دي د اجر اود قبول عند الله ، او کثرت داجر او قبول عند الله سبب دغفران دي اود سبب سبب هم سبب وي پس فتح سبب دمغفرت شو او په سابقي کي سببيت نور زيات ظاهر دي، او ددي مغفرت دذنوب حقيقت دسورة محمد داولي رکوع په اخر کي راغلي دي. ددي ايت سره د د بيعت الرضوان د واقعي هم قوي تعلق دی که خوك د بيعت الرضوان واقعه تفصيلا مدلل کتل غواړي نو تفسير مظهري ته دي مراجعه وکړي والله اعلم

د نزول زمانه: روايتونه په دي خبره متفق دي چي د دي نزول په ذي القعده سـ ٦ هـ کي هغه وخت شوي دي کله چي نبي صلي الله عليه وسلم د کفارو سره د حديبيه په مقام معاهده اوکړه او واپس مديني منوري ته لاړو.

تاريخي پس منظر: د کومو واقعاتو په سلسله کي چي دا سورت نازل شوي دي د هغي شروع داسي شوي ده چي يو ورځ رسول الله صلي الله عليه وسلم په خوب کي اوليدل چي خه د خپلو ملګرو سره مکي معظمي ته تلي يم او عمره ادا کوم او د پيغمبر خوب تش خوب نه وي. بلکه دا هم د وحي يو قسم دي رواندي په ايت ٢٧ کي د دي وضاحت شته دي. چي دا خوب مونږ خپل رسول ته خودلي وو. نو د دي پيروي د نبي صلي الله عليه وسلم دپاره ضروري وه.

په ظاهر اسبابو کي په دي خبره باندي د عمل کولو څه ممکن صورت په نظر نه راتللو. د شپږد کالو راسي کفارو د حرم لار بنده کړي وه. او په دي توله موده کي ني يو مومن هم حج او عمري ته نه پريخودلو نو أس دا څنګه کيدي شي چي نبي صلي الله عليه وسلم به د ملګرو سره مکي ته

بريږدي د عمري احرام تړل او جنګي سامان د ځان سره اخستل ګويا جنګ ته په خپله دعوت ورکول ؤو او بغير د اسلحي تلل هم خپل ځان په خطره کي اچول ؤو. په دي حالاتو کي يو سړي په دي نه شو. پوهه کيدلو. چي د الله تعالي په دي اشاره به عمل کيږي. نو څنګه.

مګر د پيغمبر منصب دا ؤو. چي د رب څه حکم وي. نو په هغي به عمل کولي شي. د دي وجي نه رسول الله صلي الله عليه وسلم خپل خوب صحابه کرامو ته واورولو او د سفر تياري ني شروع کړله په ګير چاپير قبائلو کي هم نبي صلي الله عليه وسلم اعلان اوکړو. چي څوک خمونږ سره تلل غواړي. نو هغه تللي شي. کومو خلقو چي په ظاهري اسبابو نظر کړو. نو هغوي دا ګڼړله چي دا خلق د مرګ په خوله کي په خپله ورځي. مګر چا چي په الله تعالي او رسول الله صلي الله عليه وسلم په سچي ايمان لرو. نو هغوي په دي معامله کي څه پرواه نهٔ کوله. چي انجام به څه وي. هغوي له بس دا کافي وه. چي د الله تعالي حکم دي او د هغهٔ رسول د حکم د تعميل دپاره راپاسيدلي دي. څوارلس سوه صحابه په دي خطرناک سفر کي تللو ته تيار شول په ذي القعده سـ ٦ هـ کي دا مبارکه قافله د مديني نه روانه شوه. چي ذوالحليفي ته رااورسيدل نو ټولو د عمرٔي احرام اوتړلو. (ذوالحليفه د مديني نه مکي طرف ته شپږ ميله لري ده. ديته اُس بِئرعلي واني او د مديني حاجيان د دي ځاي نه د حج او عمري احرام تړي.

د قرباني دپاره اويا اوښان هم ني د ځان سره روان کړي ؤو. او د هغوي په ستونو کي د قرباني د نخي په طور اميلونه اچولي ؤو. د عربو د معروف قاعدي موافق دوي سره صرف يوه يوه توره وه. او د دينه علاوه دوي سره نور جنګي سامان نه ؤو. دا رنګ دا قافله د لبّيک په اوازونو سره مکي ته روانه شوله.

په دي حالاتو کي د مديني او د مکي د تعلقاتو نه خلق خبر ؤو. يو کال وړاندي په سـ ٥ هـ کي د غزوه احزاب مشهوره معرکه شوي وه. د دي وجي نه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم د دومره لوئ قافلي سره روان شو. نو عرب حيران شول او خلقو دا هم ليدل چي دوي خو جنګ له نه ځي. بلکه د حرمت په مياشت کي د احرام او د قرباني د ځاروو سره د بيت الله شريف طواف له ځي. د نبي صلي الله عليه وسلم د دي اقدام په وجه کفار ډير پريشانه شول. د ذي القعدي مياشت د حرمت د مياشتو نه وه. په دي مياشت کي چي به چا احرام اوتړلو. نو هغه به چا نهٔ شو منع کولي. کفارو دا سوچ کړو. چي که مونږ دوي منع کړو. نو په پوره عرب کي به شور شي. هر عرب به دا واني. چي کفار زياتي کوي. او دا به يوه داسي غلطي وي چي ټول عرب به خمونږ نه واوړوي. ليکن که مونږ دوي مکي ته پريږدو. نو خمونږ هوا به اوځي. او خلق به واني چي نبي صلي الله عليه وسلم غالب شو او کفار مغلوب شول آخرکار د سوچ او فکر نه پس په دوي باندي جاهليت غالب شو او دا خطرناکه فيصله ني اوکړه. چي مونږ دوي په هيڅ قيمت مکي ته نهٔ پريږدو نبي صلي الله عليه وسلم د بني کعب يو سړي د مخبر په حيثيت سره ليګلي ؤو.

چي د قريشو د ارادو او حالاتو نه مومنان خبر وي. کله چي هغه عُسفان ته اورسيدلو نو نفه خبر ورکړو چي د قريش ټول خلق په پوره تياريْ سره ذي طُوي مقام ته رارسيدلي دي (عسفان د مکي نه د مديني په لار د دؤو ورځو د سفر اندازه لري دي. يعني د اوښانو په سفر سره د دي ځايْ نه مکي ته دوه ورځي لري. او ذي طوي د غُسفان په لار د يو ځايْ نوم دي) کفارو خالد بن وليد د دوه سوه سوارو سره کُداعُ الغَيم ته اوليږلو چي د مومنانو لار بنده کړي. (کُراعُ الغَيم د عسفان نه مکي طرف ته په اته ميله فاصله يو ځايْ دي).

د قريشو چال دا ؤو. چي مومنان ئي تنګول او په اشتغال کي ئي راوستل. او که چري جنګ اوشي نو په ملک کي به مشهوره کړي. چي دا خلق د جنګ کولو دپاره راغلي ؤو. ليکن بهانه ئيد عمري کړي وه. او احرام ئي د دهوکي دپاره تړلي ؤو رسول الله صلي الله عليه وسلم ته چي اطلاع اوشوه. نو هغوي صلي الله عليه وسلم خپله لار بدله کړه. او په يو سخته لار باندي روان شول او حديبيه ته رااورسيدل (دا مقام د جدي نه د مکي په سړک په هغه ځايْ کي دي چي د هغي نه د حرم حدود شروع کيږي. اوس دي ځايْ ته شُمَيسي وائي او د مکي نه په ۱۳ ميله فاصله دي) په حديبيه کي د بنيْ خُزاعه سردار بُدَيل بن ورقآء د خپلي قبيلي د يو څو سړو سره راغلو. او تپوس ئي ترينه اوکړو چي تاسو په څه غرض دلته راغلي ئي. رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي مونږ چا سره دَ جنګ کولو دَپاره نهٔ يو راغلي. صرف دَ بيت الله زيارت او طواف له راغلي يو. دا خبره هغوي قريشو ته اوکړه او ورته ئي اوئيل چي دَ دي زيارت کونکو لار مهٔ بنده وي. مګر دوي خبره نهٔ منله. او دَ اَحَابِيش سردار حُلَيس بن علقمه ئي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اوليږلو. چي دوي واپس کړي.

دَ قريشو دَ سردارانو مطلب دا ؤو. چي نبي صلي الله عليه وسلم دَ دهٔ خبره او نهٔ مني نو دي به ترينه خفه شي. او ټول اَحابيش به خمونږ ملګري شي. چي هغه راغلو او په خپله ئي اوليدل. چي ټوله قافله په احرام کي ده. دَ قرباني اوښان ولاړ دي. دَ هغوي په ستونو کي دَ قرباني نخي اچولي شوي دي. او دا خلق دَ جنګ دَپاره نهٔ دي راغلي بلکه دَ بيت الله دَ طواف دَپاره راغلي دي. نو هغه نبي صلي الله عليه وسلم سره هډو خبره اونه کړه. او واپس راغلو او دَ قريشو سردارانو ته ئي صفا صفا اوئيل چي دوي دَ بيت الله دَ زيارت او طواف دَپاره راغلي دي. که تاسو دوي منع کوني نو اَحابيش به ستاسو ملګرتيا نهٔ کوي. او په غلط کار کي مونږ ستاسو ملګري نهٔ يو.

بيا دَ قريشو دَ طرف نه عروه بن مسعود ثقفي راغلو او رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ئي اوئيل. چي ته مکي ته مهٔ داخليږه. ليکن نبي صلي الله عليه وسلم دهٔ ته هم هغه جواب ورکړو. کوم ئي چي دَ بني خزاعه سردار ته ورکړي ؤو. چي مونږ دَ جنګ په اراده نه يو راغلي. صرف دَ بيت الله دَ تعظيم منونکي يو او دَ دين دَ يو کار کولو دَپاره راغلي يو. عروه واپس راغلو او

قريشو ته ئي اوئيل چي خه دَ قيصر او كسري او دَ نجاشي دربارونو ته هم تلي يم. مگر په الله تعالي قسم ما چي دَ محمد صلي الله عليه وسلم ملگري څنگه فدايان ليدلي دي. داسي منظر ما په غټو غټو بادشاهو كي هم نه دي ليدلي. دَ دي خلقو حال خو دا دي چي محمد اودس كوي نو هغوي دَ هغه صلي الله عليه وسلم دَ اودس اوبه زمكي ته نه پرېږدي او په خپلو مخونو او جامو ئي مږي. أس تاسو سوچ اوكړي چي ستاسو مقابله دَ چا سره ده.

دَ استاذو دَ ليږلو راليږلو په دوران كي قريشو برابر دا كوشش كولو چي دَ نبي صلي الله عليه وسلم په ملگرو كي اشتغال پيدا كړي. او په څه نه څهٔ طريقه جنگ جوړ شي. ليكن دَ صحابه كرامو صبر او ضبط او دَ نبي كريم صلي الله عليه وسلم حكمت وفراست دَ دوي ټول تدبيرونه ناكام كړل. يوه ورځ دَ كفارو څلويښت پنځوس كسان راغلل او دَ شپي ئي په موشانو غشي او كاڼړي ويشتل صحابه كرامو دوي ټول گرفتار كړل او نبي صلي الله عليه وسلم ته ئي. پيش كړل. خو نبي صلي الله عليه وسلم ټول ازاد كړل. په يو بله موقع دَ تنعيم دَ طرف نه اتيا كسان عين د سحر دَ مونځ په وخت كي راغلل او چهاپه ئي اووهله. ليكن دوي هم اونيولي شول او بيا پري خودلي شو. دا رنگ قريش په خپلو ټولو تدبيرونو كي ناكامه شو.

بيا دَ دينه پس نبي صلي الله عليه وسلم عثمان رضي الله عنه مكي ته دَ خبرو اترو دپاره اوليږلو. دَ هغي تفصيل روستو راځي. او آخر كار صلح حديبيه اوشوه او ديته الله تعالي ښكاره فتح فرمائيلي ده. اگر چي په دي معاهده كي ظاهري داسي شرطونه وو. چي هغه دَ مومنانو خلاف وُو. ليكن ډير زر دي فتح فائدي ښكاره شولي او هغه دا دي.

١ په رومبني خل په عرب كي دَ اسلام رياست وجود تسليم كړي شو.

٢ دَ مومنانو دپاره دَ بيت الله حق تسليم كړي شو. او دا گويا دَ قريشو اقرار وُو. چي اسلام څه بيديني نهٔ ده. لكه چي تراوسه پوري دوي گڼړلو.

٣. دَ لسو كالو پوري دَ جنگ معاهده اوشوه او مومنانو ته امن نصيب شو. د عرب په ټولو طرفونو كي خوارهٔ شول او دَ دين دَ دعوت كار ئي شروع كړو. او ډير خلق اسلام كي داخل شول.

۴. دَ قريشو دَ طرف نه دَ جنگ بندي په وجه نبي صلي الله عليه وسلم ته موقعه په لاس ورغله چي خپل اسلامي حكومت ښه مستحكم كړي. او دَ اسلامي قانون دَ جاري كولو په وجه دَ مسلم معاشري مكمل تهذيب او تمدن جوړ كړي

۵. دَ قريشو سره دَ صلحي نه پس دَ جنوب دَ طرف نه هم امن او اطمينان حاصل شو او فائده ئي دا شوه چي دَ عرب په شمال او مينځ كي تمام مخالف قوتونه هم ختم شول. په صلح حديبيه باندي دري مياشتي تيري شوي وي چي د يهوديانو مركز خيبر فتح شو او بيا دَ فدك. وادي القري. تيما او تبوک دَ يهوديانو كلي دَ اسلام دَ لاندي شول او بيا په مينځ عرب كي هغه ټولي قبيلي چي دَ يهود او قريشو سره ئي ملگرتيا كوله. تابع شول. او دا رنگ دَ صلح حديبيه نه پس په دوه

كاله كي په عرب كي دَ طاقت توازن دومره بدل شو چي دَ مشركينو طاقت ختم شو او دَ اسلام عليه يقيني شوه دا هغه بركتونه ؤو چي مومنانو ته دَ هغي صلحي نه حاصل شول. چي قريشو دا خپله كاميابي گنړله او دَ مومنانو ناكامي گنړله. په دي صلحه كي چي كوم ځيز مومنانو باندي گران ؤو. هغه دا ؤو هغه دا ؤو چي څوک د زمكي نه مديني ته راشي نو هغه به مكي والو ته واپس كولي شي. او چي څوک د مديني نه مكي والو ته راشي نو هغه به مديني والو ته نشي واپس كولي. ليكن لږه موده تيره شوي وه. چي دا معامله هم د قريشو دپاره اپوته شوه. او د تجربي نه ثابته شوه. چي د نبي صلي الله عليه وسلم ډونگي نظر ديته په كومه طريقه كتل او دا شرط ئي قبول كړو. د صلحي نه ازاد شو او مديني ته راغلو. قريشو د هغهٔ د واپسئ مطالبه اوكړه. او نبي صلي الله عليه وسلم د معاهدي موافق هغه هغه خلقو ته حواله كړو. كوم چي د دهٔ د نيولو دپاره د مكي نه راغلي ؤو. ليكن په لار كي هغه مسلم بيا د هغوي نه رااوتختيدلو. او د بحر احمر د ساحل په هغه لاره كيناستلو. د كومي نه چي د قريشو تجارتي قافله تيريدله. د دينه پس چي به كوم مسلم ته د تيختي موقعه حاصليدله. نو هغه به د ابو بصير خايْ ته راتلو. تردي چي اويا كسان هلته جمع شول. او د قريشو په قافلو ئي چهاپي وهلي اخركار قريش تنگ شول او نبي صلي الله عليه وسلم ته ئي درخواست اوكړو. چي دا كسان مديني ته رااوغواړه. او دا رنگ د حديبيي د صلحي هغه شرط ساقط شو.

****

٣٢٦٣ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: "نَزَلَتْ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ (الفتح :٢ مَرْجِعَهُ مِنَ الحُدَيْبِيَةِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَقَدْ نَزَلَتْ عَلَيَّ: أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا عَلَى الأَرْضِ". ثُمَّ قَرَأَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ، فَقَالُوا: هَنِيئًا مَرِيئًا يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَدْ بَيَّنَ اللَّهُ لَكَ مَاذَا يُفْعَلُ بِكَ، فَمَاذَا يُفْعَلُ بِنَا؟ فَنَزَلَتْ عَلَيْهِ: "لِيُدْخِلَ المُؤْمِنِينَ وَالمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الأَنْهَارُ حَتَّى بَلَغَ فَوْزًا عَظِيمًا (الفتح :٥ ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَفِيهِ عَنْ مُجَمِّعِ بْنِ جَارِيَةَ. ([1])

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي په رسول الله صلي الله عليه وسلم دحديبيه مقام نه دواپسئ په وخت كي "ليغفر لك الله ما تقدم من ذنبك وما تأخر" نازل شو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په ما يو داسي ايت نازل شوي دي كوم چي ماته دهر ځيز نه زيات

[1] ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٢٢٢)

محبوب دي او بيا يي دا ايت كريمه مونږته بيان كړو خلقو چي واوريدو نو "هنيأ مريأ" اوازونه كول يي شروع كړل يعني مبارك دي شه اي دالله رسوله الله تعالي تاته اوخودل چي تاسره به څه كولي شي مګر زمونږ پته نه لګي چي زمونږ سره به څه كيږي ترڅي چي په دي باره كي ايت كريمه " لِيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الأَنْهَارُ حَتَّى بَلَغَ فَوْزًا عَظِيمًا " د دي دپاره چي داخل كړي مومنان او مومناني زنانه جنتونو ته چي بهيږي لاندي د هغي نه نهرونه هميشه به وي دوئ په هغي كي او لري به كړي د دوئ نه بدئ د دوئ او دا په نيز د الله تعالي كاميابي لويه ده.، نازل شو

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دمجمع بن جاريه نه هم روايت وارد دي.

تشريح: په دي كي د تسلي د راليږلو دويمه او دريمه فائده ده. دَ ايمان زيادت دَپاره. يعني په دي تَسلي باندي جنت ته داخليدل او ګناهونه معاف كيدل بنادي. (فائده) په قرآن كريم كي چي كوم ځائي دَ جنت خاص كيدل دَ نارينو دَپاره وي نو هلته ورسره دَ مومنانو زنانو ذكر هم كوي. لكه دلته مسئله دَ قتال او فتح ده. چي دغه عمل اكثر دَ نارينو دي نو وهم پيدا كيږي چي جنت به هم خاص دَ نارينو دَپاره وي. نو مومنات ئي ورسره ذكر كړي دي. چي جنت دَ قتال په عمل پوري خاص نه دي. دَ هغي نور اسباب هم شته چي هغه په زنانو كي موجود دي نو دَ جنت حقداري ګرځيدلي شي. او كوم ځائي كي چي دا وهم نهٔ وي نو هلته مومنات جدا نه ذكر كوي. ځكه چي هغوي دَ نارينو تابع دي.

****

٣٢٦٤_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، "أَنَّ ثَمَانِينَ هَبَطُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابِهِ مِنْ جَبَلِ التَّنْعِيمِ عِنْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ وَهُمْ يُرِيدُونَ أَنْ يَقْتُلُوهُ، فَأُخِذُوا أَخْذًا، فَأَعْتَقَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ: وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ (الفتح: ٢٤ الاية". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي په رسول الله او صحابه كرامو د حملي كولو دپاره داتيا كسانو په تعداد كي كافران دتنعيم غر نه دسحر دمونځ په وخت كي راكوز شول او

1 ـ مسلم/الجهاد ٤٦ (١٨٠٨)، سنن ابي داود/الجهاد ١٣٠ (٢٦٨٨) (تحفة الأشراف: ٣٠٩)

هغوئ غوښتل چي رسول الله قتل کړي مګر ټول اونيولي شول رسول الله صلي الله عليه وسلم دوئ پريخودل نو په دي باره کي الله تعالي دا ايت "وهوالذي كف ايديهم عنكم وايديكم عنهم" نازل کړو.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي

****

٣٢٦٥_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ قَزَعَةَ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ حَبِيبٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ ثُوَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ الطُّفَيْلِ بْنِ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوَى (الفتح :٢٦، قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ "، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ حَدِيثِ الْحَسَنِ بْنِ قَزَعَةَ، قَالَ: وَسَأَلْتُ أَبَا زُرْعَةَ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ فَلَمْ يَعْرِفْهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه : دابئ بن كعب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دايت كريمه "والزمهم كلمة التقوي" متعلق اوفرمائيل ددينه مراد لااله الاالله ونيل دي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي او دا حديث مونږ ته دحسن بن قزع نه علاوه دبل چانه مرفوع نه دي اوريدلي ما دابوذرعه نه دي حديث باره کي تپوس اوکړو نو هغه ته ددي سند نه علاوه ددي حديث کوم بل مرفوع سند معلوم نه وو.

تشريح: " وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوَى هغه کلمه چي په هغي سره دَ شرک نه بچاؤ کيږي او هغه دَ توحيد کلمه ده. او مراد دا دي چي مشرکان په شرک باندي کلک ؤو. نو الله تعالي مومنان په توحيد باندي کلک کړل. يا مراد دا دي چي لازم ئي کړو په دوي باندي رعايت او لحاظ کول دَ توحيد دَ کلمي. يعني داسي طريقه اختيار کړيْ چي په هغي سره دَ توحيد کلمه اوچتيږي.

****

٤٩_باب وَمِنْ سُورَةِ الْحُجُرَاتِ

دسورة الحجرات دبعضي ايتونو تفسير

٣٢٦٦_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا نَافِعُ بْنُ عُمَرَ بْنِ جَمِيلٍ

1_ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف :٢١)

الْجُمَحِيُّ، حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ الزُّبَيْرِ، أَنَّ الأَقْرَعَ بْنَ حَابِسٍ، قَدِمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: يَا رَسُولَ اللهِ، اسْتَعْمِلْهُ عَلَى قَوْمِهِ، فَقَالَ عُمَرُ: لَا تَسْتَعْمِلْهُ يَا رَسُولَ اللهِ، فَتَكَلَّمَا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى ارْتَفَعَتْ أَصْوَاتُهُمَا، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ لِعُمَرَ: مَا أَرَدْتَ إِلَّا خِلَافِي، فَقَالَ عُمَرُ: مَا أَرَدْتُ خِلَافَكَ، قَالَ: فَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ: "يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ (الحجرات: ٢) قَالَ: فَكَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ بَعْدَ ذَلِكَ إِذَا تَكَلَّمَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يُسْمِعْ كَلَامَهُ حَتَّى يَسْتَفْهِمَهُ". قَالَ: وَمَا ذَكَرَ ابْنُ الزُّبَيْرِ جَدَّهُ يَعْنِي أَبَا بَكْرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ وَقَدْ رَوَاهُ بَعْضُهُمْ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ مُرْسَلٌ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ. (١)

ترجمه: دعبدالله بن زبیر رضي الله عنه بیان دي فرمائي چي اقرع بن حابس دنبي کریم صلي الله علیه وسلم خدمت کي حاضر شو ابوبکر رضي الله عنه اوونیل اي دالله رسوله اقرع پخپل قوم باندي عامل مقرر کړه عمر فاروق رضي الله عنه اوونیل اي دالله رسوله دي عامل مه مقرروه تردي چي ددوئ دواړو په مینځ کي درسول الله په موجودګئ کي دخبرو تکرار اوشو او څه اوازونه یي هم تیز شول ابوبکر عمر ته اوونیل تاته خو بس صرف زمونږ مخالفت معلوم دي عمر رضي الله عنه اوونیل زه خو ستا مخالفت نه کوم چنانچي دي وخت کي دا ایت "يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ" یعني اي مومنانودنبي داواز دپاسه خپل اواز مه تیزوئ ـ نازل شو. او ددي واقعي نه پس چي به کله عمر رضي الله عنه درسول الله سره خبري کولي نو دومره به تیټ اواز به یي کولي چي اوریدل به یي هم مشکل وو تردي چي اوریدونکي به تپوس کولو ته مجبور شو راوي وائي ابن زبیر دخپل نیکه یعني دابوبکر رضي الله عنه ذکر په سند کي نه دي کړي.

امام ترمذي رحمه الله وایي: داحدیث حسن غریب دي بعضي راویانو داحدیث دابن ابي ملیکه نه مرسل طریقه نقل کړي دي او په سند کي یي عبدالله بن زبیر نه دي ذکر کړي.

تشریح: ترمذي د زر بن حبشي نه دا جمله نقل کړي ده: "وقد نهيت عن هذا" دنبي په وړاندي دچغو وهلو نه منع راغلي ده بلکه دهغه په وړاندي په مزه خبرو کولو حکم راغلي دي لکه چي په قران کریم کي ارشاد الهي دي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا

---

(١) ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المغازي ٦٨ (٤٣٦٧)، وتفسير الحجرات ٢ (٤٨٤٧)، والاعتصام ٦ (٧٣٠٢) (تحفة الأشراف: ٥٢٦٩)

تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُونَ (الحجرات۲)
ددي ایت دنزول نه پس دصديق اكبر رضي الله عنه عادت مبارك دا جوړ شو چي خبري به بي ډيري په مزه مزه كولي او عمر رضي الله عنه به دومره په مزه مزه خبري كولي چي رسول الله به نه اوريدلي ترد چي ددوباره تپوس كولو ضرورت به پيښ شو او همدارنګي دنورو صحابه كرامو هم دا عادت جوړ شوي وو او په دي وجه صحابه كرامو دا ديهاتي منع كړو چي درسول الله په وړاندي په تيز اواز خبري مه كوه.
دويم ادب: په دي كي مقصد د رسول الله صلي الله عليه وسلم احترام كول دي. او په دي كي اشاره ده چي كوم كار رسول الله صلي الله عليه وسلم څنګه او څومره او په كوم وخت كي كړي وي هغه سنت دي او هغه هومره كول پكار دي. دا ادب صحابه كرامو او د رسول الله صلي الله عليه وسلم په مجلس كي ناستو خلقوته خودلي شوي دي. او د دي حاصل دا دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم سره په خبرو اترو او ملاقات كي احتياط كوئ. او د چا اواز د رسول الله صلي الله عليه وسلم د اواز نه اوچت نه شي. او دا ادب اُس هم پكار دي. يعني چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم حكم بيانولي شي. حديث لوستلي شي. نو هغه منل پكار دي. او د مذهبي تعصب د وجي نه حديث رد كول يا په هغي كي د مذهب او مسلک د تعصّب د وجي نه تاويل كول ناجائز او حرام كار دي. او اشاره ده چي د بزرګانو او مشرانو احترام هم پكار دي.

****

۳۲٦۷ـ حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنِ الْحُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ فِي قَوْلِهِ: "إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِنْ وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ (الحجرات :٤، قَالَ: فَقَامَ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ حَمْدِي زَيْنٌ وَإِنَّ ذَمِّي شَيْنٌ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ذَاكَ اللَّهُ تَعَالَى". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه: براء بن عازب رضي الله عنه دالله تعالي ددي فرمان "" إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِنْ وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ" يقينا هغه كسان چي اوازونه كوى تاته شاته د ديوالونو نه. ډير د دوئ نه نه پوهيږي. دتفسير باره كي فرمائي يو كس درسول الله صلي الله عليه وسلم په دروازه اودريدو او په چغه يي ونيل اي دالله رسوله زما تعريف زما عزت دي او زما مذمت ذلت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا صفت خو دالله تعالي دي (اوداخو دالله تعالي شان دي).

[1] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى)

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن غريب دي.

تشريح: دا ايت د بعض باندچيانو قسم خلقو د بنو تميم د قبيلي په باره کي نازل شوي دي. چي هغوي يوه ورځ د عزمي په وخت کي د کور نه. بهر رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اوازونه کول او د دي نه معلومه شوه چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم د جلالت شان او د هغوي د ادب خيال نه ساتل بي عقلي ده. الحجرات جمع د حُجرٌ ده او دا هغه زمکي ته وئيلي کيږي. چي ديوال ترينه چاپيره وي او د کور دپاره استعماليږي. دلته ترينه مراد ديوالونه دي.

دبراء بن عازب رضي الله عنه دژندګئ حالات

نوم براء کنيه ابو عماره او دبنو حارثه سره يي تعلق وو دپلار نوم يي عازب دی دده ماما ابوبرده بن نبار چي بدري صحابي دی په عقبه کې اسلام قبول کړی دی او دهغه په برکت سره دهغه په خاندان کې اسلام خور شو او چي مسلمان شو نو په مدينه کې يي دمصعب بن عمير او ابن ام مکتوم نه قران يادول شروع کړل په بدر کې براء حاضر شوی وو ليکن دماشوم توب په وجه رسول الله صلي الله عليه وسلم واپس کړی وو (بخاري).

عرض دا چي په احد ، خندق، خديبيه، خيبر، او حنين کې يي شرکت کړی دی او دطائف په محاصره حجة الوداع کې يي هم درسول الله صلي الله عليه وسلم ملګرتيا کړي ده تردي چي په پينخلس عزواتو کي شريك شوی دی (مسند احمد).

تواضع او عاجزي او انکساري يي امتيازي صفات دي خپل خان به يي ناچيز ګڼرلو په کوفه کې يي يو کور جوړ کړی وو او په هغي کې اوسيدو په رواياتو کې به يي دير احتياط کولو چي دمروياتو شمير يي ۳۰۵ دی ۲۲متفق عليه دي په احاديثو نقل کولو کې به يي داحتياط په مناسبت وئيل "ماکل الحديث سمعناه من رسول الله صلي الله عليه وسلم کان يحدثنا اصحابنا عنه کالت شغلنا عنه رعية الابل . مسند احمد".

يعني څومره احاديث چي زه بيانوم په هغي کې دا ضروري نه ده چي ټول مي دي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي مونږ خو به اوښان څرول نو په دي وجه به هر وخت درسول الله په خدمت کې حاضريدلی نشو.

****

٣٢٦٨_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ إِسْحَاقَ الْجَوْهَرِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو زَيْدٍ صَاحِبُ الْهَرَوِيِّ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ الشَّعْبِيَّ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي جَبِيرَةَ بْنِ الضَّحَّاكِ، قَالَ: كَانَ الرَّجُلُ مِنَّا يَكُونَ لَهُ الِاسْمَيْنِ وَالثَّلَاثَةُ فَيُدْعَى بِبَعْضِهَا، فَعَسَى أَنْ يَكْرَهَ. قَالَ: فَنَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةَ: وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ (الحجرات :١١ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. أَبُو

جَبِيرَةَ هُوَ أَخُو ثَابِتِ بْنِ الضَّحَّاكِ بْنِ خَلِيفَةَ أَنْصَارِيٌّ. وَأَبُو زَيْدٍ سَعِيدُ بْنُ الرَّبِيعِ صَاحِبُ الْهَرَوِيِّ بَصْرِيٌّ ثِقَةٌ.

حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ. حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ. عَنْ دَاوُدَ بْنِ أَبِي هِنْدٍ. عَنِ الشَّعْبِيِّ. عَنْ أَبِي جَبِيرَةَ بْنِ الضَّحَّاكِ. نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دابو جبيره ضحاك قول دي فرمائي چي په مونږ كي به ديو كس دوه دوه او دري دري نومونه وو چي په دي كي به په بعضي نوم باندي مونږ رابللي كيدلو او په بعضي نوم به مو رابلل بد ګڼړل تردي چي په دي باره كي دا ايت "ولا تنابزوا بالالقاب" نازل شو يعني په بدو نومونوچاته اواز مه وركوئ.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي او ابو جبيره د ثابت بن ضحاك بن خليفه انصاري ورور دي او ابوزيد سعيد بن الربيع صاحب الهيروي د بصري اوسيدونكي ثقه راوي دي.

تشريح :ولا تنابزوا بالالقاب: دي ايت كي د دري كارونونه منع راغلي ده:

اول: لايسخر قوم من قوم: په چا پوري خاندل منع دي علامه قرطبي وائي چي دچا دتحقير او توحين دپاره دهغه عيوب ذكركول چي خلق ورپوري اوخاندي ديته استهزاء ونيلي شي دا دژبي نه علاوه په لاس او خپو دهغه دنقل كولويا اشاري كولو سره هم كيدي شي دا تول حرام دي همدارنګي دچا په وړاندي دچا تذكره كول په داسي شان سره چي خلق ورپوري اوخاندي دا هم حرام دي.

ددير اهتمام په وجه سري داستهزاء كولو نه منع كړي شوي دي اګر چي ښځي هم په دي كي داخل دي خو ددي باوجود يي ښځي جدا بيان كړي او علت په دواړو كي دا بيان شوي دي چي په چا پوري توقي كيږي ممكن ده چي دا دالله په نظر كي بهتر وي.

ابن مسعود رضي الله عنه بيان دي كچري زه په كوم سپي پوري استهزاء اوكړم نو ماسره دا يره شته چي چرته زه سپي جوړ نشم.

دويم: ولاتلمزوا انفسكم ، يعني په چاكي عيب لتول يا طعن كول انفسكم يي اوفرمائيل مطلب دادي چي تاسو عيبونه مه لتوئ خكه چي دعيب نه هيڅوك خالي نه دي كچري تاسو په چا كي عيب پيدا كړئ نو هغه به په تاسو كي عيب لټول شروع كړي دويمه خبره داده چي خپل ورور ذليل كولو كي دخپل خان تذليل او تحقير مضمر دي.

[1] ـ سنن ابي داود/ الأدب ٧١ (٤٩٦٢) (تحفة الأشراف: ١١٨٨٢)

دريم: ولاتنابزوا بالالقاب: يعني چاته په بد لقب اواز مه ورکوئ داسي لقب په کوم چي هغه خفه کيږي اګر چي هغه عيب په هغه کي موجود ولي نه وي مثلا چاته داسي اواز کول اي ګوډا.
دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي دپورتني ايت مطلب دادي چي کوم کس دکومي ګناه ارتکاب اوکړي او بيا ورنه توبه اوباسي او بيا هغه دبد عمل په نوم ياد کړي شي مثلا اي غله اي زناکاره اي شرابي اګر چي ده دا کار کړي وو خو بيايي توبه ويستلي ده.

****

٣٢٦٩_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، عَنِ الْمُسْتَمِرِّ بْنِ الرَّيَّانِ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، قَالَ: قَرَأَ أَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ: وَاعْلَمُوا أَنَّ فِيكُمْ رَسُولَ اللَّهِ لَوْ يُطِيعُكُمْ فِي كَثِيرٍ مِنَ الأَمْرِ لَعَنِتُّمْ (الحجرات :٧، قَالَ: هَذَا نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوحَى إِلَيْهِ وَخِيَارُ أَئِمَّتِكُمْ لَوْ أَطَاعَهُمْ فِي كَثِيرٍ مِنَ الأَمْرِ لَعَنِتُوا فَكَيْفَ بِكُمُ الْيَوْمَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. قَالَ عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ: سَأَلْتُ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ الْقَطَّانَ، عَنِ الْمُسْتَمِرِّ بْنِ الرَّيَّانِ، فَقَالَ: ثِقَةٌ.[1]

ترجمه : دابو نضره بيان دي چي ابو سعيد خدري رضي الله عنه ايت کريمه " وَاعْلَمُوا أَنَّ فِيكُمْ رَسُولَ اللَّهِ لَوْ يُطِيعُكُمْ فِي كَثِيرٍ مِنَ الأَمْرِ لَعَنِتُّمْ " تلاوت کړو او ددي ايت په تشريح کي يي اووئيل دا ستاسو پيغمبر دي چي وحي ورباندي راځي او په هغه په ډيرو معاملاتو کي ستاسو په امت کي دمنتخبو کسانو اطاعت شروع کړي نو تاسو به په تکليف کي مبتلا شئ چنانچي مونږ ستاسو خبري چرته او څنګه منلي کيدي شو.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي علي بن مديني وائي ما ديحي بن سعيد القطان نه دمستمر بن ريان باره کي تپوس اوکړو نو هغه يي توثيق اوکړو.
او پوهه شي يقينا په تاسو کي رسول د الله تعالي شته دي که چري ستاسو تابع شي په ډيرو کارونو کي نو په تکليف کي به پريوځي

تشريح: په دي ايت کي د تحقيق طريقي او د فاسق خبر ته اشاره ده. او منافق ته تحذير دي چي د دروغو نه ځان اوساتي. يعني د فاسق خبر به رسول الله صلي الله عليه وسلم ته پيش کيږي د هغه په ژوند کښ. او دهغه سنت ته به پيش کيږي روستو د هغهٔ د وفات نه. نو په دي طريقه سره به د فاسق رشتيا او دروغ معلوميږي. او دا حکم عام دي. هره فيصله که د عالم وي يا د حاکم وي نو هغه به موافق کولي شي د سنت. فِيكُمْ رَسُولَ اللَّهِ. وصف ئي ذکر کړو. نوم (محمد صلي

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٢٨٣)

الله عليه وسلم) ئي ذكر نه كړو. اشاره ده چي د هغهٔ ذات خو حاضر ناظر نهٔ دي نهٔ په ژوند د هغه كي او نهٔ د وفات نه روستو. ليكن صفت د رسالت (چي قرآن كريم او سنت دي) هغه په تاسو كي باقي دي لوْ يطيعُكُمْ. اه. حاصل دا دي چي څوك دروغ خبري خوروي يا دروغ مسئلي او بدعات په خلقو كي خور وي. د هغه مطلب دا وي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم د زما تابع شي يعني صحيح حديث د خپل خواهش او خپلي راي تابع كوي لكه چي جامد مقلدين او مبتدعين دا كار كوي. نو دا به سبب د ډير تكليف او مشقت اوګرځي څكه چي په سنت د رسول الله صلي الله عليه وسلم كي هيڅ تنګسيا نيشته. او د سنت خلاف كارونو كي ډير نقصان دي.في كثير من الامر، كثير ئي د دي وجي نه اونيل. چي په بعض خلاف سنت كارونو كي اسانتيا وي ليكن هغه د شريعت د مصلحت نه خلاف وي. په حديث د صحيح بخاري كي دي چي د انس رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي. ثلاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ حَلاَوَةَ الاِيْمَانِ. اَنْ يَكُوْنَ اللهُ وَرَسُوْلُهُ اَحَبَّ اِلَيهِ مِمَّا سِوَاهُمَا وَاَنْ يحِبُّ الْمَرْءَ لاَ يحِبُّهُ اِلاَّ لِلهِ. وَاَنْ يكْرَهَ اَنْ يعُوْدَ فِي الْكُفْرِ كَمَا يكْرَهُ اَنْ يقْذَفَ فِي النار. دري خبري دي چي هغه په چا كي وي نو دي سړي د ايمان مزه اوموندله. دا چي الله تعالي او د هغهٔ رسول ورته د هر څه نه زيات محبوب وي. او د چا سره چي محبت كوي نو د الله تعالي دپاره كوي. او لكه څنګه چي اور ته غورځيدل نه خوخوي نو داسي كفر ته واپس كيدل نهٔ خوخوي.

****

٣٢٧٠ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ. أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ. حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دِينَارٍ. عَنِ ابْنِ عُمَرَ. أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ النَّاسَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ. فَقَالَ: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ. إِنَّ اللَّهَ قَدْ أَذْهَبَ عَنْكُمْ عُبِّيَّةَ الجَاهِلِيَّةِ وَتَعَاظُمَهَا بِآبَائِهَا. فَالنَّاسُ رَجُلاَنِ بَرٌّ تَقِيٌّ كَرِيمٌ عَلَى اللَّهِ. وَفَاجِرٌ شَقِيٌّ هَيِّنٌ عَلَى اللَّهِ. وَالنَّاسُ بَنُو آدَمَ. وَخَلَقَ اللَّهُ آدَمَ مِنْ تُرَابٍ. قَالَ اللَّهُ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ (الحجرات: ١٣". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ. عَنِ ابْنِ عُمَرَ إِلَّا مِنْ هَذَا الوَجْهِ. وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ يُضَعَّفُ. ضَعَّفَهُ يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ وَغَيْرُهُ. وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ هُوَ وَالِدُ عَلِيِّ بْنِ المَدِينِيِّ. قَالَ: وَفِي البَابِ. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ. [1]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي دفتح مكي په ورځ رسول الله

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٢٠١)

صلي الله عليه وسلم خلقو ته خطاب اوكړو او ويې فرمائيل اې خلقو الله تعالي ستاسو نه دجاهليت فخر او غرور او خانداني تكبر ختم كړي دي اوس به خلق صرف دوه قسمه وي. اول يو قسم خلق به دالله په نظر كې نيك او متقيان او كريم او شريف وي، او دويم قسم خلق به فاجران او بدبخت او دالله په نظر كې ذليل او كمزوري وي او خلق ټول د ادم اولاد دي او ادم لره الله تعالي دخاورې نه پيدا كړي دي الله تعالي فرمائيلي دي " يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ" اې خلقو يقينا مونږ تاسو پيدا كړي يئ د نارينه اوزنانه نه اوګرځولي مو يئ قبيلې او قومونه ددې دپاره چې ديويل پيژندګلي وكړي شئ ، يقينا عزت مند ستاسو كې په نزد دالله تعالي پرهيزګار ستاسو دي. يقينا الله تعالي په تاسو پوهيدونكي او خبردار دی.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي او مونږ دا حديث صرف په همدې سند پيژنو او ددې سند نه علاوه په كوم چې عبدالله بن دينار دابن عمر نه نقل كړي دي ددينه علاوه په كوم بل سند مونږ ته معلوم نه دي، او عبدالله بن جعفر دمحدثينو په نزد ضعيف ګڼلي شوي دي يحي بن معين وغيره دده تضعيف كړي دي او عبدالله بن جعفر دعلي بن مديني پلار دي، او په دې پلار كې دابوهريره او ابن عباس رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

تشريح : شان نزول:

كله چې دفتح مكې په موقعه رسول الله صلي الله عليه وسلم بلال رضي الله عنه ته داذان حكم اوكړو نو دمكې په قريشو كې يو كس اووئيل چې دالله شكر دي چې زما پلار خو مخكې وفات شوي دي او كه نه وې وفات شوي نو اوس به يې دا بده ورځ ليدلې وه

حارث بن هشام اووئيل چې ايا ده (محمد صلي الله عليه وسلم) ته ددې تور كارغه نه علاوه بل څوك نه ملاويدو چې په مسجد حرام كې يې اذان كړي وي؟

غرض دا چې جبريل عليه السلام رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ددې خبرو خبر وركړو رسول الله دوئ راوغوښتل او ددينه يې په دې باندې اقرار واخستو نو په دې وخت كې پورتنې ايت نازل شو چې دفخر او عزت څيز خو ايمان دي او تقوي ده او دا خو په بلال رضي الله عنه كې شته او په مشركينو كې نشته.

وجعلناكم شعوبا وقبائل : شعوب دشعب جمع ده يو داسې لوې جماعت ته وئيلې شي كوم چې په مختلفو قبائلو او كورنو مشتمل وي.

لتعارفوا يعني دا خاندانونه ددې دپاره نه وي چې په دې دې فخر اوكړې شي چې يو سړې اووائي چې زمونږ خاندان داسې داسې دې بلكه ددې مقصد دادې چې ددې په ذريعه پيژندګلي اوكړې شي چې پلار تره ماما وغيره څوك دي مطلب دادې چې نسبي تفاوت دي

دتعارف دپاره استعمال کري شي دفخر دپاره نه
ان اکرمکم عندالله اتقاکم: دابن عباس رضي الله عنهما بیان دي چي ددنیادارو په نزد عزت دمال او دولت نوم دي خو دالله تعالي په نزد عزت په تقوي کي دي
****

۳۲۷۱ـ حَدَّثَنَا الفَضْلُ بْنُ سَهْلٍ الأَعْرَجُ البَغْدَادِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ سَلَّامِ بْنِ أَبِي مُطِيعٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الحَسَبُ المَالُ وَالكَرَمُ التَّقْوَى". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ سَمُرَةَ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ سَلَّامِ بْنِ أَبِي مُطِيعٍ وَهُوَ ثِقَةٌ. (1)

ترجمه : دسمره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي حسب مال ته ونیلي شي او دکرم نه مراد تقوي ده.
امام ترمذي رحمه الله وایي: دا حدیث حسن صحیح غریب دي او مونږ یي صرف دسلام بن ابي مطیع په سند پیژنو او ابو مطیع ثقه راوي دی.

****

۵۰ـ بَاب وَمِنْ سُورَةِ ق
دسورت ق دبعضي ایتونو تفسیر

۳۲۷۲ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا شَيْبَانُ، عَنْ قَتَادَةَ، حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تَزَالُ جَهَنَّمُ تَقُولُ: هَلْ مِنْ مَزِيدٍ حَتَّى يَضَعَ فِيهَا رَبُّ العِزَّةِ قَدَمَهُ، فَتَقُولُ: قَطْ قَطْ وَعِزَّتِكَ، وَيُزْوَى بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ، وَفِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. (2)

ترجمه دانس بن مالك رضي الله عنه بیان دي نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي جهم به واني "هل من مزید" یعني که نور جهنمیان وي نورایي وری زما خیټي ته یي راوغورځوی، تردي پوري چه الله رب العزت به خپله خپه په دي کي کیږدي او جهنم به په دي

[1] ـ سنن ابن ماجه/الزهد ۲۴ (۴۲۱۹) (تحفة الأشراف: ۴۵۹۸)، وابن حبان (۱۰/۵)
[2] ـ صحیح البخاري/الأیمان والنذور ۱۲ (۶۶۶۱)، صحیح مسلم/الجنة ۱۳ (۲۸۴۸) (تحفة الأشراف: ۱۲۹۵) (صحیح)

وخت كي قط قط يعني بس بس الفاظ وائي. اوذا به وائي چه زما دي قسم وي چه ستا په عزت او شرف او لوي والي (او ددينه پس به دجهنم) يوه حصه په بله حصه كي كي ورننوځي)
امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي. او په دي باب كي دابوهريره رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي

****

٥١_ باب وَمِنْ سُورَةِ الذَّارِيَاتِ

د سورت ذاريات د بعضي ايتونو تفسير

٣٢٧٢_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ. عَنْ سَلَّامٍ. عَنْ عَاصِمِ بْنِ أَبِي النَّجُودِ. عَنْ أَبِي وَائِلٍ. عَنْ رَجُلٍ مِنْ رَبِيعَةَ. قَالَ: قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ. فَدَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَذَكَرْتُ عِنْدَهُ وَافِدَ عَادٍ. فَقُلْتُ: أَعُوذُ بِاللهِ أَنْ أَكُونَ مِثْلَ وَافِدِ عَادٍ. قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَمَا وَافِدُ عَادٍ؟" قَالَ: فَقُلْتُ: عَلَى الْخَبِيرِ سَقَطْتَ. إِنَّ عَادًا لَمَّا أُقْحِطَتْ بَعَثَتْ قَيْلًا فَنَزَلَ عَلَى بَكْرِ بْنِ مُعَاوِيَةَ فَسَقَاهُ الْخَمْرَ وَغَنَّتْهُ الْجَرَادَتَانِ. ثُمَّ خَرَجَ يُرِيدُ جِبَالَ مَهْرَةَ. فَقَالَ: اللَّهُمَّ إِنِّي لَمْ آتِكَ لِمَرِيضٍ فَأُدَاوِيَهُ. وَلَا لِأَسِيرٍ فَأُفَادِيَهُ فَاسْقِ عَبْدَكَ مَا كُنْتَ مُسْقِيَهُ وَاسْقِ مَعَهُ بَكْرَ بْنَ مُعَاوِيَةَ يَشْكُرُ لَهُ الْخَمْرَ الَّتِي سَقَاهُ. فَرُفِعَ لَهُ سَحَابَاتٌ. فَقِيلَ لَهُ: اخْتَرْ إِحْدَاهُنَّ. فَاخْتَارَ السَّوْدَاءَ مِنْهُنَّ. فَقِيلَ لَهُ: خُذْهَا رَمَادًا رِمْدِدًا لَا تَذَرُ مِنْ عَادٍ أَحَدًا. وَذُكِرَ أَنَّهُ لَمْ يُرْسَلْ عَلَيْهِمْ مِنَ الرِّيحِ إِلَّا قَدْرُ هَذِهِ الْحَلْقَةِ يَعْنِي حَلْقَةَ الْخَاتَمِ. ثُمَّ قَرَأَ: إِذْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الرِّيحَ الْعَقِيمَ مَا تَذَرُ مِنْ شَيْءٍ أَتَتْ عَلَيْهِ إِلَّا جَعَلَتْهُ كَالرَّمِيمِ (الذاريات: ٤١_٤٢) الْآيَةَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ سَلَّامٍ أَبِي الْمُنْذِرِ. عَنْ عَاصِمِ بْنِ أَبِي النَّجُودِ. عَنْ أَبِي وَائِلٍ. عَنِ الْحَارِثِ بْنِ حَسَّانَ. وَيُقَالُ لَهُ: الْحَارِثُ بْنُ يَزِيدَ. [1]

ترجمه : ابو وائل دربيعه قبيلي ديو كس نه روايت نقل كوي چه فرمائيل يي چه مديني ته راغلم او دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضرشوم او دهغوي په وړاندي مي د عاديانو دقاصد (قيل بن عنز) ذكر اوكړو او په زړه كي مي خان ته اووئيل په خبردار باندي پيښ شوي. او زه په الله پناه غواړم ددينه چه زه هم دده پشان شم. نبي كريم صلي الله عليه

[1] ـ سنن ابن ماجه/الجهاد ٢٠ (٢٨١٦) (تحفة الأشراف : ٣٢٧٧) (حسن)

وسلم تپوس اوکړو دعادیانو دقاصد واقعه څه د؟ ایا تاته معلومه ده؟ (ماته خو دا واقعه ډیره ښه معلومه ده (او هغه داده) کله چه عادیان په قحط سالئ کي مبتلا شول نو هغوئ دقیل په نوم یو کس اولیږلو او هغه دبکر بن وائل سره میلمه شو بکر ورته شراب پیش کړل او دجراد په نوم دوه ډمو ورته سندري اوونیل او بیا جبال مهره ته دتلو په اراده روان شو او دا دعا یي اوغوښتله اي الله زه تاته ددي دپاره نه یم راغلي چه دکوم بیمار دعلاج سوال درنه اوکړم او نه ددي دپاره راغلي یم چه دکوم قیدي فدیه اداء کړم اوپه تاسو یي ازاد کړم یعني ددي دعا کولو دپاره نه یم راغلي پس ته پخپل بنده باندي اوڅکوي دڅه چه ته په ده باندي څکونکي یي او دده سره یي په بکر بن وائل باندي هم اوڅکوي او هغه دمعاویه دهغه شرابو شکریه اداء کړه کوم چه یي ورباندي څکولي وو یعني زه دباران دپاره ددعا غوښتلو په نیت راغلي یم پس ته مونږ لره سیران کړي او زمونږ سره معاویه هم سیراب کړي او هغه یي په دعا کي خکه شامل کړو چه په شرابو یي ددوئ اکرام کړي وو او په دعا کي یي دشاملولو په وجه یي دهغه دمیزبانئ شکریه اداء کړه پس راپورته کړي شوه ددوئ دپاره وریځي، نو ده ته اوونیلي شول په دي وریځو کي یوه خوښه کړه نو هغه په وریځو کي یوه وریځ خوښه کړه بیا ورته اوونیلي شول "خذها رمادا لاتذرمن عاد احدا" یعني وریځي واخله چه داور پشان دي په داسي حال کي چه په عادیانو کي هیچاله پریخودونکي نه دي، نبي کریم صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل نه ده پریخودلي شوي په دوئ باندي هوا مګر ددي حلقي په مقدار یعني دګوتمي دحلقي په مقدار او بیا یي دا ایت کریمه "اذارسلنا علیهم" الایه، تلاوت کړو.

امام ترمذي وائي: داحدیث یو څو راویانو دسلام بن ابو منذر نه او هغه دعاصم بن ابي النجود نه او هغه دابووائل نه او هغه عن رجل من ربیعه په خاي باندي دحارث بن حسان نه نقل کړي دي (او دا روایت روسته راروان دي)، حارث بن حسان ته حارث بن یزید هم وئیلي شي.

****

٣٢٧٤ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، حَدَّثَنَا سَلَّامُ بْنُ سُلَيْمَانَ النَّحْوِيُّ أَبُو الْمُنْذِرِ، حَدَّثَنَا عَاصِمُ بْنُ أَبِي النَّجُودِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنِ الْحَارِثِ بْنِ يَزِيدَ الْبَكْرِيِّ، قَالَ: "قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ فَدَخَلْتُ الْمَسْجِدَ، فَإِذَا هُوَ غَاصٌّ بِالنَّاسِ، وَإِذَا رَايَاتٌ سُودٌ تَخْفُقُ، وَإِذَا بِلَالٌ مُتَقَلِّدٌ السَّيْفَ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قُلْتُ: مَا شَأْنُ النَّاسِ؟ قَالُوا: يُرِيدُ أَنْ يَبْعَثَ

عَمْرَو بْنَ الْعَاصِ وَجْهًا" . فَذَكَرَ الْحَدِيثَ بِطُولِهِ نَحْوًا مِنْ حَدِيثِ سُفْيَانَ بْنِ عُيَيْنَةَ بِمَعْنَاهُ. قَالَ: وَيُقَالُ لَهُ الْحَارِثُ بْنُ حَسَّانَ أَيْضًا. (1)

ترجمه: دحارث بن يزيد البكري نه روايت دي فرمائي چه مديني ته راغلم او مسجد ته داخل شوم نو اومي ليدل چه مسجد دخلقونه ډک دي او توري جهنډي په هوا کي الوتلي او بلال رضي الله عنه درسول الله په وړاندي په داسي حال کي ولاړ وو چه توره يي غاړي ته اچولي وه، ما تپوس اوکړو څه معامله ده؟ خلقو راته اووئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم غواړي چه عمرو بن العاص رضي الله عنه لره دفوجي درستي سره کوم طرف ته اوليږي او بيا يي يو اوږد حديث دسفيان بن عيينه دحديث پشان دهغي هم معني بيان کړو او حارث بن يزيد ته حارث بن حسان هم وئيلي شي.

****

٥٢ـ باب وَمِنْ سُورَةِ الطُّورِ
د سورت طور د بعضي ايتونو تفسير

٣٢٧٥ـ حَدَّثَنَا أَبُو هِشَامٍ الرِّفَاعِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ رِشْدِينَ بْنِ كُرَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " إِدْبَارُ النُّجُومِ الرَّكْعَتَانِ قَبْلَ الْفَجْرِ، وَإِدْبَارُ السُّجُودِ الرَّكْعَتَانِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ فُضَيْلٍ، عَنْ رِشْدِينَ بْنِ كُرَيْبٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَسَأَلْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ مُحَمَّدٍ وَرِشْدِينَ بْنِ كُرَيْبٍ، أَيُّهُمَا أَوْثَقُ؟ قَالَ: مَا أَقْرَبَهُمَا، وَمُحَمَّدٌ عِنْدِي أَرْجَحُ. قَالَ: وَسَأَلْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ هَذَا فَقَالَ: مَا أَقْرَبَهُمَا عِنْدِي وَرِشْدِينُ بْنُ كُرَيْبٍ أَرْجَحُهُمَا عِنْدِي. قَالَ: وَالْقَوْلُ عِنْدِي مَا قَالَ أَبُو مُحَمَّدٍ، وَرِشْدِينُ أَرْجَحُ مِنْ مُحَمَّدٍ، وَأَقْدَمُ وَقَدْ أَدْرَكَ رِشْدِينُ ابْنَ عَبَّاسٍ وَرَآهُ. (2)

ترجمه دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل "ادبار النجوم" (يعني دستورو نه شاته) نه مراد دسحر دمونځ نه مخکي دوه

---

[1] ـ تفرد به المؤلف رحمه الله.

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٣٢٨) (ضعيف)

ركعاته سنت كول دي او د "ادبارالنجوم" نه مراد دمابنام دمونځ نه پس دوه ركعاتونه كول دي

امام ترمذي واني داحديث غريب دي مونږ ته دا حديث صرف دمحمد بن فضيل په روايت مرفوع معلوم دي چه درشدين بن كريب نه يي نقل كوي. ما دامام بخاري نه دمحمد بن فضيل او رشيدن بن كريب باره كي تپوس اوكړو چه په دوئ كي كوم يو كس زيات ثقه دي هغه راته اوونيل دواړه يوشان دي ليكن محمد بن فضيل زما په نزد زيات راجح دي. ما دعبدالله بن عبدالرحمن دارمي نه هم په دي باره كي تپوس اوكړو راته يي اوونيل په دواړو كي ډير ښانسته يو شان والي دي ليكن رشدين بن كريب زماپه نزد راجح دي امام ترمذي واني زما په نزد دابو محمد يعني دارمي خبره راجح ده او هغه دادد چه رشدين بن محمد دفضيل نه راجح ده او دهغه نه مشر هم دي رشدين دابن عباس زمانه موندلي ده او ابن عباس يي ليدلي هم دي.

****

٥٣ـ باب وَمِنْ سُورَةِ وَالنَّجْمِ

د سورت نجم د بعضي ايتونو تفسير

٣٢٧٦ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ. عَنْ مَالِكِ بْنِ مِغْوَلٍ. عَنْ طَلْحَةَ بْنِ مُصَرِّفٍ. عَنْ مُرَّةَ. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ. قَالَ: لَمَّا بَلَغَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِدْرَةَ الْمُنْتَهَى. قَالَ: "انْتَهَى إِلَيْهَا مَا يَعْرُجُ مِنَ الأَرْضِ. وَمَا يَنْزِلُ مِنْ فَوْقَ". قَالَ: فَأَعْطَاهُ اللَّهُ عِنْدَهَا ثَلاَثًا لَمْ يُعْطِهِنَّ نَبِيًّا كَانَ قَبْلَهُ. فُرِضَتْ عَلَيْهِ الصَّلاَةُ خَمْسًا. وَأُعْطِيَ خَوَاتِيمَ سُورَةِ الْبَقَرَةِ. وَغُفِرَ لِأُمَّتِهِ الْمُقْحِمَاتُ مَا لَمْ يُشْرِكُوا بِاللَّهِ شَيْئًا. قَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ: إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَى (النجم : ١٦). قَالَ: السِّدْرَةُ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ. قَالَ سُفْيَانُ: فَرَاشٌ مِنْ ذَهَبٍ. وَأَشَارَ سُفْيَانُ بِيَدِهِ فَأَرْعَدَهَا. وَقَالَ غَيْرُ مَالِكِ بْنِ مِغْوَلٍ: إِلَيْهَا يَنْتَهِي عِلْمُ الْخَلْقِ لاَ عِلْمَ لَهُمْ بِمَا فَوْقَ ذَلِكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.(1)

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرماني چه كله رسول الله صلي الله عليه وسلم دمعراج په شپه سدرة المنتهي مقام ته ورسيدو نو ونيل يي دا هغه اخري خاي دي چرته چه دزمكي نه څيزونه پورته خيژي او دا دلوړوالي هغه اخري حد دي دكوم نه چه څيزونه لاندي

---

1 ـ تفرد به المؤلف

راكوزيږي او هم دلته الله تعالي رسول الله ته هغه دري څيزونه ورکړل کوم چه يي دهغه نه علاوه بل کوم نبي ته نه وو ورکړي، اول پنځه مونځونه وربانديي فرض شول. دويم د سورة بقره خواتين يعني اخري ايتونه ورته ورکړي شول. دريم او په امت محمدي کي چه کومو کسانو دالله سره شرك نه دي کړي دهغوئ هلاکونکي گناهونه اوبخښلي شول. او بيا ابن مسعود رضي الله عنه دا ايت کريمه "اذيغشي السدرة مايغشي" تلاوت کړو. "السدرة" يعني دبيري ونه او دايه شپږم اسمان کي ده. سفيان راوي وائي دا دسرو زرو بستره ده او دي وخت کي سفيان پخپلو لاسونو اشاره اوکړله چه لاسونه يي رسيدل او دمالك بن مغول نه علاوه راويان وائي دسدرة المنتهي نه پورته دمخلوقاتو علم رسائي نشي کولي.
امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٢٧٧_ أَخْبَرَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ الْعَوَّامِ، حَدَّثَنَا الشَّيْبَانِيُّ، قَالَ: سَأَلْتُ زِرَّ بْنَ حُبَيْشٍ، عَنْ قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ: فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى (النجم : ٩) فَقَالَ: أَخْبَرَنِي ابْنُ مَسْعُودٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "رَأَى جِبْرِيلَ وَلَهُ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه شيباني وائي ما دزر بن حبيش نه دايت کريمه "فکان قاب قوسين او ادني" دتفسير باره کي تپوس اوکړو نو هغوئ راته اووئيل ماته ابن مسعود رضي الله عنه خبر راکړي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم جبرائيل په داسي حال کي اوليدلو چه شپږ سوه وزري يي وي.
امام ترمذي وائي داحديث حسن غريب صحيح دي.

****

٣٢٧٨_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مُجَالِدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، قَالَ: لَقِيَ ابْنُ عَبَّاسٍ كَعْبًا بِعَرَفَةَ، فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ، فَكَبَّرَ حَتَّى جَاوَبَتْهُ الْجِبَالُ، فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: إِنَّا بَنُو هَاشِمٍ، فَقَالَ كَعْبٌ إِنَّ اللَّهَ قَسَمَ رُؤْيَتَهُ وَكَلَامَهُ بَيْنَ مُحَمَّدٍ، وَمُوسَى، فَكَلَّمَ مُوسَى مَرَّتَيْنِ، وَرَآهُ مُحَمَّدٌ مَرَّتَيْنِ قَالَ مَسْرُوقٌ: فَدَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ، فَقُلْتُ: هَلْ رَأَى مُحَمَّدٌ رَبَّهُ؟ فَقَالَتْ: لَقَدْ تَكَلَّمْتَ بِشَيْءٍ قَفَّ لَهُ شَعْرِي، قُلْتُ: رُوَيْدًا ثُمَّ قَرَأْتُ: "لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى سورة النجم آية ١٨. فَقَالَتْ: أَيْنَ يُذْهَبُ بِكَ إِنَّمَا هُوَ جِبْرِيلُ، مَنْ أَخْبَرَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا رَأَى رَبَّهُ، أَوْ كَتَمَ شَيْئًا مِمَّا أُمِرَ بِهِ، أَوْ يَعْلَمُ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف

الْخَمْسَ الَّتِي قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ سورة لقمان آية ٣٤ فَقَدْ أَعْظَمَ الْفِرْيَةَ. وَلَكِنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ. لَمْ يَرَهُ فِي صُورَتِهِ إِلَّا مَرَّتَيْنِ: مَرَّةً عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى. وَمَرَّةً فِي جِيَادٍ لَهُ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ قَدْ سَدَّ الْأُفُقَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رَوَى دَاوُدُ بْنُ أَبِي هِنْدٍ. عَنِ الشَّعْبِيِّ. عَنْ مَسْرُوقٍ. عَنْ عَائِشَةَ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا الْحَدِيثِ. وَحَدِيثُ دَاوُدَ أَقْصَرُ مِنْ حَدِيثِ مُجَالِدٍ. [1]

ترجمه دشعبي بيان دي چه ابن عباس رضي الله عنه دكعب الاحبار رضي الله عنه سره په عرفات كي ملاقات اوكړو او دكعب نه يي دكوم څيز باره كي تپوس اوكړو نو هغه تكبيرات اولوستل چه اواز يي په غرونو كي اوكړنگيدوابن عباس اوونيل مونږ دبنو هاشم سره تعلق لرو كعب اوونيل الله تعالي خپل رؤيت او ديدار او خپل كلام لره په محمد او موسي عليهما السلام باندي تقسيم كړي دي. الله تعالي دموسي عليه السلام سره دوه ځلي خبري كړي دي او محمد صلي الله عليه وسلم الله تعالي لره دوه ځلي ليدلي دي. مسروق وائي زه ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها ته ورغلم او تپوس مي ورنه اوكړو ايا محمد صلي الله عليه وسلم خپل رب ليدلي دي؟ ام المؤمنين اوونيل تاخو ديوي داسي خبري باره كي تپوس اوكړو دكومي په اوريدو چه زما ويخته نيغ اودريدل ما ورته اوونيل صبر اوكړئ چه جلتي اونكړئ ،پوره خبره مي واورئ، او ما بيا ايت كريمه **"لقد راي من ايات ربه الكبري"** تلاوت كړو ام المؤمنين اوفرمائيل ته چرته بوتللي شوي يي؟ ،يعني ښكه دهوكه شوي يي، دا ليدونكي خو جبرائيل وو او څوك كه تاته دا خبر دركړي چه محمد صلي الله عليه وسلم خپل رب ليدلي دي او ياچه ورته دكومو خبرو حكم شوي دي په هغي كي يي څه پټ كړي دي او يا محمد صلي الله عليه وسلم په هغه پنځه څيزونو پوهيږي دكومو باره كي چه الله تعالي فرمائيلي دي **"ان الله عنده علم الساعة وينزل الغيث" الخ**. يعني صرف دالله تعالي سره علم دقيامت دي او صرف الله تعالي په دي خبرداردي چه باران به كله كيږي او په كوم خاي به كيږي ،لقمان ۳۴، نو هغه دير لوي دروغ اوونيل. ليكن حقيقت دادي چه محمد صلي الله عليه وسلم جبرائيل عليه السلام لره ليدلي دي او جبرائيل يي پخپل شكل كي صرف دوه ځلي ليدلي دي ،يو خل دسدرة المنتهي مقام سره او يو خل په جياد كي ،جياد په مكه كي ديوي ژوري علاقي نوم دي، او دغه وخت كي دجبرائيل عليه السلام شپږ سوه لاسونه وو او ټول افق يي پخپلو وزرو پټ كړي وو.

[1] ـ تفرد به المؤلف

امام ترمذي وائي داحديث داود بن ابي هند دشعبي نه اوشعبي دمسروق نه او مسروق دعائشه رضي الله عنها په واسطه بد نبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني روايت نقل كري دي او د داود حديث د مجالد دحديث نه مختصر دي (ليكن هم هغه زيات صحيح دي)

****

٣٢٧٩ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ نَبْهَانَ بْنِ صَفْوَانَ الْبَصْرِيُّ الثَّقَفِيُّ. حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ كَثِيرٍ الْعَنْبَرِيُّ أَبُو غَسَّانَ. حَدَّثَنَا سَلْمُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنِ الْحَكَمِ بْنِ أَبَانَ. عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: رَأَى مُحَمَّدٌ رَبَّهُ. قُلْتُ: أَلَيْسَ اللَّهُ يَقُولُ: لاَ تُدْرِكُهُ الأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الأَبْصَارَ (الأنعام: ١٠٣ قَالَ: وَيْحَكَ ذَاكَ إِذَا تَجَلَّى بِنُورِهِ الَّذِي هُوَ نُورُهُ، وَقَالَ: أُرِيَهُ وَقَدْ رَأَى مُحَمَّدٌ رَبَّهُ مَرَّتَيْنِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه دعكرمه بيان دي چي ابن عباس رضي الله عنه اووئيل چي محمد صلي الله عليه وسلم خپل رب ليدلي دي عكرمه وائي ما اووئيل ايا الله تعالي دانه دي فرمائيلي " لاتُدْرِكُهُ الأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الأَبْصَارَ " ايه هغه باندي نظرونه احاطه نه شي كولي اوهغه دتمامو نظرونو احاطه كونكي دي يعني علم يي محيط دي. ابن عباس اووئيل تباه شي داهغه وخت دي كله چي الله تعالي دخپل نور سره تجلي اوكري مگر محمد صلي الله عليه وسلم خپل رب لره دوه پيري ليدلي دي

امام ترمذي رحمه الله وايي په دي سند داحديث حسن غريب دي.

تشريح :... ابن ابي حاتم وغيره په ضعيف سند سره دابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت بيان كري دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كچري جن او بشر او شياطين اوملائك ټول دژوند دشروع نه داخري لمحي پوري په يو قطار كي په كيدوسره دالله تعالي معاينه كول غواړي نوهيڅ كله به په الله احاطه اونكري شي . معتزليانو ددي ايت نه استدلال كري دي چي دالله تعالي ديدار محال دي. ليكن اهل سنت ددي قائل دي چي په دنيا كي خو دالله ديدار نه شي كيدي ليكن په جنت كي به مومنانوته نصيب كيږي . ددي ايت نه دمعتزليانو استدلال كول غلط دي (١) لاتدرك دمضارع صيغه ده او دمضارع اصل وضع دحال دپاره وي داستقبال دپاره مجازا استعماليږي. يا دحال اوداستقبال دواړو دپاره په طور داشترك مضارع وضع شوي ده اوپه دي ايت كي في الحال نفي درؤيت خو بالاجماع مراد ده ،

1 ـ (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ٦٠٢٠)

په دنيا کي څوك دالله ددیدار دجواز څوك قائل نه دي ، پداسي حالت کي په استقبال کي نفي دروئيت مراد کول غلط دي که ورنه داولني صورت په اعتبار به په يو وخت کي دحقيقت او مجاز مراد کول لازم شي اوددويم صورت په اعتبار به عموم مشترك منل جائز شي (يعني په يو وخت کي به ديو مشترك لفظ دوه معني مراد کول ضروري شي او دا درست نه وي ديته عموم مشترك وئيلي شي

(۲) الابصار دجمعي صيغه ده نوپه دي وجه جنس بصر خو مراد کيدي نه شي بلکه مجموعه دافرادو به مراد وي، نو اوس کچري الف لام عهدي اوګرځولي شي نو هغه ابصار به مراد وي کوم چي په دنيا کي موجود دي (اومعني به دا وي چي په دنيا کي تمام نظرونه الله تعالي لره ليدلي نه شي) پس ددينه دا کله معلوميږي چي په جنت کي يي دمومنانو سترګي هم نشي ليدلي ، اوکه الف لام استغراقي اومنلي شي نو په ايت کي داستغراق نفي شوي ده (يعني دټولو سترګي يي نشي ليدلي) اونفي دروئيت داستغراق نه ده (يعني دا مطلب نه دي چي کومه سترګه يي ليدلي نه شي تردي چي بيا يي په جنت کي کوم مومن هم اونه ليدلي شي

ابو نعيم په الحليه کي دابن عباس رضي الله عنهما روايت نقل کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ايت کريمه (رب ارني انظر اليك) تلاوت کړو او بيا يي اوفرمائيل الله تعالي فرمائيلي دي اي موسي ماله څوك ژوندي نه شي ليدلي مګر مړ به شي اونه مي کوم مړ ليدلي شي نه مي کوم لوند ليدلي شي مګر جدا جدا به شي يقيا ماله به جنتيان ويني چي دهغوئ سترګي نه مړي کيږي اونه يي اجسام زړيږي

(۳) په ايت کي نفي دادراك صراحت دي دنفي دروئيت ذکر نشته اوپه ادراك او روئيت کي فرق دي د روئيت معني ليدل او دادراك معني دکوم څيز حقيقت معلومول او هغه لره دهر طرف نه راګيرول يا په کامل طور سره کوم څيز ته وررسيدل ادراك وي ، اوپه ادراك او روئيت کي تلازوم نشته اوګورئ الله تعالي فرمائيلي دي فَلَمَّا تَرَاءَى الْجَمْعَانِ قَالَ أَصْحَابُ مُوسَى إِنَّا لَمُدْرَكُونَ. کله چي دواړو ډلو يو بل لره اوليدل نو موسي عليه السلام خپلو ملګرو ته اوونيل اوس به يقينا مونږ راګيريږو او اوبه نيولي شو موسي عليه السلام اوونيل هرګز داسي نه ده دوئ تاسو نه شي رانيولي ، په دي ايت کي دطرفينو نه دروئيت ثبوت دي مګر دادراك قوي نفي شوي ده

(۴) اوکچري روئيت او ادراك هم معني تسليم کړي شي نو په ايت کي د رؤيت دنفي صراحت دي (چي کومه سترګه يي نه شي ليدلي) دروئيت د محال کيدو صراحت نشته (يعني دا مطلب نه دي چي هيڅ سترګه يي بالکل نشي ليدلي)

****

٣٢٨٠_حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الأُمَوِيُّ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، فِي قَوْلِ اللهِ " فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى ، فَأَوْحَى إِلَى عَبْدِهِ مَا أَوْحَى ، وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى ، عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى (النجم :١٤١٣) قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: قَدْ رَآهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (١)

ترجمه : ابوسلمه دابن عباس رضي الله عنهما روايت نقل كړي دي چي الله تعالي ددي قول "فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى فَأَوْحَى إِلَى عَبْدِهِ مَا أَوْحَى وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى " نو شو په اندازه دپاتو دَ دوو ليندو بلكه زيات نزدي نو وحي ني اوكړه بنده دَ الله تعالي ته هغه چي وحي ني اوكړه. دروغ نه دي وئيلي زړه په هغه څه چي ليدلي ني دي. او يقينا دهٔ ليدلي وو هغه په بل خل. دَ سدرة المنتهي په خوا كښ ابن عباس دى باره كي اوونيل محمد صلي الله عليه وسلم خپل رب ليدلي دي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن دي.

تشريح: **تَدَلّي**. په اصل كي دَ بره طرف نه لاندي طرف ته آويزان كيدلو ته وائي: **قَابَ** اندازه مقدار دَ ليندي دَ نيولو دَ خاي نه تر سره پوري يعني دَ ليندي نيم اوږد والي نو په يو كمان كي دود قَابَ شول. **اَدْنٰي** دَ دَني نه دَ اسم تفضيل صيغه ده يعني جبرئيل عليه السلام نزدي شو. راكوز شو دَ افق نه.

اوحٰي. اِلٰي عَبْدِهٖ. كي ,, ه،، ضمير الله تعالي ته راجع دي برابره خبره ده كه اوحي ضمير الله تعالي ته راجع وي او كه جبرئيل عليه السلام ته. په اوله توجيه باندي مراد دَ وحي نه ابتداء دَ سورة مدثر ده او په دويمه توجيه باندي مراد د وحي نه ابتداء دَ سورة مدثر ده او په دويمه توجيه باندي وحي مبهم ده. رسول الله صلي الله عليه وسلم فرماني يعني زه يو خل روان وم چي ما د آسمان دَ طرف نه يو اواز واوريدلو چي بره مي أوكتل نو اوم ليدل چي هغه ملك چي په غار حراء كي ماته راغلي وو. دَ زمكي او آسمان په مينځ كي په يوه كرسئ باندي معلق دي او ناست دي زه وويريدم او كور ته راغلم نو ما اونيل چي په ما كپړه واچوئ په ما كپړه واچوئ نو الله تعالي په ما باندي دا آيتونه نازل كړل. **يَا اَيُّهَا المدثر**.

مَا كَذَبَ الفُؤادُ، په ديكي دَ رسول الله صلي الله عليه وسلم صداقت په ليدلو سره ذكر كوي **مَا كَذَبَ الفُؤادُ**. يعني زړه دَ ستركو سره په ليدلو كي موافقت كړيدي نو ليدل يقيني دي.

---

١ ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٥٦٢)

افتمارونه علي ما يري، ایا تاسو جګړه کوي دَ دهٔ سره په هغه څه کي چي دهٔ لیدلي دي په افتمارونه کي خطاب مشرکانو ته دي. چي دَ جبرئیل علیه السلام په لیدلو کي دَ نبي کریم صلي الله علیه وسلم سره جګړه مهٔ کوي. چي څه ئي لیدي دي نو هغه حق دي. او که مراد دَ لیدلو نه لیدل دَ الله تعالي وي نو دَ عبدالله بن عباس رضي الله عنه دَ قول مطابق دا لیدل په زړه سره دي

رَاٰهُ بِفُؤَادِهٖ مَرَّتَيۡنِ. او دا روایت امام مسلم دَ ابو العالیه په روایت سره د ابن عباس رضي الله عنه نه نقل کړیدي او کومو محدثینو یا مفسرینو چي په سترګو سره دَ لیدلو روایات ذکر کړیدي نو هغه په صحیح سند سره ثابت نهٔ دي. او قرطبي په تفسیر کي دا قول هم نقل کړیدي چي مراد دَ دي نه هغه ټول اسماني حالات دي او بیت المقدس دي. چي رسول الله صلي الله علیه وسلم په معراج کي لیدي وُو. او په هغي کي مشرکانو شک او جګړه کوله.

وَلَقَدۡ رَاٰهُ نَزۡلَةً اُخۡرٰى . عِنۡدَ سِدۡرَةِ الۡمُنۡتَهٰى په دي کي هم دوه قولونه دي. اول دا چي ضمیر راجع دي جبرئیل علیه السلام ته او بل دا چي ضمیر راجع دي الله تعالي ته. او نزلةً په معني دَ مرة دي لیکن تعبیر ئي په نزلةً سره کړیدي. یعني رسول الله صلي الله علیه وسلم جبرئیل علیه السلام بل خل هم دَ سدرة المنتهي په خوا کي لیدلي وُو. او په دي کي آسماني معراج ته اشاره ده. څکه چي دَ سدرة المنتهي سره لیدل د معراج پوري خاص دي او څوک چي واني چي اسماني معراج نهٔ دي ثابت نو هغه جاهلان دي. نزلةً مصدر دي یو خل راکوخیدلو ته واني د سدرة المنتهي په باره په حدیث دَ صحیح مسلم کي حضرت انس رضي الله عنه فرمائي. فَلَمَّا غَشِيَهَا مِنۡ اَمۡرِ اللهِ مَاغَشِيَ تَغَيَّرَتۡ فَمَا اَحَدٌ مِنۡ خَلۡقِ اللهِ يَسۡتَطِيۡعُ اَنۡ يَنۡعَتَهَا مِنۡ حُسۡنِهَا فَاَوۡحٰى اِلَيَّ مَا اَوۡحٰى (صحیح مسلم کتاب الایمان باب الاسراء، یعني چي دَ الله تعالي په حکم دا اُونه پټه شوه نو دَ هغي حال داسي بدل شو چي په مخلوق کي هیڅوک دَ هغي دَ خائست تعریف نشي کولي بیا چي الله تعالي ماته څه وحي کوله هغه ئي اوکړه او په حدیث دَ معراج کي راغلي دي چي خه سدرة المنتهي ته بوتللي شوم دَ هغي پاڼي دَ هاتیانو دَ غوږونو په شان وي. او دَ هغي بیري دَ هجر مقام دَ منګو او چاټو په شان وي.

****

٣٢٨١_حَدَّثَنَا عَبۡدُ بۡنُ حُمَيۡدٍ. حَدَّثَنَا عَبۡدُ الرَّزَّاقِ. وَابۡنُ أَبِي رِزۡمَةَ. وأبو نعيم. عَنۡ إِسۡرَائِيلَ. عَنۡ سِمَاكٍ، عَنۡ عِكۡرِمَةَ. عَنِ ابۡنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: " مَا كَذَبَ الۡفُؤَادُ مَا رَأَى (النجم :١١. قَالَ: رَآهُ

بِقَلْبِهِ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (١)

ترجمه دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي چي دايت كريمه "ماكذب الفؤاد ماراي" باره كي ېې ونيل چي په دي ايت كي قلبي رؤيت مراد دي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن دي.

****

٣٢٨٢_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، وَيَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ التُّسْتَرِيِّ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ، قَالَ: قُلْتُ لِأَبِي ذَرٍّ: لَوْ أَدْرَكْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَسَأَلْتُهُ، فَقَالَ: عَمَّا كُنْتَ تَسْأَلُهُ؟ قُلْتُ: كُنْتُ أَسْأَلُهُ، هَلْ رَأَى مُحَمَّدٌ رَبَّهُ؟ فَقَالَ: قَدْ سَأَلْتُهُ، فَقَالَ: "نُورٌ أَنَّى أَرَاهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (٢)

ترجمه: دعبدالله بن شقيق بيان دي واني چي ابوذر رضي الله عنه ته مي اوونيل كچري ما نبي كريم صلي الله عليه وسلم ليدلي وي ما به ورنه ضرور تپوس كړي وو ابوذر اوونيل دځه باره كي به دي تپوس كړي وو ما ورته اوونيل چي ايا محمد صلي الله عليه وسلم خپل رب ليدلي دي؟ ابوذر اوونيل يقينا چي دا سوال ورنه ما كړي وو نوراته يې اوفرمائيل "نُورٌ أَنَّى أَرَاهُ".

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن دي

د شقيق بن ابي عبدالله حالات

شقيق د ال حضرمي مولا دی دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت نقل كوي او دده په شاگردانو كي يحيي بن قطان او وكيع وغيره قابل ذكر دي اكثر محدثينو دده توثيق كړی دی تردي پوري چي علامه نووي دده په عظمت دعلماؤ اتفاق نقل كړی دی.

****

٣٢٨٣_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، وَابْنُ أَبِي رِزْمَةَ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ: مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى (النجم: ١١)، قَالَ: "رَأَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جِبْرِيلَ فِي حُلَّةٍ مِنْ رَفْرَفٍ قَدْ مَلَأَ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ".

١ ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦١٢١)

٢ ـ صحيح مسلم الإيمان ٧٨ (١٧٨) (تحفة الأشراف: ١١٩٣٨)

قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي چي ددي ايت كريمه " مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى " مطلب دادي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم جبرائيل عليه السلام په شنه جوړه كي ليدلي وو چي د اسمان نه زمكي پورې خلاء يي ډكه كړي وه.
امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٢٨٤ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عُثْمَانَ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ زَكَرِيَّا بْنِ إِسْحَاق، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِابْنِ عَبَّاسٍ: الَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ إِلا اللَّمَمَ (النجم :٣٢ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنْ تَغْفِرِ اللَّهُمَّ تَغْفِرْ جَمًّا، وَأَيُّ عَبْدٍ لَكَ لَا أَلَمَّا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ زَكَرِيَّا بْنِ إِسْحَاق.[2]

ترجمه دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دايت كريمه " الَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ إِلَّا اللَّمَمَ " دا هغه كسان دي چي ډډه كوي د لويو ګناهونو نه او د ښكاره بدكارونو نه مګر د وړو خبرو نه، باره كي اوفرمائيل: اي الله كه ته بخنه كوي نو ټول ګناهونه اوبخښه ستا په بندګانو كي څوك داسي دي چي په ګناهونو كي ملوث نه وي
امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح غريب دي مونږ يي صرف د ذكريا بن اسحاق په سند پيژنو

تشريح الَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ . دا ني تفسير دي كبائر الاثم وَالْفَوَاحِشَ. دا دواړه كبيره ګناهونه دي ليكن فرق په كي دا دي چي د كبائر نه مراد هغه ګناهونه دي چي قرآن كريم او سنت د هغي نه منع كړي وي او دنيوي يا اخروي سزا ني د هغي ذكر كړي وي. اګر چي عقل يا طبيعت د هغي نه نفرت نه كوي لكه شرک او بدعات. او فواحش هغه دي چي د هغي نه ټول عقلمند او سليم طبيعت والاخلق نفرت كوي. او په شريعت كي هم د هغي نه منع شويوي لكه زنا، دروغ، بهتان او د خلقو حقوق ضائع كول او ظلم كول وغيره. الا

[1] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) وراجع صحيح البخاري/ (٣٨٥٨) (تحفة الأشراف: ٩٣٩٢)

[2] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٤٢٩)

اللَمَمْ د دينه مراد وارۀ ګناهونه دي لکه د لويْ ګناه خواهش په زړه کي چي راشي او عمل پري اونۀ کړي نو دا هم صغيره ګناه ده. دا رنګ په سنتو باندي عمل نۀ کول او د صغيره ګناهونو معاف کول په دي وجه نۀ دي چي دا ګناه نۀ ده بلکه د دي وجه دا ده. چي د الله تعالي رحمت او مهرباني ډيره ده په خپلو بندګانو نو ځکه ني ورته معافي کوي. او د صغيره ګناهونو نه هم ځان بچ کول پکار دي. ځکه چي دي سره د انسان زړه کي سختي پيدا کيږي او بيا انسان په لويو ګناهونو کي اخته کيږي.

****

٥٤_باب وَمِنْ سُورَةِ الْقَمَرِ

دسورة قمر دبعضي ايتونو تفسير

٣٢٨٥_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى فَانْشَقَّ الْقَمَرُ فَلْقَتَيْنِ: فَلْقَةٌ مِنْ وَرَاءِ الْجَبَلِ، وَفَلْقَةٌ دُونَهُ. فَقَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اشْهَدُوا " يَعْنِي: اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ (القمر :١". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه: دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي په هغه دوران کي مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په مني کي موجود وو چي سپوږمۍ دوه ټکړي شوه يوه ټکړه اخوا لاړه دغر نه لاندي او دويمه ټکړه ديخوا راغله دغر نه دي طرف ته رسول الله مونږ ته اوفرمائيل ګواه اوسئ يعني په دي خبره ګواه شئ چي " اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ". يعني قيامت رانژدي شو او سپوږمۍ وچاودله.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح " اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ " په دي کي د شق القمر واقعه ذکر ده چي د هغي د وجي نه د دي د نزول زمانه تعين کيدي شي د محدثينو او مفسرينو په دي اتفاق دي چي دا واقعه د هجرت نه تقريباً پنځه کاله وړاندي په مکه معظمه کي د منيٰ په مقام شوي وه.

په دي کي د کفارو په انکار او ضد باندي تنبيه ده کومه چي دوي د نبي صلي الله عليه وسلم د

---

[1] - اورده البخاري في الجامع الصحيح /المناقب ٢٧(٣٦٣٦) ، ومناقب الأنصار ٣٦(٣٨٦٩) ، وتفسير سورة القمر ١(٤٨٦٤) صحيح مسلم /المنافقين ٨(٢٨٠٠) (تحفة الأشراف : ٩٣٣٦)

دعوت په مقابله کي اختيار کړي وه. د شق القمر واقعه د دي خبري واضح دليل دي چي د کوم قيامت خبر نبي صلي الله عليه وسلم ورکوي. هغه په حقيقت کي واقعه کيدي شي او د هغي د راتلو وخت نږدي دي. لکه څنګه چي دا دومره لويه سپوږمۍ د دوي د وړاندي اوشليدله او دوه ټکړي شوه. او کتونکو ته د غرونو په شان ښکاريدله. او بيا زر دواړه ټکړي يو ځايْ شوي نو دا د دي خبري ثبوت دي چي دا نظام ازلي. ابدي او غيرفاني نه دي. دا درهم برهم کيدي شي ستوري او سياري چودلي شي دړي وړي کيدلي شي. د يو بل سره جنګيدلي شي او هر هغه کار کيدي شي د کوم خبر چي قرآن کريم ورکوي. کله چي قيامت به راځي نو رسول الله صلي الله عليه وسلم خلقو ته دعوت ورکړو او وي فرمائيل چي اوګوري او ګواه اوسي. ليکن کفارو ديته جادو اونيل او انکار ئي اوکړو. نو په دي ضد باندي ئي دوي ته ملامتيا ورکړي ده.
د کلام شروع داسي شوي ده. چي دا خلق نۀ په پوهولو سره پوهيږي. نۀ ده تاريخ نه عبرت اخلي او نه ښکاره او غټو نخو ته ګوري. او ايمان نۀ راوړي. اُس به دوي هغه وخت خبره مني. کله چي قيامت راشي او دوي د قبرونو نه رااوځکلي شي او محشر ته روان شي.
اِقْتَرَبَتْ. د باب افتعال نه دي. په ډير نزديکت باندي دليل دي. السَّاعَةُ د قيامت د نومونو نه يو نوم دي. او د دي ساعت نه مراد د عالم فنا کيدل دي. يا ساعت د دوباره ژوند دي په شپيلي وهلو سره وَانْشَقَّ الْقَمَرُ. دا جمله حاليه ده. او دا دليل دي د رسول الله صلي الله عليه وسلم په صداقت باندي او دا رنګ دليل دي په قدرت د الله تعالي باندي. چي هم دغه شان قادر دي د ټول عالم په فنا باندي. او د سپوږمۍ چودل هغه معجزه ده چي د مکي والو په مطالبه خودلي شوي وه. او دا حديث امام بخاري امام مسلم. ترمذي او نورو محدثينو په صحيح سندونو سره راوړي دي.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائيلي دي. اِنْشَقَّ الْقَمَرُ وَنَحْنُ مَعَ النَّبِي فَصَارَ فِرْقَتَيْنِ فَقَالَ لَنَا اِشْهَدُوْا اِشْهَدُوْا (صحيح بخاري کتاب التفسير وصحيح مسلم کتاب صفة القيامة) يعني سپوږمۍ اوچودله او مونږه د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره وُو او دوه ټکړي شوه. نو مونږ ته رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمايل چي ګواه شيْ
انس رضي الله عنه فرمائيلي دي. اَنَّ اَهْلَ مَكَّةَ سَاَلُوْا رَسُوْلَ اللهِ صلي الله عليه وسلم اَنْ يُرِيَهُمْ اٰيَةً فَاَرَاهُمْ اِنْشِقَاقَ الْقَمَرِ (صحيح بخاري کتاب بدء الخلق صحيح مسلم کتاب صفة القيامة. يعني مکي والو د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه سوال اوکړو چي دوي ته معجزه اوښائي. نو هغوي ته ئي د سپوږمۍ چودل اوخودل.
او په ديکي دويم قول دا دي چي اِنْشَقَّ. فعل ماضي دا په معني د مضارع (مستقبل) دي يعني

د قيامت د قائم كيدلو په وخت كي به سپوږمۍ اوچوی.

****

٣٢٨٦_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: سَأَلَ أَهْلُ مَكَّةَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :فَانْشَقَّ الْقَمَرُ بِمَكَّةَ مَرَّتَيْنِ، فَنَزَلَتْ: اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ إِلَى قَوْلِهِ سِحْرٌ مُسْتَمِرٌّ (القمر :١ - ٢)، يَقُولُ: ذَاهِبٌ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه د انس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي اهل مكه درسول الله صلي الله عليه وسلم د معجزي طلب وكړو نو سپوږمۍ په مكه كي دوه ځيري دوه ټوټي شوه او دي وخت كي دا ايت كريمه : اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ (إِلَى قَوْلِهِ) سِحْرٌ مُسْتَمِرٌّ نازل شو . او وئيل يي چي تلونكى دى.

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي

****

٣٢٨٧_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: انْشَقَّ الْقَمَرُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اشْهَدُوا". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (٢)

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه كي سپوږمۍ دوه ټكړي شوه نورسول الله مونږ ته اوفرمائيل تاسو ټول ګواه اوسئ

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٢٨٨_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: انْفَلَقَ الْقَمَرُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

[1] ـ صحيح مسلم/المنافقين ٨ (٢٨٠٠) (تحفة الأشراف: ١٣٢٢)

[2] ـ انظر حديث رقم ٣٢٨٥

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اشْهَدُوا". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه كي سپوږمۍ دوه ټكړي شوه نورسول الله مونږ ته اوفرمائيل تاسو ټول ګواه اوسئ.
امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي.

****

۳۲۸۹_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ كَثِيرٍ، عَنْ حُصَيْنٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "انْشَقَّ الْقَمَرُ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى صَارَ فِرْقَتَيْنِ عَلَى هَذَا الْجَبَلِ وَعَلَى هَذَا الْجَبَلِ". فَقَالُوا: سَحَرَنَا مُحَمَّدٌ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: لَئِنْ كَانَ سَحَرَنَا مَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يَسْحَرَ النَّاسَ كُلَّهُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ حُصَيْنٍ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، نَحْوَهُ. (2)

ترجمه: جبير بن مطعم رضي الله عنه د خپل نه روايت بيانوي چي فرمائيل يي: په هغه دوران كي مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په مني كي موجود وو چي سپوږمۍ دوه ټكړي شوه يوه ټكړه اوخوا لاړه دغر نه لاندي او دويمه ټكړه ديخوا راغله دغر نه دي طرف ته خلقو اووئيل چي محمد (صلي الله عليه وسلم) په مونږ باندي جادو كړي دي ليكن په دوئ كي بعضي كسانو اووئيل كه په مونږ يي جادو كړي وي نو دلري خايونو نور خلق دجادو دائر لاندي نشي راوستلي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: بعضي راويانو داحديث دحسين نه او هغه دجبير بن محمد نه او هغه دخپل پلار جبير بن مطعم نه ددي هم معني نقل كړي ده.

دجبير بن مطعم رضي الله عنه مختصر حالات

نام جبير كنيه ابو محمد اودپلار نوم يي معلم قريشي وو ، دصحيح قول مطابق جبير دصلح حديبيه او فتح مكي په درمياني زمانه كي مسلمان شوي وو (الاصابه)
په غزوه حنين كي شريك شو اوپه واپسۍ كي درسول الله سره يو خاي وو(مسند احمد: ۴ج/۸۴)
جبير دعلم الانساب لوي عالم او تجربه كار وو چي د ابوبكر صديق رضي الله عنه نه يي دا علم

1. _ صحيح مسلم/المنافقين ۸ (۲۸۰۱) (تحفة الأشراف: ۷۳۹)
2. _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۳۱۹۷)

حاصل کړي وو ، عمر فاروق رضي الله عنه چې به کله تحقيقاتو کولو ته مجبور شو نودده دعلم نه به يې استفاده کوله ، جبير اګرچې دقوم سردار هم وو ليکن دتکبر دشائبې نه بلکل پاك وو ، دقريشو په حکيم ترينو خلقو کې شميرلې شو ،اوپه ۵۷ هجري کې په مدينه طيبه کې وفات شو،اسد الغابه،

دجبير دمروياتو شمير شپيتو ته رسيګي چې بعضې پکې متفق عليه او بعضې صرف دبخاري نقل کړده دي.

****

۳۲۹۰ـحَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، وَأَبُو بَكْرٍ بُنْدَارٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ زِيَادِ بْنِ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبَّادِ بْنِ جَعْفَرٍ الْمَخْزُومِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: جَاءَ مُشْرِكُو قُرَيْشٍ يُخَاصِمُونَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْقَدَرِ، فَنَزَلَتْ: يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي النَّارِ عَلَى وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ . إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ (القمر :۴۸،۴۹) قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دې فرمائي چې دقريشو مشرکين نبي کريم صلي الله عليه وسلم چې دتقدير په مسئله کې يې بحث او مجادله کوله تردې چې په دې باره کې دا ايت کريمه " يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي النَّارِ عَلَى وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ . إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ " نازل شو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

په کومه ورځ چې راښکلې کيږي به په اُور کې په مخونو خپلو باندې اوڅکئ خوند دَ سقر ،سوزيدلو، يقينا مونږ هر څيز پيدا کړيدې هغه په تقدير سره.

تشريح: په دې ايتونو کې اخروي تخويف دي يعني په بدر کې چې دوې قتل شول، اورسوا شول نو دا دَدوي اخري عذاب نهٔ دې بلکه دَ دې نه سختې سزاګانې دوي ته په قيامت کې ملاويدونکې دي چې دَ هغې دَ دوي سره وعده کيدې شې أدهٰي دَ دهاءَ نه ماخوذ دې رسوا کولو والالوئ مصيبت أمَرّ دَ مَرارَةَ نه دې ډير تريخ او دا صيغې دَ اسم تفضيل دې په نسبت دَ عذاب دَ بدر کښې او په دې دواړو کې فرق دا دې چې دَ أدهٰي اثر باطني دې او دَ أمرُ اثر به خوراک څښکاک کې دې انّ المُجرمينَ ابن کثير ونيلي دي چې دا هر کافر او بدعتي ته شامل دې ضَلاَلٍ وَسُعُرٍ ضَلاَل په دنيا کې دې او سعر په اخرت کې دې او دا جمع دَ سعير دَ: يا دا په معنې دَ ليونتوب دې نو دواړه په دنيا کې دې يا ضلال په اخرت کې دَ جنت دَ لارې نه

[1] ـ انظر حديث رقم ۲۱۵۷

اوریدل دي نو دوار ه په اخرت کي دي سقر په اصل کي سوزولو ته وئیلي شي نو دا د جهنم نوم دي او د ذُوقُوا نه مخکي يقال لهم پټ دي ،دوي ته به اونيلي شي،

خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ. دا ايت صريح نص دي د تقدير په مسئله كښې ابن كثير وئيلي دي چې تقدير د الله تعالي علم په تبولو څيزونو باندي د هغي د وجود نه مخکي او د ټولو تقدير ليکل دي او كُلُّ في كتاب مُبين او كُلَّ شَيْءٍ احصيناهُ في امام مُبينٍ او داسي نور ايتونه ښکاره دليل دي چي تقديرات ليكلي شويدي او په دي زمانه کي پرويزيان ،منكرين حديث، او دهريان خلق دي چي د تقدير نه انکار کوي ليکن سره د تقدير نه الله تعالي انسانانو ته څه قدرت د کسب ورکړيدي او توفيق هم ورکوي چي د هغي د وجي نه جزا او سزا به ورکوي او په دي باندي ډير نصوص د قرآن كريم او سنت شاهد دی.

****

٥٥_باب وَمِنْ سُورَةِ الرَّحْمَنِ

دسورة الرحمن دبعضي ايتونو تفسير

٣٢٩١_حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ وَاقِدٍ أَبُو مُسْلِمٍ السَّعْدِيُّ. حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ. عَنْ زُهَيْرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ. عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَصْحَابِهِ. فَقَرَأَ عَلَيْهِمْ (الرَّحْمَنِ مِنْ أَوَّلِهَا إِلَى آخِرِهَا. فَسَكَتُوا. فَقَالَ: "لَقَدْ قَرَأْتُهَا عَلَى الْجِنِّ لَيْلَةَ الْجِنِّ فَكَانُوا أَحْسَنَ مَرْدُودًا مِنْكُمْ. كُنْتُ كُلَّمَا أَتَيْتُ عَلَى قَوْلِهِ: فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (الرحمن :١٣) قَالُوا: لَا بِشَيْءٍ مِنْ نِعَمِكَ رَبَّنَا نُكَذِّبُ فَلَكَ الْحَمْدُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ الْوَلِيدِ بْنِ مُسْلِمٍ. عَنْ زُهَيْرِ بْنِ مُحَمَّدٍ. قَالَ أَحْمَدُ ابْنُ حَنْبَلٍ: كَأَنَّ زُهَيْرَ بْنَ مُحَمَّدٍ الَّذِي وَقَعَ بِالشَّامِ لَيْسَ هُوَ الَّذِي يُرْوَى عَنْهُ بِالْعِرَاقِ كَأَنَّهُ رَجُلٌ آخَرُ قَلَبُوا اسْمَهُ. يَعْنِي لِمَا يَرْوُونَ عَنْهُ مِنَ الْمَنَاكِيرِ. وَسَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ الْبُخَارِيَّ يَقُولُ: أَهْلُ الشَّامِ يَرْوُونَ عَنْ زُهَيْرِ بْنِ مُحَمَّدٍ مَنَاكِيرَ. وَأَهْلُ الْعِرَاقِ يَرْوُونَ عَنْهُ أَحَادِيثَ مُقَارِبَةً.[1]

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرماني چي رسول الله صلي الله عليه وسلم صحابه کرامو ته تشريف راوړو او ددوی په وړاندي يي سورة رحمن دشروع نه تر اخره پوري اولوستلو او خلقو ورته غوږ كيخودلو او بيا يي اوفرمائيل ما دا سورة دليلة الجن په شپه دجناتو سره

[1] . تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٠١٤)

دملاقات وخت كي اوروليي دي نو هغوئ ماته ستاسو په مقابل كي ښه جواب راكړو كله چي زه دتلاوت وخت كي "فبأي الاء ربكما تكذبان" ته رسيدم نو هغوئ به ونيل "لابشيء من نعمك ربنا نكذب فلله الحمد" يعني اي زمونږ پروردګاره مونږ ستا په نعمتونو كي دهيڅ يو نعمت نه انكار نه كوو او خاص ستادپاره ټول تعريفونه دي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف دوليد بن مسلم په روايت پيژنو چي دزهير بن محمد نه يي نقل كوي او دده نه علاوه يي بل څوك نه پيژني، احمد بن حنبل وائي شام والازهير بن محمد هغه زهير نه دي دچانه چي اهل عراق روايت نقل كوي هغه يو بل كس دي خلقو دهغه نوم څكه بدل كړي دي چي نورو خلقو به دهغه نه منكر احاديث نقل كول، مادامام بخاري نه اوريدلي دي چي اهل شام به دزهير بن محمد نه منكر احاديث نقل كول او اهل عراق ورنه صحيح احاديث نقل كوي.

****

٥٦_باب وَمِنْ سُورَةِ الْوَاقِعَةِ

دسورة واقعه دبعضي ايتونو تفسير

٣٢٩٢_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، وَعَبْدُ الرَّحِيمِ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَقُولُ اللَّهُ: أَعْدَدْتُ لِعِبَادِيَ الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ، وَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ: فَلا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (السجدة :١٧) ، وَفِي الجَنَّةِ شَجَرَةٌ يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ عَامٍ لَا يَقْطَعُهَا، وَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ: وَظِلٍّ مَمْدُودٍ (الواقعة :٣٠) وَمَوْضِعُ سَوْطٍ فِي الجَنَّةِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا، وَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ: فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَمَا الحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلا مَتَاعُ الغُرُورِ (آل عمران :١٨٥ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي الله تعالي فرمائي ما دخپلو نيكانو بنديانو دپاره داسې نعمتونه تيار كړي دي چي نه

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٥٠٣٢، و ١٥٠٥٢)

دچا سترګو ليدلي دي نه دچا غوږونو اوريدلي دي او نه دچا په زړه کې تير شوي دي او که مو خوښه وي ددی تصديق دپاره دا ايت تلاوت کړئ **"فلا تعلم نفس ما اخفي لهم من قرة اعين"** هيچاته نه دي معلوم هغه نعمتونه کوم چې دجنتيانو دسترګو يخولو دپاره پټ تيار شوي دي. په جنت کې يوه ونه ده چې په اس سور سړی يې په سل کاله کې نه شي وهلي او که مو خوښه وي ددی تصديق دپاره دا ايت تلاوت کړئ" وَظِلٍّ مَّمْدُودٍ" اوپه جنت کې ستاسو ديوکس ديوی کوړی هومره خايی ددنيا نه اوخه چې په دنيا کې دي ټولو نه بهتر دي او که مو خوښه وي ددی تصديق دپاره دا ايت تلاوت کړئ" فَمَن زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ "

امام ترمذي رحمه الله وايي: او دا حديث حسن صحيح دي

لغات : نفس النفس مصدر دي روح يا ويني ته ويلي شي . عظيم النفس لوي جسامت والاته ويلي شي.

راکب: سور دماشي ضد دي جمع يي رکاب راخي. ظل: معني سوري جمع يي ظلال راخي.

تشريح : کله چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم ارشاد الهي نقل کړي ديته حديث قدسي وئيلي شي نو پورتني حديث هم حديث قدسي دي.

"مالاعين رأت" يعني نه به کومي سترګي ليدلي وي مطلب دادی چې دجنت اعلي مظاهر او اوازونه او شکل او صورت او دهغه خاي نعمتونه به هيڅ سترګي ليدلي نه وي او نه به کومو غوږونو اوريدلي وي او نه به چا ددي تصور کړی وي.

قرة عين قرة لفظ دقر نه جوړ شوی دی په معني دقرار دی يعني دا سترګي چې کله محبوب څيز اووينې نو قرار به ورته راشي او مطمئن به شي او بيايي بل څيز ته توجه نه ورځي ددي برعکس کچري سترګي ناخوښه څيز اووينې نو په دي باندي نظر سړی کيږي بعضي علماء وائي قرة دقره نه ماخوذ دی په معني ديخوالي مطلب دادی چې کله سترګي خپل محبوب څيز اووينې نو په زړه کې سوزش شان پيدا کيږي دجنت په نعمتونو کې به دا دواړه قسم صفات حاصليږي

ددي ونې سوری به دومره وي چې تيزرفتار اس يي په سلو کالو کې ختمولی نشي علماء وائي دوني نه مراد خانبونه دي سوری مراد نه دی خکه چې په جنت کې به نمر نه وي نو چې نمر نه وي نو سوری څنګه کيدی شي په پورتني حديث کې دجنت دونو اږدوالی او پلنوالی وسعت بيان شوی دی چې ونې به يي دومره دومره وي.

په پورتني حديث کې چې دکومې ونې ذکر راغلی دی ديته "شجرة طوبي" ونيلی شي لکه چې

په يو اوږد حديث کې ديو اعرابي واقعه راغلي ده او هغه دادی چي کله ده دجنت دوني او عهد په باره کې سوال اوکړو نو رسول الله ورته اوفرمائيل په جنت کې ديوي وني نوم طوبي دی او هغه يي ددنيا په ونو کې د جوزه سره مشابه اوګرخوله اعرابي بيا سوال اوکړو چي ددي وني وګي به څومره وي ورته يي اوفرمائيل ددومره مصافي په مقدار به وي چي مسلسل به ديوي مياشتي پوري الوزولی شي اعرابي بيا تپوس اوکړو چي ددي جرړي به څومره وي ورته يي اوفرمائيل ستا دکور په اوښانو کې چي کوم خوان اوښ روان وي نو ددي دجرړو احاطه نشي کولی تردي چي دا اوښ به بوډا شي غرض دا چي دي اعرابي بيا دانګور په باره کې هم سوال اوکړو.

د کوري ذکر يي تمثيلا کړی دی، کوزه عموما وړوکی شی وي او لږ شان خاي راګيروي په دي کې ددنيا حقارت ته اشاره ده چي دنيا دالله تعالي په نزد څومره حقيره ده او جنت ورته څومره عزيز دی.

****

٣٢٩٣_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَشَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ عَامٍ لَا يَقْطَعُهَا، وَإِنْ شِئْتُمْ فَاقْرَءُوا: وَظِلٍّ مَمْدُودٍ ، وَمَاءٍ مَسْكُوبٍ . (الواقعة :٣٠-٣١). قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ. ([1])

ترجمه : د انس رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په جنت کې يوه ونه ده چي په اس سور سړی يی په سل کاله کې نه شي وهلي او که مو خوښه وي ددی تصديق دپاره دا ايت تلاوت کړی" وَظِلٍّ مَمْدُودٍ وَمَاءٍ مَسْكُوبٍ " او په سورو اوږدو کي او په اوبو رواني کړي شوو کښ

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي

تشريح ممدود په حديث کي راغلي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَشَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ عَامٍ لاَ يَقْطَعُهَا (صحيح بخاري كتاب بدء الخلق. صحيح مسلم. باب ما جاء في صفة الجنة (په کي يوه اونه ده که (په اس) سور سړي دَ هغي په

---

[1] - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٣٣٢)

سوري كي سل كال سفر اوكړي نو دَ هغې سوري به ختم نه شي).
يا دا چي هميشه به سوري وي په نمر سره به نه ختميږي. دَ دي ذكر په سورة نساء عـــ ٥٧ پ ٥ كي دي. وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا.

****

٣٢٩٤ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا رِشْدِينُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ دَرَّاجٍ، عَنْ أَبِي الْهَيْثَمِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ: "وَفُرُشٍ مَرْفُوعَةٍ (الواقعة :٣٤) قَالَ: ارْتِفَاعُهَا كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ، وَمَسِيرَةُ مَا بَيْنَهُمَا خَمْسُ مِائَةِ عَامٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ رِشْدِينَ، وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ: وَارْتِفَاعُهَا كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ، قَالَ: ارْتِفَاعُ الْفُرُشِ الْمَرْفُوعَةِ فِي الدَّرَجَاتِ وَالدَّرَجَاتُ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ. (1)

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دايت كريمه "وفرش مرفوعة" بارہ كي اوفرمائيل ددي بسترو لوړوالي به دومره وي څومره چي دزمكي او اسمان مينځ كي فاصله ده او ددي په مينځ كي دتلو مسافه دپنځه سوه كالو په مقدار ده.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف د رشدين په روايت پيژنو بعضي اهل علم واني په دي حديث كي د "ارتفاعها كما بين السماء والارض " مفهوم دادي چي ددي بسترو لوړوالي او د درجو دبلندئ مطابق به وي او دهر دوه درجو په مينځ كي به دومره فاصله وه څومره چي دزمكي او اسمان مينځ كي ده.

****

٣٢٩٥ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ عَبْدِ الأَعْلَى، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَتَجْعَلُونَ رِزْقَكُمْ أَنَّكُمْ تُكَذِّبُونَ (الواقعة :٨٢ قَالَ: شُكْرُكُمْ تَقُولُونَ مُطِرْنَا بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا، وَبِنَجْمِ كَذَا وَكَذَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ، لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ حَدِيثِ إِسْرَائِيلَ، وَرَوَاهُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ عَبْدِ الأَعْلَى، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ، عَنْ عَلِيٍّ،

---

1 انظر حديث رقم: ٢٥٤٠

نَحْوَهُ، وَلَمْ يَرْفَعْهُ. حَدَّثَنَا بِذَلِكَ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ سُفْيَانَ. (1)

ترجمه: علي رضي الله عنه نه روايت دي فرماني چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دايت كريمه "وتجعلون رزقكم انكم تكذبون" باره كي اوفرمائيل ستاسو شكر دادي چي تاسو داسي اووائي چي دا باران دفلاني فلاني ستوري په وجه شوي دي كه داسي مو اووئيل نو په دي طريقه به تاسو د دروغ وئيلو په نتيجه كي دحق تكذيب اوكړئ.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب صحيح دي مونږ يي صرف داسرائيل په روايت پيژنو او داسرائيل نه علاوه بل چا دا مرفوع نه دي بيان كړي، داحديث سفيان ثوري دعبدالاعلي نه او هغه دعبدالرحمن سلمي نه او هغه دعلي رضي الله عنه نه په همدي مضمون نقل كړي دي او مرفوع يي نه دي بيان كړي.

****

٣٢٩٦_حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ الْخُزَاعِيُّ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبَانَ، عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فِي قَوْلِهِ: "إِنَّا أَنْشَأْنَاهُنَّ إِنْشَاءً (الواقعة: ٣٥، قَالَ: إِنَّ مِنَ الْمُنْشَآتِ اللَّائِي كُنَّ فِي الدُّنْيَا عَجَائِزَ عُمْشًا رُمْصًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ، وَمُوسَى بْنُ عُبَيْدَةَ، وَيَزِيدُ بْنُ أَبَانَ الرَّقَاشِيُّ يُضَعَّفَانِ فِي الْحَدِيثِ. (2)

ترجمه: دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دايت كريمه "انا انشاناهن انشاء" باره كي اوفرمائيل په دي ښځو كي به هغه ښځي هم وي كومي چي په دنيا كي بوډۍ ګاني شوي وي او ستركي يي خرابي شوي وي او اوبه به ترينه تللي
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند دموسي بن عبيده په روايت مرفوع پيژنو او موسي بن عبيده او يزيد بن ابان رقاشي په باب دحديث كي ضعيف ګڼرلي شوي دي.

****

٣٢٩٧_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، عَنْ شَيْبَانَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَدْ شِبْتَ، قَالَ: "شَيَّبَتْنِي هُودٌ،

1 - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠١٤٣)

2 - تفرد به المؤلف تحفة الأشراف.

وَالْوَاقِعَةُ، وَالْمُرْسَلَاتُ، وَعَمَّ يَتَسَاءَلُونَ، وَإِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عَبَّاسٍ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَرَوَى عَلِيُّ بْنُ صَالِحٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ نَحْوَ هَذَا، وَرُوِيَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي مَيْسَرَةَ شَيْءٌ مِنْ هَذَا مُرْسَلًا، وَرَوَى أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ حَدِيثِ شَيْبَانَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، حَدَّثَنَا بِذَلِكَ هَاشِمُ بْنُ الْوَلِيدِ الْهَرَوِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ.[1]

ترجمه دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي ابوبكر رضي الله عنه اوونيل اي دالله رسوله بوډاشوي رسول الله اوفرمانيل سورة هود او سورة واقعه او سورة المرسلات او سورة عم يتسائلون او سورة اذا الشمس كورت . بوډا كړم.
امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن غريب دي او مونږ يي دابن عباس په روايت صرف په همدي سند پيژنو . علي بن صالح دا حديث په همدي مضمون دابو اسحاق نه او هغه د ابو جحيفه نه نقل كړي دي. ددي حديث بعضي مضمون ابواسحاق دابو ميسره نه مرسل نقل كړي دي. ابوبكر بن عياش دابواسحاق په واسطه دعكرمه نه او عكرمه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دشيبان دحديث پشان حديث نقل كړي دي چي دابو اسحاق نه يي نقل كړي دي او ابواسحاق پخپل روايت كي دابن عباس واسطه نه ده ذكر كړي.

****

٥٧_باب وَمِنْ سُورَةِ الْحَدِيدِ

دسورة حديد دبعضي ايتونو تفسير

٣٢٩٨_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، المعنى واحد، قَالُوا: حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا شَيْبَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: حَدَّثَنَا الْحَسَنُ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: بَيْنَمَا نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ وَأَصْحَابُهُ إِذْ أَتَى عَلَيْهِمْ سَحَابٌ، فَقَالَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " هَلْ تَدْرُونَ مَا هَذَا؟ " فَقَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: " هَذَا الْعَنَانُ، هَذِهِ رَوَايَا الْأَرْضِ يَسُوقُهُ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى إِلَى قَوْمٍ لَا يَشْكُرُونَهُ وَلَا يَدْعُونَهُ ". قَالَ: " هَلْ تَدْرُونَ مَا فَوْقَكُمْ؟ " قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف، ٦١١١) (الصحيحة: ٩٥٥)

أَعْلَمُ. قَالَ: "فَإِنَّهَا الرَّقِيعُ سَقْفٌ مَحْفُوظٌ وَمَوْجٌ مَكْفُوفٌ. ثُمَّ قَالَ: "هَلْ تَدْرُونَ كَمْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهَا ؟" قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: "بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهَا مَسِيرَةُ خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ". ثُمَّ قَالَ: "هَلْ تَدْرُونَ مَا فَوْقَ ذَلِكَ ؟" قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: "فَإِنَّ فَوْقَ ذَلِكَ سَمَاءَيْنِ مَا بَيْنَهُمَا مَسِيرَةُ خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ. حَتَّى عَدَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ مَا بَيْنَ كُلِّ سَمَاءَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ. ثُمَّ قَالَ: "هَلْ تَدْرُونَ مَا فَوْقَ ذَلِكَ ؟" قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: "فَإِنَّ فَوْقَ ذَلِكَ الْعَرْشَ وَبَيْنَهُ وَبَيْنَ السَّمَاءِ بُعْدُ مَا بَيْنَ السَّمَاءَيْنِ". ثُمَّ قَالَ: "هَلْ تَدْرُونَ مَا الَّذِي تَحْتَكُمْ ؟" قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: "فَإِنَّهَا الأَرْضُ". ثُمَّ قَالَ: "هَلْ تَدْرُونَ مَا الَّذِي تَحْتَ ذَلِكَ ؟" قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: "فَإِنَّ تَحْتَهَا الأَرْضَ الأُخْرَى بَيْنَهُمَا مَسِيرَةُ خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ. حَتَّى عَدَّ سَبْعَ أَرَضِينَ بَيْنَ كُلِّ أَرْضَيْنِ مَسِيرَةُ خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ". ثُمَّ قَالَ: "وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَوْ أَنَّكُمْ دَلَّيْتُمْ رَجُلًا بِحَبْلٍ إِلَى الأَرْضِ السُّفْلَى لَهَبَطَ عَلَى اللَّهِ". ثُمَّ قَرَأَ: هُوَ الأَوَّلُ وَالآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ (الحديد: ٣) قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. قَالَ: وَيُرْوَى عَنْ أَيُّوبَ، وَيُونُسَ بْنِ عُبَيْدٍ، وَعَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، قَالُوا: لَمْ يَسْمَعِ الْحَسَنُ مِنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. وَفَسَّرَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ هَذَا الْحَدِيثَ، فَقَالُوا: إِنَّمَا هَبَطَ عَلَى عِلْمِ اللَّهِ وَقُدْرَتِهِ وَسُلْطَانِهِ. عِلْمُ اللَّهِ وَقُدْرَتُهُ وَسُلْطَانُهُ فِي كُلِّ مَكَانٍ، وَهُوَ عَلَى الْعَرْشِ كَمَا وَصَفَ فِي كِتَابِهِ. [1]

ترجمه ابوهريره رضي الله عنه بيان دي يوه ورځ رسول الله صلي الله عليه وسلم دصحابه كرامو سره ناست وو چي يوه وريځ راغله رسول الله ورته اوفرمائيل ايا تاسو ته معلومه ده چي دا څه څيز دي هغوئ اوونيل الله او دهغه رسول ښه پوهيږي رسول الله اوفرمائيل دا وريځ ده او دا دزمكي ګوټونه او غاړي دي الله تعالي دا وريځ يو داسي قوم ته ورشړي او ورولي يي څوك چي ددي شكرګذار نه دي او نه الله لره رابلي. بيا رسول الله اوفرمائيل ايا تاسو ته معلومه ده چي ستاسو دپاسه څه دي؟ خلقو اوونيل الله او دهغه رسول ښه پوهيدونكي دي رسول الله اوفرمائيل دا اسمان "رقيع" دي او دا يو داسي چت دي چي د جناتو نه محفوظ كړي شوي دي او دا يوه داسي چپه ده چي بغير ستنو اودرولي شوي ده بيا رسول الله تپوس اوكړو چي تاسو ته معلومه ده چي ستاسو او ددي په مينځ كي څومره فاصله ده. خلقو اوونيل الله او دهغه رسول ښه پوهيږي رسول الله اوفرمائيل ستاسو او ددي په مينځ كي دپنځه سوه كالو دمسافي په مقدار لري والي دي بيا يي تپوس اوكړو ايا تاسو ته معلومه ده چي ددي دپاسه څه دي خلقو

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٢٥٣)

اوونيل الله او دهغه رسول ښه پوهيږي رسول الله اوفرمائيل ددي دپاسه دوه اسمانونه دي چې يو نه دبل پوري دپنځه سوه کالو مسافه ده او په همدي شان يې اوه اسمانونه اوشميرل او دهر دوه اسمانونو مينځ کي يې هم دومره فاصله بيان کړه څومره فاصله چې دزمکې نه اسمان پوري ده، او بيا يې تپوس اوکړو چې ددي دپاسه څه دي خلقو اوونيل الله او دهغه رسول ښه پوهيږي رسول الله اوفرمائيل ددي دپاسه عرش دي او دعرش او داسمان مينځ کي دومره فاصله ده څومره چې د دوه اسمانونو په مينځ کي وي رسول الله تپوس اوکړو ايا تاسو ته معلومه ده چې ستاسو لاندي څه دي؟ خلقو اوونيل الله او دهغه رسول ښه پوهيږي رسول الله اوفرمائيل ستاسو نه لاندي زمکه ده او دهغي لاندي بله زمکه ده چې په مينځ کي يې دپنځه سوه کالو دمزل مقدار فاصله ده او په دي شان يې اوه زمکي اوشميرلي او دهري زمکي په مينځ کي يې دپنځه سوه کالو په مقدار مسافه بيان کړه بيايې اوفرمائيل زما دي په هغه ذات قسم وي دچا په لاس کي چې دمحمد روح وي چې تاسو کومه رسۍ زوړنده کړئ نو دا به الله تعالي ته رسيږي او بيا يې دا ايت کريمه "وهوالاول والاخر والظاهر والباطن وهو بكل شيء عليم" تر اخره پوري تلاوت کړو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند غريب دي ايوب ديونس بن عبيد نه او هغه دعلي بن زيد نه نقل کړي دي ددوئ خيال دي چې دحسن بصري سماع دابوهريره نه ثابت نه ده، بعضي اهل علمو ددي حديث په تفسير کي ونيلي دي ددي مطلب دادي چې دا رسۍ به دالله تعالي په علم باندي کوزيږي او الله تعالي او دهغه قدرت او دهغه حکومت په هر ځاي کي وي او لکه څنګه چې هغه پخپل کتاب کي دخپل ځان متعلق فرمائيلي دي "ان الله علي العرش استوي".

تشريح: "وهوالاول والاخر والظاهر والباطن وهو بكل شيء عليم" دټول مخلوق نه اول دي او هم هغه به دټولو دذاتي يا صفاتي پناه نه پس هم پاتي کيږي (يعني نهورباندي عدم راغلي دي لکه چې په مخلوق وقوعا عدم راغلي دي او نه به ورباندي عدم راشي وقوعا لکه چې دپناه دعالم په وخت کی په مخلوق راځي برابره خبره ده چې په مرتبه دذات کی وي چې باوجود دخلوت داهل جنت او اهل نار به په ټولو وي ځکه چې مخلوق ابدي هم ممکن دي او ممکن ده چې په مرتبه دذات کی عاري وي دوجود نه ددغه عري په وخت کی هم دحق تعالي دپاره وجوب ثابت دي پس په دي معني دټولو نه اخر دي او هغه دمطلق وجود په اعتبارپه دلائلو سره انتهائي ظاهر دي او هغه دذات دحقيقت په اعتبار انتهائي مخفي دي (يعني هيڅوك دهغه دذات ادراك نه شي کولي) (اوګويا کی هغه پخپله داسي دي چې مخلوق ته من وجه معلوم دي او من وجه معلوم نه دي ليکن هغه ته ټول مخلوق من کل وجوه معلوم دي) او هغه دهر څيز نه

خبردار دي . رماخوذ از بيان القران،

****

٥٨_باب وَمِنْ سُورَةِ الْمُجَادَلَةِ

دسورة المجادله دبعضي ايتونو تفسير

٣٢٩٩_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْحُلْوَانِيُّ المعنى واحد، قَالَا: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ صَخْرٍ الأَنْصَارِيِّ، قَالَ: كُنْتُ رَجُلًا قَدْ أُوتِيتُ مِنْ جِمَاعِ النِّسَاءِ مَا لَمْ يُؤْتَ غَيْرِي، فَلَمَّا دَخَلَ رَمَضَانُ تَظَاهَرْتُ مِنَ امْرَأَتِي حَتَّى يَنْسَلِخَ رَمَضَانُ فَرَقًا مِنْ أَنْ أُصِيبَ مِنْهَا فِي لَيْلَتِي، فَأَتَتَابَعَ فِي ذَلِكَ إِلَى أَنْ يُدْرِكَنِي النَّهَارُ وَأَنَا لَا أَقْدِرُ أَنْ أَنْزِعَ، فَبَيْنَمَا هِيَ تَخْدُمُنِي ذَاتَ لَيْلَةٍ إِذْ تَكَشَّفَ لِي مِنْهَا شَيْءٌ فَوَثَبْتُ عَلَيْهَا، فَلَمَّا أَصْبَحْتُ غَدَوْتُ عَلَى قَوْمِي فَأَخْبَرْتُهُمْ خَبَرِي، فَقُلْتُ: انْطَلِقُوا مَعِي إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُخْبِرَهُ بِأَمْرِي، فَقَالُوا: لَا وَاللَّهِ لَا نَفْعَلُ، نَتَخَوَّفُ أَنْ يَنْزِلَ فِينَا قُرْآنٌ أَوْ يَقُولَ فِينَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقَالَةً يَبْقَى عَلَيْنَا عَارُهَا، وَلَكِنِ اذْهَبْ أَنْتَ فَاصْنَعْ مَا بَدَا لَكَ، قَالَ: فَخَرَجْتُ فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ خَبَرِي، فَقَالَ: " أَنْتَ بِذَاكَ؟ " قُلْتُ: أَنَا بِذَاكَ، قَالَ: " أَنْتَ بِذَاكَ؟ " قُلْتُ: أَنَا بِذَاكَ، قَالَ: " أَنْتَ بِذَاكَ؟ " قُلْتُ: أَنَا بِذَاكَ، وَهَا أَنَا ذَا فَأَمْضِ فِيَّ حُكْمَ اللَّهِ، فَإِنِّي صَابِرٌ لِذَلِكَ، قَالَ: " أَعْتِقْ رَقَبَةً ". قَالَ: فَضَرَبْتُ صَفْحَةَ عُنُقِي بِيَدِي، فَقُلْتُ: لَا وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا أَمْلِكُ غَيْرَهَا، قَالَ: " صُمْ شَهْرَيْنِ ". قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَهَلْ أَصَابَنِي مَا أَصَابَنِي إِلَّا فِي الصِّيَامِ، قَالَ: " فَأَطْعِمْ سِتِّينَ مِسْكِينًا ". قُلْتُ: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَقَدْ بِتْنَا لَيْلَتَنَا هَذِهِ وَحْشَى مَا لَنَا عَشَاءٌ، قَالَ: " اذْهَبْ إِلَى صَاحِبِ صَدَقَةِ بَنِي زُرَيْقٍ، فَقُلْ لَهُ فَلْيَدْفَعْهَا إِلَيْكَ فَأَطْعِمْ عَنْكَ مِنْهَا وَسْقًا سِتِّينَ مِسْكِينًا، ثُمَّ اسْتَعِنْ بِسَائِرِهِ عَلَيْكَ وَعَلَى عِيَالِكَ ". قَالَ: فَرَجَعْتُ إِلَى قَوْمِي، فَقُلْتُ: وَجَدْتُ عِنْدَكُمُ الضِّيقَ وَسُوءَ الرَّأْيِ، وَوَجَدْتُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّعَةَ وَالْبَرَكَةَ، أَمَرَ لِي بِصَدَقَتِكُمْ، فَادْفَعُوهَا إِلَيَّ فَدَفَعُوهَا إِلَيَّ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. قَالَ مُحَمَّدٌ: سُلَيْمَانُ بْنُ يَسَارٍ لَمْ يَسْمَعْ عِنْدِي مِنْ سَلَمَةَ بْنِ صَخْرٍ، قَالَ: وَيُقَالُ سَلَمَةُ بْنُ صَخْرٍ سَلْمَانُ بْنُ صَخْرٍ. وَفِي الْبَابِ، عَنْ خَوْلَةَ بِنْتِ ثَعْلَبَةَ وَهِيَ امْرَأَةُ أَوْسِ بْنِ

الصَّامِتِ.(١)

ترجمه د سلمه بن صخر انصاري بيان دي چي په ما کي د ښځو سره دجماع کولو او شهوت متعلق ډير طاقت وو کوم چي په بل چا کي نه وو. کله چي درمضان مياشت راغله نو ما ددي ويري په وجه چي چرته ورسره جماع ونکړم اود جماع کولو په حالت کي راباندي چرته سبا نشي، او دي لره په پريښودلو سره چرته ورنه جدا نشم ددي وجوهاتو په بنا ما د خپلي ښځي سره د رمضان ختميدو پوري ظهار وکړو . بيا يوه شپه داسي راغله چي زما ښځه زما په خدمت کي مشغول وه ناڅاپه زما دهغي په يو داسي ځاي نظر ولګيدو نو ما ورنه خپل ځان ونه ساتلي شو، او په غير کي مي راونيوله کله چي سبا شو نو خپل قوم ته راغلم اود خپل حال نه مي خبردار کړل. ما ورته ووئيل رسول الله ته راسره ورشئ تردي چي زه يي د خپلي معاملي خبردار کړی شم، هغوئ راته ووئيل هرګز نه په الله قسم مونږ درسره نشو تلی چرته زمونږ متعلق قران نازل نشي، او يا مو رسول الله چرته شرمنده نکړي، پخپله ورشه او چي څنګه مناسب وي هغه شان وکړه ، دي وايي چي زه روان شوم او رسول الله ته ورغلم او خپله واقعه مي ورته بيان کړه. رسول الله راته اوفرمائيل ته داسي وکړه ما ووئيل درسته ده نو ما همدغه شان وکړل ما ورته ووئيل زما همدا غلطي شوي ده په ما باندي د الله حکم جاري کړئ زه پخپله خبره ثابت قدم يم. رسول الله وفرمايل يو غلام ازاد کړه ما پخپل څټ لاس راښکلو او ورته مي ووئيل په هغه ذات قسم چا چي ته په حقه راليګلي يي ما سره د خپل څټ نه علاوه بل څټ نشته نو غلام څنګه ازاد کړم، بيا يي اوفرمائيل دوه مياشتي مسلسل روژي ونيسه ما وويل د الله رسوله اصل غم خو ما ته د يوي روژي نه جوړ شوی دی ، رسول الله وفرمائيل بيا شپيته مسکينانو ته خوراك ورکړه ما وويل قسم په الله چا چي ته په حقه راليګلي يي مونږ بيګانئ شپه هم په نهره تيره کړي ده، مونږ کره خو د شپي دپاره هم خوراك نه وو. رسول الله وفرمايل د بني زريق عامل ته ورشه او ورته ووايه چي د صدقي مال راوباسي او دهغي نه يو وسق شپيته مسکينانو باندي وخوروه او چي څه پاتي شي هغه پخپله وخورئ. دی وايي چي بيا زه خپل قوم ته واپس راغلم او ورته مي ووېل ما خو تاسو سره صرف تنګي او بد ګماني او بده رايي وموندله مګر درسول الله سره مي پراخي او برکت وموندلو . رسول الله ما ته ستا سو د دصدقي اخستلو حکم کړی دی پس تاسو دا ماته راکړئ چنانچي هغوئ ماته صدقه راکړه.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن دی امام بخاري وايي سليمان بن يسار زما په نزد

---

[1] سنن ابي داود في الطلاق ١٧ (٢٢١٣) . سنن ابن ماجه في الطلاق ٢٥ (٢٠٦٢) . (تحفة الأشراف : ٤٥٥٥) . مسند احمد (٥/ ٤٢٦) . سنن الدارمي في الطلاق ٩ (٢٢١٩)

د سلمه بن سخر نه سماع نه ده کړي سلمه بن صخر ته سلمان بن صخر هم ويلي شي، په دي باب کي د خوله بنت ثعلبه نه هم روايت وارد دی او داد اوس بن صامت ښخه ده.

****

٣٣٠٠_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ الأَشْجَعِيُّ، عَنِ الثَّوْرِيِّ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ الْمُغِيرَةِ الثَّقَفِيِّ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَلْقَمَةَ الأَنْمَارِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُولَ فَقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَاكُمْ صَدَقَةً (المجادلة :١٢ قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا تَرَى دِينَارًا ؟ " قُلْتُ: لَا يُطِيقُونَهُ، قَالَ: " فَنِصْفُ دِينَارٍ ؟ " قُلْتُ: لَا يُطِيقُونَهُ، قَالَ: " فَكَمْ ؟ " قُلْتُ: شَعِيرَةٌ، قَالَ: " إِنَّكَ لَزَهِيدٌ "، قَالَ: فَنَزَلَتْ: ءَأَشْفَقْتُمْ أَنْ تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَاكُمْ صَدَقَاتٍ (المجادلة :١٣ الآيَةَ، قَالَ: " فَبِي خَفَّفَ اللَّهُ عَنْ هَذِهِ الأُمَّةِ "، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَمَعْنَى قَوْلِهِ شَعِيرَةٌ: يَعْنِي وَزْنَ شَعِيرَةٍ مِنْ ذَهَبٍ، وَأَبُو الْجَعْدِ اسْمُهُ رَافِعٌ. [1]

ترجمه: علي بن ابي طالب رضي الله عنه بیان دي فرمائي چي کله ایت کریمه " يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُولَ فَقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَاكُمْ صَدَقَةً " نازل شو نو نبي کریم صلي الله علیه وسلم زما نه تپوس اوکړو ستا څه رائي ده؟ یو دینار صدقه مقرر کړه؟ ما اوونیل چي خلق ددي طاقت نه لري بیا یي اوفرمائیل ایا نیم دینار مقرر کړم ما اوونیل ددي هم طاقت نه لري بیا یي اوفرمائیل چي څومره مقرر کړم ما اوونیل یوه وربشه رسول الله اوفرمائیل ته خو ډیرکمونکي اوختلي او په دي باره کي دا ایت کریمه " ءَأَشْفَقْتُمْ أَنْ تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَاكُمْ صَدَقَاتٍ " اي ایمان والو کله چي جرګه کول غواړي تاسو د رسول الله صلي الله علیه وسلم سره نو اولیږي مخکي د جرګي ستاسو نه صدقه ، علي رضي الله عنه فرمائي الله تعالي زما په وجه چي په ما یي فضل اوکړو په خلقو تخفیف راوستلو ،اوداحکم یي منسوخ کړو.

امام ترمذي رحمه الله وایي داحدیث په دي سند حسن غریب دي او مونږ یي صرف په همدي سند پيژنو. دعلي رضي الله عنه قول "شعیرة" نه مراد دومره څيز دي چي دیوي وربشي سره برابر وي.

تشریح: په دي کي د جرګي کولو دریم قانون او ادب دي او په دي کي تخفیف او آسانتیا ده د

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠٢٢٩)

نبي كريم صلي الله عليه وسلم دپاره او د جرګي كوونكو اخلاص ښكاره كول دي وجه دا ده چي منافقانو به بيضرورته د نبي صلي الله عليه وسلم سره جرګي كولي او د هغوي وخت به ئي ضائع كوو. او نورو مومنانو لره به ئي د جرګي كولو وخت نه وركوو نو الله تعالي دا قانون مقرر كړو چي څوک نبي صلي الله عليه وسلم سره مشوره يا جرګه كول غواړي نو وړاندي به صدقه اوكړي د دي دپاره چي اخلاص ئي معلوم شي. او دا حكم خاص وو د نبي كريم صلي الله عليه وسلم په جرګه كولو باندي. فَقَدِّمُوا. كي امر د وجوب دپاره دي.

بيان القران ددي ايت سبب د نزول داسي بيان كړي دي:

بعضي مالداران به په دربار نبوي کی حاضر شول او ډېر وخته پوري به يي پټي خبري كولې او فقيرانو ته به دزد كړي وخت كم ملاويدو نو رسول الله ددوئ دا اوږدد ناسته خوښه نكړه نو په دي باره كی دا ايت "اذا ناجيتم الرسل" الخ نازل شو فتح البيان بغير دسند نه دزيد بن اسلم نه روايت نقل كړي دي چي يهودي منافقينو به بغير دضرورت نه درسول الله سره مجلس كولو مسلمانان يي په دي خيال چي شايد كومه ضرر رسونكي خبرد به كيږي ددي ګمان نه منع كړو چي ذكر يي په ايت نهوا عن النجوي كی شوي دي ليكن هغوئ منع نه شول نو دا حكم نازل شو "اذا ناجيتم الرسل" الخ، په دي ايت کی اهل باطل په وجه دمحبت دمال او عدم محبت ددين دانس نه منع كړي شو.

زه وايم ياخو به هغه اغنياء هم منافقين وي او يا به مسلمانانو هم دذهن دخالي والي په حالت کی داسي كول او منافقانو به دمومنانو دخفه كولو دپاره داسي كول.

****

٣٣٠١ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا يُونُسُ، عَنْ شَيْبَانَ، عَنْ قَتَادَةَ، حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، أَنَّ يَهُودِيًّا أَتَى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابِهِ، فَقَالَ: السَّامُ عَلَيْكُمْ، فَرَدَّ عَلَيْهِ الْقَوْمُ، فَقَالَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَلْ تَدْرُونَ مَا قَالَ هَذَا؟" قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، سَلَّمَ يَا نَبِيَّ اللَّهِ. قَالَ: "لَا، وَلَكِنَّهُ قَالَ كَذَا وَكَذَا، رُدُّوهُ عَلَيَّ". فَرَدُّوهُ، قَالَ: قُلْتَ: السَّامُ عَلَيْكُمْ. قَالَ: نَعَمْ. قَالَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عِنْدَ ذَلِكَ إِذَا سَلَّمَ عَلَيْكُمْ أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ، فَقُولُوا: عَلَيْكَ. قَالَ: عَلَيْكَ مَا قُلْتَ. قَالَ: وَإِذَا جَاءُوكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللَّهُ (المجادلة: ٨". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٠٥)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرماني چي يويهودي رسول الله صلي الله عليه وسلم او صحابه کرامو ته راغلو او وئيل يي "السام عليکم" (په تاسو دي مرض راشي) نو خلقو ده ته دده دسام لفظ جواب ورکړو رسول الله دخلقو نه تپوس اوکړو ايا تاسو ته معلومه ده چي ده څه اووئيل ؟ خلقو اووئيل الله او دالله رسول بهتر پوهيږي اي دالله رسوله سلام يي کړي دي رسول الله اوفرمائيل هرګزنه بلکه هغه خوداسي داسي اووئيل تاسو يي راوګرځوئ او ماته يي راولئ نو خلقو هغه راوګرځولو اورسول الله ته يي حاضرکړو ديهودي نه يي تپوس اوکړو تا "السام عليکم" اووئيل هغه اووئيل هو نورسول الله په همدي وخت کي حکم صادر کړو چي کله په اهل کتابو کي څوك تاسو ته سلام اوکړي نو تاسو په جواب کي عليك ماقلت" وائي او بيا يي دا ايت کريمه " وَإِذَا جَآءُوكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللَّهُ " او کله چي راشي تاته نو سلام کوي تاته په هغه طريقه چي سلام نۀ دي خودلي په هغي سره الله تعالي، او وائي دوي په خپلو زړونو کي چي ولي سزا نۀ راکوي مونږ ته الله تعالي په هغه خبرو چي وايو ئي مونږ. نازل شو.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح: وَإِذَا جَآءُوكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللَّهُ " دا شامل دي هغه الفاظو او طريقو د سلام ته چي د شريعت نه خلاف وي. لکه لفظ السَّامُ عليكَ په خيره راغلي څه چاري يا ورځ د څه شه. يا په ګوتو او په لاس اوچتولو سره سلام کول او په السلام عليکم سره ابتداء نۀ کول او په داسي حالت کي چي څوک رومبي سلام اونۀ کړي نو هغه له جواب نۀ ورکول لازم دي. " يُحَيِّكَ بِهِ اللَّهُ " د الله تعالي تحيه د سلام په لفظ سره ذکر ده. لکه وسلام علي عباده الذين اصطفي ، وسلام علي المرسلين،
احمد او بزار په جيد سند سره دعمر رضي الله عنهما نه روايت بيان کړي دي چي دسلام کولو په وخت کي به يهوديانو رسول الله صلي الله عليه وسلم ته سام عليك وئيل او بيا به يي پخپل مينځ کي وئيل چي ددي لفظ په وئيلو الله تعالي مونږ ته عذاب ولي نه راکوي .يعني که دا رسول ربښتوني وي نو دده په ګستاخئ کولو الله مونږ ته عذاب نه راکوي، نو په دي باندي کي دا ايت کريمه وَإِذَا جَآءُوكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللَّهُ وَيَقُولُونَ فِيٓ أَنفُسِهِمْ لَوْلَا يُعَذِّبُنَا اللَّهُ بِمَا نَقُولُ حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ يَصْلَوْنَهَا فَبِئْسَ الْمَصِيرُ نازل شو.

"بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللَّهُ" يهوديانو به د السلام عليکم په ځاي باندي السام عليکم وئيل او سام په معني دمرګ دي (ګويا کي دوکه به يي ورکوله او ددعا په ځاي به يي خيري کولي)

"وَيَقُوْلُوْنَ فِيْ أَنْفُسِهِمْ" يعني پخپلو زړونو كي او يا دا چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم دخوا نه چي به لاړل نوپخپل مينځ كي به يي داسي ونيل

"حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ" دوئ ته دعذاب وركولو دپاره جهنم كافي دي.

دام المومنين عائشه رضي الله عنها بيان دي چي ديهوديانو يوي ډلي د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه دراتلو اجازت اوغوښتلو اجازت چي ورته ملاؤ شو نو ويي ونيل السام عليكم ، ماچي دا لفظ واوريدو نو اومي ونيل بل السام واللعنة عليكم (يعني تاسودي هلاك شئ) نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي عائشي الله تعالي رقيق دي (يعني نرمي كونكي) او په خبرو كولو كي نرمي خوښوي ما عرض اوكړو ايا تا وانوريدل چي دوئ څه اوونيل رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ما هم داسي اوونيل . په بل روايت كي راغلي دي چي ما هم عليكم اوونيل ، دبخاري په روايت كي دي چي يهوديان د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شول او السام عليكم يي اوونيل نو رسول الله صلي الله عليه وسلم هم په جواب كي عليكم اوونيل نو عائشه رضي الله عنها صبر اونكړو او ويي ونيل **السام عليكم ولعنكم الله وغضب عليكم** رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي عائشي نرمي اختيار كړه او د سختو خبرو او فحش ګويئ نه پرهيز اوكړه عائشه رضي الله عنها عرض اوكړو ايا تا ددوئ خبري وانوريدي چي څه يي اوونيل نو رسول الله اوفرمائيل ما چي څه اوونيل ايا تا وانوريدل ما خو دهغوئ خبري هغوئ ته ورواپس كړي او زما خيري ددوئ په حق كي قبولي شوي ليكن ددوئ خيري زما په حق كي نه قبليږي.

دمسلم په روايت كي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ته فحشګو مه جوړيږه يقينا الله تعالي فحش ګويي نه خوښوي.

دابن عمر رضي الله عنهما بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كله چي يهوديان تاسو ته سلام كوي نو په دوئ كي بعضي كسان السام عليكم وائي نو تاسو هم ورته وعليك وائي (متفق علبه)

دانس رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كله چي اهل كتاب تاسو ته سلام كوي نو تاسو ورته وعليكم وائي (متفق عليه)

****

٥٩ـ بَاب وَمِنْ سُوْرَةِ الْحَشْرِ

دسورة حشر دبعضي ايتونو تفسير

٣٣٠٢ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: " حَرَّقَ رَسُوْلُ

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَخْلَ بَنِي النَّضِيرِ، وَقَطَعَ وَهِيَ الْبُوَيْرَةُ، فَأَنْزَلَ اللهُ: مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً عَلَى أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ اللهِ وَلِيُخْزِيَ الْفَاسِقِينَ (الحشر :٥ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : عبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرماني چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دبني نضير قبيلي دكجورو ونې اوسوزولي او ويې ريبلي او ددي خاي نوم بويره وو نو په همدي موقعه الله تعالي دا ايت " **مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً عَلَى أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ اللهِ وَلِيُخْزِيَ الْفَاسِقِينَ** " جرړو خپلوباندي نودابه حکم دالله تعالي سره دي اوددي دپاره چي شرمنده کړي پوره نافرمانو لره ،نازل کړو.

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي.

تشريح "ما قطعتم من لينة" يعني کومي ونې چي تاسو کټ کړي لکه چي ابو ليلي عجوه کجوري کټ کړي وي او کومي چي يي نه وي کټ کړي ولاړي يي پريخودلي وي لکه چي عبدالله بن سلام عجوه کجوري نه کټ کولي او ولاړي يي پريخودلي "لينة" دلون نه مشتق دي ددي جمع الوان راخي او دبعضو په نزد دلين نه مشتق ده (کذا في الصحاح).

بغوي ليکلي دي چي علماؤ دلينة مختلف معاني بيان کړي دي دبعضو اهل علمو قول دي چي لينة دکجورو هر قسم ونو ته ونيلي شي خو دعجوه کجورو ونې په دي کي شامل نه دي ،عکرمه او قتاده،

د زاذان په روايت سره دا قول دابن عباس رضي الله عنهما نه هم مروي دي فرمائيل يي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم عجوه کجوري پريخودلي او نوري به يي کټ کولي دعجوه کجورو نه علاوه نورو ونو ته به مديني والا الوان ونيل دمجاهد او عطيه قول دي چي بغير دتحقيق نه دهر قسم کجوري ونې ته لينة ونيلي شي ، سفيان قول دي چي په کجورو کي اعلي قسم ونو ته لينة ونيلي شي دمقاتل قول دي چي لينة د کجورو هغه قسم ونې دي کومو ميوي ته چي لون ونيلي شي او دا په رنګ کي ډيري زيړي او ښانسته ښکاري چي ګټکوري يي د دننه نه بهر ښکاري او دومره نرموالي لري چي غاښونه ورننوځي او عرب يي ډيري خوښوي ددي ديوي ونې قيمت درصيف دقيمت سره برابر وي او عربو ته رصيف ډير مرغوب وي

[1] - اورده البخاري في الجامع الصحيح /المزارعة ٤ (٢٣٥٦) . والجهاد ١٥٤ (٣٠٢٠) . والمغازي ١٤ (٣٩٦٠) . صحيح مسلم/الجهاد ١٠ (١٧٤٦) . سنن ابي داود/ الجهاد ٩١ (٢٦١٥) . سنن ابن ماجه/الجهاد (٢٨٤٤) . وسنن الدارمي/السير ٢٣ (٢٥٠٣)

"**فبإذن الله**" يعني ددي ونو کټ کول يانه کټ کول دي لره ولاړ پريخودل ټول دالله تعالي په اجازت سره دي يعني په دي کي هيڅ ګناه نشته، بخاري دابن عمر رضي الله عنهما نه روايت بيان کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دبني نضير دکجورو باغونه اوسوزول او کټ يي کړلي او دي کټ کړي شوو او سوزولي شوو ونو ته به بوئيره ونيلي کيدل (بويرة د بائرة تصغير دي او دبائره معني تباه کړي شوي ده او ددي ماده بور راخي)

ابو يعلي په ضعيف سند سره دجابر رضي الله عنه نه روايت بيان کړي دي چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم په اجازت سره دکجورو وني کټ کړي شوي وي بيا يي دبني نضير سره زياته سختي وکړه نوصحابه کرامو عرض اوکړو اي دالله رسوله مونږ څه وني کټ کړي دي او څه مو پريخودلي دي ايا په دي کي به څه ګناه وي؟ نو په دي باره کي دا ايت نازل شو.

"**ليخزي الفاسقين**" يعني دکټ کولو په اجازت ورکولو سره دالله تعالي مقصود ديهوديانو ذليل کول وو.

مسئله: ددي ايت په رڼا کي امام ابو حنيفه فرمائيلي دي که چري مسلمان حاکم دکافرانو کومه قلا محاصره کړي نو دهغه ځاي دونو کټ کول او فصلونه بربادول او کورونه ورانول او هغي ته اور اچول جائز دي دابن همام قول دي دا جواز په هغه وخت کي دي کله چي ددينه بغير کافران مغلوب کيدي نشي او نه ګرفتار کيدي شي ليکن که دا ګمان غالب وو چي کافران ددينه بغير هم مغلوب کيدي شي او مسلمانان فتح حاصلولي شي نو اور اچول او بوټي ويستل او نوره تباهي کول جائز نه دي ځکه چي په دي صورت کي دي تباکارئ ته ضرورت نشته او اجازت دضرورت مطابق وو.

دامام احمد قول دي چي دا کار په دوه شرطونو کي په يو شرط سره جائز دي يو شرط خو دادي چي کافرانو هم زمونږ سره داسي سلوک کړي وي دويم دادي چي زمونږ دپاره وني کټ کول ځکه ضروري دي چي دکافرانو سره جنګ او مقابله ددينه بغير ګرانه ده دامام شافعي قول دي چي دکافرانو کورونه ورانول او وني ويستل او تباه کول دجنګي ضرورت په بنا جائز دي او دا عمل په هغه صورت کي هم جائز دي کله چي دفتح اميد نه وي او که دکاميابئ اميد وي نو داسي نه کول مستحب دي، زير تفسير ايت او ذکر شوي دواړه حديثونه دونو کټ کولو لره جائز ګرځوي.

امام احمد داسامه بن زيد بيان نقل کړی دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زه يو کلي ته وليږلم او راته يي اوفرمائيل چي دسباکيدو په وخت کي به هلته ځان ورسوي او اور به واچوي ، ابن جوزي دخپل مسلک په استدلال کي ونيلي دي چي زمونږ داصحابو روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به کله کومه فوجي دسته چرته ليږله نو ورته به يي فرمائيل چي وني به

نه خرابوئ او علاوه دهغه ونو نه کومي چي په جنګ کي رکاوټ پيدا کوي نوري به نه بربادوئ؛ پاتي شو مذکوره دوه حديثونه يعني دابن عمر حديث او داسامه بن زيد حديث نو ددي مطلب هغه دي کوم چي مونږ بيان کړو ،يعني صرف دجنګي ضرورت په وجه دا کار جائز ګرځولي شوي دي، مګر دومره خبره ضرور ده چي رسول الله صلي الله عليه وسلم کله دونو کټ کولو حکم کړي وو په هغه وخت کي دغالب کيدو قوي ګمان نه وو او ايت کريمه "ما ظننتم ان يخرجوا وظنوا انهم مانعتهم حصونهم" هم په دي باندي دلالت کوي .
امام احمد چي دقطع اشجار دممانعت په سلسله کي کوم حديث نقل کړي دي که دا صحيح هم ثابت شي خو بيا هم دقراني ايت په مقابله کي دا معمول بها نشي ګرځيدي ايت خو جواز دقطع لره مستلزم دي،علامه بغوي ليکلي دي کله چي بني نضير کورونه او زمکي پريخودي او لاړل نو دخيردغنيمت دمال پشان مسلمانانو ددوئ متروکه زمکو او کورونو دتقسيمولو خواهش اوکړو نو په دي باره کي لاتديني ايت نازل شو .(قاضي ثناء الله پاني پتي)

****

٣٣٠٣ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الزَّعْفَرَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَفَّانُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، حَدَّثَنَا حَبِيبُ بْنُ أَبِي عَمْرَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، فِي قَوْلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ: مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً عَلَى أُصُولِهَا (الحشر :٥. قَالَ: اللِّينَةُ: النَّخْلَةُ وَلِيُخْزِيَ الْفَاسِقِينَ (الحشر :٥. قَالَ: اسْتَنْزَلُوهُمْ مِنْ حُصُونِهِمْ. قَالَ: وَأُمِرُوا بِقَطْعِ النَّخْلِ، فَحَكَّ فِي صُدُورِهِمْ، فَقَالَ الْمُسْلِمُونَ: قَدْ قَطَعْنَا بَعْضًا وَتَرَكْنَا بَعْضًا، فَلَنَسْأَلَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ لَنَا فِيمَا قَطَعْنَا مِنْ أَجْرٍ، وَهَلْ عَلَيْنَا فِيمَا تَرَكْنَا مِنْ وِزْرٍ؟ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً عَلَى أُصُولِهَا (الحشر :٥ الاية". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.
وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي عَمْرَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ مُرْسَلًا، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، حَدَّثَنِي بِذَلِكَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، عَنْ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي عَمْرَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا. قَالَ أَبُو عِيسَى: سَمِعَ مِنِّي مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ هَذَا الْحَدِيثَ.[1]

ترجمه : عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دايت کريمه " مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا

---
[1] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ٥٤٨٨)

قَآئِمَةً عَلَىٰٓ أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ اللَّهِ وَلِيُخْزِيَ الْفَاسِقِينَ " په تفسير کي فرمائي چي د "لينة" نه مراد دکجوري ونه ده او د "وليخزي الفاسقين" بارد کي فرمائي ددوئ ذلت همدا دي چي مسلمانانو دوئ لره دخپلو قلاګانو نه اوشړل او باغونه يې اوسوزول او ويې ويستل نو ددوئ په زړه کي دا خبري ګرځيدلي مسلمانانو اوونيل مونږ بعضي وني ويستلي دي او بعضي مو پريخودلي دي پکار داده چي درسول الله نه تپوس اوکړو چي مونږ کومي وني ريبلي دي ايا مونږ ته به ددي اجر اوثواب ملاويږي او کنه او چي کومي وني مونږ نه دي ريبلي ايا ددي به مونږ ته عذاب راکولي شي او کنه نو الله تعالي دا ايت کريمه نازل کړو " مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَآئِمَةً عَلَىٰٓ أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ اللَّهِ وَلِيُخْزِيَ الْفَاسِقِينَ".

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي.

****

٣٣٠٤_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ فُضَيْلِ بْنِ غَزْوَانَ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ بَاتَ بِهِ ضَيْفٌ فَلَمْ يَكُنْ عِنْدَهُ إِلَّا قُوتُهُ وَقُوتُ صِبْيَانِهِ، فَقَالَ لِامْرَأَتِهِ: نَوِّمِي الصِّبْيَةَ، وَأَطْفِئِي السِّرَاجَ، وَقَرِّبِي لِلضَّيْفِ مَا عِنْدَكِ. فَنَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ (الحشر: ٩". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي يو انصاري ته دشپي يو ميلمه راغي او دانصاري سره صرف دومره خوراك وو چي دده او دده دبچو دپاره کافي کيدو نو هغه خپلي ښځي ته اوونيل داسي اوکړه چي واړه په څه طريقه اوده کړه او خوراك خوړلو دپاره چي کينو نوچراغ مړ کړه او چي څومره خوراك موجود وي هغه ميلمه ته پيش کړه نو په دي باره کي دا ايت کريمه " وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ " نازل شو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح: دصحابه کرامو په ژوندګئ کي دايثارصرف دا يوه واقعه نه ده بلکه دهغوئ ژوندګي دداسي واقعاتو نه ډکه ده علامه قرطبي د "ويوثرون علي انفسهم ولوکان بهم خصاصة" په تفسير کي ډير داسي واقعات جمع کړي دي

سوال پداسي قسم واقعاتو يو مشهور سوال وارديږي هغه دادی چي رسول الله صلي الله عليه

1 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح مناقب الأنصار ١٠ (٣٧٩٨) . وتفسير سورة الحشر ٦ (٤٨٨٩) . صحيح مسلم/الأشربة ٣٢ (٢٠٥٤) (تحفة الأشراف : ١٣٤١٩)

وسلم پوره مال په صدقه کې دورکولو نه منع فرمائيلي ده لکه چې په يو روايت کې راځي چې يو کس د هگۍ په مقدار دسرو زرو يوه ټوټه رسول الله ته په صدقه کې ورکړه نو رسول الله اوغورځوله او ويې فرمائيل په تاسو کې بعضې کسان خپل ټول مال صدقه کوي او بيا پخپله محتاج شي او دخلقو نه سوال کوي

جواب دادی چې دخلقو حالات مختلف وي دټول مال دصدقه کولو ممانعت دهغه خلقو دپاره دی څوك چې په فقر صبر نشي کولی او سوال کول شروع کوي. او کچرې دوی عظم او همت والاوي نو بياخو ټول مال صدقه کولی شي او په دې کې څه حرج نشته لکه چې ابوبکر صديق رضي الله عنه دتبوك په موقعه خپل ټول مال رسول الله ته پيش کړو او ورنه قبول يې کړو ددې پشان نور هم ډير واقعات موجود دي او رسول الله چې ممانعت فرمائيلی دی دا دهغه خلقو دپاره دی څوك چې صبر نشي کولی

****

٦٠ـ باب وَمِنْ سُورَةِ الْمُمْتَحَنَةِ

دسورة الممتحنه دبعضي ايتونو تفسير

٣٣٠٥ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ. عَنِ الْحَسَنِ بْنِ مُحَمَّدٍ هُوَ ابْنُ الْحَنَفِيَّةِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ. قَالَ: سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ. يَقُولُ: "بَعَثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَالزُّبَيْرَ. وَالْمِقْدَادَ بْنَ الأَسْوَدِ. فَقَالَ: "انْطَلِقُوا حَتَّى تَأْتُوا رَوْضَةَ خَاخٍ. فَإِنَّ فِيهَا ظَعِينَةً مَعَهَا كِتَابٌ فَخُذُوهُ مِنْهَا فَأْتُونِي بِهِ". فَخَرَجْنَا تَتَعَادَى بِنَا خَيْلُنَا حَتَّى أَتَيْنَا الرَّوْضَةَ فَإِذَا نَحْنُ بِالظَّعِينَةِ. فَقُلْنَا: أَخْرِجِي الْكِتَابَ. فَقَالَتْ: مَا مَعِي مِنْ كِتَابٍ. فَقُلْنَا: لَتُخْرِجِنَّ الْكِتَابَ أَوْ لَتُلْقِيَنَّ الثِّيَابَ. قَالَ: فَأَخْرَجَتْهُ مِنْ عِقَاصِهَا. قَالَ: فَأَتَيْنَا بِهِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَإِذَا هُوَ مِنْ حَاطِبِ بْنِ أَبِي بَلْتَعَةَ إِلَى نَاسٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ بِمَكَّةَ يُخْبِرُهُمْ بِبَعْضِ أَمْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: "مَا هَذَا يَا حَاطِبُ؟" قَالَ: لَا تَعْجَلْ عَلَيَّ يَا رَسُولَ اللَّهِ. إِنِّي كُنْتُ امْرَأً مُلْصَقًا فِي قُرَيْشٍ وَلَمْ أَكُنْ مِنْ أَنْفُسِهَا. وَكَانَ مَنْ مَعَكَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ لَهُمْ قَرَابَاتٌ يَحْمُونَ بِهَا أَهْلِيهِمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِمَكَّةَ. فَأَحْبَبْتُ إِذْ فَاتَنِي ذَلِكَ مِنْ نَسَبٍ فِيهِمْ أَنْ أَتَّخِذَ فِيهِمْ يَدًا يَحْمُونَ بِهَا قَرَابَتِي. وَمَا فَعَلْتُ ذَلِكَ كُفْرًا وَلَا ارْتِدَادًا عَنْ دِينِي وَلَا رِضًا بِالْكُفْرِ بَعْدَ الإِسْلَامِ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "صَدَقَ". فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: دَعْنِي يَا رَسُولَ اللَّهِ أَضْرِبْ عُنُقَ هَذَا الْمُنَافِقِ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّهُ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا، فَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ اللَّهَ اطَّلَعَ عَلَى أَهْلِ بَدْرٍ". فَقَالَ: "اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ". قَالَ: وَفِيهِ أُنْزِلَتْ هَذِهِ السُّورَةُ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ السُّورَةَ". قَالَ عَمْرٌو: وَقَدْ رَأَيْتُ ابْنَ أَبِي رَافِعٍ، وَكَانَ كَاتِبًا لِعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ. هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَفِيهِ عَنْ عُمَرَ وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، وَرَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عُيَيْنَةَ هَذَا الْحَدِيثَ، نَحْوَ هَذَا، وَذَكَرُوا هَذَا الْحَرْفَ، وَقَالُوا: لَتُخْرِجِنَّ الْكِتَابَ أَوْ لَتُلْقِيَنَّ الثِّيَابَ، وَقَدْ رُوِيَ أَيْضًا عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ، عَنْ عَلِيٍّ نَحْوَ هَذَا الْحَدِيثِ، ذَكَرَ بَعْضُهُمْ فِيهِ، فَقَالَ لَتُخْرِجِنَّ الْكِتَابَ أَوْ لَنُجَرِّدَنَّكِ. ([1])

ترجمه : دعلي ﷺنه روايت دی فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زه اوزبير اومقداد اوليږلو او ويې وئيل: تاسو لاړ شئ تردي چي روضه خاخ ته اورسئ اوهلته داوښ په كجاوه كې يوه ښځه ناسته ده اودهغي سره يوخط دی هغه دهغي نه واخلئ او ماته يي راوړئ، مونږه خپل اسونه وزغلول تردي چي روضه خاخ ته اورسيدو اوپه كجاوه كې موهغه ښځه اومنده مونږورته اووئيل خط را اوباسه هغي اووئيل زماسره هيڅ خط نشته ماورته اووئيل خامخابه خط رااوباسي اوكه نه نو مونږ به دي بربنډه كړو نوهغي دخپلوكمسونه خط رااوويستو اوهغه خط مونږه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راوړو اوپه هغه خط كې دحاطب بن ابي بلتعه دطرف نه دمكې مشركينوته درسول الله صلي الله عليه وسلم دجنګي حالاتو معلومات ليكلی شوي وو نورسول الله صلي الله عليه وسلم حاطب راوغوښتو او ورته يې اووئيل دا څه دي اي حاطب حاطب اووئيل اي دالله رسوله ماته په سزاراكولوكې جلتي اونه كړي زه يوداسې سړی يم چي دقريشو حليف يم اودهغوي په مذهب نه يم كوم خلق چي قريشيان دي په مكه كې دهغوي رشته دار اوسيږي دمكې مشركان دهغوي درشته دارئ په وجه باندي ددوي دمال او داهل عيال نګراني كوي چونكه زماددوي سره څه رشته داري نشته نومااوغوښتل چي زه ددوي دپاره څه داسې كار اوكړم چي دهغې په وجه باندي دمكې مشركان زمادښځي اوبچو حفاظت اوكړي اي دالله رسوله په الله مې دي قسم وي ماداكار دكفر اودمرتد كيدوپه وجه باندي نه دی كړی رسول الله صلي الله عليه وسلم چي دا واوريدل نوويې فرمائيل حاطب رښتيااووئيل عمرﷺعرض اوكړو چي ماته ددي منافق دڅټ دوهلو اجازت راكړه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دی خوپه غزوه بدركې شريك شوی وو تاته څه پته ده چي الله تعالي د اهل

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح/الجهاد ١٢١ (٢٨٠٠)، والمغازي ٩ (٣٩٨٣)، وتفسير سورة الممتحنة ١ (٤٨٩٠)، صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٣٦ (٢٤٩٤) (تحفة الأشراف: ١٠٢٢٧)، ومسند احمد (١/٧٩)

بدې باره کې فرمائيلي دي چې څه موخوښه وي هغه کوئ ماتاسوته بخنه کړي ده. دحديث راوي وائي ما عبدالله بن ابو رافع ليدلي دي او هغه دعلي رضي الله عنه کاتب وو.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي دا رنګې ډيرو راويانو داحديث دسفيان بن عيينه نه نقل کړي دي او ټولو همدالفظ ذکر کړي دي چې علي او زبير رضي الله عنهما وغيره اوونيل ته به خامخا خط راوباسي او کنه نو بيا به درنه جامې اوباسو. دابوعبدالرحمن سلمي نه هم داحديث مروي دي هغوئ دعلي رضي الله عنه نه ددي هم معنې روايت نقل کړي دي. او په دي باب کې دعمر او جابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي او بعضو دا ذکر کړي دي چې هغوئ اوونيل ته به خط اوباسې او کنه نو مونږ به دي بربنډه کړو.

****

٣٣٠٦_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: " مَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْتَحِنُ إِلَّا بِالآيَةِ الَّتِي قَالَ اللَّهُ: إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ (الممتحنة :١٢ الاية " قَالَ مَعْمَرٌ، فَأَخْبَرَنِي ابْنُ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: " مَا مَسَّتْ يَدُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَ امْرَأَةٍ إِلَّا امْرَأَةً يَمْلِكُهَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به دچا امتحان اخستل نه غوښتل مګر ددي ايت په وجه به يي اخستلو "اذا جائك المؤمنات يبايعنك" الخ. معمر وائي ابن طاوس ماته دخپل پلار نه روايت بيان کړي دي چې دده پلار وئيل درسول الله صلى الله عليه وسلم لاس علاوه دهغه ښځې نه چې دي يي مالک وي په بل چا نه دي لګيدلي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٣٠٧_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الشَّيْبَانِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ شَهْرَ بْنَ حَوْشَبٍ، قَالَ: حَدَّثَتْنَا أُمُّ سَلَمَةَ الأَنْصَارِيَّةُ، قَالَتْ: قَالَتِ امْرَأَةٌ مِنَ النِّسْوَةِ: مَا هَذَا الْمَعْرُوفُ الَّذِي لَا يَنْبَغِي لَنَا أَنْ نَعْصِيَكَ فِيهِ؟ قَالَ: " لَا تَنُحْنَ ". قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ بَنِي فُلَانٍ قَدْ أَسْعَدُونِي عَلَى عَمِّي، وَلَا بُدَّ لِي مِنْ قَضَائِهِنَّ، فَأَبَى عَلَيَّ، فَعَاتَبْتُهُ مِرَارًا، فَأَذِنَ لِي فِي قَضَائِهِنَّ، فَلَمْ

1 ـ تفرد به المؤلف. وانظر: اورده البخاري في الجامع الصحيح الأحكام ٤٩ (٧٢١٤) (تحفة الأشراف: ١٦٦٣٠)

أَنْ أُنْكَحُ بَعْدَ قَضَائِهِنَّ وَلَا عَلَى غَيْرِهِ حَتَّى السَّاعَةَ. وَلَمْ يَبْقَ مِنَ النِّسْوَةِ امْرَأَةٌ إِلَّا وَقَدْ نَاحَتْ غَيْرِي. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. وَفِيهِ عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا. قَالَ عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ: أُمُّ سَلَمَةَ الْأَنْصَارِيَّةُ هِيَ أَسْمَاءُ بِنْتُ يَزِيدَ بْنِ السَّكَنِ. (1)

ترجمه: دام سلمه انصاريه بيان دي فرمائي چي په ښخو کي يوې ښخي عرض اوکړو اي دالله رسوله دهغه معروف (نيکي) نه څه مراد دي په کومه کي چي مونږ لره ستانافرماني کول ښکار نه دي رسول الله اوفرمائيل هغه همدا ده چي تاسو به دچاپه مرګ وير نه کوئ ما اووئيل اي دالله رسوله دفلانئ قبيلي ښځو خو په مړي باندي په وير کولو کي زما مدد کړي وو کله چي ما پخپل تره باندي وير کولو نو اوس په دي وجه زما دپاره ضروري ده چي کله په هغوئ باندي دوير وخت راشي چي زه هم ورسره په وير کي شريکه شم او دهغوئ بدل پوره کړم مګر رسول الله انکار اوکړو او ماته يي اجازت رانکړو ما يو څو پيري خپل عرض تکرار کړو نورسول الله ماته دهغوئ د بدل خلاصولو اجازت راکړو ددي بدل خلاصولو نه پس ما بيا نه په دوئ باندي او نه په کوم بل مړي باندي وير کړي دي اوس دقيامت دورځي پوري زما نه علاوه کومه بله ښځه داسي باقي نه ده پاتي چاچي په مړي باندي وير نه وي کړي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن دي ، او په دي باب کي دام عطيه رضي الله عنها نه هم روايت وارد دي، عبد بن حميد وائي دام سلمه انصاريه نوم اسماء بنت يزيد بن السکن دي.

****

٣٣٠٨_حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ شَبِيبٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ الْفِرْيَابِيُّ، حَدَّثَنَا قَيْسُ بْنُ الرَّبِيعِ، عَنِ الْأَغَرِّ بْنِ الصَّبَّاحِ، عَنْ خَلِيفَةَ بْنِ حُصَيْنٍ، عَنْ أَبِي نَصْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: "إِذَا جَاءَكُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ فَامْتَحِنُوهُنَّ (الممتحنة :١٠، قَالَ: كَانَتِ الْمَرْأَةُ إِذَا جَاءَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِتُسْلِمَ حَلَّفَهَا بِاللَّهِ مَا خَرَجْتُ مِنْ بُغْضِ زَوْجِي مَا خَرَجْتُ إِلَّا حُبًّا لِلَّهِ وَلِرَسُولِهِ".
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. (2)

ترجمه دابن عباس رضي الله عنهما نه دايت کريمه " إِذَا جَاءَكُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ فَامْتَحِنُوهُنَّ" په تفسير کي مروي دي کله چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم ته کومه ښځه دايمان راوړلو دپاره راغله نو رسول الله به ورته قسم ورکولو ، (او دي ښځي به قسم کولو) چي

[1] _ سنن ابن ماجه/الجنائز ٥١ (١٥٧٩) (١٥٧٩١)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: لم يورده في ترجمة أبي نصر عن ابن عباس)

زه دخپل خاوند نه دخفګان په وجه دکفر نه نه يم وتلي بلکه زما دالله او درسول سره دمحبت په وجه داسلام قبلولو دپاره راغلي يم.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي.

****

٦١ـ باب وَمِنْ سُورَةِ الصَّفِّ

دسورة الصف دبعضي ايتونو تفسير

٣٣٠٩ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، عَنِ الأَوْزَاعِيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلاَمٍ، قَالَ: قَعَدْنَا نَفَرٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَذَاكَرْنَا، فَقُلْنَا: لَوْ نَعْلَمُ أَيَّ الأَعْمَالِ أَحَبَّ إِلَى اللَّهِ لَعَمِلْنَاهُ. فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: " سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ١ يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ (الصف: ١-٢) ". قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلاَمٍ: فَقَرَأَهَا عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو سَلَمَةَ: فَقَرَأَهَا عَلَيْنَا ابْنُ سَلاَمٍ. قَالَ يَحْيَى: فَقَرَأَهَا عَلَيْنَا أَبُو سَلَمَةَ. قَالَ ابْنُ كَثِيرٍ: فَقَرَأَهَا عَلَيْنَا الأَوْزَاعِيُّ. قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: فَقَرَأَهَا عَلَيْنَا ابْنُ كَثِيرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ خُولِفَ مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ فِي إِسْنَادِ هَذَا الْحَدِيثِ عَنِ الأَوْزَاعِيِّ. وَرَوَى ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنِ الأَوْزَاعِيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ هِلاَلِ بْنِ أَبِي مَيْمُونَةَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلاَمٍ، أَوْ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلاَمٍ. وَرَوَى الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ الأَوْزَاعِيِّ، نَحْوَ رِوَايَةِ مُحَمَّدِ بْنِ كَثِيرٍ. [1]

ترجمه دعبدالله بن سلام رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي مونږ يو څو صحابه كرام ناست وو او خپل مينځ كي مو خبري كولي دي وخت كي مونږ اووئيل كچري مونږ ته معلومه وي چي كوم يو عمل الله ته ډير محبوب دي نو مونږ به وربانديې ضرور عمل كړي وو دي وخت كي الله تعالي دا ايت كريمه سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ١ يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ " پاكي وائي الله تعالي لره هغه څيزونه چي په اسمانونو كي دي اوهغه څيزونه چي په زمكه كي دي اوخاص الله تعالي زورور اوحكمتونووالادي . اي ايمان والوولي وائي په ژبه هغه خبري چي نه ئي كوئ په عمل كي،، عبدالله بن سلام وائي چي دا

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٣٢٠)

سورة مونږ ته رسول الله صلي الله عليه واورولو. ابو سلمه وائي داسورة زمونږ په وړاندي عبدالله بن سلام تلاوت کړو او يحي وائي داسورة زمونږ په وړاندي ابوسلمه تلاوت کړو او محمد بن کثير وائي دا سورة مونږ ته اوزاعي بيان کړو او عبدالله وائي داسورة مونږ ته ابن کثير واورولو. امام ترمذي وائي داوزاعي نه ددي حديث په نقل کولو کي دمحمد بن کثير مخالفت شوي دي ،ددي تفصيل دادي، ابن مبارك د اوزاعي نه او هغه ديحي بن کثير نه او هغه دبلال بن ابو ميمونه نه او هغه دعطاء بن يسار نه او هغه ه‌عبدالله بن سلام يا ابو سلمه په واسطه دعبدالله بن سلام نه نقل کړي دي. او وليد بن مسلم داوزاعي نه دا حديث ددي هم معني بيان کړي دي څنګه چي محمد بن کثير نقل کړي دي.

تشريح: قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله د ايت کريمه سبح لله مافي السموات الخ په تفسير کي ليکلي دي. ابن جرير دعلي په سند سره هم دابن عباس رضي الله عنهما دا قول نقل کړي دي.

ابن ابي حاتم دعکرمه په سند سره دابن عباس رضي الله عنهما دا قول نقل کړي دي اودضحاك قول يي هم نقل کړي دي چي ايت کريمه "لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ" دهغه چاپه باره کي نازل شوي دي چي په جهاد کي يي نه توره استعمال کړي وه اونه برچي اونه يي دشمن قتل کړي وو . ابن ابي حاتم دمقاتل قول نقل کړي دي چي داحد په جنګ کي چي څوك تختيدلي وو دهغوئ متعلق ددي ايت نزول شوي دي ، دمحمد بن کعب قول دي کله چي الله تعالي دشرکاء بدر ثواب بيان کړو نوصحابه کرامو ووئيل که چرې په ائنده کي مونږ دجنګ موقع ملاو شوه نو مونږ به خپل تمام طاقت استعمالوو ليکن کله چي جنګ احد راغي نو دوئ وتختيدل نو الله تعالي دوئ ته دپيغور ورکولو دپاره دا ايت نازل کړوو ، دابن زيد قول دي چي دا ايت دمنافقانو په حق کي نازل شوي دي چي دمسلمانانو سره به يې دمدد کولو وعدي کولي مګر وو دروغژن،وعدي به يي نه پوره کولي.

د عبدالله بن سلام رضي الله عنه حالات

نوم عبدالله کنيه ابو يوسف لقب حبر دمديني په يهودو کي دبني قنقاع قبيلي سره يي تعلق دی دده دنسب سلسله يوسف عليه السلام ته رسيدلي وه دجاهليت په زمانه کي دده نوم حصين وو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورباندي عبدالله نوم کيخودو .

کله چي مديني ته راغى نو يو څو سوالات يي اوکړل او دايي هم اووئيل چي دنبي نه علاوه بل څوك ددي سوالاتو جواب نشي کولي او بيا ددينه پس مسلمان شو په بدر او احد کي دده دشرکت باره کي اختلاف وو مګر په خندق کي په اتفاق سره شريك شوی وو.

علامه ذهبي دده په باره کي داسي ليکلي دي:

كان عبدالله بن سلام عالم اهل الكتاب وفاضلهم في زمانه بالمدينه (تذكرة الحفاظ) رسول الله صلي الله عليه وسلم دده په باره کې فرمائيلي دي عاشر عشرة في الجنة (ترمذي).
ددينه علاوه انتهائي تواضع والاانسان يو خل خلقو ليدلی وو چې دلرګو ګيدی يې پښا وو چا ورنه تپوس اوکړو چې دا ولي نو ويې فرمائيل چې دځپل کبر او غرور دختمولو دپاره داسې کوم . امير معاويه رضي الله عنه په زمانه کې په ۴۳هجري کې په مدينه کې وفات شو ۱۲۵احاديث ورنه منقول دي.

****

٦٢_باب وَمِنْ سُورَةِ الْجُمُعَةِ

دسورة جمعه دبعضي ايتونو تفسير

۳۳۱۰_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ. أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ جَعْفَرٍ. حَدَّثَنِي ثَوْرُ بْنُ زَيْدٍ الدِّيلِيُّ. عَنْ أَبِي الْغَيْثِ. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ: كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ أُنْزِلَتْ سُورَةُ الْجُمُعَةِ فَتَلَاهَا. فَلَمَّا بَلَغَ: وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ (الجمعة :۳. قَالَ لَهُ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ. مَنْ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِنَا؟ فَلَمْ يُكَلِّمْهُ. قَالَ: وَسَلْمَانُ الْفَارِسِيُّ فِينَا. قَالَ: فَوَضَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ عَلَى سَلْمَانَ. فَقَالَ: " وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ كَانَ الإِيمَانُ بِالثُّرَيَّا لَتَنَاوَلَهُ رِجَالٌ مِنْ هَؤُلَاءِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. وَعَبْدُ اللهِ بْنُ جَعْفَرٍ هُوَ وَالِدُ عَلِيِّ بْنِ الْمَدِينِيِّ ضَعَّفَهُ يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ. وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ. ثَوْرُ بْنُ زَيْدٍ مَدَنِيٌّ. وَثَوْرُ بْنُ يَزِيدَ شَامِيٌّ. وَأَبُو الْغَيْثِ اسْمُهُ سَالِمٌ مَوْلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ مُطِيعٍ مَدَنِيٌّ ثِقَةٌ. (1)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي کله چې سورة جمعه نازل شو مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره موجود وو، رسول الله ددي تلاوت اوکړو هر کله چې **وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ** " اونور خلق(وروسته) ددوئ نه چې نه دي رسيدلي هغوئ ته په مرتبه کې، ته ورسيدو نو يو کس ورنه تپوس اوکړو اي دالله رسوله دا خلق څوك دي کوم چې تر اوسه پورې مونږ سره مخامخ شوي نه دي؟ (رسول الله خاموش شو) دده سره يې څه خبري اونکړي سلمان

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير الجمعة (۴۸۹۷) . صحيح مسلم /فضائل الصحابة ۵۹ (۲۵۴۶/۲۳۱) (تحفة الأشراف : ۱۲۹۱۷)

فارسي رضي الله عنه زمونږ په مينځ کي موجود وو نو رسول الله خپل لاس په سلمان کيخودو او ويي فرمائيل زما دي په هغه ذات قسم وي دچا په لاس کي چي زما روح دي که ايمان سريه ستوري ته ختلي وي نو بيا به هم دي خلقو دهغه ځاي نه حاصل کړي وو او ددوئ قوم به حاصل کړي وو.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي او عبدالله بن جعفر دعلي بن المديني پلار وو يحي بن معين دده تضعيف کړي دي، ثور بن زيد مدني دي او ثور بن يزيد شامل دي او د ابو الغيث نوم سالم دي دي دعبدالله بن مطيع ازاد کړي غلام دي دمديني اوسيدونکي او ثقه دي داحديث دابوهريره په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه په نورو سندونو هم مروي دي او په همدي بنياد دا حديث صحيح دي.
تشريح:... "**واخرين منهم**" دا جمله د يعلمهم په مفعول ضمير عطف ده يعني ددي خلقو نه علاوه نورو خلقو ته هم تعليم ورکوي او دا خلق هم داولنو خلقو نه دي يعني دهغوئ هم مذهب دي او دهغوئ په لار تلونکي دي دعکرمه او مقاتل قول دي داخرين نه مراد تابعين دي دابن زيد قول دي ددينه هغه تمام خلق مراد دي کوم چي دقيامت دورخي پوري داسلام په دائره کي داخليدونکي دي. دابن نجيح په روايت کي مجاهد ته هم ددي قول نسبت شوي دي ليکن دعمرو بن سعيد بن جبير او ليث په روايت کي دمجاهد قول ذکر شوي دي چي ددينه مراد عجميان دي ځکه چي ابوهريره رضي الله عنه فرمائيلي دي مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره ناست وو او سلمان فارسي رضي الله عنه هم زمونږ سره وو چي په دي وخت کي سورة جمعه نازل شو رسول الله چي کله ايت "منهم لما يلحقوا بهم" تلاوت کړو نو يو کس تپوس اوکړو اي دالله رسوله دا خلق به څوك وي نو رسول الله خپله خبره تکرار کړه او ده ته يي څه جواب ورنکړو څو دي کس چي دوه يا دري پيري سوال اوکړو نو په سلمان فارسي رسول الله لاس کيخودو او ويي فرمائيل که ايمان په ثريا (اسمان) کي وي نو بيا به هم په اهل فارس کي څوك خان ورورسوي او دي لره به بيامومي
زه وايم دا حديث په دي خبره دلالت کوي چي بعضي فارسيان کسان به هم د داسي فضائلو حاملين وي چي شمار به يي په هغه چاڼ کړي شوو خلقو کي وي کوم چي په ايت واخرين منهم کي مراد دي دايت دعموم تقاضا دانه ده چي صرف اهل فارس دي مراد وي . رسول الله چي "رجال من هولاء ابناء فارس اوفرمائيل شايد چي ددينه به يي مراد دنقش بندي سلسلي اکابر وي چي اوسيدونکي دبخارا او سمرقند وو او په طريقت کي يي نسبت سلمان فارسي ته کيدو ځکه چي ددوئ انتساب جعفر صادق ته شوي دي او دجعفر تعلق دقاسم بن محمد سره دي او

دقاسم نسبت سلمان ته شوي دي او دسلمان دتعلق طريقه دابوبكر رضي الله عنه سره ده او دابو بكر رضي الله عنه تعلق درسول الله صلي الله عليه وسلم سره وو .

"لما يلحقوا بهم" يعني راتلونكو خلقو دوئ يعني صحابه كرامو ته لا وس نه دي موندلي (يعني اوس دوئ نه دي پيدا شوي ليكن دصحابه كرامو نه پس به پيدا كيږي) يا دا مطلب دي چي په فضيلت او ثواب كي دصحابه كرامو درجي ته نشي رسيدلي تابعين او ددوئ نه پس راتلونكي خلق دصحابه كرامو مرتبي ته نشي رسيدلي ارشاد نبوي دي زما دصحابه كرامو بد مه وائي كه چري په تاسو كي څوك دالله په لار كي داحد دغر برابر سره زر خرج كړي نو دصحابه كرامو ديو سير يا دنيم سير دخرچ كولو سره به برابر نه وي (متفق عليه من حديث ابي سعيد).

په دي تشريح دا اعتراض كيدي شي چي لما په نفي دماضي او توقع دمستقبل دلالت كوي كه چري دمرتبي دمساوات نفي مقصود وي نو دمضارع منفي صيغه به يي استعمال كړي وه خكه چي دمذكوره صورت په بنا به مطلب دا وي چي دا خلق اوس د صحابه كرامو مرتبي ته نه دي رسيدلي مگر په اينده كي اميد شته او كه مضارع صيغه ذكر شوي وي نو بيا دا مطلب كيدو چي راتلونكي خلق صحابه كرامو ته نشي رسيدلي ، ددي جواب دا كيدي شي چي په ماضي كي نفي دلحوق تحقق داكثريت په لحاظ سره وي او په مستقبل كي توقع دلحوق دبعضي افرادو په لحاظ سره وي يعني اميد دي چي راتلونكي بعضي كسان اگر كه زر كاله پس راشي خو داتباع درسول دپابندئ په وجه به دقرن اول درجي ته رسيږي.

ارشاد نبوي دي زما دامت مثال دباران پشان دي دا معلومه نه وي چي ددي اوله حصه بهتره ده او كه اخري حصه يا يي مثال دهغه باغ پشان دي چي يوكال يي يوي حصي ميوي نيولي وي او بل كال يي بلي حصي ميوي نيولي وي نو شايد داخري كال حصه به زياته اوږده او بنائسته وي (رواه رزين) (مظهري)

****

٣٣١١_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ. حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ. أَخْبَرَنَا حُصَيْنٌ. عَنْ أَبِي سُفْيَانَ. عَنْ جَابِرٍ قَالَ: بَيْنَمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ قَائِمًا إِذْ قَدِمَتْ عِيرُ الْمَدِينَةِ. فَابْتَدَرَهَا أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى لَمْ يَبْقَ مِنْهُمْ إِلَّا اثْنَا عَشَرَ رَجُلًا فِيهِمْ أَبُو بَكْرٍ. وَعُمَرُ وَنَزَلَتِ الْآيَةَ: وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا (الجمعة :١١)". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ. حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ. أَخْبَرَنَا حُصَيْنٌ. عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ. عَنْ جَابِرٍ. عَنِ

النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. بِنَحْوِهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دجابر رضي الله عنه بيان دي كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دجمعي په ورخ دخطبي وركولو دپاره اودريدو دي وخت كي دمديني تجارتي قافله راغله ددي خبر په اوريدو صحابه كرامو هم خطبه پريخوده او اخوا ديخوا يي منده كړل صرف دولس كسان پاتي شول په كومو كي چي ابوبكر او عمر رضي الله عنهما هم شامل وو نو په همدي موقعه دا ايت كريمه " وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا " اوهركله چي دوئ اووينى تجارت يالوبي نورروان شي دوئ هغي ته اوبريگدي تالره ولاړ، نازل شو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح: اول يي تجارت او لهو دوه الفاظ ذكر كړل او بيايي تجارت ته اليها ضمير راجع كړو ددي وجه داده چي دا ددي خبري نه كنايه ده چي اصل مقصد تجارت وو ځكه چي دلهو نه مراد لوبي نه دي بلكه هغه طبل مقصود دي كوم چي به دقافلي داستقبال دپاره وهلي شو دتجارت او لهو په مينځ كي د او لفظ ذكر كول په دي خبره دلالت كوي چي بعضي كسانو به دطبل د اواز داوريدو او دقافلي دليدو دپاره خطبه پريخودله او دمسجد نه به وتل (گوياكي په عمومي طور داكثرو مقصد تجارت دي).

ابن جرير دجابر رضي الله عنه نه روايت بيان كړي دي چي دغه خلقو به كله نكاح كوله نو جينكو به يي تنبل وهلو خلقو چي به دباجو اواز واوريدو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم به يي په منبر پريخودو او د تنبل په اواز پسي به روان شول.

صاحب دلباب النقول ليكلي دي چي گويا كي ددي دواړو واقعاتو په سلسله كي ددي ايت نزول شوي دي صاحب دلباب دا هم ليكلي دي ما اوليدل چي ابن المنذر دجابر په روايت سره دا دواړه واقعي ذكر كړي دنكاح واقعه هم او دقافلي دراتلو واقعه هم او سند د دواړو روايتونو يي يو ذكر كړو.

كه چري دواړه واقعات ددي ايت دنزول مورد اوگرځولي شي نو په دي صورت كي به يواځي تجارت ته ضمير راجع كيدو نه دا خبره معلوميږي چي تجارت طرف ته تلل باوجود دنورو كارونو نه چي كله مذموم دي نو دلهو كار دپاره خطبه پريخودل او دمسجد نه تلل خو په طريقه اولي مذموم دي. بعضي مفسرينو ليكلي دي چي د انفضوا اليه مفعول محذوف دي، اصل كلام داسي وو اذا راوا تجارة انفضوا اليها واذا راوا لهوا انفضوا اليه.

---

[1] اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجمعة ٣٨ (٩٣٦) . والبيوع ٦ (٢٠٥٨) . و١١ (٢٠٦٤) . والتفسير الجمعة ١ (٤٨٩٩) . صحيح مسلم/الجمعة ١١ (٨٦٣) (تحفة الأشراف : ٢٢٤٢. و٢٢٢٩)

دحسن او ابو مالك بيان دي چي اهل مدينه لره بو كال ولږې تنگ كړي وو او دضروري شيانو نرخونه گران شوي وو ،نو دحيه بن خليفه دشام نه دزيتون تيل په مدينه كې دخرڅولو دپاره راوړل رسول الله صلي الله عليه وسلم پدغه وخت كي دجمعي خطبه وركوله حاضرينو دا ويره مخصوص كړه چي نور خلق به زمونږ نه په وړتلو كي مخكې شي او ددې خريداري به اوكړي او مونږ به پاتي شو نو په دي وجه يې خطبه پريخوده او بقيع طرف ته روان شول او دحيه هم په بقيع كي وو ، او د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خطبه كي صرف يو څوك كسان پاتې شول چي ابوبكر او عمر رضي الله عنهما هم پكې وو نو په دي باره كي ددي ايت نزول اوشو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل قسم دي په هغه ذات دچا په اختيار كي چي دمحمد صلي الله عليه وسلم، روح دي كه په تاسو كي هيڅوك هم په خطبه كي باقي نه وې پاتي شوي نو دا كلي به داور نه ډك شوي وو او تاسو ټول به يې سوزولي وې

دمقاتل بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دجمعي په ورځ خطبه وركوله چي دحيبه كلبي دشام نه څه تجارتي مال راوړو خو پدغه وخت كي دستور دا وو چي كله به دحيه څه تجارتي مال راوړو نو دمديني هره پرده نشينه ښځه به هم هلته رسيدله ځكه چي دحيه به اوړه او غنم او تمام ضروري څيزونه راوړل دهيه چي به مديني ته راورسيدو نو دمديني په بازار كي به يې په احجار الزيت مقام كي قيام كولو او دده دراتگ داطلاع وركولو دپاره به طبل غږولي شو او خلقو به د اواز په اوريدو سره دده طرف ته روانيدلو دا دهغه وخت دستور وو كله چي دحيه نه وو مسلمان شوي. چنانچي يو خل دحيه دجمعي په ورځ راغي او رسول الله صلي الله عليه وسلم پدغه وخت كي په منبر خطبه وركوله نو خلق فورا دمسجد نه روان شول او په مسجد كي صرف دولس نارينه او زنانه پاتي شول رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په مسجد كي څومره كسان باقي دي؟ عرض اوكړي شو دولس نارينه او زنانه نو ويې فرمائيل كه چرې دوئ هم باقي پاتي شوي نه وي نو داسمان نه به مقرر شوي كاڼړي وريدلي وې نو په دي باره كي مذكوره ايت نازل شو او دلهو نه مراد طبل دي

"وتركوك قائما" يعني تاله په داسي حال كي پريږدي چي خطبه وركوي. مسلم صراحت كړي دي چي حاضرينو رسول الله صلي الله عليه وسلم لره په مسجد كي دخطبي وركولو په حال كي پريخودلي وو . بيهقي هم دي روايت ته ترجيح وركړي ده ليكن په بل روايت كي راغلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به په دغه وخت كي په مونځ كي مشغول وو چي خلقو مونځ پريخودو او په قافله پسي روان شول. بعضي خلقو په دي دواړو روايتونو كي داسي تطبيق كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په مونځ كي مشغول وو او ددينه مجازا خطبه مراد ده گوياكي خطبه هم مونځ دي. دكعب بن عجره حديث مخكي مونږ نقل كړي دي. بيهقي دمونځ والا روايت مرجوح گرځولي دي. دعلقمه بيان دي چي دعبدالله رضي الله عنه نه تپوس

اوکړي شو چي ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم پدغه وخت کي ولاړ وو او که ناست وو؟ نو
ويې فرمائيل ايا تاسو ايت کريمه "وترکوك قائماً" نه دي لوستلي.
ځوك چي ددي خبري قائل دي چي دجمعي تعداد کله دڅلويښتو کسانو نه کم وي نو بيا هم دجمعي مونځ کيږي هغوئ ددي حديث نه استدلال کوي چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره صرف دولس کسان پاتي شوي وو او هم هغوئ ته يې مونځ ورکړو ليکن دا احتمال شته چي دماسپخين مونځ يې ورکړي وي اوياخلق دمنتشر کيدو نه پس دوباره راغلي وي او يا ددوئ دتلو نه پس نور خلق راغلي دي ليکن دا تمام احتمالات دکلام دسياق نه خلاف دي که چري په دي احتمالاتو کي کوم يو واقع شوي وي نو ضرور به په کوم روايت کي راغلي وو.
ددينه علاوه په جمعه کي ددولسو کسانو دموجودګئ نه دا نه ثابتيږي چي په جمعه کي کم ازکم ددولسو کسانو موجودګي پکار ده لکه چي داسعد بن زراره په قصه کي راغلي دي چي هغه اولنئ جمعه دڅلويښتو کسانو سره ادا کړي ده ددينه هم دڅلويښتو کسانو د تعداد لزوم نه معلوميږي همدا رنګي رسول الله صلي الله عليه وسلم هم دبني سالم بن عمرو په محله کي سلو کسانو ته دجمعي مونځ ورکړي وو ددينه هم دا نه ثابتيږي چي په جمعه کي دسلو کسانو اشتراك ضروري دي.
مسئله: کم از کم دجمعي دشرکاؤ په ضروري تعداد کي داهل علمو اقوال مختلف دي نو اوس که دهر امام په نزد مقرر شوي تعداد نه په مونځ کي يوکس کم شي نوڅه به کيږي؟ په دي کي دعلماؤ اقوال مختلف دي ، دامام ابوحنيفه قول دي که چري په ړومبي رکعت کي دامام دسجدي نه مخکي يوکس لاړ شي نو جمعه باطليږي دسره دي دماسپخين مونځ وکړي اوکه د امام دسجدي نه پس مقتدي تلي وي نو امام دي دجمعي مونځ پوره کړي.
د امام مالك قول دي که چري دړومبي رکعت ددواړوسجدو نه پس مقتدي لاړو نو امام دي دجمعي مونځ پوره کړي.
د امام احمد قول دي که چري دتکبير تحريمه نه پس مقتدي مونځ مات کړو اولاړو نو بيابه هم امام دجمعي مونځ پوره کوي.
دامام شافعي صحيح ترين قول دادي چي دمونځ داخره پوري دڅلويښت کسانو موجودګي داسي ضروري ده لکه دمونځ داخره پوري دوخت باقي پاتي کيدل ضروري دي نو که د امام دسلام ګرځولو نه مخکي په څلويښتو کسانو کي يوکس کم شو نو په باقي کسانو دوباره دماسپخين مونځ کول واجب دي. : امام شافعي يو قول داهم دي که د امام سره دوه کسان هم دمونځ د اخره پوري باقي پاتي شول نو امام به دجمعي مونځ پوره کوي د امام شافعي يو قول داهم دي که دمونځ داخره پوري يوکس هم باقي پاتي شي نو امام به دجمعي مونځ پوره کوي.

دمزني قول دي كه چري داامام ديوركعت كولو نه پس مقتديان منتشر شول او يو كس هم ورسره پاتي نشو نوبيابه هم امام دجمعي مونځ پوره كوي . اوكه په اولني ركعت كي منتشر شي اودخلويښتو نه كم كسان پاتي شي نو بيا دي دماسپخين ځلور ركعته وكړي
د امام زفر قول دي كه چري د اولني قعدي نه مخكي مقتديان منتشرشول اومقرر تعداد باقي پاتي نشي نو دجمعي مونځ مات شو اودماسپخين مونځ دي دوباره وكړي.
مسئله: كه چري مسبوق داامام سره دجمعي دمونځ څه حصه بيامومي اګر كه په قعده يا سجده سهوه كي شريك شي نو دجمعي مونځ دي پوره كړي . داد امام ابوحنيفه قول دي . د امام مالك، شافعي ، او احمد قول دي كه يو ركعت يي ورسره بيامونده نو اكثر يي بيامونډلو او دويم ركعت دي ورسره پوره كړي او كه يو ركعت يي پوره بيا نه موندلو نو جمعه يي بيانه موندله. بيا دي دماسپخين ځلور ركعتونه وكړي . دطاوس قول كه چا دواړه خطبي ونه موندلي نوجمعه يي ونشوه. (لباب النقول بحواله مظهري، هدايه)

****

٦٣_بابٌ وَمِنْ سُورَةِ الْمُنَافِقُونَ

د سورة المنافقون دبعضي ايتونو تفسير

٣٣١٢_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، قَالَ: كُنْتُ مَعَ عَمِّي، فَسَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ أُبَيٍّ ابْنَ سَلُولَ، يَقُولُ لِأَصْحَابِهِ: لَا تُنْفِقُوا عَلَى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ حَتَّى يَنْفَضُّوا، وَلَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الأَعَزُّ مِنْهَا الأَذَلَّ (المنافقون :٨، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِعَمِّي، فَذَكَرَ ذَلِكَ عَمِّي لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَدَعَانِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَدَّثْتُهُ، فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ أُبَيٍّ وَأَصْحَابِهِ فَحَلَفُوا مَا قَالُوا، فَكَذَّبَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَدَّقَهُ فَأَصَابَنِي شَيْءٌ لَمْ يُصِبْنِي قَطُّ مِثْلُهُ، فَجَلَسْتُ فِي الْبَيْتِ، فَقَالَ عَمِّي: مَا أَرَدْتَ إِلَّا أَنْ كَذَّبَكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَقَتَكَ فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى: إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ (المنافقون :١ فَبَعَثَ إِلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَرَأَهَا ثُمَّ قَالَ: "إِنَّ اللهَ قَدْ صَدَّقَكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

---

[1] - اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير المنافقين ١ (٤٩٠٠) ، و ٢ (٤٩٠١) ، و ٣ (٤٩٠٢) ، و ٤ (٤٩٠٣) ، صحيح مسلم/المنافقين ح١ (٢٧٧٢) (تحفة الأشراف : ٣٦٧٨)

ترجمه : زيد بن ارقم رضي الله عنه نه روايت دی چې زه د خپل تره سره موجود ووم چې د عبدالله بن ابئ بن سلول (منافق) نه مي واوريدل چې خپلو ملګرو ته يي اووئيل لَا تُنْفِقُوا عَلَىٰ مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ حَتَّىٰ يَنْفَضُّوا. و لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ تاسو د رسول الله صلي الله عليه وسلم په ملګرو خرچ مه کوئ چې دوئ خواره شي او که مونږ مديني منوری ته اورسيدو نو ضرور به په مونږ کې دعزت واله مالدار ددی کلي نه ذليل او خوارکسان اوشړي (يعني مونږ به دمهاجرينو امداد بند کړو اودکلي نه به يي اوشړو ماددا خبره رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اورسوله، -و رسول الله صلي الله عليه وسلم عبدالله بن ابئ را اوغوښتو هغه قسم اوخوړلو چې ما داسی نه دي وئيلي زيد رضي الله عنه وايي رسول الله صلي الله عليه وسلم زما تکذيب وکړو دی خبری زما زړه ته ډيره صدمه اورسوله چې دومره صدمه راته کله نه وه رسيدلي، په کور کې ناست وم چې تره مي راته ووئيل چې تا صرف همدا غوښتل چې رسول دي تکذيب وکړي او غصه يي درته وکړله نو دا ايتونه نازل شول "اذا جاءك المنفقون" رسول الله صلي الله عليه وسلم بيا زه راوغوښتلم او دا ايتونه يي راته واورول او راته يي اوفرمائيل چې الله تعالي ستا تصديق وکړو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

لغات : سفر: سافر سفرا معني سفر يي وکړلو جمع يي اسافر راځي.

تشريح : مفسرين وائي دا واقعه دهجرت په شپږم کال دشعبان په مياشت کې پيښه شوي وه او دقتاده او عروه په قول دهجرت په پينځم کال په شعبان کې دغزوه بني المصطلق په موقعه پيښه شوي وه مطلب دادی چې دمنافقانو سردار عبدالله بن ابئ اووئيل چې مسلمانان غريبان دي چې مال ورباندي بند کړی شي نو پخپله به خواره کړی شي دده په جواب کې الله تعالي اوفرمائيل دزمکي او اسمانونو خزاني زما سره دي او مسلمانانو ته هر څه ورکولی شم دا ټولي خبري زيد بن ارقم رضي الله عنه عبدالله بن ابئ ته وکړي او دده عمر په دي وخت کې ډير کم وو او دده دعبدالله بن ابئ تمام سازشونه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته بيان کړل معلومه شوه چې دمنافق سازش په داکه کول غيبت نه دی بلکه ددي ښکاره کول دمسلمانان دپاره فائده ده ددي دپاره چې ددوئ دفتنو نه بچ شي.

دزيد بن ارقم رضي الله عنه حالات

نوم زيد کنيه ابوعمر قبيله خزرج په ماشوموالي کې يتيم شوی وو او پرورش يي خپل تره عبدالله بن رواح رضي الله عنه اوکړو او همدا دزيد په اسلام کې دداخليدو سبب اوګرځيدو دماشوموالي په وجه په غزواتو کې شريك شوی نه وو او شرکت يي په غزوه خندق کې کړی وو دی پخپله وائي ما په اولس غزواتو کې شرکت کړی دی، په دربار رسالت کې ډير مقرب وو کله

چې په بیمار شو نو رسول الله صلي الله علیه وسلم به یي عیادت له راتلو یو خل یي په سترګه
درد راغلی وو او رسول الله صلي الله علیه وسلم دده دعیادت دپاره راغی دجوړیدو نه پس یي
ورنه نبوس اوکړو که دا مرض اوس هم باقي پاتي شوی وی نو څه به دي کول زید ووئیل چي
صبر او داجر امید به مي کولو رسول الله ورته اوفرمائیل که داسي دي کولی نو دالله تعالي په
ورادي به بي ګناه کرخیدلی وی (مسند احمد)
په ۶۸هجري کې په کوفه کې وفات شوی دی او دا دمختار بن ابي عبید ثقفي زمانه وه
دمروياتو شمير يي ۹۰ دی مزید حالات يي ابن سعد په طبقات کي ذکر کړي دي

****

٣٣١٣_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنِ السُّدِّيِّ، عَنْ أَبِي سَعْدٍ الأَزْدِيِّ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ أَرْقَمَ، قَالَ: غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ مَعَنَا أُنَاسٌ مِنَ الأَعْرَابِ فَكُنَّا نَبْتَدِرُ المَاءَ، وَكَانَ الأَعْرَابُ يَسْبِقُونَا إِلَيْهِ، فَسَبَقَ أَعْرَابِيٌّ أَصْحَابَهُ فَسَبَقَ الأَعْرَابِيُّ، فَيَمْلَأُ الحَوْضَ وَيَجْعَلُ حَوْلَهُ حِجَارَةً وَيَجْعَلُ النِّطْعَ عَلَيْهِ حَتَّى يَجِيءَ أَصْحَابُهُ، قَالَ: فَأَتَى رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ أَعْرَابِيًّا فَأَرْخَى زِمَامَ نَاقَتِهِ لِتَشْرَبَ، فَأَبَى أَنْ يَدَعَهُ، فَانْتَزَعَ قِبَاضَ المَاءِ، فَرَفَعَ الأَعْرَابِيُّ خَشَبَتَهُ فَضَرَبَ بِهَا رَأْسَ الأَنْصَارِيِّ فَشَجَّهُ، فَأَتَى عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أُبَيٍّ رَأْسَ المُنَافِقِينَ فَأَخْبَرَهُ، وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِهِ، فَغَضِبَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيٍّ، ثُمَّ قَالَ: لَا تُنْفِقُوا عَلَى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ حَتَّى يَنْفَضُّوا مِنْ حَوْلِهِ يَعْنِي الأَعْرَابَ، وَكَانُوا يَحْضُرُونَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ الطَّعَامِ، فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ: إِذَا انْفَضُّوا مِنْ عِنْدِ مُحَمَّدٍ فَأْتُوا مُحَمَّدًا بِالطَّعَامِ فَلْيَأْكُلْ هُوَ وَمَنْ عِنْدَهُ، ثُمَّ قَالَ لِأَصْحَابِهِ: لَئِنْ رَجَعْتُمْ إِلَى المَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الأَعَزُّ مِنْهَا الأَذَلَّ، قَالَ زَيْدٌ: وَأَنَا رِدْفُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَسَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أُبَيٍّ، فَأَخْبَرْتُ عَمِّي، فَانْطَلَقَ فَأَخْبَرَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَلَفَ وَجَحَدَ، قَالَ: فَصَدَّقَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَذَّبَنِي، قَالَ: فَجَاءَ عَمِّي إِلَيَّ، فَقَالَ: مَا أَرَدْتَ إِلَّا أَنْ مَقَتَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَذَّبَكَ وَالمُسْلِمُونَ، قَالَ: فَوَقَعَ عَلَيَّ مِنَ الهَمِّ مَا لَمْ يَقَعْ عَلَى أَحَدٍ، قَالَ: فَبَيْنَمَا أَنَا أَسِيرُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ، قَدْ خَفَقْتُ بِرَأْسِي مِنَ الهَمِّ إِذْ أَتَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَرَكَ أُذُنِي وَضَحِكَ فِي وَجْهِي، فَمَا كَانَ يَسُرُّنِي أَنَّ لِي بِهَا الخُلْدَ فِي الدُّنْيَا، ثُمَّ إِنَّ أَبَا بَكْرٍ لَحِقَنِي، فَقَالَ: مَا قَالَ لَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قُلْتُ: مَا قَالَ لِي شَيْئًا إِلَّا أَنَّهُ عَرَكَ أُذُنِي وَضَحِكَ فِي وَجْهِي، فَقَالَ: أَبْشِرْ، ثُمَّ لَحِقَنِي عُمَرُ فَقُلْتُ لَهُ مِثْلَ قَوْلِي لِأَبِي بَكْرٍ،

فَلَمَّا أَصْبَحْنَا قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (الْمُنَافِقِينَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: دزيد بن ارقم رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي مونږ دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره په غزوه بني مصطلق كي دجهاد دپاره اووتلو او زمونږ سره څه بانډچيان هم موجود وو (كله چي ډير لري هم اوبه په نظر نه راتلي) نو مونږ به يو دبل نه داوبو حاصلولو دپاره هلته په رسيدو كي دخان مخكي رسولو كوشش كولو خو بانډچيان به زمونږ نه هلته په رسيدو كي مخكي كيدل يو ځل داسي اوشول چي يو بانډچي دخپلو ملګرو نه هلته مخكي اورسيدو كله چي به وړاندي تير شو نو حوض به يي ډك كړو او كيرچاپير به يي ورنه كاڼړي كيخودل او څپله دچمړي دړئ به يي ورباندي واچوله بيا به دده ملګري راتلل، په همدي موقعه په انصاريانو كي يو بانډچي دوئ ته ورغلو او دخپلي اوښي مهار يي سست كړو ددي دپاره چي اوبه اوڅكي مګر دغه بانډچي اوبو څكلو ته پرينخودو انصاري داوبو بند مات كړو بانډچي يو لرګي راپورته كړو او دانصاري سر يي ورباندي اووهلو او دهغه سر يي مات كړو دغه انصاري دمنافقينو انصار عبدالله بن ابئ ته ورغلو او هغه ددوئ هم خيال وو چي ددي واقعي خبر يي ورته وركړو نو عبدالله بن ابئ ددي په اوريدو سره سره لمبه شو او سخته غصه ورغله او وئيل يي په هغه كسانو باندي تاسو خرچونه مه كوئ كوم چي درسول الله صلي الله عليه وسلم ملګري دي ترڅو پوري چي دا بانډچي لري شوي نه وي مګر ددوئ معمول دا وو چي دخوراك په وخت كي به دا خلق درسول الله په وړاندي موجودكيدل او جمع كيدل، عبدالله بن ابئ اووئيل كله چي دوئ دمحمد (صلي الله عليه وسلم) دخوا نه لاړ شي نو هغه ته خوراك ورړوئ تر دي چي هغه او دهغه موجود ملګري يي اوخوري هر كله چي هغه خپل ملګرو ته اووئيل كه مونږ مديني ته سلامت اورسيدو نو په تاسو كي چي څوك عزتمند دي هغوئ به ذلت والا بانډچيان دمديني نه ضرور شړي، زيد وائي چي زه په رسول الله پسي په سورلئ شاته ناست وم چي دعبدالله بن ابئ خبري مي واوريدي خپل تره ته مي اووئيلي او تره مي لاړو او رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يي خبر وركړو رسول الله وريسي څوك وزوليږلو او راوېي غوښتلو مګر هغه چي راغلو نو قسمونه يي خوړل او انكار يي اوكړو (چي داسي خبري مانه دي كړي) نو رسول الله دهغه تصديق اوكړو او زه يي دروغژن اوګرځولم بيا چي زما تره ماته راغي نو ماته يي اووئيل اي بچيه تا څه سوچ كړي وو چي رسول الله به تاته غصه شي مګر رسول الله او مسلمانانو خو ته دروغژن اوګرځولي ددي په اوريدو ماته دومره غصه او خفګان اورسيدو چي.

---

1 _ تفرد به المؤلف وانظر ماقبله (تحفة الأشراف: ٣٦٩١)

شايد دومره غم او غصه به نور كله په ما نه وي راغلي او نه به دومره تكليف انسانانو كي چاته رسيدلي وي ما دغم په وجه سر ټيټ نيولي وو او درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په سفر كي روان وم ترڅي چي رسول الله يو په يوه ماته نژدي راغلو او زما غوږ يي اونيول او يوه جټكه يي ورکړه او زما په وړاندي يي اوخاندل چي زه وربانديي دومره خوشحاله شوم كڅري ددي په بدل كي په دنيا كي ماته جنت ملاوشوي وي نو دومره به نه وم خوشحاله شوي بيا ماسره ابوبكر رضي الله عنه ملاو شو زما نه يي تپوس اوكړو چي رسول الله صلي الله عليه وسلم درته څه اووئيل ما ورته اووئيل ماته يي څه نه دي وئيلي البته زما غوږ يي اونيولو چي خوزولو يي او ماته يي كتل او خاندل يي ابوبكر رضي الله عنه اووئيل خوشحاله شه بيا عمر رضي الله عنه ماسره ملاؤ شو نو هغوئ ته مي هم هغه خبره اوكړه كومه چي مي ابوبكر ته كړي وه بيا چي كله سحر شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم دسحر په مونځ كي سورة منافقون اولوستلو.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٣١٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي عَدِيٍّ، أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنْ الْحَكَمِ بْنِ عُتَيْبَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ كَعْبٍ الْقُرَظِيَّ مُنْذُ أَرْبَعِينَ سَنَةً يُحَدِّثُ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أُبَيٍّ، قَالَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ: لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الأَعَزُّ مِنْهَا الأَذَلَّ (المنافقون :٨. قَالَ: فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ فَحَلَفَ مَا قَالَهُ. فَلاَمَنِي قَوْمِي، وَقَالُوا: مَا أَرَدْتَ إِلاَّ هَذِهِ. فَأَتَيْتُ الْبَيْتَ وَنِمْتُ كَئِيبًا حَزِينًا. فَأَتَانِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ أَتَيْتُهُ. فَقَالَ: "إِنَّ اللَّهَ قَدْ صَدَّقَكَ. قَالَ: فَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ: هُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ لاَ تُنْفِقُوا عَلَى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ حَتَّى يَنْفَضُّوا (المنافقون :٧". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دحكم بن عتبه بيان دي چي زه دمحمد بن كعب قرظي نه دڅلويښتو كالو نه دزيد بن ارقم رضي الله عنه حديث اورم چي په غزوه تبوك كي عبدالله بن ابيّ اووئيل كه مونږ مديني ته په خير اورسيدو نو په مونږ كي عزت مند خلق به ذليل خلقو لره دمديني نه ضرور اوباسي راوي وائي چي ما دا واوريدل رسول الله صلي الله عليه وسلم ته مي ځان اورسولو او خبر مي ورکړو (كله چي دهغه نه تپوس اوكړي شو) نو قسم يي اوكړو چي داسي خبري خو ما بالكل نه دي كړي، زما قوم زه ملامت كړم او خلقو اووئيل چي دا دروغ دي اووئيل نو څه درته ملاؤ شول؟ زه كور ته راغلم او په غم او خفګان كي ډوب پريوتم بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم

[1] ـ انظر حديث رقم ٣٣١٣ (تحفة الأشراف : ٣٦٨٣)

ماته راغلو اوکه بیا زه ورغلم ،دراوي شك دي، او اووي فرمائیل الله تعالي ستاتصدیق اوکړو او دا ایتونه نازل شوي دي " هُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ لا تُنفِقُوا عَلَى مَنْ عِندَ رَسُولِ اللَّهِ حَتَّى يَنفَضُّوا "
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحدیث حسن صحیح دي.

****

۳۳۱۵_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: كُنَّا فِي غَزَاةٍ، قَالَ سُفْيَانُ: يَرَوْنَ أَنَّهَا غَزْوَةُ بَنِي الْمُصْطَلِقِ، فَكَسَعَ رَجُلٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ رَجُلًا مِنَ الأَنْصَارِ، فَقَالَ الْمُهَاجِرِيُّ: يَا لِلْمُهَاجِرِينَ، وَقَالَ الأَنْصَارِيُّ: يَا لِلأَنْصَارِ، فَسَمِعَ ذَلِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: " مَا بَالُ دَعْوَى الجَاهِلِيَّةِ ؟ ". قَالُوا: رَجُلٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ كَسَعَ رَجُلًا مِنَ الأَنْصَارِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " دَعُوهَا فَإِنَّهَا مُنْتِنَةٌ ". فَسَمِعَ ذَلِكَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُبَيِّ ابْنُ سَلُولٍ، فَقَالَ: أَوَقَدْ فَعَلُوهَا وَاللَّهِ لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الأَعَزُّ مِنْهَا الأَذَلَّ (المنافقون :۸، فَقَالَ عُمَرُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ دَعْنِي أَضْرِبْ عُنُقَ هَذَا الْمُنَافِقِ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْهُ لَا يَتَحَدَّثُ النَّاسُ أَنَّ مُحَمَّدًا يَقْتُلُ أَصْحَابَهُ، وَقَالَ غَيْرُ عَمْرٍو: فَقَالَ لَهُ ابْنُهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ: وَاللَّهِ لَا تَنْقَلِبُ حَتَّى تُقِرَّ أَنَّكَ الذَّلِيلُ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَزِيزُ، فَفَعَلَ.
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضي الله عنه بیان دي فرمائي چي مونږ په یوه غزوه کي موجود وو ،سفیان وائي دخلقو خیال دادي چي دا غزوه بني مصطلق وه، په مهاجرینو کي یو کس یو انصاري کس په لته اووهلو مهاجر اواز اوکړو اي مهاجرینو راشئ او انصاري اواز اوکړو اي انصارو راشئ تردي چي دا اواز نبي کریم صلي الله علیه وسلم واوریدو نو ویي فرمائیل دجاهلیت پشان اوازونه ولي کوئ خلقو اووئیل یو مهاجر انصاري په لته وهلي دي رسول الله اوفرمائیل دا اواز پریږدئ دا یو قبیح او ناکاره اواز دي، دا اواز عبدالله بن ابئ بن سلول واوریدو نو هغه اووئیل واقعي که هغوئ داسي کړي وي نو په الله قسم مونږ چي مديني ته ورسیږو زمونږ عزتمند به ذلیل خلقو لره دمديني نه اوشړي عمر رضي الله عنه اووئیل اي دالله رسوله ماته اجازت راکړه چي ددي منافق سر اووهم رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل پریږده ده لره خلق به بیا دا خبري کوي چي محمد خپلو ملګرو لره هم قتل کوي دعمرو بن

[1] ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح :تفسير المنافقين ٦ (٤٩٠٠) . صحيح مسلم/البر والصلة ١٦ (٦٣/٢٥٨٤) (تحفة الأشراف: ٢٥٢٥)

دینار نه علاوه دنورو راویانو قول دي چي عبدالله بن ابی ته دهغه خوي عبدالله بن عبدالله دي
حده پوري اووئیل چي ته واپس کیدي نشي ترڅو پوري چي دا اقرار دي کړي نه وي چي ذلیل
هم ته یي او رسول الله عزت مند دي نو هغه ددي اقرار اوکړو.
امام ترمذي رحمه الله وایي: داحدیث حسن صحیح دي

****

٣٣١٦_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا أَبُو جَنَابٍ الْكَلْبِيُّ، عَنِ الضَّحَّاكِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: "مَنْ كَانَ لَهُ مَالٌ يُبَلِّغُهُ حَجَّ بَيْتِ رَبِّهِ أَوْ تَجِبُ عَلَيْهِ فِيهِ الزَّكَاةُ فَلَمْ يَفْعَلْ سَأَلَ الرَّجْعَةَ عِنْدَ الْمَوْتِ". فَقَالَ رَجُلٌ: يَا ابْنَ عَبَّاسٍ، اتَّقِ اللَّهَ إِنَّمَا سَأَلَ الرَّجْعَةَ الْكُفَّارُ، قَالَ: سَأَتْلُو عَلَيْكَ بِذَلِكَ قُرْآنًا: يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلا أَوْلادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ٩ وَأَنْفِقُوا مِنْ مَا رَزَقْنَاكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِلَى قَوْلِهِ وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ (المنافقون: ٨-١١) قَالَ: فَمَا يُوجِبُ الزَّكَاةَ؟ قَالَ: إِذَا بَلَغَ الْمَالُ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ فَصَاعِدًا، قَالَ: فَمَا يُوجِبُ الْحَجَّ؟ قَالَ: الزَّادُ وَالْبَعِيرُ".(١)

ترجمه دابن عباس رضي الله عنهما بیان دي دچا سره چي دومره مال وي چي حج دبیت الله
وربانديكولي شي او یا وربانديزکواة واجب کیږي او دي حج ته لاړ نشي او زکواة اداء نکړي
دي به دمرګ په وخت کي الله تعالي ته درخواست کوي چي ما دنیا ته دوباره واپس اولیږه یو
کس اووئیل اي ابن عباس دالله نه اوویریږه دنیا ته د دوباره واپس تلو ارمان خو به کافران کوي
«نه چي مسلمانان، ابن عباس اووئیل زه به درته په دي باره کي قراني ثبوت اوښایم الله تعالي
فرمانیلي دي " يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلا أَوْلادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ . وَأَنْفِقُوا مِنْ مَا رَزَقْنَاكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِلَى قَوْلِهِ وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ " اي ایمان والو غافل دي نکړي تاسولره مالونه ستاسو اونه اولاد ستاسو
دذکر دالله تعالي نه اوچاچي اوکړو داکار نودغه کسان دوئ پوره تاوان والادي. بیا هغه تپوس
اوکړو په څومره مال کي زکواة فرض کیږي ابن عباس اووئیل کله چي مال دوه سوه درهمو ته
ورسیږي یا ددینه زیات شي هغه اووئیل حج کله فرض کیږي ابن عباس اووئیل کله چي
دخرچي او سورلئ انتظام برابر شي.

تشريح: "أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ" یعني دمال او اولاد انتظام او ددوئ اهتمام.

---

(١) تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٦٨٩)

"عَنْ ذِكْرِ اللهِ" ذكر لفظ عام دي تمامو عبادتونو ته شامل دي ليكن دمفسرينو په نزد دپنځم وخته مونځ مراد دي.
"وَمَنْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ" يعني کوم کسان چې په مال او اولاد کي داسي مشتغل وي چې دالله دذکر نه مانع وي نو همداسي کسان خساره پورته کونکي دي چې حقير اوبناه کيدونکي څيز يي قبول کړو او لازوال او عالي قدر نعمت يي دلاسه ورکړو.
په سابقه ايت کي په صراحت سره يي دمنافقانو مذمت کړي دي اوپه دي ايت کي تراخره پوري يي ددوئ بدعملي بيان کړي ده ، په مال او اولاد کي انختلي پاتي کيدل ، مونځ ترك کول او زکواة نه ادا کول او دمرګ دمؤخر کيدو تمنا کول اودعمر داوږد والي اميد کول دمنافقانو خاصيتونه دي دمسلمانانو دپاره دمنافقانو پشان په دي کي دکومي خبري اختيارول نازيبادي.

****

حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنِ الثَّوْرِيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي حَيَّةَ، عَنِ الضَّحَّاكِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِنَحْوِهِ، وَقَالَ: هٰكَذَا رَوَى سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ هٰذَا الْحَدِيثَ عَنْ أَبِي جَنَابٍ، عَنِ الضَّحَّاكِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَوْلَهُ وَلَمْ يَرْفَعُوهُ، وَهٰذَا أَصَحُّ مِنْ رِوَايَةِ عَبْدِ الرَّزَّاقِ، وَأَبُو جَنَابٍ اسْمُهُ يَحْيَى بْنُ أَبِي حَيَّةَ وَلَيْسَ هُوَ بِالْقَوِيِّ فِي الْحَدِيثِ. (1)

ترجمه : ابن عباس رضي الله عنهما دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت په مذکوره سند بيان کړي دي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: دارنګي سفيان بن عيينه او نورو راويانو هم دا حديث دابي جناب نه او هغه دضحاك نه او هغه دابن عباس رضي الله عنه قول نقل کړي دي او دوئ مرفوع نه دي بيان کړي او دا د عبدالرزاق دروايت نه زيات صحيح دي او دابو جناب نوم يحي بن ابي حيه دي مګر دده حافظه په حديث نقل کولو کي قوي نه وه.

****

٦٤_ بَاب وَمِنْ سُورَةِ التَّغَابُنِ

دسورة التغابن دبعضي ايتونو تفسير

٣٣١٧_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، حَدَّثَنَا سِمَاكُ بْنُ

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٦٨٩)

حَرْبٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَسَأَلَهُ رَجُلٌ عَنْ هَذِهِ الآيَةِ: " يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلادِكُمْ عَدُوًّا لَكُمْ فَاحْذَرُوهُمْ (التغابن: ١٤. قَالَ: هَؤُلَاءِ رِجَالٌ أَسْلَمُوا مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ وَأَرَادُوا أَنْ يَأْتُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَأَبَى أَزْوَاجُهُمْ وَأَوْلَادُهُمْ أَنْ يَدَعُوهُمْ أَنْ يَأْتُوا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَلَمَّا أَتَوْا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَوْا النَّاسَ قَدْ فَقِهُوا فِي الدِّينِ، هَمُّوا أَنْ يُعَاقِبُوهُمْ. فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلادِكُمْ عَدُوًّا لَكُمْ فَاحْذَرُوهُمْ (التغابن: ١٤ الاية". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه: مروي دي چي دابن عباس رضي الله عنهما نه يو كس ددي ايت كريمه " يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلادِكُمْ عَدُوًّا لَكُمْ فَاحْذَرُوهُمْ " اي ايمان والو بعض ديبيانو ستاسو اواولاد ستاسونه دشمنان ستاسو دي نوخان اساتي دهغوئ نه. باره كي تپوس اوكړو چي دا په څه باره كي نازل شوي دي هغه اووئيل په اهل مكه كي څه كسان وو چي ايمان يي راوړي وو او هغوئ رسول الله ته درسيدو اراده كړي وه مگر دهغوئ ښځو او دهغوئ اولاد انكار اوكړو چي هغوئ به يي رسول الله ته دورتلو دپاره پري نږدي بيا چي كله دوئ رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ورغلل او ورته معلومه شوه چي خلقو ددين پوهه كافي ډيره حاصل كړي ده نو دوئ اراده اوكړه چي دوئ هم خپلو ښځو او خپلو بچو ته دركاوټ پيداكولو سزا وركړي نو په دي باره كي دا ايتونه نازل شول.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح: "فَاحْذَرُوهُمْ" يعني تاسو ددوئ متعلق محتاط اوسئ او ددوئ دشر نه مه بي فكره كيږئ. ددوئ وينا هم مه منئ اوددوي په وينا هجرت كول هم مه پريږدئ.

ترمذي اوحاكم دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت نقل كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي كله چي دوئ مديني ته ورسيدل نود رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شول نوهغوئ وليدل چي ددوئ نه مخكي هجرت كونكو بعضي ديني مسائل زده كړي دي نو ددي حالت په ليدو سره ددوئ خپل اهل او عيال ته غصه راغله او دا اراده يي وكړله چي سزا ورته وركړي خكه چي صرف ښخو اوبچو دوئ دهجرت نه منع كړي وو نو په دي باره كي ايت كريمه "وَإِنْ تَعْفُوا" نازل شو. يعني كه چري معاف كوئ تاسو دخطائي دهغوئ، اومخ اړوي اوبخښنه ورته كوئ نويقيناالله تعالي بخښنه كوونكي رحم كوونكي دي.

[1] - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦١٢٢)

ابن جرير دعطاء بن يسار قول نقل كړي دي چي علاوه دايت كريمه يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَكُمْ فَاحْذَرُوهُمْ وَإِنْ تَعْفُوا وَتَصْفَحُوا وَتَغْفِرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ.
باقي تمام سورت تغابن په مكه كي نازل شوي دي اوصرف دايت په مدينه كي دعوف بن مالك په حق كي نازل شوي دي، عوف بن مالك يو بال بچي دار سړي وو ، ده چي به كله هم دجهاد كولو اراده وكړله نوښځي اوبچو به ورته ژړا شروع كړله اودده په زړه كي به يي رقت پيدا كړو او ورته به يي ونيل چي ته مونږ چاته پريږدي نو په دي شان سره به دده په زړه كي نرمي راغله اودجهاد نه به پاتي شو ، نوخاص ددي واقعاتو متعلق دسورت داخره پوري ددي ايتونو نزول په مدينه كي وشو.

****

٦٥_باب وَمِنْ سُورَةِ التَّحْرِيمِ

دسورة تحريم دبعضي ايتونو تفسير

٣٣١٨_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي ثَوْرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، يَقُولُ: " لَمْ أَزَلْ حَرِيصًا أَنْ أَسْأَلَ عُمَرَ، عَنِ الْمَرْأَتَيْنِ مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّتَيْنِ قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا (التحريم :٤) حَتَّى حَجَّ عُمَرُ وَحَجَجْتُ مَعَهُ، فَصَبَبْتُ عَلَيْهِ مِنَ الْإِدَاوَةِ فَتَوَضَّأَ، فَقُلْتُ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، مَنِ الْمَرْأَتَانِ مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّتَانِ قَالَ اللَّهُ: إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا وَإِنْ تَظَاهَرَا عَلَيْهِ فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ مَوْلَاهُ (التحريم :٤) فَقَالَ لِي: وَاعَجَبًا لَكَ يَا ابْنَ عَبَّاسٍ، قَالَ الزُّهْرِيُّ: وَكَرِهَ وَاللَّهِ مَا سَأَلَهُ عَنْهُ وَلَمْ يَكْتُمْهُ، فَقَالَ: هِيَ عَائِشَةُ، وَحَفْصَةُ، قَالَ: ثُمَّ أَنْشَأَ يُحَدِّثُنِي الْحَدِيثَ، فَقَالَ: كُنَّا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ نَغْلِبُ النِّسَاءَ، فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ وَجَدْنَا قَوْمًا تَغْلِبُهُمْ نِسَاؤُهُمْ، فَطَفِقَ نِسَاؤُنَا يَتَعَلَّمْنَ مِنْ نِسَائِهِمْ، فَتَغَضَّبْتُ عَلَى امْرَأَتِي يَوْمًا، فَإِذَا هِيَ تُرَاجِعُنِي، فَأَنْكَرْتُ أَنْ تُرَاجِعَنِي، فَقَالَتْ: مَا تُنْكِرُ مِنْ ذَلِكَ، فَوَاللَّهِ إِنَّ أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُرَاجِعْنَهُ وَتَهْجُرُهُ إِحْدَاهُنَّ الْيَوْمَ إِلَى اللَّيْلِ، قَالَ: فَقُلْتُ فِي نَفْسِي قَدْ خَابَتْ مَنْ فَعَلَتْ ذَلِكَ مِنْهُنَّ وَخَسِرَتْ، قَالَ: وَكَانَ مَنْزِلِي بِالْعَوَالِي فِي بَنِي أُمَيَّةَ وَكَانَ لِي جَارٌ مِنَ الْأَنْصَارِ، كُنَّا نَتَنَاوَبُ النُّزُولَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَيَنْزِلُ يَوْمًا فَيَأْتِينِي بِخَبَرِ الْوَحْيِ وَغَيْرِهِ، وَأَنْزِلُ يَوْمًا فَآتِيهِ بِمِثْلِ ذَلِكَ، قَالَ: وَكُنَّا نُحَدِّثُ أَنَّ غَسَّانَ تُنْعِلُ الْخَيْلَ لِتَغْزُوَنَا، قَالَ: فَجَاءَنِي

يَوْمًا عِشَاءً فَضَرَبَ عَلَيَّ الْبَابَ فَخَرَجْتُ إِلَيْهِ. فَقَالَ: حَدَثَ أَمْرٌ عَظِيمٌ. قُلْتُ: أَجَاءَتْ غَسَّانُ. قَالَ: أَعْظَمُ مِنْ ذَلِكَ طَلَّقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَاءَهُ. قَالَ: فَقُلْتُ فِي نَفْسِي قَدْ خَابَتْ حَفْصَةُ وَخَسِرَتْ. قَدْ كُنْتُ أَظُنُّ هَذَا كَائِنًا. قَالَ: فَلَمَّا صَلَّيْتُ الصُّبْحَ شَدَدْتُ عَلَيَّ ثِيَابِي. ثُمَّ انْطَلَقْتُ حَتَّى دَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَإِذَا هِيَ تَبْكِي. فَقُلْتُ: أَطَلَّقَكُنَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَتْ: لَا أَدْرِي هُوَ ذَا مُعْتَزِلٌ فِي هَذِهِ الْمَشْرُبَةِ. قَالَ: فَانْطَلَقْتُ فَأَتَيْتُ غُلَامًا أَسْوَدَ. فَقُلْتُ: اسْتَأْذِنْ لِعُمَرَ. قَالَ: فَدَخَلَ ثُمَّ خَرَجَ إِلَيَّ. قَالَ: قَدْ ذَكَرْتُكَ لَهُ فَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا. قَالَ: فَانْطَلَقْتُ إِلَى الْمَسْجِدِ فَإِذَا حَوْلَ الْمِنْبَرِ نَفَرٌ يَبْكُونَ. فَجَلَسْتُ إِلَيْهِمْ ثُمَّ غَلَبَنِي مَا أَجِدُ. فَأَتَيْتُ الْغُلَامَ. فَقُلْتُ: اسْتَأْذِنْ لِعُمَرَ. فَدَخَلَ ثُمَّ خَرَجَ إِلَيَّ. فَقَالَ: قَدْ ذَكَرْتُكَ لَهُ فَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا. قَالَ: فَانْطَلَقْتُ إِلَى الْمَسْجِدِ أَيْضًا فَجَلَسْتُ ثُمَّ غَلَبَنِي مَا أَجِدُ. فَأَتَيْتُ الْغُلَامَ فَقُلْتُ: اسْتَأْذِنْ لِعُمَرَ. فَدَخَلَ ثُمَّ خَرَجَ إِلَيَّ. فَقَالَ: قَدْ ذَكَرْتُكَ لَهُ فَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا. قَالَ: فَوَلَّيْتُ مُنْطَلِقًا. فَإِذَا الْغُلَامُ يَدْعُونِي. فَقَالَ: ادْخُلْ فَقَدْ أُذِنَ لَكَ. فَدَخَلْتُ فَإِذَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَّكِئٌ عَلَى رَمْلِ حَصِيرٍ قَدْ رَأَيْتُ أَثَرَهُ فِي جَنْبَيْهِ. فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ. أَطَلَّقْتَ نِسَاءَكَ؟ قَالَ: لَا. قُلْتُ: اللهُ أَكْبَرُ لَقَدْ رَأَيْتُنَا يَا رَسُولَ اللهِ وَنَحْنُ مَعْشَرَ قُرَيْشٍ نَغْلِبُ النِّسَاءَ. فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ وَجَدْنَا قَوْمًا تَغْلِبُهُمْ نِسَاؤُهُمْ فَطَفِقَ نِسَاؤُنَا يَتَعَلَّمْنَ مِنْ نِسَائِهِمْ. فَتَغَضَّبْتُ يَوْمًا عَلَى امْرَأَتِي فَإِذَا هِيَ تُرَاجِعُنِي. فَأَنْكَرْتُ ذَلِكَ. فَقَالَتْ: مَا تُنْكِرُ. فَوَاللهِ إِنَّ أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُرَاجِعْنَهُ وَتَهْجُرُهُ إِحْدَاهُنَّ الْيَوْمَ إِلَى اللَّيْلِ. قَالَ: فَقُلْتُ لِحَفْصَةَ: أَتُرَاجِعِينَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَتْ: نَعَمْ. وَتَهْجُرُهُ إِحْدَانَا الْيَوْمَ إِلَى اللَّيْلِ. فَقُلْتُ: قَدْ خَابَتْ مَنْ فَعَلَتْ ذَلِكَ مِنْكُنَّ وَخَسِرَتْ أَتَأْمَنُ إِحْدَاكُنَّ أَنْ يَغْضَبَ اللهُ عَلَيْهَا لِغَضَبِ رَسُولِهِ. فَإِذَا هِيَ قَدْ هَلَكَتْ؟. فَتَبَسَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: فَقُلْتُ لِحَفْصَةَ: لَا تُرَاجِعِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا تَسْأَلِيهِ شَيْئًا وَسَلِينِي مَا بَدَا لَكِ. وَلَا يَغُرَّنَّكِ إِنْ كَانَتْ صَاحِبَتُكِ أَوْسَمَ مِنْكِ وَأَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: فَتَبَسَّمَ أُخْرَى. فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ. أَسْتَأْنِسُ؟ قَالَ: " نَعَمْ ". قَالَ: فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَمَا رَأَيْتُ فِي الْبَيْتِ إِلَّا أَهَبَةً ثَلَاثَةً. قَالَ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ. ادْعُ اللهَ أَنْ يُوَسِّعَ عَلَى أُمَّتِكَ فَقَدْ وَسَّعَ عَلَى فَارِسَ. وَالرُّومِ وَهُمْ لَا يَعْبُدُونَهُ. فَاسْتَوَى جَالِسًا. فَقَالَ: " أَفِي شَكٍّ أَنْتَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ؟ أُولَئِكَ قَوْمٌ عُجِّلَتْ لَهُمْ طَيِّبَاتُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا. قَالَ: وَكَانَ أَقْسَمَ أَنْ لَا يَدْخُلَ عَلَى نِسَائِهِ شَهْرًا فَعَاتَبَهُ اللهُ فِي ذَلِكَ وَجَعَلَ لَهُ كَفَّارَةَ الْيَمِينِ ". قَالَ

قَالَ الزُّهْرِيُّ: فَأَخْبَرَنِي عُرْوَةُ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: فَلَمَّا مَضَتْ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدَأَ بِي، قَالَ: " يَا عَائِشَةُ، إِنِّي ذَاكِرٌ لَكِ شَيْئًا فَلَا تَعْجَلِي حَتَّى تَسْتَأْمِرِي أَبَوَيْكِ، قَالَتْ: ثُمَّ قَرَأَ هَذِهِ الآيَةَ: يَأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ (الأحزاب :٢٨ " الآيَةَ. قَالَتْ: عَلِمَ وَاللَّهِ أَنَّ أَبَوَيَّ لَمْ يَكُونَا يَأْمُرَانِي بِفِرَاقِهِ. فَقُلْتُ: أَفِي هَذَا أَسْتَأْمِرُ أَبَوَيَّ فَإِنِّي أُرِيدُ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الآخِرَةَ. ([1])

ترجمه : د ثور نه روايت دي چي ابن عباس رضي الله عنه فرمائيلي دي: زما دا ډير لوي خواهش وو چي دعمرفاروق رضي الله عنه نه ددي خبري تپوس اوكړم چي درسول الله هغه بيبياني كومي كومي وي دچا متعلق چي الله تعالي فرمائيلي دي "إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا".تر دي چي يو خل چي كله عمر رضي الله عنه حج كولو او زه هم ورسره حج ته تلي وم چي اودس يي كولو نو مايي په لاسونو اوبه واچولي او پدغه وخت كې مي اوونيل اي اميرالمومنين درسول الله هغه بيبياني څوك څوك وي دچا متعلق چي الله تعالي "إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا" فرمائيلي دي؟ .عمر رضي الله عنه اوونيل اي دعباس څويه ستانه تعجب كوم (تاته دا هم معلوم نه دي) ، زهري وايي په الله قسم ابن عباس چي د كومي خبري تپوس وكړو هغه ورباندي بده ولګيدله مګر عمر فاروق حقيقت پټ نكړو او بيان يي كړو چي هغه دواړه عائشه او حفصه (رضي الله عنهما) وي .او بيا عمر فاروق رضي الله عنه پوره سرګزشت بيان كړو او وېي فرمائيل: زمونږ د قريشيانو په مكه كي دا حال وو چي مونږ ښځو غالب وو مګر كله چي مديني ته راغلو نو نور خلق مو وليدل چي خپلي ښځي ورباندي غالبي وي نو زمونږ ښځو هم د هغوئ نقش قدم ته كتل شروع كړل چي زدكړه يي ورنه وكړله نو يوه ورځ زه خپلي ښځي ته غصه شوم او هغي راته جواب راګرځول شروع كړل ما دا بده وګڼله چي دا راته جوابونه راوګرځوي نو هغي راته ووئيل ته دا ولي بد ګڼي په الله قسم د رسول الله بيباني خو هغه سره بحث مباحثه او تكرار كوي او كله كله ورسره بعضي ښځه پوره ورځ هم خبري ونكړي تردي چي شپه راشي . ما په زړه كي ووئيل وك چي داسي كوي نامراد او تاواني به پاتي كيږي، عمر فاروق ووئيل د بني اميه قبيلي په عوالي مقام كي زما كور وو او هلته زما يو انصاري ګاونډي وو مونږ خپل مينځ كي يو ترتيب جوړ كړو چي يوه ورځ به ته درسول الله مجلس ته ورځي چي د وحي د نزول او ضروري حالاتو خبر به ما ته راوړي او يوه ورځ به زه ورځم اود وحي د نزول او ضروري حالاتو خبر به تاته راوړم ، امير المؤمنين وئيل چي مونږ يوه ورځ دا

[1] انظر حديث رقم ٢٣٦١

خبري کولي چي غسانيانو زمونږ سره دجنګ کولو دپاره خپلو اسونو ته نعلونه اولګول . يوه ورځ يو انصاري دخپل نمبر په ورځ (درسول الله صلي الله عليه وسلم دخدمت) دماخوستن په وخت کې مونږ ته واپس راغي او دراتلو سره يې زما دروازه په زوره اووهله او تپوس يې اوکړو ايا عمر موجود دي ؟ نو زه ګبراؤ شوم او فورا بهر راووتلم انصاري اوونيل نن يولويه حادثه پيښه شوي ده ما اوونيل څه شوي دي؟ ايا غسانيان راغلي دي؟ وېي ونيل ددينه هم لويه حادثه پيښه شوي ده رسول الله صلي الله عليه وسلم خپلو بيبيانو ته طلاق ورکړي دي ما پخپل زړه کي اوونيل اي حفصې ناکام او نامراده شوي زما خو دمخکې نه دا خيال وو ډيره نژدي ده چي داسي به کيږي خو بيامي د ماخوستن د مونځ نه پس جامي بدل کړي او دتلو نه پس د حفصې کمري ته ورسيدم او هغي ژړل ما ورته ووئيل ايا رسول الله درته طلاق درکړي دي؟ هغي راته ووئل ماته پته نشته هغه خو دادي چي په دي بالاخانه کي يواځي ناست دی . عمر فاروق وايي چي زه دلته نه روان شوم او يو تور غلام ته ورغلم او ورته مي ووئيل چي درسول الله نه د عمر دپاره دداخليدو اجازت اوغواړه غلام داخل شو او درسول الله صلي الله عليه وسلم سره يې خبري اتري اوکړي خو چي بهر راغي نو وېي ونيل ما درسول الله صلي الله عليه وسلم سره خبري اوکړي او ستا ذکر مي ورته وکړو ليکن خاموش پاتي شو نوزه مجبورا واپس روان شوم او مسجد ته راغلم او دمنبر په خوا کې دهغه کسانو سره نژدي کيناستم څوك چي هلته موجود وو او ژړل يې ليکن ډير کينه ناسم او بيا ورغلم او غلام ته مي اوونيل چي زما دپاره د داخليدو اجازت اوغواړه نو دي دننه ورغلو او څه خبري يې اوکړي او يوه شيبه پس واپس راغي او وېي ونيل ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه ستا دپاره د داخليدو اجازت طلب کړو ليکن خاموشي يې اوکړه نو زه نااميده واپس راغلم اودهم هغه کسانو سره کيناستم څوك چي دمنبر په خوا کې ناست وو ليکن داندروني احساس دغلبي په وجه پاڅيدم او بيامي غلام ته اوونيل چي دعمر دپاره اجازت اوغواړه نو دي دننه ورغلو اويوه شيبه پس واپس راغي او وېي ونيل ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه ستا دپاره د داخليدو اجازت طلب کړو ليکن خاموشي يې اوکړه نو ما دواپس تلو دپاره شاکړه او روان شوم چي غلام ماته په چغه ووئيل چي ورشه رسول الله تاته دداخليدو اجازت وکړو نو ددي خبري په اوريدو سره زه دننه ورغلم او عرض مي وکړو چي اي دالله رسوله ايا ښځو ته دي طلاق ورکړي دي، رسول الله اوفرمائيل نه ما ووئيل الله اکبر اوګوره زمونږ قريشيان به مخکي په ښځو باندي غالب وو ليکن مديني ته دراتلو نه پس يې داسي خلق وليدل په چا باندي چي ښځي غالبي دي . نو زمونږ ښځو هم د هغوئ نقش قدم ته کتل شروع کړل چي زدکړه يې ورنه وکړله نو يوه ورځ زه خپلي ښځي ته غصه شوم او هغي راته جواب راګرځول شروع کړل ما دا بده وګڼړله چي دا راته جوابونه راوګرځوي نو هغي راته ووئيل ته دا ولي بد ګڼي په الله قسم د رسول الله بيباني خو

هغه سره بحث مباحثه او تکرار کوي او کله کله ورسره بعضي ښځه پوره ورځ هم خبري ونکړي
تردي چي شپه راشي ، ما حفصي مي ته ووئيل ايا ته رسول الله ته دخبري جواب ورګرځوي
هغي ووئيل هو او مونږ يي توله ورځ تر شپي پوري يواځي هم پريږدو ما ورته ووئيل چي
هرڅوك چي دا كار كوي هغه تبا او برباد دی او ايا تاسو نه ويريږئ چي د رسول الله د خفه كولو
په وجه به درباندي د الله غضب نازل شي او هلاكي به شئ . رسول الله چي دا واوريدل
نومسكي شو . او حفصي ته مي ووئيل رسول الله ته بيا جواب مه ورګرځوه اود هيڅ شي
مطالبه ورنه هم مه كوه او چي څه شي ته دي ضرورت وي نو ماته وايه رسول الله چي دا
واوريدل نومسكي شو او حفصي ته ووئيل ته په دي خبره كينه مه كوه چي ستا ګاونډۍ ستانه
زياته پرقيدونكي درسول الله صلي الله عليه وسلم ته ډيره محبوبه ده يعني عائشه بي بي.
رسول الله چي مي په مسكا وليدو ، ما عرض وكړو اي دالله رسوله يا د زړه خوشحالولو خبري
وكړم؟ راته يي اوفرمائيل هو و كيناستم او اندروني څيزونو ته مي كتل شروع كړل په الله قسم
چي ددري كڅي چمړو نه مي علاوه نور څه ونه ليدل ، ما عرض وكړو اي دالله رسوله دالله
تعالي نه دعا اوغواړه چي ستا په امت باندي فراخي راولي ، په روميانو او فارسيانو يي
فراخي راوستلي ده باوجود ددي چي هغوئ دالله اطاعت نه كوي.رسول الله ددي په اوريدو سره
چي تكيه يي وهلي وه كيناستو او ويي فرمائيل اي دخطاب خويه ايا ستا داخيال دي ، هغوئ
ته الله په دنيا كي دهغوئ دخوښي شيان وركړي دي (او په اخرت كي به يي هيڅ حصه نه وي) ،
عمر فاروق ووئيل چي رسول الله داسي قسم خوړلی وو چي تر يوي مياشتي پوري به خپلو
بيبانو ته نه ورځم نو الله تعالي په خپل رسول باندي عتاب وكړو. زهري وايي ما ته عروه د
عائشي رضي الله عنها نه خبر راكړی دی فرمائيل چي كله ٢٩ ورځي تيري شوي نو رسول الله
زما كمري ته را داخل شو او ماته يي اوفرمائيل زه درته يوه خبره كول غواړم مګر د سوچ كولو
نه مخكي په جواب راكولو كي جلتي مه كوه چي تر څو دي مور او پلار سره مشوره نه وي كړي
او بيا يي دا ايت كريمه" " تلاوت كړو، ام المؤمنين وايي رسول الله ته دا معلومه وه چي زما
مور او پلار ماته هيڅ كله درسول الله نه د جدايي اختيارولو مشوره نه راكوي ما ورته ووئيل
ايا په دي كي زه مشوره اوغواړم د مور او پلار نه زه خو الله او دهغه رسول او كور د اخرت
خوښوم او هم دوئ ته ترجيح وركوم.

تشريح : "إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللَّهِ" عائشه او حفصه رضي الله عنهما ته خطاب دي، دسورة په شروع
كي چي دعبيد بن عمير په سند سره دعائشه رضي الله عنها كوم بيان مروي دي بخاري او
مسلم ذكر كړي دي دهغي نه هم دا معلوميږي چي دا خطاب حفصه رضي الله عنها ته دي.

"فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا" يعني ستاسو د دواړو زړونه کاږه شوي دي او يو طرف ته مائل شوي يې او په حقه لار باندي قائم نه يې ځکه چي تاسو هغه خبره خوښه کړه کومه چي درسول الله خوښه نه وه رسول الله نه په خان باندي ماريه حراموله او نه يي دخپل راز خوريدل خوښ وو او ستاسو دا دواړه خبري خوښي وي حال دادي چي په هر کس باندي واجب دي چي کومي خبري لره رسول الله خوښي هغوئ هم دي خبري لره خوښ کړي او دکومي خبري نه چي رسول الله نفرت کوي دهغي نه نفرت اوکړي.
په فقد کي ف تعليليه دي او دزړه کوږ والي موجب دګناه دي او دګناه نه پس توبه واجب وي.
بخاري وغيره دابن عباس رضي الله عنهما بيان نقل کړي دي فرمائيل يي چي زما دا ډير لوي خواهش وو چي دعمرفاروق رضي الله عنه نه ددي خبري تپوس اوکړم چي درسول الله هغه ببيانې کومي کومي وي دچا متعلق چي الله تعالي فرمائيلي دي "إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا".
يو خل چي کله عمر رضي الله عنه ته ورغلو او زه هم ورسره حج ته تلي وم او په لاره کي ورته دقضاء حاجت ضرورت پيښ شو او يو طرف ته ستون شو نو زه هم ورسره ستون شوم کله چي يي ضرورت پوره کړو او واپس راغي نو مايي په لاسونو اوبه واچولي او پدغه وخت کي مي اووئيل اي اميرالمومنين درسول الله هغه ببيانې څوك څوك وي دچا متعلق چي الله تعالي "إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا" فرمائيلي دي؟
عمر رضي الله عنه اووئيل اي دعباس خويه ستانه تعجب کوم او هغه دواړه عائشه او حفصه (رضي الله عنهما) وي.
او بيا عمر فاروق رضي الله عنه پوره سرګزشت بيان کړو او ويي فرمائيل ما او دبني اميه بن زيد قبيلي يوانصاري چي دمديني دعوالي اوسيدونکي وو يوه مشوره کړي وه چي په نمبر نمبر به مونږ دواړه رسول الله ته ورخو چي يوه ورځ به زه ورځم او يوه ورځ به دي ورځي زما دنمبر په ورځ چي کومه وحي نازليږي يا بله کومه اهمه واقعه پيښيږي دهغي خبر به زه دي انصاري ته ورکوم او دده دنمبر په ورځ کي چي څه کيږي دي به ماته دهغي خبر راکوي.
زمونږ قريشيان پخپلو ښځو غالب وو ليکن کله چي مونږ مديني ته راغلو نو هلته مو داسي خلق اوموندل په چا باندي چي خپلي ښځي غالبي وي غرض داچي زمونږ ښځو هم د انصاري ښځو خوي او خصلت خپل کړو . يوه ورځ ما خپلي ښځي ته په چغه اواز اوکړو نو هغي هم راته په چغه اواز راکړو ماته چي ددي جواب بد ښکاره شو نو هغي اووئيل زما جواب دي څنګه خوښ نشو؟ درسول الله صلي الله عليه وسلم ببيانې هم رسول الله صلي الله عليه وسلم ته

دبعضو خبرو جواب ورکوي بلکه بعضي ښځي خو ټوله ورځ دماښامه پوري رسول الله صلي الله علیه وسلم لره پرېږدي (یعني خبري ورسره نه کوي).
زه ددي خبرو په اوریدو سره ګبراؤ شوم او اومي وئیل څوك چي داسي کوي نامراد به پاتي کیږي او بیا مي ددینه پس جامي بدل کړي او حفصي (رضي الله عنها) ته ورغلم او تپوس مي ورنه اوکړو چي ایا په تاسو کي څوك د رسول الله صلي الله علیه وسلم نه دومره خفګان هم کوي چي تمامه ورځ ترماښامه پوري یي پرېږدي؟ حفصه رضي الله عنها اووئیل هو ما اووئیل ته به ناکام او نامراده شي ایا ستا سره دا ویره نشته چي د درسول الله صلي الله علیه وسلم په خفه کولو الله تعالي خفه کیږي او بیا به ته تباه شي خبردار درسول الله صلي الله علیه وسلم نه به زیاتي خرچي نه غواړئ او په کومه معامله کي به ورته جواب نه ورکوئ او پرېږدئ به یي نه (یعني خبري کول) او څه چي دي پکاریږي زما نه یي غواړه او ته په دي خبره کینه مه کوه چي ستا ګاونډئ ستانه زیاته پرقیدونکي درسول الله صلي الله علیه وسلم ته ډیره محبوبه ده یعني عائشه.
عمر رضي الله عنه اوفرمائیل پدغه وخت کي مونږ پخپل مینځ کي تذکره کوله چي غسانیانو زمونږ سره دجنګ کولو دپاره خپلو اسونو ته نعلونه اولګول ، یوه ورځ یو انصاري دخپل نمبر په ورځ (درسول الله صلي الله علیه وسلم دخدمت ، دماخوستن په وخت کي مونږ ته واپس راغي او دراتلو سره یي زما دروازه په زوره اووهله او تپوس یي اوکړو ایا عمر موجود دي ؟ نو زه ګبراؤ شوم او فورا بهر راووتلم انصاري اووئیل نن یولویه حادثه پیښه شوي ده ما اووئیل څه شوي دي؟ ایا غسانیان راغلي دي؟ نو وېي وئیل ددینه هم لویه حادثه پیښه شوي ده رسول الله صلي الله علیه وسلم خپلو بیبیانو ته طلاق ورکړي دي ما اووئیل اي حفصي ناکام او نامراده شوي زما خو دمخکي نه دا خیال وو ډیره نزدي ده چي داسي به کیږي خو بیامي ددینه پس جامي بدل کړي او دتلو نه پس مي د رسول الله صلي الله علیه وسلم سره دسحر مونځ اوکړو دمونځ کولو نه پس رسول الله صلي الله علیه وسلم خپلي بالاخاني ته لاړو او هلته د ټولو نه کناره کش شو او زه حفصي ته ورغلم چي ژړل یي ما ورته اووئیل اوس ولي ژاړي ایا ما درته مخکي نه وو وئیلي، ایا تاسو ته رسول الله صلي الله علیه وسلم طلاق درکړي دي ؟ وېي وئیل ماته معلومه نه ده چي په څه وجه رسول الله صلي الله علیه وسلم دهر چانه جدا ناست دي نو زه دحفصي دخوانه روان شوم او په مسجد کي منبر ته ورسیدم او پدغه وخت کي دمنبر نه ګیرچاپیر څه کسان ناست وو چي ژړل یي نو زه هم ورسره لږ ډیر وخت دپاره کیناستم لیکن داندروني غم په وجه زما نه هلته ډیر کیناستل اونه شول او فورا دبالاخاني طرف ته ورغلم چرته چي رسول الله صلي الله علیه وسلم کناره کشي کړي وه ، غلام ته مي اووئیل چي درسول الله صلي الله علیه وسلم نه دعمر دپاره دداخلیدو اجازت اوغواړه غلام داخل شو او درسول الله

صلي الله عليه وسلم سره يي خبري اتري اوكړي خو چي بهر راغي نو وبي وئيل ما درسول الله صلي الله عليه وسلم سره خبري اوكړي او ستا ذكر مي ورته وكړو ليكن خاموش پاتي شو نوزه مجبورا واپس راغلم او دمنبر په خوا كي دهغه كسانو سره نژدي كيناستم څوك چي هلته موجود وو ليكن ډير كينه ناستم او بيا ورغلم او غلام ته مي اوونيل چي زما دپاره د داخليدو اجازت اوغواړه نو دي دننه ورغلو او څه خبري يي اوكړي او يوه شيبه پس واپس راغي او وبي وئيل ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه ستا دپاره د داخليدو اجازت طلب كړو ليكن خاموشي يي اوكړه نو زه نااميده واپس راغلم اودهم هغه كسانو سره كيناستم څوك چي دمنبر په خوا كي ناست وو ليكن داندروني احساس دغلبي په وجه پاڅيدم او بيامي غلام ته اوونيل چي دعمر دپاره اجازت اوغواړه نو دي دننه ورغلو اويوه شيبه پس واپس راغي او وبي وئيل ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه ستا دپاره د داخليدو اجازت طلب كړو ليكن خاموشي يي اوكړه نو ما دواپس تلو دپاره شاكړه او روان شوم چي غلام ماته په چغه وونيل چي رسول الله تاته دداخليدو اجازت وكړو نو ددي خبري په اوريدو سره زه دننه ورغلم نو ما وليدل چي رسول الله برينډ په چټايي باندي استراحت فرمادي چي په دي وجه يي په بدن چټايي نشان جوړ شوي وو اودسردلاندي يي يوبالخت وو چي دكهجورو دريشو نه ډك كړي شوي وو ، ما سلام وكړو او عرض مي وكړو چي اي دالله رسوله ايا تا بيبانو ته طلاق وركړي دي؟نو زما طرف ته يي وكتل او وبي فرمائيل نه الله اكبر، درسول نه دشرميدو په وجه ما خپل سوال په ولاړه ولاړه وكړو او عرض مي وكړو چي اي دالله رسوله اوګوره زمونږ قريشيان به مخكي په ښځو باندي غالب وو ليكن مديني ته دراتلو نه پس يي داسي خلق وليدل په چا باندي چي ښځي غالبي دي ، رسول الله چي دا واوريدل نومسكي شو ما عرض وكړو اي دالله رسوله زه حفصي ته ورغلي وم او ورته مي ووئيل چي ستا دپاره په دي خبره كينه كول نه دي پكار، خبردار درسول الله صلي الله عليه وسلم نه به زياتي خرچي نه غواړئ او په كومه معامله كي به ورته جواب نه وركوئ او پريږدئ به يي نه (يعني خبري كول) او څه چي دي پكاريږي زما نه يي غواړه او ته په دي خبره كينه مه كوه چي ستا ګاونډئ ستانه زياته پرقيدونكي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ډيره محبوبه ده يعني عائشه.

رسول الله چي دا واوريدل نومسكي شو . رسول الله چي مي په مسكا وليدو نو كيناستم او اندروني څيزونو ته مي كتل شروع كړل په الله قسم چي ددري كڅي چمړو نه مي علاوه نور څه ونه ليدل ، ما عرض وكړو اي دالله رسوله دالله تعالي نه دعا اوغواړه چي ستا په امت باندي فراخي راولي ، په روميانو او فارسيانو يي فراخي راوستلي ده باوجود ددي چي هغوئ دالله اطاعت نه كوي

رسول الله ددي په اوريدو سره چي تکيه يي وهلي وه کيناستو او ويي فرمائيل اي دخطاب خويه ايا ستا داخيال دي ، هغوئ ته الله په دنيا کي دهغوئ دخوبني شيان ورکري دي او په اخرت کي به يي هيڅ حصه نه وي، . ما عرض وکړو چي اي دالله رسوله زما دپاره دالله نه دمغفرت دعا اوغواړه ، همدا وجه وه چي رسول الله دخپلو بيبيانو نه کناره کشي کړي وه څکه چي حفصي عائشي ته درسول الله راز ظاهر کړي وو.
الله تعالي په خپل رسول باندي عتاب کړي وونوځکه رسول الله دخپلو بيبيانو نه خفگان ظاهر کړو او عهد يي کړي وو چي زه به تريوي مياشتي دوئ ته نه ورځم چنانچي کله نهه ويشت ورځي تيري شوي نو دتولونه مخکي دام المومنين عائشه رضي الله عنها کورته ورغلو عائشي اووئيل اي دالله رسوله تاخو قسم خوړلي وو چي تريوي مياشتي پوري به په مونږ کي کومي بي بي ته نه ورځي ليکن نن خو دنهه ويشت ورځو نه پس سحر دي او ما مسلسل شميرل کړي دي نو ويي فرمائيل کله کله مياشت دنهه ويشت ورځو هم وي او واقعي دغه مياشت ديوکم ديرش ورځو وه دعائشه رضي الله عنها بيان دي چي ددينه پس ايت دتخير نازل شو دايت دنزول نه پس دتولو نه مخکي زما کور ته راغلو او ماته يي په نکاح کي دباقي پاتي کيدو او ازاديدو اختيار راکړو نو ماد رسول الله سره اوسيدل اختيار کړل او بيايي نورو بيبيانو ته هم دا اختيار ورکړو نو هغوئ تولو هم هغه اختيار قبول کړو کوم چي عائشه رضي الله عنها خوښ کړي دي (يعني که هر څومره ولږه او فقر وو خو کومي بي بي درسول الله نه جدا کيدل خوښ نکړل).
بخاري دعائشه رضي الله عنها نه روايت نقل کړي دي فرمائيل يي چي رسول الله ماته اوفرمائيل زه تاته يوه خبره کوم خو دمور او پلار سره دمشوري کولو نه بغير به په عجلت سره فوري جواب راکول په تاباندي لازم نه دي . رسول الله ته معلومه وه چي زما مور او پلار ماته درسول الله نه دجدا کيدو مشوره نه راکوي او بيايي ددينه پس اوفرمائيل الله تعالي فرمائيلي دي "ياايهاالنبي قل لازواجك ان كنتن..." ما عرض اوکړو په دي معامله کي به دمور او پلار سره څه مشوره اوکړم په دي کي مشوري ته څه ضرورت نشته زه خو الله تعالي او دهغه رسول او کور داخرت لره خوښوم.
ددي حديث نه معلوميږي رسول الله چي ديوي مياشتي پوري دخپلو بيبيانونه کناره کشي کړي وه دهغي سبب دراز ظاهرول دي کوم چي حفصي عائشي ته درسول الله راز ظاهر کړي وو.
ليکن مسلم دجابر رضي الله عنه نه روايت بيان کړي دي چي ابوبکر رضي الله عنه د داخليدو د اجازت غوښتلو دپاره راغي او ويي ليدل چي څه کسان درسول الله د دروازي سره ناست دي او د داخليدو اجازت غواړي ليکن هيچا ته اجازت نه دي ورکړي شوي ليکن رسول الله ابوبکر ته اجازت ورکړو او دننه ورداخل شو بيايوه شيبه پس عمر رضي الله عنه راغي او د داخليدو

اجازت يي اوغوښتلو نو رسول الله هغه ته هم اجازت ورکړو عمرفاروق چي داخل شو نو ويي ليدل چي رسول الله غمژن او خاموش ناست دي عمر رضي الله عنه په زړه کي اووئيل کومه داسي خبره به اوکړي چي رسول الله ته خندا ورشي نو ويي وئيل اي داالله رسوله که چري دخارجه لور (يعني زما ښځه زما نه زياته خرچي اوغواړي) نو زه به يي څټ مات کړم ددي خبري په اوريدو سره رسول الله مسکي شو او ويي فرمائيل تاسو وينئ چي دا ښځي زما نه گير چاپير راجمع شوي دي او زما نه دخرچي زياتول غواړي ددي په اوريدو سره ابوبکر رضي الله عنه عائشه رضي الله عنها طرف ته ورمنډه کړل ددي دپاره چي څټ يي تاؤ کړي او عمر رضي الله عنه هم دحفصي طرف ته ورمنډه کړل او دوئ دواړو خپلو لونړو ته اووئيل چي هرگز به درسول الله نه داسي څيز نه غواړئ کوم چي ورسره نه وي او بيا ددينه پس درسول الله ديوي مياشتي يعني ديوکم ديرش شپو پوري کناره کشي اختيار کړه او بيا ايت دتخير نازل شو او دټولو نه مخکي رسول الله دعائشي کورته ورغلو او دهغي په وړاندي يي ايت دتخير تلاوت کړو.

حافظ ابن حجر ليکلي دي دا کيدي شي چي ددي تمامو واقعاتو مجموعه د ببيانو نه دکناره کش کيدو په سبب شوي وي، دشهدو قصه . دماريه واقعه، او دحفصي عائشي ته درسول الله راز ښکاره کول او دبيبانو دطرف نه دنفقي دوسعت درخواست کول او دزينب دطرف نه دري پيري هديه واپس کول او په هر خل درسول الله په هديه کي اضافه کول لکه چي ابن سعد دعمره په سند سره روايت بيان کړي وو دا تمام واقعات وړاندي وروسته پيښ شوي دي او رسول الله به دصبر مظاهره کوله او معافي به يي کوله . درسول الله دمکارم اخلاق او بلندي حوصلي همدا تقاضا وه چي کله دا واقعات مسلسل پيښ شول نو دښځو نه يي کناره کشي اختيار کړه (اوطلاق يي ورنکړل) او بيا ورنه راضي شو

"وَإِنْ تَظَٰهَرَا عَلَيْهِ" که چري تاسو دواړه درسول الله په خلاف يوه دبلي تعاون اوکړئ اوداسي خبري اوکړئ کومي چي درسول الله خوښي نه وي مثلا دنفقي توسيع او دراز خوروول شو نو هرگز به کاميابي نشي دترجمي دا اخري جمله دشرط جزاده محذوفه ده.

"فَإِنَّ اللَّهَ" ف تعليليه ده او دا د نه کاميابيدو علت دي

"مَوْلَاهُ" يعني الله تعالي دهغه مددگار دي او جبرائيل کوم چي دمقربو فرشتو سردار دي هغه هم درسول الله رفيق او مددگار دي

****

قَالَ مَعْمَرٌ: فَأَخْبَرَنِي أَيُّوبُ، أَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ لَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، لَا تُخْبِرْ أَزْوَاجَكَ أَنِّي اخْتَرْتُكَ. فَقَالَ

النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا بَعَثَنِي اللهُ مُبَلِّغًا وَلَمْ يَبْعَثْنِي مُتَعَنِّتًا". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. قَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. (1)

ترجمه دمعمر قول دي ماته ايوب اووئيل چي عائشه رضي الله عنها رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اووئيل اي دالله رسوله ته خپلو بي بيانو ته ددي خبري خبر مه ورکوه کومي چي ما اختيار کړي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زه الله تعالي حق رسونکو ليږلي يم او پريشاني پيداکونکي بي نه يم ليږلي

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح غريب دی. اود ابن عباس نه په نورو سندونو هم مروي دي

نوټ: او په دي روايت کي دي چي څوك تپوس اوکړي چي عائشه څه جواب ورکړو نو بيان به يي کړم او که تپوس يي نه وي کړي نو نه به يي وايم مګر هيڅا تپوس اونکړو تول ازواجو: ايت د اوريدو سره رسول الله اختيار کړو.

****

٦٦_باب وَمِنْ سُورَةِ الْقَلَمِ

د سورة القلم دبعضي ايتونو تفسير

٣٣١٩_حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ سُلَيْمٍ. قَالَ: قَدِمْتُ مَكَّةَ فَلَقِيتُ عَطَاءَ بْنَ أَبِي رَبَاحٍ. فَقُلْتُ لَهُ: يَا أَبَا مُحَمَّدٍ إِنَّ أُنَاسًا عِنْدَنَا يَقُولُونَ فِي الْقَدَرِ. فَقَالَ عَطَاءٌ: لَقِيتُ الْوَلِيدَ بْنَ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي. قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. يَقُولُ: "إِنَّ أَوَّلَ مَا خَلَقَ اللهُ الْقَلَمَ. فَقَالَ لَهُ: اكْتُبْ. فَجَرَى بِمَا هُوَ كَائِنٌ إِلَى الأَبَدِ. وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ. قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. وَفِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. (2)

ترجمه عبد الواحد بن سليم وايي چي مکي ته راغلم اود عطاء بن ابي رباح محدث سره مي ملاقات شو ما ورته ووئيل اي ابو محمد بعضي خلق دتقدير په مسائلو کي بحثونه کوي. عطاء ووئيل زه وليد بن عباده بن الصامت ته ورغلم ونيل يي چي ماته زما پلار حديث بيان کړی دی چي مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چي فرمائيل ني الله تعالي اول قلم پيداکړو ورته ني اوفرمائيل وليکه نو قلم شروع شو چي څه کارونه د قيامته پوري

---

1 _ صحيح مسلم/الطلاق ٥(١٤٧٥)

2 _ انظر حديث رقم ٢١٥٥

راتلونكي وو تول يي وليكل اوپه دي حديث كي يوه اوږده قصه ده.
امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح غريب دی، او په دي باب کي د ابن عباس رضي الله عنهما نه هم حديث وارد دی

دعباده بن صامت رضي الله عنه حالات:

نوم عباده كنيه ابو الوليد په بني خزرج کې يي دسالم خاندان سره تعلق دی دپلار نوم يي صامت او دمور نوم يي قرة العين وو، په غزوه بدر او ددينه پس په تمامو عزواتو کې شريك پاتي شوی دی او په بيعة الرضوان کې هم موجود وو (طبقات ابن سعد)
خلافت صديقي او فاروقي کې هم په جنګونو کې شريك پاتي شوی دی
عمرفاروق رضي الله عنه دخپل خلافت په زمانه کې دی دفلسطين قاضي مقرر کړی دی عباده د حفاظو صحابه کرامو دجملي نه وو چي اصحاب صفه ته به يي دقرائت تعليم ورکولو (مسند احمد).

عمرفاروق رضي الله عنه دی په شام کې دمسلمانانو دتعليم دپاره متعين کړی وو دقرانت نه علاوه په فقه کې ورته هم مال حاصل وو يوخل قتاده دعباده ملاقات ته لاړو نو ويې وئيل "وكان قد تفقها في دين الله" يعني عباده دالله په دين کې مهارت حاصل کړی وو
وفات: د دوه اوياکالو په عمر کې دهجرت په ۳۴کال وفات شو دوفات وخت يي چي نزدي شو نو يو خوي يي ورته دوصيت کولو درخواست اوکړو نو ويې فرمائيل مانيغ کينوئ او بيايي ددينه پس اوفرمائيل ای بچيه په تقدير به يقين ساتي ورنه ايمان ته دي خيرنشته (مسند احمد)

دده د دفن كيدو دخاي په باره کې دعلماؤ دري اقوال دي ، اول ابن سعد رمله مقام ليکلی دی. دويم بعضي علماؤ بيت المقدس ليکلی دی او امام بخاري فلسطين ليکلی دی. ددي دري واړو په حقيقت کې څه اختلاف نشته خکه چي رمله په فلسطين کې يوه صوبه ده او بيت المقدس هم يوه ضلع ده دده دروايت شمير ۱۸۱ دی چي شپږ متفق عليه دي او دوه صرف بخاري نقل کړي دي

****

٦٧_باب وَمِنْ سُورَةِ الحَاقَّةِ

دسورة الحاقه دبعضي ايتونو تفسير

٣٣٢٠_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي قَيْسٍ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَيْرَةَ، عَنِ الأَحْنَفِ بْنِ قَيْسٍ، عَنِ العَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ المُطَّلِبِ، زَعَمَ

أَنَّهُ كَانَ جَالِسًا فِي الْبَطْحَاءِ فِي عِصَابَةٍ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ فِيهِمْ، إِذْ مَرَّتْ عَلَيْهِمْ سَحَابَةٌ فَنَظَرُوا إِلَيْهَا. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " هَلْ تَدْرُونَ مَا اسْمُ هَذِهِ؟" قَالُوا: نَعَمْ، هَذَا السَّحَابُ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " وَالْمُزْنُ ". قَالُوا: وَالْمُزْنُ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " وَالْعَنَانُ ". قَالُوا: وَالْعَنَانُ، ثُمَّ قَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " هَلْ تَدْرُونَ كَمْ بُعْدُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ؟ " فَقَالُوا: لَا وَاللَّهِ مَا نَدْرِي، قَالَ: " فَإِنَّ بُعْدَ مَا بَيْنَهُمَا إِمَّا وَاحِدَةٌ وَإِمَّا اثْنَتَانِ أَوْ ثَلَاثٌ وَسَبْعُونَ سَنَةً، وَالسَّمَاءُ الَّتِي فَوْقَهَا كَذَلِكَ. حَتَّى عَدَّدَهُنَّ سَبْعَ سَمَوَاتٍ كَذَلِكَ. ثُمَّ قَالَ: فَوْقَ السَّمَاءِ السَّابِعَةِ بَحْرٌ بَيْنَ أَعْلَاهُ وَأَسْفَلِهِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ إِلَى السَّمَاءِ وَفَوْقَ ذَلِكَ ثَمَانِيَةُ أَوْعَالٍ بَيْنَ أَظْلَافِهِنَّ وَرُكَبِهِنَّ مِثْلُ مَا بَيْنَ سَمَاءٍ إِلَى سَمَاءٍ. ثُمَّ فَوْقَ ظُهُورِهِنَّ الْعَرْشُ بَيْنَ أَسْفَلِهِ وَأَعْلَاهُ مِثْلُ مَا بَيْنَ سَمَاءٍ إِلَى سَمَاءٍ وَاللَّهُ فَوْقَ ذَلِكَ ". قَالَ عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، سَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ مَعِينٍ، يَقُولُ: أَلَا يُرِيدُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَعْدٍ أَنْ يَحُجَّ حَتَّى نَسْمَعَ مِنْهُ هَذَا الْحَدِيثَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. وَرَوَى الْوَلِيدُ بْنُ أَبِي ثَوْرٍ، عَنْ سِمَاكٍ، نَحْوَهُ وَرَفَعَهُ، وَرَوَى شَرِيكٌ، عَنْ سِمَاكٍ بَعْضَ هَذَا الْحَدِيثِ أَوْقَفَهُ وَلَمْ يَرْفَعْهُ. وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ هُوَ ابْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعْدٍ الرَّازِيُّ. ([1])

ترجمه: دعباس بن عبد المطلب‌ نه روایت دي فرماني چي زه په بطحاء مقام کي په یوه ډله کي ناست وم اوپه هغوي کي رسول الله هم موجود وو‌په دي وخت کي دوریځي یوه ټکړه روانه وه رسول کریم صلي الله علیه وسلم ورته وکتل اوبیاني اوفرمائیل تاسودیته څه وایئ؛صحابه کرامو عرض وکړوچي سحاب رسول کریم صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل مزن ورته هم وئیلي شي عرض وکړي شوچي مزن ورته هم وئیلي شي. رسول کریم صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل عنان ورته هم وئیلي شي، عرض وکړي شوچي عنان ورته هم وئیلي شي، رسول کریم صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل: ایاتاسوته معلومه ده چي دزمکي اواسمان په مینځ کي څومره مسافه ده؛عرض وکړي شوچي مونږ ته معلومه نده رسول کریم صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل دیو اویا یادوه اویا یا ددري اویاکالو دمودي په مقدار ددوی په مینځ کي مسافه ده. بیاددي دپاسه دویم اسمان هم په دومره مسافه باندي واقع دی تردي چي اوه واړه اسمانونه ئي بیان کړل. بیاد اوم اسمان دپاسه دریاب دی دکوم دپاسه اودژوروالي په مینځ کي دومره مسافه ده لکه دیو اسمان نه دبل اسمان پوري مسافه ده بیاددي دپاسه اته چیلئ دي دمطلب داچي

[1] ـ ابي داود/ السنة ١٩ (٤٧٢٣)، سنن ابن ماجه/ المقدمة ١٣ (١٩٣) (تحفة الأشراف: ٥١٢٤)

دچیلوپه شکل ملائك دي،چي دهغوي دنوکانو اودگیتوترمینځ دومره مسافه ده لکه څومره چي دیواسمان نه دبل اسمان پوري مسافه ده بیاددوي په شاباندي عرش دی ددي دپاسه اودکناروترمینځ دومره مسافه ده لکه څومره چي دیواسمان نه دبل اسمان پوري مسافه ده بیاالله تبارك وتعالي ددي دعرش دپاسه دی ·

امام ترمذي رحمه الله وايي دا حديث حسن غريب دي وليد بن ابوثور هم دسماك نه ددي پشان روايت نقل كړي دي او مرفوعا يي نقل كړي دي. شريك دسماك نه ددي حديث بعضي حصي نقل كړي دي مګر موقوف يي نقل كړي دي او مرفوع يي نه دي نقل كړي او دعبدالرحمن دپلار نوم عبدالله بن سعد رازي دي

****

٣٣٢١ـحَدَّثَنَايَحْيَى بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَعْدٍ الرَّازِيِّ، أن أباه أخبره، عن أبيه، قَالَ: رَأَيْتُ رَجُلًا بِبُخَارَى عَلَى بَغْلَةٍ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ وَيَقُولُ: كَسَانِيهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ".([1])

ترجمه : دعبدالرحمن بن عبد الله بن سعد رازي نه روايت دي فرمائي چي ماته زما پلار عبدالله خبر راكړي دي فرمائيل يي چي ما په بخارې كي يوكس چي په قچره سور وو او پسر يي تور پټكي تړلي وو ليدلي وو او وئيل يي دا هغه عمامه ده كومه چي ماته رسول الله صلي الله عليه وسلم راپسر كړي وه

****

٦٨ـباب وَمِنْ سُورَةِ سَأَلَ سَائِلٌ

دسورة معارج دبعضي ايتونوتفسير

٣٣٢٢ـحَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا رِشْدِينُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الحَارِثِ، عَنْ دَرَّاجٍ أَبِي السَّمْحِ، عَنْ أَبِي الْهَيْثَمِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ: " كَالْمُهْلِ (الكهف :٢٩، قَالَ: " كَعَكَرِ الزَّيْتِ، فَإِذَا قَرَّبَهُ إِلَى وَجْهِهِ سَقَطَتْ فَرْوَةُ وَجْهِهِ فِيهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ رِشْدِينَ. ([1])

[1] ـ ابي داود/السنة ١٩(٤٧٢٣)، سنن ابن ماجه المقدمة ١٣(١٩٣)(تحفة الأشراف: ٢٢٥١)

[2] ـ انظر حديث رقم ٢٥٨١

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دايت كريمه "يوم تكون السماء كالمهل" په تفسير كي فرمائيلي دي ددينه مراد دتيلو خيري دي كله چي كافر دي لره خولي ته رانژدي كړي نو دسر څرمن به يي سره دويختو نه پريوځي
امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث غريب دي او مونږ يي صرف درشدين په روايت پيژنو.

****

٦٩ـ باب وَمِنْ سُورَةِ الْجِنِّ

دسورة جن دبعضي ايتونو تفسير

٣٣٢٣ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنِي أَبُو الْوَلِيدِ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: "مَا قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْجِنِّ وَلَا رَآهُمْ، انْطَلَقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي طَائِفَةٍ مِنْ أَصْحَابِهِ عَامِدِينَ إِلَى سُوقِ عُكَاظٍ، وَقَدْ حِيلَ بَيْنَ الشَّيَاطِينِ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ، وَأُرْسِلَتْ عَلَيْهِمُ الشُّهُبُ، فَرَجَعَتِ الشَّيَاطِينُ إِلَى قَوْمِهِمْ، فَقَالُوا: مَا لَكُمْ؟ قَالُوا: حِيلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ وَأُرْسِلَتْ عَلَيْنَا الشُّهُبُ، فَقَالُوا: مَا حَالَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ إِلَّا أَمْرٌ حَدَثَ، فَاضْرِبُوا مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا، فَانْظُرُوا مَا هَذَا الَّذِي حَالَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ، قَالَ: فَانْطَلَقُوا يَضْرِبُونَ مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا يَبْتَغُونَ مَا هَذَا الَّذِي حَالَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ، فَانْصَرَفَ أُولَئِكَ النَّفَرُ الَّذِينَ تَوَجَّهُوا نَحْوَ تِهَامَةَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِنَخْلَةَ عَامِدًا إِلَى سُوقِ عُكَاظٍ وَهُوَ يُصَلِّي بِأَصْحَابِهِ صَلَاةَ الْفَجْرِ، فَلَمَّا سَمِعُوا الْقُرْآنَ اسْتَمَعُوا لَهُ، فَقَالُوا: هَذَا وَاللهِ الَّذِي حَالَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ، قَالَ: فَهُنَالِكَ رَجَعُوا إِلَى قَوْمِهِمْ، فَقَالُوا: يَا قَوْمَنَا: إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا ، يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا (الجن :٢١) فَأَنْزَلَ اللهُ عَلَى نَبِيِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنَ الْجِنِّ، وَإِنَّمَا أُوحِيَ إِلَيْهِ قَوْلُ الْجِنِّ".[1]

ترجمه دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه قران جناتو ته اورولي دي او نه يي هغوئ ليدلي دي ،واقعه داسي وه، رسول الله صلي

[1] اورده البخاري في الجامع الصحيح (الأذان ١٠٥ (٧٧٣) ، تفسير سورة الجن (٤٩٢١) ، صحيح مسلم (الصلاة ٣٣ (٤٤٩) تحفة الأشراف . ٥٤٥٢)

الله عليه وسلم دخپلو صحابه کرامو سره دعکاظ بازار ته روان وو ،دبعثت محمدي نه څه ورخې پس، دشیطانانو او اسماني خبرونو حاصلولو په مینځ کې رکاوټ پیدا کړې شوې وو او په دوئ باندې دشغلو وریدل شروع شوي دي نو دوئ خپل قوم ته واپس راغلل او قوم ورته اوونیل څه خبره ده څنګه واپس راغلئ؟ هغوئ اوونیل زمونږه او اسماني خبرونو په مینځ کې دخل اندازي شوي ده. داسماني خبرونو داوریدو نه دمنع کولو دپاره مونږ په ستورو ویشتلې شوي یو قوم اوونیل داسې ښکاري په دنیا کې کوم نوې څیز ظاهریدونکې دي دکوم په وجه چې زمونږ او داسماني خبرونو په مینځ کې رکاوټ پیدا شوي دي چنانچې هغوئ دزمکې په خلورو ګوټونو کې په مغربونو او مشرقونو کې تلاش شروع کړو. دشیطانانو کومه ډله چې تهامه طرف ته تلې وه هغوئ درسول الله صلي الله علیه وسلم په خوا کې تیر شول او دغه وخت کې رسول الله صلي الله علیه وسلم عکاظ بازار ته په لاره روان وو او په نخله مقام کې موجود وو او دخپلو صحابه کرامو سره یې دسحر مونځ کولو هر کله چې دوئ قران واوریدو نو په پوره توجه سره یې ورته غوږ کیخودو داوریدو سره یې اوونیل قسم په الله دا هم هغه څیز دي کوم چې زمونږ او اسماني خبرونو په مینځ کې حائل شوي دي. ابن عباس رضي الله عنهما وائي هم دې خاې نه دوئ خپل قوم ته واپس ورغلل او چې هلته ورسیدل نو ونیل یې اې زما قومه "يَا قَوْمَنَا: إِنَّا سَمِعْنَا قُرْءَانًا عَجَبًا ۱ يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا " هدایت کوي حق ته نو ایمان راوړیدي مونږ په دې باندې او هیڅرې به شریك نه جوړ ؤو د خپل رب سره هیڅوك او په همدې موقعه الله تعالي پخپل رسول " قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِنَ الْجِنِّ " یقینا ماته وحي شوي ده چې په جناتو کې یو څو کسانو قران واوریدو. نازل کړو او په رسول الله باندې دجناتو قول دوحې په طریقه نازل کړې شو

تشریح :إِنَّا سَمِعْنَا قُرْءَانًا چې معنی مصدري شي نو قرآءة جامعة نو جامع قراءة مراد دي یا قرآن په خپله معنی دي نو دوئ د قرآن نوم هم ایزده کړو یا دا چې د مخکنو آسمانی کتابونو د علم په وجه سره نې قرآن پیژندلو لکه د سورة احقاف ۳۰ نه معلومه ده. عَجَبًا قرآن د اعلی درجې فصاحت او بلاغت په وجه عجیبه دي یعنی مثال نه لري یا تعجب په دي وجه سره ؤو چې په دي کې د توحید نا اشنا مسئله ده چې دوئ د یهودیانو او نصارٰی نه دا نه وه اوریدلې. لکه چې مشرکانو ورته هم لَشَيْءٌ عُجَابٌ ونیلي ؤو په سورة ص ۵ پ ۲۳ کې ذکر دی او دې زمانه کې هم ډیرو خلقو ته د توحید او رسالت مسئله ډیره نااشنا ښکاري

دا د عَجَبًا تفسیر دي یعني عجیبه والي د دروغو او ګمراهې د وجې نه نهٔ دي لکه چې مشرکان ګمان کوی بلکه د هدایت او د ارشاد د وجې نه دي. رشد هغه حق دي. چې په هغې

باندي په عمل کولو کې مقصد ته رسيدل او کاميابي وی فامَنَّا بِهِ. فا دلالت کوی چې هدايت او رشد ايمان راوړلو ته مستلزم دي ولن نشرك بربنا اشاره ده چې دا جنّات دَ مخکې نه مشرکان وو او دا دليل دي چې دَ قرآن کريم خلاصه دَ شرکياتو ردّ دي. او څوك چې قرآن لفظًا او معنًى لولي. او بيا هم په شرك کې مبتلاء دی نو معلوميږی چې دوی دَ قرآن په مقصد باندې نه پوهيږی

****

وَبِهَذَا الإِسْنَادِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَوْلُ الْجِنِّ لِقَوْمِهِمْ: "لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللَّهِ يَدْعُوهُ كَادُوا يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا (الجن :١٩ قَالَ: لَمَّا رَأَوْهُ يُصَلِّي وَأَصْحَابُهُ يُصَلُّونَ بِصَلَاتِهِ فَيَسْجُدُونَ بِسُجُودِهِ، قَالَ: تَعَجَّبُوا مِنْ طَوَاعِيَةِ أَصْحَابِهِ لَهُ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ: لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللَّهِ يَدْعُوهُ كَادُوا يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا (الجن :١٩ ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه په مذکوره سند دا هم دابن عباس نه مروي دي فرمائيل يې دجناتو قول خپل قوم ته دا وو "لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللَّهِ يَدْعُوهُ كَادُوا يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا" ابن عباس وائي هر کله چې دوی رسول الله په مونځ کولو اوليدو او دده ملګري په دده پسې اقتداء کوي او دده دسجدې کولو سره سجده کوي نو جناتو اووئيل تعجب دي دده دملګرو نه چې دده اطاعت کوي نو دي وخت کې دوی خپل قوم ته اووئيل "لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللَّهِ يَدْعُوهُ كَادُوا يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا " او يقينا هر کله چې اودريدلو بنده دَ الله تعالى چې بلنه ني کوله د هغهٔ نو وی خلق چې شی په هغه باندې راپنډ .داحديث حسن صحيح دي.

تشريح: دا څلورمه وحی ده. او دَ عبدالله نه مراد نبی صلی الله عليه وسلم او هر داعی دَ حق دي په هره زمانه کې. او يَدْعُوا نه مراد دعوت الى الله دي او کادوا يکونون عليه لبدا. نه مراد مخالفت کوونکی خلق دی لِبَدًا دا دَ لِبْدَةٌ جمع ده هغه څيز چې اجزاء ني دَ يو بل دپاسه جمع وی او لمـــي غوندي ترينه جوړ شوي وی

****

٣٣٢٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ،

1 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الأذان ١٠٥ (٢...) . تفسير سورة الجن (٤٩٢١) . صحيح مسلم /الصلاة ٣١ (٤٤٦)
(تحفة الأشراف : ٥٤٥٢)

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ الْجِنُّ يَصْعَدُونَ إِلَى السَّمَاءِ يَسْتَمِعُونَ الْوَحْيَ، فَإِذَا سَمِعُوا الْكَلِمَةَ زَادُوا فِيهَا تِسْعًا، فَأَمَّا الْكَلِمَةُ فَتَكُونُ حَقًّا، وَأَمَّا مَا زَادُوهُ فَيَكُونُ بَاطِلًا. فَلَمَّا بُعِثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنِعُوا مَقَاعِدَهُمْ. فَذَكَرُوا ذَلِكَ لِإِبْلِيسَ، وَلَمْ تَكُنِ النُّجُومُ يُرْمَى بِهَا قَبْلَ ذَلِكَ. فَقَالَ لَهُمْ إِبْلِيسُ: مَا هَذَا إِلَّا مِنْ أَمْرٍ قَدْ حَدَثَ فِي الأَرْضِ. فَبَعَثَ جُنُودَهُ فَوَجَدُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمًا يُصَلِّي بَيْنَ جَبَلَيْنِ، أُرَاهُ قَالَ: بِمَكَّةَ فَلَقُوهُ فَأَخْبَرُوهُ، فَقَالَ: "هَذَا الَّذِي حَدَثَ فِي الأَرْضِ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي جنات به اسمان طرف ته دوحي اوريدو دپاره ختل او چي كله به يي يوه خبره واوريده دهغي سره به يي نورې خبرې يوځاى كړې چي كومې خبرې به دوئ اوريدلې وې هغه خو به حق وې ليكن چي دوئ به ورسره څه يوځاى كړې وو هغه باطل وو مګر كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مبعوث شو نو دوئ دختلو نه منع كړې شو تردې چي دوئ ددې خبرې ابليس ته اوكړو ددينه مخكي دوئ په ستورو نه ويشتلې كيدل، ابليس اووئيل په زمكه كي كومه نوې حادثه پيداكيدونكې ده او ابليس دمعلومات حاصلولو دپاره په زمكه كي خپل لښكر خور كړو او رسول الله صلي الله عليه وسلم يي د دوه غرونو په مينځ كي دمونځ كولو په حال كي اوموندلو، راوي وائي زما خيال دې چي ابن عباس اووئيل دا واقعه په مكه كي شوې وه دوئ چي درسول الله سره ملاو شول نو خپل قوم ته واپس ورغلل او دوئ اووئيل دا هم هغه حادثه ده كومه چي په زمكه كي ظاهره شوه

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي

****

٧٠_باب وَمِنْ سُورَةِ الْمُدَّثِّرِ

دسورة المدثر دبعضي ايتونو تفسير

٣٣٢٥_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُحَدِّثُ عَنْ فَتْرَةِ الْوَحْيِ، فَقَالَ فِي حَدِيثِهِ: "بَيْنَمَا أَنَا أَمْشِي سَمِعْتُ صَوْتًا مِنَ السَّمَاءِ فَرَفَعْتُ رَأْسِي، فَإِذَا الْمَلَكُ الَّذِي جَاءَنِي بِحِرَاءَ جَالِسٌ عَلَى كُرْسِيٍّ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ، فَجُئِثْتُ مِنْهُ رُعْبًا فَرَجَعْتُ فَقُلْتُ

1 تفرد به المؤلف وأخرجه النسائي في الكبرى (تحفة الأشراف ٥٥٩١)

زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي. فَدَثَّرُونِي فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ١ قُمْ فَأَنْذِرْ ٢ إِلَى قَوْلِهِ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ (المدثر :١-٥ قَبْلَ أَنْ تُفْرَضَ الصَّلَاةُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رَوَاهُ يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ. عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ. عَنْ جَابِرٍ. وَأَبُو سَلَمَةَ اسْمُهُ عَبْدُ اللَّهِ. [1]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه واوريدل چي دوحي دبنديدو واقعه يي ذكر كوله دخبرو په مينځ كي يي اوونيل زه په لاره روان وم چي ناڅاپه ما داسمان نه يو راتلونكي اواز واوريدو ما چي سر پورته كړو نو اومي كتل هغه فرښته راغلي ده كومه چي په غارحرا كي ماته راغلي وه او دزمكي او اسمان مينځ كي په يوه كرسۍ ناسته وه درعب په وجه په مابانديي دهشت راغلو او زه كور ته واپس راغلم كور والاته مي اوونيل كمبل رانه تاؤ كړئ نو خلقو راباندي كمبل خور كړو په همدي وخت كي ايت كريمه " يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ . قُمْ فَأَنْذِرْ . إِلَى قَوْلِهِ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ " نازل شو. دا واقعه دهغه وخت ده كله چي مونځ نه وو فرض شوي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي. دا حديث يحي بن ابي كثير دابو سلمه بن عبدالرحمن په واسطه دجابر رضي الله عنه نه نقل كړي وو او دابو سلمه نوم عبدالله دي او دعبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ځوي دي او دمديني په فقهاؤ كي شامل دي

تشريح: هر كله چي دَ سورة علق نه پس په رومبنى ځل دَ دي سورة اولنى اؤو ايتونه نازل شول نو اوفرمائيلي شو. چي پاسه او خلق دَ هغه سلوك دَ انجام نه وويره وه. چي په كومه طريقه چي دوئ روان دي. او په دي جهان كي چي دَ الله تعالى نه سيوا دَ نور چا لوئى بيانولي شي نو ته دَ الله تعالى لوئى بيان كړه. دَ دي فرمان په تعميل كي چي نبى صلى الله عليه وسلم دَ اسلام تبليغ شروع كړو. او دَ قرآن مجيد سورتونه ئي خلقو ته اوروَل نو په مكه كي شور او غوغا جوړه شوه. او دَ مخالفتونو طوفان راغي. څو مياشتي په دي حال كي تيري شوي. چي دَ حج وخت راغلو. او دَ مكي خلقو سره فكر پيدا شو. چي په دي موقع خو به دَ خلقو قافلي حج له راځي. او چي نبى صلى الله عليه وسلم دي حاجيانو له ورځي او دعوت وركوي. نو دا دعوت خو به دَ عرب په ګوټ ګوټ كي خور شي. دَ دي وجي نه دَ قريشو سردارانو مشوره اوكړه چي دَ حاجيانو په راتلو سره دَ نبى صلى الله عليه وسلم خلاف پروپيګنډه شروع كړي شي. دَ دي نه پس وليد بن مغيره حاضرينو ته اونيل چي كه چري مونږه دَ محمد صلى الله عليه وسلم خلاف مختلف خبري حاجيانو ته اوكړي. نو خمونږ اعتبار به ختم شي دَ دي وجي نه يوه خبره باندي اتفاق

---

[1] . اورده البخاري في الجامع الصحيح /بدء الوحي ١(٣) . وبدء الخلق ٧ (٣٢٣٨) ٢ (٣٩٢٢) . " (٣٩٥٣) . و الأدب ١١٨ (٦٢١٤)
. صحيح مسلم /الإيمان ٧٣ (١٦١) (تحفة الأشراف : ٣١٥١)

اوکړي. نو بعض خلقو اوئيل چي مونږ به محمد صلی الله علیه وسلم ته کاهن وايو. نو وليد اوئيل چي نه هغه کاهن نهٔ دي. چا اوئيل چي دي مجنون دي. نو وليد اوئيل چي مجنون هم نهٔ دي. نو چا اوئيل چي شاعر به ورته اووايو. نو وليد اوئيل چي شاعر هم نهٔ دي. نو چا اوئيل چي جادوګر به ورته اووايو. نو وليد جواب ورکړو چي جادوګر هم نه دي. بيا وليد اوئيل چي تاسو به دي خبرو کي کومه خبره هم کوئ. نو خلق به واني چي دا ناروا الزام دي. په الله تعالی قسم دي د محمد صلی الله علیه وسلم په کلام کي ډير خوږ والي دي. د دي جرړي ډيري ښکته دي. او د دي څانګي ډيري ميوه داري دي. په دي باندي ابو جهل په وليد باندي غصه شو او اوئيل ني چي ستا قوم تر هغي پوري ستا نه نهٔ خوشحاليږي تر څو چي تا په محمد صلی الله علیه وسلم څه خبره نهٔ وی جوړه کړي. نو وليد اوئيل چي ماته د سوچ کولو موقعه راکړي. بيا ني اوئيل چي مونږه به عرب خلقو ته اووايو چي د دهٔ په کلام کي داسي جادو دي. چي سړي د خوی د بچو، ښځي او خاندان نه جُدا کوی. د وليد دا خبره ټولو قبوله کړه. بيا د حج په زمانه کي د قريشو خلق په حاجيانو کي خوارهٔ شول. او ورته به ني ونيل چي دلته داسي يو سړي دي. چي هغه جادوګر دي. او د هغه جادو په خاندانونو کي تفريق پيدا کوی. د هغهٔ نه خان بچ ساتي. ليکن د دي نتيجه دا شوه چي قريشو د نبی صلی الله علیه وسلم نوم په خپله په ټول عرب کي خور کړو (ابن هشام ج ١ ٢٨٨. ٢٨٩) او د دي قصّي دا خبره چي وليد د ابو جهل په اصرار باندي کړي وه. نو دا د عکرمه روايت دي. ابن جرير په خپل تفسير کي نقل کړي ده

****

٣٣٢٦ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُوسَى، عَنِ ابْنِ لَهِيعَةَ، عَنْ دَرَّاجٍ، عَنْ أَبِي الْهَيْثَمِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الصَّعُودُ جَبَلٌ مِنْ نَارٍ يَتَصَعَّدُ فِيهِ الْكَافِرُ سَبْعِينَ خَرِيفًا ثُمَّ يُهْوَى بِهِ كَذَلِكَ فِيهِ أَبَدًا". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا مِنْ حَدِيثِ ابْنِ لَهِيعَةَ، وَقَدْ رُوِيَ شَيْءٌ مِنْ هَذَا عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَوْلَهُ مَوْقُوفٌ.[1]

ترجمه ابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي صعود په جهنم کي يو غر دي چي کافر به ورباندي اويا کالو پوري خيژي او بيا به ددينه راپرېوځي او همدا عذاب به دهٔ ته هميشه ورکولي شي

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث غريب دي او مونږ ته صرف دابن لهيعه په سند مرفوع رارسيدلي دي ددي حديث څه حصه دعطيه نه مروي ده چي دابو سعيد خدري نه يي موقوفا

---

[1] ـ انظر حديث رقم ٦ـ٣٥

نقل کړي ده.

*************:***

٣٣٢٧_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ. عَنْ مُجَالِدٍ. عَنِ الشَّعْبِيِّ. عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ. قَالَ: قَالَ نَاسٌ مِنَ الْيَهُودِ لِأُنَاسٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هَلْ يَعْلَمُ نَبِيُّكُمْ كَمْ عَدَدُ خَزَنَةِ جَهَنَّمَ؟ قَالُوا: لَا نَدْرِي حَتَّى نَسْأَلَ نَبِيَّنَا. فَجَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ غُلِبَ أَصْحَابُكَ الْيَوْمَ. قَالَ: "وَبِمَا غُلِبُوا؟" قَالَ: سَأَلَهُمْ يَهُودُ: هَلْ يَعْلَمُ نَبِيُّكُمْ كَمْ عَدَدُ خَزَنَةِ جَهَنَّمَ؟ قَالَ: "فَمَا قَالُوا؟" قَالَ: قَالُوا: لَا نَدْرِي حَتَّى نَسْأَلَ نَبِيَّنَا. قَالَ: "أَفَغُلِبَ قَوْمٌ سُئِلُوا عَمَّا لَا يَعْلَمُونَ. فَقَالُوا: لَا نَعْلَمُ حَتَّى نَسْأَلَ نَبِيَّنَا. لَكِنَّهُمْ قَدْ سَأَلُوا نَبِيَّهُمْ". فَقَالُوا: أَرِنَا اللهَ جَهْرَةً. عَلَيَّ بِأَعْدَاءِ اللهِ إِنِّي سَائِلُهُمْ عَنْ تُرْبَةِ الْجَنَّةِ وَهِيَ الدَّرْمَكُ. فَلَمَّا جَاءُوا قَالُوا: يَا أَبَا الْقَاسِمِ كَمْ عَدَدُ خَزَنَةِ جَهَنَّمَ؟ قَالَ: هَكَذَا وَهَكَذَا فِي مَرَّةٍ عَشَرَةٌ وَفِي مَرَّةٍ تِسْعَةٌ. قَالُوا: نَعَمْ. قَالَ لَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا تُرْبَةُ الْجَنَّةِ؟" قَالَ: فَسَكَتُوا هُنَيْهَةً ثُمَّ قَالُوا: خُبْزَةٌ يَا أَبَا الْقَاسِمِ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْخُبْزُ مِنَ الدَّرْمَكِ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ مُجَالِدٍ. (1)

ترجمه دجابر بن عبدالله رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي بعضي يهوديانو دصحابه کرامو نه تپوس اوکړو ايا ستاسو نبي ته معلومه ده چي دجهنم نګرانان څومره دي؟ هغوئ ورته اووئيل مونږ ته پته نشته مګر تپوس به ورنه اوکړو دي دوران کي يو کس نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته راغلو او وئيل يي اي محمد نن ستا ملګرو اوبائيلله رسول الله اوفرمائيل څنګه يي اوبائيلل هغه اووئيل يهوديانو ورنه سوال اوکړو چي ايا ستاسو نبي ته معلومه ده چي دجهنم نګرانان څومره دي رسول الله اوفرمائيل هغوئ څه جواب ورکړو دي کس اووئيل هغوئ دا جواب ورکړو چي مونږ ته معلومه نه ده مونږ به دخپل نبي نه تپوس اوکړو بيا به تاسو ته جواب درکړو رسول الله اوفرمائيل ايا هغه قوم هم بائيللي وي دکوم نه چي دداسي څيز باره کي تپوس اوکړي شي کوم چي دوئ ته معلوم نه وي، يعني په دي کي دبائيللو څه خبره ده، بلکه يهوديانو خو خپل نبي ته وئيلي وو مونږ ته الله تعالي ښکاره اوښايه او دالله تعالي دغه دشمنان ماته راوله زه ددوئ نه تپوس کوم چي دجنت خاوره دڅه څيز نه جوړه ده؟ او هغه ميده ده بياچي کله دوئ رسول الله ته دتپوس کولو دپاره راغلل چي دجهنم خزانچيان څومره دي

(1) تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٣٥١)

نورسول الله پخپلو لاسونو دوه پيري اشاره اوكړه يو خل په لسو ګوتو او بل خل په نهه ګوتو ‎(١٩)‎ يهوديانو اوونيل هو بيا ورته رسول الله تپوس اوكړو چي دجنت خاوره دڅه څيز نه ده هغوئ يو څو لمحي خاموش وو او بيايي اوونيل اي ابو القاسم د ډوډئ نه ده رسول الله اوفرمانيل دميدي ډوډئ نه

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث غريب دي او داحديث مونږ ته صرف دمجالد په سند معلوم دي

****

٣٣٢٨ـ حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّارُ. حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ. أَخْبَرَنَا سُهَيْلُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْقُطَعِيُّ، وَهُوَ أَخُو حَزْمِ بْنِ أَبِي حَزْمٍ الْقُطَعِيِّ. عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ. عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. أَنَّهُ قَالَ فِي هَذِهِ الآيَةَ: هُوَ أَهْلُ التَّقْوَى وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ (المدثر: ٥٦) قَالَ: قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: " أَنَا أَهْلٌ أَنْ أُتَّقَى. فَمَنِ اتَّقَانِي فَلَمْ يَجْعَلْ مَعِي إِلَهًا. فَأَنَا أَهْلٌ أَنْ أَغْفِرَ لَهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. وَسُهَيْلٌ لَيْسَ بِالْقَوِيِّ فِي الْحَدِيثِ وَقَدْ تَفَرَّدَ بِهَذَا الْحَدِيثِ عَنْ ثَابِتٍ. (١)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دايت كريمه "هو اهل التقوي واهل المغفرة" الله تعالي لائق دي ددي چي ويره تري اوكړي شي چي صورت يي صرف داښي چي داحكامو دمخالفت نه يي اجتناب وكړي شي. اوهغه لائق دي دبخښني كولو. باره كي اوفرمانيل الله تعالي فرمائي زه ددي اهل او لائق يم چي ويريدل رانه اوشي پس چاچي زما نه ويره اوكړه او زما سره يي بل څوك په عبادت كي شريك نكړو نو ماسره دا لائق دي چي زه ورته مغفرت اوكړم

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي. سهيل په باب دحديث كي قوي نه دي او هغه دثابت نه ددي حديث په نقل كولو كي منفرد دي

تشريح: هُوَ أَهْلُ التَّقْوٰى وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ يعني دمومنانو بندګانو دګناهونو معاف كولو مالك دي، دانس رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دايت كريمه "هو اهل التقوي" په سلسله كي فرمائيلي دي چي ستاسو رب فرمائيلي دي چي زه ددي قابل يم چي زماسره دي هيڅ شي شريك نكړي شي اونه چا لره زما مثل وګرځولي شي او زه ددي خبري

---

١ ـ سنن ابن ماجه/الزهد ٣٥ (٤٢٩٩) (تحفة الأشراف ٤٢٢)

هم قابل يم چي څوك تقوي لري اوهغه زما سره هيڅوك شريك نكړي نو زه به ورته مغفرت وكړم.(رواه احمد، والترمذي، والنسائي، وابن ماجه، والحاكم).

****

٧١_باب وَمِنْ سُورَةِ الْقِيَامَةِ

دسورة القيامه دبعضي ايتونو تفسير

٣٣٢٩_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ مُوسَى بْنِ أَبِي عَائِشَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ يُحَرِّكُ بِهِ لِسَانَهُ يُرِيدُ أَنْ يَحْفَظَهُ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ: لا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ (القيامة :١٦، قَالَ: فَكَانَ يُحَرِّكُ بِهِ شَفَتَيْهِ"، وَحَرَّكَ سُفْيَانُ شَفَتَيْهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ: قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ، كَانَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ يُحْسِنُ الثَّنَاءَ عَلَى مُوسَى بْنِ أَبِي عَائِشَةَ خَيْرًا.[1]

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي كله چي به په رسول الله صلي الله عليه وسلم قران نازليدو نو زر زر به يي ورباندي ژبه چلوله (تكرار به يي كولو) تردي پورې چي دا او محفوظ يي كړي نو دي باره كي الله تعالي دا ايت كريمه

"لاتحرك به لسانك لتعجل به" مه خوځوه په دي قران سره ژبه خپله چي تادي كوي په لوستلو ددي. نازل شو راوي وائي چي خپلي دواړه شونډي به يي خوزولي او دده شاګرد سفيان هم دخپلو شونډو خوزول اوخودل

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي. علي بن مديني وائي ديحي بن سعيد القطان قول دي چي سفيان ثوري موسي بن ابي عائشه ښه ګڼړلو

تشريح يعني په قران په جلتي جلتي سره ديادولو دپاره دوحي دتكميل نه مخكي ژبه مه خوځوه . دابن عباس رضي الله عنهما په قول درسول الله صلي الله عليه وسلم سره دا انديښنه وه چي دنازل شوي وحي كومه حصه رانه چرته هېره نشي نوپه دي وجه به يي دوحي دنزول په دوران شونډو مباركو ته په مزه مزه حركت وركولو.بخاري ومسلم)

[1] _ اورده البخاري في الصحيح /بدء الوحى ۴ (۵) وتفسير سورة القيامة ۱ (۴۹۲۷)، و۲ (۴۹۲۸)، و۳ (۴۹۲۹)، وفضائل القرآن ۲۸ (۵۰۴۴) والتوحيد ۴۳ (۷۵۲۴) . صحيح مسلم :الصلاة ۳۲ (۴۴۸) . النسائي/الافتتاح ۳۷ (۹۳۶) (تحفة الأشراف : ۵۶۳۷) . ومسند احمد (۱/۳۴۳)

****

٢٣٣٠_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي شَبَابَةُ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ ثُوَيْرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ أَدْنَى أَهْلِ الجَنَّةِ مَنْزِلَةً لَمَنْ يَنْظُرُ إِلَى جِنَانِهِ وَأَزْوَاجِهِ وَخَدَمِهِ وَسُرُرِهِ مَسِيرَةَ أَلْفِ سَنَةٍ، وَأَكْرَمُهُمْ عَلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ مَنْ يَنْظُرُ إِلَى وَجْهِهِ غُدْوَةً وَعَشِيَّةً، ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ . إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ (القيامة :٢٢-٢٣)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، قَدْ رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ إِسْرَائِيلَ مِثْلَ هَذَا مَرْفُوعًا، وَرَوَى عَبْدُ المَلِكِ بْنُ أَبْجَرَ، عَنْ ثُوَيْرٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَوْلَهُ وَلَمْ يَرْفَعْهُ.

وَرَوَى الأَشْجَعِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ ثُوَيْرٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَوْلَهُ وَلَمْ يَرْفَعْهُ، وَلَا نَعْلَمُ أَحَدًا ذَكَرَ فِيهِ، عَنْ مُجَاهِدٍ غَيْرَ الثَّوْرِيِّ، حَدَّثَنَا بِذَلِكَ أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ الأَشْجَعِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ، وَثُوَيْرٌ يكنى أبا جهم، وأبو فاختة اسمه سعيد بن علاقة. (1)

ترجمه سویر وائي ما دابن عمر نه اوریدلي دي او وئیل یي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي په جنتیانو کي کم تري درجي والا به هغه درجي وي ځوك چي به په جنت کي خپلو باغونو، ببیبانو، خدمتګارانو او تختونو لره دیو کال دمزل په مصافي دلري والي نه ویني او په دي کي به دالله تعالي په نزد لوړي مرتبي او عزت او کرامت والابنده هغه ځوك وي ځوك چي به سحر او مابنام دالله تعالي دیدار کوي او بیا رسول الله دا ایت کریمه "وجوه یومئذ ناضرة الي ربها ناظرة" تلاوت کړو.

امام ترمذي رحمه الله وایي داحدیث غریب دي نورو راویانو دا حدیث په همدي مضمون داسرائیل نه مرفوعا نقل کړي دي، عبدالملك بن ابجر دسویر نه او هغه دابن عمر نه دهغه قول نقل کړي دي او مرفوع یي نه دي بیان کړي

مجاهد په مذکوره سند دا روایت دابن عمر نه دهغه قول نقل کړی دی او مرفوع یي ندي بیان کړی، او مونږ ته د سفیان ثوري نه علاوه بل هیڅوك ندي معلوم چي په دي کي یي دمجاهد واسطه ذکرکړي وي ، کریب هم دا روایت د عبید الله اشجعي په واسطه د سفیان نه نقل کړی دی اود ثویر اسم کنیه ابو جهم ده، اود ابوفاخته نوم سعید بن علاقه دی

تشریح تفسیر مظهري دلته ددي ایت شاندار تفسیر کړي دی چي ستاسو دپاره یي نقل کوو: د "الي ربها" تعلق دناضرة سره دي یعني په سترګو به خپل رب ته ګوري لیکن بغیر دکوم

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٦٢٦)

جهت او کيفيت او دمسافي دبعد نه دا جائز نه دي چي غائب په حاضر قياس کړي شي (او داسي اوونيلي شي چي ليدل خو بغير دجهت نه ناممکن دي او بيا په سترګو او هغه څيز کي کوم ته چي کتل کيږي په هغي کي يوه محدوده فاصله کيدل هم پکار دي چي نه ډيره نژدي وي او نه ډيره انتهائي لري وي او بياچي کوم څيز ته کتلي شي دهغي دي کوم خاص کيفيت هم وي ، ددي شرائطو نه بغير کتل ناممکن دي او دالله کوم جهت نشته او نه هغه مکاني دي هغه دهر کيفيت او مکاني قرب او بعد نه پاك دي هر کله چي داسي ده نو بيا دي څنګه ليدلي کيدي شي داخو په حاضر باندي دغائب قياس کول دي او داسي کول نه وي پکار)

بيهقي او اجري په جدا جدا سند سره دابن عباس رضي الله عنهما قول نقل کړي دي چي ناضرة په معني د ښکلي دي او الي ربها ناظرة په معني دکتونکي دي خپل رب ته حسن بصري وغيره همدا تشريحي قول نقل کړي دي .

دابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي د ادني درجي جنتي به هغه کس وي چي باغونو او ښځو او سامانونو او خدمتګارانو لره دزرو کالو دلاري په مقدار فاصلي نه ګوري او دالله تعالي په نزد به تولو کي معزز جنتي هغه څوك دي څوك چي به سحر او مابنام دالله تعالي ديدار کوي او بيايي ايت کريمه "وجوه يومئذ ناضرة الي ربها ناظره " تلاوت کړو (رواه احمد ترمذي ، دارقطني، لالکاني، اجري)

ليکن داجري روايت په دي الفاظو دي چي ادني جنتي به هغه څوك وي څوك چي به جنت لره د دوه زره کالو دلاري دفاصلي په مقدار ګوري او اخر ترينه حصه به هم داسي ويني لکه څنګه چي قريب ترينه حصه ويني

****

٧٢_باب وَمِنْ سُورَةِ عَبَسَ

دسورة عبس دبعضي ايتونو تفسير

بغوي ليکلي دي چي ابن ام مکتوم يعني عبدالله بن شريح بن مالك بن ربيعه فهري چي د بني عامر بن لوي دقبيلي سره تعلق لري درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شو او رسول الله صلي الله عليه وسلم پدغه وخت کي د عتبه بن ربيعه، ابوجهل بن هشام، عباس بن عبدالمطلب او ابیٔ بن خلف او اميه بن خلف سره په خاموشئ کي خبري کولي او داسلام دعوت يي ورته ورکولو او درسول الله صلي الله عليه وسلم سره ددوئ دمسلمانيدو اميد پيدا شوي وو ، ابن ام مکتوم يو نابينا سړي وو چي څه يي نه ليدل او ويي ونيل اي دالله رسوله الله تعالي چي درته څه خودلي دي دهغي نه يو څه ماته هم اوښايه او دا خبره يي بار بار تکرار کړه او دا ورته معلومه نه وه چي رسول الله اوس بل طرف ته متوجه دي او درسول الله صلي الله عليه

وسلم خبري يي كټ كولي نو په دي وجه درسول الله صلي الله عليه وسلم په مخ مبارك دكراهت اثار ښكاره شول او په زړه كي يي تير شول چي دا سرداران به دا خيال كوي چي دمحمد (صلي الله عليه وسلم) پيروكاران صرف ړانده دي او غلامان او دلاندي طبقي خلق دي نو ددي خيال په كولو سره يي دعبدالله نه مخ ستون كړو او دچا سره چي يي خبري كولي هغوئ ته متوجه شو نو په دي باره كي لاندېني ايت نازل شو.

۳۳۳۱_حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الْأَمَوِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، قَالَ: هَذَا مَا عَرَضْنَا عَلَى هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "أُنْزِلَ "عَبَسَ وَتَوَلَّى" فِي ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ الْأَعْمَى، أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ يَقُولُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرْشِدْنِي، وَعِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ مِنْ عُظَمَاءِ الْمُشْرِكِينَ، فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْرِضُ عَنْهُ وَيُقْبِلُ عَلَى الْآخَرِ وَيَقُولُ: أَتَرَى بِمَا أَقُولُ بَأْسًا، فَيَقُولُ: "لَا. فَفِي هَذَا أُنْزِلَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: أُنْزِلَ "عَبَسَ وَتَوَلَّى" فِي ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ عَائِشَةَ. [1]

ترجمه دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي عبس وتولي سورة دعبدالله بن ام مكتوم په باره كي نازل شوي دي معامله داسي وه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راغلو او ونيل يي اي دالله رسوله ماته وعظ او نصيحت اوكړه او دغه وخت كي درسول الله سره دمشركينو په اكابرينو كي څوك لوي شخصيت موجود وو رسول الله دده نه اعراض شروع كړو او دي بل مشرك طرف ته متوجه پاتي شو چي خبري يي ورسره كولي او ونيل يي زه چي درته څه وايم په دي كي تاته څه تكليف او څه نقصان دي؟ هغه اوونيل نه په همدي بارد كي دا ايتونه نازل شوي دي

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي بعضي راويانو دا حديث دهشام بن عروه نه او هغه دخپل پلار عروه نه نقل كړي دي چي ونيل يي عبس وتولي دابن ام مكتوم په حق كي نازل شوي دي او ددوئ په سند كي دعائشي ذكر نشته

****

۳۳۳۲_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْفَضْلِ، حَدَّثَنَا ثَابِتُ بْنُ يَزِيدَ، عَنْ هِلَالِ بْنِ خَبَّابٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "تُحْشَرُونَ حُفَاةً عُرَاةً

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦٣٠٥)

غُرْلًا ". فَقَالَتِ امْرَأَةٌ: أَيُبْصِرُ أَوْ يَرَى بَعْضُنَا عَوْرَةَ بَعْضٍ؟ قَالَ: يَا فُلَانَةُ لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ (عبس: ٣٧)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، قَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، رَوَاهُ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ أَيْضًا. وَفِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا. (1)

ترجمه : ابن عباس رضي الله عنه فرمائي چي ماد رسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلى دى چي دقيامت په ورځ به تاسو خپي ابله . بربنډ . ناسنته پاڅولى شي. يوي ښځي تپوس اوکړو ايا سړي او ښځى به تړول په دى حالت کې وي؟ (داسى خوبه) بعضي بعضو ته ګوري رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي فلانى! هغه موقعه به ډيره سخته وي (چي داسى خبرو خيال به هم چاته نه راځي) پدغه ورځ به د هرچا حالت داسي وي چي هغه به يي د نور مخلوق نه بي پروا کړى وي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي او په مختلفو سندونو دابن عباس نه مروي دي او دا حديث سعيد بن جبير هم نقل کړي دي. او په دي باب کي دعائشه رضي الله عنها نه هم حديث وارد دي.

لغات : حفاة : حفي حفا د ډير تلو په وجه دخپو پړسيدل، عراة: دعري سمع نه عرية وعريا په معني دبربنډ سره.

تشريح : تحشرون حفاة عراة غرلا. دقيامت په ورځ به خلق خپي ابله ناسنته ، بربنډ پاڅولى شي. په دي حديث کې دمحشر دحالاتو دسختوالي بيان دى او دا چي په محشر کې درسوا کيدو نه دبچ کيدو دپاره په دنيا کې تيارى کول پکار دي. "غرلا" يعني ناسنته په دي کې دي خبري ته اشاره ده چي په قيامت کې څوك د قبر نه راپورته کيږي نو جسم به يي مکمل وي او دسنت په وخت کې چي کومه سرمن دانسان نه غورځولى شوي وي هغه به هم ورسره واپس يوځاي شوي وي په دي کې دالله تعالي کامل قدرت ته اشاره ده.

دمحشر دحالاتو دسختوالي اندازه ددينه هم لګيدى شي چي انسانان به د بربنډوالي باوجود هيڅ طرف ته متوجه کيدى نشي او هر يو سړى به دخپل ځان په فکر کې وي.

****

٧٣ـ باب وَمِنْ سُورَةِ إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ

دسورة التکوير دبعضي ايتونو تفسير

٣٣٣٢ـ حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْعَظِيمِ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بَحِيرٍ،

---

(1) ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٢٢٥)

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ وَهُوَ ابْنُ يَزِيدَ الصَّنْعَانِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى يَوْمِ القِيَامَةِ كَأَنَّهُ رَأْيُ عَيْنٍ فَلْيَقْرَأْ: إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ وَ إِذَا السَّمَاءُ انْفَطَرَتْ وَ إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ. هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَرَوَى هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ وَغَيْرُهُ هَذَا الحَدِيثَ بِهَذَا الإِسْنَادِ، وَقَالَ: مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى يَوْمِ القِيَامَةِ كَأَنَّهُ رَأْيُ عَيْنٍ فَلْيَقْرَأْ: إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ وَلَمْ يَذْكُرْ وَ إِذَا السَّمَاءُ انْفَطَرَتْ وَإِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ. (1)

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كه دچا دا خواهش وي چي دقيامت ورځ اووينې او داسې ليدل يې غواړي څنګه چې په سترګو ليدل وي هغه دپاره پكار ده چي دا سورة اولولي " إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ وَإِذَا السَّمَاءُ انْفَطَرَتْ وَإِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي، او هشام بن يوسف وغيره راويانو هم دا حديث په دي سند نقل كړي دي مګر دهشام په روايت كي داسي دي څوك چي دا خواهش لري چي دقيامت ورځې ته اوګوري او داسي ليدل يې غواړي څنګه چي په سترګو ليدل وي نو هغه دي دا ايتونه " إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ وَإِذَا السَّمَاءُ انْفَطَرَتْ وَإِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ. " يعني كله چي نمر راونغښتلي شي، او كله چي اسمان وچوي، او چي كله چي اسمان وشليږي، اولولي.

تشريح: په دي ايتونو كي د قيامت د احوالو په ذكر سره تخويف دي. سرهٔ د قيامت د مقصد نه چي د انسان د خپلو عملونو سره ملاقات دي او د تخويف سبب د قرآن كريم نه انكار دي. چي جبرئيل عليه السلام په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندي راوړي دي. او په دي ايتونو كي د قيامت څلور حالات ذكر دي. او دا د دنيا د فنا په وخت كي دي.

كُوِّرَتْ د تكوير نه دي د يو څيز ټول اجزاء راجمع كول او انغختل. لكه چي په سر باندي پټكي راانغختلي شي. نو دغه شان نمر به راغونډ كړي شي او رڼا به ئې خاتله كړي شي. بيا به اوغورزولي شي دا اولني حال دي د قيامت.

اذا شرطيه دي او الشمس دمحذوف فعل فاعل دي او كورت ددي محذوف فعل تفسير دي ، دكورت معني بيكاره كيدل او رڼا ختميدل او تورتم كيدل دي، ابن جرير ، ابن ابي حاتم او بيهقي دابو طلحه په سند سره دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت بيان كړي دي او د كورت تشريح يې په اظلمت سره كړي ده، ابن ابي حاتم او كتاب في البحر والاحوال كي ابن ابي الدنيا

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٣٠٢)

او ابو الشيخ په كتاب العظمة كي ددي ايت په ضمن كي هم دابن عباس رضي الله عنهما قول ددي مضمون مطابق نقل كړي دي چي دقيامت په ورځ به الله تعالي نمر او سپوږمۍ او ستوري بي نوره كړي او سمندر ته به يي اوغورځوي او يوه مغربي هوا به راوليږي چي په سمندر باندي به اولګي د ټول سمندر نه به اور جوړ شي.

دبعضي علماؤ قول دي چي كله نمر سمندر ته اوغورځولي شي نو دسمندر نه به په ګرميدو سره اور جوړ شي . ابن ابي حاتم دابن ابي مريم قول نقل كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي نمر د بي نوره كيدو نه پس سمندر ته اوغورځولي شي او ستوري دخواره واره كيدو نه پس جهنم ته پريوځي او علاوه دعيسي عليه السلام او دهغه دمور نه چي به دكوم معبود علاوه دالله تعالي نه پرستش كيدو هغوئ به جهنم ته اوغورځولي شي . زدوايم چي سمندر ته دنمر غورځيدل او جهنم ته غورځيدل ظاهرا متعارض دي ددي دواړو تطبيق داسي كيدي شي چي سمندر به پخپله ګرم اور اوګرځي. بخاري دابو هريره رضي الله عنه نه روايت بيان كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دقيامت په ورځ به سپوږمۍ او نمر بي نوره كړي شي بزار پخپل مسند كي دومره اضافه بيان كړي ده چي اور ته به اوغورځولي شي.

****

٧٤_باب وَمِنْ سُورَةِ وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ

دسورة مطففين دبعضي ايتونو تفسير

دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي چي كله رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني ته تشريف راوړو نو په دغه زمانه كي مديني والا دناپ اوتول په لحاظ سره ډير بد ترين خلق وو نو په دي باره كي الله تعالي ويل للمطففين نازل كړو ، بيا ددينه پس مديني والا خپل ناپ او تول درست كړو

دسدي بيان دي چي كله رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني ته تشريف راوړو نو هلته دابو جهينه په نوم يو كس اوسيدو اوهغه دخان سره دوه صاعونه(پيماني) ساتلي وو چي په يو به يي اخستل كول اوپه بل به يي وركول كول نو په دي باره كي الله تعالي ويل للمطففين نازل كړو. (رواه الحاكم والنسائي وابن ماجه باسناد صحيح)

٣٣٢٤_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنِ الْقَعْقَاعِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا أَخْطَأَ خَطِيئَةً نُكِتَتْ فِي قَلْبِهِ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ، فَإِذَا هُوَ نَزَعَ وَاسْتَغْفَرَ وَتَابَ سُقِلَ قَلْبُهُ، وَإِنْ عَادَ زِيدَ فِيهَا حَتَّى تَعْلُوَ قَلْبَهُ وَهُوَ

الرَّانُ الَّذِي ذَكَرَ اللَّهُ: كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ (المطففين :١٤ ". قَالَ: هٰذَا حديث حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي بنده چي كله كومه گناه كوي دهغه په زړه كي يو تور تكي وي بيا چي كله دي دا گناه پريږدي او توبه او استغفار كوي نو دده زړه پاكيږي ،او دا تور داغ ختم شي، او كه دي گناه دوباره كوي نو دا تور داغ مزيد نور خوريږي تردي چي په ټول زړه باندي راخور شي او همدا د الله تعالي په قول "كلا بل ران علي قلوبهم ماكانوا يكسبون" كي د "ران" لفظ مطلب دي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح: د "ران" معني غلبه ده لكه چي وئيلي شي ران الخمر علي قلبه يعني دشرابو نشه يي په زړه غالبه شوه يعني دبدو عملونو تياري ددوئ په زړونو دومره غالبي شوي چي دحق اودباطل دتميز نه ددوئ زړونه ړانده شول. دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي مومن چي كله گناه اوكړي نو په زړه يي يو تور داغ پيدا شي نو بيا كه توبه اوكړي او دالله تعالي نه ويره اوكړي او استغفار اووائي نو دزړه نه يي دا تور داغ لري شي ليكن كه په گناه كي زيادت كوي نو دا داغ په مزه مزه لوئيږي تردي چي دده په ټول زړه باندي راخور شي او دا هغه ران دي دكوم ذكر چي الله تعالي په ايت "بل ران علي قلوبهم ماكانوا يكسبون" كي فرمائيلي دي.

بغوي ، امام احمد ، نسائي، ابن ماجه، ابن حبان، حاكم، او ترمذي دا روايت بيان كړي دي او ترمذي دصحيح درجي گرخولي دي په بعضي روايتونو كي د "المومن اذا اذنب" په ځاي باندي ان العبد كلما اذنب ذنبا. راغلي دي په حديث كي دالمومن لفظ نه معلوميږي چي دكافر په زړه كي خو په طريق اولي سره دا تور داغ شديد وي

****

٣٣٣٥ـ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ دُرُسْتَ بَصْرِيٌّ. حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ. عَنْ أَيُّوبَ. عَنْ نَافِعٍ. عَنِ ابْنِ عُمَرَ. قَالَ حَمَّادٌ: هُوَ عِنْدَنَا مَرْفُوعٌ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ (المطففين :٦ قَالَ: " يَقُومُونَ فِي الرَّشْحِ إِلَى أَنْصَافِ آذَانِهِمْ ".(٢)

ترجمه دابن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دايت

١ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ١٣١ (٤١٨). سنن ابن ماجه الزهد ٢٩ (٤٢٤٤)

٢ـ انظر حديث رقم ٢٤٢٢

کریمه "یوم یقوم الناس لرب العالمین" په تفسیر کي اوفرمائیل چي په دغه ورځ به هر بنده دغوږونو دنیمي پوري په خولو کي ډوب ولاړ وي
امام ترمذي رحمه الله وایي: داحدیث حسن صحیح دي او په دي باب کي دابوهریره رضي الله عنه نه هم روایت وارد دي.
تشریح: دابن عمر رضي الله عنهما نه مرفوع روایت مروي دي چي خلق به دِرب العالمین په وړاندي په هغه ورځ ولاړ وي چي بعضي کسان به پخپلو خولو کي دغوږونو دنیمي پوري ډوب وي، حاکم دابو سعید خدري رضي الله عنه نه هم ددي پشان روایت بیان کړي دي ، بخاري او مسلم دابو هریره رضي الله عنه نه روایت نقل کړي دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي دقیامت په ورځ به دخلقو نه دومره زیاته خوله روانه وي چي په زمکه به اویا لاسو ته رسیدلي وي او دغوږونو پوري به دخولي واګي خلقو ته لګیدلي وي. طبراني او ابو یعلي او ابن حبان دابن عباس رضي الله عنهما بیان لیکلي دي چي دقیامت په ورځ به کافر ته دده دخولي واګي لګیدلي وي تردي پوري چي دي به اووائي اي پروردګاره ماته ددینه نجات راکړه اګر که دوزخ ته مي لیږي.
حاکم دجابر رضي الله عنه نه روایت نقل کړي دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي چي دحشر په میدان کي به دخلقو خولو ته دخولي واګي لګیدلي وي او عرض به کوي چي اي پروردګاره زما دپاره دوزخ ته تلل ددي تکلیف نه اسان دي او دا به په هغه وخت کي وائي چي دوی به ددوزخ دتکلیف نه خبر هم نه وي
بیهقي دایت کریمه "یوم یقوم الناس لرب العالمین" په تشریح کي دقتاده قول نقل کړي دي دقتاده بیان دي چي ماته دا خبر رارسیدلي دي چي کعب رضي الله عنه به فرمائیل چي خلق به د دري سوه کالو دلاري په مقدار ولاړ وي
دمقداد بن اسود بیان دي پخپله مي اوریدلي دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیل چي دقیامت په ورځ به نمر خلقو ته رانزدي کړي شي تردي چي دیو میل په مقدار به وي ، سلیم بن عامر اوونیل په الله تعالي قسم مونږ ته معلومه نه ده چي دمیل نه د رسول الله صلي الله علیه وسلم مراد څه وو دزمکي مصافه یي مراد وه او که درنجو سلایي یي مراد وو خلق به دخپلو خپلو عملونو مطابق په خولو کي وي. خولي به دبعضي خلقو ګیټو ته رسیدلي وي او دبعضو خلقو زنګنونو ته او دبعضو خلقو ملاګانو ته او دبعضي خلقو خولو ته به دخولي واګي لګیدلي وي او رسول الله صلي الله علیه وسلم دخپل دي فرمان په وخت کي پخپلو لاسونو خولي ته اشاره کړي وه (مسلم)
دعقبه بن عامر رضي الله عنه په اسناد سره هم دا روایت طبراني امام احمد ، ابن حبان او حاکم نقل کړي دي او حاکم صحیح هم ګنړلي دي

دابو امامه باهلي رضي الله عنه په روايت سره هم دا حديث امام احمد او طبراني نقل كړي دي مګر په دي كي دومره اضافه ده چي دنمر دګرمۍ په وجه به چينجي دومره اوخوتكيږي لكه چي كوټوئ خوتكيږي

امام احمد او طبراني په عمده سند سره دانس رضي الله عنه مرفوع روايت نقل كړي دي چي د ژوند دشروع نه دمرګه پوري زيات سخت تكليف به انسان نه راخي ليكن دمرګ نه پس راتلونكو شدائدو نه اسان وي ددي ورځي د دهشت په وجه به په خلقو خولي راخي چي خولي ته به يي دخولي واكي لګيدي وي كچري څوك پكي كشتياني چلول اوغواړي نو پكي اوبه يي چلوي

بيهقي دابن عمر رضي الله عنهما قول نقل كړي دي چي ددي ورځي سختي به دومره وي چي دحساب نه مخكي به كافر ته دخولي واكي اولګولي شي تپوس اوكړي شو پدغه ورځ به مومن چرته وي؟ نو ويې فرمائيل دسرو زرو په كرسيانو به دوريځي دسوري دلاندي وي هناد ددي تمام حديث نسبت ابن مسعود رضي الله عنه ته هم كړي دي ليكن ددومره اضافي سره چي دمومنانو دپاره به دغه تمامه ورځ صرف دورځي ديو ساعت سره برابره وي.(رواه البيهقي في السنن)

****

٢٣٣٦ـحَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ ابْنِ عَوْنٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ (المطففين :٦ قَالَ: " يَقُومُ أَحَدُهُمْ فِي الرَّشْحِ إِلَى أَنْصَافِ أُذُنَيْهِ". قال: هذا حديث حَسَنٌ صَحِيحٌ وَفِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.(١)

ترجمه : نافع دابن عمر نه دا ارشاد نبوي نقل كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دا ايت كريمه " إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ وَإِذَا السَّمَاءُ انْفَطَرَتْ وَإِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ. " په تفسير كي اوفرمائيل دقيامت په ورځ به هر يو كس دغوږونو دنيمي پوري په خولو كي ولاړ وي

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي او دابوهريره نه هم په دي باب كي حديث وارد دي

****

٧٥ـباب وَمِنْ سُورَةِ إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ

دسورة الانشقاق دبعضي ايتونو تفسير

(١) ـ انظر حديث رقم ٢٢٢٢

۳۳۳۷_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ الأَسْوَدِ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ نُوقِشَ الحِسَابَ هَلَكَ". قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ اللهَ يَقُولُ: فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ إِلَى قَوْلِهِ يَسِيرًا (الانشقاق: ۷-۸) قَالَ: "ذَلِكِ العَرْضُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ المُبَارَكِ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ الأَسْوَدِ بِهَذَا الإِسْنَادِ، نَحْوَهُ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبَانَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ. [1]

ترجمه دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي دچاسره چي په حساب كي تحقيق اوشو هغه هلاك كړي شو ما عرض اوكړو اي دالله رسوله الله تعالي خو فرمانيلي دي " فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ إِلَى قَوْلِهِ يَسِيرا" يعني هغه څوك چي وركړي شي دد ته عملنامه دده په خي لاس دده كي ، نوزردي چي حساب به ورسره اوكړي شي حساب اسان. رسول الله اوفرمائيل هغه خو حساب كتاب نه دي هغه خو صرف نيكياني پيش كول دي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دي دا روايت سويد بن نصر مونږ ته دعبدالله بن مبارك نه بيان كړي دي او ابن مبارك دعثمان بن اسود نه په همدي سند په همدي مضمون نقل كړي دي. مونږ ته محمد بن ابان او بعضي نورو راويانو روايت بيان كړي دي فرمائيل يي چي ماته عبدالوهاب ثقفي روايت بيان كړي دي او هغه دابو ايوب نه نقل كړي دي او هغه دابومليكه نه او هغه دعائشه رضي الله عنها په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه په همدي مضمون نقل كړي دي

تشريح: فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُ بِيَمِينِهِ ۝ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ۝ ددينه مراد مومنان دي، بخاري په خپل سند سره دعائشه رضي الله عنها نه روايت نقل كړي دي چي كله به يي كومه داسي خبره واوريدله چي په مطلب به يي نه پوهيدله نو په هغي به دخان پوهولو دپاره دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه تپوس كولو . چنانچي يوځل نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل من "حوسب عُذِّب" نو ام المومنين عرض وكړو ايا الله تعالي نه دي فرمائيلي فسوف يحاسب حسابا يسيرا ؟ نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دكوم حساب ذكر

[1] انظر حديث رقم ۳۳۳۶

چي په دي ايت كي دي دابه صرف يوه پيشي وي او دچاسره چي تحقيقي محاسبه وكړي شوه هغه تباه شو.
د امام احمد په روايت كي دي چي بيا ام المؤمنين عرض وكړو اي دالله رسوله حساب يسير څه شي دي نو وبي فرمائيل دچا عملنامه چي صرف وكتلي شي او معافي ورته وكړي شي البته دچاسره چي تحقيقي محاسبه وكړي شوه هغه تباه شو

****

٣٣٣٨_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ الْهَمَدَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ هَمَّامٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ حُوسِبَ عُذِّبَ". قَالَ: هذا حديث غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه: دانس رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاسره چي حساب اوشو (داسي اوګنړی) چي هغه په عذاب كي واقع شو.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي مونږ يي دقتاده په روايت پيژنو چي دانس رضي الله عنه په واسطه يي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه په همدي سند نقل كړي دي.

****

٧٦_بَاب وَمِنْ سُورَةِ الْبُرُوجِ

دسورة بروج دبعضي ايتونو تفسير

د دي موضوع كفارو ته د بد انجام خبر وركول د هغه ظلم په باره كي كوم چي هغوئ په مومنانو كول او مومنانو ته تسلي وركول دی. كله چي هغوئ دَ كفارو دَ ظلم په مقابله كي كلك پاتي شی او مومنانو ته دَ خانسته اجر زيري دي. او الله تعالی به دَ ظالمانو نه بدله اخلی په دي سلسله كي دَ تېولو نه وړاندي دَ اصحاب الاخدود قصه ذكر ده. چي هغوئ مومنان دَ اور كندو ته غورځولي وُو او هغوئ ني سيزلي وُو په دي قصه كي دَ مومنانو او كفارو په ذهن كي يو څو خبري اچولي شوي دی. يو دا چي لكه څنګه اصحاب الاخدود دَ الله تعالی دَ لعنت او عذاب حقداران شوي دی داسي به دَ مكي سرداران هم دَ لعنت او عذاب مستحق وی. دويم دا چي لكه څنګه مومنانو په اور كي سوزيدل قبول كړي وُو او دَ ايمان نه نه وُو واپس شوي. داسي موجوده مومنانو ته پكار دی. چي هر قسم مصيبت برداشت كړی او دَ ايمان نه واپس نشی. دريمه خبر دا ده چه الله تعالی دَ دي دواړو ډلو په حال باندي عالم دي. دَ دي وجي نه دا خبره يقينی ده

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٢٢)

چي كافرانو ته به دَ جهنم سزا وركوي او مومنان به جنت ته داخلوي او دا لويه كاميابي ده بيا كفارو ته خبر وركړي شوي دي چي دَ الله تعالى نيول ډير سخت دي او كه چري تاسو دَ خپل طاقت په وجه په غرور او تكبر كي اخته شوي ئي نو فرعون او ثموديان هم په غرور او تكبر كي اخته وو دَ هغوئ چي څنګه انجام شو نو دَ هغي نه عبرت واخلئ دَ الله تعالى په قدرت كي تاسو راګير ئي دَ الله تعالى نه نه شي بچ كيدلي او تاسو چي دَ قرآن كريم تكذيب كوئ نو دَ دي كتاب هره خبره اټل ده. په لوح محفوظ كي ليكلي شوي ده. او دَ دهٔ ليكل څوك نشي بدلولي

٣٣٣٩_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، وَعُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ خَالِدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَافِعٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْيَوْمُ الْمَوْعُودُ: يَوْمُ الْقِيَامَةِ، وَالْيَوْمُ الْمَشْهُودُ: يَوْمُ عَرَفَةَ، وَالشَّاهِدُ: يَوْمُ الْجُمُعَةِ، وَمَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ وَلَا غَرَبَتْ عَلَى يَوْمٍ أَفْضَلَ مِنْهُ، فِيهِ سَاعَةٌ لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُؤْمِنٌ يَدْعُو اللَّهَ بِخَيْرٍ إِلَّا اسْتَجَابَ اللَّهُ لَهُ، وَلَا يَسْتَعِيذُ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا أَعَاذَهُ اللَّهُ مِنْهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ، وَمُوسَى بْنُ عُبَيْدَةَ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ ضَعَّفَهُ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ وَغَيْرُهُ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا قُرَّانُ بْنُ تَمَّامٍ الْأَسَدِيُّ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ، نَحْوَهُ. وَمُوسَى بْنُ عُبَيْدَةَ الرَّبَذِيُّ يُكْنَى أَبَا عَبْدِ الْعَزِيزِ. وَقَدْ تَكَلَّمَ فِيهِ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ وَغَيْرُهُ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ، وَقَدْ رَوَى شُعْبَةُ، وَالثَّوْرِيُّ وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الْأَئِمَّةِ عَنْهُ. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دايت كريمه "اليوم الموعود" نه مراد دقيامت ورځ ده او د "اليوم المشهود" نه مراد دعرفي ورځ ده او د "شاهد" نه مراد دجمعي ورځ ده، او دجمعي دورځي نه افضل هيڅ يوه ورځ نشته په كومه كي چي دنمر طلوع او غروب شوي وي، رسول الله صلي الله عليه وسلم و فرمائېل په دى كي لږ ساعت داسى دى . چي كه مسلمان بنده په هغه كي د خير دعاء اوكړي نو الله تعالي يي پوره كوي او چي د څه نه په الله پناه اوغواړي الله تعالي يي د هغه نه ساتي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن غريب دي مونږ يي صرف دموسي بن عبيده په روايت پيژنو او دموسي بن عبيده په باب دحديث كي تضعيف شوي دي يحي بن سعيد وغيره

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٥٥٩) (الصحيحة ١٥٠٢)

دده تضعيف کړي دي مونږ ته دا روایت علي بن حجر بیان کړي دي علي بن حجر وائي ماته قران بن تمام اسدي بیان کړي دي او قران دموسي بن عبیده نه په همدي سند په همدي مضمون نقل کړي دي، دموسي بن عبیده ربذي اسم کنیه ابو عبدالعزیز ده، دهغه باره کي دحافظي متعلق یحي بن سعید القطان وغیره کلام کړي دي شعبه او ثوري او بعضي نورو راویانو او اهل علمو دده نه اخذ درروایت کړي دي.

لغات یوافقه: وافق یوافق موافقة معني موافقت اختیارول او په مجردو کې دباب ضرب نه راځي.

تشریح: دا ساعت کم یو دی اصل خبره داده چي دا راز الله پټ ساتلی دی په دي کې حکمت دادی چي ددي ساعت په امید کې خلق تمامه ورځ په عبادت کې مشغول پاتي شي.

استجاب الله له: دملا علي قاري په قول ددي مطلب دادی که داخرت دپاره یې دعا قبلیږي نو قبوله شي او که ددنیوي مقصد دپاره وي نو که مناسب وي فورا قبلیږي او که نه وي نو ددي دعا اجر به ده ته دقیامت په ورځ ورکولی شي.(مرقات).

****

۳۳٤٠_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، وَعَبْدُ بْنُ حميد، المعنى واحد، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ صُهَيْبٍ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى الْعَصْرَ هَمَسَ وَالْهَمْسُ فِي قَوْلِ بَعْضِهِمْ: تَحَرُّكُ شَفَتَيْهِ كَأَنَّهُ يَتَكَلَّمُ. فَقِيلَ لَهُ: إِنَّكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِذَا صَلَّيْتَ الْعَصْرَ هَمَسْتَ. قَالَ: "إِنَّ نَبِيًّا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ كَانَ أُعْجِبَ بِأُمَّتِهِ". فَقَالَ: مَنْ تَقُولُ لِهَؤُلَاءِ. فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَيْهِ أَنْ خَيِّرْهُمْ بَيْنَ أَنْ أَنْتَقِمَ مِنْهُمْ. وَبَيْنَ أَنْ أُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوَّهُمْ. فَاخْتَارَ النِّقْمَةَ. فَسَلَّطَ عَلَيْهِمُ الْمَوْتَ فَمَاتَ مِنْهُمْ فِي يَوْمٍ سَبْعُونَ أَلْفًا. قَالَ: وَكَانَ إِذَا حَدَّثَ بِهَذَا الْحَدِيثِ حَدَّثَ بِهَذَا الْحَدِيثِ الْآخَرِ. قَالَ: كَانَ مَلِكٌ مِنَ الْمُلُوكِ وَكَانَ لِذَلِكَ الْمَلِكِ كَاهِنٌ يَكْهَنُ لَهُ. فَقَالَ الْكَاهِنُ: انْظُرُوا لِي غُلَامًا فَهِمًا، أَوْ قَالَ: فَطِنًا لَقِنًا فَأُعَلِّمَهُ عِلْمِي هَذَا فَإِنِّي أَخَافُ أَنْ أَمُوتَ فَيَنْقَطِعَ مِنْكُمْ هَذَا الْعِلْمُ وَلَا يَكُونَ فِيكُمْ مَنْ يَعْلَمُهُ. قَالَ: فَنَظَرُوا لَهُ عَلَى مَا وَصَفَ. فَأَمَرُوهُ أَنْ يَحْضُرَ ذَلِكَ الْكَاهِنَ وَأَنْ يَخْتَلِفَ إِلَيْهِ فَجَعَلَ يَخْتَلِفُ إِلَيْهِ، وَكَانَ عَلَى طَرِيقِ الْغُلَامِ رَاهِبٌ فِي صَوْمَعَةٍ. قَالَ مَعْمَرٌ: أَحْسِبُ أَنَّ أَصْحَابَ الصَّوَامِعِ كَانُوا يَوْمَئِذٍ مُسْلِمِينَ. قَالَ: فَجَعَلَ الْغُلَامُ يَسْأَلُ ذَلِكَ الرَّاهِبَ كُلَّمَا مَرَّ بِهِ. فَلَمْ يَزَلْ بِهِ حَتَّى أَخْبَرَهُ، فَقَالَ: إِنَّمَا أَعْبُدُ اللَّهَ. قَالَ: فَجَعَلَ الْغُلَامُ يَمْكُثُ عِنْدَ الرَّاهِبِ، وَيُبْطِئُ عَنِ الْكَاهِنِ فَأَرْسَلَ الْكَاهِنُ إِلَى أَهْلِ الْغُلَامِ إِنَّهُ لَا يَكَادُ يَحْضُرُنِي.

فَأَخْبَرَ الْغُلَامُ الرَّاهِبَ بِذَلِكَ. فَقَالَ لَهُ الرَّاهِبُ: إِذَا قَالَ لَكَ الْكَاهِنُ: أَيْنَ كُنْتَ؟ فَقُلْ: عِنْدَ أَهْلِي، وَإِذَا قَالَ لَكَ أَهْلُكَ: أَيْنَ كُنْتَ؟ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّكَ كُنْتَ عِنْدَ الْكَاهِنِ. قَالَ: فَبَيْنَمَا الْغُلَامُ عَلَى ذَلِكَ إِذْ مَرَّ بِجَمَاعَةٍ مِنَ النَّاسِ كَثِيرٍ قَدْ حَبَسَتْهُمْ دَابَّةٌ. فَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنَّ تِلْكَ الدَّابَّةَ كَانَتْ أَسَدًا. قَالَ: فَأَخَذَ الْغُلَامُ حَجَرًا. فَقَالَ: اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ مَا يَقُولُ الرَّاهِبُ حَقًّا فَأَسْأَلُكَ أَنْ أَقْتُلَهَا. قَالَ: ثُمَّ رَمَى فَقَتَلَ الدَّابَّةَ. فَقَالَ النَّاسُ: مَنْ قَتَلَهَا؟ قَالُوا: الْغُلَامُ. فَفَزِعَ النَّاسُ وَقَالُوا: لَقَدْ عَلِمَ هَذَا الْغُلَامُ عِلْمًا لَمْ يَعْلَمْهُ أَحَدٌ. قَالَ: فَسَمِعَ بِهِ أَعْمَى فَقَالَ لَهُ: إِنْ أَنْتَ رَدَدْتَ بَصَرِي فَلَكَ كَذَا وَكَذَا. قَالَ لَهُ: لَا أُرِيدُ مِنْكَ هَذَا، وَلَكِنْ أَرَأَيْتَ إِنْ رَجَعَ إِلَيْكَ بَصَرُكَ أَتُؤْمِنُ بِالَّذِي رَدَّهُ عَلَيْكَ؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: فَدَعَا اللَّهَ فَرَدَّ عَلَيْهِ بَصَرَهُ فَآمَنَ الْأَعْمَى. فَبَلَغَ الْمَلِكَ أَمْرُهُمْ. فَبَعَثَ إِلَيْهِمْ فَأُتِيَ بِهِمْ. فَقَالَ: لَأَقْتُلَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْكُمْ قِتْلَةً لَا أَقْتُلُ بِهَا صَاحِبَهُ. فَأَمَرَ بِالرَّاهِبِ وَالرَّجُلِ الَّذِي كَانَ أَعْمَى. فَوَضَعَ الْمِنْشَارَ عَلَى مَفْرِقِ أَحَدِهِمَا فَقَتَلَهُ. وَقَتَلَ الْآخَرَ بِقِتْلَةٍ أُخْرَى. ثُمَّ أَمَرَ بِالْغُلَامِ. فَقَالَ: انْطَلِقُوا بِهِ إِلَى جَبَلِ كَذَا وَكَذَا فَأَلْقُوهُ مِنْ رَأْسِهِ. فَانْطَلَقُوا بِهِ إِلَى ذَلِكَ الْجَبَلِ فَلَمَّا انْتَهَوْا بِهِ إِلَى ذَلِكَ الْمَكَانِ الَّذِي أَرَادُوا أَنْ يُلْقُوهُ مِنْهُ جَعَلُوا يَتَهَافَتُونَ مِنْ ذَلِكَ الْجَبَلِ وَيَتَرَدَّوْنَ حَتَّى لَمْ يَبْقَ مِنْهُمْ إِلَّا الْغُلَامُ. قَالَ: ثُمَّ رَجَعَ فَأَمَرَ بِهِ الْمَلِكُ أَنْ يَنْطَلِقُوا بِهِ إِلَى الْبَحْرِ فَيُلْقُونَهُ فِيهِ. فَانْطُلِقَ بِهِ إِلَى الْبَحْرِ فَغَرَّقَ اللَّهُ الَّذِينَ كَانُوا مَعَهُ وَأَنْجَاهُ. فَقَالَ الْغُلَامُ لِلْمَلِكِ: إِنَّكَ لَا تَقْتُلُنِي حَتَّى تَصْلُبَنِي وَتَرْمِيَنِي، وَتَقُولَ إِذَا رَمَيْتَنِي: بِسْمِ اللَّهِ رَبِّ هَذَا الْغُلَامِ. قَالَ: فَأَمَرَ بِهِ فَصُلِبَ ثُمَّ رَمَاهُ. فَقَالَ: بِسْمِ اللَّهِ رَبِّ هَذَا الْغُلَامِ. قَالَ: فَوَضَعَ الْغُلَامُ يَدَهُ عَلَى صُدْغِهِ حِينَ رُمِيَ ثُمَّ مَاتَ. فَقَالَ أُنَاسٌ: لَقَدْ عَلِمَ هَذَا الْغُلَامُ عِلْمًا مَا عَلِمَهُ أَحَدٌ فَإِنَّا نُؤْمِنُ بِرَبِّ هَذَا الْغُلَامِ. قَالَ: فَقِيلَ لِلْمَلِكِ أَجَزِعْتَ أَنْ خَالَفَكَ ثَلَاثَةٌ. فَهَذَا الْعَالَمُ كُلُّهُمْ قَدْ خَالَفُوكَ. قَالَ: فَخَدَّ أُخْدُودًا ثُمَّ أَلْقَى فِيهَا الْحَطَبَ وَالنَّارَ. ثُمَّ جَمَعَ النَّاسَ. فَقَالَ: مَنْ رَجَعَ عَنْ دِينِهِ تَرَكْنَاهُ وَمَنْ لَمْ يَرْجِعْ أَلْقَيْنَاهُ فِي هَذِهِ النَّارِ. فَجَعَلَ يُلْقِيهِمْ فِي تِلْكَ الْأُخْدُودِ. قَالَ: يَقُولُ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى فِيهِ: قُتِلَ أَصْحَابُ الْأُخْدُودِ ٤ النَّارِ ذَاتِ الْوَقُودِ ٥ حَتَّى بَلَغَ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ (البروج ٤-٨). قَالَ: فَأَمَّا الْغُلَامُ فَإِنَّهُ دُفِنَ. فَيُذْكَرُ أَنَّهُ أُخْرِجَ فِي زَمَنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَأُصْبُعُهُ عَلَى صُدْغِهِ كَمَا وَضَعَهَا حِينَ قُتِلَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه دصهيب رضي الله عنه بيان دي فرمائي كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٩٦٩) صحيح مسلم/الزهد ١٧ (٣٠٠٥) (تحفة الأشراف: ٢٩٦٩)

دمازیگر مونځ کولو نو همس به یي کولو او همس دبعضي خلقو دقول مطابق دواړو شونډو ته داسي حرکت ورکول دي لکه چي یو سړي خبري کوي تردي چي درسول الله نه تپوس اوکړي شو اي دالله رسوله کله چي ته دمازیگر مونځ کوي نو په مزه مزه شونډي خوزوي ,په دي وخت کي څه وائي، رسول الله په انبیاؤ کي دیو نبي قصه بیان کړه چي هغه به دخپل امت دکثرت په لیدو خوشحالي کوله او ونیل به یي ددوئ په مقابل کي څوك اودریدلي شي؟ الله تعالي دي نبي ته وحي اولیږله ته دخپل امت دپاره په دوه خبرو کي یو خبره خوښه کړه یا خو به زه ددوئ نه انتقام اخلم او یا به زه په دوئ باندي دوشمن مسلط کوم نو هغوئ سزا او بدله خوښه کړه نتیجه دا شوه چي الله تعالي په دوئ باندي مرګ مسلط کړو چنانچي په یوه ورځ اویا زره کسان مړه شول. صهیب راوي وائي کله چي رسول الله دا حدیث بیان کړو نو ددي سره یي یو بل حدیث هم بیان کړو او ویي فرمائیل په تیر شوي وخت کي یو بادشاه وو او ددي بادشاه سره یو کاهن وو هغه کاهن به بادشاه ته خبرونه اورول کاهن بادشاه ته اوونیل زما دپاره یو خوښیار هلك پیدا کړه دلته دراوي شك دي چي رسول الله "غلاما فهما " اوونیل او که "غلاما فطنا لقنا" اوونیل ,دواړه الفاظ هم معني دي، چي زه ورته خپل دا علم زده کړم ځکه چي ما سره دا ویره ده که زه مړ شوم نو تاسره به دا علم ختم شي او په تاسو کي به بل داسي څوك پاتي نشي چي په دي علم پوهیږي رسول الله اوفرمائیل هغه چي دکومو صفاتو او خصوصیاتو حامل هلك ذکر کړو نو خلقو هغه دپاره همداسي هلك پیدا کړو خلقو دي هلك ته اوونیل چي ته به دي کاهن ته راځي او بار بار به راځي نو هلك همداسي اوکړل ددي هلك په لاره کي په یوه عبادت خانه کي یو راهب اوسیدو ددي حدیث یو راوي معمر وائي زما خیال دي چي دعبادت خاني خلق دغه وخت کي مسلمانان وو هلك چي به کله ددي راهب په خوا راتیریدو نو ددین څه ناڅه خبرو تپوس به یي ورنه کولو. دا سلسله جاري وه تردي چي هلك راهب ته دخپل ځان باره کي خبر ورکړو او ورته یي اوونیل ما دالله تعالي عبادت شروع کړي دي او دي هلك دراهب سره زیات نه زیات کیناستل او حصاریدل شروع کړل او دکاهن سره یي ناسته کمه کړه کاهن دهلك مشرانو ته جواب اولیږلو ماته داسي ښکاري چي هلك ماته راتلل نه غواړي او هلك راهب ته هم دا خبره اوکړه راهب هلك ته اوونیل کله چي کاهن ستا نه تپوس اوکړي چي ته چرته وي نو ته ورته اووایه دکور والا سره وم او چي کله درنه کور والا تپوس اوکړي چي ته چرته وي نو ته ورته وایه چي زه دکاهن سره وم. راوي وائي دغلام ورځي همداسي تیریدلي چي یوه ورځ په داسي خلقو ددي هلك تیریدل اوشول چاچي یو ښاور حصار کړي وو بعضي خلقو اوونیل دا ښاور شیر وو هلك داسي اوکړل چي یو کاڼړي یي راپورته کړو او ویي ونیل اي الله راهب چي څه وائي کچري دا رښتیا وي نو زه ستا نه ددي ښاور دقتل کولو توفیق غواړم ددي خبري کولو سره یي ښاور په کاڼړي اوویشتلو او هلاك یي کړو خلقو تپوس اوکړو دا چا قتل کړو چاچي دا معامله

ليدلي وه هغوئ اوونيل فلاني هلك دذي خبري په اوريدو خلق اوويريدل او ويې وئيل دي هلك داسي علم زده كړي دي چې بل هيڅوك ورباندي نه پوهيږي داخبره يو ړوند واوريدله نو هغه هلك ته اوونيل كه تا زما نظر واپس كړو زه به تاته دا دا ځيزونه دركړم هلك اوونيل زه دا ټول ځيزونه ستا نه نه غواړم مګر دا راته اووايه كه تاته ستا نظر واپس شي نو ايا ته به په هغه چا ايمان راوړي چاچي تاته ستا نظر واپس كړي دي؟ هغه اوونيل هو بالكل ورباندي ايمان راوړم راوي وائي دي هلك دالله تعالي نه دعا اوغوښتله نو الله تعالي دهغه نظر واپس كړو ددي معاملي په ليدلو ړوند په الله تعالي ايمان راوړو او ددوئ معامله دومره مشهوره شوه چې بادشاه ته ورسيده نو بادشاه دا هلك راوغوښتلو نو خلقو ورته حاضر كړو بادشاه ورته اوونيل زه به تاسو ټول په جدا جدا طريقو قتل كوم بيا بادشاه راهب او هغه كس لره چې مخكي ړوند وو او بيا يې ايمان راوړو قتل كولو حكم اوكړو په دوئ كي ديو كس دسر په مينځ كي يې اره كيخودله او په مينځ يې دوه كړو او دويم يې په بله طريقه قتل كړو بيا يې دهلك باره كي حكم اوكړو چې دي يو داسي داسي غر ته بوځئ كوم چې داسي داسي وي او دغر دسر نه يې لاندي راوغورځوئ چنانچي دي همداسي يو خاص غر ته بوتلي شو او هر كله چې هغه اخري ځاي ته ورسيدو دكوم ځاي نه چې خلقو ده راغورځول غوښتل نو دوئ پخپله ددي غر نه راغورځيدل شروع شول او يو يو به راراغورځيدلو تردي چې صرف هلك يواځي پاتي شو هر كله چې هلك واپس راغي نو بادشاه دده باره كي بيا حكم اوكړو چې ده لره سمندر ته بوځئ او په سمندر كي يې ډوب كړئ دي سمندر ته بوتللي شو نو الله تعالي هغه ټولو خلقو سره چاچي هلك سمندر ته بولي وو په اوبو كي ډوب كړل او هلك يې بچ كړو هلك چې بچ پاتي شو نو واپس خپل كلي ته راغي او بادشاه ته يې اوونيل ته په دي طريقه مانشي قتل كولي مګر هله چې ما په سولئ (دار) زوړند كړي او بيا مي په غشي اووله او دغشي دويشتلو وخت كي دا اووايي چې دالله په نوم غشي چلوم كوم چې ددي هلك رب دي نو بادشاه دهلك سره دهمداسي كار كولو حكم اوكړو هلك په دار زوړند كړي شو او بيا بادشاه په غشي اوويشتلو او دغشي ويشتلو وخت كي يې

"**بسم الله رب هذا الغلام**" اوونيل بادشاه غشي اوويشتلو او هلك پخپل تشي لاس كيخودو او مړ شو خلقو دا خبري شروع كړي هللك ته داسي علم معلوم وو كوم چې دبل چاسره نه وو مونږ خو ددي هلك په رب ايمان راوړو رسول الله اوفرمائيل بادشاه ته اوونيلي شول ته خو د دري كسانو نه وويريدلي چاچي ستا مخالفت كړي وو اوس خو داټول خلق ستا مخالف شوي دي (اوس به څه كوي، رسول الله اوفرمائيل بادشاه يو څو كندي اوكنستلي او لرګي يې پكي اوغورځول او اور يې ورته واچولو او خلق يې ټول راجمع كړل او ورته يې اوونيل څوك چې دخپل دين نه اوړي مونږ به هغه لره پريږدو او څوك چې دخپل دين نه نه اوړي مونږ به يې دي

اور ته غورځوو او بيا يي اور ته ددي خلقو غورځول شروع كړل رسول الله اوفرمانيل الله تعالي ددي خلقو متعلق فرماني او بيا يي دا ايت كريمه تلاوت كړو "قتل اصحاب الاخدود النار ذات الوقود" نه تر "العزيز الحميد" پوري. راوي واني هلك دفن كړي شو او ونيلي كيږي چي دغه هلك دعمر بن الخطاب رضي الله عنه په زمانه كي دزمكي نه راوويستلي شو چي ګوتي يي په تشي باندي هم هغه شان ايخودلي شوي پرتي وي څنګه چي هغه دقتل كيدو وخت كي ايخودلي وي

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي.

****

٧٧ ـ بَاب وَمِنْ سُورَةِ الْغَاشِيَةِ

دسورة الغاشيه دبعضي ايتونو تفسير

دَ تېرلو نه مخكي هغه خلقو ته تنبيه ده. كوم چي په غفلت كي دي. دَ هغوي دَ بيدارولو دپاره دا سوال كړي شوي دي. چي آيا تاسو ته دَ هغهٔ وخت څهٔ خبر معلوم دي چي په ټول عالم به داسي آفت راشي چي هر څيز به پټ كړي. او بيا دا تفصيل بيان شويدي. چي خلق به په دوو ډلو كي تقسيم شي او دَ هغوي انجام به هم جُدا جُدا وي. يوه ډله به جهنم ته ځي او بله ډله به جنت ته ځي. او هغوي ته به نعمتونه وركولي شي

بيا دَ توحيد او آخرت دَ منكرينو نه سوال شوي دي. چي تاسو هغه څيزونه نه ويني كوم چي ستاسو وړاندي دي دَ عرب په صحرا كي چي په كومو اوبنانو ستاسو دَ ژوند انحصار دي. نو تاسو غور نهٔ كوي چي دوي كي هغه خاصيتونه پيدا كړي شوي دي. كوم چي دَ صحرا دَ ژوند دپاره پكار وي. او كله چي دوي سفر كوي نو اسمان. غرونو او زمكي ته نهٔ ګوري آيا دا ټول الله تعالي نهٔ دي پيدا كړي او بل څوك دَ دي په پيدا كولو كي دَ الله تعالي شريك نيشته. نو دوي بيا ولي دَ الله تعالي دَ توحيد نه انكار كوي او دوي سره كوم معقول دليل دي چي دَ هغي په بنا دوي آخرت نهٔ مني بيا نبي صلي الله عليه وسلم ته خطاب دي كه دوي نهٔ مني نو تهٔ په دوي باندي جبر «زور» كوونكي، نهٔ يي چي په زوره په دوي خبره اومني. ستا كار نصيحت كول دي نو تهٔ نصيحت كوه. آخر دوي به مونږ طرف ته راځي او دوي سره حساب كول خمونږ كار دي

٣٣٤١ ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ. عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ. عَنْ جَابِرٍ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ. فَإِذَا قَالُوهَا عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّهَا وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللهِ. ثُمَّ قَرَأَ: إِنَّمَا أَنْتَ

مُذَكِّرٌ لَسْتَ عَلَيْهِمْ بِمُسَيْطِرٍ ، ، الغاشية :٢١ ٢٢ ، ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : د جابر رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي ماته حكم راكړى شوى دى چي څه (كافرانو سره) ترهغې وخته پورى جنګ جاري اوساتم ترڅو پورى چي هغوي دالله تعالي دوحدانيت او ځما درسالت ګواهي اونكړي .كله چي هغوي دا كارونه وكړي نو بيا ځما نه دهغوي ځانونه او مالونه محفوظ دي ليكن داسلام دحق دپاره به دځان او مال دحق مطالبه باقي وي او ددوي حساب كتاب الله تعالي ته حواله دى. او بيا يې دا ايتونه ولوستل إِنَّمَا أَنْتَ مُذَكِّرٌ ، لَسْتَ عَلَيْهِمْ بِمُسَيْطِرٍ " نه ئي ته په دوى باندي (څوكيدار) مقرر كړي شوي).

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دى.

لغات : عصموا : عصم عصما دضرب نه معني ګټه كول ، بچ كول.

تشريح : "امرت ان اقاتل الناس" يعني ماته حكم شوى دى چي دخلقو سره جنګ اوكړم، زمكه دالله ملكيت دى نو نظام هم ورباندي دالله پكار دى. هم ددي مقصد دپاره الله تعالي دنيا ته انبياء عليهم السلام راليږلي دي دهغوئ فريضه هم دا وه چي داسلامي معاشري جوړولو دپاره هر ممكن كوشش اوكړي اوڅوك چي داسلامي معاشري دختمولو كوشش كوي دهغوئ سره دي جهاد اوكړى شي ددي دپاره چي تمام مخلوق دالله تعالي لوي والى تسليم كړي اوزكواة وركونكي جوړ شي نوكه خلق داسي نه كوي نو بيا ددينه دويمه خبره معلوميږي چي جزيه به وركوي او دهغې په بدل كې به اسلامي رياست ددوئ دمال او ځان او عزت حفاظت كوي نو كه دوئ اسلام هم نه قبلوي او جزيه هم نه وركوي نو بيا دي ددوئ خلاف جهاد اوكړى شي.

عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلاَّ بِحَقِّ الإِسْلاَمِ ، وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللهِ تعالي، يعني هغوئ خپل وينه او مال محفوظ كړو اود اخرت معامله به يې دالله په لاس كې وي،

علماء واني اګر چي هغوئ ظاهرا مسلمان شوي دي خوچي په زړه كې يې نفاق پروت وي بيابه يې هم دمال اوځان حفاظت كولى شي ځكه چي شريعت په ظاهر فيصله كوي او باطني حال يې الله تعالي ته معلوم دى الله به پخپله دداسي خلقو مواخذه كوي "الابحق الاسلام" يعني داسلام دحق نه علاوه يعني داسلام قبول كولو نه پس كه دوئ زكواة هم وركړي خو كه ناجائز قتل اوكړي نو قصاص به ورباندي راځي او په دي صورت كې به ددوئ دمال او ځان ضمانت نه وي.

داسلام دحق نه مطلب دادى چي مسلمان بنده نه څه داسي كار اوشي چي دهغې په سزا كې يې اسلام دقتل حكم وركوي لكه څوك چي بل مسلمان بې ګناه قتل كړي، ياډاكه واچوي، يا زنا

¹ _ صحيح مسلم/الإيمان ٨ (٢١/٢٥) (تحفة الأشراف: ٢٧٤٢)

وکړي نو اسلام يې په قصاص يا حد کې دقتل حکم ورکوي، څوك چې په خوله داسلام اقرار اوکړي نو داسلام احکام به پرې جاري کيږي. که دزړه نه يې اقرار نه وي کړی ، پټ کافر وي نو دهغې سزا به الله تعالي په قيامت کې ورکوي. هغه ته يې دزړه حال معلوم دی مونږ به يې په ظاهري اقرار داسلام ظاهري احکام جاري کوو ځکه چې مونږ ته دزړه دحال پته نه لګي.

لَسْتَ عَلَيْهِمْ بِمُصَيْطِرٍ ۝ په دې جمله کې د انما انت منذر دمفهوم تاکيد دي يعني ته ددوی دهدايت يافته کيدو ذمه وار نه يي اوهمدا مطلب دې دايت کريمه وما انت عليهم بجبار

****

٧٨ـ بَاب وَمِنْ سُورَةِ الْفَجْرِ

دسورة الفجر دبعضي ايتونو تفسير

٣٣٤٢ـ حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، وَأَبُو دَاوُدَ، قَالَا: حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ عِصَامٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْبَصْرَةِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ الشَّفْعِ وَالْوَتْرِ؟ فَقَالَ: "هِيَ الصَّلَاةُ بَعْضُهَا شَفْعٌ وَبَعْضُهَا وِتْرٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ قَتَادَةَ، وَقَدْ رَوَاهُ خَالِدُ بْنُ قَيْسٍ الْحُدَّانِيُّ، عَنْ قَتَادَةَ أَيْضًا. (1)

ترجمه دعمران بن حصين رضي الله عنه بيان دی فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دشفع او وتر (کوم چې په دې سورة کې وارد دي) باره کې تپوس اوکړې شو چې دشفع او وتر نه څه مراد دي؟ رسول الله اوفرمائيل ددينه مراد مونځ دي، بعضي مونځونه شفع (جفت) وي او بعضي وتر (طاق رکعاتونه) وي

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث غريب دي. مونږ يې صرف دقتاده په روايت پيژنو. خالد بن قيس حداني هم دا روايت دقتاده نه نقل کړي دي

****

٧٩ـ بَاب وَمِنْ سُورَةِ الشَّمْسِ وَضُحَاهَا

دسورة الشمس دبعضي ايتونو تفسير

د مضمون او انذار بيان نه معلوميږي چې دا سورة هم د مکي معظمي په ابتدائی دور کې نازل ـ

(1) ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٨٩)

شويدي. خو دا په هغه زمانه کي نازل شويدي چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم مخالفت په زور کي ؤو.
موضوع: د سورت د نيکئ او بدی فرق خودل دی. او هغه خلقو ته تخويف دي کوم خلق چي د دي فرق نه انکار کوی او د بدئ په لار روان وی.
د مضمون په لحاظ سره د دي سورة دوه حصي دی. يو د سورة د شروع نه تر آيت. ١٠ پوري او دويمه حصه د ايت. ١١ نه د سورة د اخره پوري.
په اوله حصه کي دري خبري دی. يو دا چي ځنګه نمر او سپوږمئ ورځ او شپه او زمکه او آسمان. د يو بل نه مختلف دی او د اثارو او نتيجي په اعتبار سره مختلف دی. دا رنګ نيکی او بدی هم د اثارو او نتيجي په اعتبار سره د يو بل نه مختلف دی.
دويم دا چي الله تعالى د انسان نفس ته جسم. حواس او د ذهن طاقت ورکړي دي. او په دنيا کي ئي ناخبره نۀ دي پريخودلي. بلکه د فطری الهام په ذريعه په انسان کي د نيکئ او بدئ د فرق پيژندلو طاقت اچولي دي. دريمه دا چي د انسان د مستقبل انحصار په دي خبره دي. چي دي نيکی خوښوی او که بدی.
په دويمه حصه کي ئي د قوم ثمود تاريخی نقشه او پس منظر پيش کړي دي. او د رسالت اهميت ئي انسان ته خودلي دي.
په دنيا کي رسول د دي دپاره راليږلي شی. چي خلقو ته د نيکئ او بدئ وضاحت اوکړی. دا رنګ يو نبی صالح عليه السلام قوم ثمود ته ليږلي شوي ؤو. مګر هغوئ د نفس په پليتئ کي غرق شوي ؤو. نو د پيغمبر تکذيب ئي اوکړو. او آخر نتيجه دا شوه. چي هغوئ تباه کړي شول. نو أس په دي کي د مکي والو دپاره عبرت دي.

٣٣٤٣ـ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَمْعَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا يَذْكُرُ النَّاقَةَ وَالَّذِي عَقَرَهَا، فَقَالَ: "إِذِ انْبَعَثَ أَشْقَاهَا (الشمس: ١٢" انْبَعَثَ لَهَا رَجُلٌ عَارِمٌ عَزِيزٌ مَنِيعٌ فِي رَهْطِهِ مِثْلُ أَبِي زَمْعَةَ. ثُمَّ سَمِعْتُهُ يَذْكُرُ النِّسَاءَ. فَقَالَ: "إِلَامَ يَعْمِدُ أَحَدُكُمْ فَيَجْلِدُ امْرَأَتَهُ جَلْدَ الْعَبْدِ وَلَعَلَّهُ أَنْ يُضَاجِعَهَا مِنْ آخِرِ يَوْمِهِ". قَالَ: ثُمَّ وَعَظَهُمْ فِي ضَحِكِهِمْ مِنَ الضَّرْطَةِ. فَقَالَ: "إِلَامَ يَضْحَكُ أَحَدُكُمْ مِمَّا يَفْعَلُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

[1] ـ اورده البخاري في الجامع /أحاديث الأنبياء ١٧ (٣٣٧٧)، وتفسير الشمس ١ (٤٩٤٢)، والنكاح ٩٤ (٥٢٠٤)، والأدب ٤٣ (٦٠٤٢)، مسلم /الجنة والنار ١٣ (٢٨٥٥)، سنن ابن ماجه /النكاح ٥١ (١٩٨٣) (تحفة الأشراف: ٥٢٩٤)

ترجمه : دعبدالله بن زمعه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه يوي ورځ دهغي اوښي (مراد: ورنه صالح عليه السلام اوښه ده) او چاچي دا اوښه زخمي کړي وه ددوئ باره کي ذکر واوريدو رسول الله اوفرمائيل دا ايت "اذ انبعث اشقاها" کله چي رااوچت شو بدبخت دهغوي، تلاوت کړو او فرمائيل يي چي ددي کار دپاره يو ډير بد سخت زړه والا او طاقتور قبيلي والا يو قوي شخص پاڅيدو مضبوط او قوي داسي وو لکه دزمعه دپلار پشان، بيا ورنه ما دښځو ذکر واوريدو چي فرمائيل يي اخر ولي خپله ښځه او غلام لره دغلام دکوړو پشان وهي او کله چي دده نه اميد وي چي هغه ددي ورځي په اخري حصه کي (يعني په شپه کي) دده اړخ ته اوده کيږي سم؟ هغوئ اوونيل بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم دچا دهوا خارج کيدو په وجه په هغه پوري دخاندلو متعلق نصيحت اوکړو او ويي فرمائيل چي بعضي خلق په تاسو کي ولي داسي خندا او مزاق کوي کله چي دي پخپله هم دا کار کوي .
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح: يعني ثموديانو عملي تکذيب په هغه وخت کي وکړو کله چي په دوئ کي دټولو نه لوي بد بخت داوښي قتل کولو ته فوري تيار شو دانبعاث معني دحکم تعميل ته زر تياريدل دي . دقتل مشوره قوم والاورکړي وه الله تعالي په خپله فرمائيلي دي فتنادوا صاحبهم.
ددي کس نوم قذار بن سالف وو چي رنګ يي سور او سترګي يي شني وي اوقد يي ټيټ وو او چونکه نورو مشوره ورکړي وه اودقتل ذمه وار دي جوړ شوي وو نو په دي وجه دده بدبختي دنورو نه زياته شوه . بخاري دعبدالله بن زمعه نه دهغه خپله اوريدلي روايت نقل کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په دوران دخطبي کي دناقي اودهغي دقتل کونکي تذکره وکړله او ويي فرمائيل چي اذانبعث اشقاها چي داوښي دقتل کولو دپاره په قوم کي يو معزز سړي پاڅيدو لکه ابوزمعه.
دابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي داوښي کوپ اولکئ پريکونکي دادم عليه په اولاد کي هغه کس وو چاچي خپل ورور قتل کړي وو اوهم ده دهرچانه مخکي دقتل ايجاد کړي وو نو په دي وجه چي ترڅو پوري په زمکه وينې بهيولي شي ددي دعذاب يوه حصه به هغه ته هم رسيږي(رواه الطبراني والحاکم وابو نعيم في الحليه).

دعبدالله بن زمعه رضي الله عنه حالات

نوم عبدالله دپلار نوم زمعه او دمور نوم يي قريبه وو څوك چي دام المومنين ام سلمه رضي الله عنها خور وه دا په قريشو کي دسردارانو دکورنئ نه وه اوددي پلار زمعه په غزوه بدر کي دمشرکانو دطرف قتل کړی شوی وو.

عبدالله فتح مكي ته نزدي مسلمان شو او دام المومنين ام سلمه رضي الله عنها دخوريي كيدو په وجه به رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ډير تلو راتلو.
وات دهجرت په ۳۵ كال كي په جنګ جمل كي ديزيد په حكومت كي دحره په مشهوره واقعه كي وفات شو.اصابه،
ددده نه حرف يو روايت مروي دى او متفق عليه دى.تهذيب الكمال،

****

۸۰_باب وَمِنْ سُورَةِ وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى

دسورة الليل دبعضي ايتونو تفسير

۳۳٤٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ. حَدَّثَنَا زَائِدَةُ بْنُ قُدَامَةَ. عَنْ مَنْصُورِ بْنِ الْمُعْتَمِرِ. عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ. عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ. عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. قَالَ: كُنَّا فِي جَنَازَةٍ فِي الْبَقِيعِ. فَأَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَلَسَ وَجَلَسْنَا مَعَهُ وَمَعَهُ عُودٌ يَنْكُتُ بِهِ فِي الْأَرْضِ. فَرَفَعَ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ. فَقَالَ: "مَا مِنْ نَفْسٍ مَنْفُوسَةٍ إِلَّا قَدْ كُتِبَ مَدْخَلُهَا". فَقَالَ الْقَوْمُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ. أَفَلَا نَتَّكِلُ عَلَى كِتَابِنَا. فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ السَّعَادَةِ فَإِنَّهُ يَعْمَلُ لِلسَّعَادَةِ. وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الشَّقَاءِ فَإِنَّهُ يَعْمَلُ لِلشَّقَاءِ؟ قَالَ: "بَلِ اعْمَلُوا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ. أَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ السَّعَادَةِ فَإِنَّهُ يُيَسَّرُ لِعَمَلِ السَّعَادَةِ. وَأَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الشَّقَاءِ فَإِنَّهُ يُيَسَّرُ لِعَمَلِ الشَّقَاءِ. ثُمَّ قَرَأَ: فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى . وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى . فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَى . وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنَى . وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَى . فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَى . (الليل)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه علي رضي الله عنه فرماني چي مونږ ديوي جنازی په سلسله کي په جنت البقيع کي وو چي رسول الله صلي الله عليه وسلم هم تشريف راوړو، رسول الله صلي الله عليه وسلم کيناستلو. نو مونږ هم دهغوی ګير چاپيره کيناستلو هغه وخت د رسول الله صلي الله عليه وسلم په لاس مبارك کي همسا وه چي سر يی تيره وو، رسول الله صلي الله عليه وسلم سرخکته کړی وو او په همسا سره يی زمکه ګروله بيايی اسمان ته سر پورته کړو او ويي فرمانيل په تاسو کي يو هم داسي نشته چي دهغه ځايی په دوزخ يا جنت کي مقرر شوی نه وي صحابو عرض اوکړو اي دالله رسوله! ايا مونږ په دی ليکلو باندی بی فکره کينو؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل څوك چي د اهل سعادت دجملي نه وي هغه به د سعادت خاصلولو دپاره کار

---

[1] انظر حديث رقم ۲۱۳۶

كوي او څوك چي د هل شقاوت نه وي هغه به د شقاوت موجب كار كوي، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل نه عمل كوئ هر چاته هغه شي اسان كړي شوي دي د كوم دپاره چي پيدا دي، پس څوك چي د اهل سعادت نه وي هغه ته به سعادت والاكار اسان كړی شي او څوك چي د اهل شقاوت نه وي هغه ته به شقاوت والاكار اسان شي، او بيا يې دا ايتونه ولوستل **فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ وَاتَّقَىٰ ۝ وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَىٰ ۝ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَىٰ ۝** نوهغه څوك چي ورني كړو مال خپل په لاره دالله كي . اوتقوي ني اوكړه اورشتيانی اوګڼله ښائسته خبره نوضروراسانه به كړوهغه ته لارداسانئ

امام ترمذي رحمه الله وايي: حسن صحيح دی

تشريح د پورتني حديث نه په قبرباندي نصيحت كول معلوميږي لكه چي امام نووي ورباندي باب ترلي دي په دي وخت كې ددنيا دبي ثباتئ منظر دهر چا په وړاندي وي نو بيا نصيحت ډير ښه اثر كوي.

"افلا نتكل علي كتابنا" يعني مونږ په ليكلی شوي اعتماد اونكړو، يعني دا خو دالله په علم كې ده چي دا بنده نيكي كونكی دی يابدي كونكی دی ليكن دالله په علم كې دكيدو او دليكلی كيدو دا مطلب نه دی چي انسان په هغه عمل كولو مجبور دی كوم چي الله ليكلي دي خكه چي دا خو الله تعالي ته دمخكې نه معلومه شود چي فلانی به نيك عمل پخپل اختياركوي او فلانی به بدي كوي نوترڅوپوري چي دالله تعالي ليكلو او علم ته دانسان رسيدل نه كيږي او دا هم نه شي كيدی نو داسي به څنګه اوشي چي دی دالله تعالي په علم داعتماد كولو په وجه نيك عمل كول پريږدي. دويمه خبره داده چي هر انسان ته دهغه كار توفيق وركولی شي دكوم دپاره چي پيدا شوی وي هر كله چي داسي ده نو بيا ولي انسان دنيكئ لاره اختيارنكړي په انسان باندي چي كومه وظيفه مقرر شوي ده هم هغه ورباندي فرض ده

وَاتَّقَىٰ ۝ يعني خان يي دعذاب نه بچ كړو په حديث كي راغلي دي چي **اتقوا النار ولو بشق تمرة (بخاري ومسلم عن عدي بن حاتم واحمد عائشه والطبراني في الاوسط عن انس وفي الكبير عن ابن عباس وابي امامة والبراء عن نعمان بن بشير وابي هريرة رضوان الله عنهم اجمعين).**

وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَىٰ ۝ دابوعبد الرحمن اوضحاك قول دي چي د الحسني نه مرادلااله الاالله ونيلي دي . دا قول دعطيه اوعكرمه په سند دابن عباس نه هم مروي دي. دمجاهد په نزد ورنه جنت مراد دي لكه چي په ايت للذين احسنوا الحسني كي چي راغلي دي.

دكلبي قول دي چي ددينه دالله وعده مراد ده يعني څوك چي ددي خبري تصديق وكړي چي الله خپله وعده ضرور پوره كوي.

فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرٰى ۝ يعني داسي خصلتونه به ورته اسان کړو چي ده ته به اساني ورکوي اوراحت به ورته رسوي يعني دداسي اعمالو توفيق به ورته ورکړو چي دالله درضا اودجنت دحصول ذريعه به وي . دا لفظ ديسرالفرس دمحاورې نه ماخوذ دي اويسر الفرس په معني دواګواچولو دي اس ته

****

۸۱ـ باب وَمِنْ سُورَةِ وَالضُّحٰى

دسورة الضحي دبعضي ايتونو تفسير

بخاري او مسلم ليکلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم بيمار شو او يوه يا دوه ورځي ورباندي داسي تيري شوي چي پاڅيدي به نه شو ددي حالت په ليدو سره يوي ښځي اووئيل اي محمد (صلي الله عليه وسلم) داسي ښکاري چي ستا شيطان ته پريخودي نو په دي باره کي لانديني ايت کريمه نازل شو. بغوي ليکلي دي چي هغوئ يعني دجندب رضي الله عنه بيان دي چي پورتنئ ذکر شوي خبره کومي ښځي کړي وه اوهغه دابوجهل ښځه ام جميل وه

حاکم دزيد بن ارقم رضي الله عنه نه روايت بيان کړي دي چي څه ورځي په رسول الله صلي الله عليه وسلم داسي تيري شوي چي وحيورباندي نازله نه شوه نو دابو لهب ښځي ام جميل اووئيل ماته خوداسي ښکاري چي ستا ملګري ته پريخودي او ستا نه يي نفرت اوکړو نو په دي باره کي الله تعالي سورة الضحي نازل کړو.

سعيد بن منصور دجندب رضي الله عنه نه روايت بيان کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دجبرائيل په راتلو کي څه ورځي تاخير اوشو مشرکانو دا وينا شروع کړه چي محمد (صلي الله عليه وسلم) يي پريخودو نو په دي باره کي مذکوره ايت نازل شوابن جرير دشداد بن عبدالله په حواله ليکلي دي چي خديجه رضي الله عنها رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اووئيل زما خيال دي چي ستا دبي صبرئ په ليدو سره ستانه الله تعالي ناراضه شوي دي نو په دي وخت کي دا سورة نازل شو. دا دواړه مذکوره روايتونه مرسل دي مګر راويان يي ثقه دي ، حافظ ابن حجر ليکلي دي ظاهرا داسي معلوميږي چي ام جميل دخديجه رضي الله عنها دواړو دا خبره کړي وه ليکن ام جميل دخوشحالئ ښکاره کولو په طور کړي وه او خديجي دخفګان داظهار په طور کړي وه

ابن ابي شيبه او طبراني په يو سند سره روايت بيان کړي دي په کوم کي چي يو مجهول کس دحفص بن ميسره قريشي قول نقل کړي دي او ده دخپلي مور او مور يي دخپلي مور قول نقل کړي دي او دا ښځه د رسول الله صلي الله عليه وسلم خادمه وه چي يو کوکري د رسول الله صلي الله عليه وسلم کمري ته داخل شو او دکټ لاندي يي پټ شو او بيا مړ شو نو پدغه وجه دځلورو

ورخو پوري په رسول الله صلي الله عليه وسلم وحي رانغلـه رسول الله صلي الله عليه وسلم ◦ اوفرمائيل اي خوله اوګوره چي زما په کوټه کي کومه نوي خبره پيدا شوي ده چي جبرائيل راته نه راځي. ما په زړه کي اووئيل مالره ښکار دي چي دکمري صفائي اوکړم او جارو اووهم چنانچي جارو مي راواخستله او دکټ لاندي چي بنکته شوم نو مړ سپي مي راوويستلو ددينه پس مي اوليدل چي رسول الله صلي الله عليه وسلم تشريف راوړو چي پدغه وخت کي يي ګيره مبارکه رپيدله اود رسول الله صلي الله عليه وسلم دا قاعده وه چي دوحي دنزول په وخت کي وربانذي رپيدل راتلل نو الله تعالي سورة الضحي دترضي پوري نازل کړو. حافظ ابن حجر ليکلي دي دکوکري په وجه دجبرائيل په راتلو کي دتاخير کيدو روايت خو مشهور دي مګر دا قصه دسورة الضحي دنزول سبب کيدل غريب بلکه شاذدي کوم چي دقبلولو لايق نه دي.

بغوي ليکلي دي چي دوحي د قطع کيدو دمودي متعلق مختلف روايتونه مروي دي ابن جرير ددولسو ورخو او مقاتل دخلويښتو ورخو تعين کړي دي دمقاتل قول دي چي په دي وخت کي مشرکانو دا وينا شروع کړه چي دمحمد صلي الله عليه وسلم رب ده لره پريخودو ترديد چي ددوئ ددي خبري په ترديد کي دا سورة نازل شو، ابن مردويه هم دا روايت دابن عباس رضي الله عنهما نه نقل کري دي . کله چي جبرائيل راغي نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل ته چي نه راتلي زما ستا دراتلو ډير خواهش وو جبرائيل په جواب کي اووئيل زما هم تاته دراتلو خواهش وو ،مګر دالله تعالي دطرفه دراتلو حکم بند شوي وو او موږ پخپله بغير دالله دحکم نه نازليدل نه کوو، (مظهري)

٣٣٤٥_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ جُنْدَبٍ الْبَجَلِيِّ، قَالَ: كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَارٍ فَدَمِيَتْ أُصْبُعُهُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " هَلْ أَنْتِ إِلَّا إِصْبَعٌ دَمِيتِ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ مَا لَقِيتِ ". قَالَ: وَأَبْطَأَ عَلَيْهِ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامِ، فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ: قَدْ وُدِّعَ مُحَمَّدٌ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى (الضحى : ٣ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ شُعْبَةُ، وَالثَّوْرِيُّ، عَنِ الأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ. [1]

ترجمه دجندب بجلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي زه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په يو غار کي وم او هلته درسول الله ديوي ګوتي نه وينه راووتله دي وخت کي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ته خو صرف يوه ګوته يي چي وينه درنه راوتلي ده او دا هر څه چي تاته پيښ شوي دي دا درته دالله تعالي په لاره کي پيښ شوي دي. راوي وائي رسول الله

[1] - اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجهاد ٩ (٢٨٠٢) ، والأدب ٩٠ (٦١٢٦) . صحيح مسلم/الجهاد ٣٩ (١٧٩٦) (تحفة الأشراف : ٣٢٥٠) . و مسند احمد (٣١٢/٢، ٣١٢، ٣١٣)

صلي الله عليه وسلم ته دجبرائيل عليه السلام په راتلو کي تاخير اوشو نو مشرکانو پروګنډه شروع کړه چي محمد (صلي الله عليه وسلم) پريخودلي شو نو دي موقعه کي الله تعالي دا ايت کريمه " مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ ۞ نه دي پريخودلي تالره رب ستا اونه ئي دشمني کړي ده ستاسره " نازل کړو

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي. او دا شعبه او ثوري هم داسود بن قيس نه نقل کړي دي.

مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ نه دي پريخودلي تالره رب ستا] يعني تعلق يي درسره نه دي قطع کړي.

وَمَا قَلَىٰ ۞ اونه ئي دشمني کړي ده ستاسره اونه يي درنه نفرت پيدا شوي دي] داجمله په اصل کي ما قلاك وو . ك دمفعول ضمير حذف کړي شو ځکه چي په ودعك کي مفعول موجود دي . مزيد مفعول ذکر کولو ته ضرورت نشته، يايي دايت دسجعي په بنا مفعول نه دي ذکر کړي

دجندب بن عبدالله رضي الله حالات:

نوم جندب دپلار نوم عبدالله دسفيان عجلي علقي نوسی وو علقه د بجلي قبيلي يو شاخ دی ددي سره يي تعلق وو اول په کوفه کې اوسيدو بيا بصري ته منتقل شو او هم په بصره کې وفات شو دده دمروياتو شمير ۴۳دی چي دولس متفق عليه دي اوه په بخاري کې دي او دوه په مسلم کې.

****

٨٢ـ بَاب وَمِنْ سُورَةِ أَلَمْ نَشْرَحْ

دسورة الانشراح دبعضي ايتونو تفسير

د دي مقصد او مدعا هم رسول الله صلى الله عليه وسلم ته تسلی ورکول دی. د نبوت نه وراندي نبی صلی الله عليه وسلم ته داسي حالات مخي ته نهٔ وو راغلي. کوم چي د نبوت نه روستو راغلل. دا د نبی صلی الله عليه وسلم په ژوند کي يو انقلاب وو. په دي وجه دا سورة نازل کړي شو په دي کي اول الله تعالی دري غټ نعمتونه ذکر کړي دی.

يو. شرح صدر (سينه مبارکه پرانستل) دويم. هغه بوجهـ لري کول چي د هغي په وجه په تا ډير زور وو. دريم. ستا د اوچت شان بيان او ستا شان پورته کول.

بيا الله تعالی فرمائيلي دی. چي د مشکلاتو دور ډير اوږد نهٔ دي د دي په ځاي به تاته اطمينان او خوشحالي ډير زر حاصلي شي. او هر روستني دور به د ړومبنی دور نه بهتر او ښهٔ وی. او نزدي ده. چي ستا رب به تاته هغه څهٔ درکړی. چي ستا زړهٔ به خوشحاله شي.

په آخر کي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته فرمائیلي شوي دي. چي کله ته د خپلو مشغولاتو نه فارغ شي. نو د الله تعالی عبادت کي ځان مشغول کړه. او د هر څۀ نه بې نیازه شه. او خپل رب ته متوجه شه. او دا هغۀ هدایت دي کوم چي په سورة مزمّل کي په ایت. ۱ تا ۹ کي زیات په تفصیل سره بیان شوي دي.

دَ شرح صدر نه مراد ضروری علمو نه او معارف دي. دَ زړۀ نه هر قسم شکونه ختمول دي. دا اشاره ده دَ نبوت مقام ته او په دي شرح صدر کي شق صدر هم شامل دي. چي دَ معتبر روایاتو په دلیل سره دوه خله شق صدر دَ نبی صلی الله علیه وسلم شویدي. یو خل دَ څلورو کالو په عمر کي. چي جبرئیل علیه السلام تشریف راوړو او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم زړه مبارك ئي سیري کړو او دَ شیطان هغه حصّه ئي ترینه اوویستله چي هغه دَ هر انسان په زړۀ کي وی. او بیا ئي اوینځلو او بند ئي کړو. (صحیح مسلم کتاب الایمان باب الاسراء) دویم خل دَ معراج په موقع. دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم سینه مبارکه ئي اوشلوله او په آب زم زم سره ئي اوینځله او بنده ئي کړه. او دَ ایمان او حکمت نه ئي ډکه کړه. (صحیح بخاری ابواب المعراج وکتاب الصلوٰة).

٣٣٤٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، وَابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ صَعْصَعَةَ رَجُلٌ مِنْ قَوْمِهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " بَيْنَمَا أَنَا عِنْدَ الْبَيْتِ بَيْنَ النَّائِمِ وَالْيَقْظَانِ إِذْ سَمِعْتُ قَائِلًا يَقُولُ: أَحَدٌ بَيْنَ الثَّلَاثَةِ. فَأُتِيتُ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ فِيهَا مَاءُ زَمْزَمَ فَشَرَحَ صَدْرِي إِلَى كَذَا وَكَذَا. قَالَ قَتَادَةُ: قُلْتُ لِأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: مَا يَعْنِي؟ قَالَ: إِلَى أَسْفَلِ بَطْنِي، فَاسْتُخْرِجَ قَلْبِي فَغُسِلَ قَلْبِي بِمَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ أُعِيدَ مَكَانَهُ ثُمَّ حُشِيَ إِيمَانًا وَحِكْمَةً ". وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ طَوِيلَةٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ هِشَامٌ الدَّسْتُوَائِيُّ، وَهَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ. وَفِيهِ عَنْ أَبِي ذَرٍّ. (1)

ترجمه انس بن مالك رضي الله عنه دخپل قوم دیو کس مالك بن صعصعه رضي الله عنه نه روایت نقل کوي نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمائیلي ي دي زه دبیت الله سره دنیم خوابی په حالت کي وم (نیم ویښ وم او نیم اوده وم) چي ناڅاپه ما دیو اواز کونکي اواز واوریدو او ونیل یې چي په دري کسانو کي یو (محمد دي) بیا ماته دسرو زرو یو خانك راوستلي شو چي دزمزم اوبه پکي وي هغه زما سینه اوشلوله ددي ځاي نه تر دي ځاي پوري، قتاده وائي ما انس

---

1 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /بدء الخلق ٦ (٣٢٠٧) . ومناقب الأنصار ٤٢ (٣٨٨٧) . صحيح مسلم /الإيمان ٧٤ (١٦٤) . سنن النسائي/الصلاة ١ (٤٤٩) (تحفة الأشراف : ١١٢٠٢) . ومسند احمد (٤/٢٠٧)

رضي الله عنه ته اوونيل دكوم خاي نه دكوم خاي پوري نو هغه اوونيل دخيتي دلاندي پوري او بيا يې اوفرمائيل هغه زما زړه راوويستلو او د زم زم په اوبو يې ووينځلو او بيا يې زړه پخپل خاي كيخودو او دايمان او حكمت نه يې ډك كړو. او په دې حديث كې يو اوږده قصه ده.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دې. داحديث هشام دستوائي او حمام دقتاده نه نقل كړې دې، په دې باب كې دابوذر رضي الله عنه نه هم حديث وارد دې.

****

٨٣_باب وَمِنْ سُورَةِ التِّينِ

دسورة التين دبعضې ايتونو تفسير

دابن عباس ، مجاهد حسن بصري، ابراهيم نخعي عطاء بن ابي رباح، مقاتل او كلبي قول دې چې دالتين والزيتون نه مراد همدا انځر دې كوم چې تاسو خورئ او همدا دزيتون ميوه ده دكوم نه چې تاسو غوړي اوباسئ ، په انځر باندې دقسم خوړلو خصوصي وجه دا بيان كړې شوې ده چې دا يوه داسې ميوه ده چې په دې كې زړي نه وي ګويا كې دجنت دميوو سره مشابه ده.
ثعلبي او ابو نعيم په الطب كې په مجهول اسناد سره دابو ذر رضي الله عنه نه روايت نقل كړې دې چې انځر خوړل بواسير مرض ختموي او نقرس ته فائده وركوي زيتون يوه بركتي ونه ده چې ميوه يې مرغن وي او ددې تيل دتركارئ په خاي هم استعماليدې شي ، دعكرمه قول دې چې تين او زيتون دوه غرونه دې ، دقتاده قول دې تين هغه غر دې په كوم چې دمشق اباد شوې دې او زيتون دبيت المقدس مسجد دې، دابو محمد بن كعب قول دې داصحاب كهف مسجدونه درې دې او ايليا زيتون دې

٣٣٤٧_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أُمَيَّةَ. قَالَ: سَمِعْتُ رَجُلًا بَدَوِيًّا أَعْرَابِيًّا. يَقُولُ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يَرْوِيهِ يَقُولُ: "مَنْ قَرَأَ وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ. فَقَرَأَ: أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ . فَلْيَقُلْ: بَلَى وَأَنَا عَلَى ذَلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ إِنَّمَا يُرْوَى بِهَذَا الإِسْنَادِ عَنْ هَذَا الأَعْرَابِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَلَا يُسَمَّى.[1]

ترجمه: اسماعيل بن اميه وائي چې ما ديو باندچي نه واوريدل وئيل يې چې ما د ابوهريره رضي الله عنه نه دا روايت اوريدلې دې هغه وئيل څوك چې "والتين والزيتون" سورة اولولي

[1] سنن ابي داود/ الصلاة ١٥٢ (٨٨٧) (تحفة الأشراف : ١٥٥٠٠)

او "اليس الله باحكم الحاكمين ته ورسيږي، نودي وخت کي دي اووائي "بلي وانا علي ذلك من الشاهدين".
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث ددي سند په اعتبار داعرابي نه دابوهريره په واسطه مروي دي او ددي اعرابي نوم نه دي اخستلي شوي

****

٨٤_باب وَمِنْ سُورَةِ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ

دسورة اقراء دبعضي ايتونو تفسير

٣٣٤٨_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ عَبْدِ الْكَرِيمِ الْجَزَرِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا. سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ (العلق :١٨) قَالَ: قَالَ أَبُو جَهْلٍ: لَئِنْ رَأَيْتُ مُحَمَّدًا يُصَلِّي لَأَطَأَنَّ عَلَى عُنُقِهِ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ فَعَلَ لَأَخَذَتْهُ الْمَلَائِكَةُ عِيَانًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه: عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دايت كريمه "سندع الزبانية" دتفسير كولو په حال كي فرمائي ابوجهل اووئيل كه ما محمد (صلي الله عليه وسلم) دمونځ كولو په حالت كي اوليدو نو ده ته به په څټ كي لتي وركوم داخبره چي رسول الله واوريده نو وېي فرمائيل كچري دده داسي كړي وي نو فرشتو به دليدو سره ده لره ښكاره نيولي وو.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

تشريح: سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ ۞ [زرده اواز به اوكړومونږ زبانيه ته] دزبانيه نه مراد دزجاج په قول تيزي اوسخت خويه فرشتي دي ، زبانيه دزبني يا دزبنية په وزن دعفرية جمع ده ، ماده يي زبن دي او زبن په معني ددفع كولو دي ، په كلام كي شرط محذوف دي.
دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي چي كه د خپلي قبيلي والا راغوښتلي وي نودجهنم مزظفين به يي علي الاعلان په ستركو ليدلي وي اودوئ به يي نيولي وي ، محلي دا قول مرفوع حديث ګڼلي دي.

****

٣٣٤٩_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ أَبُو سَعِيدٍ الْأَشَجُّ. حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ الْأَحْمَرُ. عَنْ دَاوُدَ بْنِ أَبِي

---

[1] - اورده البخاري في الصحيح /التفسير سورة العلق ٣ (٤٩٥٨) (تحفة الأشراف : ٦١٢٨)

هِنْدٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: " كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي، فَجَاءَ أَبُو جَهْلٍ، فَقَالَ: أَلَمْ أَنْهَكَ عَنْ هَذَا، أَلَمْ أَنْهَكَ عَنْ هَذَا، أَلَمْ أَنْهَكَ عَنْ هَذَا، فَانْصَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَزَبَرَهُ، فَقَالَ أَبُو جَهْلٍ: إِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا بِهَا نَادٍ أَكْثَرُ مِنِّي فَأَنْزَلَ اللَّهُ: فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ ، سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ (العلق :١٧-١٨) فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَوَاللَّهِ لَوْ دَعَا نَادِيَهُ لأَخَذَتْهُ زَبَانِيَةُ اللَّهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ، وَفِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. [1]

ترجمه : عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وائي يو خل نبي كريم صلي الله عليه وسلم مونځ كولو چي ابو جهل راغلو هغه اووئيل ايا ما ته ددي (مونځ) نه منع كړي نه وي؟ ايا ما ته ددي (مونځ) نه منع كړي نه وي؟ ايا ما ته ددي (مونځ) نه منع كړي نه وي؟ رسول الله دمونځ نه سلام اوګرځولو او دي يي اورټلو ابوجهل اووئيل تاته خو ډيره ښه معلومه ده چي زما نه زيات دوستان دبل چا نشته نو دي باره كي الله تعالي ايت كريمه فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ نازل شو ابن عباس رضي الله عنهما وائي په الله قسم كه هغه خپل دوستان راغوښتلي وي نو په عذاب مقررو فرشتو به فورا نيولي وي

امام ترمذي رحمه الله وايي دا حديث حسن غريب صحيح دي، او په دي باب كي دابوهريره رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي

تشريح: فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ ناديه دَ اجتماع مجلس ته وائي. او دلته مضاف محذوف دي يعنى أَهْلَ نَادِيَهُ. يعنى مجلس والاخلق . سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ دا دعوت دَ مكذب دَ عذاب دپاره دي الزَّبانيه دَ زَبْنٌ نه دي او زَبْنٌ دفع كول دي په سختئ سره. نو دا هغه ملائك دي چي كافرانو له به ديكي وركوي. او په زور سره به ئې جهنم ته راكاږي. لكه په سورة طور ١٣ پ. ٢٧ كي تير شوي دي او دَ دي ملائكو صفات په سورة تحريم ٦ پ ٢٨ كي ذكر شوي دي.

****

٨٥_باب وَمِنْ سُورَةِ الْقَدْرِ

دسورة القدر دبعضي ايتونو تفسير

٣٣٥٠_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلاَنَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا الْقَاسِمُ بْنُ الْفَضْلِ الْحُدَّانِيُّ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: قَامَ رَجُلٌ إِلَى الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ بَعْدَ مَا بَايَعَ مُعَاوِيَةَ، فَقَالَ: سَوَّدْتَ وُجُوهَ

[1] تفرد به المؤلف. وانظر ماقبله (تحفة الأشراف: ٦٠٨٣)

الْمُؤْمِنِينَ أَوْ يَا مُسَوِّدَ وُجُوهِ الْمُؤْمِنِينَ. فَقَالَ: لَا تُؤَنِّبْنِي رَحِمَكَ اللَّهُ. فَإِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرِيَ بَنِي أُمَيَّةَ عَلَى مِنْبَرِهِ فَسَاءَهُ ذَلِكَ. فَنَزَلَتْ: إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ. يَا مُحَمَّدُ يَعْنِي نَهْرًا فِي الْجَنَّةِ. وَنَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ: إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ. وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ يَمْلِكُهَا بَعْدَكَ بَنُو أُمَيَّةَ يَا مُحَمَّدُ. قَالَ الْقَاسِمُ: فَعَدَدْنَاهَا. فَإِذَا هِيَ أَلْفُ شَهْرٍ لَا يَزِيدُ يَوْمٌ وَلَا يَنْقُصُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ الْقَاسِمِ بْنِ الْفَضْلِ. وَقَدْ قِيلَ: عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ الْفَضْلِ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَازِنٍ. وَالْقَاسِمُ بْنُ الْفَضْلِ الْحُدَّانِيُّ هُوَ ثِقَةٌ وَثَّقَهُ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ. وَيُوسُفُ بْنُ سَعْدٍ رَجُلٌ مَجْهُولٌ. وَلَا نَعْرِفُ هَذَا الْحَدِيثَ عَلَى هَذَا اللَّفْظِ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه : ديوسف بن سعد بيان دي فرمائي چي يو كس دحسن بن علي رضي الله عنهما په وړاندي دمعاويه رضي الله عنه سره دبيعت كولو نه پس اووئيل دمسلمانانو په مخونو دي توركي اومږلو او كه داسي يي اووئيل اي دمسلمانانو دمخونو تورونكيه (دراوي شك دي) هغه اووئيل په ما باندي الزام مه لګوه الله تعالي دي په تا رحم اوكړي نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته بني اميه پخپل منبر باندي اوخودلي شول نو د هغه دا كار خوښ نشو نو په دي باره كي ايت كريمه "انا اعطيناك الكوثر" او " إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ. وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ "نازل شو. اي محمد بنو اميه به ددي ورځو مالكان وي قاسم بن فضل حداني وائي مونږ دبني اميه دحكومت ورځي اوشميرلي نو هغه بالكل زر مياشتي دي يوه ورځ نه زياته وه او نه كمه وه.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف دقاسم بن فضل په سند پيژنو، دا هم وئيلي شوي دي چي قاسم بن فضل نه دا مروي دي او هغه ديوسف بن مازن نه نقل كړي دي قاسم بن فضل حداني ثقه دي يحي بن سعيد او عبدالرحمن بن مهدي دده توثيق كړي دي او يوسف بن سعد يو مجهول راوي دي او مونږ دا حديث په دي الفاظو صرف په همدي سند پيژنو.

تشريح: ترمذي، حاكم او ابن جرير دحسن رضي الله عنه نه روايت بيان كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په خوب كي اوليدل چي بني اميه زما په منبر رواختل رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي خوب په ليدو څه پريشاني محسوس كړه نوپه دي باره كي ان اعطيناك

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٤٠٤)

الكوثر . او . إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ . وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ . لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ نازل شو يعني دبني اميه دزرو مياشتو دحكومت نه دليلة القدر يوه شپه بهتره ده، دقاسم بن الفضل همداني قول دي مونږ چي دبني اميه دحكومت زمانه اوشميرله نو بغير دكمي او زياتي نه زر مياشتي پوره شوي، دترمذي قول دي دا حديث غريب دي مزني او ابن كثير سخت منكر گڼرلي دي.

ابن ابي حاتم او واحدي دمجاهد قول نقل كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دبني اسرائيلو ديو كس ذكر وكړو چي دالله تعالي په لار كي يي دزرو مياشتو پوري اصلحه اوچته كړي وه (يعني زر مياشتي جهاد يي كړي وو) مسلمانانو ددي په اوريدو سره تعجب اوكړو او په دي باره كي سورة القدر د من الف شهر پوري نازل شو، يعني دليلة القدر يوه شپه هغه زرو مياشتو نه بهتره ده په كومو كي چي بني اسرائيلو جهاد كړي وو.

ابن جرير دمجاهد نه هم داسي قول نقل كړي دي چي په بني اسرائيلو كي يو كس وو چي دماښام نه به يي دسحره پوري مونځ كولو او دسحر نه به يي دماښام پوري جهاد كولو او دده دا عمل دزرو مياشتو پوري جاري وو نو په دي باره كي الله تعالي إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ . وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ . لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ نازل كړو .

امام مالك په مؤطا كي ليكلي دي چي ديو معتمد عالم نه مي اوريدلي دي فرمائيل يي چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم دامت عمرونه چونكه لنډ دي نو په دي وجه دنورو امتونو داعمالو دتعداد برابر خو ددوئ اعمال نشي كيدي څكه چي دهغوئ عمرونه زيات وو نو په دي وجه الله تعالي خپل رسول ته ليلة القدر وركړو كوم چي دزرو مياشتو نه بهتره دي (بحواله تفسير مظهري)

****

٣٣٥١ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ. عَنْ عَبْدَةَ بْنِ أَبِي لُبَابَةَ. وَعَاصِمٍ هُوَ ابْنُ بَهْدَلَةَ. سَمِعَا زِرَّ بْنَ حُبَيْشٍ وَزِرُّ بْنُ حُبَيْشٍ يُكْنَى أَبَا مَرْيَمَ. يَقُولُ: قُلْتُ لِأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ: إِنَّ أَخَاكَ عَبْدَ اللهِ بْنَ مَسْعُودٍ يَقُولُ: "مَنْ يَقُمِ الحَوْلَ يُصِبْ لَيْلَةَ القَدْرِ. فَقَالَ: يَغْفِرُ اللهُ لِأَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ لَقَدْ عَلِمَ أَنَّهَا فِي العَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ، وَأَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ. وَلَكِنَّهُ أَرَادَ أَنْ لَا يَتَّكِلَ النَّاسُ ثُمَّ حَلَفَ لَا يَسْتَثْنِي أَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ. قَالَ: قُلْتُ لَهُ: بِأَيِّ شَيْءٍ تَقُولُ ذَلِكَ يَا أَبَا المُنْذِرِ. قَالَ: بِالآيَةِ الَّتِي أَخْبَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. أَوْ بِالعَلَامَةِ أَنَّ الشَّمْسَ تَطْلُعُ يَوْمَئِذٍ لَا شُعَاعَ لَهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ العَلَاءِ. حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ

عَيَّاشٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ بَهْدَلَةَ. قَالَ: كَانَ أَبُو وَائِلٍ شَقِيقُ بْنُ سَلَمَةَ لا يَتَكَلَّمُ مَا دَامَ زِرُّ بْنُ حُبَيْشٍ جَالِسًا. قَالَ عَاصِمُ بْنُ بَهْدَلَةَ: وَكَانَ زِرُّ بْنُ حُبَيْشٍ رَجُلا فَصِيحًا. وَكَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ يَسْأَلُهُ عَنِ الْعَرَبِيَّةِ. حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدَّوْرَقِيُّ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ مِهْرَانَ الْكُوفِيُّ. حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ بهدلة. قَالَ: مَرَّ رَجُلٌ عَلَى زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ وَهُوَ يُؤَذِّنُ. فَقَالَ: يَا أَبَا مَرْيَمَ أَتُؤَذِّنُ؟ إِنِّي لأَرْغَبُ بِكَ عَنِ الأَذَانِ. فَقَالَ زِرٌّ: أَتَرْغَبُ عَنِ الأَذَانِ. وَاللهِ لا أُكَلِّمُكَ أَبَدًا. [1]

ترجمه : عبده بن ابو لبابه او عاصم بن بهدله وايي چي مونږ د زر بن حبيش نه اوريدلي دي اود زر بن حبيش اسم كنيه ابو مريم وه د زر رحمه الله نه روايت دي چي ابي بن كعب ته مي اووئيل ستا ورور عبد الله بن مسعود د ليلة القدر باره كي وايي څوك چي تمام كال قيام كوي هغه به دي لره مومي، نوابي بن كعب اووئيل الله تعالي دي په هغه (ابن مسعود) باندي رحم اوكړي په الله مي دي قسم وي هغه ته ښه معلومه ده چي داد رمضان په اخري عشره كي ده . او دا اود ويشتمه شپه ده ليكن هغه دا غوښتل چي خلق چرته په دي داده نشي او په باقي كال كي عمل پري نږدي او بيا يي بغير داستثناء قسم وكړو چي دا اوه ويشتمه شپه ده. ما ورته ووئيل اي ابو المنذر ته په كوم دليل دا خبره كوي؟ هغه اووئيل په هغه علامو سره كومي چي مونږ ته رسول كريم صلي الله عليه وسلم ښودلي دي، او يا په دي علامه چي پدغه ورځ به نمر راوخيژي مګر شعاع به پكي نه وي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دي، حديث بيان كړي دي مونږ ته علاء علاء وائي حديث بيان كړي دي مونږ ته ابوبكر بن عياش دعاصم بن بهدله نه عاصم وائي څو پوري چي به زر بن حبيش ناست وو نو شقيق بن وائل به خبري نه كولي عاصم وائي زر بن حبيش فصاحت والا عالم دي او عبدالله بن مسعود رضي الله عنه به ورنه دعربيت باره كي معلومات حاصلولو . دعاصم بن بهدله نه په مذكوره سند مروي دي فرمائيل يي چي په ذر بن حبيش باندي يو كس تير شو چي اذان يي كولو هغه اووئيل اي ابو مريم ايا ته اذان كوي مګر د اذان نه زما تاته رغبت زيات دي زر بن حبيش اووئيل ايا ته د اذان سره مينه نه لري زما دي په الله قسم وي چي هيڅ كله به درسره خبري اونكړم.

****

٨٦_باب وَمِنْ سُورَةِ لَمْ يَكُنْ

دسورة البينه دبعضي ايتونو تفسير

---

[1] - انظر حديث رقم ٦٩٣

د دي سورت نوم سورة البينة دی او دويم نوم يې سورة لَمْ يَكُنْ هم دي
انس رضی الله عنه فرمائی. چې نبی صلی الله علیه وسلم ته ابی بن کعب اونيل چې آيا الله تعالی زما نوم اغستي دي. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چې او. نو د ډیري خوشحالي نه د ابی بن کعب په سترګو کي اوخکي راغلي. صحيح بخاری کتاب التفسير سورة لم يكن، او دا لفظ لم يكن شامل دي ماضی. حال او مستقبل ته.
منفكّين. انفكاك په ډيرو معانيو سره راځی. پريخودل. جدا كيدل. تردُدْ او شك كول. مهمل كيدل.

٣٣٥٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ. عَنِ الْمُخْتَارِ بْنِ فُلْفُلٍ. قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ. يَقُولُ: قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا خَيْرَ الْبَرِيَّةِ. قَالَ: "ذَلِكَ إِبْرَاهِيمُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ. حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ. عَنِ الْمُخْتَارِ بْنِ فُلْفُلٍ. عَنْ أَنَسٍ. نَحْوَهُ. ([1])

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله تعالي عنه نه روايت دي فرمائي چې يوکس رسول الله ته وونيل اي په مخلوق کې غوره، نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل داخو ابراهيم عليه السلام دی.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٨٧_باب وَمِنْ سُورَةِ إِذَا زُلْزِلَتِ الأَرْضُ

دسورة الزلزال دبعضي ايتونو تفسير

٣٣٥٣_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ. أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ. أَخْبَرَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ. عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ. عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. قَالَ: قَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذِهِ الآيَةَ: "يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا (الزلزلة :٤ قَالَ: "أَتَدْرُونَ مَا أَخْبَارُهَا". قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: "فَإِنَّ أَخْبَارَهَا أَنْ تَشْهَدَ عَلَى كُلِّ عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ بِمَا عَمِلَ عَلَى ظَهْرِهَا. تَقُولُ:

[1] صحيح مسلم/الفضائل ٤١(٢٣٦٩)، سنن ابي داود/السنة ١٤(٤٦٧٢) (تحفة الأشراف: ١٥٤٤)، وحم(١٧٨/٣، ١٨٤)

عَلَىٰ يَوْمَ كَذَا كَذَا وَكَذَا فَهَذِهِ أَخْبَارُهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (۱)

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه بيان کوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دا ايت "يومئذ تحدث اخبارها" (په هغه ورځ به ځمکه خپلی خبری بيانوي) او لوسته ، نو پوښتنه يي اوکړه چي ايا تاسو ته پته ده چي دځمکی هغه خبری به څه وي؟ صحابه کرامو عرض اوکړو الله تعالي او دهغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، هغه خبرونه دبندګانو اعمال دي چي هغوي دځمکی په مخ کړي دي هغه به ګواهي اوکړي چي ده په ماباندي دا دا کارونه کړي دي او په فلانی فلانی ورځ يی دا دا کارونه کړي دي. دا هغه اخبار دي (چي ځمکه به يی دقيامت په ورځ دالله تعالي په حضور کي پيش کړي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات : تدرون: دري يدري دضرب يضرب نه دريا ودراية په چل باندي خان پوهه کول.

تشريح : په پورتني حديث کي دانسانانو دپاره تنبيه ده چي دخلقو نه په پټه خو تاسو دالله تعالي نافرمانياني کولی شئ خو دالله تعالي نه به څنګه خان پټ کړئ ، همدارنګي په يو بل روايت کي راغلي دي چي رسول الله فرمائيلي دي په ځمکه کي په احتياط سره اوسيږئ ځکه چي دا ستاسو نګراني کوي او که هر چا په دي دپاسه کوم نيك يابد کار اوکړو نو دا به ضرور خبر ورکوي په دي وجه خلقو لره پکار دي چي په ډير احتياط سره ژوند تير کړي.

تشريح : يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ۝ پدغه ورځ بيانوي به خبرونه خپل قاضي ثناء الله پاني پتي ليکلي دي: بغوي ليکلي دي په دي عبارت کي تقديم تاخير دي اصل کلام داسي وو "يومئذ تحدث اخبارها وقال االانسان مالها" يعني پدغه ورځ به ځمکه خبر ورکړي او څه چي په دي باندي شوي وي هغه به بيان کړي نو انسان به اووائي په دي ځمکه باندي څه شوي دي په دي باندي چي کوم عملونه شوي دي تول يي بيان کړل.

دابو هريره رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دا ايت کريمه اولوستلو او بيايي اوفرمائيل ايا تاسو ته معلومه ده چي دځمکي خبرونه به څه وي؟ صحابه کرامو عرض اوکړو الله او دهغه رسول ښه پوهيږي نو ويي فرمائيل دځمکي خبرونه به دا وي چي کوم بنده ددي دپاسه هر څه کړي وي ځمکه به ورباندي شهادت ورکړي او واني به چي فلاني کس داسي داسي کړي وو او همدا به دځمکي خبر ورکول وي (رواه احمد والنسائي وابن حبان والبيهقي).

---

(۱) ـ انظر حديث رقم ۲۴۲۹

ترمذي ددي روايت دنقل كولو نه پس په دي دصحت حكم كړي دي او طبراني دربيعه حرثي په روايت سره ليكلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په زمكه كي په احتياط سره اوسئ خكه چي دا ستاسو مور ده او هر چاچي ددي دپاسه كوم نيك يابد كار كړي وي دا به ضرور دهغي خبر وركوي طبراني دمجاهد نه هم ددي پشان قول نقل كړي دي

****

٨٨_باب وَمِنْ سُورَةِ التَّكَاثُرِ

دسورة التكاثر دبعضي ايتونو تفسير

٣٣٥٤_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ. حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ. حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الشِّخِّيرِ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ انْتَهَى إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقْرَأُ: "أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ". قَالَ: "يَقُولُ ابْنُ آدَمَ: مَالِي مَالِي، وَهَلْ لَكَ مِنْ مَالِكَ إِلَّا مَا تَصَدَّقْتَ فَأَمْضَيْتَ، أَوْ أَكَلْتَ فَأَفْنَيْتَ، أَوْ لَبِسْتَ فَأَبْلَيْتَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه . دعبدالله بن شخير رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته ورسيدم كله چي ايت كريمه "أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ". يي تلاوت كولو رسول الله اوفرمائيل بني ادم وائي زما مال او زما مال تردي چي په همدي فكر او حوس كي مړ شي مګر تاسو ورته اوواني تاته ددينه زيات څه ملاؤ شو كوم چي تا په صدقه كي وركړل او مخكي دي اوليږل او يا دي اوخوړل او ختم دي كړل او يا دي واغوستل او زاړه دي كړل.

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي

دعبدالله بن شخير رضي الله عنه حالات

دده پوره نوم عبدالله بن الشخير بن عوف بن كعب بن وفدان وو دى په بصريينو كي شميرلى شي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دبنو عامر په وفد كي راغلى وو دده دوه خامن وو اول مطرف دويم يزيد او همدا دواړه دده نه روايت كوي دمروياتو شمير يي شپږ دى ليكن بعضي اسماء رجال والاتهه ليكلي دي

****

٣٣٥٥_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا حَكَّامُ بْنُ سَلْمٍ الرَّازِيُّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي قَيْسٍ، عَنِ الحَجَّاجِ،

---

[1] [illegible] حديث رقم ٣٣٣٣

عَنِ الْمِنْهَالِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: " مَا زِلْنَا نَشُكُّ فِي عَذَابِ الْقَبْرِ حَتَّى نَزَلَتْ: أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ (التكاثر :١)" قَالَ أَبُو كُرَيْبٍ: مَرَّةً عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي قَيْسٍ هُوَ رَازِيٌّ، وَعَمْرُو بْنُ قَيْسٍ الْمُلَائِيُّ كُوفِيٌّ، عَنْ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنِ الْمِنْهَالِ بْنِ عَمْرٍو. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. (١)

ترجمه: دعلي رضي الله عنه بيان دي فرماني چي مونږ به په عذاب قبر كي شك كولو تردي پوري چي سورة "الهاكم التكاثر" نازل شو نو زمونږ په عذاب قبر يقين پيدا شو. ابوكريب به كله عمرو بن ابي قيس ذكر كولو او دا عمرو بن ابي قيس راجع دي او عمرو بن قيس ملائي كوفي دي او دي دابن ابي ليلي نه روايت كوي او ابن ابي ليلي دمنهال بن عمرو نه روايت كوي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي.

تشريح ابن ابي حاتم دزيد بن اسلم قول بيان كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو تكاثر دطاعت نه منع كړي يئ تردي پوري چي مرګ درته راغي دقتاده قول دي چي يهوديانو به پخپل كثرت فخر كولو او وئيل به يي چي مونږ خو دفلانئ قبيلي نه زيات يو نو همدي شيخئ دوئ لره دمرګه پوري داطاعت نه بند كړي وساتل او هم ددوئ په باره كي دا ايت نازل شوي دي ددي تفسير او شان نزول په بنا حتي د غايه دپاره دي (يعني دمرګه پوري) ابن ابي حاتم دابن بريده قول نقل كړي دي چي ددي ايت نزول دانصارو د دوه قبيلو په حق كي شوي دي چي يوه بني حارثه او دويمه بني الحارث وه هري يوي به په بلي فخر كولو يوي به وئيل چي ايا په تاسو كي فلاني سړي دفلانو پشان دي او دويمي به هم داسي وئيل دا مقابله خو دژوندو متعلق وه خو بيايي اووئيل اوس قبرستان ته ورشئ نو دواړه قبرستان ته لاړل او هري يوي قبيلي دخپلي قبيلي مړو ته داشاري كولو په حال كي اووئيل چي ايا په تاسو كي څوك داسي شته.

دكلبي قول دي دا ايتونه دقريشي قبائلو په حق كي نازل شوي دي په بني عبد مناف او بني سهم كي هري قبيلي وئيل چي په مونږ كي سرداران او عزتمند سړي ستاسو نه زيات دي او زمونږ تعداد هم ستاسو نه زيات دي كله چي شميرل اوشول نو بني عبدمناف زيات اوختل بيايي اووئيل چي راځئ اوس مونږ خپل مړي شميرو چانچي قبرستان ته لاړل او مړي يي هم اوشميرل نو په مجموعي حيثيت سره دبني سهم دري كورونه زيات شول چنانچي دجاهليت په

---

(١) ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠٠٩٥)

زمانه کي ددوئ تعداد زيات وو نو په دي باره کي الله تعالي دا ايت نازل کړو، ددي دواړو روايتونو په رڼا کي دايت مطلب داسي دي چي تاسو خو په قبرستان کي مړي هم اوشميرل تردي چي ستاسو عددي تفاخر زيات شو چي ژوندو لره دشميرلو نه پس مو دمړو په کثرت فخر شروع کړو ددي تفسير په بنا به دقبرونو دزيارت نه مراد مجازا مړي وي، يا دزيارت قبور حقيقي معني مراد ده ځکه چي هغوئ واقعا قبرستان ته دمړو شميرلو دپاره تلي دي بهر حال په دي صورت کي به حتي دسببيت دپاره وي.

دعبدالله بن الشخير بيان دي چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شوم او پدغه وخت کي يي ايت کريمه "الهاکم التکاثر "لوستلو او بيايي اوفرمائيل خلق وائي چي دا زما مال دي، دا زما مال دي ، ستا مال خو صرف هغه دي کوم چي دي په خوړلو ختم کړو او يادي په اغوستلو زوړ کړو او يادي صدقه کړو (بغوي).

دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په مړي پسي دري ځيزونه روان وي چي دوه ورنه واپس راځي او يو ورسره پاتي کيږي. يو دمړي کورنۍ او بل دمړي مال، دا ورنه راواپس کيږي او دريم ځيز دمړي اعمال دي چي دا به ورسره پاتي کيږي (رواه البخاري في صحيحه).

دعياض بن حمار مجاشعي نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي ماته وحي راليږلي ده چي تواضع کوئ او په تاسو کي دي هيڅوك په چا باندي فخر نه کوي او نه دي څوك په چا باندي زياتي کوي (رواه مسلم).

دابو هريره رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي خلقو لره په پلار او نيکه باندي دفخر کولو نه منع کيدل پکار دي، هغه خو دجهنم سکاره دي او که داسي نه کوئ نو تاسو به دالله تعالي په نزد دخوشيانو دچينجو نه هم زيات ذليل شئ کوم چي گندگئ لره پخپله خوله راغونډوي ، الله تعالي ستاسو نه دجاهليت حميت او په پلار نيکه باندي دفخر کولو شيخي زائله کړي ده .

سړي پرهيزگار او مومن وي او که بدبخت او فاجر وي خو ټول دادم عليه السلام اولاد دي او د ادم تخليق دخاوري نه شوي وو (رواه الترمذي وابوداود).

دعقبه بن عامر رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ستاسو دا نسب تاسو لره په چا باندي برتري درکونکي نه دي تاسو ټول خو د ادم عليه السلام اولاد يئ لکه چي ديو صاع لوړوالي دبل پشان وي ، او بغير ددين او تقوي نه دچا په چا باندي فضيلت نه وي دسړي دپاره دومره کافي ده چي دي بدزبانه فحش گو او بخيل نه وي (رواه احمد في المسند والبيهقي في السنن الکبري).

دابو هريره رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي دقيامت ورځ راشي نو الله تعالي به يو اعلان كونكي ته ددي اواز كولو حكم اوكړي چي واورئ مايو نسبت مقرر كړي دي او تاسو بل نسبت مقرر كړي دي ما په تاسو كي عزتمند كسان صرف هغه ګرځولي دي څوك چي په ټولو كي زيات پرهيزګار وي مګر تاسو يي دمنلو نه انكار كړي دي مګر دا مو اوونيل چي فلان بن فلان دفلان بن فلان نه افضل دي پس نن به زه خپل قائم كړي نسبت اوچت كړم او ستاسو نسبت به لاندي راوغورځوم چي متقيان چرته دي (رواه الطبراني في الاوسط).

****

٣٣٥٦_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَلْقَمَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حَاطِبٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: " لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ: ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ (التكاثر :٨) قَالَ الزُّبَيْرُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَأَيُّ النَّعِيمِ نُسْأَلُ عَنْهُ وَإِنَّمَا هُمَا الأَسْوَدَانِ التَّمْرُ وَالْمَاءُ؟ قَالَ: " أَمَا إِنَّهُ سَيَكُونُ ". قال: هذا حديث حسن. [1]

ترجمه : دزبير بن عوام رضي الله عنه بيان دي هر كله چي ايت كريمه "ثم لتسئلن يومئذ عن النعيم" بيا ضرور به تپوس اوكړي شي ستاسونه پدغه ورځ په باره دنعمتونو كي، نازل شو خلقو اوونيل اي دالله رسوله دكومو كومو نعمتونو باره كي به زمونږ نه تپوس كيږي نعمتونه خو صرف همدا دوه تور څيزونه دي (يعني كجوري او اوبه) او دوشمن زمونږ په وړاندي حاضر او موجود دي او زمونږ توري زمونږ په اوګو باندي پرتي دي رسول الله اوفرمائيل تاسو ته اوس معلومه نه ده ډيره نژدي ده چي داسي به اوشي چي تاسو ته به ډير نعمتونه راشي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن دي.

امام ترمذي رحمه الله په سابقه ابوابو كي ددي روايت متعلق ويلي دي: ددي حديث نه زيات صحيح زما په نزد دابن عيينه هغه حديث دي كوم چي هغه دمحمد بن عمرو نه نقل كړي دي، سفيان بن عيينه دابو بكر بن عياش په مقابله كي حديث لره زيات ياد ساتونكي او زيات درست بيانونكي دي

تشريح: ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ ۝ بيا ضرور به تپوس اوكړي شي ستاسونه پدغه ورځ په باره دنعمتونو كي.

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/الزهد ١٢ (٤١٥٨) (تحفة الأشراف : ٣٦٢٥)

دبغوي قول دي كوم نعمتونه چي دوئ ته ورکړي شوي وو دقيامت په ورځ به ددي دشکر تپوس کيږي، دمقاتل قول دي چي دمکي کافرانوته ددنيا مال حاصل وو مګر هغوئ دنعمت ورکونکي شکر ادا نکړو بلکه دنورو عبادت يي شروع کړو دقيامت په ورځ به دوئ ته دالله دشکريه نه ادا کولو عذاب ورکولي شي او همدا قول دحسن بصري دي او د ابن مسعود رضي الله عنه نه هم دا قول مرفوعا مروي دي ګويا کي په دي ايت کي هغه کافرانو ته خطاب دي څوك چي دتکاثر په وجه په غفلت کي پراته وو ليکن دا هم کيدي شي چي د لترون نه دسورة داخره پوري ټولو خلقو ته عمومي خطاب وي لکه چي په ايت "ان منکم الاواردها " کي چي دي.

په حديث کي هم راغلي دي چي په قبر کي به مؤمن ته اول ددوزخ هغه خاي وخودلي شي دکوم په عوض کي چي به ده ته دجنت والاخاي ورکولي شي ددي دپاره چي دي زيات شکرګذار جوړ شي.

****

۳۳۵۷ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَيَّاشٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: " لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الاية ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ (التكاثر :۸، قَالَ النَّاسُ: يَا رَسُولَ اللهِ، عَنْ أَيِّ النَّعِيمِ نُسْأَلُ، وَإِنَّمَا هُمَا الأَسْوَدَانِ وَالْعَدُوُّ حَاضِرٌ وَسُيُوفُنَا عَلَى عَوَاتِقِنَا، قَالَ: " إِنَّ ذَلِكَ سَيَكُونُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ ابْنِ عُيَيْنَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو عِنْدِي أَصَحُّ مِنْ هَذَا، وَسُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ أَحْفَظُ وَأَصَحُّ حَدِيثًا مِنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَيَّاشٍ. (1)

ترجمه . دابوهريره رضي الله عنه بيان دي چي کله ايت کريمه ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ نازل خلقو ووئيل اي د الله رسوله د کومو نعمتونو باره کي به زمونږ نه پوښتنه کيږي مونږ سره خو صرف کجوري او اوبه اودشمن مو هر وخت په سر ولاړ وي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمائيل ډيره نزدي ده چي داسي کار به اوشي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: د ابن عيينه حديث چي دمحمد بن عمرو نه يي نقل کوي ددي نه زيات صحيح حديث دي، او سفيان بن عيينه د ابو بکر بن عياش په نسبت زيات قوي حافظي والاو صحيح حديث والاوو.

****

۳۳۵۸ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا شَبَابَةُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْعَلَاءِ، عَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ عَبْدِ

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۵۱۲۱)

الرَّحْمَنِ بْنِ عَرْزَمٍ الْأَشْعَرِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ أَوَّلَ مَا يُسْأَلُ عَنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَعْنِي الْعَبْدَ مِنَ النَّعِيمِ أَنْ يُقَالَ لَهُ: أَلَمْ نُصِحَّ لَكَ جِسْمَكَ وَنُرْوِيَكَ مِنَ الْمَاءِ الْبَارِدِ». قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَالضَّحَّاكُ هُوَ ابْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَرْزَبٍ، وَيُقَالُ: ابْنُ عَرْزَمٍ، وَابْنُ عَرْزَمٍ أَصَحُّ. ([1])

ترجمه: ضحاك بن عبدالرحمن بن عرزم اشعري وائي ما دابوهريره رضي الله عنه اوريدلي دي وئيل يې چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دقيامت په ورځ به دبنده نه دهر څه نه مخکي چي دکومو نعمتونو باره کي سوال کيږي هغه دادي بنده ته به اوونيلي شي ايا ماتاته روغ جوړ تندرست بدن نه وو درکړي او ايا ما تاته يخي اوبه دڅکلو دپاره نه وي درکړي؟

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي او ضحاك دعبدالرحمن بن عرزب خوي دي او ده ته ابن عرزم هم وئيلي شي او ابن عرزم وئيل زيات صحيح دي.

****

۸۹ـ بَاب وَمِنْ سُورَةِ الْكَوْثَرِ

دسورة الكوثر دبعضي ايتونو تفسير

په دي سورت کي نبی صلی الله علیه وسلم ته تسلی ده. او منکرینو ته د تباهۍ او هلاکت پیشنگوئی ده. کفارو به وئیل. چي محمد صلی الله علیه وسلم د ټول قوم نه جُدا شو. او یواځي بي یارو مددگار پاتي شو.

د عکرمه روایت دي. چي نبی صلی الله علیه وسلم کله قریشو ته دعوت ورکړو نو قریشو وئیل بَترَ محمد صلی الله علیه وسلم مِنّا (یعنی محمد صلی الله علیه وسلم خمونږ نه جدا شو (ابن جریر)

محمد بن اسحاق وائی. چي د مکي سردار دَ عاص بن وائل سهمی په مخکي چي به چا د نبی صلی الله علیه وسلم ذکر کړو نو هغه به وئیل. دي پریږدي. دا خو یو ابتر سړي دي. د دهٔ نارینه اولاد نیشته. مړ به شي. خوك نوم اخستونکي به ني نهٔ وي.

د شمر بن عطیه بیان دي. چي عقبه بن ابی مُعیط هم داسي خبري د نبی صلی الله علیه وسلم متعلق کولي. (ابن جریر)

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٥١١)

د ابن عباس رضی الله عنه روايت دي چي يو خل كعب بن اشرف (د مديني يهودی سردار) مكي ته راغلو. نو د قريشو سردارانو هغهٔ ته اوئيل. اَلاَ تَرَی اِلٰی هٰذَا الصَّبِيِّ الْمُنْبَتِرِ مِنْ قَوْمِهِ يَزْعَمُ اَنَّهُ خَيْرٌ مِنَّا وَنَحْنُ اهل الحجيج واهل السَّدَانَةِ وَاهل السِّقَايَةِ. دي هلك ته خو اوګوره چي د خپل قوم نه كټ شوي دي. او دا ګمان كوی چي دي خمونږ نه غوره دي. حالانكه مونږه دَ حج سدانت او سقايت انتظام كوو. (بزار)

دَ دي واقعي متعلق دَ عكرمه روايت دي چي قريشو دَ نبی صلی الله عليه وسلم دپاره الصُّنْبُوْرُ الْمُنْبَتِرُ مِنْ قَوْمِهِ.. الفاظ استعمال كړي دی. يعنی كمزوری بي يار و مددګار او بي اولاد سړي چي دَ خپل قوم نه كټ شوي وي. (ابن جرير)

دَ ابن سعد او ابن عساكر روايت دي. چي عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمائيلي دی چي دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم دَ ټولو نه مشر خوي قاسم ؤو. بيا دَ هغوی نه كشره زينب رضی الله عنها وه. بيا عبدالله ؤو بيا اُمِّ كلثوم رضی الله عنها. فاطمه رضی الله عنها او رقيه رضی الله عنها وه. قاسم دَ ټولو نه مخكي وفات شو. بيا عبدالله وفات شو. نو عاص بن وائل اوئيل چي دَ دهٔ صلی الله عليه وسلم نسل ختم شو. اوس دي ابتر دي.

او په بعض رواياتو كي دا اضافه ده. چي عاص اوئيل چه. اَنَّ محمداً ابتر لاابن له يقوم مقامه بعده فاذا مات انقطع ذكره واسترحتم منه. (محمد صلی الله عليه وسلم ابتر دي. دَ دهٔ خوي نشته. چي هغه دَ دهٔ قائم مقام وی. كله چي دي مړ شی. نو دَ دهٔ نوم به ختم شی. او تاسو به ترينه خلاص شي)

عَبد بن حميد دَ ابن عباس رضی الله عنه روايت نقل كړي دي. چي دَ نبی صلی الله عليه وسلم دَ خوی عبدالله په وفات باندي ابوجهل هم داسي خبري كړي وي. دَ شُمر بن عطيه نه ابن ابی حاتم روايت نقل كړي دي. چي دَ نبی صلی الله عليه وسلم په دي غم باندي عقبه بن ابی مُعَيط هم دَ خوشحالي مظاهره كړي وه. عطاء وائی چي دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم دَ دويم خوی وفات اوشو. نو دَ نبی صلی الله عليه وسلم خپل ترهٔ ابولهب مشركانو ته په منډه راغلو. او دا خوشخبری ني ورله وركړه. بَتِرَ مُحَمَّدٌ الليلة. نن شپه محمد صلی الله عليه وسلم بياولاده شو.

دا هغه انتهائی زړهٔ خفه كوونكي حالات ؤو. چي په هغي كي سورة كوثر نازل شو. او په دي كي الله تعالی نبی صلی الله عليه وسلم ته خوشخبری وركړه. او داسي خوشخبری تر ننه پوري په دنيا كي چاته نهٔ ده حاصله شوي. او وروسره الله تعالی دا فيصله هم واوروله. چي ستا دَ مخالفينو جرړه كټ شوه.

٣٣٥٩ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " هُوَ نَهَرٌ فِي الْجَنَّةِ " . قَالَ: فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "رَأَيْتُ نَهْرًا فِي الْجَنَّةِ حَافَّتَاهُ قِبَابُ اللُّؤْلُؤِ، قُلْتُ: مَا هَذَا يَا جِبْرِيلُ قَالَ: هَذَا الْكَوْثَرُ الَّذِي أَعْطَاكَهُ اللَّهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دايت كريمه "انا اعطيناك الكوثر" متعلق اوفرمائيل دا په جنت كي يو نهر دي چي په دواړو غاړو بي دملغلرو جوړشوي يو گنبد دي ما اووئيل اي جبرائيل داڅه دي؟ هغوئ اووئيل دا هغه كوثر دي كوم چي الله تعالي تاته دركړي دي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٣٦٠ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا سُرَيْجُ بْنُ النُّعْمَانِ، حَدَّثَنَا الْحَكَمُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بَيْنَا أَنَا أَسِيرُ فِي الْجَنَّةِ إِذْ عُرِضَ لِي نَهْرٌ حَافَّتَاهُ قِبَابُ اللُّؤْلُؤِ، قُلْتُ لِلْمَلَكِ: مَا هَذَا؟ قَالَ: هَذَا الْكَوْثَرُ الَّذِي أَعْطَاكَهُ اللَّهُ. قَالَ: ثُمَّ ضَرَبَ بِيَدِهِ إِلَى طِينَةٍ فَاسْتَخْرَجَ مِسْكًا، ثُمَّ رُفِعَتْ لِي سِدْرَةُ الْمُنْتَهَى، فَرَأَيْتُ عِنْدَهَا نُورًا عَظِيمًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، قَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ أَنَسٍ. [2]

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله تعالي عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي هركله چي زه په جنت كي گرځيدم (دمعراج په شپه باندي) اويونهر ورته وښودلی شو كوم چي دواړه كناری دډوياقوتووي فرشتي ته مي ووئيل دا څه دي؟ هغي ووئيل داهغه كوثردی كوم چي الله تعالي تاته دركړی دی. فرمايي چي فرشتي به زمكه په لاس ووهله او مشك يي ورنه جوړ كړل رسول الله فرمايي چي بيا سدرة المنتهي ماته راپورته كړی شوه او ما د سدرة المنتهي سره ډير لوي نور اوليدلو.
امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دي او دانس رضي الله عنه نه په نورو سندونو هم مروي دي.

****

٣٣٦١ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ مُحَارِبِ بْنِ دِثَارٍ،

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ١٣٣٨)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح/الرقاق ٥٣ (٦٥٨١) (تحفة الأشراف: ١١٥٣)

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْكَوْثَرُ نَهْرٌ فِي الْجَنَّةِ حَافَّتَاهُ مِنْ ذَهَبٍ، وَمَجْرَاهُ عَلَى الدُّرِّ وَالْيَاقُوتِ، تُرْبَتُهُ أَطْيَبُ مِنَ الْمِسْكِ، وَمَاؤُهُ أَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ وَأَبْيَضُ مِنَ الثَّلْجِ". قَالَ: هذا حديث حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كوثر په جنت كي يو نهر دي چي دواړه غاړي يي دسرو زرو نه جوړي دي او ددي اوبه په ياقوت او ملغلرو تيريږي خاوره يي دمشكو نه هم زيات خوشبوداره ده او اوبه يي دشهدو نه هم زياتي خوږي دي او د واوري نه زياتي سپيني دي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

۹۰ـ بَابٌ وَمِنْ سُورَةِ النَّصْرِ

دسورة النصر دبعضي ايتونو تفسير

دَ نزول زمانه: دَ عبدالله بن عباس رضى عنه بيان دي. چي دا دَ قرآن مجيد آخرى سورت دي. يعنى دَ دينه پس مكمل سورة په نبى صلى الله عليه وسلم باندي نهٔ دي نازل شوي (مسلم نسائى. طبرانى. ابن ابى شيبه. ابن مدويه).
دَ عبدالله بن عمر روايت دي. چي دا سورة دَ حجة الوداع په موقعه دَ ايام تشريق په مينځ كي دَ منى په مقام نازل شوي دي. او دَ دينه پس نبى صلى الله عليه وسلم په خپله اُوښه باندي سور شو. او هغه مشهوره خطبه ئي اوفرمائيله (ترمذى. بزار. بيهقى. ابن ابى شيبه. عبد بن حميد ابو يعلى. ابن مردويه). دَ دي دواړو روايتونو نه معلوميږى چي دَ سورة نصر دَ نزول او دَ نبى صلى الله عليه وسلم دَ وفات په مينځ كي څو ورځي او دري مياشتي فصل وُو. ځكه چي دَ تاريخ په رُوسره دَ حجة الوداع او دَ نبى صلى الله عليه وسلم دَ وفات تر مينځه دومره زمانه تيره شويده.
عائشه رضى الله عنها فرمائيلي دى. چي رسول الله صلى الله عليه وسلم به دَ خپل وفات نه وراندي سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ ونيل. او په بعض رواياتو كي دى. سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ. به ئي دير زيات لوستل. نو ما عرض اوكړو. چي

[1] ـ سنن ابن ماجه/الزهد ٣٩ (٤٣٣٤) (تحفة الأشراف: ٧٥٤)

اي دَ الله تعالى رسوله دا څنګه کلمات دی چي ته ئي وائ. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل. چي زما دَپاره يو علامت مقرر کړي شوي دي. چي کله خه هغه اووينم نو دا الفاظ دي اووايم. او هغه دي. ﴿اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ﴾

مسند احمد مسلم. ابن جرير. ابن المنذر. ابن مردويه) او دارنګ نبی صلى الله عليه وسلم به په په رکوع او په سجده کي سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ. اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي ونيل (بخاری. مسلم. ابوداؤد. نسائی. ابن ماجه. ابن جرير)

أم سلمه فرمائيلي دي: چي ما دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم دَ ژبي مبارکي نه په آخری زمانه کي هر وخت دا الفاظ اوريدل. سبحان الله وَبِحَمْدِهٖ. يوه ورځ ما تپوس اوکړو. چي يا رسول الله صلى الله عليه وسلم ته په کثرت سره دا ذکر کوئ. نو نبی صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چي ماته حکم کړي شوي دي. بيا ئي دا سورة اولوستلو (ابن جرير) دَ عبدالله بن مسعود رضى الله عنه روايت دي. چي کله دا سورة نازل شو. نو نبی صلى الله عليه وسلم په کثرت سره دا ذکر کوو. سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي. اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ الْغَفُوْرُ (ابن جرير. مسند احمد. ابن ابي حاتم)

٣٣٦٢ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: كَانَ عُمَرُ يَسْأَلُنِي مَعَ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ: أَتَسْأَلُهُ وَلَنَا بَنُونَ مِثْلُهُ؟ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: "إِنَّهُ مِنْ حَيْثُ تَعْلَمُ. فَسَأَلَهُ عَنْ هَذِهِ الآيَةِ: إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ (النصر :١)، فَقُلْتُ: إِنَّمَا هُوَ أَجَلُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْلَمَهُ إِيَّاهُ وَقَرَأَ السورة إِلَى آخِرِهَا، فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: وَاللَّهِ مَا أَعْلَمُ مِنْهَا إِلاَّ مَا تَعْلَمُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ، إِلاَّ أَنَّهُ قَالَ: فَقَالَ لَهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ: أَتَسْأَلُهُ وَلَنَا أَبْنَاءٌ مِثْلُهُ. هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرماني چي عمر رضي الله عنه دصحابه کرامو په موجودګئ کي زما نه دمسائلو تپوس کولو يو خل ورته عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه اووئيل ته ددوئ نه ولي تپوسونه کوي او حال دادي چي زمونږ هم ددوئ پشان بچي دي؟ عمر رضي الله عنه ورته اووئيل ددوئ چي کوم مقام او مرتبه ده هغه خو تاته معلومه ده او بيا ورته

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المناقب ٢٥ (٣٦٢٧)، والمغازي ٥١ (٤٢٩٤)، و ٨٣ (٤٤٣٠) وتفسير سورة النصر ١ (٤٩٦٩، ٤٩٧٠)، والرقاق ٥٣ (٦٥٨٧). (تحفة الأشراف: ٥٤٥٦)

هغوئ ددي ايت كريمه إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ په باره كي تپوس اوكړو ابن عباس وائي ما اوونيل په دي كي درسول الله صلي الله عليه وسلم دوفات خبر وركړي شوي دي الله تعالي تانه خبر دركړي دي او بيا يي دا سورة دشروع نه تر اخره پوري اولوستلو عمر رضي الله عنه اوونيل په الله قسم ددي سورة نه ما هم دا معلومه كړي وه كومه چي ورنه تا معلومه كړي وه.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي مونږ ته محمد بن بشار روايت بيان كړي دي او هغه ته محمد بن جعفر بيان كړي دي او هغه ته شعبه بيان كړي دي او شعبه دا روايت په همدي سند هم دي مضمون سره دابو بشر نه نقل كړي دي مگر فرق صرف دومره دي چي دده په روايت كي داسي دي عبدالرحمن بن عوف اوونيل "اتسئله ولنا ابناء مثله".

تشريح: علامه الوسی د ما تريدی نه نقل کړيدی. چي اذا په معنی دَ اِذ دي نو جآءَ په خپله معنی دي. يعنی ,,کله چي راغي،، او قرطبی يو قول نقل کړيدي چي اذا په معنی دَ قَد سره دي يعنی. بيشکه راغي مدد دَ الله تعالی. نَصرُالله. د دي نه مراد اسباب تيارول دی دَ جهاد. اوالفتحُ. په دشمن باندي غلبه ده. دَ مفسرينو يو قول دا دي چي دَ دي نه مراد فتح مکه ده. او دا سورة خو دَ فتح مکه نه روستو نازل شويدي. لکه دَ ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دي په صحيح مسلم کتاب التفسير کي. نو جواب دا دي چي بنا په دي باندي. اذا په معنی دَ اذ يا قَد سره دي. او جَاءَ په خپله معنی دي يعنی يقينا راغلي دی دَ الله تعالی مدد او فتح. او صحيح قول دا دي چي مراد دَ فتح نه ټول فتوحات دی. نو اذا په خپله معنی دي او جاء په معنی دَ مستقبل دي.

****

۹۱ـ باب وَمِنْ سُورَةِ تَبَّتْ يَدَا

دسورة لهب دبعضي ايتونو تفسير

بخاري او مسلم په صحيحينو كي ذكر كړي دي چي كله ايت كريمه "وانذر عشيرتك الاقربين" نازل شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم خپل اقارب راجمع كړل او دوئ يي دالله دعذاب نه وويرول ، دبخاري په روايت كي راغلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دصفا غر ته وختلو او اواز يي وكړو نو قريش ورته راجمع شول رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل ، اوگورئ كچري زه درته اووايم چي دشمن درباندي سحر يا مابنام حمله كونكي دي نو ايا تاسو به ما رښتوني وگنړئ؟ خلقو ووئيل ولي نه نو وئي وئيل زه تاسولره

دشدید عذاب دراتلو نه مخکې ویروم ابوجهل وونیل هلاک شې ایا صرف ددې خبرې دپاره دې مونږ راجمع کړي یو؟

اوددې وینا کولو سره ابولهب یوکانړې دویشتلو دپاره را اوچت کړو نو په دې باره کې سورة لهب نازل شو.

۳۳٦۳_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، وَأَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: صَعِدَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ عَلَى الصَّفَا فَنَادَى: "يَا صَبَاحَاهُ". فَاجْتَمَعَتْ إِلَيْهِ قُرَيْشٌ، فَقَالَ: "إِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ، أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنِّي أَخْبَرْتُكُمْ أَنَّ الْعَدُوَّ مُمَسِّيكُمْ، أَوْ مُصَبِّحُكُمْ، أَكُنْتُمْ تُصَدِّقُونِي؟" فَقَالَ أَبُو لَهَبٍ: أَلِهَذَا جَمَعْتَنَا تَبًّا لَكَ فَأَنْزَلَ اللَّهُ: تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم یوه ورځ دصفا غر ته اوختلو او اواز یې اوکړو "یاصباحاه" نو یو دم ورته قریش راجمع شول رسول الله ورته اوونیل زه تاسو ته ویره درکونکې یم او زما په مخامخ به سخت عذاب راځي ستاسو څه خیال دې کچرې زه تاسوته خبر درکړم چې دشمن به تاسو باندې دمابنام وخت کې راختونکې وي او یا دسحر وخت کې راختونکې وي نو ایا تاسو به زما تصدیق اوکړئ دې وخت کې ابولهب اوونیل ایا ددې دپاره دې مونږ راجمع کړي یو ته دې هلاک شې پس په دې موقعه الله تعالى "تبت يدا ابي لهب وتب" نازل کړو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشریح: تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ هلاك شول. ادواړه لاسونه دابي لهب

تباب داسې تاوان ته ونیلې شي کوم چې دهلاکت موجب وي. د یدین نه مراد ذات دې لکه په ایت کریمه ولاتلقوا بایدیکم الی التهلکة کې چې د ایدي نه مراد ذات دي ، دبعضې علماؤ قول دې چې دلته یې په خصوصیت سره دواړه لاسونه ځکه ذکر کړي دي چې ابولهب په لاسونو دویشتلو دپاره کانړې را پورته کړې وو دبعضې علماؤ قول دې چې ددواړو لاسونو نه مراد دنیا او اخرت دې یا ورنه مراد مال او ملکیت دي لکه چې قلیلٌ ذات ید کم مال والاته ونیلې شي

[1] - اورده البخاري في الجامع الصحيح/الجنائز ٩٨ (١٣٩٤)، والمناقب ١٣ (٣٥٢٥)، وتفسير الشعراء ٢ (٤٧٧٠)، وتفسير سبأ ٢ (٤٨٠١)، وتفسير تبت يدا أبي لهب ١ (٤٩٧١)، و٢ (٤٩٧٢)، و٣ (٤٩٧٣)، وصحيح مسلم/الإيمان ٨٩ (٢٠٨) (تحفة الأشراف: ٥٥٩٤)

دابو لهب نوم عبد العزي بن عبد المطلب وو، دمقاتل قول دي چي دحسن اود مخ دچمك په وجه ورباندي ابو لهب نوم كيخودلي شو ، ليكن دلته يي دده اسم كنيه ځكه ذكر كړه چي دنوم ذكر كول يي قبيح وو او دده ددوزخي كيدو په وجه يي داسم كينه لغوي معني ددي حال سره مناسب وه ،ګويا كي دابولهب لغوي معني دوزخي ده، ددينه علاوه د ابو لهب دذات لهب سره هم مناسبت شته ،او عبد العزي نوم ذكر كول دلته بي مناسبته ښكاريدل،

****

٩٢_باب وَمِنْ سُورَةِ الإِخْلاَصِ

دسورة اخلاص دبعضي ايتونو تفسير

په اول ايت كي دَ ذات او دَ خالقيت توحيد دي. په مسند احمد او حاكم كي ابى بن كعب رضى الله عنه فرمائيلي دى اِنَّ الْمُشْرِكِيْنَ قَالُوْا مُحَمَّدُ اِنْسِبْ لَنَا رَبَّكَ. فَاَنْزَلَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ. قُلْ هُوَ اللهُ الاَحَدٌ. يعنى مشركانو دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم نه تپوس اوكړو چي مونږ ته د خپل رب نسب بيان كړه. نو الله تعالى دا سورت نازل كړو. قُلْ. دا دليل دي چي دَ دي سورت بيانول په نبى صلى الله عليه وسلم باندي فرض وُو. او دا رنګ دَ ټول امت په علماؤ باندي هم فرض دى. او ابن قيم وئيلي دى. چي دا دَ الله تعالى دَ طرف نه اخبار دي يعنى الله تعالى فرمائى: چي زما توحيد په دي طريقه سره بيان كړه. هُوَ. اكثرو مفسرينو ذكر كړيدى. چي دا ضمير شان دي. دا مخكي مرجع نهٔ غواړى. مرجع ئي روستو ذكر وى ليكن دَ روستو مضمون دَ لويْ والى دَ وجي نه ذكر كيږى. او بله فائده په كي دا ده. چي اول مبهم ذكر شى. نو مخاطب دَ هغي دَ تفصيل په انتظار كي شى. او بل قول دا دي چي هر كله دا سورت دَ مشركانو دَ سوال په جواب كي نازل شويدي. نو بنا په دي قول باندي هُوَ مبتداء ده. الله. اول خبر دي او احدٌ دويم خبر دي. او اللهُ دا دَ ذات دَپاره عَلَمْ دي او دَ دي نه علاوه دَ الله تعالى نور صفتى نومونه هم شته دي.

بغوي دابو الظبيان او ابو صالح په اسناد سره دابن عباس رضي الله عنهما قول نقل كړي دي چي عامر بن طفيل او اربد بن ربيعه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راغلل عامر اووئيل اي محمد (صلي الله عليه وسلم) ته مونږ لره چاته رابلي ؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله تعالي ته نو عامر اووئيل مونږ ته دخپل رب حالت بيان كړه چي دسرو زرو نه جوړ دي او كه دسپينو زرو نه او كه دلرګي نه جوړ دي په دي باره كي دا سورة نازل شو او په اربد تندر راپريوتو او په دي شان سره مړ شو او په عامر طاعون مرض راغي او دهغي په وجه مړ شو.

٣٣٦٤_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو سَعْدٍ هُوَ الصَّغَانِيُّ، عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ الرَّازِيِّ، عَنِ الرَّبِيعِ

بنِ أَنَسٍ، عَنْ أَبِي العَالِيَةِ، عَنْ أُبَيِّ بنِ كَعْبٍ، أَنَّ المُشْرِكِينَ قَالُوا لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: انْسُبْ لَنَا رَبَّكَ، فَأَنْزَلَ اللهُ: قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ ١ اللهُ الصَّمَدُ ٢ (الإخلاص :٢،١) فَالصَّمَدُ: الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ لأَنَّهُ لَيْسَ شَيْءٌ يُولَدُ إِلَّا سَيَمُوتُ، وَلَيْسَ شَيْءٌ يَمُوتُ إِلَّا سَيُورَثُ، وَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَا يَمُوتُ وَلَا يُورَثُ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ (الإخلاص :٤)، قَالَ: لَمْ يَكُنْ لَهُ شَبِيهٌ وَلَا عِدْلٌ وَلَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ. (1)

ترجمه : دابيّ بن كعب رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي مشركينو رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اووئيل ته دخپل رب نسب مونږ ته بيان كړه نو په دي باره كي الله تعالي "قل هوالله احد الله الصمد" نازل كړو، صمد هغه چاته وئيلي شي چي نه دچا نه پيدا وي او نه دهغه نه څوك پيدا وي او په همدي وجه اصول دا وي هر يو څيز چي پيدا كيږي په هغه به مرګ ضرور راځي او په كوم څيز چي مرګ راځي دهغه به څوك وارث وي او دالله تعالي ذات داسي دي چي نه ورباندي مرګ راځي او نه يي څوك وارث شته او "ولم يكن له كفوا احد" او نه دهغه څوك كفو (مثل) شته، راوي وائي دكفو معني مشابه او برابر ده يعني دالله تعالي سره نه څوك مشابه او برابر شته او نه دهغه پشان څوك شته.

****

٣٣٦٥ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ الرَّازِيِّ، عَنِ الرَّبِيعِ، عَنْ أَبِي العَالِيَةِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرَ آلِهَتَهُمْ، فَقَالُوا: انْسُبْ لَنَا رَبَّكَ، قَالَ: فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ بِهَذِهِ السُّورَةِ قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ، فَذَكَرَ نَحْوَهُ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ أَبِي سَعْدٍ، وَأَبُو سَعْدٍ اسْمُهُ مُحَمَّدُ بْنُ مُيَسَّرٍ، وَأَبُو جَعْفَرٍ الرَّازِيُّ اسْمُهُ عِيسَى، وَأَبُو العَالِيَةِ اسْمُهُ رُفَيْعٌ وَكَانَ عَبْدًا أَعْتَقَتْهُ امْرَأَةٌ صَابِئَةٌ. (2)

ترجمه : دابوالعاليه (رفيع بن مهران) نه روايت دي فرمائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دمشركينو دمعبودانو ذكر اوكړو نو هغوئ اووئيل ته مونږ ته دخپل رب نسب بيان كړه رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اووئيل جبرائيل عليه السلام ماته دا سورة راوړي دي "قل هوالله احد" سورة تر اخره پوري او بيا يي ددي پشان حديث بيان كړو مګر ددي په سند كي دابيّ بن كعب ذكر نشته.

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٦)

2 ـ تفرد به المؤلف، وانظر ماقبله

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث دابوسعد دحديث نه زيات صحيح دي او دابوسعد نوم محمد بن ميسر دي او دابوجعفر رازي نوم عيسي دي او دابوالعاليه نوم رفيع دي رفيع يو غلام وو چي يوي قيدي ښځي ازاد کړي وو.

****

۹۳_باب وَمِنْ سُورَةِ الْمُعَوِّذَتَيْنِ

دسورة المعوذتين دبعضي ايتونو تفسير

دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم سخت بيمار شو او په خوب كي ورته دوه فرشتي راغلي چي يوه يي سر ته اودريده او دويمه يي خپو ته دخپو والا سر والاته اووئيل په ده باندي څه شوي دي؟ سر والا اووئيل بيمار دي خپو والا اووئيل څه بيماري يي ده، سر والا اووئيل جادو ورباندي شوي دي. خپو والا اووئيل چا ورباندي كړي دي. سر والا اووئيل لبيد بن اعصم يهودي ، خپو والا ووئيل چرته يي كړي دي. او چي كوم جادو يي كړي دي هغه چرته دي، سر والا فرشتي اووئيل په يوه تسمه كي شوي دي كوم چي په كوهي كي يي دكاڼړي لاندي ايخودلي شوي دي كوهي ته ورشه او تولي اوبه راوباسه او كاڼړي به راپورته كړي او دكجوري پټ ورنه لري كړي او اوبه يي سوزوي كله چي سحر شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم عمار بن ياسر ديوڅو كسانو سره اوليږل دوئ چي كوهي ته ورغلل نو ويي ليدل چي دكوهي اوبه دنكريزو درنګ پشان سري شوي دي نو دوئ كاڼړي اوچت كړو او دكجورو پټ يي راوويستلو او ويي سوزولو په دي كي يو تار اومونذلي شو چي يولس غوټي وركړي شوي وي نو په دي باره كي دا دواړه سورتونه قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس نازل شو رسول الله صلي الله عليه وسلم چي به هر يو ايت لوستلو نو يوه غوټه به پرانيستلي كيدله «رواه البيهقي في دلائل النبوة».

ابو نعيم په دلائل كي دابو جعفر رازي په واسطه دانس رضي الله عنه قول بيان كړي دي چي يهوديانو په رسول الله صلي الله عليه وسلم څه كړي وو دكوم په وجه چي ورته سخت تكليف رسيدلي وو صحابه كرام چي يي عيادت ته ورغلل نو دا ګمان يي اوكړو چي رسول الله صلي الله عليه وسلم بيمارشوي دي ليكن جبرائيل پدغه وخت كي معوذتين نازل كړل او خان يي ورباندي دم كړو او تندرست شو او بيا صحابه كرامو ته تشريف فرما شو په صحيحينو كي ددي تائيدي شاهد د سورة دنزول نه علاوه هم موجود دي «يعني په دعا سره تعوذ جائز دي».

بغوي دعائشه او ابن عباس رضي الله عنهما قول نقل كړي دي چي يو يهودي هلك به درسول الله صلي الله عليه وسلم خدمت كولو يهوديانو ورته خفيه سفارش اوكړو او د خان سره يي په

خبره کي شامل کړو او دده په ذريعه يې د رسول الله صلي الله عليه وسلم ويښته او دګمنز يو څو غاښونه حاصل کړل او بيايي ورباندي جادو اوکړو . ددي کار ذمه وار لبيد بن اعصم يهودي وو نو په دي باره کي دا دواړه سورتونه نازل شوي دي
بغوي پخپل سند سره دعائشه رضي الله عنها قول نقل کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم بيمار شو او مخالفينو يې دا ګمان اوکړو چي پس مونږ دده کار تمام کړو ليکن رسول الله صلي الله عليه وسلم دالله تعالي نه دعا غوښتل شروع کړل او بيايي اوفرمائيل ما چي دالله تعالي نه څه غوښتلي وو هغه يې راته اوخودل ما عرض اوکړو اي دالله رسوله هغه څه خبره ده؟ وېي فرمائيل په خوب کي زاته دوه کسان راغلي وو چي يو مي سر ته ولاړ وو او بل خپو ته يو بل ته اوونيل ده ته څه تکليف دي دويم اوونيل سحر ورباندي شوي دي اول تپوس اوکړو چا ورباندي کړي دي دويم اووئيل لبيد بن اعصم اولني اوونيل په څه شي يې کړي دي دويم اوونيل په ګمنز او په ويښتو او دکجورو په پټ اول اوونيل دا څيزونه چرته دي دويم ورته اوونيل دبني زريق په زروان کوهي کي.
بيهقي په دلائل کي او ابن مردويه ددي روايت نسبت عائشه رضي الله عنها ته کړي دي چي يو يهودي په رسول الله صلي الله عليه وسلم جادو کړي وو چي په يو تار کي يې غوټي اچولي وي او تار يې په کوهي کي دکاڼړي لاندي پټ ايخودلي وو رسول الله صلي الله عليه وسلم چي بيمار شو نو معوذتين نازل شو او جبرائيل ورته دسحر خاي اوخودو رسول الله صلي الله عليه وسلم علي رضي الله عنه اوليږلو نو هغه دا تار راوړو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورباندي دا دواره سورتونه اولوستل څنګه چي به يې يو يو ايت لوستلو نو يوه يوه غوټه به پرانيستلي کيدله او مرض به يې رفته رفته سپکيدو.
په يو روايت کي راغلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په دي مرض کي دشپږو مياشتو پوري مبتلا وو او دري شپي خو ورته ډير سخت تکليف وو تردي چي معوذتين نازل شو.
مسلم دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت بيان کړي دي چي جبرائيل عليه السلام راغي او وېي ونيل اي محمد (صلي الله عليه وسلم) ايا بيمار يې؟ وېي فرمائيل هو، نو جبرائيل عليه السلام اوونيل دا کلمات وايه ": «بِاسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ. مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ. مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْ عَيْنٍ حَاسِدٍ. اللهُ يَشْفِيكَ بِاسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ»".

٣٣٦٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَمْرٍو الْعَقَدِيُّ، عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، عَنِ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ، فَقَالَ: "يَا عَائِشَةُ اسْتَعِيذِي بِاللَّهِ مِنْ شَرِّ هَذَا، فَإِنَّ هَذَا هُوَ الْغَاسِقُ إِذَا وَقَبَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا

حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم سپوږمۍ ته اوكتل او ويي فرمائيل اي عائشي ددي دشر نه په الله پناه اوغواړه خكه چي دا غاسق دي چي كله دا ډوبه شي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ۞ اودشر دتياري والاته شپي نه كله چي تياري را اوغورږي. ايعني كله چي بي نوره شي اوغائب شي خكه چي دسپوږمۍ په نور كميدل ددي دپوره كيدو نه پس راخي.

دغاسق لغوي معني ډكيدل دي ، الله تعالي فرمائيلي دي: "الي غسق الليل" كله چي دشپي توره تياره شي ، غسق العين يعني ستركه د اوبنكو نه ډكه شوه، غسق القمر ، يعني سپوږمۍ پوره شوه.

په قاموس كي دي چي غاسق په هغه وخت كي نمر اوسپوږمۍ ته ونيلي شي كله چي يي شفق غائب شي، غسوق او اغساق معني تورتم كيدل، دبعضي علماؤ قول دي چي د غاسق معني بهيدل دي او همدارنكي غسق القمر دسپوږمۍ درفتارسرعت ته هم ونيلي شي . دبعضي علماؤ قول دي چي د غاسق معني يخيدل دي اوورخ هم په شپي باندي يخيږي نو په همدي وجه شپي او سپوږمۍ ته غاسق ونيلي شي چي سپوږمۍ دنمر نه يخه وي اوپه همدي بناء سپوږمۍ ته زمهرير هم ونيلي شي.

دلته دغاسق نه مراد سپوږمۍ ده ، دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زما لاس ونيولو اوسپوږمۍ ته يي وكتل او وئي فرمائيل اي عائشي دخپل خان دپاره دهغه غاسق شرنه پناه اوغواړه كله چي دا ډوبيږي.(رواه البغوي بسنده).

دابن عباس رضي الله عنهما اوحسن بصري اومجاهد قول دي ددي مطلب دادي كله چي دا راروانه وي اوددي تياره دورخي په رنړا كي ننوخي ، دابن زيد په قول ددي نه مراد لاندي راپريوتونكي ستوري دي ، خلقو به ونيل چي دثريا په پريوتو سره بيماريانې اوبلاگاني زياتيږي اودثريا په راختو سره دوئ ختميږي.

****

٣٣٦٧_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ. عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ. حَدَّثَنِي قَيْسٌ

1 _ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٣٠٢ (٣٠٢) (تحفة الأشراف: ١٧٧٠٣) ، ومسند احمد (٦/٢١٥)

وَهُوَ ابْنُ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " قَدْ أَنْزَلَ اللَّهُ عَلَيَّ آيَاتٍ لَمْ يُرَ مِثْلُهُنَّ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ (الناس: ١) إِلَى آخِرِ السُّورَةِ و قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ سورة الفلق: ١) إِلَى آخِرِ السُّورَةِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه: عقبه بن عامر رضي الله عنه راوي دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله تعالي په ما داسي ايتونه نازل کړي دي چي دهغی پشان به تاسو بالکل نه وي ليدلي يعني معوذتين ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الفَلَقِ﴾ او﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾)).

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

لغات: لم ير: يري په اصل يرأي وو او ددي استعمال نادر کيږي اومضارع صيغه دګمان په معني مجهوله اوريدلي شوي ده.

تشريح: الم تران الله انزل علي ايات: ايا تاته معلومه نه ده چي څه اياتونه په دي شپه کي نازل شوي دي.

لم ير کلمه دتعجب دپاره ده مطلب دادی ايا تانه دي ليدلي يا معلومه شوي درته نه ده.

مثلهن: ددي پشان مطلب دادی چي ددي دوه سورتونو پشان بل سورة نشته چي په تمام صورت کي صرف دپناه طلب کولو ذکر وي او په همدي وجه دي سورتونو ته معوذتين وئيلی شي يعني پناه ورکونکي يعني ددي په ذريعه پناه طلب کولی شي.

دعقبه بن عامر رضي الله عنه حالات

نوم عقبه کنيه ابوعمرو دپلار نوم عامر رسول الله صلي الله عليه وسلم چي کله مديني ته راغی نو عقبه په اسلام مشرف شو علامه ذهبي ليکلي دي چي عقبه فقيه او دکتاب الله قاري وو او دفرائضو ماهر او فصيح اللسان شاعر وو (تذکرة الحفاظ).

دقران کريم سره يي خصوصي مينه وه يوه نسخه دقران کريم يي پخپل لاس مبارك هم ليکلي وه (تهذيب التهذيب).

دنبي کريم صلي الله عليه وسلم ښه خدمت يي کړی دی په سفر کي به درسول الله سورلۍ راښکل دده په خدمت کي وو لکه چي په روايتونو کي راځي کان صاحب بغلة رسول الله صلي الله عليه وسلم الشهباء.

دده دوفات دتاريخ باره کي مختلف اقوال مروي دي صحيح قول دادی چي په ۵۸هجري کي وفات شوی دی، او دده دمروياتو شمير ۵۵ دی چي يو په دي کي متفق عليه دی او يو په

[1] - انظر حديث رقم ٢٩٠٢

بخاري كې دی او اوه په مسلم كې دي (تهذيب الكمال).
داكابرو صحابه كرامو نه نقل دروايت كوي تردي چي صرف ديو حديث اوريدو دپاره مصر ته دابوايوب انصاري سره دملاويدو دپاره تلى وو خو چي هغه يي واوريدو نو فورا واپس لاړو

****

٣٣٦٨ـحَدَّثَنَا حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا صَفْوَانُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا الحَارِثُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي ذُبَابٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ المَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَمَّا خَلَقَ اللَّهُ آدَمَ وَنَفَخَ فِيهِ الرُّوحَ عَطَسَ، فَقَالَ: الحَمْدُ لِلَّهِ، فَحَمِدَ اللَّهَ بِإِذْنِهِ، فَقَالَ لَهُ رَبُّهُ: يَرْحَمُكَ اللَّهُ يَا آدَمُ اذْهَبْ إِلَى أُولَئِكَ المَلَائِكَةِ إِلَى مَلَإٍ مِنْهُمْ جُلُوسٍ، فَقُلْ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ، قَالُوا: وَعَلَيْكَ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى رَبِّهِ، فَقَالَ: إِنَّ هَذِهِ تَحِيَّتُكَ وَتَحِيَّةُ بَنِيكَ بَيْنَهُمْ، فَقَالَ اللَّهُ لَهُ وَيَدَاهُ مَقْبُوضَتَانِ: اخْتَرْ أَيَّهُمَا شِئْتَ، قَالَ: اخْتَرْتُ يَمِينَ رَبِّي، وَكِلْتَا يَدَيْ رَبِّي يَمِينٌ مُبَارَكَةٌ، ثُمَّ بَسَطَهَا، فَإِذَا فِيهَا آدَمُ وَذُرِّيَّتُهُ، فَقَالَ: أَيْ رَبِّ، مَا هَؤُلَاءِ؟ فَقَالَ: هَؤُلَاءِ ذُرِّيَّتُكَ فَإِذَا كُلُّ إِنْسَانٍ مَكْتُوبٌ عُمْرُهُ بَيْنَ عَيْنَيْهِ، فَإِذَا فِيهِمْ رَجُلٌ أَضْوَؤُهُمْ أَوْ مِنْ أَضْوَئِهِمْ، قَالَ: يَا رَبِّ، مَنْ هَذَا؟ قَالَ: هَذَا ابْنُكَ دَاوُدُ قَدْ كَتَبْتُ لَهُ عُمْرَ أَرْبَعِينَ سَنَةً، قَالَ: يَا رَبِّ زِدْهُ فِي عُمْرِهِ، قَالَ: ذَاكَ الَّذِي كَتَبْتُ لَهُ، قَالَ: أَيْ رَبِّ، فَإِنِّي قَدْ جَعَلْتُ لَهُ مِنْ عُمْرِي سِتِّينَ سَنَةً، قَالَ: أَنْتَ وَذَاكَ، قَالَ: ثُمَّ أُسْكِنَ الجَنَّةَ مَا شَاءَ اللَّهُ، ثُمَّ أُهْبِطَ مِنْهَا فَكَانَ آدَمُ يَعُدُّ لِنَفْسِهِ، قَالَ: فَأَتَاهُ مَلَكُ المَوْتِ، فَقَالَ لَهُ آدَمُ: قَدْ عَجَّلْتَ قَدْ كُتِبَ لِي أَلْفُ سَنَةٍ، قَالَ: بَلَى، وَلَكِنَّكَ جَعَلْتَ لِابْنِكَ دَاوُدَ سِتِّينَ سَنَةً، فَجَحَدَ فَجَحَدَتْ ذُرِّيَّتُهُ، وَنَسِيَ فَنَسِيَتْ ذُرِّيَّتُهُ، قَالَ: فَمِنْ يَوْمِئِذٍ أُمِرَ بِالكِتَابِ وَالشُّهُودِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِنْ رِوَ: زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ([1])

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي الله تعالي ادم عليه السلام پيدا كړو او روح يې پكې اوپوكلو نو ادم عليه السلام ته پرنجي راغلو نو "الحمدلله" يي ونيل اوغوښتل چنانچي دالله په اجازت يي الحمدلله اوونيل بيا ورته الله تعالي اوفرمائيل الله دي په تا رحم اوكړي اي ادم دناستو فرشتو جماعت ته ورشه او هغوی

[1] ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٨٣ (٢١٨) (تحفة الأشراف: ١٢٩٥٥)

ته اووایه السلام علیکم ادم علیه السلام ورغلو او السلام علیکم یي اوونیل فرشتو په جواب کي اوونیل وعلیك السلام ورحمة الله بیا ادم علیه السلام رب العالمین ته واپس راغلو الله تعالي ورته اوفرمائیل دا ستا او ستا داولاد پخپل مینځ کي دسلام طریقه او دعا ده بیا الله تعالي دخپلو دواړو لاسونو موټي بند کړل او ادم علیه السلام ته یي اوونیل په دوئ کي چي دي کوم خوښ وي هغه منتخب کړه ادم علیه السلام واني ما دالله تعالي ښي لاس خوښ کړو او حقیقت دادي چي زما درب دواړه لاسونه ښئ دي او برکت والا دي بیاالله تعالي لاس پرانیستلو نوپه دي کي ادم او دهغه ذریت وو ادم علیه السلام تپوس اوکړو اي زما پروردګاره دا څوك دي؟ الله تعالي اوفرمائیل دا ټول ستا اولاد دي او دهر یو عمر به دهغه دسترګو په مینځ کي لیکلي شوي وي په دوئ کي یو کس زیات ړقیدونکي تندي او مخ والا وو ادم علیه السلام تپوس اوکړو اي زما پروردګاره دا کس څوك دي الله تعالي ورته اوفرمائیل دا ستا خوي داود دي او ما دده عمر څلویښت کاله لیکلي دي ادم علیه السلام اوونیل اي زما پروردګاره دده عمر زیات کړي الله تعالي اوفرمائیل دده دپاره دا عمر لیکلي شوي دي ادم علیه السلام عرض اوکړو اي زما پروردګاره زه دخپل عمر نه شپیته کاله ده ته ورکوم الله تعالي اوفرمائیل ته او دي پوهه شئ تردي چي ادم علیه السلام په جنت کي اوسیدو څه وخته پوري چي الله تعالي ته منظور وه بیا ادم علیه السلام دجنت نه راوویستلي شو او دخپلي زندګئ ورځي یي شمیرلي ملك الموت چي ورته راغي ادم علیه السلام ورته اوونیل ته خو ډیر مخکي راغلي زما عمر خو زر کاله لیکلي شوي دي ملك الموت ورته اوونیل هو خبره خو دي ټهیك ده مګر تا دخپلي زندګئ شپیته کاله عمر خپل خوي داود ته ورکړي وو نو ادم علیه السلام انکار اوکړو او د ادم علیه السلام ددغه انکار نتیجه او اثر دادي چي دده اولاد هم اوس انکار کوي دادم علیه السلام نه هیریدل اوشول او دده اولاد هم اوس هیرول کوي او په همدي ورځ حکم اوکړي شو چي تولي خبري به لیکئ او ګواه وربانديـ قائموئ

امام ترمذي رحمه الله وایي داحدیث په دي سند حسن غریب دي. دا حدیث په یو څو نورو سندونو هم دابوهریره په واسطه دنبي کریم صلي الله علیه وسلم نه مروي دي او دابوهریره دا حدیث زید بن اسلم په سند دابوصالح عن ابي هریره عن النبي صلي الله علیه وسلم ته نقل کړي دي.

****

٩٤ـ بَاب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق یو بل باب

٣٣٦٩ـ حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ. حَدَّثَنَا الْعَوَّامُ بْنُ حَوْشَبٍ.

عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَمَّا خَلَقَ اللهُ الأَرْضَ جَعَلَتْ تَمِيدُ، فَخَلَقَ الجِبَالَ، فَعَادَ بِهَا عَلَيْهَا فَاسْتَقَرَّتْ، فَعَجِبَتِ المَلَائِكَةُ مِنْ شِدَّةِ الجِبَالِ، قَالُوا: يَا رَبِّ هَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الجِبَالِ؟ قَالَ: نَعَمِ، الحَدِيدُ، قَالُوا: يَا رَبِّ فَهَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الحَدِيدِ؟ قَالَ: نَعَمِ، النَّارُ، فَقَالُوا: يَا رَبِّ فَهَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ النَّارِ؟ قَالَ: نَعَمِ، المَاءُ، قَالُوا: يَا رَبِّ فَهَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ المَاءِ؟ قَالَ: نَعَمِ، الرِّيحُ، قَالُوا: يَا رَبِّ فَهَلْ مِنْ خَلْقِكَ شَيْءٌ أَشَدُّ مِنَ الرِّيحِ؟ قَالَ: نَعَمِ، ابْنُ آدَمَ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ بِيَمِينِهِ يُخْفِيهَا مِنْ شِمَالِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ هَذَا الوَجْهِ.[1]

ترجمه . دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي كله چي الله تعالي زمكه پيدا كړه نو دا به خوزيدله چنانچي الله تعالي په دي باندي غرونه جوړكړل او غرونو ته يي اوونيل دا زمكه كلكه اونيسی نو زمكه اودريدله (اوخوزيدل يي بند شول فرشتو چي دغرونو سخت والي او مضبوتيا اوليده نو حيراني شوي او هغوئ اوونيل اي زمونږه ربه ايا ستا په مخلو كي دغر نه هم كلك څيز شته؟ الله تعالي اوفرمانيل هو. هغه اوسپنه ده هغوئ اوونيل اي زمونږ پروردګاره ايا ستا په مخلوق كي د اوسپني نه هم كوم طاقتور څيز شته؟ الله تعالي اوفرمانيل هو هغه اور دي فرشتو اوونيل اي زمونږ پروردګاره ايا ستا په مخلوق كي داور نه هم زيات طاقتور څيز شته؟ الله تعالي اوفرمانيل هو هغه هوا ده فرشتو عرض اوكړو اي زمونږ پرودګاره ايا ستا په مخلق كي دهوا نه هم زيات طاقتور څيز شته الله تعالي اوفرمانيل هو هغه بني ادم دي كوم چي پخپل ښي لاس داسي صدقه وركوي چي ګس لاس يي هم ورباندي نه خبريږي

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث غريب دي او مونږ يي صرف په همدي سند مرفوع پيژنو.

****

[1] ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٤١)

كتاب الدعوات

(عن رسول الله صلى الله عليه وسلم)

د دعاګانو او اذکارو متعلق رسول الله صلي الله عليه وسلم احاديث

١_باب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الدُّعَاءِ

د دعا دفضيلت بيان

٣٣٧٠_حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْعَظِيمِ الْعَنْبَرِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا عِمْرَانُ الْقَطَّانُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي الْحَسَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَيْسَ شَيْءٌ أَكْرَمَ عَلَى اللَّهِ تَعَالَى مِنَ الدُّعَاءِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عِمْرَانَ الْقَطَّانِ، وَعِمْرَانُ الْقَطَّانُ هُوَ ابْنُ دَاوَرَ وَيُكْنَى أَبَا الْعَوَّامِ.

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ عِمْرَانَ الْقَطَّانِ، بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ. ([1])

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي دالله تعالي په نزد دد دعا نه زيات كوم معزز او مكرم څيز نشته.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي او مونږ يي صرف دعمران قطان په روايت مرفوع پيژنو او عمران قطان ابن داور دي او دده كنيت ابوالعوام دي

****

٣٣٧١_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنِ ابْنِ لَهِيعَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي جَعْفَرٍ، عَنْ أَبَانَ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ ابْنِ لَهِيعَةَ. ([2])

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/الدعاء ١ (٣٨٢٩) (تحفة الأشراف: ١٢٩٣٨)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦٥)

ترجمه. دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دعا معز دعبادت دي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند غريب دي او مونږ ته صرف دابن لهيعه په سند معلوم دي

****

٣٣٧٢_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ ذَرٍّ، عَنْ يُسَيْعٍ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ". ثُمَّ قَرَأَ: وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ (غافر:٦٠) قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ مَنْصُورٌ، وَالأَعْمَشُ، عَنْ ذَرٍّ وَلَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ ذَرٍّ هُوَ ذَرُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْهَمْدَانِيُّ ثِقَةٌ وَالِدُ عُمَرَ بْنِ ذَرٍّ. (1)

ترجمه: نعمان بن بشير رضي الله عنهما نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دعا اصل عبادت دی. او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم دا ايت كريمه تلاوت كړو. وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ. او ويلي دي رب ستاسو بولئ ما زه به قبول والى وكړم تاسي لره بيشكه هغه كسان چي تكبر كوي له عبادته خمانه زردی چي ننوزي په دوئ په دوزخ كي چي ذليله به وي

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دي دارنګي دا حديث منصور او اعمش دزر بن حبيش نه نقل كړي دي او د زر بن حبيش نه علاوه په بل سند مونږ ته معلوم نه دي او د زر نه مراد زر بن عبدالله همداني دي چي ثقه راوي دي او دعمر بن زر پلار دي

لغات: عبادة، معني فرمانبرداري، عبد دنصر نه عبادتا وعبودتا وعبودية عبادت كول او دباب تفعيل وغيره نه هم راځي.

تشريح. په دي حديث كې ددعا غوښتلونه عبادت سره تعبير شوی دی ددي يو څو وجوهات دي.

اول: دعا كول دالله تعالي حكم دی او هريو شی چي دالله حكم وي دهغي پوره كول هم عبادت دی.

دويم: دعبادت حقيقت عجز او انكساري دي او ددعاهم دغه مفهوم دی چي انسان خپل ځان هيڅ نه ګڼري او دالله په وړاندي يي دفقيرانو پشان لاس غوړولي وي او خپل حاجتونه ورنه

[1] _ انظر حديث رقم ٢٩٦٩، و٣٢٤٧

غواړي.
دريم: مبالغتا دعا ته عبادت ونيلى شوي دي لكه چي په يو ايت كريمه كې راځي ان الذين يستكبرون عن عبادتي سيدخلون جهنم داخرين.
ددي حديث نه علماؤ دا مسئله معلومه كړې ده چي هر كله دعا عبادت دى نو دالله نه علاوه خو بل هيڅوك لائق دعبادت نشته نو بيا خو دبزرګانو وغيره نه دعاګاني غوښتل او مرادونه غوښتل جائز نه دي ځكه چي دعا عبادت دى او عبادت صرف دالله تعالي حق دى.

****

٢_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٣٣٧٣_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ لَمْ يَسْأَلِ اللَّهَ يَغْضَبْ عَلَيْهِ".
قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رَوَى وَكِيعٌ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ هَذَا الْحَدِيثَ وَلَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَأَبُو الْمَلِيحِ اسْمُهُ صَبِيحٌ، سَمِعْتُ مُحَمَّدًا يَقُولُهُ: وَقَالَ: يُقَالُ لَهُ الْفَارِسِيُّ. حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ حُمَيْدٍ أَبِي الْمَلِيحِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ. (1)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي دالله تعالي نه سوال نه كوي نو الله تعالي دهغه نه ناراضه كيږي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: وكيع او يو څو نورو راويانو دا حديث دابو المليح نه نقل كړي دي او مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي او دابوالمليح نوم سبيح دي ما دامام بخاري نه اوريدلي دي فرمائيل يي چي ابو المليح ته فارسي هم ونيلي شي.

****

٣_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٣٣٧٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مَرْحُومُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ الْعَطَّارُ، حَدَّثَنَا أَبُو نَعَامَةَ

---

(1) _ تفرد به المؤلف.

السَّعْدِيُّ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزَاةٍ، فَلَمَّا قَفَلْنَا أَشْرَفْنَا عَلَى الْمَدِينَةِ فَكَبَّرَ النَّاسُ تَكْبِيرَةً وَرَفَعُوا بِهَا أَصْوَاتَهُمْ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَصَمَّ وَلَا غَائِبٍ، هُوَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ رُءُوسِ رِحَالِكُمْ ". ثُمَّ قَالَ: " يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ قَيْسٍ، أَلَا أُعَلِّمُكَ كَنْزًا مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَأَبُو عُثْمَانَ النَّهْدِيُّ اسْمُهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مُلٍّ، وَأَبُو نَعَامَةَ السَّعْدِيُّ اسْمُهُ عَمْرُو بْنُ عِيسَى.

حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ حُمَيْدٍ أَبِي الْمَلِيحِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. ([1])

ترجمه: دابوموسي اشعري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي مونږ په يوه غزوه کي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره موجود وو کله چي مونږ واپس راتلو او مدينه مونږ ته په نظر راغله دي وخت کي خلقو دتکبير اواز اوکړو او تکبير يي په تيز اواز سره اووئيل، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ستاسو رب کونړ نه دي او نه هغه غائب دي هغه ستاسو په مينځ کي موجود دي او الله تعالي ستاسو د کجاوو او سورلو په مينځ کي دي (يعني ډير نژدي دي) او بيا رسول الله اوفرمائيل اي عبدالله بن قيس ايا زه درته دجنت په خزانو کي يوه خزانه اونه ښايم؟ او هغه "لاحول ولاقوة الا بالله" کلمات ونيل دي (يعني دا کلمات) دجنت په خزانو کي ديوي خزاني حاصلولو موجبات دي.

امام ترمذي رحمه الله وايي. داحديث حسن دي اود ابو عثمان نهدي نوم عبدالرحمن بن مل دي او د ابو نعامه سعدي نوم عمرو بن عيسي دي.

تشريح: په پورتني روايت کې چي کوم کلمات مذکور دي په دي کې دالله دعظمت ذکر دی او په دي باندي الله تعالي خوشحاليږي دا کلمات په عامو وختونو کي هم داجر اوثواب باعث دي او خاصکر په بيمارئ کې ددي لوستل زيات ضروري دي او که چاته په دي بيمارئ کې مرګ راشي نو دا به دده دپاره دحسن خاتمه ذريعه وي

****

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجهاد ۱۳۱ (۲۹۹۲) . والمغازي ۳۸ (۴۲۰۵) . والدعوات ۵۰ (۶۳۸۴) . ۶۶ (۶۴۰۹) . والقدر ۷ (۶۶۱۰) . والتوحيد ۹ (۷۳۸۶) . صحيح مسلم /الذكر والدعاء ۱۳ (۲۷۰۴) . سنن ابي داود/ الصلاة ۳۶۱ (۱۵۲۶) . سنن ابن ماجه/الأدب ۵۹ (۳۸۲۴) (تحفة الأشراف: ۹۸۷)

٤_باب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الذِّكْرِ
د ذكر الله دفضيلت بيان

٣٣٧٥_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ. حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ. عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ. عَنْ عَمْرِو بْنِ قَيْسٍ. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. أَنَّ رَجُلًا. قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ. إِنَّ شَرَائِعَ الإِسْلَامِ قَدْ كَثُرَتْ عَلَيَّ. فَأَخْبِرْنِي بِشَيْءٍ أَتَشَبَّثُ بِهِ. قَالَ: " لَا يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا مِنْ ذِكْرِ اللَّهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ. (١)

ترجمه: عبدالله بن بسر رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يو سړي عرض اوکړو يا رسول الله صلي الله عليه وسلم په مابانذی داسلام احکام ډيرشو ماته داسی يوشی اوښايئ چي کلك وريوری اونښلم رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل خپله ژبه هميشه دالله تعالي په ذکر تازه ساته.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث په دي سند حسن غريب دی.

لغات: شرائع: شرع يشرع شرعا دنصر اوفتح نه په معني دقانون ، اتشبث معني انختل متعلق کيدل. رطب: دنصر نه رطب يرطب رطبا معني تروتازه کيدل.

تشريح: په يو بل حديث کې هم دا مضمون راغلی دی چي کله رسول الله صلي الله عليه وسلم معاذ بن جبل رضي الله عنه يمن ته دقضا دپاره ليږلو نو هغه دا سوال اوکړو چي ای دالله رسوله الله تعالي ته ډير محبوب ترين عمل کوم يو دی رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل محبوب ترين عمل دادی چي تاته په داسي حالت کې مرګ راشي چي ژبه دي دالله په ذکر تراوتازه وي.

ان رجلا: دا الفاظ دترمذي دي ليکن د ابن ماجه په روايت کې اعرابيا لفظ راغلي دي.

ان شرائع الاسلام قد کثرت . يعني دشريعت احکام خو ډير دي دصحابي دسوال مطلب هرګز دا نه وو چي دشريعت احکام ډير دي زه به په کوم کوم عمل کوم او کوم اسان عمل راته اوښايه دا مطلب هيڅ يو محدث نه دی بيان کړی ليکن ددي مطلب دادی چي دشريعت دتمامو احکامو منل او کول خو ضروري دي ليکن زه يو داسي څيز غواړم چي زه يي جاري وساتم او په هغي کې پوره کمال حاصل کړم.

اتشبث به: دا دترمذي په روايت کې دي او دابن ماجه دروايت الفاظ دادي فانبئني منها بشيئ

---

١ ـ سنن ابن ماجه/الأدب ٥٣ (٣٧٩٣) (تحفة الأشراف: ٥١٩٦)

اتشبث به.

لايزال لسانك رطبا من ذكر الله: يعني ستا ژبه دي هميشه دالله په ياد تراوتازه وي دا جمله كنايه ده په كثرت سره دالله دذكر كونكو نه او دژبي وچ والى دژبي دبنديدو نه كنايه ده او دژبي لوندوالى درواني نه كنايه ده.

دويم مطلب دادى دا كنايه ده ددينه چي دمرګه پوري به دالله په ذكر مداومت كوم چي دروح دوتلو پوري به ژبه دالله دياد نه وچه نه كړم.

دريم مطلب مولانا ذكريا ليكلى دى چي دا كنايه ده دعشق او محبت نه چي دچا سره دچا محبت وي دهغه په نوم اخستلو كي لذت مومي چي په دي لذت سره دالله نوم واخستلى شي.

دعبدالله بن بسر رضي الله عنه حالات:

نوم عبدالله دپلار نوم بسر او د ماذن قبيلي سره يي تعلق وو دده مور او پلار او ورور چي علي دي او دده خور صحماء ټولو ته رسول الله صلي الله عليه وسلم دملاقات شرف حاصل شوي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دده دپاره دعمر د اوږدوالي دعا غوښتلي ده ٥٠ روايات ورنه منقول دي چي په بخاري او مسلم كي يو يو ذكر شوي دي.

اصحاب سير ليكلي دي چي دده مرګ ناڅاپي داودس په وخت كي واقع شو دده دپاره نبي كريم صلي الله عليه وسلم دعمر داوږدوالي دپاره دعا غوښتلي وه نو ځكه يي عمر ډير اوږد وو چي په شام ياحمص كي په ٨٨هجري كي وفات شو او عمر يي ٩۴ كلونو ته رسيدو او دبعضو په نزد دده عمر سل كاله وو (تهذيب التهذيب).

****

٥_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٣٣٧٦_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ دَرَّاجٍ، عَنْ أَبِي الْهَيْثَمِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ: أَيُّ الْعِبَادِ أَفْضَلُ دَرَجَةً عِنْدَ اللَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ؟ قَالَ: " الذَّاكِرُونَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتُ ". قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمِنَ الْغَازِي فِي سَبِيلِ اللَّهِ ؟ قَالَ: " لَوْ ضَرَبَ بِسَيْفِهِ فِي الْكُفَّارِ وَالْمُشْرِكِينَ حَتَّى يَنْكَسِرَ وَيَخْتَضِبَ دَمًا لَكَانَ الذَّاكِرُونَ اللَّهَ كَثِيرًا أَفْضَلَ مِنْهُ دَرَجَةً ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ دَرَّاجٍ. [1]

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۴۰۵۲)

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوکړي شو چي دقيامت په ورځ دالله په نزد د درجي په لحاظ سره څوك دټولو بندګانو نه افضل او اوچتي مرتبي والا دي؟ رسول الله اوفرمانيل په کثرت سره الله تعالي لره يادونکي سړي او په کثرت سره دالله تعالي ذکر کونکي ښځي، ما اوونيل اي دالله رسوله ايا دالله په لار کي د جنګيدونکي غازي نه هم دوئ په مرتبه کي افضل دي؟ وېي فرمانيل هو اګر که ده پخپله توره کفار او مشرکين وهلي وي او دومره سخت جنګ يي کړي وي چي خپله توره يي په کفارو کي ماته کړي وي او په وينو رنګ شوي وي مګر بيا هم الله تعالي لره يادونکي دده نه په درجه کي افضل دي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف د دراج په روايت پيژنو

****

٦_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٣٣٧٧_حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعِيدٍ هُوَ ابْنُ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ زِيَادٍ مَوْلَى ابْنِ عَيَّاشٍ، عَنْ أَبِي بَحْرِيَّةَ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرِ أَعْمَالِكُمْ وَأَزْكَاهَا عِنْدَ مَلِيكِكُمْ وَأَرْفَعِهَا فِي دَرَجَاتِكُمْ، وَخَيْرٌ لَكُمْ مِنْ إِنْفَاقِ الذَّهَبِ وَالوَرِقِ، وَخَيْرٌ لَكُمْ مِنْ أَنْ تَلْقَوْا عَدُوَّكُمْ فَتَضْرِبُوا أَعْنَاقَهُمْ وَيَضْرِبُوا أَعْنَاقَكُمْ ". قَالُوا: بَلَى. قَالَ: " ذِكْرُ اللَّهِ تَعَالَى " قَالَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: مَا شَيْءٌ أَنْجَى مِنْ عَذَابِ اللَّهِ مِنْ ذِكْرِ اللَّهِ قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الحَدِيثَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعِيدٍ مِثْلَ هَذَا بِهَذَا الإِسْنَادِ وَرَوَى بَعْضُهُمْ عَنْهُ فَأَرْسَلَهُ. (١)

ترجمه : ابوالدرداء رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ايا تاسو خبر نه کړم ستاسو دبهترين عمل نه کوم چي ستاسو دمالك په نزد ډير پاك دی اوپه کوم چي ستاسو درجی ډيری اوچتيږي اوتاسو د دښمن سره مخامخ شئ تاسو دهغوئ څتونه پريکوئ اوهغوئ ستاسو څتونه پريکوي (يعني دصدقی اوجهاد نه هم بهتردی ، هغوئ عرض اوکړو يا رسول الله، ضرور يی راته اوښايه، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هغه دالله تعالي ذکر دی .

---

١ ـ سنن ابن ماجه/الأدب ٥٣ (٣٧٩٠) (تحفة الأشراف: ١٠٩٥٠)

امام ترمذي رحمه الله وايي: بعضي محدثين وائي عبدالله بن سعيد دا حديث په همدي سند په همدي مضمون نقل کړي دي او بعضو راويانو مرسل نقل کړي دي.

لغات : ازكاها: زكا يزكو زكانا معني نيك اوصالح كيدل. مليككم: دباب تفعيل نه معني مالك كيدل، بادشاه ملك يملك ملكا دضرب نه.

تشريح : په دي حديث کې ذکر دټولو نه اعلي او افضل عبادت ګرځولی شوی دی او حال دادی چي په اتفاق سره مونځ او روژه دذکر نه افضل دي؟ علماؤ ددي ډيرجوابونه کړي دي اولنی جواب دادی صاحب دمجالس الابرار ليکلي دي په دي حديث کې ذکر افضل عبادت ځکه ګرځولی شوی دی چي اصل مقصود خو الله يادول دي کوم چي دټولو عباداتو ذريعه او اله ده. دذکر نه مراد ذکرقلبي دی زباني ذکر مراد نه دی يعني په هر وخت کې دالله تعالي سره تعلق ساتل کله چي داسي وي نو بيا هيڅ کله دچا نه دالله حکم پاتي کيدی نشي او هيڅ نافرماني وزنه کيدی نشي نو داسي ذکر به يقينا چي دتمامو عباداتو نه افضل وي.

دريم جواب: دذکر نه مراد دزړه صفائي ده لکه چي په يو بل روايت کې راغلي دي دهر يو څيز دپاره صفائي کونکی او خيری ختمونکی څيز موجود وي ليکن دزړونو صفائي کونکی څيز دالله تعالي ذکر دی او دا خو يقيني خبره ده چي دهر عبادت روح او دهر عبادت دارومدار دزړه په پاکوالي دی ځکه دا افضل ګرځولی شوی دی.

څلورم جواب: دوخت او د حالاتو په اعتبار سره هر عبادت پخپل وخت کې افضل دی کله کله صدقه افضله وي او کله جهاد او کله نور عبادات دوخت په تقاضا او مناسبت سره.

****

٧_بَاب مَا جَاءَ فِي الْقَوْمِ يَجْلِسُونَ فَيَذْكُرُونَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ مَا لَهُمْ مِنَ الْفَضْلِ

دذکر دپاره په يو ځاي کې دراجمع کيدونکو دفضيلت بيان

٣٣٧٨_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الأَغَرِّ أَبِي مُسْلِمٍ، أَنَّهُ شَهِدَ عَلَى أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّهُمَا شَهِدَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "مَا مِنْ قَوْمٍ يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا حَفَّتْ بِهِمُ الْمَلَائِكَةُ، وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ، وَنَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ، وَذَكَرَهُمُ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

---

[1] _ صحيح مسلم/الذكر والدعاء ١١ (٢٧٠٠)، سنن ابن ماجه/الأدب ٥٣ (٣٧٩١) (تحفة الأشراف: ٣٩٦٢، و ١٢١٤٢)

ترجمه : ابوهریره رضي الله عنه او ابوسعید خدري رضي الله عنه نه روایت دی دوئ ګواهي ورکړي ده چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي .کله چي یو قوم دالله تعالي ذکر ته کیني فرشتی ورباندی وزری اوغوړوي او الله تعالي یی په خپل رحمت کې پټ کړي او سکینه وربانذی نازله کړي اودفرشتو په مجلس کې یی یاد کړي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حدیث حسن صحیح دي.

لغات : حفتهم: حفّ یحف حفا احاطه کول او راګیرول . غشیتهم: غشي یغشي غشیا نازلول

تشریح : په دي حدیث کې دذکر کونکو دپاره دالله تعالي دځلورو نعمتونو وعده بیان شوي ده اول نعمت دادی "حفتهم الملائکة" یعني فرشتي به دځلورو طرفونو نه په دوئ احاطه اوکړي.

"وغشیتهم الرحمة" یعني دالله تعالي رحمت به ورنه راچاپیر شي . دریم فنزلت علیهم السکینة، یعني په زړونو به یي سکینه نازل شي ، دعلامه سدي په نزد دسکینه نه مراد په جنت کې یو خانك دی کوم چي دسرو زرو دی په کوم کې چي دانبیاء علیهم السلام زړونه وینځلی شي او دعلي رضي الله عنه په قول سکینه یوه خاص هوا ده چي مخ یي دانسان پشان دی یا ددینه مراد رحمت او دزړه سکون دی حافظ ابن حجر وائي سکینه یو داسي عام لفظ دی کوم چي دي ټولو مفهوماتو ته شامل دی.

"ذکرهم الله في من عنده" یعني الله تعالي به پخپلو مقربو فرشتو کې دذکر کونکي ذکر اوکړي خکه چي فرشتو دانسانانو دپیدائش په وخت کې وئیلي وو چي دا خلق به په زمکه کې فسادونه کوي نو په داسي مجالسو کې دخودلو په وجه الله تعالي په فرشتو فخر کوي او دوئ ته ددوئ اعتراض رایادوي.

بعضي علما وایي چي الله پاك فرشتو ته په دي وخت کې فرمایي دادم اولاد ته وګورئ چي دنافرمانئ ماده هم پکې شته او زه یي لیدلي هم نه یم اوددي باوجود یي دمحبت او خشیت څه کیفیت دي اوپه څومره شوق سره زما ذکر کوي.

****

حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ يَعْقُوبَ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ: سَمِعْتُ الأَغَرَّ أَبَا مُسْلِمٍ، قَالَ: أَشْهَدُ عَلَى أَبِي سَعِيدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّهُمَا شَهِدَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ مِثْلَهُ. [1]

ترجمه : ابوهریره رضي الله عنه او ابوسعید خدري رضي الله عنه نه روایت دی دوئ ګواهي

[1] ـ صحیح مسلم/الذکر والدعاء ۱۱(۲۷۰۰)، سنن ابن ماجه/الأدب ۵۳(۳۷۹۱) (تحفة الأشراف: ۳۹۶۳، و۱۲۴۲)

ورکړي ده چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي او باقي حديث يي دمخکني پشان بيان کړو.

****

۳۳۷۹_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مَرْحُومُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ الْعَطَّارُ، حَدَّثَنَا أَبُو نَعَامَةَ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: خَرَجَ مُعَاوِيَةُ إِلَى الْمَسْجِدِ، فَقَالَ: مَا يُجْلِسُكُمْ؟ قَالُوا: جَلَسْنَا نَذْكُرُ اللَّهَ. قَالَ: آللَّهِ مَا أَجْلَسَكُمْ إِلَّا ذَاكَ. قَالُوا: وَاللَّهِ مَا أَجْلَسَنَا إِلَّا ذَاكَ. قَالَ: أَمَا إِنِّي لَمْ أَسْتَحْلِفْكُمْ تُهْمَةً لَكُمْ، وَمَا كَانَ أَحَدٌ بِمَنْزِلَتِي مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقَلَّ حَدِيثًا عَنْهُ مِنِّي، إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ عَلَى حَلْقَةٍ مِنْ أَصْحَابِهِ. فَقَالَ: "مَا يُجْلِسُكُمْ؟" قَالُوا: جَلَسْنَا نَذْكُرُ اللَّهَ وَنَحْمَدُهُ لِمَا هَدَانَا لِلإِسْلاَمِ وَمَنَّ عَلَيْنَا بِهِ. فَقَالَ: "آللَّهِ مَا أَجْلَسَكُمْ إِلَّا ذَاكَ؟" قَالُوا: آللَّهِ مَا أَجْلَسَنَا إِلَّا ذَاكَ. قَالَ: "أَمَا إِنِّي لَمْ أَسْتَحْلِفْكُمْ لِتُهْمَةٍ لَكُمْ. إِنَّهُ أَتَانِي جِبْرِيلُ فَأَخْبَرَنِي أَنَّ اللَّهَ يُبَاهِي بِكُمُ الْمَلاَئِكَةَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. لاَ نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَأَبُو نَعَامَةَ السَّعْدِيُّ اسْمُهُ عَمْرُو بْنُ عِيسَى، وَأَبُو عُثْمَانَ النَّهْدِيُّ اسْمُهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مُلٍّ. (۱)

ترجمه : ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دى چي يوه ورځ معاويه رضي الله عنه جومات ته راغلو هلته ځو کسانو حلقه جوړه کړي وه ناست وو معاويه رضي الله عنه ورته اوونيل تاسو څنګه ناست يئ؟ هغوئ اوونيل ناست يو دالله ذکر کو، معاويه رضي الله عنه ورته اوونيل تاسو دى په خدائ قسم وي بى ددى نه بل کار ته نه يئ ناست، هغوئ اوونيل مونږ هم دى دپاره ناست معاويه رضي الله عنه ورته اوونيل ما دا قسم ددى دپاره ندى درکړى چي په تاسو بى اعتباره يم ،خکه مى درکړو چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دغه شان يو ډلى ته ورکړى وو، خما دمرتبى بل يو کس هم داسى نشته چي ما غوندى کم احاديث يى روايت کړي وي يوه ورځ رسول الله صلي الله عليه وسلم جومات ته راغلو ځو کسان ناست وو حلقه يى جوړه کړي وه رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل تاسو څه ته ناست يئ هغوئ عرض اوکړو دى دپاره ناست يو دالله ذکر کوو حمد وايو، شکر يى ادا کوو چي مونږ ته يى داسلام توفيق راکړو او دا احسان يى راباندى اوکړو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ستاسو

[1] _ صحيح مسلم /الذكر والدعاء ١١ (٢٧٠١) . سنن النسائي/القضاة ٣٧ (٥٤٢٨) (تحفة الأشراف : ١١٤١٦) . و مسند احمد (٤/٩٢)

دی په خدای قسم وي چي صرف ذکر دپاره ناست یی هغوئ عرض اوکړو قسم په خدای صرف دی ته ناست یو رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل دا قسم می په دی نه دی درکړی چي په تاسو می اعتبار نه وو خو ماته اوس جبرائیل اوونیل چي الله تعالي په دی کسانو باندی دفرشتو په مجلس کي فخر کوي

امام ترمذي رحمه الله وايي دا حديث حسن غريب دي مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي او دابو نعامه السعدي نوم عمرو بن عيسي دي او دابو عثمان النهدي نوم عبدالرحمن بن مل دي.

لغات: يحمده: حمد يحمد حمدا دسمع نه معني تعريف كول . يباهي مباهات فخر كول

تشريح: سوال رسول الله صحابه كرامو ته ولي قسم وركړو حال دادی چي هغوئ ذکر کولو او رسول الله دذکر په حالت کي ليدل.

جواب: رسول الله ورته قسم په دي وجه ورکړی وو چي جبريل عليه السلام ددي صحابه کرامو تعريف کړی وو رسول الله دا گمان اوکړو چي شايد دذکر نه علاوه کومه بله وجه به وي چي الله تعالي دجبريل په ذريعه ددوئ تعريف وکړو معلومه شوه چي ددوئ کوم خاص عبادت نشته صرف دومره خبره ده چي دوئ دالله په ذکر کي مشغول وو.

ملاعلي قاري وائي دالله تعالي دفخر کولو وجه داده چي الله تعالي فرشتو ته فرمائي اوگورئ دا زما بندگان دي چي په دوئ باندي شيطان او نفس مسلط دی او ددي باوجود زما په ذکر کي مشغول دي لهذا ددوئ ددي عبوديت تقاضا داده چي زه ددوئ تعريف اوکړم په خلاف دفرشتو دعبادت خکه چي ددوئ دپاره هيڅ مانع نشته خکه چي دانسانانو په مقابله کي دفرشتو دپاره عبادت څه مشقت نه وي.

ددي حديث نه معلومه شوه که يو څو کسان راجمع شي او ذکر کوي نو دا کار الله تعالي ته بي اندازي محبوب دی ، شاه ولي الله رحمه الله ليکلي دي چي په دي کي دهيڅ قسم شك گنجائش نشته چي مسلمانان جمع شي او ذکر وغيره کوي او ذکر وغيره کول درحمت او سکينت او قرب خاص وسيله ده.

****

٨ـ باب فِي الْقَوْمِ يَجْلِسُونَ وَلاَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ

دداسي مجلس دمذمت بيان په کوم کي چي دالله ذکر نه کيږي

٣٣٨٠ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ ، عَنْ صَالِحٍ مَوْلَى التَّوْءَمَةِ ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ: " مَا جَلَسَ قَوْمٌ

مَجْلِسًا لَمْ يَذْكُرُوا اللَّهَ فِيهِ، وَلَمْ يُصَلُّوا عَلَى نَبِيِّهِمْ، إِلَّا كَانَ عَلَيْهِمْ تِرَةً، فَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُمْ وَإِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَمَعْنَى قَوْلِهِ: تِرَةً يَعْنِي حَسْرَةً وَنَدَامَةً. وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْمَعْرِفَةِ بِالْعَرَبِيَّةِ: التِّرَةُ هُوَ الثَّأْرُ. ([1])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: څوك چي په يو مجلس كې كيني او هلته نه دالله تعالي ذكر اوكړي او نه دالله په رسول درود ووائي ، الله تعالي ورنه ناراضه شي، بيا كه يې خوښه وه سزا به وركړي ، او كه يې خوښه وه معاف به يې كړي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي دا حديث په يو څو سندونو دابوهريره په واسطه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مروي دي او د "ترة" لفظ معني حسرت او ندامت دي او بعضي اهل لغت وائي ددي معني بدله ده.

لغات : ترة: تاوان او خساره.

تشريح : "ترة" معني حسرت او اوبال او ندامت او اور دى، مقصد دادى په كوم مجلس كې چي ددنيا خبري كيږي اوهلته دالله ذكر اوپه رسول الله درود اونه ليږلى شي نو دا مجلس به دقيامت په ورځ ددوئ دپاره دندامت سبب اوګرځي داقسم روايتونه دالله ذكر او په رسول الله درود وئيل لازمي كوي. ځكه چي ددي په ترك دجهنم وعيد راغلي دي.

****

٩ـ باب مَا جَاءَ أَنَّ دَعْوَةَ الْمُسْلِمِ مُسْتَجَابَةٌ

دمسلمان ددعا دمقبوليت بيان

٣٣٨١ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: " مَا مِنْ أَحَدٍ يَدْعُو بِدُعَاءٍ إِلَّا آتَاهُ اللَّهُ مَا سَأَلَ، أَوْ كَفَّ عَنْهُ مِنَ السُّوءِ مِثْلَهُ مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ ". وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَعُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ. ([2])

ترجمه : جابر رضي الله عنه فرمائي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي هر يو بنده چي دالله تعالي نه دعا غواړي نو ده ته خو يا هغه څيز وركړي شي كوم چي يې غوښتلي

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٥٠٦) ، ومسند احمد (٢/٤٣٢، ٤٤٦، ٤٥٣)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٨٨١)

وي او يا ددي دعا په نتيجه كي ددي دعا په مثل چي كوم مصيبت ده ته راتلونكي وي هغه ورنه الله تعالي لري كري مګر څو پوري چي دګناه باره كي دا دعا نه وي اويا دصله رحمۍ قطع كولو باره كي نه وي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: او په دي باب كي دابوسعيد خدري او عباده بن صامت رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٣٨٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَرْزُوقٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ وَاقِدٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَطِيَّةَ اللَّيْثِيُّ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَسْتَجِيبَ اللَّهُ لَهُ عِنْدَ الشَّدَائِدِ وَالْكُرَبِ فَلْيُكْثِرِ الدُّعَاءَ فِي الرَّخَاءِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي دا خواهش لري چي په مصيبتونو مشكلاتو او دتكليف په حالاتو كي الله تعالي دده دعا قبوله كړي نو ده لره د فراخۍ او دراحت په حالت كي دعا ډير غوښتل پكار دي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي.

د حديث دراوي جابر رضي الله عنه مختصر حالات

دده نوم جابر او كنيه ابوعبدالله وه او دقبيله خزرج سره يي تعلق وو دپلار نوم يي عبدالله او دمور نوم يي نسيبه وو دده نيكه عمرو دځپل خاندان سردار وو، په عقبه ثانيه كي يي دځپلي مور سره اسلام راوړو او دغزوه احد نه پس په تمامو غزواتو كي شريك شوي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم سره يي په نولسو غزواتو كي شركت كړي دي (مسند احد ٣/٣٢٩).
په ٣٧هجري كي دعلي او معاويه رضي الله عنهما په جنګ كي جابر رضي الله عنه دعلي رضي الله عنه دطرف نه اوجنګيدو (اسد الغابه ٢/٢٥٧).
جابر رضي الله عنه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه پس دنورو خلقو نه هم ديني علم زده كړي دي چي په هغوئ كي صديق اكبر ، عمر فاروق، ابوعبيده، طلحه، معاذ بن جبل، خالد بن وليد، ابوهريره ، ابوسعيد خدري، او عبدالله بن انيس رضي الله عنهم وغيره شامل دي.
فرمائي چي يو خل معلومه شوه چي دعبدالله بن انيس سره يو حديث دي او هغه په شام كي اوسيږي نو ما يو اوښ واخستو او شام ته روان شوم او دهغه نه مي هغه حديث واوريدو (المفرد

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٤٩٤)

بخاري).
دده شاګردان هم کافي ډير دي مثلا امام باقر، بدالله بن منکدر، حسين بن محمد بن حنفيه
ليکن په اخري عمر کي نابينا شو (بخاري ۵۹۸/۲).
وفات: دحجاج بن يوسف په زمانه کي د ۹۴ کلونو په عمر کي وفات شو او وصيت يي اوکړو
چي حجاج به په ما باندي جنازه نه کوي نو په دي وجه دعثمان رضي الله عنه خوي ابان
درباندي جنازه اوکړه او په بقع کي دفن کړي شو ليکن دبعضو قول دي چي حجاج درباندي
جنازه کړي ده (تهذيب التهذيب).
مرويات: دده دمروياتو تعداد ۵۴۰ په احاديثو بيانولو کي به يي ډير احتياط کولو.

****

۳۳۸۳ـحَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَبِيبِ بْنِ عَرَبِيٍّ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ كَثِيرٍ الأَنْصَارِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ طَلْحَةَ بْنَ خِرَاشٍ، قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "أَفْضَلُ الذِّكْرِ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَفْضَلُ الدُّعَاءِ: الْحَمْدُ لِلَّهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُوسَى بْنِ إِبْرَاهِيمَ. وَقَدْ رَوَى عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ إِبْرَاهِيمَ هَذَا الْحَدِيثَ.[1]

ترجمه: جابر رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي
تولو اذکارو کي بهترذکر لااله الاالله دی، او په تمامو دعاګانو کي بهتره دعا الحمد لله ده.
امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن غريب دي مونږ يي صرف دموسي بن ابراهيم په
سند پيژنو، علي بن مديني او نورو ډيرو راويانو داحديث دموسي بن ابراهيم نه نقل کړي دي.
لغات: افضل: فضل يفضل يومستقل باب هم دي معني يې صاحب فضيلت کيدل دي په
مزيدو کي دباب تفعيل نه مشهور دي.
تشريح: ملا علي قاري وائي په دي حديث کي کلمه دتوحيد دټولو نه اهم ذکر ګرخولی شوی
دی ځکه چي همدا کلمه ددين بنياد دی، په تعليق الصبيح کي دي چي کلمه دتوحيد يي افضل
ذکر ځکه ګرځولی دی چي په دي کي ظاهري او باطني صفائي ده او دا ځکه کله چي بنده لااله
اووائي نو په دي باندي دتمامو باطلو معبودانو نفي اوشوه او چي کله الاالله اووائي نو صرف
ديو حقيقي معبود اقرار پاتي شي نو په دي نفي او اقرار سره زړه منور شي او دزړه اثر په

[1] ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ۲۲۲ (۸۳۱). سنن ابن ماجه/الأدب ۵۵ (۳۸۰۰) (تحفة الأشراف: ۲۲۸۶)

ظاهري اعضاؤ مرتب شي بيا داعضاؤ نه هغه اعمال صادريږي کوم چي دکلمي دمنشاء مطابق وي.
په همدي وجه په يو حديث کې راځي چي ايماني کيفيت لره په زړه کې دتر او تازه ساتلو دپاره ددي کلمي دوئيلو حکم شوى دى ځکه چي دقلبي کيفيت اثر په ظاهري اعضاؤ مرتب کيږي او هغه روايت دادي ، عن ابي هريرة قال قال رسول الله صلي الله عليه وسلم جددوا ايمانكم قيل يارسول الله كيف نجدد ايماننا قال اكثروا من قول لااله الاالله.

****

٣٣٨٤_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ الْمُحَارِبِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ خَالِدِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنِ الْبَهِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ اللَّهَ عَلَى كُلِّ أَحْيَانِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، وَالْبَهِيُّ اسْمُهُ عَبْدُ اللَّهِ. [1]

ترجمه ام المومنين عائشه رضي الله عنها نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به په هر وخت کې ذکر کولو
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي او مونږ يي صرف ديحي بن زکريا بن ابي زائده په سند پيژنو او د "بهي" نوم عبدالله دي.
لغات : احيان : جمع دحين ده حان يحين حينا وحينونة معني دوخت نږدي کيدل.
تشريح : په دي روايت کې احيان دجمعي لفظ استعمال شوى دى او قاعده داده کله چي دجمعي اضافت خپل مابعد ته اوشي نو استغراق پيدا کوي او بيا چي وربانديي کل هم داخل شي نو مطلب به يي دا شي چي رسول الله بهٔ په هر وخت کې ذکر الهي کولو.
سوال بعضي حالتونه مثلا داودس ماتي او جماع وغيره وخت داسي حالتونه دي چي په دي کې ذکر لساني جائز نه دى.
جواب علماؤ ددي حديث مطلب دا بيان کړى دى چي رسول الله به هميشه په ذکر قلبي کې مشغول وو يعني هميشه به الله دده په زړه کې حاضر وو همدا رنګي علامه ابن قيم هم په زاد المعاد کې ديته اشاره کړي ده.
كان النبي صلي الله عليه وسلم اكمل الخلق ذكرالله عزوجل بل كان كلامه كله في ذكرالله وما والاه وكان

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الأذان ١٩ (تعليقا) صحيح مسلم /الطهارة ٣٠ (٣٧٣) . والحيض ٣٠ (٣٧٣) . ابى داود/الطهارة ٩ (١٨) . ابن ماجه/الطهارة ١١ (٣٠٢) (تحفة الأشراف : ١٦٣٦١) . ومسند احمد (٦/٧٠، ١٥٣، ١٧٨)

امره ونهيه وتشريعه للامه.

****

١٠ـ باب مَا جَاءَ أَنَّ الدَّاعِيَ يَبْدَأُ بِنَفْسِهِ

دعا غوښتونکي به اول د ځېل ځان نه شروع کوي

٣٣٨٥ـ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو قَطَنٍ، عَنْ حَمْزَةَ الزَّيَّاتِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ إِذَا ذَكَرَ أَحَدًا فَدَعَا لَهُ بَدَأَ بِنَفْسِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ. وَأَبُو قَطَنٍ اسْمُهُ عَمْرُو بْنُ الهَيْثَمِ. [1]

ترجمه: دابئ بن كعب رضي الله عنه بيان دي كله چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم څوك ياد كړو او دهغه دپاره به يي دعا غوښتله نو اول به يي دځېل ځان دپاره دعا غوښتله.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب صحيح دي.

****

١١ـ باب مَا جَاءَ فِي رَفْعِ الأَيْدِي عِنْدَ الدُّعَاءِ

د دعا غوښتلو وخت كي دلاسونو پورته كولو بيان

٣٣٨٦ـ حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ المُثَنَّى وَإِبْرَاهِيمُ بْنُ يَعْقُوبَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ عِيسَى الجُهَنِيُّ، عَنْحَنْظَلَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ الجُمَحِيِّ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَفَعَ يَدَيْهِ فِي الدُّعَاءِ لَمْ يَحُطَّهُمَا حَتَّى يَمْسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ". قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ المُثَنَّى فِي حَدِيثِهِ: لَمْ يَرُدَّهُمَا حَتَّى يَمْسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ عِيسَى، وَقَدْ تَفَرَّدَ بِهِ وَهُوَ قَلِيلُ الحَدِيثِ، وَقَدْ حَدَّثَ عَنْهُ النَّاسُ، وَحَنْظَلَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ الجُمَحِيُّ ثِقَةٌ وَثَّقَهُ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ القَطَّانُ. [2]

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /العلم ٤٤ (١٢٢) . والأنبياء ٢٧ (٣٤٠٠) . وتفسير (٤٧٢٥) . صحيح مسلم/الفضائل ٤٦ (٢٣٨٠) . سنن ابي داود/ الحروف ح١٦ (٣٩٨٤) (تحفة الأشراف: ٤١)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٥٢١)

ترجمه : دعمر بن الخطاب رضي الله عنه بيان دي فرماني چي كله به رسول الله صلي الله عليه وسلم په دعا كي لاسونه پورته كول نو چي څوپوري به يي لاسونه په مخ رانښكلي نه وو ترهغي به يي واپس لاسونه نه راكوزول، محمد بن مثني راوي پخپل روايت كي وائي رسول الله ددعا دپاره خپل دواړه لاسونه پورته كول او هغه وخته پوري به يي واپس نه راكوزول چي څو پوري به يي دواړه لاسونه پخپل مخ رانښكلي نه وو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث غريب دي، مونږ يي صرف دحماد بن عيسي په سند پيژنو، حماد بن عيسي ددي په نقل كولو كي منفرد دي او دي قليل الروايت راوي دي دده نه بعضي راويانو نقل دروايت كړي دي، حنظله بن ابي سفيان جمحي ثقه راوي دي يحي بن سعيد القطان يي توثيق كړي دي.

****

١٢ـ بَاب مَا جَاءَ فِيمَنْ يَسْتَعْجِلُ فِي دُعَائِهِ

ددعا په قبوليت كي دجلد بازئ نه كولو بيان

٣٣٨٧ـ حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي عُبَيْدٍ مَوْلَى ابْنِ أَزْهَرَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " يُسْتَجَابُ لِأَحَدِكُمْ مَا لَمْ يَعْجَلْ، يَقُولُ: دَعَوْتُ فَلَمْ يُسْتَجَبْ لِي ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو عُبَيْدٍ اسْمُهُ سَعْدٌ وَهُوَ مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَزْهَرَ وَيُقَالُ: مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَزْهَرَ هُوَ ابْنُ عَمِّ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَنَسٍ. [1]

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دهر مسلمان دعاقبليږي ترڅو چي تادي اونه كړي چي دا اونه وائي مادخپل رب نه سوال كړى وو خو قبول يي نه كړو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دانس رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

لغات : قطعية: درشته دارئ نه كټ كيدل صله رحمي قطع كول يستعجل دباب استفعال نه په معني دجلتئ كولو.

---

[1] - اورده البخاري في الجامع الصحيح /الدعوات ٢٢(٦٣٤٠)

تشريح : مطلب دادى چي انسان دجلدبازئ او مايوسئ په وجه دعا كول پريږدي داسي كول نه دي پكار انسان دي په دي خبره يقين اوساتي چي زما دعا به ضرور قبليږي مګر دا ممكن دء چي كله كله انسان په ډير اخلاص او اضطرار سره دعا غواړي او دده دا اخلاص دالله تعالي ډير خوښ شي نو په دي وجه دده د دعا په قبوليت كې تاخير اوشي او دبعضو خلقو ددعاګانو تسلسل ددوئ دطرقئ سبب دى نو خكه الله تعالي ددوئ دعا زر نه قبلوي ددي دپاره چي دوئ ددي عظيم نعمت نه محروم نشي.
په جلدبازئ كي خو يو نقصان دادى چي بيا انسان دعا كول پريږدي او دويم نقصان دادى چي نااميده شي دريم نقصان دادى انسان دا ګمان اوكړي ګني اوس زما ددعا دقبوليت وخت لاته دى راغلى علامه توربشتي واني په دعا كي دجلد بازئ نه كار اخستل نه دي پكار خكه چي دا خو الله تعالي ته معلومه ده چي كله به دده دعا قبلوي او كله يې نه قبلوي
، دامام مسلم يو روايت په دى الفاظو دى هميشه دمسلمان بنده سوال قبليږي كه دناروا كار سوال نه وي اودخپلوئ ترك كولو سوال نه وي ترخو چي بيړه اونه كړي اصحابو عرض اوكړو يا رسول الله دبيړى څه مطلب رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمانيل چي داسي اووائي ما خو بيا بيا دعا اوغوښتله خو قبليږي نه دى نه پس دى نااميده شي اودعا پريږدي.

****

١٣ـ باب مَا جَاءَ فِي الدُّعَاءِ إِذَا أَصْبَحَ وَإِذَا أَمْسَى

دسحر او ماښام وختونو كي دوارد شوو دعاګانو بيان

٣٣٨٨ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبَانَ بْنِ عُثْمَانَ، قَالَ: سَمِعْتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ عَبْدٍ يَقُولُ فِي صَبَاحِ كُلِّ يَوْمٍ وَمَسَاءِ كُلِّ لَيْلَةٍ: بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ لَمْ يَضُرَّهُ شَيْءٌ". وَكَانَ أَبَانُ قَدْ أَصَابَهُ طَرَفُ فَالِجٍ فَجَعَلَ الرَّجُلُ يَنْظُرُ إِلَيْهِ، فَقَالَ لَهُ أَبَانُ: مَا تَنْظُرُ أَمَا إِنَّ الْحَدِيثَ كَمَا حَدَّثْتُكَ وَلَكِنِّي لَمْ أَقُلْهُ يَوْمَئِذٍ لِيُمْضِيَ اللَّهُ عَلَيَّ قَدَرَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه : عثمان بن عفان رضي الله عنه فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمانيل

---

[1] ـ سنن ابي داود/ الأدب ١١٠ (٥٠٨٨)، سنن ابن ماجه/الدعاء ١٤ (٣٨٦٩) (تحفة الأشراف: ٩٧٧٨)، و مسند احمد (٦٢/١).

يو بنده داسی نه دی چي دهری ورځی سحر او دهری شپی مابنام دا کلمات" بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ لَمْ يَضُرَّهُ شَيْءٌ " درى ځله اووائي مګر دا چي دالله په حکم سره به هغه ته هيڅ څيز نقصان اونه رسوي ترجمه دالله دنوم سره ماسحر او مابنام کړو چي دهغه دنوم په برکت سره دزمکی اوداسمان هيڅ څيز نه رسوي اوهغه سميع او عليم دی . دحديث په راوي ابان دفالج اثر وو دحديث اوريدونکي کس هغه طرف ته کتل ابان ورته اووئيل ولي راته ګوري حديث بالکل همداسي دي څنګه چي ما درته بيان کړو ليکن خبره داده په کومه ورځ چي په ما دفالج اثر اوشو په هغه ورځ ما دا دعا نه وه لوستلي او ددي نتيجه دا شوه چي الله تعالي په ما باندي دخپل تقدير فيصله جاري کړه.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي.
لغات : الضر: نقصان ، ضرّ يضر ضرا نقصان ورکول ، العليم: دسمع نه مصدر دي علما دکوم شي حقيقت ته رسيدل.
تشريح : ددي دعا برکت دادی چي کله دي لره څوك په سحر کې اولولي نو ددي په برکت دمابنامه پوري دتکليفونو او ضررونو نه بچ کيږي، او که څوك په مابنام کې اولولي نو ددي په برکت دسحره پوري دتکليفونو او ضررونو نه بچ کيږي مګر دتعجب خبره داده چي ددي حديث په راوي ابان بن صالح باندي دفالج اثر شوی وو يو ځل ابان دا حديث بيانولو چي يو سړي ورته په غور سره کتل ابان پوهه شو چي دده په زړه کې دا اعتراض پيدا شوی دی چي ته دا حديث هم بيانوي او فالج درباندي هم لګيدلی دی داعتراض مطلب دادی چي بيا خو به ته هم دا دعا سحر او مابنام وائي نو دفالج داثر نه ولي بچ شوی نه يي؟ ابان اووئيل دا حديث بالکل صحيح دی او په ماباندي دفالج حمله داسي شوي وه چي يو ځل زه ديوکار په وجه سخت غصه شوی وم او دغصه کيدو په وجه رانه دا دعا وئيل هير شوي وو او په هم هغه ورځ راباندي فالج حمله اوکړه
امام قرطبي وائي ما به هميشه دا دعا وئيله يوه ورځ رانه هيره شوه نو لړم اوچيچلم
دحيات الحيوان مصنف علامه دميري وائي چي زه دخپل استاذ فخر الدين بن عثمان سره ناست وم چي يو لړم راغی زما استاذ لړم په لاس کې رااوچت کړو او هغه ورته هيڅ ضرر اونه رسولو ماته دا کار نااشنا ښکاره شو او سوال مي اوکړو نو استاذ مي اووئيل څوك چي دا دعا اولولي نو هيڅ يو څيز ورته ضرر نشي رسولی (روضه)

****

۳۳۸۹ـ حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الْأَشَجُّ. حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ خَالِدٍ، عَنْ أَبِي سَعْدٍ سَعِيدِ بْنِ الْمَرْزُبَانِ،

عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ قَالَ حِينَ يُمْسِي: رَضِيتُ بِاللَّهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا كَانَ حَقًّا عَلَى اللَّهِ أَنْ يُرْضِيَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه: د ثوبان رضي الله عنه نه مروي دي چي ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چي فرمائيل يې چاچي دسحر په وخت کې اودبيګاه په وخت کې داکلمات اووئيل: «رَضِينَا بِاللَّهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولاً» نوالله تعالي پخپله ذمه دا لازم کړيدي چي ده لره به خوشحالوي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث په سند حسن غريب دی.

دثوبان رضي الله عنه حالات

نوم ثوبان كنيه ابو عبدالله چي په يمن کې دمشهور خاندان حمير سره يې تعلق وو ثعبان يو غلام وو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل که خوښه دي وي خپل خاندان ته لاړ شه او که زمونږ سره دي اوسيدل خوښ وي نو اوسيږه ته به داهل بيتو نه شميرلی شي نو په دي بنا ثوبان په اهل بيتو کې شميرلو ته پخپل خاندان ترجيح ورکړه.

هميشه به يې د رسول الله صلي الله عليه وسلم خدمت کولو او د رسول الله دفرمان سره به يې دخان نه زيات محبت کولو يو خل نبي کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هيڅ کله به چاته لاس نه اوګدوی، نو ددينه پس که به دده نه داس چابك هم اوغورځيدو نو پخپله به ورپسې کوځيدو او اوچتولو به يې خو دچانه به يې سوال نه کولو (مسند احمد).

دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دخدمت کولو په وجه يې پخپله بهترينه استفاده اوکړه په همدي وجه ابن عبدالبر ليکلي دي چي ثوبان دهغه دري کسانو نه دی چاچي احاديث محفوظ کړي دي او ددي اشاعت يې هم کړی دی (استيعاب) دمرویاتو شمير يې ۱۲۷ دی.

****

۳۳۹۰ـ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سُوَيْدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمْسَى قَالَ: أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ (قال الراوي) أُرَاهُ قَالَ فِيهَا: لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، أَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا فِي هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَخَيْرَ مَا

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۲۱۲۲)

بَعْدَهَا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهَا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَسُوءِ الْكِبَرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ النَّارِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ، وَإِذَا أَصْبَحَ قَالَ: ذَلِكَ أَيْضًا أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ شُعْبَةُ بِهَذَا الْإِسْنَادِ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ لَمْ يَرْفَعْهُ. (1)

ترجمه : ابن مسعود رضي الله عنه بيان کوي چي کله به مابنام شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم به دا کلمات ادا کول ترجمه مونږ اودالله تول ملك په مابنام کې داخل شو ؤ په تولو باندې دمابنام وخت راغی ، «أمسينا وأمسى الملك لله والحمد لله ولا إله إلا الله وحده لا شريك له أراه قال فيها له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير أسألك خير ما في هذه الليلة وخير ما بعدها وأعوذ بك من شر هذه الليلة وشر ما بعدها وأعوذ بك من الكسل وسوء الكبر وأعوذ بك من عذاب النار وعذاب القبر» هر قسمه حدم اوثنا صرف دالله دپاره ده ديو الله نه سوا بل څوك معبود نشته دهغه څوك شريك نشته راوي وائي چي خما خيال دی چي لاندی ذکر شوي کلمات هم ددی دعا په ضمن کې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيلی ، ملك هم دهغه دی اودتولو تعريفونو حقدار هم هغه دی اوهغه په هر څيز باندی قادر دی ای ربه په دی شپه کې اودی نه روستو چي کومه خير او نيکي ده زه ستا نه ددی سوال کوم او په دی شپه کې اوددی نه پس چي کوم شر دی دهغی نه په تاسره پناه غوارم، ای ربه دسستئ اودبوډاوالي دبدحالت نه ستا پناه غوارم اوستا نه ددوزخ اودقبر دعذاب نه هم پناه غوارم اوچي کله به سحر شو نو دغسی دعا به يی غوښتله او دا وخت به يی دا مسينا په ځای اصبحنا واصبح الملك لله فرمائيلو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي شعبه دا حديث په همدي سند دابن مسعود نه نقل کړي دي او مرفوع يي نه دي ذکر کړي.

لغات : الکسل: سستي، کسل کسلا معني کاهل کيدل ، الکبر: بوډا کيدل او ضعيف کيدل

تشريح : لااله الاالله دالله تعالي نه علاوه بل څوك لائق دعبادت نشته، په مشکواة وغيره کې ددينه مخکې واو دی ليکن په بعضي کتابونو کې واو نشته.

وحده: اګر چي دمخکنئ جملي نه هم ديو والي مفهوم معلوميږي ليکن دا جمله يي دمزيد تاکيد دپاره راوړله.

"رب اسئلك خير ما في هذه الليلة وخير مابعدها" ابن جرير ددي دا مطلب بيان کړی دی چي ماته په دي شپه کې دعبادت کولو توفيق راکړه

---

1 - صحيح مسلم / الذكر والدعاء ١٨ (٢٧٢٣) . سنن ابي داود/ الأدب ١١٠ (٥٠٧١) (تحفة الأشراف : ٩٣٨٦)

ددي مطلب دادی چي دشپي کوم ضرر نازليږي دي لره په خير باندي بدل کړي او په مسلم کې ددي په ځاي دا الفاظ دي "اللهم اني اسئلك من خير هذه الليلة وخير مافيها".

واعوذبك من شرما في هذه الليلة وشرمابعدها: دمسلم په يو روايت کې واعوذبك من شرها وشرمابعدها الفاظ راغلي دي او په يو روايت کې دهرم لفظ هم راغلی دی مطلب دادی چي داسي عمر ته ورسيږي چي بعضي اعضاء يي بيکاره او کمزوري شي ددينه قران کريم په ارزل العمر سره تعبيرکړی دی، په بل مقام کې يي داسي فرمايلي دي لکي لا يعلم بعدعلم شيئا، يعني چي سره دپوهي په څه نه پوهيږي داسي عمر ته ورسيږي چي دانسان عقل پکې خراب شي يا پکې بله کومه خرابي راشي.

شيخ عبدالحق وائي په دي کې ترقي ده دادني نه اعلي ته ، اول کسل وي په دي کې خو طاقت وي مګر دستي په وجه کار نه ورکوي بيا په دي پسي حرم راخي چي څه ناڅه طاقت وي او څه کمزوري هم وي بيا په دي پسي سوالکبر راخي چي په دي حالت کې انسان هيڅ قسم کار نشي کولی.

****

٣٣٩١ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ، أَخْبَرَنَا سُهَيْلُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُ أَصْحَابَهُ يَقُولُ: إِذَا أَصْبَحَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ. وَإِذَا أَمْسَى فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ النُّشُورُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (١)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی فرمايي چي رسول الله به صحابه کرامو ته تعليم ورکولو او فرمائيل به يي چي کله صبا شي نو دا دعا وايي: : اللَّهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ يعني ای الله! مونږ ستا په اسره سحر او مابنام کوو اوهم ستادنوم په برکت سره مونږ ژوندي اوسو اومره کيږو او هم ستا طرف ته واپس کيدل دي اوکله چي به مابنام شو نو فرمائيل به يي: اللَّهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ النُّشُورُ" ترجمه دپورتنۍ ترجمی پشان ده
مام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن دی.

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٦٨٨)

لغات اصبح سبا كيدل صبح دفتح نه معني دسحر وخت. صبحا وصبحة سبا كيدل.

تشريح اسلام دژوند دهري شعبي متعلق دعا تجويز کړي ده

دزندگۍ دهري شعبي متعلق دين اسلام دعاګاني خودلي دي ددي وجه داده چي مومنان دهدايت الهي مطابق زندګي تيرول غواړي نو ددوئ دپاره هر وخت دالله نه مدد غوښتلو ته ضرورت دی ددي دپاره چي شيطان ورباندي هيڅ وخت حمله اونکړی شي.

اللهم بك اصبحنا وبك امسينا. دشپي دتيارو نه پس دسحر رڼا ښکاره کيدل دالله تعالي په نعمتونو کي يو بيش بها نعمت دی کچري په شپه پسي سبا رانشي نو دتولي دنيا نظام به ختم شي همدارنګي دورځي په ختميدو سره دشپي راتلل هم دالله تعالي يو زبردست نعمت دی که شپه رانشي نو دانسان دتولي ورځي ستړيا به څنګه ختميږي په دي کي خو يوه اشاره دي خبري ته ده چي هر سحر او مابنام انسان لره دالله تعالي سره ډيل تعلق تازه کول او مستحکم کول پکار دي او دالله دنعمتونو شکر ادا کول پکار دي دويم په دي کي دي خبري ته اشاره ده لکه څرنګه چي شپه ختمه شي او ورځ راشي او بيا دورځي په ختميدو شپه راشي نو داسي زندګي هم ختميږي او بيا به دالله تعالي په وړاندي پيش کيدل وي خلاصه داده چي روزانه سحر او مابنام دالله تعالي دنعمتونو يو طرف ته اعتراف کول او بل طرف ته دزندګۍ دفاني کيدو او مرګ يادول پکار دي.

****

١٤_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٣٣٩٢_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: أَنبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنْ يَعْلَى بْنِ عَطَاءٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَمْرَو بْنَ عَاصِمٍ الثَّقَفِيَّ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ أَبُو بَكْرٍ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مُرْنِي بِشَيْءٍ أَقُولُهُ إِذَا أَصْبَحْتُ وَإِذَا أَمْسَيْتُ، قَالَ: قُلْ: اللَّهُمَّ عَالِمَ الغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِي وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشِرْكِهِ. قَالَ: قُلْهُ إِذَا أَصْبَحْتَ وَإِذَا أَمْسَيْتَ وَإِذَا أَخَذْتَ مَضْجَعَكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه دا هم روايت دی چي ابوبکر صديق رضي الله عنه رسول

---

[1] ـ ابي داود/الأدب ١١٠ (٥٠٦٧) (تحفة الأشراف: ١٣٢٤٢) واحمد (٢/٢٩٧) . وسنن الدارمي/الاستئذان ٥٤ (٢٧٣١)

الله صلي الله عليه وسلم ته عرض اوكرو چي ماته داسی كلمات اوفرماني چي سحر او مابنام هغه وظيفه جوړه كړم رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا كلمات " اللَّهُمَّ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ. أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِي وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشِرْكِهِ. " يعني ای الله چي ته د اسمانونو او زمكی پيدا كونكی يی دغيب اوښكاره عالم يی دهر څيز رب اودهغی مالك يی ، زه ګواهي وركوم چي اله بل نشته صرف هم ته یی زه دخپل نفس دشرارتونو اودشيطان دشر اودهغه په شرك كې دمبتلاكولو نه ستا پناه غواړم رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي دا كلمات سحر او مابنام اود اوده كيدو دپاره په بستره باندي د څملاستو په وخت لوله

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

لغات : فاطر: بغير دنموني او نقشي نه ديو شي پيدا كونكي ، فطر دنصر او ضرب نه فطرا پيدا كول. الغيب: غائب كيدل ، غاب غيبا وغيبة وغيابا وغيوبا ومغيبا معني غائب كيدل، لري كيدل.

تشريح : "قال يارسول الله " ليكن دمشكواة په يو روايت كې ددي لفظ په ځاي قلت يارسول الله دی مګر دمحدثينو په نزد بغير دقلت نه زيادت بهتر دی.

اذا امسيت، په مسند احمد كې ددي په ځاي دا الفاظ دي اذا اخذت مضجعك.

فاطر السموات والارض: دفاطر معني داده چي كوم څيز بغير دكومي سابقه نموني او مثال نه جوړ كړی شي.

عالم الغيب والشهادة: دلته او په بعضي روايتونو كې دا جمله دفاطر السماوات والارض نه وروسته ده او په بعضو كې دفاطر السماوات والارض نه مخكې ده.

من شر نفسي: يعني هغه نفس كوم چي خواهشاتو والاوي او دهدايت خلاف وي هم دي ته اشاره ده په ومن اضل ممن اتبع هواه بغير هدي من الله.

ومن شر الشيطان . ددينه هغه شيطان مراد دی كوم چي په انسان مسلط وي او دبعضو په نزد جنس شيطان مراد دی او يا ورنه ابليس مراد دی.

****

١٥_ باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٣٩٣_حَدَّثَنَا الحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ العَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لَهُ: " أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى سَيِّدِ الاِسْتِغْفَارِ؟ اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ وَأَبُوءُ إِلَيْكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَعْتَرِفُ بِذُنُوبِي، فَاغْفِرْ لِي ذُنُوبِي إِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ، لَا يَقُولُهَا أَحَدُكُمْ حِينَ يُمْسِي فَيَأْتِي عَلَيْهِ قَدَرٌ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الجَنَّةُ، وَلَا يَقُولُهَا حِينَ يُصْبِحُ فَيَأْتِي عَلَيْهِ قَدَرٌ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الجَنَّةُ ". وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَابْنِ أَبْزَى، وَبُرَيْدَةَ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ، وَعَبْدُ العَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ هُوَ ابْنُ أَبِي حَازِمٍ الزَّاهِدُ. وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الوَجْهِ عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. (1)

ترجمه : دشداد بن اوس رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته فرمانيلي دي بهتر استغفار ايا درته ونه ښايم؟ (او هغه دادى، چي بنده اووائي: : «اللهم أنت ربي لا إله إلا أنت خلقتني وأنا عبدك وأنا على عهدك ووعدك ما استطعت أعوذ بك من شر ما صنعت وأبوء لك بنعمتك علي وأعترف بذنوبي فاغفر لي ذنوبي إنه لا يغفر الذنوب إلا أنت» يعني ، اى الله ته څما رب يې دعبادت لايق بل هيڅوك نشته بغير ستانه، تا پيدا كړى يمه ستا بنده يم څومره چي مى وس كيږي تاسره كړى وعده باندى قايم يمه، دخپلو ناكاره كارونو دسرا نه ستا پناه غواړم زه اقرار كوم چي ستا نعمتونه او احسانونه په ماډير دي او دا اقرار كوم چي زه ډير ناشكره او ډير گنهگار يم ته راته گناهونه معاف كړى څكه چي بغير ستانه بل هيڅوك گناهونه نشي معاف كولى ، چا چي دا استغفار په صدق سره دورځى په شروع كي يعني سحكي اووئيلو او ماښام نه مخكي وفات شو جنتي دى او چاچي دشپي په شروع كي په صدق سره اووئيل او په دى شپه صبا كيدو نه مخكي وفات شو جنتي دى.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث په دي سند حسن غريب دى او اود عبد العزيز بن ابي حازم اسم كنيه ابن ابي حازم زاهد ده ، اودا راويت ددي سند نه علاوه د شداد بن اوس رضي الله عنه نه په نورو سندونو هم مروي دى

لغات : امام نووي فرمائي ابو لفظ كي الف پسى ب ده وړباندى پيښ دى وريسى واو دى او

---

(1) ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٤٨٢٥) (وأخرجه صحيح البخاري/الدعوات ٢ (٦٣٠٦) . وسنن النسائي/الاستعاذة ٥٧ (٥٥٢٢) ، ومسند احمد (٤/١٢٢، ١٢٥)

وريسی همزه ده معني يی ده زه اقرار کوم:
عبادة عبد عبادة ، عبودة وعبودية ومعبدا ومعبدة ، معني يوګنړل، خدمت کول، ذليل کيدل، او پرستش کول
تشريح : دي استغفار ته سيد الاستغفار ونيلی شوی دی علامه طيبي وائي چي دا تمامو مقاصدو لره جمع کونکی دی ځکه ورته سيد الاستغفار ونيلی شوی دی
"من شرماصنعت" يعني دهغه شر نه کوم چي ما کړی وي يعني کوم عذاب چي په دي ګناه نازليږي دهغي نه پناه غواړم
دابن ابي جمره بيان دی چي ددي حديث شاندار الفاظ او بهترين معاني ددي لائق دي چي سيدالاستغفار ورته اوونيلی شي ځکه چي په دي کې دالله تعالي دالوهيت سره دخالقيت اعتراف هم دی او په دي کې دهغي واقعي اقرار هم دی کوم چي دبنده نه لوظ اخستلی شوی دی او دکومو څيزونو چي الله وعده کړي ده دهغي ذکر هم دی او دهغه جرمونو اعتراف هم دی کوم چي بنده کړي دي او دمغفرت طرف ته درغبت اظهار هم دی اوپه اخر کې ددي خبري اعتراف هم دی چي الله تعالي په دي هر څه باندي قدرت لري.

دشداد بن اوس رضي الله عنه مختصر حالات

نوم شداد کنيت ابو يعلي يا ابوعبدالرحمن ابو خزرج کي يي د بنو نجار قبيلي سره تعلق وو شداد دمشهور شاعر حسان بن ثابت وراره وو دپلار نوم يي اوس بن ثابت وو او دمور نوم يي عرصيه وو پلار او تره وغيره تمام خاندان يي په يو ځاي اسلام قبول کړي وو دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دوفات نه پس په شام ، فلسطين، بيت المقدس، او حمص کي اوسيدلي وو .
عباده بن ثامت رضي الله عنه به فرمائيل شداد دهغه خلقو نه دي څوك چي دعلم او حلم مجمع البحرين دي (اسد الغابه).
شداد ډير عبادت ګذار وو اکثر به چي دشپي دارام کولو دپاره پريوتو نو واپس به پاڅيدو او توله شپه به يي په مونځ کي تيروله او دا به يي فرمائيل "اللهم ان النار قد حالت بيني وبين النوم" يعني اي زما پروردګاره اور زما او زما دخوب په مينځ کي حائل شوي دي (اسدالغابه).
ابوهريره رضي الله عنه به فرمائيل بيان اذا نطق ويکظم اذا غضب. يعني دخبرو په وخت کي به يي وضاحت کولو او دغصي په وخت کي به يي صبر کولو.
وفات: په ۵۸هجري کي دپينځه اويا کالو په عمر کي وفات شو او په بيت المقدس کي دفن کړي شو دمرو ياتو شمير يي پنځوس دي چي يو په بخاري کي او يو په مسلم کي او باقي په نورو کتابونو دحديث کي موجود دي.

****

١٦ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الدُّعَاءِ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ

داوده كيدو دپاره بستري ته دورتلو وخت كي كومه دعا وئيل پكار دي

٣٣٩٤ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ. عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيِّ. عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ. أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ لَهُ: "أَلَا أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ تَقُولُهَا إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ. فَإِنْ مُتَّ مِنْ لَيْلَتِكَ مِتَّ عَلَى الْفِطْرَةِ وَإِنْ أَصْبَحْتَ أَصْبَحْتَ وَقَدْ أَصَبْتَ خَيْرًا. تَقُولُ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ وَوَجَّهْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ لَا مَلْجَأَ وَلَا مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ. آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ وَنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ". قَالَ الْبَرَاءُ: فَقُلْتُ: وَبِرَسُولِكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ. قَالَ: فَطَعَنَ بِيَدِهِ فِي صَدْرِي، ثُمَّ قَالَ: وَنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنِ الْبَرَاءِ. وَرَوَاهُ مَنْصُورُ بْنُ الْمُعْتَمِرِ. عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ. عَنِ الْبَرَاءِ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. نَحْوَهُ. إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ وَأَنْتَ عَلَى وُضُوءٍ. وَفِي الْبَابِ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.[1]

ترجمه: دبراء بن عازب نه روايت دى چي ماته رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ايا يو څو كلمات درته ونه ښايم چي ته به يي وايي:(او هغه دادي): «اللهم إني أسلمت نفسي إليك ووجهت وجهي إليك وفوضت أمري إليك رغبة ورهبة إليك وألجأت ظهري إليك لا ملجأ ولا منجى منك إلا إليك آمنت بكتابك الذي أنزلت ونبيك الذي أرسلت" يعني كله چي خپلي بستري ته راځي نو دا جمله وايه، يا الله! ما خپل ځان تاته اوسپارلو او خپل مخ مې تا طرف ته اوګرځولو او خپل ټول كارونه مې تاته اوسپارل خپله شامي تاته اولګوله (ته مې تكيه كړې) دستا داجر په طمع او ستا دعذاب دويري نشته دتيښتي ځاي او نشته دبچ كيدو ځاي بې له تا نه ايمان راوړم ستا په هغه كتاب چي تا نازل كړى دى او ستا په هغه نبي چي تاراالستولى دى، براء بن عازب وايي چي ما ووئيل وبرسولك الذي ارسلت نو په سينه يي په لاس يو ګذار راكړو.او بيايي اوفرمائيل چي وبنبيك الذي ارسلت وايه.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دي او دا حديث دبراء رضي الله عنه نه په يو څو سندونو مروي دي، دا حديث منصور بن معتمر دسعد بن عبيده نه او سعد دبراء په

---

[1] ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٢١٥ (٧٥٩)، و ٣٢٢ (٧٧ ٪ ٧٨٢) (تحفة الأشراف: ١٨٥٨)

واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه په همدي مضمون نقل كړي دي البته دمنصور په روايت كي دومره فرق دي چي كله ته خپلي بستري ته راشي او د اودس په حالت كي يې نو دا دعا وايه. او په دي باب كي درافع بن خديج رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

لغات: فوض: فوض تفويضا دتفعيل باب نه په معني د اختيار سپارلو دي.

رغبة: رغب دسمع نه په معني دغوښتلو دي خواهش كولو او محبت كولو په معني هم دي.

رهبة: رهب رهبة دسمع نه په معني دويريدو دي.

ملجا. معني خاي دپناه ، جمع يې ملاجي راځي.

اضطجع : ضجع ضجعا دفتح نه په معني د ډډي وهلو دي.

تشريح : محقق وشارح جديث نبوي محمد حسين صديقي ددي حديث په تشريح كي ليكلي دي:

په دي دعا كي اوه جملي دي

(۱) اسلمت نفسي اليك. ددي مطلب دادی چي ما خپل ځان او دكار كولو تمام قوتونه داعضاء او جوارح خواهشونه او ارادي تاته سپارلي دي نو اى الله كله چي زه تاته اوسپارلی شوم نو كوم كار چي ستا خوښ وي هغه رانه واخلي.

(۲) ووجهت وجهي اليك. يعني دتمام كائنات نه مي مخ ستون كړو او صرف ستا طرف ته متوجه شوم، ددي دويم نوم په الله باندي توكل كول دي كله چي بنده الله تعالي ته حواله شي نو بيا دی خپلو اسبابو اوتدابير او كوشش ته دذري برابر اهميت هم نه وركوي.

(۳) وفوضت امري اليك. يعني ما خپل كار او هره معامله ستادعلم او حكمت تابع كړي ده او كومه چي ستامرضي وي هغه به زما مرضي وي او همدي ته مقام رضي وئيلی شي.

(۴) والجات ظهري اليك. او ماخپله شا ستاطرف ته تيته كړي ده زه چي په خپلو كارونو كي تدبير اوكوشش كوم دي كار لره تكميل ته رسول ستا په فضل او كرم سره كيږي نو ته راته ددي توفيق راكړي او زما ظاهري اسباب دحقيقي مؤثر په مقابله كي هيڅ حيثيت نه لري او همدي ته دعبديت مقام وئيلی شي.

(۵) رغبة ورهبة اليك. يعني انسان تمام كارونه هم ددي دوه وجو نه كوي كله دشوق په وجه يو كار كوي او كله يې دخوف په وجه كوي.

(۶) ولاملجاء ولامنجاء منك الا اليك. يعني كه ما دالله تعالي نه علاوه په بل چا اعتماد اوكړو او كه ته زما نه ناراضه شوي نو زما دا يقين او ايمان دی چي په ما به قهر او غضب نازليږي او ستا دقهر او غضب نه بچ كونكی او نجات وركونكی هم ستانه علاوه بل څوك نشي كيدی

پس ستا دنار اضتيانه نجات راکړي او دا ستا په عفوي او کرم سره ملاويدی شي.

(٧) امنت بکتابك الذي انزل ونبيك الذي ارسلت. په دي جمله کې بنده دخپل عبديت اظهار کوي چي ای الله زه تالره او ستانبي لره اوستاد کتاب منونکی يم اګر چي شيطان دوکه کړی يم او ګنهګار يم مګر زه په تا ايمان لرم نو په دي وجه ای الله ماته معافي اوکړي.

****

٣٣٩٥_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ إِسْحَاقَ ابْنِ أَخِي رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " إِذَا اضْطَجَعَ أَحَدُكُمْ عَلَى جَنْبِهِ الأَيْمَنِ، ثُمَّ قَالَ: اللَّهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ وَوَجَّهْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ لاَ مَلْجَأَ وَلاَ مَنْجَى مِنْكَ إِلاَّ إِلَيْكَ أُومِنُ بِكِتَابِكَ وَبِرَسُولِكَ فَإِنْ مَاتَ مِنْ لَيْلَتِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. ([1])

ترجمه: د رافع بن خديج رضي الله عنه نه روايت دی چي ماته رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل کله چي يو کس په تاسو کي په ښي اړخ څملي او بيا دا کلمات اووايي: ": «اللهم أسلمت نفسي إليك ووجهت وجهي إليك وألجأت ظهري إليك وفوضت أمري إليك لا ملجأ ولا منجى منك إلا إليك أومن بكتابك وبرسولك» " "اووايي يعني، يا الله؛ ماخپل ځان تاته اوسپارلو او خپل مخ مي تا طرف ته اوګرځولو او خپله شاملی تاته اولګوله (تاته مي تکيه کړي ده)، او خپل ټول کارونه مي تاته اوسپارل او ستا دعذاب دويري نښته دتيښتي ځاي او نښته دبچ کيدو ځاي بی له تا نه ، ايمان راوړم ستا په هغه کتاب چي تا نازل کړی دی او ستا په هغه نبي چي تاراستولی دی، نو که دا کس په دي شپه کې مړ شي نو جنت ته به داخل شي.

امام ترمذي رحمه الله وايي دا حديث درافع بن خديج رضي الله عنه په روايت حسن غريب دي.

لغات: شقك ، جانب ، کناره والجائت سپارل ملجاء دلجيه لجا فتح نه او سمع نه په معني دپناه اخستلو.

فوضت فوّض تفويضا الامر اليله ، معني سپارل، المرءة دښځي سره بغير دمهر نه نکاح کول.

تشريح: اود مسلم په يو بل روايت کي دبراء رضي الله عنه نه داسي روايت شوي دي چي ماته رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل کله چي بستري ته ځي نو دمانځه په شان اودس

[1] ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٢٢٢ (٧٧١) (تحفة الأشراف: ٣٥٨٩)

اوکړه ، په ښي اړخ پریوځه او دا الفاظ اووایه څنګه چي مخکې روایت کې بیان شوي دي بیایي اوفرمائیل دا الفاظ به ستا اخري الفاظ وي یعني دی نه پس بیانوري خبري مه کوه.
حافظ ابن حجر وائي چي په ښي ډډه څملاستل دبیداریدو دپاره زیات مفید دي په دي حالت کې زړه زوړند وي په دي وجه دخوب نه بوج نه پیداکیږي او نه سړي لره دغفلت خوب راځي
طبیبان هم داسي وائي چي په ښي ډډه پریوتو په وجه خوراك زر هزم کیږي
شقك الایمن قاضي عیاض وائي په ښي اړخ پریوتوکې دا فائده ده چي دانسان زړه چپ طرف ته وي نو که دی په ښي طرف څملي نو په خوب کې به بالکل مستغرق نه وي او زیات راحت او سکون به ورته ملاو شي خو غفلت والابه نه وي، نو په تهجدو کې به ورته پاڅیدل اسان وي او که ددي په خلاف څملي نو دغفلت خوب به وربانديراشي او پاڅیدل به ورته ګران شي
ملا علي قاري وائي چي په ګسه ډډه پریوتل دزړه دپاره نقصاني دي او په ښي ډډه پریوتلو کې یو حکمت دا هم دی چي ددي په سبب سړي ته قبر رایادیږي او بیا هغه مسنون دعا لوستل هم پکار دي کومه چي په حدیث کې ذکر شوه په دي دعا کې دشپي دپریوتو په وخت کې دخپل ایمان او اسلام او الله سره دکړو وعدو تجدید دی هر مسلمان لره پکار دي چي دا تجدید دشپي اوکړي تردي چي تمامه ورځ یي الله یاد وي او ورنه هیرنشي.
سوال: رسول الله به په ښي اړخ ولي څملاستو دهغه زړه خوبه بیدار وو هیڅ کله به نه غافل کیدو.
جواب: رسول الله په شرف والاهر کار کې ښی طرف خوښولو دویم دا چي په دي کې دامت دپاره تعلیم دی.

اللهم اسلمت نفسي: ای الله ماتاته خپل ځان سپارلی دی یعني خپل ځان مي ستا تابع کړی دی څکه چي هیڅ نفع نشي ملاویدی او هیڅ تکلیف نشي لري کیدی ترڅوپوري چي تا غوښتلي نه وي زه تاته سپارلی شوی یم نو اوس که په ما هر څه حال راځي زه به په تا باندي اعتراض اونکړم.

وفوضت امري الیك: او ما خپل هر یو کار تاته سپارلی دی

والجئت ظهري الیك: لکه څرنګه چي دملا په زور خلق ډډه وهي او قوت حاصلوي نو همدارنګي ما هم په تمامو کارونو کې ستا په قوت اعتماد کړی دی.
رغبة: دثواب په امید ،ورهبة :او دعذاب دویري نه .

****

۳۳۹٦_حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ. أَخْبَرَنَا عَفَّانُ بْنُ مُسْلِمٍ. حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ. عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ قَالَ:

الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَكَفَانَا وَآوَانَا وَكَمْ مِمَّنْ لَا كَافِيَ لَهُ وَلَا مُؤْوِيَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه : انس بن مالك رضي الله عنه وائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به كله داوده كيدو دپاره خپلى بسترى ته تشريف راوړلو نو فرمانيل به يى: «الحمد لله الذي أطعمنا وسقانا وكفانا وآوانا فكم ممن لا كافي له ولا مؤوي» " ، يعني ټول تعريفونه هغه الله دپاره دي چاچي په مونږ باندى خوراك څكاك اوكړو زمونږ كارونه يى پوره كړل اومونږ ته يى ځاى هم راكړو حالانكه ډير خلق داسى هم شته چي نه دهغوي كار پوره كړى شو او نه هغوىٔ ته څه ځاىٔ وركړى شو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح غريب دي.

لغات : اوي: ټهكانه وركول، اوي دضرب نه اويا واواء ځاي نيول، كافي: كفي يكفي كفاية ، كافي كيدل، دضرب نه او په مزيدو كې دباب افعال نه مستعمل دي.

تشريح : "كفانا" مطلب دادى چي په ضرر وركونكو او حلال وركونكو څيزونو نه يي بچ كړل او زمونږ ضرورتونه يي پوره كړل.

واوانا: او مونږ ته يي ځاي راكړو يعني داوسيدو دپاره كور دحيواناتو پشان يي مونږ اونه ګرځولو چي دهغوىٔ دپاره دسر دپټولو ځاي نه وي.

فكم ممن لاكافي له ولاموي: اوڅومره خلق داسي شته دچا دپاره چي كفايت كونكى او ځاي وركونكى شته يعني ډير خلق ددشمنانوپه قبضه كې دي او دحال دتپوس يي څوك نشته نو الله تعالي مونږ داسي نه يو ګرځولي دويم مطلب دادى كوم چي دقران كريم ديو ايت نه معلوميږي ذلك بأن الله مولي الذين امنوا وان الكافرين لامولي لهم. مطلب دادى چي الله تعالي مونږ مسلمانان پيدا كړو او دخپلو نعمتونو دشكر ادا كولو موقعه يي راكړه نو په دي وجه الله زمونږه مدتګار او ناصر دى په دنيا كې څومره ملحدين كافران او مشركان موجود دي څوك چي الله او دالله نعمتونه نه پيژني نو دداسي خلقو سره دالله مدت نشته دالله مدت صرف دمسلمانانو سره وي څوك چي دهغه دنعمتونو شكر ادا كوي. دريم مطلب په دنيا كې څومره ډير داسي خلق دي چي دخوراك څيزونه نشي خوړلي او دڅكلو څيزونه نشي څكلى او دوىٔ لره دتكليفونو نه بچ كونكى څوك نشته څكه چي ددوىٔ دپاره هلاكت ليكلى شوى دى نو الله

[1] ـ صحيح مسلم/الذكر والدعاء ١٧ (٢٧١٥) . سنن ابي داود/ الأدب ١٠٧ (٥٠٥٣) (تحفة الأشراف : ٣١١) . و مسند احمد (١٥٣/٣، ١٦٧، ٢٣٥)

تعالي په مونږ فضل کړی دی چې مونږه یې دهلاکیدونکو نه نه یو ګرځولي او مونږ ته یې خپل ټول نعمتونه راکړي دي.

****

۱۷_باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق یو بل باب

۳۳۹۷_حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْوَصَّافِيِّ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَنْ قَالَ حِينَ يَأْوِي إِلَى فِرَاشِهِ: أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ الْعَظِيمَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيَّ الْقَيُّومَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ غَفَرَ اللَّهُ لَهُ ذُنُوبَهُ، وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ، وَإِنْ كَانَتْ عَدَدَ وَرَقِ الشَّجَرِ، وَإِنْ كَانَتْ عَدَدَ رَمْلِ عَالِجٍ وَإِنْ كَانَتْ عَدَدَ أَيَّامِ الدُّنْيَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ الْوَصَّافِيِّ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ الْوَلِيدِ. [1]

ترجمه دابوسعید خدري رضي الله عنه نه روایت دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي څوك چې خپلي بستري ته د اوده کیدو دپاره ورځي نو دري پیري دي دا دعا اووائي " أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ الْعَظِيمَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيَّ الْقَيُّومَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ " یعني زه دهغه عظیم ذات نه مغفرت غواړم دچا نه علاوه چې بل مستحق دعبادت نشته او هغه همیشه ژوندي او ابدي قائم او دانم دي او زه ورته رجوع کوم. الله تعالي به دده ګناهونه معاف کړي اګر که دا ګناهونه دده دسمندر دزګ برابر بي شمیره وي او اګر که دده ګناهونه د اونو دپاڼړو په مقدار وي او اګر که دده ګناهونه دشګو دذراتو په تعداد کي وي او اګر که هغه ددنیا دورځو سره برابر وي

امام ترمذي رحمه الله وایي داحدیث حسن غریب دي مونږ یې صرف په همدي سند دعبیدالله بن ولید وصافي په روایت پیژنو.

****

۱۸_باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق یو بل باب

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ۴۲۱۴)

۳۳۹۸_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَنَامَ وَضَعَ يَدَهُ تَحْتَ رَأْسِهِ، ثُمَّ قَالَ: اللَّهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَجْمَعُ أَوْ تَبْعَثُ عِبَادَكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : حذيفه رضي الله عنه وائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به کله اوده کيدو نو لاس به يي د سر لاندي (مخ) لاندي، کيخودو او بيا به يي دا دعا لوستله

"اللَّهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَجْمَعُ عِبَادَكَ" ((يا)) : اللَّهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ"

يعني اى الله ما دهغه ورځ دعذاب نه بچ کړى په کومه ورځ چي ته خپل بندګان پاخوى (دحشر ورځ) ترمذي دا روايت کړى دى او ونيلي يى دي چي حديث حسن دى . او ابو داود په روايت دام المومنين حفصى رضي الله عنها دا بيان کړى دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دا دعا درى خله فرمائيله.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دى.

لغات : تبعث دفتح نه بعثا وتبعاثا ليګل دسمع نه بعثا بيداريدل.

تشريح : قني عذابك: دخپل عذاب نه مي بچ کړي،دلته دا سوال پيدا کيږي چي رسول الله خو معصوم وو نو دا دعا به يي ولي ونيله ؟

اول جواب دانکساري او تواضع په وجه.

دويم جواب دامت دتعليم دپاره

تبعث عبادك په يو بل روايت کي تجمع عبادك هم راځي ددواړو يو مفهوم دى

سوال: رسول الله به دا دعا دشپي ولي ونيله حال دادى چي دا دعا خو داسي ده چي دورځي يي غوښتل پکار دي

جواب دورځي يي هم دا دعا غوښتلى شوه خو رسول الله به دشپي ځکه غوښتله چي خوب دمرګ خور ده ممکن ده چي دشپي مړ شم پکار ده چي دمرګ نه مخکي الله تعالي ته توبه او معذرت اوکړم په يو روايت کي راځي چي دا دعا دري پيري ونيل پکار دي

په بعضي روايتونو کي راځي چي دپريوتو نه مخکي به درسول الله صلي الله عليه وسلم لاس په مخ پروت وو لکه چي په پورتني حديث کي دي ليکن په بل روايت کي راځي رسول الله به خپل لاس دخپل سر لاندي ايخودلو په دي دواړو روايتونو کي علماؤ دا تطبيق کړى دى چي کله به

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۳۳۴۰)

يي لاس دمخ دلاندي وو او كله به دسر دلاندي وو دجدا جدا حالتونو متعلق دا احاديث دي.

****

٣٣٩٩_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، أَخْبَرَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ هُوَ السَّلُولِيُّ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ يُوسُفَ بْنِ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَسَّدُ يَمِينَهُ عِنْدَ الْمَنَامِ، ثُمَّ يَقُولُ: رَبِّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَرَوَى الثَّوْرِيُّ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ لَمْ يَذْكُرْ بَيْنَهُمَا أَحَدًا، وَرَوَى شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ وَرَجُلٌ آخَرَ، عَنِ الْبَرَاءِ، وَرَوَى إِسْرَائِيلُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الْبَرَاءِ، وَعَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِثْلَهُ. (١)

ترجمه : براء بن عازب رضي الله عنه وائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به كله اوده كيدو نو ښى ورغوى به يى دښي اننكي (مخ) لاندى كيخودو او بيا به يى دا دعا لوستله: اللَّهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ "" اى الله ما دهغه ورځ دعذاب نه بچ كړى په كومه ورځ چي ته خپل بندګان پاځوى (دحشر ورځ) ترمذي دا روايت كړى دى او ونيلي يى دي چي حديث حسن دى ، او ابو داود په روايت دام المومنين حفصى رضي الله عنها دا بيان كړى دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دا دعا درى خله فرمائيله.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي او دا حديث ثوري دابواسحاق نه او هغه دبراء نه نقل كړي دي او ثوري ددوئ دواړو يعني دابو اسحاق او براء په مينځ كي كومه واسطه نه ده ذكر كړي، دارنګي دا روايت شعبه دابو اسحاق نه او هغه دابوعبيده نه نقل كړي ده او بيا يو بل كس دبراء رضي الله عنه نه نقل كړي دي، دا رنګي دا حديث اسرائيل دابو اسحاق نه او ابواسحاق دعبدالله بن يزيد په واسطه دبراء رضي الله عنه نه نقل كړي دي دا رنګي دا روايت ابو اسحاق دابوعبيده نه او هغه دعبدالله بن مسعود په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه په دي مضمون نقل كړي دي.

****

١٩_باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يو بل باب

---

[1] _ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٢١٥ (٧٥) ٢ ٧٥٨) (تحفة الأشراف : ١٩٢٢) ، ومسند احمد (٤/٢٩٠، ٢٩٨)

٣٤٠٠_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ، عَنْ سُهَيْلٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا إِذَا أَخَذَ أَحَدُنَا مَضْجَعَهُ أَنْ يَقُولَ: اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَوَاتِ وَرَبَّ الأَرَضِينَ، وَرَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ، فَالِقَ الْحَبِّ وَالنَّوَى، وَمُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ ذِي شَرٍّ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ، أَنْتَ الأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ وَالظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ وَالْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ، اقْضِ عَنِّي الدَّيْنَ وَأَغْنِنِي مِنَ الْفَقْرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم به كله داوده كيدو وخت كي مونږ ته ددي دعا وئيلو حكم كولو: « اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَوَاتِ وَرَبَّ الأَرْضِ وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ فَالِقَ الْحَبِّ وَالنَّوَى مُنَزِّلَ التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ ذِي شَرٍّ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ أَنْتَ الأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ. اقْضِ عَنِّي الدَّيْنَ وَأَغْنِنِي مِنَ الْفَقْرِ ».
بعني اي زما پروردګاره خاص ته پروردګار د اسمانونو او د زمكي يي او رب د هر يو شي يي، شلونكي ددانې اود زړي يي، نازلونكي دتورات او انجيل او قران يي، پناهي غواړم په تا باندي د شر د هر شر والا نه چي ته يي نيونكي د تندي يي پس ته اول يي او نشته هيڅ شي مخكي ستا نه او ته د هر شي نه اخير يي پس نشته ستا نه وروسته هيڅ يو شي او ته ظاهر يي نشته دپاسه ستا هيڅ يو شي او ته باطن يي نشته اخوا ستا نه هيڅ يو شي پس زما قرض ادا كړي او د فقر نه مي خلاص كړي.
امام ترمذي وايي چي دا حديث حسن صحيح ذى.

****

٢٠_باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٤٠١_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ الْمَكِّيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي

[1] ـ صحيح مسلم/الذكر والدعاء ١٧ (٢٧١٣) سنن ابي داود/الأدب ١٠٧ (٥٠٥١) سنن ابن ماجه/الدعاء ٢ (٣٨٧٣) (تحفة الأشراف: ١٢٦٢١) . و مسند احمد (٢/٤٠٢)

هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ عَنْ فِرَاشِهِ ثُمَّ رَجَعَ إِلَيْهِ فَلْيَنْفُضْهُ بِصَنِفَةِ إِزَارِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي مَا خَلَفَهُ عَلَيْهِ بَعْدَهُ، فَإِذَا اضْطَجَعَ فَلْيَقُلْ: بِاسْمِكَ رَبِّي وَضَعْتُ جَنْبِي وَبِكَ أَرْفَعُهُ، فَإِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي فَارْحَمْهَا، وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ، فَإِذَا اسْتَيْقَظَ فَلْيَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانِي فِي جَسَدِي، وَرَدَّ عَلَيَّ رُوحِي، وَأَذِنَ لِي بِذِكْرِهِ ". قَالَ: وَفِي البَابِ، عَنْ جَابِرٍ، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ وَقَالَ: فَلْيَنْفُضْهُ بِدَاخِلَةِ إِزَارِهِ. [1]

ترجمه ابوهريره رضي الله عنه بيان كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي په تاسو كي كله څوك داوده كيدو دپاره خپلى بسترى ته راشي نو هغه له پكار دي چي دلنګ ديو پلو په دننه حصى سره بستره لر شان اوڅنډي پته نشته چي دده دتلو نه پس بستره باندى څه څيز پريوتى وي بسترى څنډلو سره دا كلمات اووائي: بِاسْمِكَ رَبِّي وَضَعْتُ جَنْبِي وَبِكَ أَرْفَعُهُ، فَإِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي فَارْحَمْهَا، وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ ترجمه، ستا دنوم سره اى خما ربه زه په بستره باندى څملم اوددى نه پاسم كه چرى ته خما روح قبض كړى نو بيا په هغه باندى رحم اوكړى اوكه چرى ته هغه ازاد كړى (چي نور هم ژوندى وي) نو بيا خو دهغه داسى حفاظت اوكړى څنګه چي دخپلو خوښو بندګانو حفاظت كوى . او كله چي د خوب نه بيدار شي نو دا كلمات ووايي: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانِي فِي جَسَدِي، وَرَدَّ عَلَيَّ رُوحِي، وَأَذِنَ لِي بِذِكْرِهِ" يعني ثنا دد هغه ذات لره چا چي ماته عافيت راكړى دى او واپس يي كړو ماته روح زما او اجازت يي وكړو ماته د ذكر خپل.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دابوهريره داحديث حسن دي او بعضي نورو راويانو هم داحديث نقل كړي دي او په هغه روايت كي هغوئ "فالينفضه بداخلة ازاره" لفظ استعمال كړي دي او د بداخلة ازاره نه مراد دلنګ داخلي حصه ده، او په دي باب كي دجابر او عائشه رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

لغات : فلينقض دنصر نه توتي كول، خلفه: معني شاته شاته راتلل ، خلف خلافة معني جانشين مقرريدل

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الدعوات ١٣ (٦٣٢٠) . والتوحيد ١٣ (٧٣٩٣) (تعليقا ومتصلا) صحيح مسلم /الذكر والدعاء ١٧ (٢٧١٤) . سنن ابي داود/ الأدب ١٠٧ (٥٠٥٠) . سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٢٥٨ (٨٩٠) . سنن ابن ماجه/الدعاء ١٥ (٣٨٧٤) (تحفة الأشراف : ١٣٠٣٤) . وسنن الدارمي/الاستئذان ٥١ (٢٧٢٦)

تشريح : اذا اوي احدكم الي فراشه: دا روايت په ابن ماجه کې داسي دی اذا اراد احدكم ان يضطجع علي فراشه. او په ترمذي کې داسي دی اذا قام احدكم علي فراشه ثم رجع اليه

فلينفض فراشه بداخلة ازاره: يعني بستره دي په څه څيز اوڅنډي چي کوم ضرري او نقصاني څيز وي چي هغه ورنه پريوځي

مطلب دادی چي کله څوك خپلي بستري ته ورشي نو پکار ده چي په کومه کپړه وغيره يي اوڅنډي ددي دپاره چي کوم ضرري څيز وي چي هغه ورنه لاړ شي.

امسكت نفسي کله چي انسان اوده کيږي نو په عارضي طور سره يي روح قبض کيږي او چي بيداريږي نو روح ورته واپس راځي او که روح په مستقل طور قبض شوی وي نو بيا واپس نه راځي ددي مطلب دا شو چي ای الله که په دي پروتو کې تا زما روح په مستقل طور اخستلی وي نو ماته مغفرت اوکړه او که ته ددي پريوتو نه پس زما روح واپس ماته راليږي نو بيا زما نګهباني اوکړه او ماته دنيکو کارونو توفيق راکړه لکه څرنګه چي تا خپلو نيکانو بندګانو ته ورکړي ده.

****

٢١_باب مَا جَاءَ فِيمَنْ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ عِنْدَ الْمَنَامِ

داوده کيدو وخت کې دقران دتلاوت کولو بيان

٣٤٠٢_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا الْمُفَضَّلُ بْنُ فَضَالَةَ. عَنْ عُقَيْلٍ. عَنِ ابْنِ شِهَابٍ. عَنْ عُرْوَةَ. عَنْ عَائِشَةَ. أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ كُلَّ لَيْلَةٍ جَمَعَ كَفَّيْهِ ثُمَّ نَفَثَ فِيهِمَا. فَقَرَأَ فِيهِمَا: قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ثُمَّ يَمْسَحُ بِهِمَا مَا اسْتَطَاعَ مِنْ جَسَدِهِ يَبْدَأُ بِهِمَا عَلَى رَأْسِهِ وَوَجْهِهِ وَمَا أَقْبَلَ مِنْ جَسَدِهِ. يَفْعَلُ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : عائشه رضي الله عنها فرمائي چي هره شپه به رسول الله صلي الله عليه وسلم بستری ته تشريف راوړلو نو دواړه ورغوي به يي يوځای کړل بيا به يي قل هوالله . قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس اولوستل. په هغې به يی دم کړل او بيا به يی په بدن باندی کوم ځای پوری به چي لاس رسيدو لاس به يی پري راخکلو ، دسر او مخ نه به يی شروع کوله اورومبی به

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الدعوات ١٢ (٦٣١٩) . سنن ابي داود/ الأدب ١٠٧ (٥٠٥٦) . سنن ابن ماجه/الدعاء ١٥ (٣٨٧٥) (تحفة الأشراف : ١٦٥٣٤)

یی دبدن په مخکې حصه باندی لاس راخکلو او دری خله به یی دغسي کول.
امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح غريب دی.
لغات : نفث: معني پوكي چي لاړي پکې نه وي، رأسه : معني سر جمع رؤوس راخي، وجهه معني مخ جمع يي وجوه راخي.
تشريح : دشپي داوده پاتي كيدو او دغفلت دخوب په وجه په زړه باندي يو خاص قسم زنګ لګي انسان لره پكار دي چي دپريوتو نه مخكې دالله ذكر نه پريږدي برابره خبره ده چي دمعوذتينو تلاوت وي او كه نور تسبيحات وي او كه مسنون دعاګاني وي، نه صرف داچي دغفلت تدارك كيږي اود زړه شيشه دمكدر كيدو نه محفوظ كيږي بلكه د اوده كيدو نه دتږدي كيدو په وجه دالله ياد دانسان په زړه كې پيدا كيږي او ذكر الهي جاري شي او بيا تمامه شپه به هم هغه خبرو كې قلب او دماغ مستحضر وي او همدامقصود دشريعت دی چي شپه او ورځ ټوله دالله په ياد كې تيره شي.

****

٢٢_باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يوبل باب

٣٤٠٣_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ فَرْوَةَ بْنِ نَوْفَلٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، عَلِّمْنِي شَيْئًا أَقُولُهُ إِذَا أَوَيْتُ إِلَى فِرَاشِي، قَالَ: " اقْرَأْ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ فَإِنَّهَا بَرَاءَةٌ مِنَ الشِّرْكِ ". قَالَ شُعْبَةُ: أَحْيَانًا يَقُولُ مَرَّةً وَأَحْيَانًا لَا يَقُولُهَا.(1)

ترجمه : دفروه بن نوفل رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كې حاضر شوم او عرض مې اوكړو اې دالله رسوله داسي كلمات راته اوښايه چي زه يي وايم كله چي زه خپلې بسترې ته ورځم رسول الله اوفرمائيل "قل يا ايهاالكافرون" وايه خكه چي په دې كې دشرك نه بيزاري ده، شعبه وائي زما استاذ ابو اسحاق به كله كله ونيل چي سورة كافرون يو خل وايه، او كله كله به يي ديو خل لفظ ذكر نه كولو.

****

حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ حِزَامٍ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ فَرْوَةَ بْنِ نَوْفَلٍ،

---

[1] _ تفرد به المؤلف. وانظر ما يأتي (تحفة الأشراف: ١١٠٢٥)

عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ نَحْوَهُ، بِمَعْنَاهُ وَهَذَا أَصَحُّ أَبُو عِيسَى
وَرَوَى زُهَيْرٌ هَذَا الحَدِيثَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ فَرْوَةَ بْنِ نَوْفَلٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَهَذَا أَشْبَهُ وَأَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ شُعْبَةَ، قَدِ اضْطَرَبَ أَصْحَابُ أَبِي إِسْحَاقَ فِي هَذَا الحَدِيثِ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الوَجْهِ وَقَدْ رَوَاهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ نَوْفَلٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ هُوَ أَخُو فَرْوَةَ بْنِ نَوْفَلٍ. [1]

ترجمه فروه بن نوفل دخپل پلار نه روایت کوي ونیل یي چي دنبي کریم صلي الله علیه وسلم په خدمت کي حاضر شوم او باقي حدیث یي دسابقه حدیث هم معني بیان کړو.
امام ترمذي رحمه الله وایي: دارنګي داحدیث زهیر دابو اسحاق نه او هغه دفروه بن نوفل نه او هغه دخپل پلار په واسطه دنبي کریم صلي الله علیه وسلم نه دماقبل هم معني نقل کړي دي او دا روایت دماقبل روایت سره زیات مشابهت لري او دشعبه دحدیث نه زیات صحیح دي او دابواسحاق استاذان په دي سند کي داضطراب ښکار شوي دي، دارنګي دا حدیث ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي او دا رنګي عبدالرحمن بن نوفل دخپل پلار په واسطه درسول الله صلي الله علیه وسلم نه هم نقل کړي دي. او عبدالرحمن دفروه بن نوفل ورور دي.

****

٣٤٠٤ـ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُونُسَ الكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا المُحَارِبِيُّ، عَنْ لَيْثٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: " كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنَامُ حَتَّى يَقْرَأَ: بِتَنْزِيلُ السَّجْدَةِ، وَبِتَبَارَكَ ".
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَكَذَا رَوَى سُفْيَانُ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الحَدِيثَ عَنْ لَيْثٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ، وَقَدْ رَوَى زُهَيْرٌ هَذَا الحَدِيثَ عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، قَالَ: قُلْتُ لَهُ: سَمِعْتَهُ مِنْ جَابِرٍ؟ قَالَ: لَمْ أَسْمَعْهُ مِنْ جَابِرٍ، إِنَّمَا سَمِعْتُهُ مِنْ صَفْوَانَ أَوْ ابْنِ صَفْوَانَ، وَقَدْ رَوَى شَبَابَةُ، عَنْ مُغِيرَةَ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ نَحْوَ حَدِيثِ لَيْثٍ. [2]

ترجمه دجابر رضي الله عنه بیان دي فرمائیل یي چي نبي کریم صلي الله علیه وسلم به هغه وخته پوري نه اوده کیدو چي څو پوري به یي د اوده کیدو نه مخکي سورة السجده او سورة تبارك الذي یعني سورة الملك لوستلي نه وو.

---

[1] ـ سنن ابي داود/الأدب ١٠٧ (٥٠٥٥) . سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٢٢٠ (٨٠١) (تحفة الأشراف : ١١٠١٨) . ومسند احمد (٥/٤٥٦) . وسنن الدارمي/فضائل القرآن ٢٢ (٣٤٣٠)

[2] ـ انظر حديث رقم ٢٨٩٢

امام ترمذي رحمه الله وايي: سفيان او بعضي نورو راويانو هم دا حديث دليث نه او هغه دابو زبير نه او هغه دجابر په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ددي حديث په مثل نقل كړي دي. او زهير هم دا حديث دابو زبير په روايت بيان كړي دي زهير وائي ما ورته اوونيل ايا تا دا حديث دجابر نه پخپله اوريدلي دي؟ هغه اوونيل ما دجابر نه نه دي اوريدلي ما دا حديث دصفوان يا ابن صفوان نه اوريدلي دي، شبابه دمغيره بن مسلم نه او هغه دابو زبير نه او هغه دجابر نه دليث دحديث پشان روايت نقل كړي دي.

****

٣٤٠٥_حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَبِي لُبَابَةَ، قَالَ: قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنَامُ حَتَّى يَقْرَأَ الزُّمَرَ، وَبَنِي إِسْرَائِيلَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ: أَبُو لُبَابَةَ هَذَا اسْمُهُ مَرْوَانُ مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زِيَادٍ، وَسَمِعَ مِنْ عَائِشَةَ سَمِعَ مِنْهُ حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ. ([1])

ترجمه دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي ځو پوري چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم سورة الزمر او سورة بني اسرائيل لوستلي نه وو تر هغي پوري به نه اوده كيدو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: ماته امام بخاري خبر راكړي دي چي دابولبابه نوم مروان دي او ابولبابه دعبدالرحمن بن زياد ازاد كړي غلام دي او هغه دعائشه رضي الله عنها نه اوريدل كړي دي او دابو لبابه نه حماد بن زيد اوريدل كړي دي.

****

٣٤٠٦_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا بَقِيَّةُ بْنُ الْوَلِيدِ، عَنْ بَحِيرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بِلَالٍ، عَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ لَا يَنَامُ حَتَّى يَقْرَأَ الْمُسَبِّحَاتِ، وَيَقُولُ فِيهَا آيَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ آيَةٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. ([2])

ترجمه دعرباض بن ساريه رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به ځو پوري مسبحات لوستلي نه وو تر هغي پوري به نه اوده كيدو او فرمائيل به يي په

---

[1] _ انظر حديث رقم ٢٩٢٠

[2] _ انظر حديث رقم ٢٩٢١

مسبحات سورتونو كي يو ايت داسي دي كوم چي دزرو ايتونو نه بهتر دي
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي
تشريح: مسبحات اوه سورتونه دي دكومو په شروع كي چي سبحان ياسبح يا يسبح يا سبح كلمات راغلي دي، او دا سورتونه دادي اول بني اسرائيل، دويم حديد، دريم حشر، څلورم صف، پنځم جمعه، شپږم تغابن، اوم اعلي.

د عرباض بن ساريه رضي الله عنه حالات

نوم عرباض كنيه ابو نجيح ده او دپلار نوم يي ساريه وو داصحاب صفه نه شميرلى شي دى بخپله وائي چي زه څلورم نمبر مسلمان يم او زما نه مخكي دري كسان په اسلام كي داخل شوي دي.
وفات: شام ته لاړو او بياحمس ته لاړو او هلته يي دژوند اخري ورځي تيري كړي چي دشاګردانو تعداد يي كافي ډير دی او ۷۵ روايات ورنه منقول دي ليكن ابن حزم ۳۱ ليكلي دي.

****

۲۳_ باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يو بل باب

۳٤۰۷_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي الْعَلَاءِ بْنِ الشِّخِّيرِ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي حَنْظَلَةَ، قَالَ: صَحِبْتُ شَدَّادَ بْنَ أَوْسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فِي سَفَرٍ، فَقَالَ: أَلَا أُعَلِّمُكَ مَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُنَا أَنْ نَقُولَ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الثَّبَاتَ فِي الْأَمْرِ، وَأَسْأَلُكَ عَزِيمَةَ الرُّشْدِ، وَأَسْأَلُكَ شُكْرَ نِعْمَتِكَ، وَحُسْنَ عِبَادَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ لِسَانًا صَادِقًا وَقَلْبًا سَلِيمًا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا تَعْلَمُ، وَأَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا تَعْلَمُ، وَأَسْتَغْفِرُكَ مِمَّا تَعْلَمُ إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ".[1]

ترجمه: دعلاء بن شخير نه روايت دي فرماني چي دبني حنظله قبيلي يو كس ونيل په يو سفر كي دشداد بن اوس رضي الله عنه سره ملګري شوم راته يي اوونيل ايا هغه څه درته اونه ښايم كوم چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته راخودل چي دا به وايي او هغه دا كلمات دي «اللهم إني أسألك الثبات في الأمر وأسألك عزيمة الرشد وأسألك شكر نعمتك وحسن عبادتك وأسألك لسانا صادقا وقلبا سليما وأعوذ بك من شر ما تعلم وأسألك من خير ما تعلم وأستغفرك

[1] ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ۲۲۳ (۸۱۲) (تحفة الأشراف: ۴۸۲۱)، و مسند احمد (۴/۱۲۵)

مما تعلم إنك أنت علام الغيوب»
يعني اي الله زه ستا نه په كار كي دكلكيدو توفيق غوارم او زه ستانه په نيكئ كارونو كي پوخ والي غوارم او زه غوارم چي ته ماته دنعمتونو دشكر اداء كولو توفيق راكړي او ستا دښائسته عبادت كولو توفيق راكړي زه ستا نه صادقه ژبه او سليم زړه غوارم زه په تا پوري پناه غوارم دهغه شر نه كوم چي ستا په علم كي دي او دهغه خير هم زه ستا نه طلب كوم كوم چي ستا په علم كي دي او ستا نه مغفرت غوارم دهغه گناهونو كوم چي زما تاته معلوم دي او يقينا ته په ټولو پټو خبرو خبردار يې.

دشداد بن اوس رضي الله عنه مختصر حالات:

نوم شداد كنيت ابو يعلي يا ابوعبدالرحمن ابو خزرج كي يې د بنو نجار قبيلي سره تعلق وو شداد دمشهور شاعر حسان بن ثابت وراره وو دپلار نوم يې اوس بن ثابت وو او دمور نوم يې عرصيه وو پلار او تره وغيره تمام خاندان يې په يو ځاي اسلام قبول كړى وو دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دوفات نه پس په شام ، فلسطين، بيت المقدس، او حمص كي اوسيدلى وو ، عباده بن صامت رضي الله عنه به فرمائيل شداد دهغه خلقو نه دى څوك چي دعلم او حلم مجمع البحرين دي (اسد الغابه).
شداد ډير عبادت گذار وو اكثر به چي دشپي دارام كولو دپاره پريوتو نو واپس به پاځيدو او ټوله شپه به يې په مونځ كي تيروله او دا به يې فرمائيل "اللهم ان النار قد حالت بيني وبين النوم" يعني اى زما پروردگاره اور زما او زما دخوب په مينځ كي حائل شوى دى (اسد الغابه).
ابوهريره رضي الله عنه به فرمائيل يبان اذا نطق ويكظم اذا غضب. يعني دخبرو په وخت كې به يې وضاحت كولو او دغصي په وخت كې به يې صبر كولو.
وفات په ۵۸هجري كي دپينځه اويا كالو په عمر كي وفات شو او په بيت المقدس كي دفن كړى شو دمروياتو شمير يې پنځوس دى چي يو په بخاري كي او يو په مسلم كي او باقي په نورو كتابونودحديث كي موجود دى.

****

قَالَ: وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: " مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَأْخُذُ مَضْجَعَهُ يَقْرَأُ سُورَةً مِنْ كِتَابِ اللَّهِ إِلَّا وَكَّلَ اللَّهُ بِهِ مَلَكًا فَلَا يَقْرَبُهُ شَيْءٌ يُؤْذِيهِ حَتَّى يَهُبَّ مَتَى هَبَّ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَالْجُرَيْرِيُّ هُوَ سَعِيدُ بْنُ إِيَاسٍ أَبُو مَسْعُودٍ الْجُرَيْرِيُّ، وَأَبُو

الْعَلَاءِ اسْمُهُ يَزِيدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الشِّخِّيرِ. (1)

ترجمه : مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به فرمانيل هر يو مسلمان چي داوده كيدو وخت كي دالله تعالي دكتاب نه يو سورة لولي الله تعالي به هغه باندي يوه فرشته مقرر كړي او هيڅ كله به ده ته داسي څيز نزدي نشي كوم چي ده ته ضرر رسوي تردي پوري چي پورته شي هغه څيز كله چي پورته كيږي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث مونږ صرف په همدي سند پيژنو او دجريري نوم سعيد بن اياس ابو مسعود جريري دي او د ابو العلاء نوم يزيد بن عبدالله بن الشخير دي

****

٢٤ـ باب مَا جَاءَ فِي التَّسْبِيحِ وَالتَّكْبِيرِ وَالتَّحْمِيدِ عِنْدَ الْمَنَامِ

داوده كيدو وخت كي دسبحان الله او الحمد لله او الله اكبر ونيلو بيان

٣٤٠٨ـ حَدَّثَنَا أَبُو الْخَطَّابِ زِيَادُ بْنُ يَحْيَى الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا أَزْهَرُ السَّمَّانُ، عَنِ ابْنِ عَوْنٍ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ عَبِيدَةَ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: شَكَتْ إِلَيَّ فَاطِمَةُ مَجَلَ يَدَيْهَا مِنَ الطَّحِينِ: فَقُلْتُ لَوْ أَتَيْتِ أَبَاكِ فَسَأَلْتِهِ خَادِمًا، فَقَالَ: " أَلَا أَدُلُّكُمَا عَلَى مَا هُوَ خَيْرٌ لَكُمَا مِنَ الْخَادِمِ، إِذَا أَخَذْتُمَا مَضْجَعَكُمَا تَقُولَانِ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَأَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ مِنْ تَحْمِيدٍ وَتَسْبِيحٍ وَتَكْبِيرٍ ". وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عَوْنٍ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ عَلِيٍّ. (2)

ترجمه : دعلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي فاطمه رضي الله عنها ماته دميچني كولو به وجه په لاسونو كي دتنراكو شكايت اوكړو ما ورته اوونيل كاش چي ته خپل پلار ته ورغلي وي او دخان دپاره دي ورنه يو خادم غوښتلي وي چنانچي فاطمه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ورغله رسول الله ورته په جواب كي اوفرمائيل ايا زه تاسو دواړو ته يوداسي څيز اونه ښايم كوم چي به ستاسو دواړو دپاره دخادم نه زيات بهتر وي او تاسو ته به ارام د ـكونكي وي كله چي تاسو د اوده كيدو دپاره خپلو بسترو ته ورځئ نو ٣٣پيري الحمد لله ٣٣سبحان الله

---

1 - سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٢٢٢ (٨١٢) (تحفة الأشراف: ٣٨٢١). ومسند احمد (٣/١٢٥)

2 - اورده البخاري في الجامع الصحيح /فرض الخمس ٦ (٣١١٣). والمناقب ٩ (٣٧٠٥). والنفقات ٦ (٥٣٦١). صحيح مسلم/الذكر والدعاء ١٩ (٢٧٢٧). سنن ابي داود/ الأدب ١٠٩ (٥٠٦٢) (تحفة الأشراف: ١٠٢٣٥). ومسند احمد (١/٩٦، ١٣٦، ١٤٦). وسنن الدارمي/الاستئذان ٥٢ (٢٧٢٧)

۳۴ پيري الله اكبر وايئ ، او په دي حديث كي يوه اوږده قصه ده.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث دابن عون په روايت حسن غريب دي او دا حديث په يو څو نورو سندونو هم دعلي رضي الله عنه نه مروي دي.

****

٣٤٠٩_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا أَزْهَرُ السَّمَّانُ، عَنِ ابْنِ عَوْنٍ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَبِيدَةَ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: جَاءَتْ فَاطِمَةُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَشْكُو مَجَلًا بِيَدَيْهَا فَأَمَرَهَا بِالتَّسْبِيحِ وَالتَّكْبِيرِ وَالتَّحْمِيدِ ".

ترجمه : علي رضي الله عنه وائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم لور فاطمه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته په لاسونو ميچن كولوپه وجه دتنږاكو باره كي شكايت كولو دپاره ورغله نورسول الله ورته په تسبيح او تكبير او تحميد وئيلو حكم اوكړو.

****

٢٥_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٣٤١٠_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ ابْنُ عُلَيَّةَ، حَدَّثَنَا عَطَاءُ بْنُ السَّائِبِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " خَلَّتَانِ لَا يُحْصِيهِمَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ إِلَّا دَخَلَ الجَنَّةَ أَلَا وَهُمَا يَسِيرٌ، وَمَنْ يَعْمَلُ بِهِمَا قَلِيلٌ: يُسَبِّحُ اللَّهَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ عَشْرًا، وَيَحْمَدُهُ عَشْرًا، وَيُكَبِّرُهُ عَشْرًا ". قَالَ: فَأَنَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْقِدُهَا بِيَدِهِ، قَالَ: " فَتِلْكَ خَمْسُونَ وَمِائَةٌ بِاللِّسَانِ وَأَلْفٌ وَخَمْسُ مِائَةٍ فِي المِيزَانِ، وَإِذَا أَخَذْتَ مَضْجَعَكَ تُسَبِّحُهُ وَتُكَبِّرُهُ وَتَحْمَدُهُ مِائَةً، فَتِلْكَ مِائَةٌ بِاللِّسَانِ وَأَلْفٌ فِي المِيزَانِ، فَأَيُّكُمْ يَعْمَلُ فِي اليَوْمِ وَاللَّيْلَةِ أَلْفَيْنِ وَخَمْسَ مِائَةِ سَيِّئَةٍ ". قَالُوا: فَكَيْفَ لَا يُحْصِيهَا؟ قَالَ: " يَأْتِي أَحَدَكُمُ الشَّيْطَانُ وَهُوَ فِي صَلَاتِهِ، فَيَقُولُ: اذْكُرْ كَذَا اذْكُرْ كَذَا حَتَّى يَنْفَتِلَ، فَلَعَلَّهُ لَا أَنْ يَفْعَلَ، وَيَأْتِيهِ وَهُوَ فِي مَضْجَعِهِ فَلَا يَزَالُ يُنَوِّمُهُ حَتَّى يَنَامَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَى شُعْبَةُ، وَالثَّوْرِيُّ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ هَذَا الحَدِيثَ، وَرَوَى الأَعْمَشُ هَذَا الحَدِيثَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ

مُخْتَصَرًا، وَفِي الْبَابِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، وَأَنَسٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. [1]

ترجمه دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهمانه روايت دی فرمائي چي رسول پاك صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دوه خصلتونه او عادتونه داسي دي كوم چي په يومسلمان كي هميشه وي هغه به جنت ته داخل شي اودغه خصلتونه اسان دي ليكن په دي باندي عمل كونكي خلق كم دي، دهريومونخ نه پس لس پيري سبحان الله ونيل، اولس پيري الحمدلله، ونيل اولس پيري الله اكبر ونيل، داچي ټول رايوځايي كړي نودژبي په اعتبار سره يونيم سل شول اودقيامت په ورځ به په تله دميزان كي پينځلس سوه وي، صحابه كرامو وونيل څنګه به په دي باندي مداومت ونشي، رسول الله اوفرمائيل تاسو ته به شيطان راشي او دي به په مونځ كي وي شيطان به ده ته وايي فلاني فلاني شي را ياد كړه تردي چي دده سوچ به منتقل شي، پس ممكن ده چي دی به دي خصلتونو مداومت ونكړی شي. په تاسوكي چي څوك داوده كيدو اراده لري نوشيطان يی ددي دونيلونه مخكي اوده كړي اوهمدارنګي په مونځ كي ورته څه كار راياد كړي نودمونځ نه پس ددي تسبيحاتودونيلونه مخكي سری پخپل كار پسي روان شي اودا ورنه پاتي شي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دی، شعبه او ثوري هم دا حديث د عطاء بن السائب نه مختصر نقل كړی دی، او په ـ ي باب كي د زيد بن ثابت او انس او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٤١١ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى الصَّنْعَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَثَّامُ بْنُ عَلِيٍّ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْقِدُ التَّسْبِيحَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ الْأَعْمَشِ. [2]

ترجمه : دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به تسبيحات شميرل.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث داعمش په سند حسن غريب دي

****

---

[1] ـ سنن ابي داود/ الأدب ١٠٩ (٥٠٦٥) . سنن النسائي/السهو ٩١ (١٣٤٩) . سنن ابن ماجه/ الإقامة ٣٢ (٩٢٦) (تحفة الأشراف : ٨٦٣٨) . و مسند احمد (٢/١٦٠، ٢٠٥)

[2] ـ سنن ابي داود/ الصلاة ٣٥٩ (١٥٠٢) . سنن النسائي/السهو ٩٧ (١٣٥٦) (تحفة الأشراف : ٨٦٣٤)

٣٤١٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل بْنِ سَمُرَةَ الأَحْمَسِيُّ الكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا أَسْبَاطُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ قَيْسٍ المُلَائِيُّ، عَنِ الحَكَمِ بْنِ عُتَيْبَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مُعَقِّبَاتٌ لَا يَخِيبُ قَائِلُهُنَّ: يُسَبِّحُ اللَّهَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَيَحْمَدُهُ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَيُكَبِّرُهُ أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَعَمْرُو بْنُ قَيْسٍ المُلَائِيُّ ثِقَةٌ حَافِظٌ، وَرَوَى شُعْبَةُ هَذَا الحَدِيثَ عَنِ الحَكَمِ، وَلَمْ يَرْفَعْهُ، وَرَوَاهُ مَنْصُورُ بْنُ المُعْتَمِرِ، عَنِ الحَكَمِ فَرَفَعَهُ. (١)

ترجمه : كعب ابن عجرة رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي يوڅو كلمي دي په مانخه پسي ونيلى شي داكلمي ويونكي به هيڅري . نامراد نشي. چي هر فرض مانخه پسي يي واني دري ديرش ځله سبحان الله دري ديرش ځله الحمدلله اوڅلور ديرش ځله الله اكبر.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن دي او عمرو بن قيس ثقه او حافظ راوي دي دا رنګي دا حديث شعبه دحكم نه نقل كړي دي او مرفوع يي نه دي بيان كړي مګر منصور بن معتمر دحكم نه مرفوع نقل كړي دي.

لغات معقبات: دضرب نه وروسته تلل ، فاعل كار كونكي، مفعول ،كار كړي شوي.

تشريح : محقق وشارح حديث نبوي مولانا محمد حسين صديقي ددي حديث په تشريح ليكلي دي: دي كلماتو ته ورستي راتلونكي ځكه ونيلى شوي دي چي يو دبل نه پس لوستلى شي يعني كه دچا خوښه وي نو كوم مخكې لولي نو لوستلى شي اوچي كوم روسته لولي نو هغه وروسته لوستلى شي دهر يو مخكې كول جائز دي او ترتيب پكې ضروري نه دى.

ملا علي قاري وائي دالله اكبر په يو ځل زيات لوستلو كې دا مصلحت دى چي په دي كې دالله تعالي عظمت او كبريايي په مبالغي سره راغلي ده.

****

٣٤١٣_حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ أَفْلَحَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: أُمِرْنَا أَنْ نُسَبِّحَ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَنَحْمَدَهُ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَنُكَبِّرَهُ أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ، قَالَ: فَرَأَى رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ فِي

[1] ـ صحيح مسلم/المساجد ٢٦ (٥٩٦) . سنن النسائي/السهو ٩٢ (١٣٥٠) . وعمل اليوم والليلة ٥٩ (١٥٥) (تحفة الأشراف: ١١١١٥)

الْمَنَامِ، فَقَالَ: "أَمَرَكُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُسَبِّحُوا فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَتَحْمَدُوا اللهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَتُكَبِّرُوا أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ". قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: فَاجْعَلُوا خَمْسًا وَعِشْرِينَ، وَاجْعَلُوا التَّهْلِيلَ مَعَهُنَّ. فَغَدَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَدَّثَهُ. فَقَالَ: "افْعَلُوا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: زيد بن ثابت رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي مونږ ته حکم شوي دي چي کله مونږ دهر مونځ نه سلام اوګرځوو نو ۳۳ پيري به سبحان الله او ۳۳ پيري به الحمد لله او ۳۴پيري به الله اکبر وايو، زيد وائي يو انصاري خوب اوليدلو او په خوب کي راغلي کس (فرشتي) تپوس اوکړو ايا تا ته رسول الله صلي الله عليه وسلم حکم کړي دي چي دهر مونځ نه پس به ۳۳ سبحان الله او ۳۳ پيري ، الحمد لله ۳۴ پيري الله اکبر وايه هغه اوونيل هو نو سوال کونکي فرشتي اوونيل چي د ۳۴، ۳۳، ۳۳ ، په ځاي ۲۵ کړه او لااله الاالله ورسره هم وايه هر کله چي سحر شو نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته ورغلم او واقعه مي ورته بيان کړه راته يي اوفرمائيل همداسي کوه.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٦_ باب مَا جَاءَ فِي الدُّعَاءِ إِذَا انْتَبَهَ مِنَ اللَّيْلِ

دشپي چي کله څوک دخوب نه بيدارشي نو کومه دعا به وائي

٣٤١٤_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي رِزْمَةَ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، حَدَّثَنِي عُمَيْرُ بْنُ هَانِئٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي جُنَادَةُ بْنُ أَبِي أُمَيَّةَ، حَدَّثَنِي عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ رَضِيَ اللهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ تَعَارَّ مِنَ اللَّيْلِ، فَقَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، وَسُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، ثُمَّ قَالَ: رَبِّ اغْفِرْ لِي أَوْ قَالَ ثُمَّ دَعَا اسْتُجِيبَ لَهُ، فَإِنْ عَزَمَ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ صَلَّى قُبِلَتْ صَلَاتُهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ (2)

---

[1] - سنن النسائي/السهو ٩٣ (١٣٥١) (تحفة الأشراف: ٣٤١٣)، و مسند احمد (٥/١٨٤، ١٩٠)، وسنن الدارمي/الصلاة ٩٠ (١٣٩٤)

[2] - اورده البخاري في الجامع الصحيح/التهجد ٢١ (١١٥٤)، والأدب ١٠٨ (٥٠٦٠)، سنن ابن ماجه/الدعاء ١٦ (٣٨٧٨) (تحفة الأشراف: ٥٠٧٤)، وسنن الدارمي/الاستئذان ٥٣ (٢٦٨٩)

ترجمه : دعبادة بن الصامت رضي الله تعالي عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول پاك صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي:څوك چي دشپې راويښ شي اودويخيدوبه وخت كې داكلمات اووائي: لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ سُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ . اوبيا دا دعاء اووائي رب اغفرلي. وليد راوي ويلي دي چي اوكه داسي ووئيل دعائي وكړه نوقبوله به شي اوكچري پاڅيدو او اودس ني وكړو اومونځ ئې وكړونومونځ به ئې قبول كړي شي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح غريب دی.

****

٣٤١٥ـحَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ. حَدَّثَنَا مَسْلَمَةُ بْنُ عَمْرٍو. قَالَ: كَانَ عُمَيْرُ بْنُ هَانِئٍ يُصَلِّي كُلَّ يَوْمٍ أَلْفَ سَجْدَةٍ، وَيُسَبِّحُ مِائَةَ أَلْفِ تَسْبِيحَةٍ. (1)

ترجمه : دمسلمه بن عمرو بيان دي فرمائي چي عمير بن هاني به هره ورځ زر ركعاتونه مونځ او يو لاكه پيري تسبيحات وئيل.

****

٢٧ـباب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يوبل باب

٣٤١٦ـحَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ مَنْصُورٍ. أَخْبَرَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ، وَوَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ. وَأَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ، وَعَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ. قَالُوا: حَدَّثَنَا هِشَامٌ الدَّسْتُوَائِيُّ. عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ. عَنْ أَبِي سَلَمَةَ. قَالَ: حَدَّثَنِي رَبِيعَةُ بْنُ كَعْبٍ الأَسْلَمِيُّ. قَالَ: كُنْتُ أَبِيتُ عِنْدَ بَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُعْطِيهِ وَضُوءَهُ. فَأَسْمَعُهُ الْهَوِيَّ مِنَ اللَّيْلِ. يَقُولُ: "سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ" وَأَسْمَعُهُ الْهَوِيَّ مِنَ اللَّيْلِ، يَقُولُ: "الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه دربيعه بن كعب اسلمي بيان دي فرمائي چي ما به د نبي كريم صلي الله عليه وسلم د دروازي سره شپه تيروله او د اودس دپاره به مي ورته اوبه پيش كولي او ما به ورنه سمع الله

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٩١٨١)

[2] ـ صحيح مسلم/الصلاة ٤٣ (٤٨٩) . سنن ابي داود/الصلاة ٣١٢ (١٣٢٠) . سنن النسائي/التطبيق ٧٩ (١١٣٩) . وقيام الليل ٩ (١٦١٧) سنن ابن ماجه/الدعاء ١٦ (٣٨٧٩) (تحفة الأشراف : ٣٦٠٣) . و مسند احمد (٤/٥٩)

لمن حمده الفاظ اوريدل او همدارنګي ما ورنه الحمدلله رب العالمين هم اوريدلي دي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي

د ربيعه بن كعب اسلمي رضي الله عنه حالات:

نوم ربيعه كنيه ابو فراس، ربيعه بن كعب بن يعمر اسلمي، مديني ته درسول الله صلي الله عليه وسلم نه پس مسلمان شوی وو او داصحاب صفه ملګری وو دمديني پيدانښي نه وو مګر داوسيدو په وجه ورته مدني وئيلی شي (اسد الغابه).
ربيعه يو غير شادي شده انسان دی چي درسول الله صلي الله عليه وسلم خدمت به يي كولو او دهغه داودس دپاره اوبه ساتل دده مخصوص خدمت دی په غزواتو کې يي هم شموليت کړی دی درسول الله صلي الله عليه وسلم دزندګئ داخري لمحاتو پوري په مدينه کې اوسيدلو او بيا دوفات نبوي نه پس خپلي قبيلي ته واپس لاړو (مستدرك).
وفات: دحره دواقعي نه پس ۶۳ هجري کې وفات شو (مستدرك).
مرويات: دابن جوزي په قول دده دمرو ياتو شمير پينځلس دی او دبعضو په نزد دده نه څلور روايات منقول دي چي يو په مسلم کې دی او باقي اصحاب السنن نقل کړي دي

****

۲۸_باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يو بل باب

۳۴۱۷_حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ إِسْمَاعِيل بْنِ مُجَالِدِ بْنِ سَعِيدٍ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ رِبْعِيٍّ، عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَنَامَ قَالَ: " اللَّهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا "، وَإِذَا اسْتَيْقَظَ، قَالَ: " الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَا نَفْسِي بَعْدَ مَا أَمَاتَهَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه حذيفه رضي الله عنه نه روايت دي فرماني چي كله به نبي كريم صلي الله عليه وسلم داوده كيدو اراده وكړه اوخپلي بستري ته به ورغلو نو دا دعا به يي اوونيله. "**اللَّهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا**". يعني ستا په نوم مر كيږم اوژوندی كيږم، او چي كله به بيدار شو نو دا دعا به يي اوونيله. "**الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَا نَفْسِي بَعْدَ مَا أَمَاتَهَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ**" يعني ثناء ده هغه ذات لره چي

[1] - اورده البخاري في الجامع الصحيح/الدعوات ۰ (۶۳۱۲)، والتوحيد ۱۳ (۷۳۹۴). سنن ابي داود/الأدب ۱۰۷ (۵۰۴۹). سنن ابن ماجه/الدعاء ۱۶ (۳۸۸۰) (تحفة الأشراف: ۳۳۰۸)، و مسند احمد (۵/۱۵۴). وسنن الدارمي/الاستئذان ۵۳ (۲۷۲۸)

ژوندي يي كړو نفس زما پس دهغي نه چي مړ كړي يي وو، او خاص هغه ته پورته كيدل دي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دى.
لغات: النشور: نشر كيدل، احيا، ژوندي كول دباب افعال نه.
تشريح: ،خوب هم دمرګ په مثال دى نو خوب نه راويښيدل داسي شو لكه مرګ نه پس بيا ژوندي كيدل نو په دى نعمت دالله تعالي شكر ادا كول پكار دي
وَإِلَيْهِ النُّشُورُ" ددي يو مطلب خو دادى چي انسان ته اول او اخر مرګ راځي او بيا به دحساب او كتاب دپاره الله تعالي ته ورځي دويم مطلب دادى چي په دي حديث كې دپريوتو حالت بيانولى شي چي ددينه پس الله تعالي مونږه دكار كسب دپاره راپورته كړو دپاڅيدو په وخت كې هم ددعا غوښتلو حكم دى او دپريوتو په وخت كې هم مقصد دادى چي دافعالو خاتمه هم په عبادت اوشي او ابتداء هم په عبادت اوشي.
كله چي سړى پريوځي نو ګوياكې دى دمړي په حكم كې شو يعني په عارضي طور دده روح قبض كيږي ليكن كله چي بيدار شي نو دده روح راپريخودلى شي ګويا كې شريعت دا اوونيل چي الله تعالي كله په ده كې دوباره روح واچوي نو دى دي شكر ادا كړي او دشكر طريقه شريعت پخپله اوخودله چي دا دعا دي اووائي.

****

٢٩_باب مَا يَقُولُ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ إِلَى الصَّلاَةِ

دشپې چي كله څوك دخوب نه دمونځ دپاره راپاځي كومه دعا به وائي

٣٤١٨_حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ طَاوُسٍ الْيَمَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " كَانَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلاَةِ مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ، يَقُولُ: " اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ نُورُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ، وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ قَيَّامُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ، وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، أَنْتَ الْحَقُّ وَوَعْدُكَ الْحَقُّ وَلِقَاؤُكَ حَقٌّ، وَالْجَنَّةُ حَقٌّ وَالنَّارُ حَقٌّ وَالسَّاعَةُ حَقٌّ، اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ، وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ، وَبِكَ خَاصَمْتُ، وَإِلَيْكَ حَاكَمْتُ، فَاغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، أَنْتَ إِلَهِي لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ

وَجْهٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [1]

ترجمه: دابن عباس ﷺنه روايت دی چي نبي ﷺبه کله دشپې قيام کولو نودابه يې ونيل:

"اللَّهُمَّ لَكَ الحَمْدُ أَنْتَ نُورُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ، وَلَكَ الحَمْدُ أَنْتَ قَيَّامُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ، وَلَكَ الحَمْدُ أَنْتَ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ. أَنْتَ الحَقُّ وَوَعْدُكَ الحَقُّ وَلِقَاؤُكَ حَقٌّ، وَالجَنَّةُ حَقٌّ وَالنَّارُ حَقٌّ وَالسَّاعَةُ حَقٌّ. اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ، وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ، وَبِكَ خَاصَمْتُ، وَإِلَيْكَ حَاكَمْتُ، فَاغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، أَنْتَ إِلَهِي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ". يعني اي الله ستاد پاره تعريف دی ته داسمانونو اودزمکي نور يی ستاد پاره تعريف دی ته داسمانونو اودزمکي تدبيرکونکی يی ستاد پاره تعريف دی چي ته داسمانونو اوزمکي اوځه چي په دي کې دي دټولورب يی ته حق يی ستاوينا حقه ده ستاوعده حقه ده ستاملاقات حق دی جنت حق دی دوزخ حق دی قيامت حق دی ای الله زه ستامطيع اوفرمان بردار يمه په تامي ايمان راوړی دی زما په تاباندي اعتماد دی زه ستاطرف ته رجوع کونکی يم زه په مدد ستاسره جنګيږم اوتخپل فيصله کونکی ګرخوم ته زماټول ګناهونه معاف کړه کوم چي ماپخوا کړي دي ځه چي مادديته روستوکړي دي په پټه مي کړي دي اوکه په ښکاره باندي مي کړي دي ته زمامعبود يی ستانه علاوه بل خوك معبود نشته دی.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دی. اود ابن عباس رضي الله عنهما په واسطه په نورو سندونو هم د رسول کريم نه مروي دي.

لغات: قدم يقدم قدامة په معنی دزړيدو اود باب سمع نه په معني د راتلو اود باب تفعيل نه په معني دمخکې کيدو.

تشريح: رسول الله به اللهم اغفرلي ولي ونيل؟

سوال رسول الله ولي استغفار ونيلو هغه خو دګناهونو نه پاك وو.

جواب: دامت کوم حالات چي ورته بيان شوي وو نو دهغي دطرف نه به يي استغفار ونيلو يا دا چي رسول الله ته ونيلی شوي وو چي ستانه پس به ددشمنانو سره سخت سخت جنګونه وي او ظاهره ده چي په جنګ کي لغزش هم ممکن دي نو احتياطا به يي استغفار زيات ونيلو يا دا چي الله تعالي فرمائيلي دي ان الله يحب التوابين. يعني الله تعالي توبه کونکي خوښوي

[1] اورده البخاري في الجامع الصحيح /التهجد ١ (١١٢٠)، والدعوات ١٠ (٦٣١٧)، والتوحيد ٨ (٧٣٨٥)، و ٢٤ (٧٤٤٢)، و ٣٥ (٧٤٩٩). صحيح مسلم /المسافرين ٢٦ (٧٦٩). سنن ابي داود الصلاة ١٢١ (٧٧٤). سنن النسائي/قيام الليل ٩ (١٦٢٠). سنن ابن ماجه/الإقامة ١٨٠ (١٣٥٥) (تحفة الأشراف: ٥٧٥١) و مسند احمد (١/٢٩٨)، وسنن الدارمي/الصلاة ١٦٩ (١٥٢٧)

نر په دي وجه به يې الله تعالي نه دمغفرت دعا غوښتله چي الله تعالي ته نور هم محبوب اوګرځي
ماقدمت وما اخرت: يعني مخکني ګناهونه او وروستني ګناهونه کوم ګناهونه چي انسان په ژوند کې کړي وي يعني قدمت دهغه ګناهونو دپاره استعماليږي کوم چي يې مخکې کړي وي او چي کوم وروسته کوي دهغي دپاره اخرت استعماليږي

****

۳۰_باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يوبل باب

۳٤۱۹_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِمْرَانَ بْنِ أَبِي لَيْلَى، حَدَّثَنِي أَبِي، حَدَّثَنِي ابْنُ أَبِي لَيْلَى، عَنْ دَاوُدَ بْنِ عَلِيٍّ هُوَ ابْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: سَمِعْتُ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَيْلَةً حِينَ فَرَغَ مِنْ صَلَاتِهِ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ رَحْمَةً مِنْ عِنْدِكَ تَهْدِي بِهَا قَلْبِي وَتَجْمَعُ بِهَا أَمْرِي وَتَلُمُّ بِهَا شَعَثِي وَتُصْلِحُ بِهَا غَائِبِي وَتَرْفَعُ بِهَا شَاهِدِي وَتُزَكِّي بِهَا عَمَلِي وَتُلْهِمُنِي بِهَا رُشْدِي وَتَرُدُّ بِهَا أُلْفَتِي وَتَعْصِمُنِي بِهَا مِنْ كُلِّ سُوءٍ. اللَّهُمَّ أَعْطِنِي إِيمَانًا وَيَقِينًا لَيْسَ بَعْدَهُ كُفْرٌ، وَرَحْمَةً أَنَالُ بِهَا شَرَفَ كَرَامَتِكَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ. اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الفَوْزَ فِي العَطَاءِ وَيُرْوَى فِي القَضَاءِ، وَنُزُلَ الشُّهَدَاءِ، وَعَيْشَ السُّعَدَاءِ، وَالنَّصْرَ عَلَى الأَعْدَاءِ. اللَّهُمَّ إِنِّي أُنْزِلُ بِكَ حَاجَتِي وَإِنْ قَصُرَ رَأْيِي وَضَعُفَ عَمَلِي افْتَقَرْتُ إِلَى رَحْمَتِكَ، فَأَسْأَلُكَ يَا قَاضِيَ الأُمُورِ وَيَا شَافِيَ الصُّدُورِ كَمَا تُجِيرُ بَيْنَ البُحُورِ أَنْ تُجِيرَنِي مِنْ عَذَابِ السَّعِيرِ وَمِنْ دَعْوَةِ الثُّبُورِ وَمِنْ فِتْنَةِ القُبُورِ. اللَّهُمَّ مَا قَصُرَ عَنْهُ رَأْيِي وَلَمْ تَبْلُغْهُ نِيَّتِي وَلَمْ تَبْلُغْهُ مَسْأَلَتِي مِنْ خَيْرٍ وَعَدْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ أَوْ خَيْرٍ أَنْتَ مُعْطِيهِ أَحَدًا مِنْ عِبَادِكَ، فَإِنِّي أَرْغَبُ إِلَيْكَ فِيهِ وَأَسْأَلُكَهُ بِرَحْمَتِكَ رَبَّ العَالَمِينَ. اللَّهُمَّ ذَا الحَبْلِ الشَّدِيدِ، وَالأَمْرِ الرَّشِيدِ أَسْأَلُكَ الأَمْنَ يَوْمَ الوَعِيدِ، وَالجَنَّةَ يَوْمَ الخُلُودِ مَعَ المُقَرَّبِينَ الشُّهُودِ، الرُّكَّعِ السُّجُودِ، المُوفِينَ بِالعُهُودِ، إِنَّكَ رَحِيمٌ وَدُودٌ وَأَنْتَ تَفْعَلُ مَا تُرِيدُ. اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا هَادِينَ مُهْتَدِينَ غَيْرَ ضَالِّينَ وَلَا مُضِلِّينَ، سِلْمًا لِأَوْلِيَائِكَ وَعَدُوًّا لِأَعْدَائِكَ، نُحِبُّ بِحُبِّكَ مَنْ أَحَبَّكَ وَنُعَادِي بِعَدَاوَتِكَ مَنْ خَالَفَكَ. اللَّهُمَّ هَذَا الدُّعَاءُ وَعَلَيْكَ الاسْتِجَابَةُ، وَهَذَا الجُهْدُ وَعَلَيْكَ التُّكْلَانُ. اللَّهُمَّ اجْعَلْ لِي نُورًا فِي قَبْرِي وَنُورًا فِي قَلْبِي وَنُورًا مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ وَنُورًا مِنْ خَلْفِي وَنُورًا عَنْ يَمِينِي وَنُورًا عَنْ شِمَالِي وَنُورًا مِنْ فَوْقِي وَنُورًا مِنْ تَحْتِي وَنُورًا فِي سَمْعِي وَنُورًا فِي بَصَرِي وَنُورًا فِي شَعْرِي

وَنُورًا فِي بَشَرِي وَنُورًا فِي لَحْمِي وَنُورًا فِي دَمِي وَنُورًا فِي عِظَامِي. اللَّهُمَّ أَعْظِمْ لِي نُورًا وَأَعْطِنِي نُورًا وَاجْعَلْ لِي نُورًا. سُبْحَانَ الَّذِي تَعَطَّفَ الْعِزَّ وَقَالَ بِهِ. سُبْحَانَ الَّذِي لَبِسَ الْمَجْدَ وَتَكَرَّمَ بِهِ. سُبْحَانَ الَّذِي لَا يَنْبَغِي التَّسْبِيحُ إِلَّا لَهُ. سُبْحَانَ ذِي الْفَضْلِ وَالنِّعَمِ. سُبْحَانَ ذِي الْمَجْدِ وَالْكَرَمِ. سُبْحَانَ ذِي الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وَقَدْ رَوَى شُعْبَةُ. وَسُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ. عَنْ كُرَيْبٍ. عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْضَ هَذَا الْحَدِيثِ. وَلَمْ يَذْكُرْهُ بِطُولِهِ. (1)

ترجمه : عبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرماني چي يوه شپه رسول الله صلي الله عليه وسلم دتهجد مونځ نه فارغ شو او دا دعا يي ونيله :

"اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ رَحْمَةً مِنْ عِنْدِكَ تَهْدِي بِهَا قَلْبِي وَتَجْمَعُ بِهَا أَمْرِي وَتَلُمُّ بِهَا شَعَثِي وَتُصْلِحُ بِهَا غَائِبِي وَتَرْفَعُ بِهَا شَاهِدِي وَتُزَكِّي بِهَا عَمَلِي وَتُلْهِمُنِي بِهَا رُشْدِي وَتَرُدُّ بِهَا أُلْفَتِي وَتَعْصِمُنِي بِهَا مِنْ كُلِّ سُوءٍ. اللَّهُمَّ أَعْطِنِي إِيمَانًا وَيَقِينًا لَيْسَ بَعْدَهُ كُفْرٌ. وَرَحْمَةً أَنَالُ بِهَا شَرَفَ كَرَامَتِكَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ. اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْفَوْزَ فِي الْعَطَاءِ وَيُرْوَى فِي الْقَضَاءِ. وَنُزُلَ الشُّهَدَاءِ. وَعَيْشَ السُّعَدَاءِ. وَالنَّصْرَ عَلَى الْأَعْدَاءِ. اللَّهُمَّ إِنِّي أُنْزِلُ بِكَ حَاجَتِي وَإِنْ قَصُرَ رَأْيِي وَضَعُفَ عَمَلِي افْتَقَرْتُ إِلَى رَحْمَتِكَ. فَأَسْأَلُكَ يَا قَاضِيَ الْأُمُورِ وَيَا شَافِيَ الصُّدُورِ كَمَا تُجِيرُ بَيْنَ الْبُحُورِ أَنْ تُجِيرَنِي مِنْ عَذَابِ السَّعِيرِ وَمِنْ دَعْوَةِ الثُّبُورِ وَمِنْ فِتْنَةِ الْقُبُورِ. اللَّهُمَّ مَا قَصُرَ عَنْهُ رَأْيِي وَلَمْ تَبْلُغْهُ نِيَّتِي وَلَمْ تَبْلُغْهُ مَسْأَلَتِي مِنْ خَيْرٍ وَعَدْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ أَوْ خَيْرٍ أَنْتَ مُعْطِيهِ أَحَدًا مِنْ عِبَادِكَ. فَإِنِّي أَرْغَبُ إِلَيْكَ فِيهِ وَأَسْأَلُكَهُ بِرَحْمَتِكَ رَبَّ الْعَالَمِينَ. اللَّهُمَّ ذَا الْحَبْلِ الشَّدِيدِ. وَالْأَمْرِ الرَّشِيدِ أَسْأَلُكَ الْأَمْنَ يَوْمَ الْوَعِيدِ. وَالْجَنَّةَ يَوْمَ الْخُلُودِ مَعَ الْمُقَرَّبِينَ الشُّهُودِ. الرُّكَّعِ السُّجُودِ. الْمُوفِينَ بِالْعُهُودِ. إِنَّكَ رَحِيمٌ وَدُودٌ وَأَنْتَ تَفْعَلُ مَا تُرِيدُ. اللَّهُمَّ اجْعَلْنَا هَادِينَ مُهْتَدِينَ غَيْرَ ضَالِّينَ وَلَا مُضِلِّينَ. سِلْمًا لِأَوْلِيَائِكَ وَعَدُوًّا لِأَعْدَائِكَ. نُحِبُّ بِحُبِّكَ مَنْ أَحَبَّكَ وَنُعَادِي بِعَدَاوَتِكَ مَنْ خَالَفَكَ. اللَّهُمَّ هَذَا الدُّعَاءُ وَعَلَيْكَ الِاسْتِجَابَةُ. وَهَذَا الْجُهْدُ وَعَلَيْكَ التُّكْلَانُ. اللَّهُمَّ اجْعَلْ لِي نُورًا فِي قَبْرِي وَنُورًا فِي قَلْبِي وَنُورًا مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ وَنُورًا مِنْ خَلْفِي وَنُورًا عَنْ يَمِينِي وَنُورًا عَنْ شِمَالِي وَنُورًا مِنْ فَوْقِي وَنُورًا مِنْ تَحْتِي وَنُورًا فِي سَمْعِي وَنُورًا فِي بَصَرِي وَنُورًا فِي شَعْرِي وَنُورًا فِي بَشَرِي وَنُورًا فِي لَحْمِي وَنُورًا فِي دَمِي وَنُورًا فِي عِظَامِي.

1- تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٣٩٢)

اللَّهُمَّ أَعْظِمْ لِي نُورًا وَأَعْطِنِي نُورًا وَاجْعَلْ لِي نُورًا. سُبْحَانَ الَّذِي تَعَطَّفَ الْعِزَّ وَقَالَ بِهِ. سُبْحَانَ الَّذِي لَبِسَ الْمَجْدَ وَتَكَرَّمَ بِهِ. سُبْحَانَ الَّذِي لَا يَنْبَغِي التَّسْبِيحُ إِلَّا لَهُ. سُبْحَانَ ذِي الْفَضْلِ وَالنِّعَمِ. سُبْحَانَ ذِي الْمَجْدِ وَالْكَرَمِ. سُبْحَانَ ذِي الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ"

يعني اي الله زه ستا نه دداسي رحمت طلبګار يم دکوم په ذريعه چي ته زما زړه ته هدايت اوکړي او دکوم په ذريعه چي زما معامله مستحکم کړي زما ګډوډ کارونه درست کړي او ددي په ذريعه زما دباطن اصلاح اوکړي او ددي په ذريعه زما ظاهر شاندار کړي او ددي په ذريعه زما عمل پاك کړي او ددي په ذريعه زما نيغي لاري ته رهنمائي اوکړي، او ددي په ذريعه زمونږ خپل مينځ کي محبت واپس کړي او ددي په ذريعه مونږ دهري بدئ نه اوساتي، اي الله ته مونږ ته داسي ايمان او يقين راکړي چي بيا دهغي نه پس کفر طرف ته تلل نه وي، اي الله ته مونږ ته داسي رحمت راکړي دکوم په ذريعه چي په دنيا او اخرت کي ستا دکرامت شرف حاصلولي شم، اي الله زه ستا نه داسي بخشش او په قضاء کي کاميابي غواړم او زه ستا نه دشهيدانو پشان مهمان نوازي غواړم او دنيك بختو پشان خوشحاله زندګي درنه غواړم او د دشمنانو په خلاف ستانه مدد غواړم زه اګر چي ناپوهه او کمزوري عمل والا بنده يم مګر زه دخپلو ضروورياتو سره تاته خان دررسوم اي الله زه ستا درحمت محتاج يم اي دمعاملاتو فيصله کونکيه او اي دسينو دبيمارانو شفا ورکونکيه ته مالره دجهنم داورنه او دتباهئ او بربادئ داواز نه او دخبرونو دفتنو نه او دمنکر او نکير دسوال نه په داسي شان سره بچ کړي لکه چي څنګه چي ته په سمندرونو کي په طوفاني حالت کي ګيرشوو خلقو لره بچ کوي، اي الله کوم څيز ته درسيدو نه چي زما عقل قاصر دي او کوم څيز ته چي زما نيت او ارادي رسيدل نشي کولي او تا دهغي وعده دخپل مخلوق سره.کړي ده ما په هغي کي شامل کړي او داسي چي ما درنه غوښتلي نه دي او يا داسي کومه کاميابي چي ته يي پخپلو بندګانو کي چاته ورکوي ما هم ستا نه دهغي په غوښتونکو او خواهش کونکو کي شامل کړي او اي زما ربه دتمام جهان فالونکيه ستا درحمت په برکت ستا نه ددي څيز سوال کوم اي الله چي لوي قوت والا يي او درستو کارونو والا يي زه ستانه دوعيد په ورځ يعني دقيامت په ورځ امن غواړم او زه ستا نه هميشه دپاره ستادمقربو بندګانو، ستا دکلمه ګو بندګانو او ستا په وړاندي دتيتيدونکو بندګانو او ستا په وړاندي سجده کونکو بندګانو او ستا په وړاندي داقرار پابندي کونکو بندګانو سره جنت ته دتلو دعا غواړم ، اي ربه ته رحيم يي او ته ودود يي ته چي څه غواړي هغه کوي اي الله ته مونږ هدايت کونکي اوګرځي مګر داسي چي پخپله هم هدايت يافته يي نه دا چي پخپله ګمراهان يو او نه داسي چي نورو لره ګمراه کونکي يو ستا د دوستانو دپاره چي کومه صلح وي او ستا د دوشمنانو دپاره چي کوم دوشمن وي، او څوك چي

تاسره محبت لري دهغه کس سره ستا د محبت په سبب مونږ محبت کونکي جوړ کړي، او څوك چي ستا خلاف کوي مونږ ددغه کس سره ستا د دوشمنۍ په سبب دوشمني کونکي جوړ کړي، اي الله دا زمونږه دعا او درخواست دي او زمونږ دا دعا قبوله کړي او هر څه ستا په لاس کي دي او دا زمونږ کوشش دي او زمونږ ستا په ذات اعتماد دي، اي الله ته زما قبر په نور منور کړي اي الله زما زړه دنور نه ډك كړي اي الله ته زما مخي ته او زما شاته او زما طرفونو ته نور خور کړي اي الله ته زما شاته نور اوګرځوي او زما مخي ته نور اوګرځوي اي الله ته زما دپاسه نور اوګرځوي او ته زما دلاندي نور پيدا کړي اي الله ته زما په سترګو کي نور پيدا کړي او زما په غوږونو کي نور پيدا کړي اي الله ته زما په ويښتو کي نور پيدا کړي او زما په څرمن کي نور پيدا کړي زما په غوښه کي نور پيدا کړي او زما په وينه کي نور پيدا کړي او زما دپاره په نور کي اضافه اوکړي، پاك دي هغه ذات چاچي عزت لره خپل لباس ګرځولي دي او صرف دعزت متعلق يي دشعار ګرځولو حکم کړي دي . پاك دي هغه ذات چاچي مجد اوشرف خپل لباس ګرځولي دي دکوم په سبب چي هغه مکرم او مشرف شوي دي، پاك دي هغه ذات دچانه علاوه چي دبل چا دپاره تسبيح ونيل لائق نه دي، پاك دي فضل او نعمتونو والا او پاك دي مجد او کرم والا پاك دي عظمت او لويي والا.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي او مونږ يي صرف دابن ابي ليلي په سند پيژنو. دارنګي شعبه او سفيان ثوري دا روايت دسلمه بن کهيل دکريب نه دابن عباس په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه مختصر نقل کړي دي

****

٣١_باب مَا جَاءَ فِي الدُّعَاءِ عِنْدَ افْتِتَاحِ الصَّلَاةِ بِاللَّيْلِ

دشپي وخت کي د مونځ شروع کولو متعلق ددعا بيان

٣٤٢٠_حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: أَخْبَرَنَا عُمَرُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْتَتِحُ صَلَاتَهُ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ؟ قَالَتْ: "كَانَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ افْتَتَحَ صَلَاتَهُ، فَقَالَ: اللَّهُمَّ رَبَّ جِبْرِيلَ، وَمِيكَائِيلَ، وَإِسْرَافِيلَ، فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَعَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ، اهْدِنِي لِمَا اخْتُلِفَ فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِكَ

إِنَّكَ تَهْدِي مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه - دابوسلمه بيان دي مادعائشه رضي الله عنها نه تپوس اوكړو دشپي چي به كله رسول الله صلي الله عليه وسلم دتهجد دپاره پاڅيدو نو دمونځ شروع كولو موقعه كي به يي څه ونيل راته يي اوفرمانيل دشپي چي به په مونځ اودريدو نو دمونځ شروع كولو وخت كي به يي دا دعا ونيله

"اللَّهُمَّ رَبَّ جِبْرِيلَ، وَمِيكَائِيلَ، وَإِسْرَافِيلَ، فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَعَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ، اهْدِنِي لِمَا اخْتُلِفَ فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِكَ إِنَّكَ تَهْدِي مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ "

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي.

****

٣٢_باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٤٢١_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي الشَّوَارِبِ، حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ الْمَاجِشُونَ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلاَةِ، قَالَ: وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ، إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لاَ شَرِيكَ لَهُ، وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الْمَلِكُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، أَنْتَ رَبِّي وَأَنَا عَبْدُكَ ظَلَمْتُ نَفْسِي وَاعْتَرَفْتُ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي ذُنُوبِي جَمِيعًا إِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ، وَاهْدِنِي لأَحْسَنِ الأَخْلاَقِ لاَ يَهْدِي لأَحْسَنِهَا إِلاَّ أَنْتَ، وَاصْرِفْ عَنِّي سَيِّئَهَا إِنَّهُ لاَ يَصْرِفُ عَنِّي سَيِّئَهَا إِلاَّ أَنْتَ، آمَنْتُ بِكَ تَبَارَكْتَ وَتَعَالَيْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ ". فَإِذَا رَكَعَ، قَالَ: " اللَّهُمَّ لَكَ رَكَعْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَلَكَ أَسْلَمْتُ خَشَعَ لَكَ سَمْعِي وَبَصَرِي وَمُخِّي وَعِظَامِي وَعَصَبِي ". فَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ، قَالَ: " اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءَ السَّمَوَاتِ وَالأَرَضِينَ وَمِلْءَ مَا بَيْنَهُمَا وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ ". فَإِذَا سَجَدَ، قَالَ: "

---

[1] ـ صحيح مسلم/المسافرين ٢٦ (٧٧٠). سنن ابي داود/ الصلاة ١٢١ (٧٦٧). سنن النسائي/ قيام الليل ١٢ (١٦٢٦). سنن ابن ماجه الإقامة ١٨٠ (١٣٥٧) (تحفة الأشراف: ١٧٧٧٩)

اللَّهُمَّ لَكَ سَجَدْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَلَكَ أَسْلَمْتُ، سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي خَلَقَهُ فَصَوَّرَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ، فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ. ثُمَّ يَكُونُ آخِرَ مَا يَقُولُ بَيْنَ التَّشَهُّدِ وَالسَّلَامِ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه علي بن ابي طالب ﷺ فرمائي چي رسول الله ﷺ به كله دمونځ دپاره اودريدلو نو دا دعا ونيله:

«وجهت وجهي للذي فطر السموات والأرض حنيفا وما أنا من المشركين إن صلاتي ونسكي ومحياي ومماتي لله رب العالمين لا شريك له وبذلك أمرت وأنا من المسلمين اللهم أنت الملك لا إله إلا أنت أنت ربي وأنا عبدك ظلمت نفسي واعترفت بذنبي فاغفر لي ذنوبي جميعا إنه لا يغفر الذنوب إلا أنت واهدني لأحسن الأخلاق لا يهدي لأحسنها إلا أنت واصرف عني سيئها إنه لا يصرف عني سيئها إلا أنت آمنت بك تباركت وتعاليت أستغفرك وأتوب إليك»

ماخپل مخ دهغه ذات طرف ته متوجه كړی دی چاچي زمكه او اسمانونه پيداكړي دي زه د مشركانو نه نه يم. بی شكه زمامونځ زماقرباني زما ژوند اومړه كيدل دالله رب العالمين دپاره دي دهغه څوك سيال نشته دی ماته ددی حكم شوی دی اوزه د اطاعت ګذارونه يم . ای الله ته هم بادشاه يی ستانه علاوه بل څوك معبود نشته . ته زماپالونكی يی اوزه ستابنده يم ماپه خپل خان باندی زياتی كړی دی زه دخپلو ګناهونو اعتراف كوم پس زماټول ګناهونه معاف كړه ستانه علاوه بل څوك ګناهونه نه شي معاف كولی زمادخو اخلاقو طرف ته رهنمائي اوكړه دخو اخلاقو توفيق ستادطرف نه ميلاويږي بد اخلاق زمانه لرې كړی بد عادتونه ته لرې كولی شي زه ستاپه دربار كي حاضر يم بياحاضر يم ستامطيع فرمانبرداريم خيراونيكي ټول ستاپه لاسونو كي دي اودځه شر نسبت ستاطرف ته نه دی ته دډير بركت اورفعت خاوند يی اوزه ستانه مغفرت غوارم اوتاته توبه كوم ، اوكله چي به يی ركوع كوله نو داسي به يی ونيل":

«اللهم لك ركعت وبك آمنت ولك أسلمت خشع لك سمعي وبصري ومخي وعظامي وعصبي»

ای الله زه ستادپارد ټيټيږم په تامي ايمان راوړی دی اوستامطيع يم زماغوږونه زماسترګی

[1] ـ صحيح مسلم/المسافرين ٢٦ (٧٦٨)، والصلاة ١٢١ (٧٦٠)، سنن النسائي/الافتتاح ١٧ (٨٩٨)، سنن ابن ماجه/الإقامة ١٥ (٨٦٤) (تحفة الأشراف: ١٠٢٢٨)، ومسند احمد (١/٩٤، ٩٥، ١٠٢) وسنن الدارمي/الصلاة ٣٣ (١٢٧٤)، وانظر حديث رقم ٣٤٢٢

زماهډوکي زمامازغه اوزما پتی تول ستاپه مخکې عاجز دي:
«اللهم ربنا لك الحمد ملء السموات والأرضين وملء ما بينهما وملء ما شئت من شيء بعد»"

اوکله چې به یې درکوع نه سر اوچتولو نوفرمائیل به یې سمع الله لمن حمده ربنالك الحمد ، یعني الله تعالي دهغه خبره واوریدله چاچې دهغه حمد بیان کړو ای زمونږه ربه ستادپاره تعریف دی په اسمانونو اوزمکې چې ډکې شي اوددوي مینځ چې ډك شي اوددي نه وروسته دهرشي دډکیدلو برابر څومره چې ته اوغواړې(په دومره مقدار) اوکله چې به یې سجده کوله نوداسې به یې وئیل:
: «اللهم لك سجدت وبك آمنت ولك أسلمت سجد وجهي للذي خلقه فصوره وشق سمعه وبصره فتبارك الله أحسن الخالقين»

ای الله ماتاته سجده لګولی ده په تامي ایمان راوړی دی اوستامطیع اوفرمان بردار یم زمامخ دهغه ذات دپاره سجده کړی ده چاچې داپیداکړی دی هغه ته یې شکل ورکړی دی نوبهتر شکل یې ورکړی دی اوپه دی کې یې غوږونه اوسترګې جوړی کړي دي ډیر دبرکتونو والاالله دي څوك چې بهترین پیداکونکی دی اوکله چې به یې دمونځ نه سلام ګرځولو نودا دعابه یې کوله":

«اللهم اغفر لي ما قدمت وما أخرت وما أسررت وما أعلنت وما أنت أعلم به مني أنت المقدم وأنت المؤخر لا إله إلا أنت»

اللهم اغفرلي ماقدمت اي الله زماټول ګناهونه اوزماټول کوتاهیاني معاف کړي کوم چې مامخکې کړي دي اوکوم چې ماروستوکړي دي کوم چې مي په پټه کړي دي اوکوم چې مي په ښکاره کړي دي اوڅومره چې زه دحد نه تیرشوی وم اودکومو چې ته زمانه زیات خبرداریې ته خو (په نیکئ اوخیر کې) وړاندي کونکی اوروستي کونکی یې ستانه علاوه بل معبود نشته دی.

امام ترمذي رحمه الله ، دا حدیث حسن صحیح دی.

****

٣٤٢٢_حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الخَلَّالُ. حَدَّثَنَا أَبُو الوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ العَزِيزِ بْنُ أَبِي سَلَمَةَ. وَيُوسُفُ بْنُ المَاجِشُونِ. قَالَ عَبْدُ العَزِيزِ: حَدَّثَنِي عَمِّي، وَقَالَ يُوسُفُ أَخْبَرَنِي أَبِي، حَدَّثَنِي الأَعْرَجُ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ: " كَانَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ، قَالَ: " وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ، إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الْمَلِكُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، أَنْتَ رَبِّي وَأَنَا عَبْدُكَ ظَلَمْتُ نَفْسِي وَاعْتَرَفْتُ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي ذُنُوبِي جَمِيعًا إِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ، وَاهْدِنِي لِأَحْسَنِ الأَخْلَاقِ لَا يَهْدِي لِأَحْسَنِهَا إِلَّا أَنْتَ، وَاصْرِفْ عَنِّي سَيِّئَهَا لَا يَصْرِفُ عَنِّي سَيِّئَهَا إِلَّا أَنْتَ، لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ كُلُّهُ فِي يَدَيْكَ وَالشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْكَ أَنَا بِكَ وَإِلَيْكَ، تَبَارَكْتَ وَتَعَالَيْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ ". فَإِذَا رَكَعَ، قَالَ: " اللَّهُمَّ لَكَ رَكَعْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَلَكَ أَسْلَمْتُ خَشَعَ لَكَ سَمْعِي وَبَصَرِي وَعِظَامِي وَعَصَبِي ". فَإِذَا رَفَعَ، قَالَ: " اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءَ السَّمَاءِ وَمِلْءَ الأَرْضِ وَمِلْءَ مَا بَيْنَهُمَا وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ " فَإِذَا سَجَدَ، قَالَ: " اللَّهُمَّ لَكَ سَجَدْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَلَكَ أَسْلَمْتُ، سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي خَلَقَهُ فَصَوَّرَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ ". ثُمَّ يَقُولُ مِنْ آخِرِ مَا يَقُولُ بَيْنَ التَّشَهُّدِ وَالتَّسْلِيمِ: " اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ وَمَا أَسْرَفْتُ وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : علي بن ابي طالب ﷺ فرمائي چي رسول الله ﷺ به كله دمونځ دپاره اودريدلو نو دا دعا وئيله:

«وجهت وجهي للذي فطر السموات والأرض حنيفا وما أنا من المشركين إن صلاتي ونسكي ومحياي ومماتي لله رب العالمين لا شريك له وبذلك أمرت وأنا من المسلمين اللهم أنت الملك لا إله إلا أنت أنت ربي وأنا عبدك ظلمت نفسي واعترفت بذنبي فاغفر لي ذنوبي جميعا إنه لا يغفر الذنوب إلا أنت واهدني لأحسن الأخلاق لا يهدي لأحسنها إلا أنت واصرف عني سيئها إنه لا يصرف عني سيئها إلا أنت آمنت بك تباركت وتعاليت أستغفرك وأتوب إليك لبيك وسعديك والخير كله في يديك والشر ليس إليك أنا بك وإليك تباركت وتعاليت أستغفرك وأتوب إليك"

ما خپل مخ دهغه ذات طرف ته متوجه كرى دى چاچي زمكه او اسمانونه پيداكړي دي زه د مشركانو نه نه يم، بى شكه زمامونځ زماقرباني زما ژوند اومره كيدل دالله رب العالمين دپاره

[1] ـ صحيح مسلم/المسافرين ٢٦ (٧٦٨) ، دالصلاة ١٢١٨ (٧٦٠) . سنن النسائي/الافتتاح ١٧ (٨٩٨) . سنن ابن ماجه/الإقامة ١٥ (٨٦٣) (تحفة الأشراف : ١٠٢٢٨) ، و مسند احمد (٩٣/١ ، ٩٥ ، ١٠٢) . وسنن الدارمي/الصلاة ٣٣ (١٣٧٣) . وانظر حديث رقم ٣٣٣٣

دي دهغه ځوك سيال نشته دی ماته ددی حکم شوی دی اوزه د اطاعت ګذارونه یم ، ای الله ته هم بادشاه یی ستانه علاوه بل ځوك معبود نشته . ته زماپالونکی یی اوزه ستابنده یم ماپه خپل ځان باندی زیاتی کړی دی زه دخپلو ګناهونو اعتراف کوم پس زماټول ګناهونه معاف کړه ستانه علاوه بل ځوك ګناهونه نه شي معاف کولی زمادخو اخلاقو طرف ته رهنمائي اوکړه دخو اخلاقو توفیق ستادطرف نه میلاویږي بد اخلاق زمانه لری کړی بد عادتونه ته لری کولی شي زه ستاپه دربار کې حاضر یم بیاحاضر یم ستامطیع فرمانبرداریم خیراونیکي ټول ستاپه لاسونو کې دي اودځه شر نسبت ستاطرف ته نه دی ته ډیر برکت اورفعت خاوند یی اوزه ستانه مغفرت غواړم اوتاته توبه کوم ، حاضر یم او د حکم تابعدار یم او خیر ټول ستا په لاس کې دی او شر ستا دپاره نه دي، او ستاد عذاب نه صرف ته پناهي ورکولی شي، ته برکت والا یي او لويي شان والا ستا نه بخښنه غواړم او تاته توبه اوباسم.اوکله چي به یی رکوع کوله نو داسي به یی وئیل:

«اللهم لك ركعت وبك آمنت ولك أسلمت خشع لك سمعي وبصري ومخي وعظامي وعصبي»"

ای الله زه ستادپاره ټیټیږم په تامي ایمان راوړی دی اوستامطیع یم زماغوږونه زماسترګی زماهډوکي زمامازغه اوزما پټی ټول ستاپه مخکې عاجز دي": او چي د رکوع نه به پوته دا دعا به یي وئیله: «اللهم ربنا لك الحمد ملء السموات والأرضين وملء ما بينهما وملء ما شئت من شيء بعد» "ای زمونږه ربه ستادپاره تعریف دی په اسمانونو اوزمکي چي ډکي شي اوددوي مینځ چي ډك شي اوددي نه وروسته دهرشي دډکیدلو برابر ځومره چي ته اوغواړې په دومره مقدار، اوکله چي به یی سجده کوله نوداسی به یی وئیل :

«اللهم لك سجدت وبك آمنت ولك أسلمت سجد وجهي للذي خلقه فصوره وشق سمعه وبصره فتبارك الله أحسن الخالقين»

ای الله ماتاته سجده لګولی ده په تامي ایمان راوړی دی اوستامطیع اوفرمان بردار یم زمامخ دهغه ذات دپاره سجده کړی ده چاچي داپیداکړی دی هغه ته یی شکل ورکړی دی نوبهتر شکل یی ورکړی دی اوبه دی کې یی غوږونه اوسترګی جوړی کړي دي ډیر دبرکتونو والاالله دي ځوك چي بهترین پیداکونکی دی . اوکله چي به یی دمونځ نه سلام ګرځولو نودا دعابه یی کوله:

«اللهم اغفر لي ما قدمت وما أخرت وما أسررت وما أعلنت وما أنت أعلم به مني أنت المقدم وأنت المؤخر لا إله إلا أنت»

اي الله زماتول گناهونه اوزماتول كوتاهياني معاف كړي كوم چي مامخكې كړي دي اوكوم چي ماروستوكړي دي كوم چي مي په پټه كړي دي اوكوم چي مي په ښكاره كړي دي اوځومره چي زه دحد نه تيرشوى وم اودكومو چي ته زمانه زيات خبرداريې ته خو (په نيكئ اوخير كې) وړاندي كونكى اوروستي كونكى يې ستانه علاوه بل معبود نشته دى. امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دى.

****

٣٤٢٣ـحَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ. حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْهَاشِمِيُّ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْفَضْلِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ: " كَانَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ رَفَعَ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ، وَيَصْنَعُ ذَلِكَ أَيْضًا إِذَا قَضَى قِرَاءَتَهُ وَأَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ، وَيَصْنَعُهَا إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ، وَلَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي شَيْءٍ مِنْ صَلَاتِهِ وَهُوَ قَاعِدٌ، وَإِذَا قَامَ مِنْ سَجْدَتَيْنِ رَفَعَ يَدَيْهِ كَذَلِكَ فَكَبَّرَ. وَيَقُولُ حِينَ يَفْتَتِحُ الصَّلَاةَ بَعْدَ التَّكْبِيرِ: وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ، إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ. اللَّهُمَّ أَنْتَ الْمَلِكُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، سُبْحَانَكَ أَنْتَ رَبِّي وَأَنَا عَبْدُكَ، ظَلَمْتُ نَفْسِي وَاعْتَرَفْتُ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي ذُنُوبِي جَمِيعًا إِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ، وَاهْدِنِي لِأَحْسَنِ الْأَخْلَاقِ لَا يَهْدِي لِأَحْسَنِهَا إِلَّا أَنْتَ، وَاصْرِفْ عَنِّي سَيِّئَهَا لَا يَصْرِفُ عَنِّي سَيِّئَهَا إِلَّا أَنْتَ، لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ، أَنَا بِكَ وَإِلَيْكَ، وَلَا مَنْجَا وَلَا مَلْجَأَ إِلَّا إِلَيْكَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ ". ثُمَّ يَقْرَأُ، فَإِذَا رَكَعَ كَانَ كَلَامُهُ فِي رُكُوعِهِ أَنْ يَقُولَ: " اللَّهُمَّ لَكَ رَكَعْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَلَكَ أَسْلَمْتُ، وَأَنْتَ رَبِّي خَشَعَ سَمْعِي وَبَصَرِي وَمُخِّي وَعَظْمِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ". فَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ، قَالَ: " سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ. ثُمَّ يُتْبِعُهَا اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ مِلْءَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ ". فَإِذَا سَجَدَ قَالَ فِي سُجُودِهِ: " اللَّهُمَّ لَكَ سَجَدْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَلَكَ أَسْلَمْتُ، وَأَنْتَ رَبِّي سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي خَلَقَهُ، وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ تَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ ". وَيَقُولُ عِنْدَ انْصِرَافِهِ مِنَ الصَّلَاةِ: " اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ أَنْتَ إِلَهِي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ الشَّافِعِيِّ وَبَعْضِ أَصْحَابِنَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَأَحْمَدُ لَا يَرَاهُ، وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ وَغَيْرِهِمْ

يَقُولُ: هَذَا فِي صَلَاةِ التَّطَوُّعِ وَلَا يَقُولُهُ فِي الْمَكْتُوبَةِ. سَمِعْت أَبَا إِسْمَاعِيل يَعْنِي التِّرْمِذِيَّ، مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيل بْنِ يُوسُفَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ سُلَيْمَانَ بْنَ دَاوُدَ الْهَاشِمِيَّ، يَقُولُ: وَذَكَرَ هَذَا الْحَدِيثَ، فَقَالَ: هَذَا عِنْدَنَا مِثْلُ حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ. [1]

ترجمه . علي بن ابي طالب ﷺ فرمائي چي رسول الله ﷺ به كله د فرض مونځ دپاره اودريدلو لاسونه به يي د اوږو پوري پورته كړل ، او چي قراءت به يي پوره كړو نو به يي هم دا كار كولو، اود ركوع وخت كې به يي هم دا كار كولو. او چي دركوع نه به يي سر پورته كړو به يي هم دا كار كولو، . او سمع الله لمن حمده به يي ووئيل. اوپه مونځ كي به يي د ناستي په حالت كي هيڅ قسم لاس نه پورته كول، او چي ددوه سجدو نه به پورته نو لاسونه به يي پورته كړل او د مونځ شروع كولو وخت كي به يي د تكبير نه پس دا دعا وئيله:

«وجهت وجهي للذي فطر السموات والأرض حنيفا وما أنا من المشركين إن صلاتي ونسكي ومحياي ومماتي لله رب العالمين لا شريك له وبذلك أمرت وأنا من المسلمين اللهم أنت الملك لا إله إلا أنت أنت ربي وأنا عبدك ظلمت نفسي واعترفت بذنبي فاغفر لي ذنوبي جميعا إنه لا يغفر الذنوب إلا أنت واهدني لأحسن الأخلاق لا يهدي لأحسنها إلا أنت واصرف عني سيئها إنه لا يصرف عني سيئها إلا أنت آمنت بك تباركت وتعاليت أستغفرك وأتوب إليك لبيك وسعديك والخير كله في يديك والشر ليس إليك أنا بك وإليك تباركت وتعاليت أستغفرك وأتوب إليك"

ما خپل مخ دهغه ذات طرف ته متوجه كړى دى چاچي زمكه او اسمانونه پيداكړي دي زه د مشركانو نه نه يم. بى شكه زمامونځ زماقرباني زما ژوند اومره كيدل دالله رب العالمين دپاره دي دهغه څوك سيال نشته دى ماته ددى حكم شوى دى اوزه د اطاعت گذارونه يم ، اى الله ته هم بادشاه يى ستانه علاوه بل څوك معبود نشته . ته زماپالونكى يې اوزه ستابنده يم ماپه خپل خان باندى زياتى كړى دى زه دخپلو گناهونو اعتراف كوم پس زماتول گناهونه معاف كړه ستانه علاوه بل څوك گناهونه نه شي معاف كولى زمادخو اخلاقو طرف ته رهنمائي اوكړه دخو اخلاقو توفيق ستادطرف نه ميلاويږي بد اخلاق زمانه لرى كړى بد عادتونه ته لرى كولى شي زه ستاپه دربار كي حاضر يم بياحاضر يم ستامطيع فرمانبرداريم خيراونيكي ټول ستاپه

[1] ـ سنن ابي داود/ الصلاة ۱۱۸ (۷۴۴) . سنن النسائي/الافتتاح ۱۷ (۸۹۸) . سنن ابن ماجه/الإقامة ۱۵ (۸۶۴) (تحفة الأشراف : ۱۰۲۲۸) . سنن الدارمي/الصلاة ۳۳ (۱۲۷۴)

لاسونو کې دي اودځه شر نسبت ستاطرف ته نه دی ته ډېر برکت اورفعت خاوند یی اوزه ستانه مغفرت غواړم اوتاته توبه کوم ، حاضر یم او د حکم تابعدار یم او خير ټول ستا په لاس کې دی او شر ستا دپاره نه دي، او ستاد عذاب نه صرف ته پناهي ورکولی شې. ته برکت والا يې او لويې شان والا ستا نه بخښنه غواړم او تاته توبه اوباسم.اوکله چې به يې رکوع کوله نو داسې به يې وئيل:

«اللهم لك ركعت وبك آمنت ولك أسلمت خشع لك سمعي وبصري ومخي وعظامي وعصبي»

ای الله زه ستادپاره ټیټیږم په تامې ایمان راوړی دی اوستامطیع یم زماغوږونه زماسترګی زماهډوکي زمامازغه اوزما پټی ټول ستاپه مخکې عاجز دي". او چې د رکوع نه به پورته دا دعا به یې وئیله:

«اللهم ربنا لك الحمد ملء السموات والأرضين وملء ما بينهما وملء ما شئت من شيء بعد»

ای زمونږ ربه ستادپاره تعریف دی په اسمانونو اوزمکې چې ډکې شي اوددوي مینځ چې ډك شي اوددې نه وروسته دهرشي دډکیدلو برابر څومره چې ته اوغواړې په دومره مقدار، اوکله چې به یی سجده کوله نوداسې به یی وئیل :

«اللهم لك سجدت وبك آمنت ولك أسلمت سجد وجهي للذي خلقه فصوره وشق سمعه وبصره فتبارك الله أحسن الخالقين»

ای الله ماتاته سجده لګولی ده په تامې ايمان راوړی دی اوستامطيع اوفرمان بردار يم زمامخ دهغه ذات دپاره سجده کړی ده چاچې داپیداکړی دی هغه ته یی شکل ورکړی دی نوبهتر شکل یی ورکړی دی اوپه دی کې یی غوږونه اوسترګی جوړی کړي دي ډير دبرکتونو والا الله دي څوك چې بهترين پيداكونكی دی ، اوكله چې به يی دمونځ نه سلام ګرځولو نودا دعابه یی کوله:

«اللهم اغفر لي ما قدمت وما أخرت وما أسررت وما أعلنت وما أنت أعلم به مني أنت المقدم وأنت المؤخر لا إله إلا أنت»

اي الله زماټول ګناهونه اوزماټول کوتاهياني معاف کړي کوم چې مامخکې کړي دي اوکوم چې ماروستوکړي دي کوم چې مې په پټه کړي دي اوکوم چې مې په ښکاره کړي دي اوڅومره چې زه دحد نه تیرشوی وم اودکومو چې ته زمانه زيات خبرداریی ته خو (په نيکۍ اوخير کې) وړاندې کونکی اوروستې کونکی یی ستانه علاوه بل معبود نشته دی.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دی. اود بعضې شوافعو او زمونږ دبعضې فقهاو په دې باندې عمل دی امام ترمذي رحمه الله وايي: مګر امام احمد بن حنبل ددی قائل

نه دی. مګر د کوفي وغیره بعضي اهل علم وايي چي دا کار په نفلي مونځونو کي کول پکار دي او په فرائضو کي به داسي نه کوي. د ابو اسماعيل الترمذي نه مي اوريدلي دي چي محمد بن اسماعيل بن يوسف به ونيل چي سليمان بن داود هاشمي په دي باندي قول کړی دی او بيا يي دا حديث ذکر کړو او ونيل يي دا روايت زمونږ په نزد د زهري دروايت پښان دی چي د سالم په واسطه يي دهغه دپلار نه نقل کوي

****

٣٣_باب مَا يَقُولُ فِي سُجُودِ الْقُرْآنِ

په سجده دتلاوت کي څه ونيل پکار دي

٣٤٢٤_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ بْنِ خُنَيْسٍ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي يَزِيدَ، قَالَ: قَالَ لِي ابْنُ جُرَيْجٍ: أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي يَزِيدَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، رَأَيْتُنِي اللَّيْلَةَ وَأَنَا نَائِمٌ كَأَنِّي كُنْتُ أُصَلِّي خَلْفَ شَجَرَةٍ، فَسَجَدْتُ فَسَجَدَتِ الشَّجَرَةُ لِسُجُودِي وَسَمِعْتُهَا وَهِيَ تَقُولُ: اللَّهُمَّ اكْتُبْ لِي بِهَا عِنْدَكَ أَجْرًا، وَضَعْ عَنِّي بِهَا وِزْرًا، وَاجْعَلْهَا لِي عِنْدَكَ ذُخْرًا، وَتَقَبَّلْهَا مِنِّي كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ عَبْدِكَ دَاوُدَ قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ، قَالَ لِي جَدُّكَ،: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ، فَقَرَأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَجْدَةً ثُمَّ سَجَدَ، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَسَمِعْتُهُ وَهُوَ يَقُولُ مِثْلَ مَا أَخْبَرَهُ الرَّجُلُ عَنْ قَوْلِ الشَّجَرَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ. [1]

ترجمه . دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي يو کس عرض اوکړو اي دالله رسوله زه اوده وم چي دشپي مي ته په خوب کي اوليدلي چي يوي وني شاته دي مونځ کولو ما سجده اوکړه نو اوني هم زما شاته زما دسجدي په متابعت کي سجده اوکړه ما ثناء ونيله " «**اللهم اكتب لي بها عندك أجرا وضع عني بها وزرا واجعلها لي عندك ذخرا وتقبلها مني كما تقبلتها من عبدك داود**» " يعني اي الله ددي په بدل کي ته زما دپاره اجر او ثواب اوليکي او ددي په عوض کي زما نه دګناهونو برج کوز کړي او دي لره زما دپاره دخان سره په اخرت کي ذخيره کړي او دا زما دپاره داسي قبول کړي څنګه چي تادخپل بنده داود عليه السلام دعا قبوله کړي ده، ابن جريج وائي ماته ستاسو (يعني دحسين بن عبيدالله، نيکه عبيدالله اوونيل ابن عباس ونيلي

[1] الف . حديث رقم .

دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په دي موقعه دسجدي يو ايت تلاوت كړو او بيا يي سجده اوكړه ابن عباس وائي ما ورنه په سجده كي واوريدل چي دا دعا يي ونيله " اللَّهُمَّ اكْتُبْ لِي بِهَا عِنْدَكَ أَجْرًا، وَضَعْ عَنِّي بِهَا وِزْرًا، وَاجْعَلْهَا لِي عِنْدَكَ ذُخْرًا، وَتَقَبَّلْهَا مِنِّي كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ عَبْدِكَ دَاوُدَ ".

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو او په دي باب كي دابوسعيد خدري نه هم روايت وارد دي

****

٣٤٢٥ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ الْحَذَّاءُ، عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: " كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي سُجُودِ الْقُرْآنِ بِاللَّيْلِ: سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي خَلَقَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

تخريج: انظر حديث رقم ٥٨٠

ترجمه دام المومنين عائشه رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم به دشپي دتلاوت په سجده كي دا دعاء ونيله. « سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي خَلَقَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ ». يعني زما مخ ماهغه ذات ته كيخود چاچي پيدا كړي اوغوږونه اوستركي اوطاقت ني وركړي دي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

****

٣٤ـ باب مَا يَقُولُ إِذَا خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ

دكور نه وتلو وخت كي ددعا غوښتلو بيان

٣٤٢٦ـ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الأُمَوِيُّ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ قَالَ يَعْنِي إِذَا خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ: بِسْمِ اللَّهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، يُقَالُ لَهُ كُفِيتَ وَوُقِيتَ وَتَنَحَّى عَنْهُ الشَّيْطَانُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا

[1] تفرد به المؤلف رحمه الله.

الْوَجْهِ.(١)

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي چا دكور نه دبهر وتلو په وخت كې دا جملی اووئيلي بسم الله توكلت علي الله ولاحول ولاقوة الابالله (دالله په نامه دكوره اوخم په الله مي توكل دی دګناه نه بچ كيدو او نيكئ كولو هيڅ طاقت نه لرم بی دالله دامدا نه) هغه ته اووئيلی شو تاته هدايت اوشو ستا ذمه واري واخيستی شوه او بچ كړی شوی او شيطان ترينه په ډډه شو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي او مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو.

لغات: وقيت وقي وقاية دضرب نه معني دچا حفاظت كول.

تشريح : دكور نه وتلو په وخت كې بل چاته ددعا كولو وضاحت.

په يو بل روايت كې دا دعا په زيات وضاحت سره راغلي ده چي په اخر كې يي دا الفاظ دي "فتنحي له الشيطان ويقول الشيطان اخر كيف لك برجل قدهدي وكفي ووقي" يعني بيا ددينه پس شيطان دده نه لري شي او بل شيطان ده ته اووائي چي اوس به دی څنګه قابو كيدی شي ده ته خو نيغه لار اوخودلی شوه او دنورو نه مستغني كړی شو او دتمامو بدو كارونو نه بچ كړی شو.

اګر چي علماؤ ددي دعا استحباب ليكلی دی ليكن تاسو اوګورئ چي دشريعت په مستحبو كارونو كې څومره مستحب دی په مستحبو كې چي څومره حفاظت دی نو په سنن او واجباتو او فرائضو كې به څومره وي په دي دعا كې دالله په ذات توكل او اعتماد دی او د لاحول په ذريعه خپله عاجزي خودل دي ددي په سبب انسان ته الله دطرفه دهدايت انعام ملاويږي مطلب دادی چي هدايت ددي خبري نوم دی چي بنده دي الله ياد اوساتي او په هغه باندي دكامل اعتماد كولو سره به خپل ټول كارونه الله تعالي ته سپاري.

****

٣٥_باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٤٢٧_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ عَامِرٍ الشَّعْبِيِّ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ إِذَا خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ، قَالَ: بِسْمِ اللَّهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى

---

[1] سنن ابي داود/ الأدب ١١٢ (٥٠٩٥) ، سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٣٤ (٨٩) (تحفة الأشراف : ١٨٣)

اللهِ، اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ نَزِلَّ أَوْ نَضِلَّ أَوْ نَظْلِمَ أَوْ نُظْلَمَ أَوْ نَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيْنَا " . قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دام المومنين ام سلمه محزوميه رضي الله عنها نه (چي نوم يې هندبنت حذيفه دی) روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به چي دكوره وتونو دا به يې فرمائيل : «بسم الله توكلت على الله اللهم إنا نعوذ بك من أن نزل أو نضل أو نظلم أو نظلم أو نجهل أو يجهل علينا» دالله په نوم دكوره اوځم او په الله مي توكل دی يا الله زه ستا نه پناه غواړم ددي نه چي گمراه شم يا مي څوك گمراكړي او ددي نه چي خطا شم يا مي څوك خطا كړي او ددينه چي په چا زياتی اوكړم يا راباندي څوك زياتی اوكړي او ددي نه چي ناړامي اوكړم يا راباندي څوك ناړامي اوكړي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

لغات: ذلّ ذلاد ضرب نه معني دخويدلو دي.

اجهل: جهل جهلا دسمع نه په معني دنه پوهيدو دي ، كه په صله كې يې علي راشي نو بيا به معني دظاهرولو دجهالت وي.

تشريح : بسم الله الخ، دا دعا به نبي كريم صلي الله عليه وسلم هم دكور نه دوتلو په وخت كې غوښتله نو په دي بنا مونږ لره ددي دعا اهتمام كول پكار دي او ددي دعا په بركت سره به انشاء الله هيڅ يو انسان ددنيا او اخرت دناكامۍ سره مخامخ نشي .

"ان اضل " چي گمراه شم، ددينه مراد دادی چي ای الله زه ستانه سوال كوم چي دكومو كارونو په طلب پسې زه روان يم هغه زمانه پټ اونه ساتي .

ازل او ازل: ددينه مراد گناه ده مطلب دادی چي زه نه پخپله گناه اوكړم او نه مي بل څوك گناه نه تيار كړي.

اظلم او اظلم : چي زه نه په چا ظلم اوكړم او نه دظلم ذريعه اوگرځم او نه بل څوك په ما ظلم اوكړي خكه چي دقيامت په ورځ به دظلم ډيره سخته سزا وي په يو روايت كې دي "اظلم ظلمات يوم القيامة" يعني ظلم به دقيامت په ورځ دتيارو په شكل كې وي.

اجهل او يجهل عليها: چي نه زه پخپله په چا جهالت اوكړم او نه په ماباندي جهالت اوشي ددي جهالت نه مراد دادی چي چاته ضرر اونه رسوم ياماته څوك ضرر اونه رسوي.

---

[1] - سنن ابي داود/ الأدب ۱۱۲ (۵۰۹۴) . سنن النسائي/الاستعاذة ۳۰ (۵۴۸۸) . ۶۵ (۵۵۴۱) . سنن ابن ماجه/الدعاء ۱۸ (۳۸۸۴) (تحفة الأشراف : ۱۸۱۶۸) . و مسند احمد (۶/۳۰۶ . ۳۱۸ . ۳۲۲)

د ام سلمه رضي الله عنها مختصر حالات

نوم هند كنيه ام سلمه په قريشو كې دمخزوم خاندان سره يې تعلق وو سلسله دنسب يې داده هند بنت ابي اميه سهل بن مغيره بن عبدالله بن عمرو بن مخزوم دپلار نوم يې ابو اميه وو او انتهائي سخي انسان وو

اوله نكاح يې دعبدالله بن اسد چې په ابو سلمه مشهور وو شوي وه او دا دابو سلمه دتره خوي وو او درسول الله صلي الله عليه وسلم رضاعي ورور وو اسلام په ابتداء كې دخپل خاوند سره مسلمانه شوي وه او حبشي ته يې هجرت هم كړى وو خو اخر په عزوه احد كې ددي خاوند زخمي شو او جمالي ثاني كې دهجرت په څلورم كال ددي زخمونو په وجه وفات شو.

رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل صبر كوه او دده دپاره دمغفرت دعا غواړه او داسي وايه اى الله دده نه بهترجانشين ماته راكړي څه موده پس ابوبكر رضي الله عنه ام سلمه ته دنكاح پيغام وركړو خو هغي قبول نكړو بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم دنكاح پيغام وركړو نو ام سلمه اووئيل په ما كې يو څو خبري دي يو زه سخته غيرتي يم، دويم بال بچي داره يم، دريم عمر مي زيات دى ، خو رسول الله صلي الله عليه وسلم دا ټولي خبري قبولي كړې او ددي سره يې نكاح اوكړه دا نكاح په شوال كې شوي وه (نسائي ۱۱۵).

دهجرت په يولسم كال نبي كريم صلي الله عليه وسلم بيمار وو يوه ورځ يې طبعيت ډير خراب شو نو ام سلمه رضي الله عنها چغه كړه نو رسول الله منع كړه او ورته يې اوفرمائيل چې دا خو دمسلمان شان نه دى.

وفات. په كوم كال چې دحره واقعه پيښه شوي وه ۶۳هجري كې نوپه همدغه كال ام سلمه وفات شوي وه او په دغه وخت كې ددي عمر ۸۴ كلونه وو چې ابوهريره رضي الله عنه وړاندي جنازه اوكړه دمروياتو شمير يې ۳۷۸دى ۱۳پكي متفق عليه دى.

****

٣٦_باب مَا يَقُولُ إِذَا دَخَلَ السُّوقَ

بازارته داخليدووخت كي كومه دعاوئيل پكاردي

٣٤٢٨_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ. حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ. أَخْبَرَنَا أَزْهَرُ بْنُ سِنَانٍ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ وَاسِعٍ، قَالَ: قَدِمْتُ مَكَّةَ فَلَقِيَنِي أَخِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ فَحَدَّثَنِي، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَنْ دَخَلَ السُّوقَ، فَقَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. كَتَبَ اللَّهُ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ حَسَنَةٍ وَمَحَا عَنْهُ أَلْفَ أَلْفِ سَيِّئَةٍ وَرَفَعَ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ دَرَجَةٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ

غَرِيبٌ. وَقَدْ رَوَاهُ عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ وَهُوَ قَهْرَمَانُ آلِ الزُّبَيْرِ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ هَذَا الحَدِيثَ نَحْوَهُ. (1)

ترجمه: دعمر فاروق رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي چاچي بازار ته د داخليدو وخت كي دا كلمات اولوستل " لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. "يعني نشته ډيخوك لائق دبندگئ مګر صرف الله تعالي دي يواځي چي هيڅ قسم شريك ورسره نشته خاص دهغه دپاره بادشاهي ده خاص هغه لره حمد او ثناء ده او خاص هغه ژوندي كول او مړه كول كوي او هغه ژوندي دي چي هيڅ كله ورباندي مرګ نه راځي او په لاس كي يې خير دي او يقينا هغه په هر څه قادر دي. نو الله تعالي به دده دپاره لس نيكياني اوليكي او لس ګناهونه به يې معاف كړي او لس درجي به يې لوړي كړي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي عمرو بن دينار دزبير رضي الله عنه دكورنئ دخرچ او امدن منتظم وو، هغه دا حديث دسالم بن عبدالله نه په همدي مضمون نقل كړي دي.

****

٣٤٢٩ـ حَدَّثَنَا بِذَلِكَ أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، وَالْمُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ وَهُوَ قَهْرَمَانُ آلِ الزُّبَيْرِ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَنْ قَالَ فِي السُّوقِ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. كَتَبَ اللَّهُ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ حَسَنَةٍ وَمَحَا عَنْهُ أَلْفَ أَلْفِ سَيِّئَةٍ وَبَنَى لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَعَمْرُو بْنُ دِينَارٍ هَذَا هُوَ شَيْخٌ بَصْرِيٌّ تَكَلَّمَ فِيهِ بَعْضُ أَصْحَابِ الحَدِيثِ، وَقَدْ رَوَى عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ أَحَادِيثَ لَا يُتَابَعُ عَلَيْهَا، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الوَجْهِ. وَرَوَاهُ يَحْيَى بْنُ سُلَيْمٍ الطَّائِفِيُّ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. (1)

ترجمه: عمرو بن دينار رضي الله عنه دزبير رضي الله عنه دكورنئ مالي منتظم دسالم بن

1 - سنن ابن ماجه/التجارات ٤٠ (٢٢٣٥) (تحفة الأشراف: ١٠٥٢٨)
1 - سنن ابن ماجه/التجارات ٤٠ (٢٢٣٥) (تحفة الأشراف: ١٠٥٢٨)

عبدالله بن عمر نه روايت نقل كوي او هغه يي دخپل پلار نه او هغه يي دده دنيكه عمرفاروق رضي الله عنه نه نقل كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي بازار ته د داخليدو وخت كي دا كلمات " لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. "يعني نشته هيڅوك لائق دبندګۍ مګر صرف الله تعالي دي يواځي چي هيڅ قسم شريك ورسره نشته خاص دهغه دپاره بادشاهي ده خاص هغه لره حمد او ثناء ده او خاص هغه ژوندي كول او مړه كول كوي او هغه ژوندي دي چي هيڅ كله وربانديي مرګ نه راځي او په لاس كي يي خير دي او يقينا هغه په هر څه قادر دي، اووائي دهغه دپاره به لس لاكه نيكياني اوليكلي شي او لس لاكه ګناهونه به يي معاف شي او په جنت كي به الله تعالي دده دپاره كور جوړوي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: عمرو بن دينار بصري شيخ دي مګر بعضي محدثينو وربانديي كلام كړي دي، يحي بن سليم طائفي دا حديث دعمران بن مسلم نه او هغه دعبدالله بن دينار نه او هغه دابن عمر په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي ديي او هغوئ په دي كي دعمر رضي الله عنه واسطه نه ده ذكر كړي.

****

٣٧_باب مَا يَقُولُ الْعَبْدُ إِذَا مَرِضَ

دبيماريدو وخت كي كومه دعا وئيل پكار دي

٣٤٣٠_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ. حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ جُحَادَةَ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الْجَبَّارِ بْنُ عَبَّاسٍ. عَنْ أَبِي إِسْحَاق. عَنِ الأَغَرِّ أَبِي مُسْلِمٍ. قَالَ: أَشْهَدُ عَلَى أَبِي سَعِيدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُمَا شَهِدَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. أَنَّهُ قَالَ: " مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ. صَدَّقَهُ رَبُّهُ. فَقَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا وَأَنَا أَكْبَرُ. وَإِذَا قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ. قَالَ: يَقُولُ اللَّهُ: لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا وَحْدِي. وَإِذَا قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ. قَالَ اللَّهُ: لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا وَحْدِي لَا شَرِيكَ لِي، وَإِذَا قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ. قَالَ اللَّهُ: لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا لِيَ الْمُلْكُ وَلِيَ الْحَمْدُ. وَإِذَا قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ. قَالَ اللَّهُ: لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِي. وَكَانَ يَقُولُ: مَنْ قَالَهَا فِي مَرَضِهِ ثُمَّ مَاتَ لَمْ تَطْعَمْهُ النَّارُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

وَقَدْ رَوَاهُ شُعْبَةُ. عَنْ أَبِي إِسْحَاق. عَنِ الأَغَرِّ أَبِي مُسْلِمٍ. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. حَدَّثَنَا بِذَلِكَ مُحَمَّدُ بْنُ

بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا. [1]

ترجمه: ابو سعيد خدري رضي الله عنه او ابو هريره رضي الله عنه دواړه دا روايت کوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي لااله الا الله والله اكبر اووائي الله تعالي يې تصديق کوي او فرمائي لا اله الا انا وانا اكبر، بغير خما نه بل څوك دعبادت لائق نشته او زه دټولو نه لويې يم، او كله چي څوك دا الفاظ اووائي لااله الاالله وحده لا شريك له، نو الله تعالي يې تصديق کوي فرمائي لا اله الا انا وحدي لا شريك لي بغير خما نه بل څوك دعبادت لائق نشته زه يك تنها يم شريك مې نشته، او چي څوك دا الفاظ اووائي (لااله الاالله له الملك وله الحمد) الله تعالي يې تصديق کوي او فرمائي (لا اله الا انا لي الحمد ولي الملك) او چي څوك دا الفاظ اووائي (لااله الا الله لاحول ولا قوة الا بالله) نو الله تعالي يې تصديق کوي او فرمائي (لااله الا انا ولا حول ولا قوة الا بي) (لااله الا الله والله اكبر لا اله الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد لا اله الاالله ولا حول ولاقوة الا بالله، كه دمرض په حالت کي چا اووئيل او مړ شو ددوزخ داور نه بچ شو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي، او شعبه دا حديث دابواسحاق نه او هغه دمسلم نه او هغه دابوهريره نه په همدي مضمون نقل کړي دي دارنګي محمد بن بشار دا حديث دمحمد بن جعفر نه او هغه دشعبه نه په همدي مضمون نقل کړي دي.

لغات: تطعمه: طعم طعما معني يوشي څکل دسمع نه طعاما معني خوراك دباب افعال نه متعدي استعماليږي.

تشريح: په پورتني روايت کې چي کوم کلمات مذکور دي په دي کې دالله دعظمت ذکر دی او په دي باندي الله تعالي خوشحاليږي دا کلمات په عامو وختونو کې هم داجر اوثواب باعث دي او خاصکر په بيمارئ کې ددي لوستل زيات ضروري دي او که چاته په دي بيمارئ کې مرګ راشي نو دا به دده دپاره دحسن خاتمه ذريعه وي.

****

۳۸_ باب مَا يَقُولُ إِذَا رَأَى مُبْتَلًى

[1] ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ١٧(٣٠، ٣١)، ١٣ (٣٢٨). سنن ابن ماجه/الأدب ٥٣ (٣٧٩٤) (تحفة الأشراف: ٣٩٦٦، ١٢١٤٢).

دكوم بيمار دليدلو وخت كي ددعاونيلو بيان

٣٤٣١_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بَزِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ مَوْلَى آلِ الزُّبَيْرِ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَنْ رَأَى صَاحِبَ بَلَاءٍ، فَقَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانِي مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهِ، وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلًا، إِلَّا عُوفِيَ مِنْ ذَلِكَ الْبَلَاءِ كَائِنًا مَا كَانَ مَا عَاشَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَمْرُو بْنُ دِينَارٍ قَهْرَمَانِ آلِ الزُّبَيْرِ هُوَ شَيْخٌ بَصْرِيٌّ وَلَيْسَ هُوَ بِالْقَوِيِّ فِي الْحَدِيثِ، وَقَدْ تَفَرَّدَ بِأَحَادِيثَ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ، أَنَّهُ قَالَ: إِذَا رَأَى صَاحِبَ بَلَاءٍ فَتَعَوَّذَ مِنْهُ يَقُولُ ذَلِكَ فِي نَفْسِهِ وَلَا يُسْمِعُ صَاحِبَ الْبَلَاءِ. [1]

ترجمه : دعمررضي الله عنه نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي كله چي څوك په مصيبت كي يو ګرفتار بنده اويني او دا دعائيه كلمات اووائي " الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانِي مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهِ، وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلًا " يعني ټول تعريفونه الله تعالي لره دي چاچي زه دهغه بلا اومصيبت نه بچ ساتلي يم په كومه كي چي ته مبتلا شوي يي او ماته يي فضيلت راكړي دي پخپل ډيرو مخلوقاتو. بيا به دا دعا ويونكي په ټول ژوند كي دمصيبتونو نه محفوظ وي اګر كه دي هر څنګه ژوند تير كړي

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي. او عمرو بن دينار د ال زبير خزانچي دي او بصري شيخ دي او په باب دحديث كي خاص قوي نه دي او دي دسالم بن عبدالله بن عمر نه دډيرو احاديثو په نقل كولو كي منفرد دي. ابوجعفر محمد بن علي وائي كله چي څوك په مصيبت كي مبتلا لره اويني نو پكار ده چي ددي مصيبت نه پناه اوغواړي خو دا دعا دي مصيبت زده ته نه اوري. په دي باب كي دابوهريره رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

****

٣٤٣٢_حَدَّثَنَا أَبُو جَعْفَرٍ السِّمْنَانِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا مُطَرِّفُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْمَدِينِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ الْعُمَرِيُّ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ رَأَى مُبْتَلًى فَقَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانِي مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهِ

[1] ـ سنن ابن ماجه/الدعاء ٢٢ (٣٨٩٢) (تحفة الأشراف: ١٠٥٢٢)

وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلًا . لَمْ يُصِبْهُ ذَلِكَ الْبَلَاءُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه . دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي كله چي څوك په مصيبت كي يو گرفتار بنده اويني او دا دعائيه كلمات اوواني " الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانِي مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهِ، وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلًا " يعني ټول تعريفونه الله تعالي لره دي چاچي زه د هغه بلا اومصيبت نه بچ ساتلي يم په كومه كي چي ته مبتلا شوي يې او ماته يې فضيلت راكړي دي پخپل ډيرو مخلوقاتو ،هيڅ كله به ده ته دا مصيبت اونه رسيږي

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي.

****

٣٩ـ باب مَا يَقُولُ إِذَا قَامَ مِنَ الْمَجْلِسِ

ديو مجلس نه دروا نيدو وخت كي ددعا غوښتلو بيان

٣٤٣٣ـ حَدَّثَنَا أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ أَبِي السَّفَرِ الْكُوفِيُّ وَاسْمُهُ أَحْمَدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْهَمْدَانِيُّ. حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ، قَالَ: قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ: أَخْبَرَنِي مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ جَلَسَ فِي مَجْلِسٍ فَكَثُرَ فِيهِ لَغَطُهُ، فَقَالَ قَبْلَ أَنْ يَقُومَ مِنْ مَجْلِسِهِ ذَلِكَ: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ، إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا كَانَ فِي مَجْلِسِهِ ذَلِكَ ". وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي بَرْزَةَ، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ سُهَيْلٍ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

ترجمه : دابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي څوك چي په يو مجلس كي كيناستو او ډيرى خبرى يې اوكړى بيايې دغې مجلس دپاخيدو نه مخكى اووئيل: ((سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ . أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ . أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ)) يا الله ته پاك يې ټول تعريفونه ستادي زه اقرار كوم چي تانه سيوا بل معبود نشته تانه بخښنه غوارم (او تاته رجوع كوم) الله به ورته په دغه مجلس كي كړى ټول گناهونه معاف

---

1 - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٢٦٩٠)

2 - سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ١٣٧ (٣٩٧/م) (تحفة الأشراف : ١٢٧٥٢)

کړي
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي او مونږ يي دسهيل په روايت صرف په همدي سند پيژنو. او په دي باب کي دابوبرزه او عائشه رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.
لغات : لغطه: لغط لغتا ولغاتا دفتح نه لغط القوم، معني شور کول ، مصدر دي ددروازي نه بهر صحن، جمع يي الغاط راځي.
تشريح : فكثر فيه لغطه، يعني په دي مجلس کې ډيري بي فائدي خبري وشوي، لغطه داسي خبرو ته وئيلي شي چي په مطلب يي څوك نه پوهيږي ، يا داچي بلكل بيي فائدي خبري وي.
الا غفر له ماكان من مجلسه ذلك، يعني ده ته به دده ددي مجلس گناه معاف شي، علماء وايي چي دمغفرت نه مراد صغيره گناهونه دي كبيره گناهونه او حقوق العباد خپلو حقدارانو ته په سپارلو او يا ورنه معافي غوښتلو سره معاف كيږي.

****

٣٤٣٤ـحَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا الْمُحَارِبِيُّ، عَنْ مَالِكِ بْنِ مِغْوَلٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سُوقَةَ. عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: " كَانَ يُعَدُّ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَجْلِسِ الْوَاحِدِ مِائَةُ مَرَّةٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَقُومَ: رَبِّ اغْفِرْ لِي وَتُبْ عَلَيَّ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الْغَفُورُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سُوقَةَ بِهَذَا الإِسْنَادِ، نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (١)
ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به ديو مجلس نه دروانيدو وخت كي سل سل پيري دا دعائيه كلمات وئيل " رَبِّ اغْفِرْ لِي وَتُبْ عَلَيَّ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الْغَفُورُ " يعني اي زمونږه ربه مونږ ته مغفرت اوكړي او زمونږ توبه قبوله كړي يقينا ته توبه قبلونكي او بخونكي يي. سفيان دمحمد بن ثوقه نه په همدي سند او په همدي مضمون روايت نقل كړي دي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

٤٠ـ بَاب مَا جَاءَ مَا يَقُولُ عِنْدَ الْكَرْبِ

---

١ ـ سنن ابي داود/الصلاة ٣٦١(١٥١٦). سنن ابن ماجه/الأدب ٥٧(٣٨١٤) (تحفة الأشراف: ٨٤٢٢)

په مصيبت کي دګرفتارکس دپاره کومه دعا وئيل پکار دي

٣٤٣٥ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ. حَدَّثَنِي أَبِي. عَنْ قَتَادَةَ. عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ. عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَدْعُو عِنْدَ الْكَرْبِ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ الْحَلِيمُ الْحَكِيمُ. لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ. لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ". حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ. عَنْ هِشَامٍ. عَنْ قَتَادَةَ. عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ. عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ. عَنْ عَلِيٍّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دتکليف په وخت کي فرمائيل: : «لا إله إلا الله الحليم الحكيم لا إله إلا الله رب العرش العظيم لا إله إلا الله رب السموات والأرض ورب العرش الكريم» يعني الله نه غير بل معبود نشته هغه ډير حليم او حکيم دی الله نه غير بل معبود نشته هغه دعرش عظيم رب دی الله نه غير بل معبود نشته هغه داسمانونو اوزمکی او عرش عظيم رب دی.

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي مونږ ته محمد بن بشار روايت بيان کړی دي او هغه ته ابن ابو عدي او هغه ته هشام او هغه ته قتاده او قتاده دابوالعاليه نه او هغه دابن عباس په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دمذکوره حديث هم معني روايت نقل کړی دي، او په دي باب کي دعلي رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

((لاإلهَ إلاَّ اللهُ العَظِيمُ الحَلِيمُ ، لا إلهَ إلاَّ اللهُ رَبُّ العَرْشِ العَظِيمِ ، لاَ إلهَ إلاَّ اللهُ رَبُّ السَّمَاوَاتِ، وَرَبُّ الأَرْضِ، وَرَبُّ العَرْشِ الكَرِيمِ)) متفق عَلَيْهِ.

لغات : کرب: غم ، پريشاني ، کرب دنصر نه کربا سختيدلو دغم ته ويلي شي ، العرش، معروف عرش، ياشاهي تخت، الکريم معني مهربان کرما وکرامة: مهرباني کول.

تشريح : کرب ډير زيات لوي غم ته وئيلی شي مطلب دادی هر څومره لوي غم که راځي خو چي بيرته دعا اولوستلی شي نو الله تعالي به ورته ددينه نجات ورکړي.

"لااله الاالله العظيم" يعني نشته هيڅ يو معبود علاوه دعظمت والاالله تعالي نه. علماء وائي دالله تعالي عظمت دومره لوي دی چي دهيچا په عقل کي يي تصور نشي راتلی.

١ - اورده البخاري في الجامع الصحيح /الدعوات ٢٧ (٦٣٤٥، و٦٣٤٦) . والتوحيد ٢٢ (٧٤٢٦) . و ٢٣ (٧٤٣١) . صحيح مسلم /الذكر والدعاء ٢١ (٢٧٣٠) (تحفة الأشراف : ٥٤٢٠)

"الحليم" يعني الله تعالي صبرناك دى چي دقدرت باوجود سزا لره مؤخر كوي او دالله تعالي غصه فوري انتقام اخستلو سبب نه دى.
علامه نووي فرمائي چي اسلافو به دمصيبتونو په وخت كې دا دعا لوستله.
سوال: په پورتنۍ دعا كې خو صرف دالله تعالي ثنا او تعريف دى په دي كې څو څه حاجت نه دى غوښتلي شوى؟
اولنى جواب دادى دا ابتدائي كلمات دي يعني ددي كلماتو دلوستلو نه پس چي به رسول الله دغم لري كولو دپاره هره دعا اوغوښتله نو الله تعالي به ورنه لري كوله لكه چي دالادب المفرد دروايت نه هم معلوميږي.
دويم جواب دادى اگر چي په دي الفاظو كې دعا نشته مګر قانون الهي دادى څوك چي په دي ذكر كې داسي مشغول وي چي ددعا غوښتلو موقعه ورته ملاو نشي نو الله تعالي ورته دغوښتونكو نه زيات وركوي.

****

٣٤٣٦ـحَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ يَحْيَى بْنُ الْمُغِيرَةِ الْمَخْزُومِيُّ الْمَدَنِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ الْفَضْلِ، عَنِ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ إِذَا أَهَمَّهُ الأَمْرُ رَفَعَ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ، فَقَالَ: سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ، وَإِذَا اجْتَهَدَ فِي الدُّعَاءِ، قَالَ: يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي كله به رسول الله صلي الله عليه وسلم دكوم مشكل سره مخامخ شو نو سر مبارك به يي اسمان طرف ته پورته كړو او بيا به يي دا دعائيه كلمات اووئيل "سبحان الله العظيم" يعني پاكي ده رب زما لره چي ډير لوي دي او چي كله به يي په دعا كې ډير كوشش كولو نو دا كلمات به يي وئيل "ياحي ياقيوم" يعني اي ژوندي ذاته او اي دتمام كائنات دنظام چلونكيه.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي.

****

٤١ـبَابُ مَا جَاءَ مَا يَقُولُ إِذَا نَزَلَ مَنْزِلاً

كوم منزل ته درسيدو وخت كې ددعاغوښتلو بيان

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٩٧١)

٣٤٣٧_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنِ الْحَارِثِ بْنِ يَعْقُوبَ، عَنْ يَعْقُوبَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الأَشَجِّ، عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنْ خَوْلَةَ بِنْتِ حَكِيمٍ السُّلَمِيَّةِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ نَزَلَ مَنْزِلًا ثُمَّ قَالَ: أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ لَمْ يَضُرَّهُ شَيْءٌ حَتَّى يَرْتَحِلَ مِنْ مَنْزِلِهِ ذَلِكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ، وَرَوَى مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ هَذَا الْحَدِيثَ أَنَّهُ بَلَغَهُ، عَنْ يَعْقُوبَ بْنِ الأَشَجِّ، فَذَكَرَ نَحْوَ هَذَا الْحَدِيثِ، وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ هَذَا الْحَدِيثُ، عَنْ يَعْقُوبَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الأَشَجِّ، وَيَقُولُ: عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنْ خَوْلَةَ. قَالَ: وَحَدِيثُ اللَّيْثِ أَصَحُّ مِنْ رِوَايَةِ ابْنِ عَجْلَانَ. ([1])

ترجمه : خوله بنت حكيم سليميه رضي الله عنها وائي چي ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم دا فرمان واوريده چي څوك چرته كوم ځاى دېراؤ كولو په وخت دا دعائيه كلمات :أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ اووائي (چي دهغى ترجمه لاندي ليكلى شوي ده) نو هغه ته به دروانګۍ تر وخته پورى هيڅ څيز نقصان اونه رسوي (ترجمه) زه دالله پاك مكمل كلماتو په مدد دهر پيداشوي د شر او افت نه پناه غوارم.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي، مالك بن انس دا حديث په همدي مضمون نقل كړي دي او هغه د يعقوب بن عبدالله اشج نه نقل كړي دي او بيا يې همداحديث بيان كړي دي، همدا رنګي دا حديث ابن عجلان هم نقل كړي دي ديعقوب بن عبدالله نه البته دده په روايت كي دسعيد بن مسيب عن خوله اضافه ده، دليث بن عجلان دروايت په مقابل كي دا روايت زيات صحيح دي

لغات : اعوذ: عاذ يعوذ عوذا وعياذا ومعاذا ومعاذة وتعوذا واستعاذ پناه غوښتل.

تشريح : سړى چي كله په سفر كي قيام اوكړي نو ذكر شوي دعا دي اولولي بيا ورته هيڅ يو شى نقصان نشي رسولى دكلمات الله نه مراد دالله تعالي ازلي صفات دي كوم چي ورسره هميشه قائم دي التامات يعني چي كامل دي هيڅ نقصان او كمى پكي نشي راتلي

دخوله بنت حكيم رضي الله عنها حالات

نوم خوله كنيه ام شريك قبيله اسلم سره يي تعلق دى او دا درسول الله صلي الله عليه وسلم ترور وه چي دعثمان بن مظعون سره يي نكاح شوي وه كله چي په دويم هجري كي عثمان بن مظعون

[1] ـ صحيح مسلم/الذكر والدعاء ١٦(٢٧٠٨)، سنن ابن ماجه/الطب ٤٦(٣٥٤٧) (تحفة الأشراف : ١٥٨٢٦)

وفات شو نو خوله رضي الله عنها دويمه نكاح اونكړه علامه ابن اسير وائي كانت امرئة صالحة يعني حوله يوه نيكه بي بي وه په مسند احمد كې راځي **تصوم النهار تقوم الليل** دورځې به يې روژې نيولې او دشپې به يې تهجد كول دمروياتو شمير يې پينځلس دى.

****

٤٢ـ باب مَا يَقُولُ إِذَا خَرَجَ مُسَافِرًا

سفر ته دتلو وخت كې ددعا غوښتلو بيان

٣٤٣٨ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُمَرَ بْنِ عَلِيٍّ الْمُقَدَّمِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بِشْرٍ الْخَثْعَمِيِّ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَافَرَ فَرَكِبَ رَاحِلَتَهُ قَالَ بِأُصْبُعِهِ وَمَدَّ شُعْبَةُ بِأُصْبُعِهِ، قَالَ: اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ، اللَّهُمَّ اصْحَبْنَا بِنُصْحِكَ وَاقْلِبْنَا بِذِمَّةٍ، اللَّهُمَّ ازْوِ لَنَا الْأَرْضَ وَهَوِّنْ عَلَيْنَا السَّفَرَ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ وَكَآبَةِ الْمُنْقَلَبِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: كُنْتُ لَا أَعْرِفُ هَذَا إِلَّا مِنْ حَدِيثِ ابْنِ أَبِي عَدِيٍّ، حَتَّى حَدَّثَنِي بِهِ سُوَيْدٌ. حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ ابْنُ الْمُبَارَكِ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ بِهَذَا الْإِسْنَادِ، نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ ابْنِ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ شُعْبَةَ. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دى فرمائي چې كله به رسول الله صلى الله عليه وسلم په سفر تلو او پخپله سورلۍ به سوريدو نو پخپله گوته به يې اسمان ته اشاره اوكړه او دا دعائيه كلمات به يې ونيل " **اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ، اللَّهُمَّ اصْحَبْنَا بِنُصْحِكَ وَاقْلِبْنَا بِذِمَّةٍ، اللَّهُمَّ ازْوِ لَنَا الْأَرْضَ وَهَوِّنْ عَلَيْنَا السَّفَرَ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ وَكَآبَةِ الْمُنْقَلَبِ** " يعني اې الله ته زما په سفر كې رفيق يې او ته زما په كور كې خليفه يې (يعني زما په عدم موجودګۍ كې زما دكور او كورنۍ او مال حال حفاظت كونكې او نائب يې) خپلو ټولو خيرخواهانو سره زما ملګرتيا اوكړې او ما خپل منزل ته په حفاظت سره راورسې، اې الله ته زمكه زمونږ دپاره راوونغاړې او سفر راته اسان كړې اې الله زه په تاباندې دسفر دتكليف اومشت نه پناه غواړم او دخپل نظر دناكام واپس كيدو دخفګان نه په تاباندې پناه غواړم.

امام ترمذي رحمه الله وايي: ماته داحديث صرف دابن عدي په روايت معلوم دى ترديه پورې

[1] ـ صحيح مسلم/الذكر والدعاء ١٦ (٢٧٠٨)، سنن ابن ماجه/الطب ٣٦ (٣٥٢٧) (تحفة الأشراف: ١٥٨٢٦)

چي سويد ماته داحديث په مذكوره سند بيان كړو ونيل يي مونږ ته عبدالله بن مبارك دا روايت بيان كړي دي او هغه دشعبه نه په همدي مضمون نقل كړي دي داحديث دابوهريره په روايت حسن غريب دي او مونږ يي صرف دشعبه په روايت پيژنو.

****

۳۴۳۹_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَرْجِسَ، قَالَ: " كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَافَرَ يَقُولُ: اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ، وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ، اللَّهُمَّ اصْحَبْنَا فِي سَفَرِنَا وَاخْلُفْنَا فِي أَهْلِنَا. اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ وَكَآبَةِ الْمُنْقَلَبِ، وَمِنَ الْحَوْرِ بَعْدَ الْكَوْنِ وَمِنْ دَعْوَةِ الْمَظْلُومِ وَمِنْ سُوءِ الْمَنْظَرِ فِي الْأَهْلِ وَالْمَالِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَيُرْوَى الْحَوْرِ بَعْدَ الْكَوْرِ أَيْضًا. وَمَعْنَى قَوْلِهِ: الْحَوْرِ بَعْدَ الْكَوْنِ أَوِ الْكَوْرِ وَكِلَاهُمَا لَهُ وَجْهٌ يُقَالُ: إِنَّمَا هُوَ الرُّجُوعُ مِنَ الْإِيمَانِ إِلَى الْكُفْرِ، أَوْ مِنَ الطَّاعَةِ إِلَى الْمَعْصِيَةِ، إِنَّمَا يَعْنِي مِنَ الرُّجُوعِ مِنْ شَيْءٍ إِلَى شَيْءٍ مِنَ الشَّرِّ.[1]

ترجمه : دعبدالله بن سرجس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي كله به رسول الله صلي الله عليه وسلم په سفر تلو نو دا دعا به يي ونيله " اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ، وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ، اللَّهُمَّ اصْحَبْنَا فِي سَفَرِنَا وَاخْلُفْنَا فِي أَهْلِنَا. اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ وَكَآبَةِ الْمُنْقَلَبِ، وَمِنَ الْحَوْرِ بَعْدَ الْكَوْنِ وَمِنْ دَعْوَةِ الْمَظْلُومِ وَمِنْ سُوءِ الْمَنْظَرِ فِي الْأَهْلِ وَالْمَالِ" يعني اي الله ته زمونږ دسفر ملګري يي او ته زمونږ نه وروسته زمونږ داهل او عيال نائب او خليفه يي اي الله ته زمونږ سره زمونږ په دي سفر کي ملګري اوسه او زمونږ په کورنۍ کي زمونږ خليفه او نائب جوړشه اي الله زه په تاباندي پناه غواړم په سفر کي دتکليف او ستړي والي او دناکام واپس کيدو دغم نه او دمظلوم دخيرو نه او په مال او کورنۍ دواقع شوي کوم بد منظر دليدو نه.

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي، او د "الحور بعدالكون" په ځاي باندي الحور بعدالكور الفاظ هم مروي دي او دا دواړه هم معني الفاظ دي چي يو دبل په ځاي استعماليږي او ددي معني داده چي پناه غواړم دايمان نه کفر طرف ته دواپس کيدو نه او يا دنيکۍ نه دمعصيت طرف ته دواپس کيدو نه، ددي مطلب دادي چي دخير نه چرته شر طرف

[1] ـ صحيح مسلم/المناسك ۷۵ (۱۳۴۲) . سنن النسائي/الاستعاذة ۴۱ (۵۵۰۰) . و ۴۲ (۵۵۰۲) . سنن ابن ماجه/الدعاء ۲۰ (۳۸۸۸) (تحفة الأشراف : ۵۳۲۰) . و مسند احمد (۵/۸۲، ۸۳)

ته زما واپسي اونه شي.

دعبدالله بن سرجس رضي الله عنه حالات

نوم عبدالله دپلار نوم سرجس دمزني قبيلي سره تعلق لري مخزومي هم ورته ونيلي شي دبصري اوسيدونكي دي او دمروياتو تعداد يي ۱۷ دي چي دري په دي كي مسلم نقل كړي دي.

****

٤٣ـ باب مَا يَقُولُ إِذَا قَدِمَ مِنَ السَّفَرِ

دسفر نه واپسئ وخت كي ددعا غوښتلو بيان

٣٤٤٠ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ: سَمِعْتُ الرَّبِيعَ بْنَ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ قَالَ: آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَرَوَى الثَّوْرِيُّ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ الْبَرَاءِ، وَرِوَايَةُ شُعْبَةَ أَصَحُّ، وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَأَنَسٍ، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ. ([1])

ترجمه : دبراء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي كله چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم دسفر نه واپس راغلو نو دا دعا به يي غوښتله " آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ "يعني مونږ په سلامتئ سره دسفر نه واپس راتلونكي يو انشاء الله، او مونږ ستا په حضور كي توبه كونكي يو، او مونږ دخپل رب عبادت كونكي يو، او مونږ دخپل رب شكر گذار يو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي، سفيان ثوري داحديث دابواسحاق نه او هغه دبراء نه نقل كړي دي او په سند كي يي دربيع بن براء واسطه نه ده ذكر كړي، مگر دشعبه روايت زيات صحيح دي، او په دي باب كي دابن عمر، انس، او جابر بن عبدالله رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٤٤١ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ

---

[1] ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٤٧١(٥٥٠) (تحفة الأشراف: ١٧٥٥). و مسند احمد (٢٩٨/٤)

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ فَنَظَرَ إِلَى جُدُرَاتِ الْمَدِينَةِ أَوْضَعَ رَاحِلَتَهُ، وَإِنْ كَانَ عَلَى دَابَّةٍ حَرَّكَهَا مِنْ حُبِّهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه: دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي کله چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم دسفر نه واپس راتلو او دمديني په ديوالونو به يي نظر پريوتلو نو خپله سورلۍ به يي دخپل وطن (مديني) په محبت کي تيزه زغلوله. او که دخپلي سورلۍ نه علاوه دبل چا په سورلۍ به سور وو هغه به يي هم تيزه زغلوله.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

تشريح: دسفر نه دواپسۍ په وخت کي مسنون دعا ونيل پکار دي ددي دپاره چي دچا په زړه کي دا خيال رانشي چي فلانی فلانی کار مي اوکړو او پوره مي کړو بلکه دا سوچ به کوي چي ټول کارونه الله تعالي اوکړل او مونږه الله تعالي طرف ته رجوع کونکي يو او توبه کونکي يو يعني که څه کمی پاتي شوی وي نو الله تعالي ته درخواست دی چي هغه پوره کړي او دا دعا مسلسل ونيل پکار دي ترڅو چي خپل ښار ته داخل شوی نه وي.

****

٤٤_بَاب مَا يَقُولُ إِذَا وَدَّعَ إِنْسَانًا

دچا درخصتولو وخت کي کومه دعا ونيل پکار دي

٣٤٤٢_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عُبَيْدِ اللهِ السُّلَيْمِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو قُتَيْبَةَ سَلْمُ بْنُ قُتَيْبَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ أُمَيَّةَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَدَّعَ رَجُلًا أَخَذَ بِيَدِهِ فَلَا يَدَعُهَا حَتَّى يَكُونَ الرَّجُلُ هُوَ يَدَعُ يَدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَيَقُولُ: اسْتَوْدِعِ اللهَ دِينَكَ وَأَمَانَتَكَ وَآخِرَ عَمَلِكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ.[2]

ترجمه: عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وائي چي کله به رسول الله صلي الله عليه وسلم څوک په سفر رخصتولو نو دهغه لاس به يي ونيو او هغه پوري به يي نه پريښودلو ترڅو چي به هغه درسول الله لاس نه وو پريښودلی او بيابه يی دا درخصت کلمات اوفرمائيل. ((أَسْتَوْدِعُ اللهَ

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /العمرة ١٧ (١٨٠٢)، وفضائل المدينة بعد ١٠ (١٨٨٦) (تحفة الأشراف: ٥٤٣)

[2] ـ تفرد به المؤلف، وانظر: سنن ابي داود/ الجهاد ٨٠ (٢٦٠٠)، وسنن ابن ماجه/الجهاد ٢٤ (٢٨٢٦) (تحفة الأشراف: ٧٤٦١)

دِينَكَ ، وَأَمَانَتَكَ ، وَخَوَاتِيمَ عَمَلِكَ)) زه ستادين، ستا امانت او ستا اخري عمل الله تعالي ته سپارم.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند غريب دي او داحديث ددي سند نه علاوه په بل سند هم دابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي.

لغات : اودعك: ودع يدع ودعا معني د چا سره امانت ايخودل ، ودّع القوم المسافر يعني دمسافر رخصتولو دپاره تلل استودع امانت يي كيخودو ودائع رخصت.

تشريح : "استودع الله دينك" يعني الله دي ستا ددين حفاظت اوكړي. ، محقق وشارح حديث نبوي مولانا محمد حسين صديقي ددي حديث په تشريح ليكلي دي: ، زه ستا دين الله ته سپارم ددي حديث مطلب په سابقه حديث كې تير شوي دي، فرق صرف دومره دي چي هلته دمفرد صيغي وي او دلته دجمعي صيغي دي ځكه چي هلته ديو كس درخصتولو معامله وه او دلته دډيرو.

علماء وائي ددي جملي وجه داده چي په سفر كې دسړي په عبادت كې كمى كيږي او دهغي په وجه په ايمان كې هم كمى شروع شي نو ددي دعا فائده داده چي په عبادتونو او ايمان كې كمى رانشي.

وامانتك يعني الله تعالي دي ستا دكورنۍ حفاظت اوكړي او په تاباندي چي دكوم امانت ذمه واري ده هغه دي الله تعالي پوره كړي.

خواتيم عملك ، يعني ستا اخري عمل الله ته سپارم .

علامه مناوي واني چي دسفر كونكي دپاره سنت دي چي دروانيدو نه مخكې دي توبه اوباسي او چي په چا يي ظلم كړى وي دهغه نه دي معافي اوغواړي او كه دچا سره يي صله رحمي پريخودلي وي نو دهغه سره دي صله رحمي اوكړي او بيادي لاړ شي او چي كوم حقونه يي په ذمه دي هغه دي پوره كړي.

****

٣٤٤٣ـ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ مُوسَى الْفَزَارِيُّ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ خُثَيْمٍ، عَنْ حَنْظَلَةَ، عَنْ سَالِمٍ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ، كَانَ يَقُولُ لِلرَّجُلِ إِذَا أَرَادَ سَفَرًا: ادْنُ مِنِّي أُوَدِّعْكَ كَمَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوَدِّعُنَا، فَيَقُولُ: " أَسْتَوْدِعُ اللَّهَ دِينَكَ وَأَمَانَتَكَ وَخَوَاتِيمَ عَمَلِكَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا

حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ. (1)

ترجمه : سالم بن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وائي چي كله به څوك په سفر باندي تللو نو عبدالله به ورته فرمائيل چي ماته رانږدې شه چي هغه دعا ګانو سره دي رخصت كړم كومو سره چي به مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلم رخصتولو، بيابه يې دا درخصت كلمات اوفرمائيل، ((أَسْتَوْدِعُ اللَّهَ دِينَكَ، وَأَمَانَتَكَ، وَخَوَاتِيمَ عَمَلِكَ)) زه ستادين، ستا امانت او ستا اخري عمل الله تعالي ته سپارم.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث په دي سند چي دسالم بن عبدالله نه مروي دي حسن صحيح غريب دي.

****

٤٥_بَاب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٤٤٤_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، حَدَّثَنَا سَيَّارٌ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أُرِيدُ سَفَرًا فَزَوِّدْنِي، قَالَ: "زَوَّدَكَ اللَّهُ التَّقْوَى"، قَالَ: زِدْنِي، قَالَ: "وَغَفَرَ ذَنْبَكَ"، قَالَ: زِدْنِي بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي، قَالَ: "وَيَسَّرَ لَكَ الخَيْرَ حَيْثُمَا كُنْتَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (2)

ترجمه : انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دى چي يو سړى د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كې حاضر شو او عرض يې اوكړو چي اى دالله رسوله! زه په سفر ځم نو ماته څه د دعا ګانو توښه راكړې، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله تعالي دي تقوي ستا دلاري توښه جوړه كړي، هغه عرض اوكړو څه زياتي دعا هم راته اوكړې، رسول الله صلي الله عليه وسلم دعا اوكړه چي الله تعالي دي تاته مغفرت وكړي، ، هغه عرض اوكړو زما مور پلار دي درنه قربان شي څه زياتي دعا هم راته اوكړې، چي ته هر چرته يې الله تعالي دي خير اونيكي تا دپاره اسانه اوګرځوي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي.

---

1 _ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ١٦١ (٥٢٣)، (وانظر أيضا الأرقام: ٥٠٩٥٥٢) (تحفة الأشراف: ٦٧٥٢)، ومسند احمد (٢/٧)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٤٣)

لغات: زودك الله. ازداد وزودة معني توښه ورکول زاد يې مفرد دي.
تشريح: معلومه شوه چې دمسافر دپاره بهترينه تحفه چې په سفر کې ورنه فائده اخستلى شي تقوي ده تقوي ونيلى شي دالله په حکمونو عمل کولو ته او دتمامو منهياتو نه بنديدلو ته او درسول الله په تمامو سنتونو عمل کولو ته په قران مجيد کې هم راغلي دي "وتزودوا فأن خير الزاد التقوي".

****

٤٦_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٣٤٤٥_حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْكِنْدِيُّ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، أَخْبَرَنِي أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُسَافِرَ فَأَوْصِنِي، قَالَ: " عَلَيْكَ بِتَقْوَى اللَّهِ وَالتَّكْبِيرِ عَلَى كُلِّ شَرَفٍ "، فَلَمَّا أَنْ وَلَّى الرَّجُلُ قَالَ: اللَّهُمَّ اطْوِ لَهُ الأَرْضَ وَهَوِّنْ عَلَيْهِ السَّفَرَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.[1]

ترجمه: ابوهريره رضي الله عنه وائي چې يو کس رسول الله صلي الله عليه وسلم ته عرض اوکړو چې زه دسفر اراده لرم ماته څه نصيحت اوکړئ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې هر وخت دالله تعالي نه ويريږه په هر اوچت ځايي باندي تکبير وايه چې کله دهلته نه لاړو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم دعا اوکړه: **اللَّهُمَّ اطْوِ لَهُ الأَرْضَ وَهَوِّنْ عَلَيْهِ السَّفَرَ** ". يعني اى الله! دده دسفر اوږدوالى راونغاړى دده سفر په ده باندي اسان کړي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن دي.
لغات: شرف ، لوړ ځاي د سمع نه لوړيدل.
تشريح علماء وائي دمسافر دسفر کولو نه مخکې کوم نيک بنده ته ورتلل ښکار دي چې دعا ورنه اوغواړي او دنصيحت درخواست ورته وکړي
عليك بتقوي الله: يعني دتقوي التزام وکړه، مطلب دادي چې انسان خو دحضر په زمانه کې دتقوي التزام کوي ليکن دسفر په حالت کې په دي کې کمي راځي نو رسول الله ځکه په خصوصيت په سفر کې دتقوي دالتزام حکم وکړو.

[1] ـ سنن ابن ماجه/الجهاد ٨ (٢٧٧١)

****

٤٧ـ باب مَا يَقُولُ إِذَا رَكِبَ النَّاقَةَ

پخپله سورلئ دسوريدو وخت كي ددعا غوښتلو بيان

٣٤٤٦ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ عَلِيِّ بْنِ رَبِيعَةَ، قَالَ: شَهِدْتُ عَلِيًّا أُتِيَ بِدَابَّةٍ لِيَرْكَبَهَا، فَلَمَّا وَضَعَ رِجْلَهُ فِي الرِّكَابِ، قَالَ: "بِسْمِ اللَّهِ ثَلاثًا، فَلَمَّا اسْتَوَى عَلَى ظَهْرِهَا قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ، ثُمَّ قَالَ: سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ . وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ (سورة الزخرف آية ١٣-١٤)، ثُمَّ قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ ثَلاثًا، وَاللَّهُ أَكْبَرُ ثَلاثًا، سُبْحَانَكَ إِنِّي قَدْ ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلا أَنْتَ ". ثُمَّ ضَحِكَ، قُلْتُ: مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكْتَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَنَعَ كَمَا صَنَعْتُ، ثُمَّ ضَحِكَ، فَقُلْتُ: مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: إِنَّ رَبَّكَ لَيَعْجَبُ مِنْ عَبْدِهِ إِذَا قَالَ: رَبِّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي إِنَّهُ لا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ غَيْرُكَ "، وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.(١)

ترجمه : علي بن ربيعه واني چي زه دامير المومنين علي رضي الله عنه په خدمت كي حاضر وم نو دهغوي دسورلئ دپاره يو څاروی راوستلی شو نو هغوي په ركاب كي دخپی ایښودلو په وخت بسم الله اوونيله او دسورلئ په شا باندي كيناستلو او دایی اوفرمائيل: (سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ) هم دهغه ذات دپاره حمد دی چاچي دا څاروی زمونږ تابعدار جوړ كړو زمونږ خو ددی دقابو كولو طاقت نه وو او زمونږ دخپل رب طرف ته واپس تلل دي بيا يی دری خله الحمد لله، الله اكبر اوونيل او دا يی اوونيل : "سُبْحَانَكَ إِنِّي قَدْ ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلا أَنْتَ" چي پاك يی ته ای الله! ما په خپل ځان باندی ظلم كړی دی ته ځما مغفرت اوكړی ځكه چي هم ته مغفرت كونكی يی ستا نه سوا بل څوك بخونكي نشته! دا كلمات يی اوونيل نو بيا يی اوخاندل نو هغوي ته اوونيلی شو ای امير المومنين تاسو څنګه اوخاندل ويی فرمائيل چي ما رسول الله صلي الله عليه وسلم په دغسی كار باندي ليدلی وو څنګه چي ما اوكړل بيا رسول الله اوخاندل نو ماتري هم دغسی تپوس كړی وو چي تاسو څنګه اوخاندل؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي ستا رب چي

---

(١) ـ سنن ابي داود/ الجهاد ٨١ (٢٦٠٢) (تحفة الأشراف : ١٠٢٤٨)

پاك دى فرماني چي ماته دخپل بنده دا وينا خوښه ده چي وائي: رَبِّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي إِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ غَيْرُكَ " يعني چي څما ګناهونه معاف کړی هغه ته معلومه ده چي څما نه سوا بل څوك ګناه معاف کونکی نشته.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابن عمر رضي الله عنهما نه هم حديث وارد دي.
لغات: اتي: اتي ياتي اتيانا وايتانة وماتاة معني راتلل، حاضريدل.
تشريح: ركاب داوسپني هغي حلقي ته ونيلى شي كومه چي داس په زين كي دواړو طرفونو ته زوړنده وي چي اس ته ورباندي ختل كولى شي په سورلۍ باندي دناستي وخت كي بسم الله كولو سره نوري دعاګاني هم مروي دي په يو بل روايت كي راځي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دځاروو په شا باندي شيطان ناست وي كله چي تاسو كينئ نو بسم الله به وائي.

دعلي بن ربيعه حالات

نوم علي د پلار نوم ربيعه دكوفي اوسيدونكي وو دلويو تابعينو دجملي نه دي او په نقل دروايت كي ثقه دي.

****

٣٤٤٧ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْبَارِقِيِّ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ إِذَا سَافَرَ فَرَكِبَ رَاحِلَتَهُ كَبَّرَ ثَلَاثًا، وَيَقُولُ: سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ ، وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ (الزخرف آية ١٣-١٤)، ثُمَّ يَقُولُ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فِي سَفَرِي هَذَا مِنَ الْبِرِّ وَالتَّقْوَى، وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضَى، اللَّهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا الْمَسِيرَ وَاطْوِ عَنَّا بُعْدَ الْأَرْضِ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ، اللَّهُمَّ اصْحَبْنَا فِي سَفَرِنَا وَاخْلُفْنَا فِي أَهْلِنَا". وَكَانَ يَقُولُ: إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ: "آيِبُونَ إِنْ شَاءَ اللهُ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]
ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چي كله به رسول الله صلي الله

---

[1] ـ صحيح مسلم/المناسک ٧٥ (١٣٤٢)، سنن ابي داود/ الجهاد ٧٩ (٢٥٩٩) (تحفة الأشراف: ٧٣٤٨)، ومسند احمد (٢/١٤٤)، وسنن الدارمي/الاستئذان ٤٢ (٢٧١٥)

عليه وسلم په سفر تلو او خپلې سورلۍ ته به ختلو نو الله اکبر به يې درې ځلې اووئيل او بيا به يې دا دعا اوونيله: (سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ) هم هغه ذات دپاره حمد دی چاچي دا څاروی زمونږ تابعدار جوړ کړو زمونږ خو ددی دقابو کولو طاقت نه وو او زمونږ دخپل رب طرف ته واپس تلل دي، او بيا به يې ددينه پس دا دعا اوونيله " اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فِي سَفَرِي هَذَا مِنَ الْبِرِّ وَالتَّقْوَى، وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضَى. اللَّهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا الْمَسِيرَ وَاطْوِ عَنَّا بُعْدَ الْأَرْضِ. اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ. اللَّهُمَّ اصْحَبْنَا فِي سَفَرِنَا وَاخْلُفْنَا فِي أَهْلِنَا ". "يعني اي الله زه پخپل سفر کي ستانه دنيکۍ او تقوي طلب ګاريم او دداسي عمل توفيق غواړم چي ته ورباندي راضي کيږي اي الله ته زمونږ دا سفر اسان کړي او دزمکي لري والي راونغاړي او ته زمونږ سره په سفر کي مددګار اوسي او زمونږ په کور کي ته زمونږ قائم مقام شي، مګر کله چي به رسول الله کور ته راواپس کيدو نو دا دعا به يې ونيله "آيِبُونَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ ".: ترجمه، مونږ انشاء الله سلامتيا سره واپس راتلونکي يو توبه ويستونکي دخپل رب عبادت کونکي او تعريف کونکي بندګان يو. امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي.

****

٤٨_باب مَا ذُكِرَ فِي دَعْوَةِ الْمُسَافِرِ

دمسافر ددعاييان

٣٤٤٨_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ الصَّوَّافُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ثَلَاثُ دَعَوَاتٍ مُسْتَجَابَاتٌ: دَعْوَةُ الْمَظْلُومِ، وَدَعْوَةُ الْمُسَافِرِ، وَدَعْوَةُ الْوَالِدِ عَلَى وَلَدِهِ ".(1)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دري قسمه دعاګاني مقبول دي يوه دمظلوم دعا ده او دويمه دمسافر دعا ده او دريم دخوي په حق کي دپلار خيري دي.

لغات: مستجابات: استجابه واستجاب له استجابة واستجوبة واستجوب استجوابا جواب ورکول، او دعاقبلول. جاب جوبا وتجوابا طي کول

تشريح: په دي روايت کي تير شول چي دري قسمه دعاګاني زر او ضرور قبليدونکي دي يو

1

دمظلوم خيري دي خكه چي دده په خيرو كې اخلاص زيات دى او په كومه دعا كې چي اخلاص زيات وي هغه زر قبليږي دويمه دمسافر دعا ده چاچي دمسافر سره ښه سلوك اوكړو او مسافر ورته دعا اوكړي نو فورا قبليږي ليكن كه څوك مسافر ته تكليف اورسوي او هغه ورته خيري اوكړي نو هم زر قبليږي، دريم په دي كې خيري كول دپلار دي بڅي خپل ته په دي حديث كې دوالد لفظ راغلى دى په يو بل كې دوالده لفظ هم راغلى دى.
د مور خيري خو ډيري زر قبليږي خكه چي دمور حق په اولاد دپلار دحق نه هم زيات وي.

****

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ هِشَامٍ الدَّسْتُوَائِيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ، نَحْوَهُ، وَزَادَ فِيهِ: مُسْتَجَابَاتٌ لَا شَكَّ فِيهِنَّ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَأَبُو جَعْفَرٍ الرَّازِيُّ هَذَا الَّذِي رَوَى عَنْهُ يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ يُقَالُ لَهُ: أَبُو جَعْفَرٍ الْمُؤَذِّنُ، وَقَدْ رَوَى عَنْهُ يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ غَيْرَ حَدِيثٍ، وَلَا نَعْرِفُ اسْمَهُ (1)

ترجمه : ديحي بن ابي كثير نه هم په مذكوره سند. دماقبل هم معني روايت مروي دي مگر ديحي په روايت كي دومره اضافه ده " مُسْتَجَابَاتٌ لَا شَكَّ فِيهِنَّ".
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن دي او هغه ابوجعفر راضي چي يحي بن ابي كثير ورنه نقل دروايت كوي په ابو جعفر مؤذن مشهور دي او يحي بن كثير ورنه ددي حديث نه علاوه نور احاديث هم نقل كړي دي مگر مونږ ته دده نوم معلوم نه دي.

****

٤٩ـ باب مَا يَقُولُ إِذَا هَاجَتِ الرِّيحُ

دطوفان راتلو وخت كي ددعاغوښتلو بيان

٣٤٤٩ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الأَسْوَدِ أَبُو عَمْرٍو الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَبِيعَةَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: " كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَى الرِّيحَ قَالَ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِهَا وَخَيْرِ مَا فِيهَا وَخَيْرِ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيهَا وَشَرِّ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، وَهَذَا

---

1 ـ انظر حديث رقم ١٩٠٥

حَدِيثٌ حَسَنٌ. [1]

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي كله به رسول الله صلي الله عليه وسلم طوفاني باد اوليدو نو دا دعائيه كلمات به يې وئيل " **اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِهَا وَخَيْرِ مَا فِيهَا وَخَيْرِ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيهَا وَشَرِّ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ** " يعني اي الله زه ستا نه ددي باد خير غواړم او هغه خير درنه غواړم كوم چې په دي كي دي او كوم خير چي ددي سره راليږلي شوي دي هغه غواړم، او دهغه شر نه په تا باندي پناه غواړم كوم چي په دي كي دي او زه ددي دشر نه پناه غواړم او كوم شر چي په دي كي پټ پروت دي دهغه نه پناه غواړم او كوم شر چي ددي سره راليږلي شوي دي دهغي نه په تا باندي پناه غواړم

امام ترمذي رحمه الله وايي: او په دي باب كي دابيّ بن كعب رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي او دا حديث حسن دي.

لغات : الريح : معني هوا ارياح او ارواح يې جمع ده او جمع الجمع يې روايح ده.

تشريح : علماء وائي هوا هم دالله تعالي يو نعمت دی دكومي په ذريعه چي انسان ته ډيري فائدي وركولى شي په دي وجه ديته بدرد وئيل پكار نه دي ليكن ددي په ذريعه كله دالله تعالي عذاب هم راتلى شي په دي وجه دالله نه دهوا خير اوغواړئ اوددي دشر نه په الله پناه اوغواړئ.

****

٥٠ـ باب مَا يَقُولُ إِذَا سَمِعَ الرَّعْدَ.

داسمان دګرزاري وخت كي ددعا غوښتلو بيان

٣٤٥٠ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، عَنْ حَجَّاجِ بْنِ أَرْطَاةَ، عَنْ أَبِي مَطَرٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " كَانَ إِذَا سَمِعَ صَوْتَ الرَّعْدِ وَالصَّوَاعِقِ، قَالَ: اللَّهُمَّ لَا تَقْتُلْنَا بِغَضَبِكَ، وَلَا تُهْلِكْنَا بِعَذَابِكَ وَعَافِنَا قَبْلَ ذَلِكَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [2]

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چي كله به نبي كريم صلي الله

---

[1] ـ صحيح مسلم/الاستسقاء ٣(٨٩٩/١٥) (تحفة الأشراف: ١٧٣٨٥)

[2] ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٢٦٩(٩٢٧) (تحفة الأشراف: ٧٠٢١) ، ومسند احمد (٢/١٠٠)

عليه وسلم داسمان ګرزاري واوريدو نو دا دعا به يې غوښتله " **اللَّهُمَّ لَا تَقْتُلْنَا بِغَضَبِكَ، وَلَا تُهْلِكْنَا بِعَذَابِكَ وَعَافِنَا قَبْلَ ذَلِكَ**" يعني اې الله مونږ لره پخپل غضب هلاك نكړې او دخپل عذاب په ذريعه مو هلاك نكړې او دداسې بد وخت دراتلو نه مخكې مغفرت اوكړې.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دې مونږ يې صرف په همدې سند پيژنو.

****

٥١_باب مَا يَقُولُ عِنْدَ رُؤْيَةِ الْهِلَالِ

دسپوږمۍ دليدو وخت كې ددعا غوښتلو بيان

٣٤٥١_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ سُفْيَانَ الْمَدِينِيُّ، حَدَّثَنِي بِلَالُ بْنِ يَحْيَى بْنِ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " كَانَ إِذَا رَأَى الْهِلَالَ قَالَ: اللَّهُمَّ أَهْلِلْهُ عَلَيْنَا بِالْيُمْنِ وَالْإِيمَانِ وَالسَّلَامَةِ وَالْإِسْلَامِ رَبِّي وَرَبُّكَ اللَّهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه: دطلحه بن عبيدالله نه روايت دې فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به كله سپوږمۍ اوليده نو دا دعا به يې غوښتله " **اللَّهُمَّ أَهْلِلْهُ عَلَيْنَا بِالْيُمْنِ وَالْإِيمَانِ وَالسَّلَامَةِ وَالْإِسْلَامِ رَبِّي وَرَبُّكَ اللَّهُ** " يعني اې الله دا مياشت زمونږ دپاره بركتي كړې، دبركت او ايمان او سلامتۍ او اسلام سره دا په مونږ تيره كړې او اې سپوږمۍ زما او ستا رب الله دې.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دې.

تشريح: دنبي كريم صلي الله عليه وسلم عادت دا وو چې كله به يې مياشت اوليده نو دا دعا به يې هم ونيله ((**اللَّهُمَّ أَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالْأَمْنِ وَالْإِيمَانِ، وَالسَّلَامَةِ وَالْإِسْلَامِ، رَبِّي وَرَبُّكَ اللهُ، هِلَالُ رُشْدٍ وَخَيْرٍ**.
يعني اې الله دا مياشت زمونږ دپاره د امن او سلامتۍ مياشت وګرځوې او اې سپوږمۍ زما او ستا رب الله دې اې الله دا مياشت دخير اوهدايت مياشت وګرځوې.

****

٥٢_باب مَا يَقُولُ عِنْدَ الْغَضَبِ

---

[1] ت تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٠١٥)

دغصې وخت کې کومه دعا وئيل پکار دي

٣٤٥٢ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ المَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: اسْتَبَّ رَجُلَانِ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى عُرِفَ الغَضَبُ فِي وَجْهِ أَحَدِهِمَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنِّي لَأَعْلَمُ كَلِمَةً لَوْ قَالَهَا لَذَهَبَ غَضَبُهُ: أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ". وفي الباب، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ صُرَدٍ. (1)

ترجمه دمعاذ بن جبل رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي دوه کسانو خپل مينځ کي دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په وړاندي رد بد او کنځل اوکړل او په دوئ کي ديو کس د مخ نه دغصي اثر ښکاره کيدو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل ماته يوه داسي کلمه معلومه ده کچري دي دا کلمه اووائي نو غصه به يي فورا ختمه شي او هغه کلمه داده " أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ "يعني پناه غواړم په الله تعالي دشيطان رټلي شوي نه.

امام ترمذي رحمه الله وايي: په دي باب کي دسليمان بن سرد نه هم روايت وارد دي او داحديث مرسل (منقطع) دي.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ، عَنْ سُفْيَانَ بِهَذَا الإِسْنَادِ، نَحْوَهُ. قَالَ: وَهَذَا حَدِيثٌ مُرْسَلٌ، عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي لَيْلَى لَمْ يَسْمَعْ مِنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، مَاتَ مُعَاذٌ فِي خِلَافَةِ عُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ، وَقُتِلَ عُمَرُ بْنُ الخَطَّابِ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي لَيْلَى غُلَامٌ ابْنُ سِتِّ سِنِينَ، هَكَذَا رَوَى شُعْبَةُ، عَنِ الحَكَمِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، وَقَدْ رَوَى عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي لَيْلَى، عَنْ عُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ وَرَآهُ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي لَيْلَى يكنى أبا عيسى، وأبو ليلى اسمه يسار، وروي عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، قَالَ: أَدْرَكْتُ عِشْرِينَ وَمِائَةً مِنَ الأَنْصَارِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (2)

ترجمه محمد بن بشار دعبدالرحمن په واسطه دسفيان نه په همدي سند دماقبل ښان

---

1 ـ سنن ابي داود/ الأدب ٣ (٤٧٨٠) (تحفة الأشراف: ١١٣٤٢) ومسند احمد (٥/٢٤٠)

2 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح . بدء الخلق: ١١/٣٢٨٢ و الأدب: ٤٦/ ٦١١٥ . و مسلم . البر والصلة ٢٦١٠ (١٠٩، ١١٠). وابوداؤد ٤٧٨١ . نسائي في عمل اليوم والليلة ٣٩٣ والكبرئ ١٠٢٢٥)

روايت بيان كړي دي او وائي چي دا حديث مرسـل دي. او عبدالرحمن ابن ابي ليلي دمعاذ بن جبل نه اوريدل نه دي كړي معاذ په خلافت فاروقي كي وفات شوي دي كله چي عمرفاروق وفات كيدو دغه وخت دعبدالرحمن بن ابي ليلي عمر شپږ كاله وو داروايت شعبه هم دحكم نه نقل كړي دي دعبدالرحمن بن ابي ليلي نه دارنګي عبدالرحمن بن ابي اليلي دعمربن خطاب نه روايت نقل كړي دي او ليدلي يې دي او دعبدالرحمن بن ابي ليلي اسم كنيه ابوعيسـي ده او دابو ليلي نوم يسار دي دعبدالرحمن بن ابي ليلي نه مروي دي چي يوسل او شل اتصاري صحابه كرامو سره.يې ملاقات شوي دي

****

٥٣_باب مَا يَقُولُ إِذَا رَأَى رُؤْيَا يَكْرَهُهَا

دبد خوب ليدلو وخت كي كومه دعا ونيل پكار دي

٢٤٥٣_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ. حَدَّثَنَا بَكْرُ بْنُ مُضَرَ. عَنِ ابْنِ الْهَادِ. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ خَبَّابٍ. عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ. أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. يَقُولُ: "إِذَا رَأَى أَحَدُكُمُ الرُّؤْيَا يُحِبُّهَا. فَإِنَّمَا هِيَ مِنَ اللَّهِ. فَلْيَحْمَدِ اللَّهَ عَلَيْهَا وَلْيُحَدِّثْ بِمَا رَأَى. وَإِذَا رَأَى غَيْرَ ذَلِكَ مِمَّا يَكْرَهُهُ. فَإِنَّمَا هِيَ مِنَ الشَّيْطَانِ. فَلْيَسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنْ شَرِّهَا وَلَا يَذْكُرْهَا لِأَحَدٍ فَإِنَّهَا لَا تَضُرُّهُ". وفي الباب. عَنْ أَبِي قَتَادَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وَابْنُ الْهَادِ اسْمُهُ يَزِيدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أُسَامَةَ بْنِ الْهَادِ الْمَدِينِيُّ وَهُوَ ثِقَةٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ رَوَى عَنْهُ مَالِكٌ وَالنَّاسُ.[1]

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په تاسـو كې چي څوك داسـې خوب اووينې چي دهغه خوښ شـي نو دا دالله تعالي دطرف نه دی دالله حمد ثنادی اووائي او دوستانو ته دی يی بيـان كړي او يو بل روايت كي دا الفاظ دي بی د دوستانو نه دی يی بل چاته نه بيانوي او كه داسی خوب اووينې چي دده خوښ نه وي، نو دا دشيطان دطرفه دی نو اعوذ بالله دی اووائي ددی خوب، دشر نه دی دالله نه پناه اوغواړي، او هيچاته دی نه بيانوي، خكه چي دا هيڅ نقصان نشي رسولی

امام ترمذي رحمه الله وايي او په دي باب كي دابوقتاده نه هم روايت وارد دي او داحديث حسن صحيح غريب دي او دابن الهاد نوم يزيد بن عبدالله بن اسامه بن الهاد المديني دي او ثقه راوي دي دمحدثينو په نزد امام مالك او ډيرو علماؤ ورنه نقل دروايت كړي دي.

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح/التعبير ٣(٦٩٨٥) . و٢٦(٧٠٤٥) (تحفة الأشراف : ٤٠٩٢)

لغات: رؤيا الرؤيا جمع ده او رؤي يي مفرد دي معني خوب رأيا و روية ورؤيانا معني بصيرت سره كتل.

تشريح : نيك خوب دالله تعالي دطرفه وي او دا يو زيرى وي چي مومن بنده خوشحاله شي او ددي خوب په ذريعه دحسن سلوك اميد كيدى شي كوم چي دالله دشكر موجب دى، داسي خوب به خپل دوست ته بيانوي؛ ابن حجر ددي دا مطلب ليكلى دي چي ډير كرته بل كس دبغض او حسد په وجه ناكاره تعبير وركوي او بيا همداسي واقع شي ابن حجر دا هم ليكلي دي چي ددي حديث نه چاته دخوب بيانولو دري اداب معلوميږي اول دا چي الحمدلله به وائي دويم داچي دالله تعريف به كوي دريم داچي خپل خوب به كوم عالم او خيرخواه ته بيانوي.

واذا راي غير ذلك مما يكره فانما هي من الشيطان. كله چي دى ددي برعكس ناخوښه څيز په خوب كې اووينې نو دا به دشيطان دطرف نه وي بد خوب دشيطان دطرفه كيدو مطلب دادى چي بد خوب دشيطاني اثراتو عكاسي كوي ددي خوب په سبب هغه انسان لره پريشان كوي په دي باندي شيطان ډير خوشحاليږي تردي چي انسان بيا بدګماني شروع كړي او د تقرب الهي او دحق دلتبول په لاړ كې سستي شروع كړي.

ولايذكرها لاحد فانه لاتضره: علامه قطب الدين وائي لكه څرنګه چي الله تعالي صدقه او خيرات دمال دحفاظت او بركت سبب ګرځولى دى نو دا رنګي په الله پناه غوښتل او خوب چاته نه بيانول ددي خبري دليل دى چي الله تعالي به يي ددي دمضر اثر نه بچ كړي.

****

٥٤_باب مَا يَقُولُ إِذَا رَأَى الْبَاكُورَةَ مِنَ الثَّمَرِ

كله چي ديو موسم اولنۍ ميوه څوك اووينې نو څه به وائي

٣٤٥٤_حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ. ح وَحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. قَالَ: كَانَ النَّاسُ إِذَا رَأَوْا أَوَّلَ الثَّمَرِ جَاءُوا بِهِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَإِذَا أَخَذَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: "اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي ثِمَارِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِي مَدِينَتِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا وَمُدِّنَا. اللَّهُمَّ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ عَبْدُكَ وَخَلِيلُكَ وَنَبِيُّكَ. وَإِنِّي عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ. وَإِنَّهُ دَعَاكَ لِمَكَّةَ. وَأَنَا أَدْعُوكَ لِلْمَدِينَةِ بِمِثْلِ مَا دَعَاكَ بِهِ لِمَكَّةَ. وَمِثْلِهِ مَعَهُ. قَالَ: ثُمَّ يَدْعُو أَصْغَرَ وَلِيدٍ يَرَاهُ فَيُعْطِيهِ ذَلِكَ الثَّمَرَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ

صَحِيحٌ. (1)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي كله چي به كجوري پخې شوي او په اول خل به خلقو اوليدي نو دا به يي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راوړلي كله چي به رسول الله اخستلي نو دا دعا به يي ونيله "«اللهم بارك لنا في ثمارنا وبارك لنا في مدينتنا وبارك لنا في صاعنا ومدنا اللهم إن إبراهيم عبدك وخليلك ونبيك وإني عبدك ونبيك وإنه دعاك لمكة وأنا أدعوك للمدينة بمثل ما دعاك به لمكة ومثله» " اي الله زمونږ دپاره زمونږ په ميوو كي بركت واچوي. او زمونږ دپاره زمونږ په دي ښار كي بركت واچوي . او زمونږ په صاع كي بركت واچوي. او زمونږ په مد كي بركت واچوي. اي الله ابراهيم عليه السلام ستا بنده دي. ستا دوست دي. ستانبي دي. او زه هم ستا بنده او ستا نبي يم هغه دعا غوښتلي وه دمكي دپاره زه هم ستا نه دمديني دپاره دعا غواړم او داسي دعا غواړم څنگه چي ابراهيم عليه السلام د مكي دپاره غوښتلي وه بلكه په مدينه كي دهغي دوه چنده بركت واچوي. ابوهريره وائي بيا چي به كله رسول الله كوم ماشوم وليدلو نو دا اولني ميوه به يي ورته وركړه

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي

****

٥٥_ باب مَا يَقُولُ إِذَا أَكَلَ طَعَامًا

دخوراك كولووخت كي كومه دعا ونيل پكار دي

٣٤٥٥_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عُمَرَ وَهُوَ ابْنُ أَبِي حَرْمَلَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: دَخَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَخَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ عَلَى مَيْمُونَةَ فَجَاءَتْنَا بِإِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ، فَشَرِبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَنَا عَلَى يَمِينِهِ وَخَالِدٌ عَلَى شِمَالِهِ، فَقَالَ لِي: " الشَّرْبَةُ لَكَ، فَإِنْ شِئْتَ آثَرْتَ بِهَا خَالِدًا ". فَقُلْتُ: مَا كُنْتُ أُوثِرُ عَلَى سُؤْرِكَ أَحَدًا، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ أَطْعَمَهُ اللَّهُ الطَّعَامَ فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَأَطْعِمْنَا خَيْرًا مِنْهُ، وَمَنْ سَقَاهُ اللَّهُ لَبَنًا، فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَزِدْنَا مِنْهُ " وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَيْسَ شَيْءٌ يُجْزِئُ مَكَانَ الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ غَيْرُ اللَّبَنِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، فَقَالَ: عَنْ عُمَرَ بْنِ

---

[1] _ صحيح مسلم/المناسك ٨٥ (١٣٧٣)، سنن ابن ماجه/الأطعمة ٣٥ (٣٣٢٩) (تحفة الأشراف: ١٢٧٤٣)

حَرْمَلَةَ. وَقَالَ بَعْضُهُمْ: عَمْرُو بْنُ حَرْمَلَةَ. وَلَا يَصِحُّ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهمانه روايت دى فرمائي چي زه او خالد بن الوليد د رسول الله سره دام المومنين ميمونة رضي الله عنها كور ته داخل شو او ام المؤمنين مونږ ته په يو لوښي شوده پيش كړل پس رسول الله وڅكل چي زه ورنه ښي اړخ ته وم او خالد ګس اړخ ته ناست وو، راته يي اوفرمائيل حق خو ستا جوړيږي مګر كه ته خالد ته په ځان باندي ترجيح وركوي (نو ستا خوښه ده)، ما ووئيل زه خو ستاسو جوټه بل چاته نشم پريښودلى، بيا رسول الله وفرمايل چا ته چي الله څه خوراك نصيب كړي نو دا دعا دي اووايي **اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَأَطْعِمْنَا خَيْرًا مِنْهُ** " او چاته چي الله څښاك نصيب كړي نو دا دعا دي اووايي: **اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَزِدْنَا مِنْهُ** " " بيا رسول كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په نعمتونوكي بل داسي نعمت نشته چي دخوراك اوڅښاك دواړودپاره كار وركړي

امام ترمذي رحمه الله وايي. داحديث حسن دي. بعضي محدثينو دا حديث دعلي بن زيد نه نقل كړي دي او هغه دعمر بن حرمله نه نقل كړي دي، اود بعضو قول دي عمرو بن حرمله نه نقل كړي دي، مګر عمرو بن حرمله ونيل درست نه دي

****

٥٦_باب مَا يَقُولُ إِذَا فَرَغَ مِنَ الطَّعَامِ

دخوراك كولو نه پس كومه دعا ونيل پكار دي

٣٤٥٦_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا ثَوْرُ بْنُ يَزِيدَ. حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَعْدَانَ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ. قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا رُفِعَتِ الْمَائِدَةُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ يَقُولُ: الْحَمْدُ لِلَّهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ غَيْرَ مُوَدَّعٍ وَلَا مُسْتَغْنًى عَنْهُ رَبَّنَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دابوامامه رضي الله عنه بيان دي كله چي به درسول الله صلي الله عليه وسلم دمخي نه دسترخوان پورته كړي شو نو دا دعا به يي ونيله ": **«الحمد لله حمدا كثيرا طيبا مباركا فيه**

[2] ــ سنن ابي داود/ الأشربة ٢١ (٣٧٣٠) . سنن ابن ماجه/الأطعمة ٣٥ (٣٣٢٢) (تحفة الأشراف : ٦٣٩٨) . و مسند احمد (١/٢٢٥)

غير مودع ولا مستغنى عنه ربنا" ټول تعریفونه خاص دالله تعالي دپاره دي او ډیر زیات تعريفونه دالله دپاره دي پاك رزق دي او بركتي رزق دي دا دي دالله تعالي دطرفه زمونږ دپاره اخري رزق نشي او اي زمونږ پروردگاره مونږ هیڅ کله ددینه بینیازه نه یو.
امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي.

٣٤٥٧_حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الأَشَجُّ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، وَأَبُو خَالِدٍ الأَحْمَرُ، عَنْ حَجَّاجِ بْنِ أَرْطَاةَ، عَنْ رِيَاحِ بْنِ عَبِيدَةَ، قَالَ حَفْصٌ: عَنِ ابْنِ أَخِي أَبِي سَعِيدٍ، وَقَالَ أَبُو خَالِدٍ، عَنْ مَوْلًى لأَبِي سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: " كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَكَلَ أَوْ شَرِبَ قَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ ". ([1])

ترجمه . ابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي كله چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم خوړل او څکل اوکړل نو دا دعا به يي ونيله " الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ " يعني اي الله ټول تعريفونه ستا دپاره دي چي مونږ ته دي خوړل او څکل راکړل او مونږ دي مسلمانان پيدا کړو.

****

٣٤٥٨_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ الْمُقْرِئُ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ، حَدَّثَنِي أَبُو مَرْحُومٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ أَكَلَ طَعَامًا فَقَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَأَبُو مَرْحُومٍ اسْمُهُ عَبْدُ الرَّحِيمِ بْنُ مَيْمُونٍ. ([2])

ترجمه معاذ بن انس رضي الله عنه نه روايت شوى دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي چا دروټئ خوړلو نه پس دا دعا اولوستله : الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا. وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلاَ قُوَّةٍ ، ټول تعريفونه الله تعالي دپاره دي چاچي ماته دا خوراك راكړو او خما د كوشش اوطاقت نه بغير يى راكړو نو دهغه مخكني ټول ګناهونه به معاف كړى شي.

[1] ـ سنن ابن ماجه/الأطعمة ١٦ (٣٢٨٣) (تحفة الأشراف : ٤٤٢٢)

[2] ـ سنن ابي داود/ اللباس ١ (٤٠٢٣) . سنن ابن ماجه/الأطعمة ١٦ (٣٢٨٥) (تحفة الأشراف : ١١٢٩٤) . وسنن الدارمي/الاستئذان ٥٥ (٢٧٣٢)

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي او دابومرحوم نوم عبدالرحيم بن ميمون دي.

لغات: حول، معني قدرت او هوښيارتوب، لړي ليدل. كال، حال د نصر نه حولا وحوولا ديوحالت نه بل حالت ته ديوڅيز بدليدل.

تشريح: دخوراك متعلق دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ډيري دعاګاني منقول دي په دي منقوله دعاګانو كښ ديوي لوستل هم كافي دي په پورتني روايت كښ يوي جامع دعا ته اشاره ده او تاثير يي پخپله په روايت كښ بيان شوى دى چي په لوستلو يي تمام ګناهونه معاف كيږي مګر دعلماؤ په نزد صغيره ګناهونه مراد دي او دكبيره ګناهونو دمعافۍ دپاره توبه ويستل شرط دي.

دمعاذ بن انس رضي الله عنه حالات

نوم معاذ دپلار نوم انس قبيله جهينه سره تعلق لري، دي په مصريانو كښ شميرلي شي چي مرويات يي ډير موندلي شي اكثر ورنه دده خوي سهل نقل دروايت كوي.

****

٥٧_باب مَا يَقُولُ إِذَا سَمِعَ نَهِيقَ الْحِمَارِ

دخر د اواز اوريدو وخت كښ كومه دعا وئيل پكار دي

٣٤٥٩_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا سَمِعْتُمْ صِيَاحَ الدِّيَكَةِ فَاسْأَلُوا اللَّهَ مِنْ فَضْلِهِ فَإِنَّهَا رَأَتْ مَلَكًا، وَإِذَا سَمِعْتُمْ نَهِيقَ الحِمَارِ فَتَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِنَّهُ رَأَى شَيْطَانًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول كريم صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي كله چي دبانګي اواز واورئ نودالله تعالي نه دهغه فضل اوغواړئ ځكه چي ده په دي وخت كښ فرشته ليدلي وي، اوكله چي دخر اواز واورئ نوپه الله تعالي باندي دشيطان نه پناه اوغواړئ ځكه چي ده په دي وخت كښ شيطان ليدلي وي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /بدء الخلق ١٥ (٣٣٠٣). صحيح مسلم/الذكر والدعاء ٢٠ (٢٧٢٩). سنن ابي داود/ الأدب ١١١ (٥١٠٢) (تحفة الأشراف: ١٣٦٢٩). ومسند احمد (٢/٣٢١)

****

٥٨_باب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ التَّسْبِيحِ وَالتَّكْبِيرِ وَالتَّهْلِيلِ وَالتَّحْمِيدِ

دتسبيح، تكبير، او تهليل او تحميد فضيلت

٣٤٦٠_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بَكْرٍ السَّهْمِيُّ، عَنْ حَاتِمِ بْنِ أَبِي صَغِيرَةَ، عَنْ أَبِي بَلْجٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " " مَا عَلَى الأَرْضِ أَحَدٌ يَقُولُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ إِلَّا كُفِّرَتْ عَنْهُ خَطَايَاهُ وَلَوْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ " ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. وَرَوَى شُعْبَةُ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ أَبِي بَلْجٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ وَلَمْ يَرْفَعْهُ، وَأَبُو بَلْجٍ اسْمُهُ يَحْيَى بْنُ أَبِي سُلَيْمٍ، وَيُقَالُ أَيْضًا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمٍ.

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ حَاتِمِ بْنِ أَبِي صَغِيرَةَ، عَنْ أَبِي بَلْجٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ. وَحَاتِمٌ وَيُكْنَى أَبَا يُونُسَ الْقُشَيْرِي.

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي بَلْجٍ، نَحْوَهُ وَلَمْ يَرْفَعْهُ. [1]

ترجمه : دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په زمكه چي هر يو بنده " لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ " اووائي نو گناهونه به يي اوبخلي شي اگر كه دده گناهونه دسمندر دزگ برابر ډير وي د دعا ترجمه داده دالله تعالي نه علاوه بل څوك حقدار دبندگۍ نشته او الله تعالي دهر چانه لوي دي او دالله تعالي نه علاوه په هيچا كي دكوم كار كولو طاقت نشته.

امام ترمذي رحمه الله وايي:

دعبدالله بن عمرو بن عاص رضي الله عنه حالات

نوم عبدالله كنيه ابومحمد يا ابوعبدالرحمان دپلار نوم يي عمرو بن العاص وو او دمور نوم يي ريطه بنت مبني وو دخپل پلار عمرو سره په اسلام كي داخل شوى وو (اسد الغابه).

درسول الله صلي الله عليه وسلم مجلس ته به راتلو او چي څه به يي اوريدل هغه به يي ليكل. پخپله ابوهريره رضي الله عنه فرمائي چي ده ته زما نه زيات احاديث ياد دي خكه چي ده به

[1] _ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٢٩ (١٢٢) (تحفة الأشراف: ٨٩٠٢)

ليكل كول او مانه كول؛ تذكرة الحفاظ)

درسول الله سره په بعضي غزواتو کې هم شريك شوی دی او په جنګ يرموك کې عمرو بن العاص رضي الله عنه ده ته دخپل لاس جهنډه ورکړې ده.

ددرس حلقه يې ډيره وسيعه ده او دخپلو شاګردانو سره يې ډير محبت وو په هره دويمه ورځ به يې روژه نيوله او دشپې اکثره حصه به يې په عبادت کې تيروله او په دريو ورځو کې به يې قران ختمولو

وفات عمرو بن العاص رضي الله عنه په ۷۵هجري کې وفات شوی دی او پدغه زمانه کې دمروان بن حکم او عبدالله بن زبير جنګ جاري وو نو په دې وجه ده لره خلقو په کور کې دفن کړو ځکه چې جنازه عام قبرستان ته رسول مشکل وو.

دده نه اوه سوه روايات منقول دي چې ۱۷ متفق عليه دي اته په بخاري کې او شل په مسلم کې (تهذيب الكمال).

****

٣٤٦١ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مَرْحُومُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ الْعَطَّارُ، حَدَّثَنَا أَبُو نَعَامَةَ السَّعْدِيُّ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ، قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزَاةٍ، فَلَمَّا قَفَلْنَا أَشْرَفْنَا عَلَى الْمَدِينَةِ فَكَبَّرَ النَّاسُ تَكْبِيرَةً وَرَفَعُوا بِهَا أَصْوَاتَهُمْ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَصَمَّ وَلَا غَائِبٍ هُوَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ رُءُوسِ رِحَالِكُمْ. ثُمَّ قَالَ: يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ قَيْسٍ أَلَا أُعَلِّمُكَ كَنْزًا مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو عُثْمَانَ النَّهْدِيُّ اسْمُهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مُلٍّ، وَأَبُو نَعَامَةَ اسْمُهُ عَمْرُو بْنُ عِيسَى، وَمَعْنَى قَوْلِهِ: هُوَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ رُءُوسِ رِحَالِكُمْ إِنَّمَا يَعْنِي عِلْمَهُ وَقُدْرَتَهُ. (1)

ترجمه دابوموسى اشعاري نه روايت دی فرمائي چې مونږ درسول کريم صلي الله عليه وسلم سره په يوجهاد کې موجود وو کله چې مديني ته نزدې شو نوخلکو په اوچت اواز سره تکبير ووئيلو رسول کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اې خلکو تاسو خو نه رابلئ کونړ لره نه غائب لره بلکه څوك چې رابلئ هغه ستاسو اوستاسو دسورلو دڅټونوسره دی بيايې اوفرمائيل اې عبد الله بن قيس يوه خزانه درنه اونه ښايم دجنت دخزانو نه ماعرض اوکړو هغه کومه يوه دده رسول کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل «لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ» ده.

---

1 ـ انظر حديث رقم ٣٢٤٣

رسول كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل: «لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ» ده.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي او دابوعثمان النهدي نوم عبدالرحمن بن مل دي او دابو نعامه نوم عمرو بن عيسي دي او دارشاد نبوي "بينكم وبين رؤس رحالكم" مطلب دادي چي دالله تعالي علم اوقدرت په هر خاي كي موجود دي.
لغات: ادلك. دل يدل دلا ودلالة معني لار خودل ، كنز: معني خزانه دزمكي.

تشريح. كنزا من كنوز الجنة: " دجنت په خزانو كې يوه خزانه ده " دخزاني مطلب دادى چي سبا به په قيامت كي ددي ثواب دخزاني په صورت كې ملاويږي، دويم مطلب دا هم كيدى شي چي ددي دوئيلو اثر دادى چي ويونكي لره زړه غني كوي او په زړه كې يې دا يقين پيدا كيږي چي هر يو كار دالله دطرفه وي نفع او نقصان ټول دهغه دطرفه دي او بيا هغه خپل تمام امور الله تعالي ته اوسپاري.
يا ددي جملي نه درسول الله منشاء ددي كلمي عظمت او قدر بيانول وو ديوخيز دقيمتي ګرځولو دپاره ددينه زيات بهترين تعبير نشي كيدي. شيخ قطب الدين دشيخ ابو الحسن قول نقل كړى دى چي يو كس ماته دسفر په دوران كې دا نصيحت اوكړو چي په نيكو اعمالو او اقوالو كي هيڅ يو قول د لاحول ولاقوة الابالله سره برابر نه دى.
بعضي مشائخ دطريقت وايي چي شرك جلي او شرك خفي او دزړه كدوراتو ختمولو دپاره او ايمان او معرفت نور دحصول دپاره چي لكه څنګه لا اله الا الله مؤثر دي نو همدارنګي عملي زندګي درست كول او نهي عن المنكر كول هم مؤثر دي اوپه دي د لاحول ولا قوة الا بالله خاص دخل دي.

****

٥٩_ باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يوبل باب

٣٤٦٢_ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، حَدَّثَنَا سَيَّارٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاق، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَقِيتُ إِبْرَاهِيمَ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ أَقْرِئْ أُمَّتَكَ مِنِّي السَّلَامَ، وَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ الْجَنَّةَ طَيِّبَةُ التُّرْبَةِ عَذْبَةُ الْمَاءِ، وَأَنَّهَا قِيعَانٌ، وَأَنَّ غِرَاسَهَا سُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ ". قَالَ: وفي الباب، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ

مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ مَسْعُودٍ. (1)

ترجمه ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ما دمعراج په شپه ابراهيم عليه السلام سره ملاقات اوكړو نو هغه راته اووئيل اى محمد صلي الله عليه وسلم، په خپل امت زما دطرفه سلام ووايه اودا خبر وركړه چي دجنت زمكه زرخيزه ده. او اوبه يى خوږي دي خو هغه خالي ډاګه ده په هغى كې بوټي لګول ددى كلماتو ذكر دى سبحان الله والحمدلله ولااله الاالله والله اكبر.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث دابن مسعود په روايت په مذكوره سند حسن غريب دي او په دي باب كي دابو ايوب انصاري رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

لغات طيب: طاب يطيب طيبا معني عمده كيدل. التربة په معني دخاوري دي.

تشريح: "**لقيت ابراهيم**" دمعراج په شپه دابراهيم عليه السلام سره درسول الله صلي الله عليه وسلم ملاقات اوم اسمان كې شوى وو. محدثين وائي چاته چي دا حديث ورسيږي هغه لره پكار دي چي دابراهيم عليه السلام دسلام په جواب كې "وعليه السلام ورحمة الله وبركاته" اروائي.

ان الجنة طيبة التربة: دجنت خاوره پاكه ده دمشك او زعفران والاده كله چي خاوره او اوبه ښه ري نو فصل هم ښه وي، دي حديث كې دي خبري ته ترغيب دى چي جنت يو اوار ميدان دى دسبحان الله او الحمدلله په ذريعه په دي كې ډيري وني اوكړئ، ددي دويم مطلب دا هم كيدى شي چي جنت خو داوسيدو په اعتبار بهترين مقام دى پكار ده چي هلته ښه باغونه اوكړئ او خاوره يي هم بهترينه ده يعني مشك او زعفران والاده.

وانها قيعان: جنت اوار ميدان دى

كه څوك اووايي چي دجنت معني باغ ده نو په دي حديث كې ورته اوار ميدان ولي وئيلى شوي دي

جواب: دجنت رقبه به ډيره وسيعه او عريضه وي لكه چي ديو روايت نه معلوميږي اخرنى كس چي جنت ته داخل شي نو هغه ته به دلسو دنياګانو نه لوي جنت وركړى شي په څه حصه كې به مخكې نه باغ موجود وي او بعضي به خالي وي څوك چي څومره تسبيحات وائي نو دومره وني به دده دپاره كرلى شي.

بل جواب: په جنت كې ټولي وني په يو ځاي دي نو څوك چي تسبيحات څومره ډير وائي دده

1- تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٣٦٥)

دحصي ونې به خوري شي
يعني په جنت کې به داوچتو درجو اوډيرو نعمتونو تعداد دذکر په کثرت وي څوك چې په دنيا کې ذکر ډير اوکړي دجنت باغونو کې به يې ميوه دار بوټي ګنړ اودجنت اوچتې درجې اوډير نعمتونه به ورته حاصل شي

****

٣٤٦٣ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ. حَدَّثَنَا مُوسَى الْجُهَنِيُّ. حَدَّثَنِي مُصْعَبُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِجُلَسَائِهِ: "أَيَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَكْسِبَ أَلْفَ حَسَنَةٍ؟" فَسَأَلَهُ سَائِلٌ مِنْ جُلَسَائِهِ: كَيْفَ يَكْسِبُ أَحَدُنَا أَلْفَ حَسَنَةٍ؟ قَالَ: "يُسَبِّحُ أَحَدُكُمْ مِائَةَ تَسْبِيحَةٍ تُكْتَبُ لَهُ أَلْفُ حَسَنَةٍ وَتُحَطُّ عَنْهُ أَلْفُ سَيِّئَةٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه روايت دی چې يوه ورځ مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلم سره ناست وو، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ای تاسو دا نشئ کولی چې په يوه ورځ کې زرنيکئ اوګټئ؛ په ناستو کسانو کې يو سړي عرض اوکړو يا رسول الله په يوه ورځ کې به زر نيکئ څنګه وګټلی شي، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې دورځی سل خله سبحان الله اووائي، نو يا به ورله زر نيکئ اوليکلی شي او يا به ورته زر غلطئ معاف کړی شي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دي.

لغات: الف: زر جمع يي الاف راځي، خطيئة جمع يي خطيات راځي، اوخطوة په معني دقدم دي جمع يي خطوات راځي.

تشريح: د يو بل روايت حاصل دادی: چې زرنيکئ به ورته اوليکلی شي او زر غلطئ به ورته معاف شي دهری نيکئ ثواب يو په لس ورکولی شي نو دسل خله سبحان الله ويلو ثواب زر نيکئ شوی او په نيکيو ګناهونه معاف کيږي نو زر ګناهونه به ورته هم معاف شي.
فيکتب له الف حسنة، يکتب لفظ په دي روايت کې په ياء سره راغلی دی او په جامع الاصول کې هم داسي دی ليکن دمسلم په دويم روايت کې په تاء سره يعني تکتب راغلی دی دواړه هم معني دي څه فرق نه لري
کچري سل پيري سبحان الله اووئيلی شي نو زر نيکئ به اوليکلی شي او ديوي نيکئ بدله لس

[1] صحيح مسلم/الذكر والدعاء ١٠(٢٦٩٨) (تحفة الأشراف: ٣٩٣٣)

چنده وي لکه چي ارشاد الهي دی "من جاء بالحسنة فله عشر امثالها" يعني څوك چي دنيکئ يو کار اوکړي ده ته به دهغي لس چنده اجر ملاؤ شي

ويحط . ولوستلی شي يعني په واو سره نو مفهوم به دا وي چي زر نيکئ به هم اوليکلی شي او زر ګناهونه به هم معاف شي

د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه دزندګئ مختصر حالات

دده نوم سعد او کنيه ابو اسحاق او دپلار نوم مالك چي کنيه يي ابو وقاص وه او دمور نوم يي حمنه وو په رشته کي درسول الله په ماماخيلو کي راتلو (اسد الغابه ۲/ ۲۹۱) دنولسو کالو په عمر کي دصديق اکبر رضي الله عنه سره دربار نبوت ته حاضر شو او مسلمان شو او دمکي نه يي مديني ته هجرت اوکړو او دخپل ورور عقبه بن ابي وقاص په کور کي يي اوسيدل شروع کړل (طبقات ابن سعد ۳/ ۹۹) دنبي کريم صلي الله عليه وسلم سره يي په ډيرو غزواتو کي شرکت کړی دی او دعشره مبشره نه دی .

عمر رضي الله عنه دکوفي والي مقرر کړی وو ليکن وروسته يي معزول کړو مګر عثمان رضي الله عنه دوباره بحال کړو.

وفات سعد په اخري وخت کي عقيق مقام ته لاړو کوم چي دمديني نه په لس ميله فاصله کي پروت دی او هلته د ۵۵ کالو په عمر کي وفات شو.

مرويات: دابن جوزي په قول دده دمروياتو تعداد ۲۷۱ دی چي ۲۵ په بخاري او مسلم دواړو کي دي

****

٦٠_باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٤٦٤_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، عَنْ حَجَّاجٍ الصَّوَّافِ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ وَبِحَمْدِهِ، غُرِسَتْ لَهُ نَخْلَةٌ فِي الْجَنَّةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ. [1]

ترجمه دجابر رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي څوك چي سبحان الله العظيم وبحمده اوواني په جنت کي ورته دکجوری يو بوټی اوکرلی شي.

[1] ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٥٨ (١٥٢) (تحفة الأشراف: ٢٦٨٠) . ومسند احمد (١٨٠/١)

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي او مونږ يي دابوالزبير په روايت پيژنو چي دجابر په واسطه يي نقل کوي.

لغات : غرست: غرس يغرس غرسا معني وني کرل ، النخلة معني دکجوري ونه.

تشريح : دنسائي په يو روايت کې دنخلة لفظ په ځاي باندي شجرة لفظ دی د دواړو مفهوم يو دی.

په پورتني حديث نخلة دزياتي نفع په اعتبار سره ويلي شوي دي او په عربو کې به دا ونه زياته مونډلي شوه په قرآن کې هم دمومن مثال دوني سره ورکړي شوي دي لکه الم تر كيف ضرب الله مثلا كلمة طيبة كشجرة طيبة

ددي حديث نه معلومه شوه چي په جنت کې اګر چي باغونه ډير دي مګر څه حصه پکې اوار ميدان هم شته ځوک چي دا الفاظ څومره ډير وائي دهغه دپاره به دومره په جنت کې وني کرلی شي.(روضة)

****

٣٤٦٥_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، حَدَّثَنَا الْمُؤَمِّلُ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ وَبِحَمْدِهِ غُرِسَتْ لَهُ نَخْلَةٌ فِي الْجَنَّةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه دجابر رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ځوک چي سبحان الله العظيم وبحمده اووائي په جنت کې ورته دکجوری يو بوټی اوکرلی شي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي.

****

٣٤٦٦_حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا الْمُحَارِبِيُّ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ سُمَيٍّ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ مِائَةَ مَرَّةٍ غُفِرَتْ لَهُ ذُنُوبُهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[2]

---

[1] _ انظر ماقبله (تحفة الأشراف : ٢٦٩٦)

[2] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الدعوات ٦٥ (٦٤٠٥) . صحيح مسلم/الذكر والدعاء ١٠ (٢٦٩١) (في آخره) . سنن ابن ماجه/الأدب ٥٦ (٣٨١٢) (تحفة الأشراف : ١٢٥٤٨)

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي څوك چي سل پيري" مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ مِائَةَ مَرَّةٍ غُفِرَتْ لَهُ ذُنُوبُهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ" اووائي دده ټول ګناهونه به معاف کړي شي اګر که دسمندر دزګ برابر وي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٤٦٧_حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْفُضَيْلِ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ الْقَعْقَاعِ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ، سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي دوه جملي دي په ژبه ډيری اسانی دي او دنيکي په تله کې ډيری درنی دي اوادالله تعالي ډيری خوښی دي سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

لغات . كلمتان ددي لفظ مفرد كلمة دي دضرب نه كلما زخمي كول، كلمه تكليما خبري كول . كالم يكالم مكالمة خپل مينځ کې خبري كول ، خفيفتان: معني سپك دسمع نه ، ثقيلتان معني درني .

تشريح . امام بخاري خپل كتاب په دي حديث باندي ختم کړی دی او په انما الاعمال بالنيات يې شروع کړی دی په دي کې يو لطيفه اشاره ده او هغه داده چي په ميزان کې به دهغه چا اعمال درانه وي دچاچي نيت ښه وي.

كلمتان: ددي نه مراد هغه كلام دي دكوم په ذريعه چي انسان ته څه خبره معلومه شي

خفيفتان علي اللسان : چي په ژبه اسان دي يعني داسي حروف پکې نشته چي په مشقت سره ادا كيږي په مشقت سره ادا كيدونکی حروف شديدا اومستعلي دي دهغي نه په هغي کې هيڅ يو حرف نشته حروف شديده اته دي چي مجموعه يې اجدك قطبت، او حروف استعلاء اوه دي ددي مجموعه "خص ضغط قظ".

---

[1] - اورده البخاري في الجامع الصحيح /الدعوات ٦٥ (٦٤٠٦) ، والأيمان والنذور ١٩ (٦٦٨٢) ، والتوحيد ٥٦ (٧٥٦٣) . صحيح مسلم /الذكر والدعاء ١٠ (٢٦٩٤) . سنن ابن ماجه/الأدب ٥٦ (٣٨٠٦) (تحفة الأشراف : ١٤٨٩٩)

ثقيلتان في الميزان: علامه سندي وائي چې دحروفو دکمي په وجه او بهترين ترتيب په وجه او دالله تعالي دنوم دکشش په وجه دا په ژبه باندي اسان دي او دالله تعالي دنوم په برکت سره دا الفاظ به دقيامت په ورځ دثواب په اعتبار ډير درانه وي.

حبيبتان الي الرحمان: علامه سندي وائي چې په ډيرو احاديثو کې ديته احب الکلام ونيلى شوي دي دا کلام دالله تعالي په نزد محبوب دی او که ددي وينکی، دالله تعالي په نومونو کې رحمان لفظ خکه مخکې راوړلی شوی دی چې دلته دالله تعالي درحمت وسعت بيانول مقصود دي چې په معمولي شان کلام يې دومره زيات اجر مقرر کړی دی دا دالله تعالي درحمت خاصه کيدی شي.

سبحان الله وبحمده: ددي جملي وضاحت وړاندي په يو څو احاديثو کې راروان دی.

****

٣٤٦٨_حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ سُمَيٍّ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَنْ قَالَ: لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ كَانَتْ لَهُ عِدْلَ عَشْرِ رِقَابٍ، وَكُتِبَتْ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ، وَمُحِيَتْ عَنْهُ مِائَةُ سَيِّئَةٍ، وَكَانَ لَهُ حِرْزًا مِنَ الشَّيْطَانِ يَوْمَهُ ذَلِكَ حَتَّى يُمْسِيَ، وَلَمْ يَأْتِ أَحَدٌ بِأَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهِ إِلاَّ أَحَدٌ عَمِلَ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ ".

وَبِهَذَا الإِسْنَادِ، وَبِهَذَا الإِسْنَادِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ مِائَةَ مَرَّةٍ حُطَّتْ خَطَايَاهُ، وَإِنْ كَانَتْ أَكْثَرَ مِنْ زَبَدِ الْبَحْرِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي لااله الاالله وحده لاشريك له له الملك وله الحمد وهو علي كل شيئ قدير. دورځی سل خله اووئيل دا ورته دلسو غلامانو ازادولو برابر دي يعني دومره ثواب به ورته ورکولی شي لکه چې لس غلامان يې ازاد کړي وي اوسل نيکۍ به ورته اوليکلی شي اوسل ګناهونه به ورته معاف کړی شي او په دغه ورځ به ترماښامه دشيطان :اثر نه محفوظ وي اودقيامت په ورځ به هيڅوك دده نه بهتر عمل پيش نه کړی شي بی دهغی سړي نه چې دا کلمات يې دده نه زيات

[1] ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /بدء الخلق ١١ (٣٢٩٣)، والدعوات ٦٤ (٦٤٠٣)، صحيح مسلم/الذكر والدعاء ١٠ (٢٦٩١)، سنن ابن ماجه/الأدب ٥٤ (٣٧٩٨) (تحفة الأشراف: ١٢٥٧١)، مسند احمد (٢/٣٠٢، ٣٦٠، ٣٧٥)

ونيلي وي او رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي سبحان الله وبحمده په ورځ کي سل خله اوونيل تول گناهونه به ورته معاف کړی شي اگر چي دسمندر د زگ هومره وي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي .
لغات: عدل: دضرب نه يعدل عدلا معني سيده کول ، برابري کول ، رقاب: معني غلام، خادم ، حطت: معني کوزيدل.
تشريح: دحديث ظاهري مفهوم خو دادی که څوك دا کلمات په سحر کي اولولي نومابنام پوري به دشيطان نه محفوظ وي او سل نيکي به ورله هم اوليکلی شي او سل گناهونه به يي هم معاف شي او دلسوغلامانو دازاديدو ثواب به ورته هم ملاؤ شي او که مابنام کي اولولي نو ددي ذکر په حديث کي نشته ليکن محدثين وائي چي په مابنام کي لوستونکي دپاره به هم دا ثوابونه ملاويږي.
نووي په شرح مسلم کي ليکلي دي دا انعامات په سل عدت پوره کولو باندي دی ، برابره خبره ده چي انسان يي په يو مجلس کي سل پيري اولولي او که په مختلفو مجلسونو کي په هر صورت کي به ورته انشاء الله پورتني ذکر شوی ثواب ملاويږي ليکن بهتر به دا وي چي په يو مجلس کي اولولي او دورځي په ابتداء کي يي اولولي همدارنگي دا انعامات په سل پيري لوستلو وارد شوي دي ليکن که څوك دا څومره زيات اولولي نو دومره زيات ثواب به ورته ملاويږي.
سوال دمابنام ذکر ولي په دي حديث کي نه دی شوی؟
اول جواب: کيدی شي چي رسول الله به کړی وي ليکن راوي به داختصار په وجه حذف کړی وي (او يا به ورنه هيرشوی وي).
دويم جواب: رسول الله دسحر ذکر کړی دی او دمابنام ذکر ورنه پخپله معلوميږي نو په حديث کي ددي بيانولوته ضرورت پاتي نشو.
تخريج: انظر حديث رقم ٣٣٦٦

****

٦١_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٣٤٦٩_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ المَلِكِ بْنِ أَبِي الشَّوَارِبِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ العَزِيزِ بْنُ المُخْتَارِ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ سُمَيٍّ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ وَحِينَ يُمْسِي: سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ مِائَةَ مَرَّةٍ لَمْ يَأْتِ أَحَدٌ يَوْمَ القِيَامَةِ

بِأَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهِ، إِلَّا أَحَدٌ قَالَ مِثْلَ مَا قَالَ أَوْ زَادَ عَلَيْهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه . ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي څوك سحر او ماښام سبحان الله وبحمده سل ځله اولولي نودقيامت په ورځ به ددی سړي نه بهتر عمل دبل چا راونه وړي بغير دهغه کس نه چي هغه دغه کلمات هم په دی تعداد کښ يادډی نه زيات يی ونيلي وي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

لغات : يمسي: دماښام په وخت کښ داخليدل، زاد؛ زاد يزداد زيادة معني زياتيدل، ازداد زياتول دباب افعال نه.

تشريح : په يو بل روايت کښ دي تسبيح ته دفرشتو تسبيح ونيلی شوي دي (مسلم) او په يو بل روايت کښ راغلي دي چي څوك دا کلمات سل پيري اووائي نو ټول ګناهونه به يي معاف شي اګر که په ډيروالي کښ دسمندر دزګ برابر وي يو بل روايت دابوذر رضي الله عنه نه منقول دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ايا تاسو ته اونه ښايم چي دالله تعالي په نزد په ټولو کلامونو کښ بهتر کلام کوم يو دی؟ ما عرض اوکړو ضرور يي راته بيان کړه نو وي فرمائيل "سبحان الله وبحمده" دی په نورو ډيرو روايتونو کښ هم ددي کلماتو فضيلت راغلی دی بهتره داده چي دنمر ختونه مخکښ او دنمر پريوتو نه مخکښ دا دعا اوونيلی شي څکه چي دا وخت داذکارو دپاره زيات مناسب دی او په دي وخت کښ دفرشتو نزول هم کيږي.

****

٣٤٧٠ـ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ مُوسَى الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ الزِّبْرِقَانِ، عَنْ مَطَرٍ الْوَرَّاقِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ لِأَصْحَابِهِ: " قُولُوا: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ مِائَةَ مَرَّةٍ، مَنْ قَالَهَا مَرَّةً كُتِبَتْ لَهُ عَشْرًا، وَمَنْ قَالَهَا عَشْرًا كُتِبَتْ لَهُ مِائَةً، وَمَنْ قَالَهَا مِائَةً كُتِبَتْ لَهُ أَلْفًا، وَمَنْ زَادَ زَادَهُ اللهُ، وَمَنِ اسْتَغْفَرَ اللهَ غَفَرَ لَهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (2)

---

[1] ـ صحيح مسلم/الذكر والدعاء ١٠ (٢٦٩٢) ، سنن ابي داود/ الأدب ١١٠ (٥٠٩١) (تحفة الأشراف : ١٢٥٦٠) ، و مسند احمد (٢/٣٧١)

[2] ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٦٣ (١٦٠) (تحفة الأشراف : ٨٤٢٦)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم يوه ورځ صحابه كرامو ته اوفرمائيل " سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ " سل پيري وايئ، او څوك چي دا يو ځل اووائي نو لس پيري به دده دپاره اوليكلي شي اوڅوك چي دا لس پيري اووائي سل پيري به دده دپاره اوليكلي شي او څوك چي دا سل پيري اووائي نو زر پيري به اوليكلي شي او څوك چي دي لره نور زيات كړي نو الله تعالي به دي لره نور زيات اوليكي او څوك چي دالله تعالي نه بخنه اوغواړي الله تعالي به ورته بخنه اوكړي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي.

****

٦٢_ باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يوبل باب

٣٤٧١_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ وَزِيرٍ الْوَاسِطِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو سُفْيَانَ الْحِمْيَرِيُّ، عَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ حُمْرَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ سَبَّحَ اللهَ مِائَةً بِالْغَدَاةِ وَمِائَةً بِالْعَشِيِّ كَانَ كَمَنْ حَجَّ مِائَةَ مَرَّةٍ، وَمَنْ حَمِدَ اللهَ مِائَةً بِالْغَدَاةِ وَمِائَةً بِالْعَشِيِّ كَانَ كَمَنْ حَمَلَ عَلَى مِائَةِ فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللهِ، أَوْ قَالَ: غَزَا مِائَةَ غَزْوَةٍ وَمَنْ هَلَّلَ اللهَ مِائَةً بِالْغَدَاةِ وَمِائَةً بِالْعَشِيِّ كَانَ كَمَنْ أَعْتَقَ مِائَةَ رَقَبَةٍ مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ، وَمَنْ كَبَّرَ اللهَ مِائَةً بِالْغَدَاةِ وَمِائَةً بِالْعَشِيِّ لَمْ يَأْتِ فِي ذَلِكَ الْيَوْمِ أَحَدٌ بِأَكْثَرَ مِمَّا أَتَى بِهِ إِلَّا مَنْ قَالَ مِثْلَ مَا قَالَ أَوْ زَادَ عَلَى مَا قَالَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه : عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي سل پيري سحر او مابنام تسبيح (سبحان الله) اووئيل نو دي دداسي كس سره په اجر كي برابرشو چاچي سل حجونه كړي وي او چاچي سل پيري سحر او مابنام حمد (الحمدلله) اووئيل نو داسي ده لكه ده چي دالله په لاره كي غازيانو ته دسورلئ دپاره سل اسونه وركړي وي(دراوي شك دي) اوكه داسي يي اوفرمائيل لكه چي سل جهادونه يي كړي وي، او چاچي سل پيري سحر او مابنام تكبير (الله اكبر) اووئيل نو دقيامت په ورځ به دده نه زيات نيك عمل والاحاضر نشي مگر علاوه دهغه چانه چاچي دده نه زيات وئيلي وي او يا يي دده برابر وئيلي وي.

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٦١٩)

امام ترمذي رحمه الله وايي. داحديث حسن غريب دي.

عمرو بن شعيب رضي الله عنه حالات

نوم عمرو شعيب بن محمد بن عبدالله بن عمرو بن العاص هغه عموما دخپل پلار او سعيد بن المسيب نه روايتونه اوريدلي دي او دی دحديث په اسناد کې اکثر موندلی شي "ابيه" کې ضمير پلار ته راجع دی او ددي مصداق شعيب دی 'جده، په دي ضمير کې دوه احتماله دي اول ددي مصداق محمد دی ، دويم احتمال دادی چي دجد مرجع ابيه دی او دجد مصداق عبدالله بن عمرو دی کوم چي دشعيب نيکه دی مطلب دا شو چي شعيب دخپل نيکه عبدالله نه روايت کوي ددي احتمالاتو په وجه په سند کې اختلاف راغی پاتي شوه دا خبره چي دا سند قابل داحتجاج دی يا نه دی نو صحيح رائي داده چي دا سند قابل داحتجاج دی کم از کم دحسن درجي دی اصحاب سنن او امام احمد وغيره دا سند قبول کړی دی (ميزان الاعتدال، تدريب الرامي).

****

٣٤٧٢_حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ الأَسْوَدِ الْعِجْلِيُّ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ: تَسْبِيحَةٌ فِي رَمَضَانَ أَفْضَلُ مِنْ أَلْفِ تَسْبِيحَةٍ فِي غَيْرِهِ. [1]

ترجمه : زهري وائي په رمضان کې يو ځل سبحان الله ونيل په غير رمضان کې دزر ځلې سبحان الله ونيلو نه بهتر دي.

****

٦٣_باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٤٧٣_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ الْخَلِيلِ بْنِ مُرَّةَ، عَنِ الأَزْهَرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "مَنْ قَالَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ إِلَهًا وَاحِدًا أَحَدًا صَمَدًا لَمْ يَتَّخِذْ صَاحِبَةً وَلَا وَلَدًا وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ عَشْرَ مَرَّاتٍ، كَتَبَ اللَّهُ لَهُ أَرْبَعِينَ أَلْفَ أَلْفِ حَسَنَةٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَالْخَلِيلُ بْنُ مُرَّةَ لَيْسَ بِالْقَوِيِّ عِنْدَ أَصْحَابِ الْحَدِيثِ، قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ: هُوَ مُنْكَرُ الْحَدِيثِ.

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٠٥٦)

ترجمه : دتميم الداري رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي لس پيري دا دعا اوواني " «أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له إلها واحدا أحدا صمدا لم يتخذ صاحبة ولا ولدا ولم يكن له كفوا أحد» " يعني زه ګواهي وركوم چي ديو الله نه علاوه بل څوك حقدار دبندګۍ نشته او دالله سره په الوهيت كي هيڅوك شريك نشته هغه يواخي معبود دي او هيڅاته يي حاجت نشته چي نه يي ښځه شته او نه يي څوي او نه ورسره برابر څوك شته، نو الله تعالي به دده دپاره څلور كروړه نيكياني اوليكي

امام ترمذي رحمه الله وايي. داحديث غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو، خليل بن مره دمحدثينو په نزد قوي نه دي او امام بخاري واني دا منكر الحديث دي

د تميم بن اوس داري رضي الله عنه حالات

نوم تميم كنيه ابو رقيه داري نسبت ورته په دي وجه دي چي دشام اوسيدونكي وو او د قبيله بن تميم سره يي تعلق وو چي داسلام نه مخكي يي دعيسيي مذهب سره تعلق وو او دهجرت په نهم كال دخپل ورور نعيم سره مسلمان شو (اصابه)

په عهدي نبوي او صديق اكبر زمانه كي په مدينه كي اوسيدو ليكن كله چي دعثمان رضي الله عنه په زمانه كي فتنه شروع شوه نو بادل ناخواسته خپل وطن شام ته واپس لاړو (طبقات ابن سعد)

دا هغه صحابي دي چي په مسجد نبوي كي يي چراغ بل كړي وو او رسول الله وربانديدخوشحالۍ اظهار كړي وو (اسد الغابه وابن ماجه)

وفات: داخري عمر پوري يي زاهدانه زندګي تيره كړي وه او دهجرت په ۴۰ كال كي وفات شو او په بيت حبرون كي دفن شو (تهذيب التهذيب) دده دمروياتو شمير ۱۸دي چي يو په مسلم كي دي او باقي په سنن كي دي

****

٣٤٧٤ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مَعْبَدٍ الْمِصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو الرَّقِّيُّ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَبِي أُنَيْسَةَ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ غَنْمٍ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ قَالَ فِي دُبُرِ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَهُوَ ثَانٍ رِجْلَيْهِ قَبْلَ أَنْ يَتَكَلَّمَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ عَشْرَ مَرَّاتٍ، كُتِبَ لَهُ عَشْرُ حَسَنَاتٍ، وَمُحِيَتْ عَنْهُ عَشْرُ سَيِّئَاتٍ، وَرُفِعَ لَهُ عَشْرُ دَرَجَاتٍ، وَكَانَ يَوْمَهُ ذَلِكَ كُلَّهُ فِي حِرْزٍ مِنْ كُلِّ مَكْرُوهٍ، وَحُرِسَ مِنَ الشَّيْطَانِ، وَلَمْ يَنْبَغِ لِذَنْبٍ أَنْ يُدْرِكَهُ فِي ذَلِكَ الْيَوْمِ إِلَّا

الشِرْكَ بِاللهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: دابوذر رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي دسحر دمونځ نه پس خپې راتاؤ کړي او په دواړه زنګنانو ناست وي او هيڅ خبري يي نه وي کړي او دا کلمات لس پيري اووائي ": «لا إله إلا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد يحيي ويميت وهو على كل شيء قدير» " نو دده دپاره به لس نيکياني اوليکلي شي او لس ګناهونه به يي اوبخلي شي او لس درجي به يي لوړي کړي شي او په دغه ورځ به دا کس ټوله ورځ دهر قسم ضرر او مصيبت نه محفوظ وي او دشيطان داثر کولو نه به دده نګهباني کولي شي او هيڅ يوه ګناه به ده لره په دغه ورځ علاوه دشرك نه دهلاکت سره مخامخ کولي نشي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب صحيح دي.

****

٦٤_بَاب جَامِعِ الدَّعَوَاتِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه منقول جامع دعاګاني

٣٤٧٥_حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عِمْرَانَ الثَّعْلَبِيُّ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ مِغْوَلٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ الأَسْلَمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يَدْعُو وَهُوَ يَقُولُ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنِّي أَشْهَدُ أَنَّكَ أَنْتَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، الأَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ، قَالَ: فَقَالَ: " وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ سَأَلَ اللَّهَ بِاسْمِهِ الأَعْظَمِ الَّذِي إِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ وَإِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى ". قَالَ زَيْدٌ: فَذَكَرْتُهُ لِزُهَيْرِ بْنِ مُعَاوِيَةَ بَعْدَ ذَلِكَ بِسِنِينَ، فَقَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو إِسْحَاقَ، عَنْ مَالِكِ بْنِ مِغْوَلٍ، قَالَ زَيْدٌ: ثُمَّ ذَكَرْتُهُ لِسُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، فَحَدَّثَنِي عَنْ مَالِكٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَرَوَى شَرِيكٌ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، وَإِنَّمَا أَخَذَهُ أَبُو إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ، عَنْ مَالِكِ بْنِ مِغْوَلٍ. (2)

ترجمه: عبدالله بن بريده دخپل پلار نه روايت کوي فرمائي چي رسول کريم صلي الله عليه وسلم ديوسړي نه واوريدل چي ونيل يي: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنِّي أَشْهَدُ أَنَّكَ أَنْتَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ،

[1] _ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٢٩ (تحفة الأشراف: ١١٩٦٣)

[2] سنن ابي داود/الصلاة ٣٥٨ (١٤٩٣) _ سنن ابن ماجه/الدعاء ٩ (٣٨٥٧) (تحفة الأشراف: ١٩٩٨)

الْأَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ يعني اي الله زه ستانه سوال كوم زه گواهي كوم چي ته الله يې ستانه علاوه بل معبود نشته مگرته يې چي يواځي اوبې حاجته يې اوته هغه ذات يې چي نه درنه څوك پيداشوي اونه دچانه پيدايې اوهيڅ څوك ستاپشان نشته رسول كريم صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل يقينا تادالله تعالي نه دهغه په لوی نوم سره اوغوښتل هغه نوم چي كله تري په هغه سره اوغوښتی شي نوور كول كوي اوكله چي په هغه نوم سره دعاوكړی شي نوقبلوي يې.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دزيد راوي قول دي ماداحديث ډيركلونه پس زهير بن معاويه ته ذكر كړو نو هغه اووئيل ماته دا حديث ابو اسحاق مالك بن مغول په واسطه رارسيدلي دي، زيد وائي ما دا حديث سفيان ثوري ته ذكر كړو.نو هغه راته دا حديث دمالك په واسطه بيان كړو ، امام ترمذي رحمه الله وايي: او دا حديث حسن غريب دي، شريك دا حديث دابواسحاق نه او هغه ابن بريده نه او هغه دخپل پلار بريده نه نقل كړي دي، او حال دادي چي ابواسحاق حمداني داحديث دمالك بن مغول نه نقل كړي دي.

دبريده رضي الله عنه حالات

نوم بريده كنيه ابو عبدالله او دپلار نوم مصيب بن عبدالله.

كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني ته ورسيدو نو بريده يي په خدمت كي حاضر شو نو رسول الله ورته داسلام دعوت وركړو نو دی فورا مسلمان شو او دده سره دبني اسلم اتيا كسان په اسلام كي داخل شول (طبقات ابن سعد).

په صلح حديبيه او بيعة الرضوان كي يي هم شركت كړی دی (اسد الغابه).

او په فتح مكه كي يي هم ملګرتيا كړي وه (مسند احمد).

تقريبا په شپاړسو غزواتو كي شريك پاتي شوی دی (بخاري كتاب المغازي).

كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم داسامه په مشری كي اخر لښكر تيار كړو نو په دي كي هم شريك وو (طبقات ابن سعد).

غرض دا چي ډده په رګ رګ كي دجهاد جذبي ټوپونه وهل او دژوند مزه به يي داسونو په زغلولو كي ليدله (طبقات ابن سعد).

ديزيد په زمانه كي دهجرت په ۶۳ كال وفات شو چي دمروياتو شمير يي ۱۶۴ دی يو متفق عليه دی او دوه په بخاري كي دي يولس په مسلم كي دي (تهذيب الكمال).

****

٦٥_بَابٌ مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٤٧٦ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا رِشْدِينُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ أَبِي هَانِئٍ الْخَوْلَانِيِّ، عَنْ أَبِي عَلِيٍّ الْجَنْبِيِّ، عَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ، قَالَ: بَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدًا إِذْ دَخَلَ رَجُلٌ فَصَلَّى، فَقَالَ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عَجِلْتَ أَيُّهَا الْمُصَلِّي، إِذَا صَلَّيْتَ فَقَعَدْتَ فَاحْمَدِ اللَّهَ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ، وَصَلِّ عَلَيَّ ثُمَّ ادْعُهُ". قَالَ: ثُمَّ صَلَّى رَجُلٌ آخَرُ بَعْدَ ذَلِكَ، فَحَمِدَ اللَّهَ وَصَلَّى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَيُّهَا الْمُصَلِّي ادْعُ تُجَبْ".
قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رَوَاهُ حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، عَنْ أَبِي هَانِئٍ الْخَوْلَانِيِّ، وَأَبُو هَانِئٍ اسْمُهُ حُمَيْدُ بْنُ هَانِئٍ، وَأَبُو عَلِيٍّ الْجَنْبِيُّ اسْمُهُ عَمْرُو بْنُ مَالِكٍ. [1]

ترجمه دفضاله بن عبيد رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زمونږ سره په مسجد کي ناست وو چي په دي دوران کي يو کس مسجد ته راغي او مونځ يي اوکړو او دا دعا يي اوغوښتله "اي الله ماته مغفرت اوکړي او په مارحم اوکړي رسول الله اوفرمائيل اي مونځ کونکيه ډيره جلتي دي اوکړه کله چي ته مونځ اوکړي نو دالله تعالي دشان موافق حمد وايه او بيا په مابأندي درود وايه او بيا ددينه پس دالله تعالي نه دعا غواړه راوي وائي چي ددينه پس يو بل کس راغي او مونځ يي اوکړو او دالله تعالي حمد يي بيان کړو او په رسول الله يي درود اووئيل رسول الله ورته اوفرمائيل اي مونځ کونکيه اوس دعا اوغواړه ستا دعا به ضرور قبليږي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن دي دا حديث حيوه بن شريح دابو هاني خولاني نه نقل کړي دي.

فضاله بن عبيد انصاري رضي الله عنه حالات

نوم فضاله کنيه ابو محمد دپلار نوم عبيد بن نافذ او دمور نوم عقبه بنت محمد بن عقبه وو مديني ته دراتلونکو سره مسلمان شوی وو چي دغزوه بدر نه علاوه په تمامو غزواتو کي شريک شوی دی او په بيعة الرضوان کي هم شامل وو (اصابه).

دوفات نبوي نه پس شام ته لاړو او هلته يي کور جوړ کړو مسند احمد.

ابوالدرداء رضي الله عنه د دمشق قاضي وودوفات کيدو نه مخکي يي اوفرمائيل چي زمانه پس به فضاله بن عبيد قاضي مقرروئ خلق به ورته ددير لري لري نه درسول الله داحاديثو داوريدلو دپاره راتلل يو سری ورته ددي دپاره راغلی وو چي احاديث ورنه واوري هغه چي

[1] ـ سنن ابي داود/ الصلاة ٣٥٨ (١٤٨١). سنن النسائي/ السهو ٤٨ (١٢٨٥) (تحفة الأشراف: ١١٠٣١). و مسند احمد (٦/١٨)

اوکتل چي ويخته يي ګډ وډ او په خپو بربنډ دی نو په تعجب سره يي تپوس اوکړو چي ته ددي ښار قاضـي يـي او حالت دي دادی فضاله رضـي الله عنـه اوفرمائيـل چـي رسول الله صـلي الله عليه وسلم مونږ د خواهشاتو او ډول او سنګار خوښولو نه منع کړي يو او کله کله به يي راته په بربنډو خپو دګرځيدو حکم کولو (مسند احمد)

وفات: دهجرت په ۵۳کال دامير معاويه په دور کي وفات شو او په دمشق ښـار کې يې تراوسه پورې قبر موجود دی چي پنځوس روايات ورنه منقول دي چي دوه ددينه په مسلم کې دي.

****

۳٤۷۷_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ الْمُقْرِئُ، حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو هَانِئٍ الْخَوْلَانِيُّ، أَنَّ عَمْرَو بْنَ مَالِكٍ الْجَنْبِيَّ أَخْبَرَهُ، أَنَّهُ سَمِعَ فَضَالَةَ بْنَ عُبَيْدٍ، يَقُولُ: سَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يَدْعُو فِي صَلَاتِهِ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " عَجِلَ هَذَا "، ثُمَّ دَعَاهُ، فَقَالَ لَهُ أَوْ لِغَيْرِهِ: " إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلْيَبْدَأْ بِتَحْمِيدِ اللَّهِ وَالثَّنَاءِ عَلَيْهِ، ثُمَّ لِيُصَلِّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ لِيَدْعُ بَعْدُ بِمَا شَاءَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دفضاله بن عبيد رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ديو کس نه په مونځ کي دعا غوښتل اوريدل او په رسول الله يي درود اونه وئيل رسول الله ورته اوفرمائيل جلتي دي اوکړه، او بيا يي راوغوښتل او ده ته او دده نه علاوه نورو خلقو ته يي خطاب اوکړو چي کله مونځ اداء کړئ نو پکار ده چي اول دالله حمد او ثناء بيان کړئ او بيا په ماباندي درود اووائي بيا چي ددينه پس کومه دعا غواړئ هغه غوښتلي شي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

۳٤۷۸_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي زِيَادٍ الْقَدَّاحِ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " اسْمُ اللَّهِ الْأَعْظَمُ فِي هَاتَيْنِ الْآيَتَيْنِ: وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ سورة البقرة آية ۱٦۳ وَفَاتِحَةِ آلِ عِمْرَانَ: الم ، اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ (آل عمران آية ۲۱)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا

[1] _ سنن ابي داود/ الصلاة ۳۵۸ (۱۴۸۱) . سنن النسائي/السهو ۴۸ (۱۲۸۵) (تحفة الأشراف : ۱۱۰۳۱) . و مسند احمد (۶/۱۸)

حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : داسما بنت يزيدنه روايت دی چي رسول کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اسم اعظم په دي دوه ايتونوکي دی: (وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ) او (الم اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ).
امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

تخريج : سنن ابي داود/ الصلاة ۳۵۸ (۱۴۹۶) ، سنن ابن ماجه/الدعاء ۹ (۳۸۵۵) (تحفة الأشراف : ۱۵۷٦٤)

اسماء بنت يزيد رضي الله عنها حالات

نوم اسماء کنيه ام سلمه، اسماء بنت يزيد بن السكن بن رافع دهجرت نه پس ديو څو ښځو سره درسول الله په خدمت کې حاضره شوه او اسلام يي قبول کړو دهجرت په اول کال چي دعائشه رضي الله عنها رخصتي کيدله نو کومو ښځو چي دا سنګار کړي وه په هغي کې يوه اسماء رضي الله عنها هم وه، دهجرت په پينځلسم کال په يرموك جنګ کې هغي دخپل خيمي په موګي نهه روميان وژلي وو (اصابه).

علامه ابن حجر وائي کانت ذات العقل والدين يعني هغه په عقل او دين دواړو متصف وه او درسول الله صلي الله عليه وسلم خدمت يي کولو (مسند احمد).

اسماء رضي الله عنها ډيره مهمان نوازه وه يو ځل ورته شهر بن حوشب راغی او خوراك يي ورته پيش کړو شحر دخوړلو نه انکار اوکړو نو اسماء ورته دنبي کريم صلي الله عليه وسلم واقعه بيان کړه په هغي کې ديته اشاره وه چي دخوراك نه انکار کول مناسب نه دي نو په دي وخت کې شهر اوونيل بيابه هيڅ کله زه دا غلطي اونکړم (مسند احمد).

ددي دوفات دتاريخ باره کې اسماء الرجال والاخاموش دي او ۸۱ روايات ورنه منقول دي.

****

٦٦ـ باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٣٤٧٩ـ حَدَّثَنَا وَهُوَ رَجُلٌ صَالِحٌ، عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاوِيَةَ الْجُمَحِيُّ، حَدَّثَنَا صَالِحٌ الْمُرِّيُّ، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ادْعُوا

---

[1] ـ سنن ابي داود/ الصلاة ۳۵۸ (۱۴۸۱) ، سنن النسائي/السهو ۴۸ (۱۲۸۵) (تحفة الأشراف : ۱۱۰۲۱) ، و مسند احمد (٦/١٨)

اللَّهَ وَأَنْتُمْ مُوقِنُونَ بِالْإِجَابَةِ، وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَجِيبُ دُعَاءً مِنْ قَلْبٍ غَافِلٍ لَاهٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، سَمِعْتُ عَبَّاسًا الْعَنْبَرِيَّ، يَقُولُ: اكْتُبُوا عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُعَاوِيَةَ الْجُمَحِيِّ فَإِنَّهُ ثِقَةٌ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دالله تعالي نه چي دعا غوارئ نو دي يقين سره يي اوغوارئ چي ستاسو دعا به ضرور قبليږي او په دې شان سره پوهه شئ چي الله تعالي په بي پرواهئ او بي توجهئ سره غوښتلي شوي دعا او په غفلت او لهوه لعب کي دمبتلا شوي زړه دعا نه قبلوي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو. ما دعباس عنبري نه اوريدلي دي وئيل يي چي دعبدالله بن معاويه جمحي روايتونه ليکئ ځکه چي هغه يو ثقه راوي دي.

****

٦٧_بَاب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٤٨٠_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، عَنْ حَمْزَةَ الزَّيَّاتِ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: " اللَّهُمَّ عَافِنِي فِي جَسَدِي وَعَافِنِي فِي بَصَرِي وَاجْعَلْهُ الْوَارِثَ مِنِّي، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ الْحَلِيمُ الْكَرِيمُ سُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ قَالَ: سَمِعْت مُحَمَّدًا، يَقُولُ: حَبِيبُ بْنُ أَبِي ثَابِتٍ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ شَيْئًا، وَحَبِيبُ بْنُ أَبِي ثَابِتٍ هُوَ حَبِيبُ بْنِ قَيْسِ بْنِ دِينَارٍ وَقَدْ أَدْرَكَ عُمَرَ، وَابْنَ عَبَّاسٍ، وَاللَّهُ أَعْلَمُ. (2)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به فرمائيل ": «اللهم عافني في جسدي وعافني في بصري واجعله الوارث مني لا إله إلا الله الحليم الكريم سبحان الله رب العرش العظيم والحمد لله رب العالمين» " يعني اي الله ته ماته زما په جسم کي عافيت راکړي او زما په سترګو کي ماته عافيت راکړي (نظر مي صحيح

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٣٥٢١)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٦٣٤٣)

او سالم اوساتي، او زما نظر لره اخري وخته پوري قائم اوساتې او زما نظر دګډوډ کيدو او زوال نه بچ اوساتې او دالله تعالي نه علاوه بل هيڅوك حقدار دبندګۍ نشته خکه چي هغه حليم او کريم دي او پاك دي او خاوند دعرش دعظيم دي او تمام تعريفونه دهغه ذات دپاره دي څوك چي دتمام جهان رب دي

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي. ما دامام بخاري نه اوريدلي دي ونيل يي حبيب بن ابي ثابت دعروه بن جبير نه هيڅ نه دي اوريدلي او الله تعالي بهتر پوهيږي.

****

٦٨_باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٤٨١_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: جَاءَتْ فَاطِمَةُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْأَلُهُ خَادِمًا، فَقَالَ لَهَا: " قُولِي: اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَوَاتِ السَّبْعِ وَرَبَّ العَرْشِ العَظِيمِ، رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ، مُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ وَالقُرْآنِ، فَالِقَ الحَبِّ وَالنَّوَى، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَيْءٍ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ، أَنْتَ الأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ البَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ، اقْضِ عَنِّي الدَّيْنَ وَأَغْنِنِي مِنَ الفَقْرِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَهَكَذَا رَوَى بَعْضُ أَصْحَابِ الأَعْمَشِ، عَنِ الأَعْمَشِ، نَحْوَ هَذَا، وَرَوَاهُ بَعْضُهُمْ عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ مُرْسَلًا، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. [1]

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي فاطمه رضي الله عنها نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته راغله چي د خادم مطالبه يي ورنه کوله ورته يي اوفرمائيل دا کلمات وايه " قُولِي: اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَوَاتِ السَّبْعِ وَرَبَّ العَرْشِ العَظِيمِ، رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ، مُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ وَالقُرْآنِ، فَالِقَ الحَبِّ وَالنَّوَى، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَيْءٍ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ، أَنْتَ الأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ البَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ، اقْضِ عَنِّي الدَّيْنَ وَأَغْنِنِي مِنَ الفَقْرِ ". يعني اي زما پروردګاره خاص ته پروردګار داوه اسمانونو او او رب د عرش عظيم يي، رب زمونږ او رب د هر يو شي يي،

[1] صحيح مسلم/الذكر والدعاء ١٧(٦٢/٢٧١٣) (تحفة الأشراف: ١٢٤٨٥)

نازلونکي دتورات او انجيل او قران يي. او شلونکي د داني اود زړي يي . پناهي غواړم په تا باندي د شر د هر شر والا نه چي ته يي نيونکي د تندي يي پس ته اول يي او نشته هيڅ شي مخکي ستا نه او ته د هر شي نه اخير يي پس نشته ستا نه وروسته هيڅ يو شي او ته ظاهر يي نشته دپاسه ستا هيڅ يو شي او ته باطن يي نشته اخوا ستا نه هيڅ يو شي پس زما قرض ادا کړي او د فقر نه مي خلاص کړي

امام ترمذي رحمه الله وايي. دا حديث حسن غريب دي او داعمش بعضي شاګردانو هم ددي پشان روايت نقل کړي دي او ددي پشان روايت بعضي راويانو داعمش نه او هغه د ابي صالح نه مرسل نقل کړي دي او هغوی پخپل سند کي دابوهريره واسطه نه ده ذکر کړي.

****

٦٩_ باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٤٨٢_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَيَّاشٍ، عَنْ الْأَعْمَشِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ زُهَيْرِ بْنِ الْأَقْمَرِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ وَمِنْ دُعَاءٍ لَا يُسْمَعُ وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ وَمِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَؤُلَاءِ الْأَرْبَعِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ جَابِرٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ مَسْعُودٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به ‹اکثر› دا دعائيه کلمات ويل :

«اللهم إني أعوذ بك من قلب لا يخشع ومن دعا لا يسمع ومن نفس لا تشبع ومن علم لا ينفع أعوذ بك من هؤلاء الأربع»

يعني اي الله زه په تا پناه غواړم ددا سي زړه نه چي ويريږي نه او زه په تا پناه غواړم ددا سي دعا نه چي اوريدلي کيږي نه او زه په تا پناه غواړم ددا سي نفس نه چي مړيږي نه او زه په تا پناه غواړم ددا سي علم نه چي فائده نه لري، اي الله زه ددي څلورو څيزونو نه په تا باندي پناه غواړم.

---

[1] _ سنن النسائي/الاستعاذة ٢ (٥٤٤٢) (تحفة الأشراف : ٨٦٢٩) . و مسند احمد (١٦٧/٢، ١٩٨)

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند عبدالله بن عمرو په روايت حسن صحيح غريب دي، او په دي باب كي دجابر، ابوهريره او ابن مسعود رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

۷۰_باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يوبل باب

۳٤۸۳_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ شَبِيبِ بْنِ شَيْبَةَ، عَنِ الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَبِي: "يَا حُصَيْنُ، كَمْ تَعْبُدُ الْيَوْمَ إِلَهًا؟" قَالَ أَبِي: سَبْعَةً سِتَّةً فِي الأَرْضِ وَوَاحِدًا فِي السَّمَاءِ، قَالَ: "فَأَيُّهُمْ تَعُدُّ لِرَغْبَتِكَ وَرَهْبَتِكَ؟" قَالَ: الَّذِي فِي السَّمَاءِ، قَالَ: "يَا حُصَيْنُ، أَمَا إِنَّكَ لَوْ أَسْلَمْتَ عَلَّمْتُكَ كَلِمَتَيْنِ تَنْفَعَانِكَ". قَالَ: فَلَمَّا أَسْلَمَ حُصَيْنٌ، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، عَلِّمْنِيَ الْكَلِمَتَيْنِ اللَّتَيْنِ وَعَدْتَنِي، فَقَالَ: "قُلِ اللَّهُمَّ أَلْهِمْنِي رُشْدِي وَأَعِذْنِي مِنْ شَرِّ نَفْسِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه: دعمران بن حصين رضي الله عنه بيان دي فرماني چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم زما دپلار نه تپوس اوكړو اي حصين نن سبا دخومره معبودانو عبادت كوي؟ زما پلار په جواب كي اووئيل د اوه معبودانو عبادت كوم. شپږ په زمكه كي دي او يو په اسمان كي دي رسول الله ورنه تپوس اوكړو په دوي تولو كي دي دكوم يو سره مينه زياته ده او په اوميد او خوف سره يي عبادت كوي؟ هغه اووئيل دهغه ذات كوم چي په اسمان كي دي رسول الله ورته اوفرمائيل اي حصين واوره؛ كه تا اسلام راوړي وي نو ما به درته دوه كلمات خودلي وو او هغوئ به تاته مسلسل فائده رسوله بيا چي كله حصين اسلام راوړو عرض يي اوكړو اي دالله رسوله هغه دوه كلمات ماته اوښايه دكومو دخودلو چي تا ماسره وعده كړي وه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل وايه

"اللَّهُمَّ أَلْهِمْنِي رُشْدِي وَأَعِذْنِي مِنْ شَرِّ نَفْسِي"

يعني اي الله ماته زما په زړه كي رهنماني واچوي او بچ كړي مالره زما دنفس دشر نه.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي، داحديث دعمران بن حصين نه ددي

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۰۸۹۴)

سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي

****

۷۱_بَابٌ

د سابقه باب متعلق يوبل باب

۳٤٨٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ العَقَدِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو مُصْعَبٍ المَدَنِيُّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو مَوْلَى الْمُطَّلِبِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: كَثِيرًا مَا كُنْتُ أَسْمَعُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو بِهَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ، وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ، وَالْبُخْلِ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو. [1]

ترجمه : انس رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه به مي ډيري خبري اوريدلي يوځل بى دا دعاوئيله:

«اللهم إني أعوذ بك من الهم والحزن والعجز والكسل والبخل وضلع الدين وغلبة الرجال»
يعني اي الله زه پناهي غوارم په تاسره دوسوسو نه اودغم نه او عجز نه او د سستۍ نه اود بخل نه اودقرض دبوج نه اودخلکو دبلوي کيدونه.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن غريب دي.

لغات : العجز: لاچار او عاجز عجز يعجز عجزا معني عاجز كيدل. الكسل معني سستي .

تشريح : العجز: علامه نووي وائي عجز ديته وئيلى شي چي په انسان كي دخير دكارونو كولو قدرت نه وي.

الكسل: ددي مطلب دادى دهر كار كولو په وجه په چا كي سستي راشي او طبيعت يي اماده وي او بيايي دسستۍ په وجه نشي كولى.

البخل: دا دسخاوت زد دى او بخل وئيلى شي منع كول دهر هغه څيز كوم چي په ده باندي واجب وي باوجود ددي چي هغه څيز دده دضرورت نه فارغ وي.

امام نووي وائي نبي كريم صلي الله عليه وسلم پناه غوښتلي وه دبخل او بزدلۍ نه ځكه چي

---

[1] - اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجهاد ٢٥ (٢٨٦٢) . وتفسير سورة النحل ١ (٤٧٠٧) . والدعوات ٣٨ (٦٣٧٠) . و ٤٣ (٦٣٦٣) . صحيح مسلم /الذكر والدعاء ١٥ (٢٧٠٦) . سنن ابي داود/ الصلاة ٣٦٧ (١٥٤٠) . سنن النسائي/الاستعاذة ٦ (٥٤٥٠) (تحفة الأشراف : ١١١٥) . و مسند احمد (٣/١١٣، ١١٧، ٢٠٨، ٢١٤، ٢٣١)

ددي په سبب انسان دډېرو داسي ځيزونو نه منع کيږي کوم چي په ده باندي واجب وي ځکه چي په شجاعت سره هغه دمظلوم مدد او جهاد کولی شي کوم چي دبزدلۍ په حالت کې نشي کيدی او دبخل نه يې ځکه پناه غوښتلي ده چي ددي په سبب انسان دسخاوت نه منع کيږي او دمال په محبت کې ګرفتار کيږي او بيا دزکواة او صدقاتو ادا کولو نه محروم شي.

بعضي علماء واني ددينه مراد دقرض فکر دی دکوم په وجه چي دانسان عقل خي "غلبة الرجال" يعني چي خلق راباندي غالب شي او زما څه حيثيت پاتي نشي علامه کرماني واني دا دعا هم د جوامع الکلم دجملي نه ده.

****

٣٤٨٥_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ. حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ. عَنْ حُمَيْدٍ. عَنْ أَنَسٍ. أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَدْعُو يَقُولُ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَالْهَرَمِ، وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ، وَفِتْنَةِ الْمَسِيحِ، وَعَذَابِ الْقَبْرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي کله به نبي کريم صلي الله عليه وسلم دعا غوښتله نو دا کلمات به يي ونيل ": «اللهم إني أعوذ بك من الكسل والهرم والجبن والبخل وفتنة المسيح وعذاب القبر " يعني اي الله پناهي غواړم په تاباندي دسستۍ او کاهلۍ نه او دبوډاوالي نه او دبزدلۍ نه او دبخل نه او ددجال په فتنه کي دواقع کيدو نه او دقبر دعذاب نه.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح : عذاب القبر: اهل سنت والجماعت دقبر عذاب تسليموي ليکن معتزله ددينه انکار کوي ليکن په قراني اشاري او احاديثو دقبر عذاب په تواتر سره ثابت دی او ددينه انکار کونکی داسلام ددائري نه خارجيږي.

من فتنة المسيح: مسيح لفظ عيسي عليه السلام دپاره هم استعمال شوی دی او د دجال دپاره هم استعمال شوی دی ليکن چرته چي شر وغيره قيد وي نو هلته ورنه دجال مراد وي لکه په پورتني حديث کي ، ددي يوه وجه داده چي دده يوه سترګه به کانړۍ وي دويمه وجه داده چي مسيح دسفر نه دی او هغه به هم په تمامه دنيا کي سفر کوي.

****

٧٢_بَاب مَا جَاءَ فِي عَقْدِ التَّسْبِيحِ بِالْيَدِ

---

[1] _ انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ٥٨٦)

په ګوتو د تسبیحاتو شمیرلو بیان

۳٤٨٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى بَصْرِيٌّ، حَدَّثَنَا عَثَّامُ بْنُ عَلِيٍّ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَعْقِدُ التَّسْبِيحَ بِيَدِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ الأَعْمَشِ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، وَرَوَى شُعْبَةُ، وَالثَّوْرِيُّ هَذَا الحَدِيثَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ بِطُولِهِ. وَفِي البَابِ، عَنْ يُسَيْرَةَ بِنْتِ يَاسِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ، اعْقِدْنَ بِالأَنَامِلِ فَإِنَّهُنَّ مَسْئُولَاتٌ مُسْتَنْطَقَاتٌ". ([1])

ترجمه : د عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما نه مروي دي چي رسول الله به تسبیحات په د لاس په ګوتو شمیرل.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث په دي سند حسن غريب دی د اعمش په روايت د عطاء بن السائب نه، دارنګي شعبه او ثوري هم دا حديث د عطاء بن السائب نه مفصل نقل کړی دی، او په دي باب کي د يسيره بنت ياسر په واسطه هم د رسول الله نه روايت مروي دی، چي فرمائيلي يي وو: اي د ښځو جماعته شميرل کوي د اذکارو د ګوتو په بندونو باندي ځکه چي د ګوتو نه به د قيامت په ورځ تپوس کيږي او دوي به خبري کوي.

****

۳٤٨٧ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ يُوسُفَ، حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ، عَنْ ثَابِتٍ البُنَانِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، ح وَحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الحَارِثِ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَادَ رَجُلًا قَدْ جُهِدَ حَتَّى صَارَ مِثْلَ الفَرْخِ، فَقَالَ لَهُ: "أَمَا كُنْتَ تَدْعُو؟ أَمَا كُنْتَ تَسْأَلُ رَبَّكَ العَافِيَةَ؟" قَالَ: كُنْتُ أَقُولُ: اللَّهُمَّ مَا كُنْتَ مُعَاقِبِي بِهِ فِي الآخِرَةِ فَعَجِّلْهُ لِي فِي الدُّنْيَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سُبْحَانَ اللَّهِ إِنَّكَ لَا تُطِيقُهُ أَوْ لَا تَسْتَطِيعُهُ، أَفَلَا كُنْتَ تَقُولُ: اللَّهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ([2])

---

[1] ـ انظر حديث رقم ٣٤١٢

[2] ـ صحيح مسلم/الذكر والدعاء ٧ (٢٦٨٨) (تحفة الأشراف : ٦٩٢)

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ديو داسي صحابي بيمارپرسي اوکړه کوم چي دبيمارئ په وجه داسي اوچ او خوارشوي وو لکه دمرغئ دبچي پشان او ورته يي اوفرمائيل ايا ته دخپل رب نه دخپل صحت او عافيت دپاره دعا نه غواړې؟ هغه اووئيل زه دا دعا غواړم اي الله دکومي سزا چي ته ماته په اخرت کي راکونکي يي هغه راته مخکي په دنيا کي راکړه رسول الله اوفرمائيل سبحان الله پاکي ده هغه ذات لره چي لوي شان والا دي ته خو ددي سزا دبرداشت کولو طاقت نه لري او ددغي دعا په بدل کي دا دعا ولي نه وائي اللَّهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ "يا الله جلاجلاله مونږ ته په دنيا کي هم بهتري راکړې او په اخرت کي بهتري راکړې، اود اور دعذاب نه مو اوساتې.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي، دا حديث دانس بن مالك په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ددي سند نه علاوه په يو څو نورو سندونو هم مروي دي.

****

٣٤٨٨ـ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللهِ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، عَنِ الْحَسَنِ فِي قَوْلِهِ: رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً سورة البقرة آية ٢٠١، قَالَ: فِي الدُّنْيَا الْعِلْمُ وَالعِبَادَةُ، وَفِي الآخِرَةِ الجَنَّةُ.

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الحَارِثِ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ نَحْوَهُ.[1]

ترجمه : دارشاد الهي " رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً " په تفسير کي دحسن بصري نه مروي دي په دنيا کي دحسنة نه مراد علم اوعبادت دي او په اخرت کي دحسنة نه مراد جنت دي.

****

٧٣ـ باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٤٨٩ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا الأَحْوَصِ يُحَدِّثُ، عَنْ عَبْدِ اللهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَدْعُو: اللَّهُمَّ إِنِّي

[1] ـ تفرد به المؤلف

أَسْأَلُكَ الْهُدَى وَالتُّقَى وَالْعَفَافَ وَالْغِنَى ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : دابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دا دعا غوښتله.

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدَى وَالتُّقَى وَالْعَفَافَ وَالْغِنَى "

يعني يا الله ! زه ستانه هدايت تقوي پاكي او قناعت غواړم.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دى.

تشريح : په دي حديث كې په دعا كې دځلورو څيزونو دغوښتلو بيان راغلي دي چي وضاحت يې دادي

(١) الهدي: يعني دهدايت دپاره سوال كول، او دا هر انسان په اهدنا الصراط المستقيم كې په مونځ كې غواړي اود هدايت درخواست كوي.

(٢) التقي: تقوي يعني پرهيزګاري، داده تمامو نيكو جرړه اوبنياد دي دا يو جامع لفظ دي په دي كې تمام اسلامي تعليمات شامل دي، خلاصه يې داده چي انسان دمنهياتو نه خان وساتي او د اوامرو تعميل وكړي.

(٣) العفاف: پاكدامني مطلب دادى چي انسان لره دتمامو ممنوعاتو اوګنده اخلاقو او اعمالو نه خان ساتل پكار دي خصوصا دچا نه سوال كول او دچا په وړاندي دلاس غوړولو نه دي خان وساتي.

(٤) الغني: دمخلوق نه بي نيازي يعني په قدر دضرورت رزق دموجود كيدو په صورت كې دالله تعالي نه علاوه دچا په وړاندي دخپل ضرورت اظهار نه كول پكار دي او څه چي ورته دالله تعالي دطرف نه نصيب شوي وي په هغي قناعت كول پكار دي . په يو بل روايت كې داسي وارد دي چي بهترين دولت د زړه غني ده او په همدي وجه مونږ په دعا كې وايو : اللهم اغنني بفضلك عمن سواك".

****

٣٤٩٠_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سَعْدٍ الأَنْصَارِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَبِيعَةَ الدِّمَشْقِيِّ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَائِذُ اللَّهِ أَبُو إِدْرِيسَ الخَوْلَانِيُّ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " كَانَ مِنْ دُعَاءِ دَاوُدَ يَقُولُ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ يُحِبُّكَ وَالعَمَلَ الَّذِي يُبَلِّغُنِي حُبَّكَ، اللَّهُمَّ اجْعَلْ حُبَّكَ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ نَفْسِي وَأَهْلِي وَمِنَ المَاءِ البَارِدِ ". قَالَ:

[1] _ صحيح مسلم/الذكر والدعاء ١٨ (٢٧٢١). سنن ابن ماجه/الدعاء ٢ (٣٨٣٢) (تحفة الأشراف: ٩٥٠٤)

وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ذَكَرَ دَاوُدَ يُحَدِّثُ عَنْهُ، قَالَ: "كَانَ أَعْبَدَ الْبَشَرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه ابوالدرداء رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي، د دواد عليه السلام په دعاګانو كې يو دعا دا هم وه:

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ يُحِبُّكَ وَالْعَمَلَ الَّذِي يُبَلِّغُنِي حُبَّكَ. اللَّهُمَّ اجْعَلْ حُبَّكَ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ نَفْسِي وَأَهْلِي وَمِنَ الْمَاءِ الْبَارِدِ".

يعني يا الله زه تانه ستا مينه غواړم اودهغه چامينه چي تاسره مينه لري اودداسى عمل توفيق غواړم چي ستامينى ته مى اورسوي يا الله ستا مينه ماته خپل ځان نه اوخپل بال بچ نه اويخو اوبونه زياته خوږه ده، راوي وايي كله چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم تذكره كوله نو فرمائيل به يي چي داود عليه السلام په مخلوقاتو كي د هر شي نه زيات عبادت كونكي وو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن غريب دى.

لغات حب: دكرم او سمع نه معني محبوب كيدل ، يبلغني: بليغ رسيدونكي ، البارد : يخ.

تشريح : شارح حديث نبوي و محقق بي مثال مولانا محمد حسين صديقي ددي حديث په تشريح كي ليكلي دي: اللهم اني اسئلك حبك: ددي دوه ترجمي شوي اول، ستا هغه محبت كوم چي زما سره دى ، دويم زما هغه محبت كوم چي ستا سره دى (مرقات).

وحب من يحبك، دهغه چا دمحبت سوال كول څوك چي ستا سره محبت لري ددينه مراد علماء او صالحين دي په پورتني حديث كې "اجعل حبك احب الي من نفسي واهلي " الفاظ دي ليكن په بل روايت كې داسي دي اجعل حبك احب الي من نفسي واهلي ومالي، يعني په دي روايت كي دمال لفظ اضافي دى.

احب الي من نفسي: شيخ عبدالحق محدث دهلوي ددي جملي دا مطلب بيان كړى دى چي اى الله زه ستا نه دا سوال كوم چي ستا ذات ماته زما دذات نه زيات محبوب شي.

ومن الماء البارد، او دا چي ستا ذات ماته ديخو اوبو نه هم ډير محبوب شي شيخ عبدالحق واني لكه څرنګه چي دانسان طبيعت په يخو اوبو خوشحاليږي خصوصا دګرمۍ په موسم كي نو اى الله ستا محبت هم زما دپاره داسي وګرځوي او بيايي فرمائيلي دي ذاك اكمل مراتب المحبة يعني دا د ټولو نه زيات اعلي محبت درجات دي.

****

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٩٢٢)

٧٤_باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يوبل باب

٣٤٩١_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ الْخَطْمِيِّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ الْقُرَظِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ الْخَطْمِيِّ الأَنْصَارِيِّ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ فِي دُعَائِهِ: " اللَّهُمَّ ارْزُقْنِي حُبَّكَ، وَحُبَّ مَنْ يَنْفَعُنِي حُبُّهُ عِنْدَكَ، اللَّهُمَّ مَا رَزَقْتَنِي مِمَّا أُحِبُّ فَاجْعَلْهُ قُوَّةً لِي فِيمَا تُحِبُّ، اللَّهُمَّ وَمَا زَوَيْتَ عَنِّي مِمَّا أُحِبُّ فَاجْعَلْهُ لِي فَرَاغًا فِيمَا تُحِبُّ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَأَبُو جَعْفَرٍ الْخَطْمِيُّ اسْمُهُ عُمَيْرُ بْنُ يَزِيدَ بْنِ خُمَاشَةَ.[1]

ترجمه : دعبدالله بن يزيد خطمي انصاري نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه پخپله دعا كي دا كلمات وئيل :

«اللهم ارزقني حبك وحب من ينفعني حبه عندك اللهم ما رزقتني مما أحب فأجعله قوة لي فيما تحب اللهم وما زويت عني مما أحب فأجعله فراغا لي فيما تحب»

يعني اي الله ته ماته خپل محبت راكړي او ماته دهغه چا محبت هم راكړي دچا سره محبت كول چي ماته ستا په دربار كي فائده راكړي، او اي الله كوم پاك او بهترين رزق چي ته ماته راكوي دغه رزق لره ستا دخوښي په ځيزونو كي داستعمالولو دپاره زما دپاره دقوت او طاقت ذريعه اوګرځوي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي.

عبدالله بن يزيد خطمي رضي الله عنه مختصر حالات

نوم عبدالله كنيه ابو موسي قبيله اوس او دپلار نوم يې يزيد دی.

دخپل پلار سره يوځاي مسلمان شوی دی او په بيعت الرضوان كې يې شركت كړی دی او پدغه وخت كې دده عمر اولس كاله وو عبدالله بن زبير دخلافت په زمانه كې ديو څو ورځو دپاره دمكي امير پاتي شوی دی دده په باره كې حافظ ابن حجر ليكلي دي كان اكثر الناس صلاة وكان لايصوم الا يوم عاشورا. يعني دخپلو ملګرو نه دمونځ په كثرت كې ممتاز وو البته روژه به يې دعاشوري ضرور نيوله په كوفه كې وفات شوی دی او دمروياتو شمير يې ١٢٧ دی چي

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٦٤٦)

بعضي په دي کې بلا واسطه د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي او بعضي يې د ابو ايوب انصاري او ابن مسعود او حذيفه بن يمان او عمر رضي الله عنهم نه نقل کړي دي.

****

٧٥_بَاب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٤٩٢_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنِي سَعْدُ بْنُ أَوْسٍ، عَنْ بِلَالِ بْنِ يَحْيَى الْعَبْسِيِّ، عَنْ شُتَيْرِ بْنِ شَكَلٍ، عَنْ أَبِيهِ شَكَلِ بْنِ حُمَيْدٍ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، عَلِّمْنِي تَعَوُّذًا أَتَعَوَّذُ بِهِ، قَالَ: فَأَخَذَ بِكَتِفِي، فَقَالَ: "قُلِ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ سَمْعِي، وَمِنْ شَرِّ بَصَرِي، وَمِنْ شَرِّ لِسَانِي، وَمِنْ شَرِّ قَلْبِي، وَمِنْ شَرِّ مَنِيِّي يَعْنِي فَرْجَهُ".
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ سَعْدِ بْنِ أَوْسٍ، عَنْ بِلَالِ بْنِ يَحْيَى. [1]

ترجمه: د شکل بن حميد رضي الله عنه نه روايت دی چې ما عرض اوکړو يا رسول الله څه دعا راته اوښايه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل داسې وايه: «**اللهم إني أعوذ بك من شر سمعي ومن شر بصري ومن شر لساني ومن شر قلبي ومن شر مني يعني فرجه**» يعني يا الله جل جلاله زه ستا پناه غواړم دخپلو غوږونو دبدئ نه اودخپلو سترګو دبدئ نهاودخپلې مني دبدئ نه.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي او مونږ يې صرف په همدي سند يعني سعد بن اوس عن بلال بن يحي سره پيژنو

لغات: سمعي دسمع نه مراد غوږونه دي.

تشريح: په مشکواة کې دا روايت مفصل بيان شوی دی دشکل بن حميد رضي الله عنه بيان دی چې ما عرض اوکړو اې دالله رسوله يو داسې کلام راته اوښايه چې زه ورباندې خپل حفاظت اوکړی شم نو رسول الله ورته په دې باره کې اوفرمائيل "من شر سمعي" مطلب دادی چې دغوږونو دشر نه پناه اوغواړم يعني چې سری دحق او نصيحت خبري نه اوري او ناجائزي او دغيبت خبري په غوږونو اوري او همدا رنګې د من شر بصري مطلب هم دی او دمن شر

[1] ــ سنن ابي داود/ الصلاة ٣٦٧ (١٥٥١) . سنن النسائي/ الاستعاذة ٢ (٥٤٤٦) . ١٠ (٥٤٥٧) . و١١ (٥٤٥٨) . و٢٨ (٥٤٨٦) (تحفة الأشراف: ٤٨٤٧) . ومسند احمد (٣/٤٢٩)

لساني مطلب هم ددي پښان دی او دمن شر قلبي مطلب دادی چي دهغه گنده خيالاتو نه پناه اوغواړه کوم چي په زړه کښ تيريږي.
من شر منيي: دمني دشر نه. مني لره په جائز محل کښ داچولو په ځاي په غلط محل کښ واچوي ، په دي کښ زنا هم داخل ده او بد نظري کول هم. اود کوم نا محرم نه لاس لګول وغيره هم ټول په دي کښ داخل دي

دشکل بن حميد رضي الله عنه حالات

نوم شکل دپلار نوم حميد دکوفي اوسيدونکی وو ددي روايت نه علاوه بل کوم روايت ورنه منقول نه دی او دا روايت ورنه دده ځوي شکير نقل کړی دی علامه ابن جوزي هم داسي وئيلي دي او ابن حجر هم او ابن صلاح هم داسي ليکلي دي.

****

٧٦_باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٤٩٣_حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، أَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ: كُنْتُ نَائِمَةً إِلَى جَنْبِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفَقَدْتُهُ مِنَ اللَّيْلِ فَلَمَسْتُهُ، فَوَقَعَتْ يَدِي عَلَى قَدَمَيْهِ وَهُوَ سَاجِدٌ وَهُوَ يَقُولُ: " أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، لاَ أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ عَائِشَةَ.
حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ، نَحْوَهُ، وَزَادَ فِيهِ: " وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لاَ أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ ".(١)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم ارخ ته اوده وم دشپي يو وخت وو چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مي پخپل ځاي کي اونه موندلو اخوا ديخوا مي تلاش اوکړو نو زما لاس درسول الله په خپه باندي اولګيدو او هغه وخت رسول الله صلي الله عليه وسلم په سجده کي وو او دا دعا يي وئيله " : «أعوذ برضاك من سخطك وبمعافاتك من عقوبتك لا أحصي ثناء عليك أنت كما أثنيت على نفسك» " يعني اي الله

---

[1] _ صحيح مسلم/الصلاة ٤٢ (٤٨٦) . سنن ابي داود/ الصلاة ٥٢ (٨٧٩) . سنن النسائي/ الطهارة ١٢٠ (١٦٩) . والتطبيق ٧١ (١١٣١) . سنن ابن ماجه/الدعاء ٣ (٣٨٥) . (تحفة الأشراف : ١٧٥٨٥) . وط/القرآن ٨ (٣١) . و مسند احمد (٥٨/٦، ٢٠١)

زه ستا درضا په ذريعه ستا دناراضتيا نه پناه غواړم او ستا دعفوي په برکت ستاد عذاب نه پناه غواړم او زه ستا دثناء او ستا دتعريف په شمير کي احاطه نشم کولي او ستا داسي ثناء وايم څنګه چي تا پخپله دخپل خان تعريف کړي دي

امام ترمذي رحمه الله وايي. داحديث حسن صحيح دي او دا حديث په يو څو سندونو دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي، يحي بن سعيد هم په مذکوره سند دماقبل هم معني روايت نقل کړي دي مګر ددومره اضافي سره "وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ"

****

٧٧_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٣٤٩٤_حَدَّثَنَا الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ الْمَكِّيِّ، عَنْ طَاوُسٍ الْيَمَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يُعَلِّمُهُمْ هَذَا الدُّعَاءَ كَمَا يُعَلِّمُهُمُ السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (١)

ترجمه دابن عباس ﷺ نه روايت دی فرماني چي رسول کريم صلي الله عليه وسلم به مونږ ته دا دعا ښودله لکه څنګه چي به يي مونږ ته دقران يوسورت ښودلو فرمائيل به يي

"اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ"

يعني اي الله پناهي غواړم په تاسره دعذاب دجهنم نه اوپناهي غواړم په تاسره دعذاب دقبرنه اوپناهي غواړم په تاسره ددجال دفتنى نه اوپناهي غواړم په تا په ژوند اوپه مرګ کي په فتنه کي دواقع کيدونه

امام ترمذي رحمه الله وايي. داحديث حسن صحيح غريب دي.

تشريح: عذاب القبر اهل سنت والجماعت دقبر عذاب تسليموي ليکن معتزله ددينه انکار کوي ليکن په قراني اشاري او احاديثو سره دقبر عذاب متواتر ثابت دی او ددينه انکار

[1] _ صحيح مسلم/المساجد ٢٥ (٥٩٠) . سنن ابي داود/ الصلاة ٢٦٤ (١٥٤٢) . سنن النسائي/الجنائز ١١٥ (٢٠٦٥) . سنن ابن ماجه/الدعاء ٣ (٣٨٤٠) (تحفة الأشراف : ٥٧٥٢) . وما/القرآن ٨ (٣٣)

کونکی داسلام ددائري نه خارجيږي .
من فتنة المحيا والممات: دلته تعميم بعدالتخصيص دی ځکه چي دمرګ په فتنه کې عذاب قبر هم داخل دی او په فتنة المحيا کې د دجال فتنه داخله ده، خلاصه داده چي عذاب قبر او د دجال فتنه ددي داهميت او سخت کيدوپه وجه دوباره بيان شو.
من فتنة المسيح الدجال: مسيح لفظ عيسي عليه السلام دپاره هم استعمال شوی دی او د دجال دپاره هم استعمال شوی دی ليکن چرته چي شر وغيره قيد وي نو هلته ورنه دجال مراد وي لکه په پورتني حديث کې ، ددي يوه وجه داده چي دده يوه سترګه به کانړې وي دويمه وجه داده چي مسيح دسفر نه دی او هغه به هم په تمامه دنيا کې سفر کوي.

****

٣٤٩٥_حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " يَدْعُو بِهَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ النَّارِ وَعَذَابِ النَّارِ، وَفِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْغِنَى، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْفَقْرِ، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْ خَطَايَايَ بِمَاءِ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ، وَأَنْقِ قَلْبِي مِنَ الْخَطَايَا كَمَا أَنْقَيْتَ الثَّوْبَ الْأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ، وَبَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَالْهَرَمِ وَالْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: عائشه رضي الله عنها نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به په دی الفاظو دعا غوښتله:

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ النَّارِ وَعَذَابِ النَّارِ، وَفِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْغِنَى، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْفَقْرِ، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْ خَطَايَايَ بِمَاءِ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ، وَأَنْقِ قَلْبِي مِنَ الْخَطَايَا كَمَا أَنْقَيْتَ الثَّوْبَ الْأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ، وَبَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَالْهَرَمِ وَالْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ ".

يعني يا الله جلاجلاله زه داور دفتنی نه او د قبر د فتني نه اود اور دعذاب نه اودمالدارئ

---

[1] ــ اورده البخاري في الصحيح /الدعوات ٣٩ (٦٣٦٨) ، و٤٤ (٦٣٧٥) ، و٤٥ (٦٣٧٦) ، و٤٦ (٦٣٧٧) . صحيح مسلم /الذكر والدعاء ١٤ (٥٨٩/٤٩) . سنن النسائي/الاستعاذة ١٤ (٥٤٦٨) ، و٣٦ (٥٤٧٩) . سنن ابن ماجه/الدعاء ٣ (٣٨٣٨) (تحفة الأشراف : ١٧٠٦٣) . و مسند احمد (٦/٥٧ ، ٢٠٧) .

اودفقيرئ دبديو نه او ددجال د فتني نه په تاباندي پناه غوارم. او اي الله زما گناهونه اووينځى او صفا كړى په اوبو د واوري او په ګلئ او زما دګناهونو داغونه داسى صفا كړى څنګه چي سپينه كپړه وينځلو سره دښيري نه صفا كولى شي، زما او زما د ګناهونو مينځ كي دومره لري والى راولي څومره چي د مشرق او مغرب په مينځ كي دى، اي الله زه په تا پناه غوارم د سستئ نه او د بوډا والي نه اود ګناهونو د ارتكاب نه. او د قرضداري كيدو نه.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.
لغات : فتنة : ازمائش جمع يي فتن راځي ، الغني معني مالدار كيدل، اود باب استفعال نه معني بي بيازه كيدل.

****

٣٤٩٦_حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ عِنْدَ وَفَاتِهِ: " اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَأَلْحِقْنِي بِالرَّفِيقِ الأَعْلَى ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]
ترجمه : عائشه رضي الله عنها نه روايت دى چي ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا الفاظ د وفات كيدو وخت كي اوريدلي دي ويى فرمائيل : «اللهم اغفر لي وارحمني وألحقني بالرفيق الأعلى» يا الله جل جلاله ما معاف كړى ، او په ما رحم اوكړى او درفيق اعلي سره مى يو ځايى كړى .
امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دى.
لغات : الحقني : الحاق يوځاي كول لحق لحقا ولحاقا معني موندل.
تشريح: درفيق اعلي نه مراد دجمهورو علماؤ په نزد دالله تعالي په نومونو كي يونوم رفيق هم دى، بعضي محدثين وائي درفيع اعلي نه مراد فرشتي او انبياء او صالحين دي او داسي دعا يوسف عليه السلام هم غوښتلي ده معلومه شوه چي دمرګ په وخت كي خپل تعلق ددنيا نه كټ كول او اخرت سره جوړول پكار دي.
په دي روايت كي دامت دپاره ددعا غوښتلو تعليم دى.

****

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المغازي ٨٣ (٤٤٤٠) . والمرضى ١٩ (٥٦٧٤) . صحيح مسلم/فضائل الصحابة ١٣ (٢٤٤٤) (تحفة الأشراف: ١٦١٧٧)

۷۸_باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق یو بل باب

۲٤۹۷_حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " لَا يَقُولُ أَحَدُكُمْ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي إِنْ شِئْتَ، اللَّهُمَّ ارْحَمْنِي إِنْ شِئْتَ، لِيَعْزِمِ الْمَسْأَلَةَ فَإِنَّهُ لَا مُكْرِهَ لَهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هيڅوك دي داسي نه وائي يا الله که ستا رضا وي ما اوبخښې په ما رحم اوکړی بلکه په يقين سره سوال پکار دی ځکه چي په الله جل جلاله دچا زور نشته هغه څه به کوي چي ېی رضا وي (که څوك ورته ان شئت اووائي، او که اونه وائي نو ويناپی بی فائدی ده).

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات: اللهم: معني اي الله او اي پروردگاره، شئت: فعل ماضي ده شاء يې مصدر دي.

تشريح: ليعزم المسئالة، ددي مطلب دادی چي دالله تعالي نه ددعا غوښتلو په وخت کي دعا نه په يقين او عزم سره غواړئ او دکمزورئ اظهار مه کوئ او نه به داسي وايئ چي ای الله که ته په مونږ باندي رحم اوکړي بعضي علماء وائي ددي مطلب دقبوليت متعلق حسن ظن کول دي په نهايه کي ليکلي دي چي ددينه مراد په قطعيت او يقين سره دعا غوښتل دي.

"فانه لامکره له" يعني الله تعالي لره څوك مجبورونکی نشته مطلب دادی چي په دعا کي غير يقيني الفاظ مه استعمالوئ او مه يي دالله تعالي په مشيت موقوف کوئ بلکه په پوره شدت او اسرار سره دعا اوغواړئ ځکه چي الله تعالي ته دهيڅ يو څيز ورکول ګران نه دي.

****

۷۹_باب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق یو بل باب

۲٤۹۸_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ الأَغَرِّ، وَعَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "

---

[1] - اورده البخاري في الجامع الصحيح /الدعوات ۲۱ (٦۳۳۹)، والتوحيد ۳۱ (۷٤۷۷)، صحيح مسلم/الذكر ۳ (۲٦۷۸)، سنن ابي داود/ الصلاة ۳٥۸ (۱٤۸۳)، سنن ابن ماجه/الدعاء ۸ (۳۸٥٤) (تحفة الأشراف: ۱۳۸۱۳)، وط/القرآن ۸ (۲۸)، و مسند احمد (۲/۲٤۳، ٤٥٧)

يَنْزِلُ رَبُّنَا كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الآخِرُ، فَيَقُولُ: مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ، وَمَنْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ، وَمَنْ يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو عَبْدِ اللَّهِ الأَغَرُّ اسْمُهُ سَلْمَانُ، قَالَ: وَفِي البَابِ، عَنْ عَلِيٍّ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَجُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، وَرِفَاعَةَ الْجُهَنِيِّ، وَأَبِي الدَّرْدَاءِ، وَعُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ. ([1])

ترجمه: دابوهريرة‌رضی‌الله‌عنه نه روايت دي چي رسول كريم صلي الله عليه وسلم فرمانلي دي چي الله تعالي هره شپه اسمان ددنياته راكوزيږي دشپي اخري دريمه حصه كي او وائي څوك زمانه دعاغواړي چي زه ني قبوله كړم اوڅوك زمانه څه شي غواړه چي زه ني وركړم ؟ اوڅوك زمانه بخښنه غواړي چي بخښنه ورته وكړم؟

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي او د ابوعبدالله الاغر نوم سلمان دي، په دي باب كي دعلي، عبدالله بن مسعود، ابوسعيد، جبير بن مطعم، رفاعه جهني، ابو الدرداء او عثمان بن ابو العاص رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٤٩٩ـحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى الثَّقَفِيُّ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَابِطٍ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، قَالَ: قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الدُّعَاءِ أَسْمَعُ ؟ قَالَ: "جَوْفَ اللَّيْلِ الآخِرِ، وَدُبُرَ الصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوبَاتِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي ذَرٍّ، وَابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "جَوْفُ اللَّيْلِ الآخِرُ الدُّعَاءُ فِيهِ أَفْضَلُ أَوْ أَرْجَى أَوْ نَحْوَ هَذَا". ([2])

ترجمه: ابوامامه رضي الله عنه نه روايت دى چي تپوس اوكړې شو اى رسول الله كومه دعا زياته قبليږي . رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دشپي په اخره كي دعا او د فرض مونځونو پسی دعا

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن دي، ابوذر او ابن عمر رضي الله عنهما دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه روايت نقل كوي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /التهجد ١٤ (١١٤٥) . والدعوات ١٤ (٦٣٢١) . والتوحيد ٣٥ (٧٤٩٤) . صحيح مسلم /المسافرين ٢٤ (٧٥٨) . سنن ابي داود/ الصلاة ٣١١ (١٣١٥) . والسنة ٢١ (٤٧٣٣) . سنن ابن ماجه/الإقامة ١٨٢ (١٣٦٦) (تحفة الأشراف : ١٣٤٦٣، و١٥٢٤١) . ومسند احمد (٢/٢٦٤، ٢٦٧، ٢٨٢، ٤١٩، ٤٨٧) . وسنن الدارمي/الصلاة ١٦٨ (١٥١٩)

[2] ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٣٥ (١٠٨) (تحفة الأشراف : ٤٨٩٤)

دي دشپې په اخري حصه کې دعا غوښتل دټولو دعاګانو نه بهتر دي، او يا ددې د اجابت اميد زيات وي او يا يې ددې پشان کوم بل لفظ اوفرمائيلو.

لغات: جوف: خيټه دباب نصرنه، دبر معني وروستنۍ حصه، المكتوبات: معني فرائض جمع دمکتوبة ده.

تشريح: ددې حديث نه معلومه شوه چې دشپې په اخري حصه کې او دفرض مونځونو نه پس دعا په خصوصي طور سره قبليږي دفرض مونځونو نه پس ددعا دقبليدو مضمون په ډيرو روايتونو کې منقول دی دبعضې صحابه کرامو په باره کې راځي چې هغوئ به ددعا دپاره دفرض مونځ انتظار کولو چې ددينه پس به دعا غواړو.

جوف الليل الاخر دشپې په اخري حصه کې. کله چې خلق په خوب کې مشغول وي پدغه وخت کې چې کله بنده پاڅي او دخپل رب سره دراز او نياز ګفتګو کوي نو دالله تعالی دا حالت ډيرزيات خوښيږي په يو بل روايت کې راځي پدغه وخت کې الله تعالی دنيا ته نژدې اسمان ته نزول کوي او اعلان کوي چې څوك شته داسې چې زمانه دعا اوغواړي او زه يې قبول کړم؟ څوك شته داسې چې زمانه دعا اوغواړي او زه يې قبول کړم؟ څوك شته داسې چې زمانه دعا اوغواړي او زه يې قبول کړم.

په يو بل روايت کې راځي ارشاد نبوي دی چې په شپه کې يو داسې ټايم راځي چې مسلمان بنده په هغې کې دالله نه ددنيا او اخرت کاميابۍ سوال اوکړي او کوم حاجت اوغواړي نو الله تعالی يې ورته ورکوي.

****

۳۵۰۰_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الحَمِيدِ بْنُ عُمَرَ الهِلَالِيُّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ إِيَاسٍ الجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي السَّلِيلِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَجُلًا. قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، سَمِعْتُ دُعَاءَكَ اللَّيْلَةَ فَكَانَ الَّذِي وَصَلَ إِلَيَّ مِنْهُ أَنَّكَ تَقُولُ: "اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي، وَوَسِّعْ لِي فِي رِزْقِي، وَبَارِكْ لِي فِيمَا رَزَقْتَنِي. قَالَ: فَهَلْ تُرَاهُنَّ تَرَكْنَ شَيْئًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. وَأَبُو السَّلِيلِ اسْمُهُ ضُرَيْبُ بْنُ نُقَيْرٍ وَيُقَالُ: ابْنُ نُقَيْرٍ. (۱)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دی فرمائي چې يو کس عرض اوکړو اې دالله رسوله ما نن شپه ستا دعا اوريدلې ده او ما چې ستا کومه دعا اوريدلې وه هغه داده "اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي، وَوَسِّعْ لِي فِي رِزْقِي، وَبَارِكْ لِي فِيمَا رَزَقْتَنِي" يعني اې الله زما ګناهونه اوبخې او زما په رزق

۱- تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۳۵۱۲)

كي فراخي پيدا كړي او زما په رزق كي بركت واچوي نو ايا دي دعائيه كلماتو څه پريخودل؟
(په دي كي خو ددين او دنيا ټولي كاميابياني راغلي)
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي او د ابو السليم نوم ضريب بن نفير دي او ضريب بن نقير هم ونيلي شوي دي.

****

٣٥٠١ـحَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ وَهُوَ ابْنُ يَزِيدَ الْحِمْصِيُّ، عَنْ بَقِيَّةَ بْنِ الْوَلِيدِ، عَنْ مُسْلِمِ بْنِ زِيَادٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسًا، يَقُولُ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ اللَّهُمَّ: أَصْبَحْنَا نُشْهِدُكَ وَنُشْهِدُ حَمَلَةَ عَرْشِكَ وَمَلَائِكَتَكَ وَجَمِيعَ خَلْقِكَ بِأَنَّكَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ اللَّهُ وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُولُكَ، إِلَّا غَفَرَ اللَّهُ لَهُ مَا أَصَابَ فِي يَوْمِهِ ذَلِكَ، وَإِنْ قَالَهَا حِينَ يُمْسِي غَفَرَ اللَّهُ لَهُ مَا أَصَابَ فِي تِلْكَ اللَّيْلَةِ مِنْ ذَنْبٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي سحر وخت كي دا كلمات اووائي :

اللَّهُمَّ أَصْبَحْنَا نُشْهِدُكَ وَنُشْهِدُ حَمَلَةَ عَرْشِكَ وَمَلَائِكَتَكَ وَجَمِيعَ خَلْقِكَ بِأَنَّكَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ اللَّهُ وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُولُكَ"

يعني اي الله مونږ سبا كړو او مونږ تاله ګواه ګرځوو او ستا دعرش پورته كونكو فرشتو لره او ستا ټولو فرشتو او تمام مخلوق لره ګواه ګرځوو چي صرف ته الله يي او ستا نه علاوه بل هيڅوك حقدار دبندګۍ نشته او ته يواځي معبود يي ستا هيڅوك شريك نشته او محمد صلي الله عليه وسلم ستا بنده او ستا رسول دي، نو په دغه ورځ چي دده نه هر څومره ګناهونه اوشي الله تعالي به يي اوبخي او كه څوك دمابنام وخت كي دا دعا اولولي نو په دي شپه چي دده نه څومره ګناهونه اوشي الله تعالي به يي اوبخي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي.

****

٨٠ـباب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يو بل باب

[1] ـ سنن ابي داود/ الأدب ١١٠ (٥٠٦٨) (تحفة الأشراف: ١٥٨٤)

٣٥٠٢ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ زَحْرٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ أَبِي عِمْرَانَ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ قَالَ: " قَلَّمَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُومُ مِنْ مَجْلِسٍ حَتَّى يَدْعُوَ بِهَؤُلَاءِ الدَّعَوَاتِ لِأَصْحَابِهِ: اللَّهُمَّ اقْسِمْ لَنَا مِنْ خَشْيَتِكَ مَا يَحُولُ بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَعَاصِيكَ، وَمِنْ طَاعَتِكَ مَا تُبَلِّغُنَا بِهِ جَنَّتَكَ، وَمِنَ الْيَقِينِ مَا تُهَوِّنُ بِهِ عَلَيْنَا مُصِيبَاتِ الدُّنْيَا، وَمَتِّعْنَا بِأَسْمَاعِنَا وَأَبْصَارِنَا وَقُوَّتِنَا مَا أَحْيَيْتَنَا وَاجْعَلْهُ الْوَارِثَ مِنَّا، وَاجْعَلْ ثَأْرَنَا عَلَى مَنْ ظَلَمَنَا، وَانْصُرْنَا عَلَى مَنْ عَادَانَا، وَلَا تَجْعَلْ مُصِيبَتَنَا فِي دِينِنَا، وَلَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا أَكْبَرَ هَمِّنَا وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِنَا، وَلَا تُسَلِّطْ عَلَيْنَا مَنْ لَا يَرْحَمُنَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. وَقَدْ رَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ خَالِدِ بْنِ أَبِي عِمْرَانَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ.([1])

ترجمه : دابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دمجلس نه پاڅيدو نو اکثر به يې دا دعا غوښته: اللَّهُمَّ اقْسِمْ لَنَا مِنْ خَشْيَتِكَ مَا يَحُولُ بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَعَاصِيكَ. وَمِنْ طَاعَتِكَ مَا تُبَلِّغُنَا بِهِ جَنَّتَكَ. وَمِنَ الْيَقِينِ مَا تُهَوِّنُ بِهِ عَلَيْنَا مُصِيبَاتِ الدُّنْيَا. وَمَتِّعْنَا بِأَسْمَاعِنَا وَأَبْصَارِنَا وَقُوَّتِنَا مَا أَحْيَيْتَنَا وَاجْعَلْهُ الْوَارِثَ مِنَّا. وَاجْعَلْ ثَأْرَنَا عَلَى مَنْ ظَلَمَنَا. وَانْصُرْنَا عَلَى مَنْ عَادَانَا. وَلَا تَجْعَلْ مُصِيبَتَنَا فِي دِينِنَا. وَلَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا أَكْبَرَ هَمِّنَا وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِنَا. وَلَا تُسَلِّطْ عَلَيْنَا مَنْ لَا يَرْحَمُنَا" يعني يا الله دستا دخوف نه دومره زمونږ نصيب کړی چي دستا دنافرمانۍ نه پرې بچ شو، او دستا داطاقت نه مو دومره نصيب کړی چي ستا جنت ته مو اورسوي او په تايقين دومره راکړی چي د دنيا تکليفونه راته اسان شي يا الله زمونږ دليدو طاقت اوداوريدو طاقت او نورو طاقتونو نه مونږ ته په ژوند کې فائده اورسوی او زمونږ دژوند تراخره يې باقي اوساتی او زمونږ کينه او انتقام ترهغی کسانو محدود کړی چاچي په مونږ ظلم کړی وي (چي څوك بې گناه رانه ازار نه شي) يا الله مونږ ته په دشمنانو غلبه راکړی يا الله په دين کې نقصان نه مو بچ کړی يا الله دنيا زمونږ دفکرونو اوزمونږ دعلم مقصودمه کړی يا الله! داسې کسان راباندی مسلط نه کړی (حاکمان نه کړی) چي په مونږ رحم نه کوي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي، بعضي محدثينو دا حديث دخالد ابو عمران نه او هغه دنافع په واسطه دابن عمر رضي الله عنهما نه نقل کړي دي.

تشريح : په پورتني روايت کې دمجلس اختتامي دعا سنت نبوي عمل خودلي شوي دي او دا جامع ترينه اوددنيا او اخرت خير لره مشتمله ده.

---

[1] ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ١٣٤ (٤٠١) (تحفة الأشراف: ٧٥٨٤)

****

٣٥٠٣_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ الشَّحَّامُ، قَالَ: حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ أَبِي بَكْرَةَ، قَالَ: سَمِعَنِي أَبِي وَأَنَا أَقُولُ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الهَمِّ وَالكَسَلِ وَعَذَابِ القَبْرِ". قَالَ: يَا بُنَيَّ مِمَّنْ سَمِعْتَ هَذَا؟ قُلْتُ: سَمِعْتُكَ تَقُولُهُنَّ، قَالَ: الزَمْهُنَّ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُهُنَّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه : مسلم بن ابوبكره وائي چي يو خل زما پلار زما نه دا دعا واوريدله "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الهَمِّ وَالكَسَلِ وَعَذَابِ القَبْرِ" ماته يي اوونيل اي بچيه دا دعا دي دچا نه اوريدلي ده؟ ما اوونيل ستاسو نه مي اوريدلي دي راته يي اوفرمائيل په پابندئ سره يي وايه خکه چي دا ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي وه.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي.

****

٨١_باب

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٣٥٠٤_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ، أَخْبَرَنَا الفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنِ الحُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَلَا أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ إِذَا قُلْتَهُنَّ غَفَرَ اللَّهُ لَكَ وَإِنْ كُنْتَ مَغْفُورًا لَكَ؟ قَالَ: قُلْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ العَلِيُّ العَظِيمُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ الحَلِيمُ الكَرِيمُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ سُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ العَرْشِ العَظِيمِ".

قَالَ عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ: وَأَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ الحُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، عَنْ أَبِيهِ، بِمِثْلِ ذَلِكَ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ فِي آخِرِهَا: الحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ العَالَمِينَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ. (2)

ترجمه : دعلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته اوفرمائيل ايا داسي كلمات درته اونه بنايم چي كله يي وايي نو الله تعالي به تاته ستا گناهونه معاف كوي اگر كه ته دهغه خلقو نه يي دچا گناهونه چي دمخكي نه معاف كړي شوي وي او

1_ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٧٠٥)

2_ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ١٩٨ (٦٣٠) (تحفة الأشراف: ١٠٠٢٠)

راته یې اوفرمائیل دا دعا وایه .

" لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ، لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ الْحَلِيمُ الْكَرِيمُ، لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ سُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ "

دالله تعالي نه علاوه بل څوك لائق دبندګۍ نشته او هغه هغه ذات دي چي لوي دي په اعتبار دصفاتو او لوي دي په اعتبار دذات. او نشته حقدار دبندګۍ علاوه دالله تعالي نه چي حليم او كريم دي او نشته لائق دعبادت مګر صرف الله تعالي دي پس پاك دي الله چي خاوند دعرش عظيم دي.

****

۸۲_باب

دماقبل باب متعلق يوبل باب

۳۵۰۵_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ سَعْدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " دَعْوَةُ ذِي النُّونِ إِذْ دَعَا وَهُوَ فِي بَطْنِ الْحُوتِ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ، فَإِنَّهُ لَمْ يَدْعُ بِهَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ فِي شَيْءٍ قَطُّ إِلَّا اسْتَجَابَ اللَّهُ لَهُ ". قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى: قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ مَرَّةً: عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ سَعْدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ يُونُسَ بْنِ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ سَعْدٍ وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنْ أَبِيهِ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ وَهُوَ أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، عَنْ يُونُسَ بْنِ أَبِي إِسْحَاقَ، فَقَالُوا: عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ سَعْدٍ نَحْوَ رِوَايَةِ ابْنِ يُوسُفَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ سَعْدٍ، وَكَانَ يُونُسُ بْنُ أَبِي إِسْحَاقَ رُبَّمَا ذَكَرَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ عَنْ أَبِيهِ وَرُبَّمَا لَمْ يَذْكُرْهُ.[1]

ترجمه : دسعد رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دذوالنون يونس عليه السلام، هغه دعا كومه چي هغه د مهي په خيټه كي كړي وه داده " لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ، " نشته لائق دبندګۍ مګر صرف ته يي او پاك يي ته دشريك او كمزورۍ نه او يقينا زه وم دزياتي كونكو نه. ځكه چي دا يوه داسي دعا ده چي كله يي هم څوك مسلمان اولولي نو الله تعالي يي قبلوي.

---

[1] ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ۲۰۰ (۶۵۶) (تحفة الأشراف : ۳۹۲۲)

امام ترمذي رحمه الله وايي: دمحمد بن يحي بيان دي چي محمد بن يوسف به کله دابراهيم بن محمد بن سعد په واسطه دا حديث دسعد نه نقل کولو او په دي کي به يي عن ابيه واسطه نه ذکر کوله، او په دي روايت کي هغوئ عن ابيه واسطه نه ده ذکر کړي، مګر بعضي راويانو ديونس بن ابو اسحاق نه دا روايت نقل کړي دي او هغوئ دابن يوسف دروايت پشان دابراهيم بن محمد بن سعد نه دنقل کولو په حال کي عن ابيه عن سعد وئيلي دي، او د يونس بن ابواسحاق عدد دا وو چي کله به هغه په دي حديث کي عن ابيه واسطه ذکر کوله او کله به يي نه ذکر کوله.

****

۸۳_باب

دماقبل باب متعلق يوبل باب

۳۵۰٦_حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ حَمَّادٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ لِلَّهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مِائَةً غَيْرَ وَاحِدٍ مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ". (1)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دالله تعالي يو کم سل نومونه دي، په سلو کي چي يو کم وي څوک چي دا ياد اوساتي جنت ته به داخل شي.

تخريج: اورده البخاري في الجامع الصحيح /الشروط ۱۸ (۲۷۳٦)، والدعوات ٦۸ (٦۴۱۰)، والتوحيد ۱۲ (۷۳۹۲)، صحيح مسلم/الذکر والدعاء ۲ (۲٦۷۷) (تحفة الأشراف: ۱۴۵۳٦)

قَالَ يُوسُفُ، وَحَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: ابن سيرين هم دابوهريره رضي الله عنه په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل کړي دي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي او دابوهريره په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي.

---

1 ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ۳۰۰ (۲۵٦) (تحفة الأشراف: ۲۹۲۲)

****

٣٥٠٧_حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يَعْقُوبَ الجُوزَجَانِيُّ، حَدَّثَنَا صَفْوَانُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا الوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا شُعَيْبُ بْنُ أَبِي حَمْزَةَ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ لِلَّهِ تَعَالَى تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مِائَةً غَيْرَ وَاحِدَةٍ مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الجَنَّةَ، هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ المَلِكُ القُدُّوسُ السَّلَامُ المُؤْمِنُ المُهَيْمِنُ العَزِيزُ الجَبَّارُ المُتَكَبِّرُ الخَالِقُ البَارِئُ المُصَوِّرُ الغَفَّارُ القَهَّارُ الوَهَّابُ الرَّزَّاقُ الفَتَّاحُ العَلِيمُ القَابِضُ البَاسِطُ الخَافِضُ الرَّافِعُ المُعِزُّ المُذِلُّ السَّمِيعُ البَصِيرُ الحَكَمُ العَدْلُ اللَّطِيفُ الخَبِيرُ الحَلِيمُ العَظِيمُ الغَفُورُ الشَّكُورُ العَلِيُّ الكَبِيرُ الحَفِيظُ المُقِيتُ الحَسِيبُ الجَلِيلُ الكَرِيمُ الرَّقِيبُ المُجِيبُ الوَاسِعُ الحَكِيمُ الوَدُودُ المَجِيدُ البَاعِثُ الشَّهِيدُ الحَقُّ الوَكِيلُ القَوِيُّ المَتِينُ الوَلِيُّ الحَمِيدُ المُحْصِي المُبْدِئُ المُعِيدُ المُحْيِي المُمِيتُ الحَيُّ القَيُّومُ الوَاجِدُ المَاجِدُ الوَاحِدُ الصَّمَدُ القَادِرُ المُقْتَدِرُ المُقَدِّمُ المُؤَخِّرُ الأَوَّلُ الآخِرُ الظَّاهِرُ البَاطِنُ الوَالِيَ المُتَعَالِي البَرُّ التَّوَّابُ المُنْتَقِمُ العَفُوُّ الرَّءُوفُ مَالِكُ المُلْكِ ذُو الجَلَالِ وَالإِكْرَامِ المُقْسِطُ الجَامِعُ الغَنِيُّ المُغْنِي المَانِعُ الضَّارُّ النَّافِعُ النُّورُ الهَادِي البَدِيعُ البَاقِي الوَارِثُ الرَّشِيدُ الصَّبُورُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. حَدَّثَنَا بِهِ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ صَالِحٍ وَلَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ صَفْوَانَ بْنِ صَالِحٍ وَهُوَ ثِقَةٌ عِنْدَ أَهْلِ الحَدِيثِ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَا نَعْلَمُ فِي كَبِيرِ شَيْءٍ مِنَ الرِّوَايَاتِ لَهُ إِسْنَادٌ صَحِيحٌ ذِكْرَ الأَسْمَاءِ إِلَّا فِي هَذَا الحَدِيثِ، وَقَدْ رَوَى آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ هَذَا الحَدِيثَ بِإِسْنَادٍ غَيْرِ هَذَا عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَكَرَ فِيهِ الأَسْمَاءَ وَلَيْسَ لَهُ إِسْنَادٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دابو هريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دالله تعالي نهه نوي۹۹ يوكم سل نومونه دي څوك چي دي لره ياد كړي جنت ته به داخل شي ، او هغه دادي:

هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ المَلِكُ القُدُّوسُ السَّلَامُ المُؤْمِنُ المُهَيْمِنُ العَزِيزُ الجَبَّارُ المُتَكَبِّرُ الخَالِقُ البَارِئُ المُصَوِّرُ الغَفَّارُ القَهَّارُ الوَهَّابُ الرَّزَّاقُ الفَتَّاحُ العَلِيمُ القَابِضُ

---

1 ـ تفرد به المؤلف

الْبَاسِطُ الْخَافِضُ الرَّافِعُ الْمُعِزُّ الْمُذِلُّ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ الْحَكَمُ الْعَدْلُ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ الْحَلِيمُ الْعَظِيمُ الْغَفُورُ الشَّكُورُ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ الْحَفِيظُ الْمُقِيتُ الْحَسِيبُ الْجَلِيلُ الْكَرِيمُ الرَّقِيبُ الْمُجِيبُ الْوَاسِعُ الْحَكِيمُ الْوَدُودُ الْمَجِيدُ الْبَاعِثُ الشَّهِيدُ الْحَقُّ الْوَكِيلُ الْقَوِيُّ الْمَتِينُ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ الْمُحْصِي الْمُبْدِئُ الْمُعِيدُ الْمُحْيِي الْمُمِيتُ الْحَيُّ الْقَيُّومُ الْوَاجِدُ الْمَاجِدُ الْوَاحِدُ الصَّمَدُ الْقَادِرُ الْمُقْتَدِرُ الْمُقَدِّمُ الْمُؤَخِّرُ الْأَوَّلُ الْآخِرُ الظَّاهِرُ الْبَاطِنُ الْوَالِيَ الْمُتَعَالِي الْبَرُّ التَّوَّابُ الْمُنْتَقِمُ الْعَفُوُّ الرَّءُوفُ مَالِكُ الْمُلْكِ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ الْمُقْسِطُ الْجَامِعُ الْغَنِيُّ الْمُغْنِي الْمَانِعُ الضَّارُّ النَّافِعُ النُّورُ الْهَادِي الْبَدِيعُ الْبَاقِي الْوَارِثُ الرَّشِيدُ الصَّبُورُ".

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي مونږ ته يو څو راويانو داحديث دصفوان بن ابوصالح په واسطه بيان کړي دي او دا حديث مونږ دصفوان بن صالح په روايت پيژنو او صفوان دمحدثينو په نزد ثقه دي داحديث په يو څو نورو سندونو هم دابوهريره په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي، په کومو احاديثو کي چي داسماء الهيه ذکر دي په هغه احاديثو کي ددي حديث نه علاوه کوم حديث مونږ نه دي موندلي چي دسند په اعتبار صحيح وي، ادم بن ابي اياس دا حديث ددي سند نه علاوه په يو بل سنددابوهريره رضي الله عنه نه نقل کړي دي او هغه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي او په دي کي داسماء الهيه ذکر دي ليکن سند يي درست نه دي

تشريح: خلاصه داده مفسرينو ليکلي دي چي دالله تعالي نومونه صرف توقيفي(تنزيلي) دي دالله تعالي نوم جواد دي سخي ندي عالم دي عاقل ندي، رحيم دي رقيق ندي، مثلا: الله تعالي فرمائيلي دي " **يخادعون الله وهو خادعهم**" په بل ايت کي راغلي دي "**وَمَكَرُوا وَمَكَرَ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ**" ليکن الله تعالي ته خادع اوماکر اومکار نشي ونيلي کيدي . قائم بالقسط ورته ونيلي کيږي، قائم ورته نشي ونيلي کيدي، خالق ورته ونيلي کيدي شي ليکن دخالق القردة والخنازير په نوم سره نشي مسمي کيدي . زيد اګرکه هرڅومره لوي بادشاه وي ليکن الله تعالي ته کبير من زيد نشي ونيلي کيدي، بلکه الله تعالي به په هغه نومونو رابللي کيږي کوم چي په طور دتعظيم په قران کي راغلي وي . په تورات کي ذکر شوي نومونه اختلال هم درست ندي ځکه چي ديهوديانو په معرفت کوم نومونه راغلي دي هغي لره اعتبار ورکول ندي پکار، مګر ديهودو په علماؤ کي چي څوك مسلمانان شوي وي دهغوئ نه په نقل دروايت کي څه حرج نشته.

عمر فاروق ، ابن عباس، ابوهريره، رضي الله عنهم اوبعضي نورو صحابه کراموبه دعبدالله بن سلام اوبعضي نورو ديهوديانو مسلمانانو علماؤ نه دتورات داطلاعاتو تپوسونه کول، اوهيڅا

به يي مخالفت نه كولو. ددي صورت په اعتبار به دايت معني داسي وي ، څوك چي دالله دنومونو متعلق كجروي كوي . شريعت چي دالله تعالي دپاره كوم نومونه ندي بيان كړي دي په هغو نومونوسره الله رابلل ندي پكار . يا دامطلب دي چي كوم نومونه الله تعالي دخان دپاره خوښ كړي دي اومشركان يي نه مني نوتاسو ددي مشركانو پرواه مه ساتئ لكه چي الله تعالي رحمان نوم منتخب كړي دي اوڅوك اووايي چي مونږ ته خو ديمامي درحمٰن نه علاوه بل رحمٰن ندي معلوم . يا دامطلب دي كچري مشركان دالله دنومونو اطلاق په بتانو كوي اودهغه دنومونو نه دصيغو اشتقاق كوي نوددوئ سره كار مه لره. خو ته ورسره موافقت مه كوه. يا دامطلب دي چي ته ورنه اعراض وكړه الله تعالي به ورته پخپله سزا وركړي اودوئ ته به ددوئ دكړو عملونو سزا وركړي شي

****

٣٥٠٨_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ. عَنْ أَبِي الزِّنَادِ. عَنِ الأَعْرَجِ. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: " إِنَّ لِلَّهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَلَيْسَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ ذِكْرُ الأَسْمَاءِ. قَالَ: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. رَوَاهُ أَبُو الْيَمَانِ. عَنْ شُعَيْبِ بْنِ أَبِي حَمْزَةَ. عَنْ أَبِي الزِّنَادِ. وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ الأَسْمَاءَ. (١)

ترجمه : دابو هريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دالله تعالي نهه نوي٩٩ يوكم سل نومونه دي څوك چي دي لره ياد كړي جنت ته به داخل شي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي. او په دي حديث كي داسماء الهيه ذكر نشته. داروايت ابو اليمان دشعيب بن ابي حمزه په واسطه دابوالزناد نه نقل كړي دي او په دي كي داسماء حسني ذكر نشته

****

٣٥٠٩_حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يَعْقُوبَ. حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ. أَنَّ حُمَيْدًا الْمَكِّيَّ مَوْلَى ابْنِ عَلْقَمَةَ حَدَّثَهُ. أَنَّ عَطَاءَ بْنَ أَبِي رَبَاحٍ حَدَّثَهُ. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا مَرَرْتُمْ بِرِيَاضِ الْجَنَّةِ فَارْتَعُوا ". قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ. وَمَا رِيَاضُ الْجَنَّةِ؟ قَالَ: " الْمَسَاجِدُ ". قُلْتُ: وَمَا الرَّتْعُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: " سُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى:

[1] انظر حديث رقم ٣٥٠٦ (تحفة الأشراف: ١٣٦٨٢)

هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي تاسو دجنت په باغونو كي ديو باغ په خواكي تيريږئ نو په دي كي اوخريږئ ما عرض اوكړو اي دالله رسوله دجنت دباغونو نه څه مراد دي رسول الله اوفرمائيل ددينه مساجد مراد دي ما بيا تپوس اوكړو اي دالله رسوله دڅريدونه مراد څه دي راته يي اوفرمائيل سبحان الله والحمدلله ولااله الاالله والله اكبر وئيل دي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن غريب دي

****

٣٥١٠_حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ عَبْدِ الصَّمَدِ بْنِ عَبْدِ الْوَارِثِ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ ثَابِتٍ الْبُنَانِيُّ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا مَرَرْتُمْ بِرِيَاضِ الْجَنَّةِ فَارْتَعُوا". قَالُوا: وَمَا رِيَاضُ الْجَنَّةِ؟ قَالَ: "حِلَقُ الذِّكْرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ. (2)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي دجنت په باغچو تيريږئ نو خان پكي اوڅروئ صحابه كرامو عرض اوكړو دجنت دباغچو نه څه مراد دي ويي فرمائيل دذكر حلقي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند د انس رضي الله عنه نه د ثابت په روايت حسن غريب دي

تشريح: د اهل ذكر سره په قريبي تعلق ساتلو باندي ډير نصوص متواتره دلالت كوي چي يو ددغه جملي نه د سورت الكهف ايت هم دى: قَالَ اللهُ تَعَالَى : ﴿ وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ ﴾ [الكهف: ٢٨].
الله تعالي فرماني: اى رسول ته خپل خان دهغه كسانو سره ملګرى اوساته څوك چي هميشه دخپل رب عبادت كوي خالص دهغه درضا دحاصلولو دپاره اوستركي ترى مه اړوه (يعني بى توجهي ورنه مه كوه).
ددي ايت شان نزول دادي: بعضي مشركين نبي صلي الله عليه ته راغلل په دوئ كي عيينه بن حصين هم وو او پدغه وخت كي رسول الله صلي سره مسلمانان ناست وو دوئ اووئيل چي مونږ

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣١٤٥)

2 _ تفرد به المؤلف (٢٦٥)

ته ددوئ نه بد بوي راخي دوئ ته دخپل مجلس نه جدا کړه او مونږ ستا اتباع کولو ته تیاریږو نو په دي باره کي مذکوره ایت نازل شو.

"وَاصْبِرْ نَفْسَكَ" خپل خان قائم اوکلك وساته ، "بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ" په سحر اوماښام یا تمامو وختونو کي ، "يُرِيدُونَ وَجْهَهُ" يعني ددوئ دعبادت په غرض اود الله درضا دحصول نه علاوه يي بل هيڅ غرض نه وي ، په وجهه کي وجه لفظ زائد دي لکه چي په "ويبقى وجه ربك" کي چي وجه لفظ زائد دي ، مطلب دادي چي ددوئ دالله دذات نه علاوه بل مطلب نه وي نه دنيا اونه اخرت.

بغوي ليکلي دي چي مذکوره ايت دعيينه بن حصن فزاري په باره کي نازل شوي دي . عيينه دمسلمانيدو نه مخکي درسول الله په خدمت کي حاضر شو اوپدغه وخت کي څه نادارہ مسلمانان درسول الله سره موجود وو په کومو کي چي سلمان فارسي هم وو اوسلمان فارسي پدغه وخت کي يو وړوکي شان څادر اغوستلي وو اوخوله وربانديي هم راروانه وه عيينه ووئيل اي محمد (صلي الله عليه وسلم) ايا ددي خلقو دخولوپه وجه نه تنگيږي؟ مونږ دقبائلو سرداران او لوي خلق يو که مونږ مسلمانان شو نوعرب به ټول مسلمانان شي ليکن مونږ لره ستااتباع کولو نه دداسي خلقو موجود کيدل منع کوي نوکه دوئ دي وشړل نومونږ به دي ملگرتيا وکړو ، او ياداسي وکړه چي ددوئ نه جدا زمونږ دپاره دناستي کوم ځاي مقرر کړه اوددوئ مجلس زمونږ نه جداکړه نو په دي باره کي دا ايت کريمه نازل شو.

دقتاده بيان دي چي د ايت کريمه: "الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ" نه اصحاب صفه مراد دي چي تعداد يي اوه سوه ۷۰۰ وو اوددوئ ټول نادارہ طبقه وه اود رسول الله په مسجد کي به يي قيام کولو ، نه پکي دچا څومره زرعي پيشه وه اونه تجارت اونه کوم لنګ څاروي والاپکي وو ، بس صرف مونځونه به يي کول ديو وخت مونځ چي به يي وکړو نود بل وخت دمونځ په انتظار کي به ناست وو ، کله چي دا ايت نازل شو نو رسول الله اوفرمائيل حمد اوثنا دهغه ذات دپاره ده چاچي زما په امت کي داسي خلق پيدا کړي دي دچاسره چي ماته دناستي اوددوئ په ملګرتيا دکلکيدو حکم شوي دي. (مظهري)

****

٨٤_ بَاب مِنْهُ

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٥١١_ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يَعْقُوبَ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أُمِّهِ أُمِّ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "

إِذَا أَصَابَ أَحَدَكُمْ مُصِيبَةٌ فَلْيَقُلْ: إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ سورة البقرة آية ١٥٦ اللَّهُمَّ عِنْدَكَ احْتَسَبْتُ مُصِيبَتِي فَأْجُرْنِي فِيهَا وَأَبْدِلْنِي مِنْهَا خَيْرًا". فَلَمَّا احْتُضِرَ أَبُو سَلَمَةَ، قَالَ: اللَّهُمَّ اخْلُفْ فِي أَهْلِي خَيْرًا مِنِّي، فَلَمَّا قُبِضَ، قَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ: إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ سورة البقرة آية ١٥٦ عِنْدَ اللَّهِ احْتَسَبْتُ مُصِيبَتِي فَأْجُرْنِي فِيهَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَرُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَأَبُو سَلَمَةَ اسْمُهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْأَسَدِ. ([1])

ترجمه . ام المومنين ام سلمه رضي الله عنها فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم فرمان اوريدلی دی چي کله هم يو بنده باندي غم او مصيبت راشي نو انا لله وانا اليه راجعون ، دي اووائي او دا دعا دي اوکړي : اللَّهُمَّ عِنْدَكَ احْتَسَبْتُ مُصِيبَتِي فَأْجُرْنِي فِيهَا وَأَبْدِلْنِي مِنْهَا خَيْرًا". چي اى الله خما دغم او مصيبت ماته اجراکړی او خما چي کوم څيز ضائع شو دهغی ماته بنه بدله راکړی، ام المومنين وائي چي کله ابو سلمه وفات کيدو نو دا کلمات يي ووئيل: اللَّهُمَّ اخْلُفْ فِي أَهْلِي خَيْرًا مِنِّي " ابو سلمه چي وفات شو ام سلمه دا دعا ووئيله إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ . عِنْدَ اللَّهِ احْتَسَبْتُ مُصِيبَتِي فَأْجُرْنِي فِيهَا " يعني مونږ د الله تعالي يو او مونږ هغه ته ورتلونکي يو. اود الله نه د خپل مصيبت اميد کوم او اي الله ماته زما په مصيبت اجر راکړي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث په دي سند حسن غريب دی. او دا روايت ددي سند نه علاوه په بل سند د ام سلمه په واسطه د نبي کريم صلي الله عليه وسلم نه هم مروي دی. اود ابو سلمه نوم عبد الله بن عبد الاسد دی.

لغات واخلف لي: اخلف له يعني بدله يي ورته ورکړله ، اخلف الله عليه: دضائع شوي بدله ورکول . خلفه دنصر نه خلافة وخليفي جانشين کيدل.

تشريح يعني کله چي کوم بنده ته کوم مصيبت اورسيږي نو ذکر شوي دعا دي اولولي يعني څه چي زمونږ سرد دي سره زمونږه ټول دالله ملکيت دی او هم هغه پيداکړي يو او هم هغه ته به واپس ورځو اګر چي ددي څيز نسبت مونږ ته کيږي ليکن په حقيقت کې دالله ملکيت دی پس دچا په زړه کې چي دا خبره وي او په هر مصيبت کې مبتلا شي نو دی به دالله لمن پرينه ايږدي او هر مصيبت به ورته اسان شي

****

[1] سنن ابن ماجه/الجنائز ٥٥ (١٥٩٨) (تحفة الأشراف : ٦٥٤٤)

۸۵_باب

د ماقبل باب متعلق يو بل باب

۳۵۱۲_حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى. حَدَّثَنَا الفَضْلُ بْنُ مُوسَى. حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ وَرْدَانَ. عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ. أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ. أَيُّ الدُّعَاءِ أَفْضَلُ؟. قَالَ: " سَلْ رَبَّكَ العَافِيَةَ. وَالمُعَافَاةَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ ". ثُمَّ أَتَاهُ فِي اليَوْمِ الثَّانِي. فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ. أَيُّ الدُّعَاءِ أَفْضَلُ؟ فَقَالَ لَهُ: " مِثْلَ ذَلِكَ ". ثُمَّ أَتَاهُ فِي اليَوْمِ الثَّالِثِ: فَقَالَ لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ. قَالَ: " فَإِذَا أُعْطِيتَ العَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَأُعْطِيتَهَا فِي الآخِرَةِ فَقَدْ أَفْلَحْتَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ سَلَمَةَ بْنِ وَرْدَانَ. (۱)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي يو كس دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله په ټولو دعاګانو كي افضل ترينه دعا كومه يوه دد؟ رسول الله اوفرمائيل دخپل رب نه په دنيا او اخرت كي دمصيبتونو نه دبچ كيدو دعاګاني غواړه. بيا بله ورځ همدا كس درسول الله په خدمت كي حاضر شو او تپوس يي اوكړو په ټولو دعاګانو كي افضل ترينه دعا كومه يوه دد؟ نو رسول الله ورته هم هغه شان جواب وركړو چي دخپل رب نه په دنيا او اخرت كي دمصيبتونو نه دبچ كيدو دعاګاني غواړه.. تردي چي په دريمه ورځ هم دا كس بيا درسول الله په خدمت كي حاضر شو او په دي ورځ يي هم دمخكنو ورځو پشان تپوس اوكړو چي په ټولو دعاګانو كي افضل ترينه دعا كومه يوه دد؟ رسول الله ورته هم هغه شان جواب وركړو چي دخپل رب نه په دنيا او اخرت كي دمصيبتونو نه دبچ كيدو دعاګاني غواړه. او ورته يي اوفرمائيل كله چي درته په دنيا او اخرت كي عافيت دركړي شي نو پوهه شه چي كامياب شوي.

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث په دي سند حسن غريب دي او مونږ يي صرف دسلمه بن وردان په روايت پيژنو

****

۳۵۰۱۳_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ الضُّبَعِيُّ. عَنْ كَهْمَسِ بْنِ الحَسَنِ. عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُرَيْدَةَ. عَنْ عَائِشَةَ. قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ. أَرَأَيْتَ إِنْ عَلِمْتُ أَيُّ لَيْلَةٍ لَيْلَةُ القَدْرِ مَا أَقُولُ فِيهَا؟ قَالَ: قُولِي: " اللَّهُمَّ إِنَّكَ عُفُوٌّ كَرِيمٌ تُحِبُّ العَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ

[1] _ سنن ابن ماجه/الدعاء (۳۸۴۸) (تحفة الأشراف: ۸۶۹)

حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي ما عرض اوكړو اي دالله رسوله كه ماته معلومه شي چي دليلة القدر شپه كومه يوه ده (يعني چي ليلة القدر شپه راشي) نو زه به په دي كي كومه دعا وايم رسول الله اوفرمائيل دا دعا وايه :

" اللَّهُمَّ إِنَّكَ عُفُوٌّ كَرِيمٌ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي "

يعني اي الله ته عفوه كونكي او مهربان يي او عفوه كول خوښوي نو په دي وجه ته ما معاف كړي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٥١٤_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبِيدَةُ بْنُ حُمَيْدٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنِ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، عَلِّمْنِي شَيْئًا أَسْأَلُهُ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ، قَالَ: " سَلِ اللَّهَ الْعَافِيَةَ ". فَمَكَثْتُ أَيَّامًا، ثُمَّ جِئْتُ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، عَلِّمْنِي شَيْئًا أَسْأَلُهُ اللَّهَ، فَقَالَ لِي: " يَا عَبَّاسُ يَا عَمَّ رَسُولِ اللَّهِ سَلِ اللَّهَ الْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْحَارِثِ بْنِ نَوْفَلٍ قَدْ سَمِعَ مِنَ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ. ([2])

ترجمه دعباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه نه روايت دى چي ما عرض اوكړو يا رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته داسى شى اوښايه چى الله تعالي نه يى غواړم رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله جل جلاله نه خير او عافيت غواړه، راوي وايي چي زه څو ورځى حصار شوم بيا حاضر شوم عرض مى اوكړو ماته داسى شى اوښايه چي الله تعالي نه يى غواړم رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اى عباس اى د رسول الله صلي الله عليه وسلم تره الله جل جلاله نه ددنيا او اخرت بهتري غواړه

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث د صحيح دي، عبدالله بن حارث بن نوفل دعباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه نه اوريدل كړي دي(يعني سماع يي ورنه ثابته ده).

لغات : مكث يمكث مكثا دنصر نه معني درنګ تيرول اوپه مزيدو كي متعدي استعماليږي ، عم معني تره.

---

[1] سنن ابن ماجه/الدعاء ٥ (٣٨٥٠) (تحفة الأشراف : ١٦١٨٥)

[2] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٥١٣٩) . ومسند احمد (١/٢٠٩)

تشريح. په يو روايت كې راغلي دي دالله تعالي نه هر وخت دعافيت غوښتلو عادت جوړ كړئ خكه چي دعافيت نه بهتر بل هيڅ يو څيز نشته شيخ عبدالحق وائي چي په عافيت لفظ كې دتمام ظاهري او باطني افتونو نه پناه طلب كړى شوه ددنيا دعافيت نه مراد مصيبتونه او مرضونه او مقدمات دي او ددين دعافيت نه مراد دګناه نه دبچ كيدو درخواست كول دي.
شيخ عبد الحق چي په عافيت لفظ كې دتمامو ظاهري او باطني افتونونه پناه غوښتلى شوي ده، دعافيت ددعا نه مراد دمصائبو اوبيمارىانو او مقدمو وغيره نه بچ كيدل دي او ددين عافيت دادى چي دسړي ګناهونه معاف شي او خپل مطلوب لره بيامومي.
ددي سائل د دري پيري سوال كولو او درسول الله په جواب وركولو سره دا خبره په دماغو كې پيدا كيږي او واضح كيږي چي دعافيت دعا غوښتل دتمامو دعاګانو نه افضله او بهتره ده اوكه داسي نه وى نو رسول الله به دي سائل ته بار بار ددي دعا تلقين نه كولو په يو بل روايت كې ددي حديث په اخر كې راځي چي رسول الله سائل ته اوويل. فاذا اعطيت العافية والمعافات في الدنيا والاخره فقد افلحت. يعني كه عافيت درته دركړى‌شو نو ته به كامياب شي.(روضة الصالحين)

دعباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه حالات

عباس رضي الله عنه درسول الله صلي الله عليه وسلم سكه تره دي او دى درسول الله نه دوه يا دري كاله مشردى الله تعالي ورته دجاهليت په زمانه كې هم ډير شرف او عزت وركړى وو او داسلام قبلولونه پس هم ډير معزز وو دجاهليت په زمانه كې ورته حاجيانو ته داوبو وركولو خدمت سپارلى شوى دى او داسلام قبلولو نه پس هم رسول الله پخپل كار قائم پريخودو په غزوه بدر كې خو درسول الله په خلاف دمشركينو سره راغلى وو ليكن وروسته مسلمان شو او په غزوه حنين وغيره كې يي درسول الله سره ملګرتيا وكړه يو وخت داسي وو چي ټول خلق تختيدلي وو او دى درسول الله صلي الله عليه وسلم سره كلك ولاړ وو.
په مدينه كې درجب په مياشت كې په هجرت ۳۴كال وفات شو او دوفات په وخت كې دده عمر اتيا يا نهه اتيا كاله وو او عثمان رضي الله عنه وربانديجنازه اوكړه او په جنت البقيع كې دفن كړى شو ۳۵روايات ورنه منقول دي چي يو په دوى كې متفق عليه دي يو صرف په بخاري كې دي او دري صرف په مسلم كې دي

****

۳۵۱۵_حَدَّثَنَا القَاسِمُ بْنُ دِينَارٍ الكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ الكُوفِيُّ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ وَهُوَ المُلَيْكِيُّ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا سُئِلَ اللَّهُ شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ أَنْ يُسْأَلَ العَافِيَةَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا

حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ الْمُلَيْكِيِّ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دالله تعالي نه چي هر څومره اشياء غوښتلي شوي دي په دي ټولو کي الله تعالي ته زيات خوښ هغه دي چي دهغه نه ددنيا او اخرت دمصيبتونو او تکليفاتو نه عافيت دعا اوغوښتلي شي

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي او مونږ يي صرف دعبدالرحمن بن ابوبکر مليکي په سند پيژنو (او دي د محدثينو په نزد ضعيف دي).

****

٨٦ـ باب

دماقبل باب متعلق يو بل باب

٣٥١٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ عُمَرَ بْنِ أَبِي الْوَزِيرِ، حَدَّثَنَا زَنْفَلُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " كَانَ إِذَا أَرَادَ أَمْرًا قَالَ: اللَّهُمَّ خِرْ لِي وَاخْتَرْ لِي ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ زَنْفَلٍ وَهُوَ ضَعِيفٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ، وَيُقَالُ لَهُ زَنْفَلُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْعَرَفِيُّ وَكَانَ يَسْكُنُ عَرَفَاتٍ، وَتَفَرَّدَ بِهَذَا الْحَدِيثِ وَلَا يُتَابَعُ عَلَيْهِ. (2)

ترجمه : دابوبکر صديق رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي کله به رسول الله صلي الله عليه وسلم دکوم کار اراده اوکړه نو دا دعا به يي وئيله "اللهم خرلي واخترلي" يعني اي الله زما دپاره دبهتر اانتخاب اوکړي او ښه ځيز زما دپاره خوښ کړي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي او مونږ يي د "زنفل" دروايت نه علاوه په بل کوم سند نه پيژنو او زنفل دمحدثينو په نزد ضعيف دي او ده ته زنفل بن عبدالله عرفي هم وئيلي شي چي دعرفات اوسيدونکي وو دي په دي حديث کي منفرد دي يعني دا روايت صرف زنفل بيان کړي دي او بل کوم راوي دده متابعت نه دي کړي.

****

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٥٠٢)

[2] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٦٢٨)

٢٥١٧_حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا حَبَّانُ بْنُ هِلَالٍ، حَدَّثَنَا أَبَانُ هُوَ ابْنُ يَزِيدَ الْعَطَّارُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، أَنَّ زَيْدَ بْنَ سَلَّامٍ حَدَّثَهُ، أَنَّ أَبَا سَلَّامٍ حَدَّثَهُ، عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْوُضُوءُ شَطْرُ الْإِيمَانِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ تَمْلَأُ الْمِيزَانَ وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ تَمْلَآنِ أَوْ تَمْلَأُ مَا بَيْنَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ، وَالصَّلَاةُ نُورٌ، وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ، وَالصَّبْرُ ضِيَاءٌ، وَالْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَكَ أَوْ عَلَيْكَ، كُلُّ النَّاسِ يَغْدُو فَبَائِعٌ نَفْسَهُ فَمُعْتِقُهَا أَوْ مُوبِقُهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دابو مالك حارث بن عاصم اشعري رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: طهارت نيم ايمان دی او "الحمد لله" دنيکئ تله ډکوي او "سبحان الله" او "الحمدلله" دواړه داسمانونو او زمکي ترمينځه توله فضا ډکوي او مونځ نور دی او صدقه دليل دی او صبر رڼا ده او قران حجت دی ستا دپاره يا ستا خلاف چې صبا شي هر سړی دځپل نفس سودا کوي نو څوك يې د اور نه ازاد کړي او څوك يي تباه کړي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

لغات: الطهور: طهر، طهورا وطهرا وطهارة دنصر او کرم نه مستعمل دي په معني دپاك کيدو صفت يي طاهر راځي او جمع يي اطهار راځي.

شطر: شطر شطرا دنصر نه په معني د تقسيمولو دکوم څيز دي په دوه برابرو حصو.

تملاء: دنصر نه په معني دډکولو دي.

برهان: البرهان دليل او حجت ته ونيلي شي او جمع يي براهين ده.

ضياء: ضاء ضوئا دنصر نه په معني دپړق دسپوږمئ دي.

فمعتقها: عتق، عتقا د ضرب نه په معني دازادولو دي صفت يي عتيق او عاتق راځي.

موبقها: وبق وبقا د ضرب نه په معني دهلاکيدو دي.

تشريح دالوضوء شطر الايمان مطلب دادی طهارت نيم ايمان دی يعني نجاست حقيقي لري کول نيمه صفائي ده اونيمه صفائي نجاست حکومي يعني حسد او کينه او بغض وغيره نه ځپل ځان پاکول دي، په دي حديث کې دي خبري ته ترغيب دی لکه څنګه چې زمونږ دپاره ظاهري پاکوالی ضروري دی نو همدارنګې باطني پاکوالي حاصلولو دپاره کوشش کول هم ضروري دي.

دبعضي محدثينو خيال دی چې دلته دطهارت نه مراد مونځ دی لکه څنګه چې په قران کريم

---

[1] ـ صحيح مسلم/الطهارة١(٢٢٣)(تحفة الأشراف:١٢١٦٤)

کې ایمان ذکر شوی وي او مراد ورنه مونځ وي لکه چې الله تعالی فرمائیلي دي وما کان الله لیضیع ایمانکم، دایت مطلب دادی چې دمونځ دصحت دپاره طهارت اهم ترین شرط دی نو په دي وجه ددینه په نیم طهارت سره تعبیر شوی دی ، په احیاء العلوم کې ذکر شوي دي چې د "الطهور شطر الایمان" نه مراد صرف دا نه دي چې په ظاهري اعضاؤ دي اوبه اوبهیولی شي بلکه ددي سره سره خپل زړه دحسد او تکبر او نورو ناکارو قصائصو نه پاکول مراد دي.

"الحمدلله تملا المیزان" په دي جمله کې په الحمد لله دثواب مقدار ته اشاره ده چې دقیامت په ورځ به الحمد لله دثواب تله ډکوي .

"الصلاة نور" یعني په دنیا کې هم په مونځ سره حق طرف ته رهنمائي ملاویږي او په قیامت کې به هم په پل صراط دتیریدو په وخت کې رڼا ملاویږي.

"الصدقة برهان" مطلب دادی چې صدقه ورکول دمومن کیدو علامه او دلیل دی او همدا رنګې داخلاص دلیل دی

"الصبر ضیاء" صبر رڼا ده یعني صبر دمومن اسلحه ده ، په دي باندي مومن ته استقامت ملاویږي.

"القران حجة لك او علیك" او په یو بل روایت کې راغلي دي "یحاج العباد" یعني قران کریم به په قیامت کې دبندګانو دطرفه جګړه کوي لکه څنګه چې انسانان دخپل حق باره کې یو دبل سره جګړې کوي، ددینه معلومه شوه چې قران صرف دنجات دپاره لوستل کافي نه دي بلکه دنجات دپاره دي سره سره عمل هم ضروري دی دویم مطلب دا هم کیدی شي چې څوك دقران حقوق ادا کوي نو قران به دهغوی دپاره دقیامت په ورځ سفارشي وي او دده دپاره به حجت او دلیل اوګرځي خو که چا دقران حقوق ادا نکړل نو همدا قران به دقیامت په ورځ دهغه په خلاف دلیل اوګرځي. (مرقات، احیاء العلوم)

****

٨٧_باب

دماقبل باب متعلق یو بل باب

٣٥١٨_حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ عَرَفَةَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زِيَادِ بْنِ أَنْعُمٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «التَّسْبِيحُ نِصْفُ المِيزَانِ، وَالحَمْدُ لِلَّهِ يَمْلَؤُهُ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ لَيْسَ لَهَا دُونَ اللَّهِ حِجَابٌ حَتَّى تَخْلُصَ إِلَيْهِ». قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالقَوِيِّ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ

زِيَادِ بْنِ أَنْعُمٍ هُوَ الإِفْرِيقِيُّ، وَقَدْ ضَعَّفَهُ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَيَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ يَزِيدَ هُوَ أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ الحُبُلِيُّ. ([1])

ترجمه: دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تسبيح (سبحان الله وئيل) نيم ميزان ډكوي او الحمد لله دميزان باقي تشه حصه ډكوي او د لااله الاالله الله ته په رسيدو كي هيڅ حجاب او پرده نشته.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند غريب دي او سند يي څه خاص قوي نه دي. او عبد الرحمن بن زياد بن انعم د افريقي اوسيدونكي دي چي احمد بن حنبل او يحي بن معين ضعيف ګڼلى دى او عبد الله بن يزيد په ابو عبد الرحمن الحبلي مشهور دى.

****

٣٥١٩ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ جُرَيٍّ النَّهْدِيِّ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ، قَالَ: عَدَّهُنَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي يَدِي أَوْ فِي يَدِهِ، التَّسْبِيحُ نِصْفُ المِيزَانِ، وَالحَمْدُ لِلَّهِ يَمْلَؤُهُ، وَالتَّكْبِيرُ يَمْلَأُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ، وَالصَّوْمُ نِصْفُ الصَّبْرِ، وَالطُّهُورُ نِصْفُ الإِيمَانِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رَوَاهُ شُعْبَةُ، وَسُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ. ([2])

ترجمه: دبني سليم قبيلي ديو كس بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زما دلاس په ګوتو يا دخپل لاس په ګوتو اوشميرل او بيا يي اوفرمائيل سبحان الله به نيم ميزان نيولي وي او الحمد لله پوره ميزان ډكوي او الله اكبر دزمكي او اسمان مينځ كي تمامه خلاء ډكوي، روژه نيم صبر دي او طهارت نيم ايمان دي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن دي داحديث شعبه او سفيان ثوري دابواسحاق نه نقل كړي دي.

****

٨٨ـ باب

دماقبل باب متعلق يوبل باب

٣٥٢٠ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمٍ المُؤَدِّبُ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ ثَابِتٍ، حَدَّثَنِي قَيْسُ بْنُ الرَّبِيعِ وَكَانَ مِنْ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٨٦٣)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٥٢١)

بَنِي أَسَدٍ، عَنِ الأَغَرِّ بْنِ الصَّبَّاحِ، عَنْ خَلِيفَةَ بْنِ حُصَيْنٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: أَكْثَرُ مَا دَعَا بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشِيَّةَ عَرَفَةَ فِي الْمَوْقِفِ: " اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ كَالَّذِي نَقُولُ وَخَيْرًا مِمَّا نَقُولُ، اللَّهُمَّ لَكَ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي وَإِلَيْكَ مَآبِي وَلَكَ رَبِّ تُرَاثِي، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَوَسْوَسَةِ الصَّدْرِ وَشَتَاتِ الأَمْرِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا تَجِيءُ بِهِ الرِّيحُ ".
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ. [1]

ترجمه : دعلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله سلي الله عليه وسلم به دوقوف عرفه په دوران کي دمابنام وخت کي اکثر کومي دعاګاني غوښتلي هغه دادي:

" اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ كَالَّذِي نَقُولُ وَخَيْرًا مِمَّا نَقُولُ، اللَّهُمَّ لَكَ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي وَإِلَيْكَ مَآبِي وَلَكَ رَبِّ تُرَاثِي، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَوَسْوَسَةِ الصَّدْرِ وَشَتَاتِ الأَمْرِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا تَجِيءُ بِهِ الرِّيحُ "

يعني اي الله زما مونځ، زما قرباني، زما زندګي او مرګ، او زما واپس درتلل صرف تاته دي، اي زما ربه زما وارث صرف ته يي، او اي الله زه دقبر دعذاب نه او دزړه دوسوسو نه او دمتفرق خيالاتو نه په تاباندي پناه غواړم او اي الله زه په تاباندي پناه غواړم دهر هغه شر نه کوم لره چي هوا يي راوړي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند غريب دي او اسنادا ئه خاص قوي نه دي.

****

٨٩ــ باب

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٥٢١ــ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمٍ الْمُؤَدِّبُ، حَدَّثَنَا عَمَّارُ بْنُ مُحَمَّدٍ ابْنُ أُخْتِ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ أَبِي سُلَيْمٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَابِطٍ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، قَالَ: دَعَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِدُعَاءٍ كَثِيرٍ لَمْ نَحْفَظْ مِنْهُ شَيْئًا، قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ، دَعَوْتَ بِدُعَاءٍ كَثِيرٍ لَمْ نَحْفَظْ مِنْهُ شَيْئًا، فَقَالَ: " أَلاَ أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَجْمَعُ ذَلِكَ كُلَّهُ، تَقُولُ: اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا سَأَلَكَ مِنْهُ نَبِيُّكَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا اسْتَعَاذَ مِنْهُ نَبِيُّكَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَنْتَ الْمُسْتَعَانُ وَعَلَيْكَ الْبَلاَغُ وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ

---

[1] ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٠٨٢)

حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه : ابي امامه رضي الله عنه نه روايت دی يوه ورځ رسول الله صلي الله عليه وسلم ډيره دعا اوغوښته مونږ ته تری هيڅ هم يادنه شو مونږ عرض اوکړو يا رسول الله تاسو دومره ډيره دعا اوغوښته خو مونږ ته تری هيڅ هم يادنه شو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل تاسو ته به داسی جامعه دعا اوښايم چي داټولی دعاګانی پکښ راشي، داسی وائي:

اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا سَأَلَكَ مِنْهُ نَبِيُّكَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا اسْتَعَاذَ مِنْهُ نَبِيُّكَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَنْتَ الْمُسْتَعَانُ وَعَلَيْكَ الْبَلَاغُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ"

اي الله زه تانه هره هغه بهتري غواړم کومه چي درنه ستا رسول الله صلي الله عليه وسلم غوښتی ده، اودهر هغه شرنه پناه غواړم کوم نه چي ستا رسول الله صلي الله عليه وسلم پناه غوښتي ده هم ته توفيق ورکوونکی يې او هم ته رسوونکی يې دهيڅ بدئ نه منع کيده اودهيڅ نيکئ توفيق نشته بغير دالله تعالي دامداد نه.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن غريب دي.

لغات : نحفظ: حفظ يحفظ حفظا معني حفاظت کول، ادلکم: دلالت معني لار ښودل استعاذک دباب استفعال نه مدد طلب کول مجرد يي دباب نصر نه راځي.

تشريح : ابوامامه رضي الله عنه ددي سوال کولو په وجه دامت دپاره ډيره اساني پيدا کړه او دا خکه کچري په غور سره اوکتلی شي نو درسول الله نه ډيري دعاګاني منقول دي چي ديادولو دپاره يي يو مستقل عمر پکار دی نو که صرف پورتنی حديث ياد کړی شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم چي په ديرشت کاله کښ څومره دعاګاني غوښتلي دي دهغي ټولو خلاصه به دي کښ راغله.

****

۹۰_باب

دسابقه باب متعلق يوبل باب

۳۵۲۲_حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ مُعَاذٍ، عَنْ أَبِي كَعْبٍ صَاحِبِ الحَرِيرِ، حَدَّثَنِي شَهْرُ بْنُ حَوْشَبٍ، قَالَ: قُلْتُ لِأُمِّ سَلَمَةَ: يَا أُمَّ المُؤْمِنِينَ، مَا كَانَ أَكْثَرُ دُعَاءِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى

1 _ تفرد به المؤلف في السنن الجامع.

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ عِنْدَكِ. قَالَتْ: كَانَ أَكْثَرُ دُعَائِهِ: "يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ". قَالَتْ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا لأَكْثَرِ دُعَاءَكَ يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ ؟ قَالَ: يَا أُمَّ سَلَمَةَ: "إِنَّهُ لَيْسَ آدَمِيٌّ إِلَّا وَقَلْبُهُ بَيْنَ أُصْبُعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ اللَّهِ فَمَنْ شَاءَ أَقَامَ وَمَنْ شَاءَ أَزَاغَ". فَتَلَا مُعَاذٌ: رَبَّنَا لا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا سورة آل عمران آية ٨. قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَائِشَةَ، وَالنَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ، وَأَنَسٍ، وَجَابِرٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَنُعَيْمِ بْنِ هَمَّارٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. [1]

ترجمه دشهر بن حوشب رضي الله عنه روايت دی چي ما ام المومنين ام سلمه رضي الله عنه ته اوونيل چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به اكثر كومه دعا غوښتله كله چي به تاسو سره وو هغی اوفرمائيل رسول الله صلي الله عليه وسلم به اكثر دا دعاغوښتله ای دزړونو بدلونكيه خما زړه په خپل دين مضبوط كړی.ام سلمه وايي چي ما عرض وكړو اي د الله رسوله څه وجه ده چي اكثر دا دعا "يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ" زياته غواړي ؟راته يي اوفرمائيل اي ام سلمه د هر يو بنده زړه د الله تعالي ددوه ګوتو په مينځ كي وي پس هغه كه د چا زړه سمول اوغواړي نو سموي اوكه د چا زړه كږول اوغواړي نو كوږ يي كړي نو معاذ رضي الله عنه دا ايت كريمه رَبَّنَا لا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا ولوستلو.

امام ترمذي رحمه الله وايي. په دي باب كي د عائشه او نواس بن سمعان ،انس، جابر، عبد الله بن عمرو. او نعيم بن همار رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دا حديث حسن صحيح دی

لغات : مقلب اړونكي، ثبت ثابت شو، كيناستو ،دكرم نه معني بهادري

تشريح : يا ام المومنين دلته يي دام سلمه رضي الله عنها نوم نه دی اخستلی بلكه كنيت يي ذكر كړی دی ددي وجه داده چي دا دادب تقاضا ده دمشرانو او معززو خلقو دنوم اخستلو په ځاي باندي هغوی لره په لقب ذكر كول پكار دي

ازواج مطهرات دامت ميندي دي لكه چي قراني ارشاد دی وازواجه امهاتهم يعني درسول الله بي بياني دامت ميندي دي مور ورته دتعظيم او تكريم په وجه وئيلی شوي دي ورنه احكام دحرمت دنكاح دمحرم كيدوپه وجه په مينځ كي دپردي نه كيدل او په ميراث كي حصه دار كيدل نه دي.

يا مقلب القلوب، ای دزړونو اړونكيه يعني دهدايت نه پس ګمراهي يا دګمراهۍ نه پس

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٨/٦٣). و مسند احمد (٦/٣١٥)

هدايت ورکونکيه

ثبت قلبي علي دينك: زما زړه پخپل دين مضبوط کړي دا دعا به رسول الله تواضعا کوله ورنه هغه خو معصوم وو او په دين باندي دهغه استقامت لازمي وو علماء وائي دي حديث کې دي خبري ته اشاره شوي ده چي اصل مقصد په دين استقامت او حسن خاتمه ده او که دا دولت دچا نصيب نشي نو تمام عبادات به يي ضايع شي

علماء وائي دقران کريم په دي ايت "**ربنا لا تزغ قلوبنا بعد اذ هديتنا**، کې هم دي ته اشاره ده يعني اى زمونږ پروردګاره زمونږه زړونه کاږه نکړي پس دهغه نه چي تا مونږ ته هدايت رانصيب کړى دى

دشهر بن حوشب رضي الله عنه حالات

نوم شهر دپلار نوم حوشب دى او مشهور تابعي دى دخپلي زماني دلويو علماؤ دجملي نه دى دعثمان بن عفان رضي الله عنه دخلافت په زمانه کې پيدا شوى وو انتهائي متقي انسان وو، ونيلى شوي دي چي يو واده ته تلى وو او هلته ګاني ونيلى کيدي نو فورا دهغه خاي نه روان شو، امام احمد بن حنبل وائي چي پخپل ښار کې ثقه دى دده روايات صحيح دي، همدا خبره معاويه بن صالح، احمد بن زبير، يحيي بن معيم هم دده په باره کې کړى دى په ۱۱۲ هجري کې وفات شوى دى صرف دوه روايتونه ورنه منقول دي

****

۹۱_باب

د سابقه باب متعلق يو بل باب

۳۵۲۳_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمٍ الْمُؤَدِّبُ، حَدَّثَنَا الْحَكَمُ بْنُ ظُهَيْرٍ، حَدَّثَنَا عَلْقَمَةُ بْنُ مَرْثَدٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: شَكَا خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ الْمَخْزُومِيُّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا أَنَامُ اللَّيْلَ مِنَ الأَرَقِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَقُلْ: اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَوَاتِ السَّبْعِ وَمَا أَظَلَّتْ، وَرَبَّ الأَرَضِينَ وَمَا أَقَلَّتْ، وَرَبَّ الشَّيَاطِينِ وَمَا أَضَلَّتْ، كُنْ لِي جَارًا مِنْ شَرِّ خَلْقِكَ كُلِّهِمْ جَمِيعًا أَنْ يَفْرُطَ عَلَيَّ أَحَدٌ مِنْهُمْ أَوْ أَنْ يَبْغِيَ، عَزَّ جَارُكَ وَجَلَّ ثَنَاؤُكَ وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ وَلَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالقَوِيِّ، وَالْحَكَمُ بْنُ ظُهَيْرٍ قَدْ تَرَكَ حَدِيثَهُ بَعْضُ أَهْلِ الحَدِيثِ، وَيُرْوَى هَذَا الحَدِيثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه : د بريده درضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي خالد بن وليد مخزومي رضي الله عنه نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته دشكايت كولو په حال كي اووئيل اي دالله رسوله زه ټوله شپه دخوب نه راتلو په وجه ويښ پروت يم رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل ته چي كله پخپله بستره داوده كيدو دپاره بستري ته ورشي نو دا دعا وايه :

" اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَوَاتِ السَّبْعِ وَمَا أَظَلَّتْ، وَرَبَّ الأَرَضِينَ وَمَا أَقَلَّتْ، وَرَبَّ الشَّيَاطِينِ وَمَا أَضَلَّتْ، كُنْ لِي جَارًا مِنْ شَرِّ خَلْقِكَ كُلِّهِمْ جَمِيعًا أَنْ يَفْرُطَ عَلَيَّ أَحَدٌ مِنْهُمْ أَوْ أَنْ يَبْغِيَ، عَزَّ جَارُكَ وَجَلَّ ثَنَاؤُكَ وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ وَلَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ "

يعني اي الله داوه اسمانونو ربه او دهغه اشياؤ ربه په كومو ځيزونو چي دي اسمانونو سوري كړي دي، او د اوه زمكو ربه او دهغه ټولو ځيزونو ربه دكومو چي زمكو بوج پورته كړي دي او دشيطانانو ربه او دهغه ځيزونو ربه كوم چي دوئ گمراه كړي دي مالره دخپل ټول مخلوق دشر نه دبچ كولو دپاره زما گاونډي جوړ شي تردي چي نه په دوئ كي ځوك په ماباندي ظلم اوكړي شي او نه دبغاوت او سركشئ ځوك مرتكب شي يقينا ستا گاونډي معزز وي او ستا شان لوي دي او ستا نه علاوه بل هيڅوك حقدار دبندگئ نشته.

امام ترمذي رحمه الله وايي: ددي حديث سند قوي نه دي.

بعضي محدثين دحكيم بن زهير نه اخذ درروايت نه كوي، او بعضي محدثينو د حكم بن ظهير احاديث پريښودلي دي او دا حديث دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه په يو بل سند هم مرسل مروي دي.

دبريده رضي الله عنه حالات

نوم بريده كنيه ابو عبدالله او دپلار نوم مصيب بن عبدالله.

كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني ته ورسيدو نو بريده يي په خدمت كي حاضر شو نو رسول الله ورته داسلام دعوت وركړو نو دى فورا مسلمان شو او دده سره دبني اسلم اتيا كسان په اسلام كي داخل شول (طبقات ابن سعد).

په صلح حديبيه او بيعة الرضوان كي يي هم شركت كړى دى (اسد الغابه).

او په فتح مكه كي يي هم ملگرتيا كړي وه (مسند احمد).

تقريبا په شپاړسو غزواتو كي شريك پاتي شوى دى (بخاري كتابُ المغازي).

كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم داسامه په مشرئ كي اخر لښكر تيار كړو نو په دي كي

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٩٣٠)

هم شريك وو (طبقات ابن سعد).
غرض دا چي دده په رگ رگ كي دجهاد جذبي تويونه وهل او دژوند مزه به يي داسونو په زغلولو كي ليدله (طبقات ابن سعد).
ديزيد په زمانه كي دهجرت په ۲۳كال وفات شو چي دمروياتو شمير يي ۱۲۴دى يو متفق عليه دى او دوه په بخاري كي دي يولس په مسلم كي دي (تهذيب الكمال).

****

۹۲_باب

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٥٢٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمٍ الْمُكْتِبُ، حَدَّثَنَا أَبُو بَدْرٍ شُجَاعُ بْنُ الْوَلِيدِ، عَنْ الرُّحَيْلِ بْنِ مُعَاوِيَةَ أَخِي زُهَيْرِ بْنِ مُعَاوِيَةَ، عَنِ الرَّقَاشِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَرَبَهُ أَمْرٌ قَالَ: يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ".
وَبِإِسْنَادِهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَلِظُّوا بِيَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ أَنَسٍ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ.[1]

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي كله چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم لره يو كار په پريشانئ كي واچولو نو دا دعا به يي وئيله " يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ ""
امام ترمذي رحمه الله وايي: او په مذكوره سند دا مضمون هم مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي يا ذوالجلال والاكرام الفاظ وئيل په خان باندي لازم كرئ يعني لازما يي پخپلو دعاگانو كي شامل كرئ.
امام ترمذي وائي داحديث په دي سند غريب دي او دانس رضي الله عنه نه ددي سند نه علاوه په بل سند هم مروي دي.

****

٣٥٢٥_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا الْمُؤَمَّلُ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَلِظُّوا بِيَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَلَيْسَ بِمَحْفُوظٍ، وَإِنَّمَا يُرْوَى هَذَا عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنِ الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ،

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦٤٤)

عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهَذَا أَصَحُّ وَمُؤَمَّلٌ غَلِطَ فِيهِ. فَقَالَ: عَنْ حَمَّادٍ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ وَلَا يُتَابَعُ فِيهِ. (1)

ترجمه دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي د

ياذا الجلال والاكرام كلماتو ويلو التزام وكړئ.

امام ترمذي وائي داحديث غريب دي محفوظ نه دي داحديث حماد بن سلمه دحميد نه اوهغه دحسن بصري په واسطه درسول الله نه مرسل نقل كړي دي او دا حديث زيات صحيح دي او مومل نه په دې كي غلطي شوي ده لكه چي هغه عن حميد عن انس ونيلي دي او حال دادي چي په دې كي دده هيڅوك متابع نشته.

****

٩٣_باب

د سابقه باب متعلق يوبل باب

٣٥٢٦_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَرَفَةَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي حُسَيْنٍ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ طَاهِرًا يَذْكُرُ اللَّهَ حَتَّى يُدْرِكَهُ النُّعَاسُ، لَمْ يَنْقَلِبْ سَاعَةً مِنَ اللَّيْلِ يَسْأَلُ اللَّهَ شَيْئًا مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا أَيْضًا عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أَبِي ظَبْيَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (2)

ترجمه دابوامامه باهلي رضي الله عنه بيان دي فرماني چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي څوك چي خان ښه پاك كړي او خپلي بستري ته داوده كيدو دپاره ورشي او دالله تعالي دذكر كولو په حال كي ورته خوب راشي نو دشپي په هره لمحه كي چي بيدار شي نو دالله تعالي نه ددنيا او اخرت دخير او بركت هر څه چي اوغواړي الله تعالي به يي ورته ضرور وركړي

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن غريب دي او دا حديث دشهر بن حوشب نه په سند د ظبية عن عمرو بن عنبسه عن النبي صلي الله عليه وسلم سره مروي دي

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٢٦)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٨٨٩)

****

۹۴_باب
د سابقه باب متعلق يوبل باب

۳۵۲۷_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي الْوَرْدِ، عَنِ اللَّجْلَاجِ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، قَالَ: سَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يَدْعُو، يَقُولُ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ تَمَامَ النِّعْمَةِ، فَقَالَ: " أَيُّ شَيْءٍ تَمَامُ النِّعْمَةِ ؟ " قَالَ: دَعْوَةٌ دَعَوْتُ بِهَا أَرْجُو بِهَا الْخَيْرَ، قَالَ: " فَإِنَّ مِنْ تَمَامِ النِّعْمَةِ دُخُولَ الْجَنَّةِ وَالْفَوْزَ مِنَ النَّارِ ". وَسَمِعَ رَجُلًا وَهُوَ يَقُولُ: يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ، فَقَالَ: " قَدِ اسْتُجِيبَ لَكَ فَسَلْ ". وَسَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا وَهُوَ يَقُولُ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الصَّبْرَ، فَقَالَ: " سَأَلْتَ اللَّهَ الْبَلَاءَ فَسَلْهُ الْعَافِيَةَ ".

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ، نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.[1]

ترجمه : دمعاذ بن جبل رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ديو کس نه دا دعا واوريدله " اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ تَمَامَ النِّعْمَةِ " يعني اي الله زه ستا نه دکامل نعمتونو مطالبه کوم رسول الله ددي کس نه تپوس اوکړو کامل نعمت څه څيز دي هغه اوونيل ما يوه دعا غوښتلي وه او زما اميد دي چي ماته به ددينه خير حاصليږي رسول الله اوفرمائيل يقينا په نعمت تامه کي جنت ته دخول او دجهنم نه نجات دواړه شامل دي، بيا رسول الله دنورو دود کسانو نه يوه دعا واوريدله چي ونيل يي "ياذاالجلال والاکرام" رسول الله اوفرمائيل ستاسو دعا قبوله شوه پس اوغواړئ څه چي مو خوښه وي رسول الله ديو بل کس نه دعا واوريدله چي ونيل يي "اللهم اني اسئلك الصبر" يعني اي الله زه ستا نه صبر غواړم رسول الله اوفرمائيل تا د الله نه مصيبت اوغوښتلو نو په دي وجه ورنه عافيت هم اوغواړه

****

۳۵۲۸_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " إِذَا فَزِعَ أَحَدُكُمْ فِي النَّوْمِ فَلْيَقُلْ أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ۱۱۳۵۸) . و مسند احمد (۵/۲۳۵)

يَحْضُرُونِ. فَإِنَّهَا لَنْ تَضُرَّهُ". قَالَ: وَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو يُلَقِّنُهَا مَنْ بَلَغَ مِنْ وَلَدِهِ وَمَنْ لَمْ يَبْلُغْ مِنْهُمْ كَتَبَهَا فِي صَكٍّ ثُمَّ عَلَّقَهَا فِي عُنُقِهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه عمروبن شعيب دخپل پلارنه اوهغه دده دنيكه نه روايت كوي فرمائي چې رسول كريم صلي الله عليه وسلم به په خوب كې دويرې په وخت كې خلقوته داكلمات خودل:

أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ

يعني زه دالله تعالي په تمامو كلماتوسره پناه غواړم دهغه دغضب نه اودهغه د عذاب نه اودهغه دبندګانودشرنه اودوسوسو دشيطان نه اوددي نه چې شيطان زماخواته راشي ، دعبدالله بن عمر رضي الله عنه به اولاد كې چې به ځوك دهوښياريدو اود بلوغ حد ته ورسيدو نوداذعاء به ئې ورته خودله او چې كوم ماشوم به د هوښياريدو حد ته لا نه وو رسيدلى نو دا دعاء به يې اوليكله اوپه غاړه كې به ئې ورته واچوله.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن غريب دي.

****

٩٥_باب

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٥٢٩_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَرَفَةَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ أَبِي رَاشِدٍ الْحُبْرَانِيِّ، قَالَ: أَتَيْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ فَقُلْتُ لَهُ: حَدِّثْنَا مِمَّا سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَأَلْقَى إِلَيَّ صَحِيفَةً، فَقَالَ: هَذَا مَا كَتَبَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: فَنَظَرْتُ فَإِذَا فِيهَا: إِنَّ أَبَا بَكْرٍ الصِّدِّيقَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، عَلِّمْنِي مَا أَقُولُ إِذَا أَصْبَحْتُ وَإِذَا أَمْسَيْتُ، فَقَالَ: " يَا أَبَا بَكْرٍ، قُلِ اللَّهُمَّ فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ، عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَهُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِي وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشِرْكِهِ، وَأَنْ أَقْتَرِفَ عَلَى نَفْسِي سُوءًا أَوْ أَجُرَّهُ إِلَى مُسْلِمٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [2]

ترجمه : ابوراشد حبراني وائي زه عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهماته ورغلم او

---

[1] ـ سنن ابي داود/الطب ١٩ (٣٨٩٣) (تحفة الأشراف: ٨٨١٠)

[2] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٩٥٨)

ورته مي اوونيل تا چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه كوم حديث اوريدلي وي هغه راته بيان كړه نو هغه يوه ليكلي شوي پاڼړه ماته پيش كړه او ونيل يي دا هغه كاغذ دي كوم چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ليكلي شوي مونږ ته راكړي وو ما چي اوكتل نو په دي كي ليكلي شوي وو ابوبكر رضي الله عنه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته عرض اوكړو اي دالله رسوله ماته كومه داسي دعا اوښايه چي زه يي سحر او ماښام وايم رسول الله اوفرمائيل اي ابوبكر دا دعا وايه:

" اللَّهُمَّ فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ، عَالِمَ الغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَهُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِي وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشِرْكِهِ، وَأَنْ أَقْتَرِفَ عَلَى نَفْسِي سُوءًا أَوْ أَجُرَّهُ إِلَى مُسْلِمٍ "

يعني اي الله چي داسمانونو او زمكي پيدا كونكي يي دپټو او ښكاره څيزونو خبردار يي ستا نه علاوه بل هيڅوك حقدار دبندګۍ نشته ته دهر څيز رب او دهر څيز بادشاه يي اي الله زه په تاباندي پناه غواړم دخپل نفس دشر نه او دشيطان دشر نه او دهغه په جال كي دګيريدو نه او زه پناه غواړم ددي خبري نه چي زه دخپل ځان خلاف كومه ګناه اوكړم او يا په دي ګناه كي كوم مسلمان لره ملوث كړم

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي.

****

٩٦_باب

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٥٣٠_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا وَائِلٍ قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ، يَقُولُ: قُلْتُ لَهُ: أَنْتَ سَمِعْتَهُ مِنْ عَبْدِ اللَّهِ؟ قَالَ: نَعَمْ وَرَفَعَهُ، أَنَّهُ قَالَ: " لَا أَحَدَ أَغْيَرُ مِنَ اللَّهِ وَلِذَلِكَ حَرَّمَ الفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ، وَلَا أَحَدَ أَحَبُّ إِلَيْهِ المَدْحُ مِنَ اللَّهِ، وَلِذَلِكَ مَدَحَ نَفْسَهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ.(1)

ترجمه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دالله تعالي نه زيات غيرت مند هيڅوك نشته همدا وجه ده چي الله تعالي بي حيايي حرامه

1 - اورده البخاري في الجامع الصحيح /التفسير سورة الأنعام ٤ (٤٦٣٤)، وسورة الأعراف ١ (٤٦٣٧)، والنكاح ١٠٧ (٥٢٢٠)، والتوحيد ١٥ (٧٤٠٣)، ومسلم /التوبة ٦ (٢٧٦٠) (تحفة الأشراف: ٩٢٨٤)، ومسند احمد (١/٣٨١، ٤٢٦، ٤٣٦)

کړي ده برابره خبره ده چي ښکاره بي حيايي وي او که پټه وي او په مخلوق کي هيڅوك داسي نشته چي تعريف يي دالله تعالي نه زيات خوښ وي همدا وجه ده چي الله تعالي خپل تعريف پخپله کړي دي
امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي.

****

٩٧_باب

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٥٣١_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ أَبِي الْخَيْرِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ أَنَّهُ قَالَ لِرَسُولِ اللَّهِ: عَلِّمْنِي دُعَاءً أَدْعُو بِهِ فِي صَلَاتِي، قَالَ: " قُلِ اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ، فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَهُوَ حَدِيثُ لَيْثِ بْنِ سَعْدٍ، وَأَبُو الْخَيْرِ اسْمُهُ مَرْثَدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْيَزَنِيُّ. [1]

ترجمه: ابوبكر صديق رضي الله عنه نه روايت دی چي ما عرض اوکړو يا رسول الله صلي الله عليه وسلم داسی دعا راته اوښايه چي زه يی په مانځه کی وايم، رسول الله صلي الله عليه وسلم راته اوفرمائيل داسی وايه:

اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ، فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ "

يا الله ما په خپل خان ډير ظلم کړی دی اوبل هيڅوك ګناهونه نشي معاف کولی بغير له تانه نوته ماته دخپل طرف نه معافي راکړی او په ما رحم اوکړی بيشکه ته ډير بخښونکی اوډير مهربانه يی.
امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح غريب دي او دا حديث دليث بن سعد دي او دابوالخير نوم مرثد بن عبدالله يزني دي

لغات: علمني دباب تفعيل نه حقيقت ته رسيدل، ظلمت: ظلم يظلم ظلما په معني دظلم کولو

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الأذان ٣٩ (٨٣٤) . والدعوات ١٧ (٦٣٢٦) . والتوحيد ٩ (٧٣٨٨) . صحيح مسلم/الدعاء والذكر ١٣ (٢٧٠٥) . سنن النسائي/السهو ٥٩ (١٣٠٣) . سنن ابن ماجه/الدعاء ٢ (٣٨٣٥) (تحفة الأشراف: ٦٦٠٦) .. مسند احمد (٣/١/٧)

اود باب افعال نه معني تياره

تشريح:اوبه يوروايت كې في صلاتي سره في بيتي هم دى يعني داسى دعا چي په مانځه كي يى هم وايم اوهسى يى هم كله چي دعا غواړم وايم او په يو روايت كې ظلما كثيرا دى په ث باندى اوبل روايت كې ظلما كبيرا دى په "ب" باندى يعنى غټ ظلم.

دا يوه ډيره جامع دعا ده ددي اندازه ددينه لګيدلى شي چي دا رسول الله صلي الله عليه وسلم خپل محبوب دوست او دغار ملګري ته خودلي وه بعضي علماء وائي چي دا دتشهد نه پس په مونځ كې وئيلى شي او علامه ابن دقيق هم ديته ترجيح وركړي ده ، علامه كرماني او ابن حجر هم ددي قائل دي.

مغفرة من عندك: ابن جوزي ددي دا مطلب بيان كړي دي چي اي الله ته دخپل طرفه ماته مغفرت وكړي زه خو بلكل ددي لائق نه يم ، اودا مغفرت به ستاد طرفه ستا فضل وي.

****

٣٥٣٢_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ. حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ الْمُطَّلِبِ بْنِ أَبِي وَدَاعَةَ، قَالَ: جَاءَ الْعَبَّاسُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَأَنَّهُ سَمِعَ شَيْئًا، فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ: "مَنْ أَنَا؟" فَقَالُوا: أَنْتَ رَسُولُ اللَّهِ عَلَيْكَ السَّلَامُ. قَالَ: " أَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ إِنَّ اللَّهَ خَلَقَ الْخَلْقَ فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ فِرْقَةً، ثُمَّ جَعَلَهُمْ فِرْقَتَيْنِ فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ فِرْقَةً، ثُمَّ جَعَلَهُمْ قَبَائِلَ فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ قَبِيلَةً، ثُمَّ جَعَلَهُمْ بُيُوتًا فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ بَيْتًا، وَخَيْرِهِمْ نَسَبًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.[1]

ترجمه دعبدالمطلب بن ابي وداعه بيان دي چي عباس رضي الله عنه نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته ورغلو او رسول الله كومه خبره واوريدله دكومي چي ورته عباس خبر وركړو دي وخت كي رسول الله په منبر كيناستو او تپوس يي اوكړو زه څوك يم خلقو اووئيل ته دالله رسول يي په تا دي سلامتي نازله شي رسول الله اوفرمائيل زه محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب يم الله تعالي چي مخلوق پيدا كړو نو زه يي په بهترينه ډله كي پيدا كړم او بيا يي په دي ډله كي دوه ډلي جوړي كړي او زه يي په دي دواړو ډلو كي په ډيره بهتره ډله كي پيدا كړم او بيا يي په دي كي مختلفي قبيلي جوړي كړي پس زه يي دتولو نه بهتره قبيله كي شامل كړم بيا يي هغوئ په كورنو تقسيم كړل نو زه يي په بهترين نسب او بهترين خاندان كي پيدا كړم.

[1] _ تفرد به المؤلف. وأعاده في المناقب/(٣٦٠٨) (تحفة الأشراف : ١١٢٨٦)

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن دي

****

۹۸_باب

د سابقه باب متعلق يو بل باب

۳۵۲۳_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا الفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِشَجَرَةٍ يَابِسَةِ الوَرَقِ فَضَرَبَهَا بِعَصَاهُ فَتَنَاثَرَ الوَرَقُ، فَقَالَ: "إِنَّ الحَمْدَ لِلَّهِ وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ لَتُسَاقِطُ مِنْ ذُنُوبِ العَبْدِ كَمَا تَسَاقَطَ وَرَقُ هَذِهِ الشَّجَرَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَلَا نَعْرِفُ لِلأَعْمَشِ سَمَاعًا مِنْ أَنَسٍ إِلَّا أَنَّهُ قَدْ رَآهُ وَنَظَرَ إِلَيْهِ. (1)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم ديوي داسي اوچي وني په خوا كي تير شو چي پاڼي يي اوچي شوي وي نو پخپله همسا يي اووهله تردي چي پاڼي ورنه اورژيدي او بيا يي اوفرمائيل:

"إِنَّ الحَمْدَ لِلَّهِ وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ"

ونيلو سره ديو بنده گناهونه داسي رژيږي څنگه چي ددي وني پاڼي اورژيدلي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي دانس نه داعمش سماع مونږ ته معلومه نه ده (يعني ثابته نه ده) مگر دا خبره واقعي ده چي اعمش دانس رضي الله عنه سره ملاقات كړي دي.

****

۳۵۲٤_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ الجُلَاحِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ الحُبُلِيِّ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ شَبِيبٍ السَّبَائِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ المُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ عَشْرَ مَرَّاتٍ عَلَى إِثْرِ المَغْرِبِ، بَعَثَ اللَّهُ مَسْلَحَةً يَحْفَظُونَهُ مِنَ الشَّيْطَانِ حَتَّى يُصْبِحَ، وَكَتَبَ اللَّهُ لَهُ بِهَا عَشْرَ حَسَنَاتٍ مُوجِبَاتٍ، وَمَحَا عَنْهُ عَشْرَ سَيِّئَاتٍ مُوبِقَاتٍ، وَكَانَتْ لَهُ بِعَدْلِ عَشْرِ رِقَابٍ مُؤْمِنَاتٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ لَيْثِ بْنِ سَعْدٍ، وَلَا نَعْرِفُ لِعُمَارَةَ بْنِ شَبِيبٍ

---

1 تفرد به المؤلف، وأعاده في المناقب (٣٦٠٨) (تحفة الأشراف: ١١٢٨٦)

سَمَاعًا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (١)

ترجمه : د عماره بن شبيب بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي دمابنام وخت كي لس پيري دا دعا اوونيله

" لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ. لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ. يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ "

نشته لائق دبندګئ مګر صرف الله تعالي دي چي يواخي دي او شريك ورسره نشته هغه لره بادشاهي ده او هم هغه لائق دتعريف دي چي ژوندي كول او مره كول كوي او هغه يقينا چي په هر څه قادر دي، الله تعالي به دسحر كيدو پوري دده دحفاظت دپاره مسلح فرشتي راليږي چي دشيطان نه به دده حفاظت كوي او ددي كلماتو په بدل كي به دده دپاره لس نيكئ اوليكلي شي چي ده لره به داجر او ثواب مستحق ګرځوي او دده مهلك ګناهونه او بدياني به ختمي كړي او ده ته به دلسو غلامانو ازادولو اجر وركولي شي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي صرف دليث بن سعد په روايت پيژنو او مونږ ته دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دعماره دسماع باره كي علم نشته.

****

٩٩_بَاب فِي فَضْلِ التَّوْبَةِ وَالإِسْتِغْفَارِ وَمَا ذُكِرَ مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ لِعِبَادِهِ

دتوبي او استغفار فضيلت او په بندګانو دالله تعالي درحمتونو بيان

٣٥٣٥_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ. عَنْ عَاصِمِ بْنِ أَبِي النَّجُودِ. عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ. قَالَ: أَتَيْتُ صَفْوَانَ بْنَ عَسَّالٍ الْمُرَادِيَّ أَسْأَلُهُ عَنِ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ. فَقَالَ: مَا جَاءَ بِكَ يَا زِرُّ؟ فَقُلْتُ: ابْتِغَاءَ الْعِلْمِ. فَقَالَ: "إِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا لِطَالِبِ الْعِلْمِ رِضًا بِمَا يَطْلُبُ. فَقُلْتُ: إِنَّهُ حَكَّ فِي صَدْرِي الْمَسْحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ بَعْدَ الْغَائِطِ وَالْبَوْلِ وَكُنْتَ امْرَأً مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجِئْتُ أَسْأَلُكَ هَلْ سَمِعْتَهُ يَذْكُرُ فِي ذَلِكَ شَيْئًا؟ قَالَ: نَعَمْ. "كَانَ يَأْمُرُنَا إِذَا كُنَّا سَفَرًا أَوْ مُسَافِرِينَ أَنْ لَا نَنْزِعَ خِفَافَنَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيهِنَّ إِلَّا مِنْ جَنَابَةٍ. لَكِنْ مِنْ غَائِطٍ وَبَوْلٍ وَنَوْمٍ". فَقُلْتُ: هَلْ سَمِعْتَهُ يَذْكُرُ فِي الْهَوَى شَيْئًا؟ قَالَ: نَعَمْ. فَقُلْتُ: هَلْ سَمِعْتَهُ يَذْكُرُ فِي الْهَوَى شَيْئًا؟ قَالَ: نَعَمْ. كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَبَيْنَا نَحْنُ عِنْدَهُ إِذْ نَادَاهُ أَعْرَابِيٌّ بِصَوْتٍ لَهُ جَهْوَرِيٍّ. يَا مُحَمَّدُ. فَأَجَابَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوًا مِنْ صَوْتِهِ هَاؤُمُ. فَقُلْنَا لَهُ: وَيْحَكَ. اغْضُضْ

---

١ ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ١٨٨ (٥٧٧/٢) (تحفة الأشراف: ١٠٣٨٠) (تراجع الألباني ٣٦٠)

مِنْ صَوْتِكَ فَإِنَّكَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ نُهِيتَ عَنْ هَذَا. فَقَالَ: وَاللَّهِ لَا أَغْضُضُ. قَالَ الْأَعْرَابِيُّ: الْمَرْءُ يُحِبُّ الْقَوْمَ وَلَمَّا يَلْحَقْ بِهِمْ ؟ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ". فَمَا زَالَ يُحَدِّثُنَا حَتَّى ذَكَرَ بَابًا مِنْ قِبَلِ الْمَغْرِبِ مَسِيرَةُ سَبْعِينَ عَامًا عَرْضُهُ. أَوْ يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي عَرْضِهِ أَرْبَعِينَ أَوْ سَبْعِينَ عَامًا. قَالَ سُفْيَانُ: قِبَلَ الشَّامِ. خَلَقَهُ اللَّهُ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ مَفْتُوحًا يَعْنِي لِلتَّوْبَةِ. لَا يُغْلَقُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : روایت کوي زربن حبيش رضي الله عنه چي زه صفوان بن عسال رضي الله عنه ته راغلم په موزو باندي دمسح تپوس مي تري کولو نو هغه راته اوونيل ، ای زرته څه شي دلته راوستی ، ما ورته اووی دعلم حاصلولو طلب هغه راته اوی، طالب ته فرښتی خپلی وزری غوړوي ما ورته اوی: دوړو بولو او لويو بولو نه پس موزو باندي مسح کولو کي مي زړه کي څه شك پيدا شوی دی، ته درسول الله صلي الله عليه وسلم صحابي يي، تاته راغلم چي ايا تا درسول الله صلي الله عليه وسلم نه ددي په حقله څه اوريدلي دي ؟ هغه اووی، او! رسول الله صلي الله عليه وسلم به مونږ ته حکم کولو کله چي به مونږ په سفر کي وو چي دري ورځي او دري شپي بغير دجنابت نه موزی مه اوباسئ (يعني دوړو بولو او لويو بولو او خوب نه پس اودس کولو په وخت کي موزی مه اوباسئ مسح پري کوئ) ما ورته اوی: ايا تا دمحبت په حق کي هم درسول الله صلي الله عليه وسلم نه څه اوريدلي دي، هغه اووی ، او، مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلم سره ناست وو چي يو باندچي راغي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يي په اوچت اواز غږ اوکړو ، يا محمد صلي الله عليه وسلم ! رسول الله صلي الله عليه وسلم هم تقريبا په دغه شان اوچت اواز غږ ورکړو ، هو. ما هغی اعرابي ته اووی تباه شي اواز لږ کم کړه ته دپيغمبر سره خبري کوي او ددی نه (يعني درسول الله صلي الله عليه وسلم په مخکی داوچت اواز نه) منع شوی ده. هغه اووی قسم په الله زه خو اواز نه کم کوم، دغه اعرابي پيغمبر ته عرض اوکړو. بنده ديو قوم سره مينه لري خو هيڅري يي ورسره ملاقات اونه شي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل. دقيامت په ورځ به بنده دهغه قوم سره وي چا سره چي يي مينه وي ، بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ سره خبری جاري اوساتلی تردی چی وبي فرمائيل نمر پريواته طرف ته دتوبی يوه دروازه ده چي پلنوالي کي يي دڅلويښتو يا اويا کالو مزل دی (يايي داوفرمائيل) چي په اس سور ورکښی څلويښت کاله يا اويا کاله مزل کولی شي، په راويانو

---

(1) انظر حديث رقم ٩٦

کې یو کس سفیان وایي دا دروازه شام طرف ته ده، کله نه چې الله تعالی زمکه اسمانونه پیدا کړي دي دا دروازه یي دتوبې دپاره پرانیستې پیدا کړي ده هله به بندیږي چې نمر دمغرب نه راوخیژي.
امام ترمذي رحمه الله وایي: داحدیث حسن صحیح دي
لغات [ابتغاء]ابتغاء، بغی، بغاء د ضرب نه په معنی دطلب کولو دي
[تضع] وضع وضعا وموضعا دفتح نه په معنی د ایخودلو دي
[اجنحة] اجنحة دجناح جمع ده دمرغۍ وزر ته ونیلي شي.
[حك] حك حكا دنصر نه په معنی دسولولو دي
[جهوري] جهُر جهارة د کرم نه په معنی د اواز پورته کولو دي [ویحك] ویح درحم او ترس کلمه ده کله کله دمدح او تعجب په وخت کې هم استعمالیږي لکه چې ویلي شي ویح لزید یعني زید ځومره خوش نصیب دي
[اغضض] غض غضا وغضاضا دنصر نه په معنی د نظر او اواز ټیټولو دي.
تشریح: "ثلاثة ایام ولیالیهن" یعنې هر مسلمان دجنابت دحالت نه علاوه دري ورځې او شپې په سفر کې په موزو بغیر دویستلو مسح کولي شي، د امام ابوحنیفه او شافعي او احمد په نزد دمسافر دپاره دري ورځې او شپې او د مقیم دپاره یوه شپه او یوه ورځ مسح کول جائز دي . احناف وایي دا مسح په حدث اصغر کې وي او که چاته دحدث اکبر ضرورت وي نو په دې صورت کې به دې موزې اوباسي او خپې به وینځي
"**وقد نهیت عن هذا**" دنبي په وړاندې دچغو وهلو نه منع راغلې ده بلکه دهغه په وړاندې په مزه خبرو کولو حکم راغلي دي لکه چې په قران کریم کې ارشاد الهي دي: **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُونَ (الحجرات۲)**
ترجمه یعني اي مومنانودنبي داواز دپاسه خپل اواز مه تیزوئ اوچغې ورته مه وهئ لکه ناسوچې پخپل مینځ کې یوبل ته چغې وهئ هسې نه چې اعمال مو برباد شي او تاسو به نه پوهیږئ
ددې ایت دنزول نه پس دصدیق اکبر رضي الله عنه عادت دا جوړ شو چې خبرې به یې ډیرې په مزه مزه کولې او عمر رضي الله عنه به دومره په مزه مزه خبرې کولې چې رسول الله به نه اوریدلې تردې چې ددوباره تپوس کولو ضرورت به پیښ شو او همدارنګې دنورو صحابه کرامو هم دا عادت جوړ شوی وو نو په دې وجه صحابه کرامو دا دیهاتي منع کړو چې درسول

الله په وړاندي په تيز اواز خبري مه کوه.
"المرء مع من احب" ددي مطلب دادي چي سړي که په دنيا کې دخپل محبوب نه اګرکه لري وي ليکن په اخرت کې به ورنه لري نه وي ، دا سوال صرف دي ديهاني نه دي کړي بلکه نورو ډيرو صحابه کرامو هم کړي وو.
انس رضي الله عنه فرمائي چي صحابه کرام په دنيا کې په بل هيڅ څيز دومره نه وو خوشحاله شوي څومره چي ددي حديث په اوريدو خوشحاله شوي وو.
علماؤ ليکلي دي چي په دي حديث کې يو لوي زيري هم دی په دي کې دخاتمه بالخير بشارت دي ، سړي به په قيامت کې دنيکو خلقو سره هله وي کله چي يي خاتمه په خير سره شوي وي.
ملا علي قاري قول دي چي کچري څوك دنيك خلقو سره محبت لري نو دقيامت په ورځ به دهغوئ سره وي او کچري دکوم فاسق فاجر سره يي محبت وي نو بيا به دهغوئ سره وي.
مسيرة عرضه او يسير الراكب في عرضه اربعين اوسبعين عاما يعن دکوم مسافه چي څلويښت يا اويا کاله دی او يا دسور په عرض کې څلويښت يا اويا کاله روان وي ددينه کوم خاص تحديد مراد نه دی بلکه تکثر مراد دی يعني چي د توبي دروازه ډيره زياته وسيع ده او دوسعت حد يي په څلويښتو او اوياوو سره بيان کړی دی مطلب دادی که څوك کله هم توبه اوباسي نو دالله رحمت به ډير وسيع بيامومي.

****

٣٥٣٦_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ، قَالَ: أَتَيْتُ صَفْوَانَ بْنَ عَسَّالٍ الْمُرَادِيَّ، فَقَالَ: مَا جَاءَ بِكَ، قُلْتُ: ابْتِغَاءَ العِلْمِ، قَالَ: " بَلَغَنِي أَنَّ المَلَائِكَةَ تَضَعُ أَجْنِحَتَهَا لِطَالِبِ العِلْمِ رِضًا بِمَا يَفْعَلُ ". قَالَ: قُلْتُ لَهُ: إِنَّهُ حَاكَ قَالَ: قُلْتُ لَهُ: إِنَّهُ حَاكَ أَوْ قَالَ: حَكَّ فِي نَفْسِي شَيْءٌ مِنَ المَسْحِ عَلَى الخُفَّيْنِ، فَهَلْ حَفِظْتَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِ شَيْئًا؟ قَالَ: نَعَمْ، كُنَّا إِذَا كُنَّا فِي سَفَرٍ أَوْ مُسَافِرِينَ أُمِرْنَا أَنْ لَا نَخْلَعَ خِفَافَنَا ثَلَاثًا إِلَّا مِنْ جَنَابَةٍ، وَلَكِنْ مِنْ غَائِطٍ وَبَوْلٍ وَنَوْمٍ ". قَالَ: فَقُلْتُ: فَهَلْ حَفِظْتَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الهَوَى شَيْئًا؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَقُلْتُ: فَهَلْ حَفِظْتَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الهَوَى شَيْئًا؟ قَالَ: نَعَمْ، كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ فَنَادَاهُ رَجُلٌ كَانَ فِي آخِرِ القَوْمِ بِصَوْتٍ جَهْوَرِيٍّ أَعْرَابِيٌّ جِلْفٌ جَافٍ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ يَا مُحَمَّدُ، فَقَالَ لَهُ القَوْمُ: مَهْ إِنَّكَ قَدْ نُهِيتَ عَنْ هَذَا، فَأَجَابَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوًا مِنْ صَوْتِهِ هَاؤُمُ، فَقَالَ الرَّجُلُ: يُحِبُّ القَوْمَ وَلَمَّا يَلْحَقْ بِهِمْ، قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " المَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ ". قَالَ

قَالَ زِرٌّ: فَمَا بَرِحَ يُحَدِّثُنِي حَتَّى حَدَّثَنِي أَنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ جَعَلَ بِالْمَغْرِبِ بَابًا عَرْضُهُ مَسِيرَةُ سَبْعِينَ عَامًا لِلتَّوْبَةِ. لَا يُغْلَقُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ قِبَلِهِ. وَذَلِكَ قَوْلُ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ: يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا (الأنعام: ١٥٨) الْآيَةَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه روايت كوي زربن حبيش رضي الله عنه چي زه صفوان بن عسال رضي الله عنه ته ورغلم نو هغه راته اوويل ، اى زرته څه شي دلته راوستى . ما ورته اووى دعلم طلب هغه راته اوويل، طالب ته فرشتى خپلى وزرى غوړوي ما ورته اوويل دوړو بولو او لويو بولو نه پس موزو باندي مسح كولو كې مي زړه كې څه شك پيدا شوى دى. ته درسول الله صلي الله عليه وسلم صحابي يي. تاته راغلم چې ايا تا درسول الله صلي الله عليه وسلم نه ددي په حقله څه اوريدلي دي ؟ هغه اوويل، او! رسول الله صلي الله عليه وسلم به مونږ ته حكم كولو كله چې به مونږ په سفر كې وو چې دري ورځي او دري شپې بغير دجنابت نه موزى مه اوباسئ (يعني دوړو بولو او لويو بولو او خوب نه پس اودس كولو په وخت كې موزى مه اوباسئ مسح پري كوئ) ما ورته اوويل ايا تا د محبت متعلق هم درسول الله صلي الله عليه وسلم نه څه اوريدلي دي. هغه اووى . او، مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلم سره ناست وو چې يو باندچي راغلو رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يي په اوچت اواز غږ اوكړو ، يا محمد (صلي الله عليه وسلم)! رسول الله صلي الله عليه وسلم هم تقريبا په دغه شان اوچت اواز غږ وركړو ، هو، ما هغى اعرابي ته اووى تباه شي اواز لږ غلى كړه ته دپيغمبر سره خبري كوي او ددى نه (يعني درسول الله صلي الله عليه وسلم په مخكى داوچت اواز نه، منع شوى ده. هغه اوويل قسم په الله زه خو اواز نه غلى كوم، دغه اعرابي پيغمبر ته عرض اوكړو. بنده ديو قوم سره مينه لري خو ورسره يي ملاقات نه وي شوي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمانيل. دقيامت په ورځ به بنده دهغه قوم سره وي چا سره چې يي مينه وي . بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ سره خبرى جاري اوساتلى تردى چې ويي فرمانيل نمر پريوانه طرف ته دتوبى يوه دروازه ده چې پلنوالي كې يي دځلوينتو يا اويا كالو مزل دى (يايى دا وفرمانيل، چې په اس سور وركښى څلوينت كاله يا اويا كاله مزل كولى شي. دا دروازه به هله بنديږي چې نمر دمغرب نه راوخيژي. او ددي دليل دا ايت كريمه هم دى " يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا " يعني كله چي علامات د قيامت ظاهر شي نو دغه وخت به ايمان راوړل فائده نه وركوي.

دصفوان ابن عسال رضي الله عنه حالات

نوم صفوان دپلار نوم عسال دكوفي اوسيدونكي دي او اكثر يي نقل درروايت داهل كوفه نه

[1] ـ انظر حديث رقم ٩٢

کړي دي چي يوځو روايات ورنه منقول دي.

****

٣٥٣٧_حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يَعْقُوبَ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَيَّاشٍ الحِمْصِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ ثَابِتِ بْنِ ثَوْبَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ يَقْبَلُ تَوْبَةَ العَبْدِ مَا لَمْ يُغَرْغِرْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.
حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ العَقَدِيُّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنُ ثَابِتِ بْنِ ثَوْبَانَ، عَنْ أَبِيهِ عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِهَذَا الإِسْنَادِ، نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. [1]

ترجمه : روايت دي دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي . بيشکه الله تعالي دبنده توبه قبلوي ترڅو چي يي ساه مرئ ته نه وي راغلي ،يعني چي دځنکدن حالت کې نه وي،

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي. او جبير بن نفير دابن عمر په واسطه په مذکوره سند هم دماقبل هم معني روايت نقل کړي دي.

لغات: ايقبل اقبل، قبالة دسمع او ضرب او نصر نه دکوم څيز ضامن او کفيل کيدل دي، لکه چي ونيلی شي تقبل الله دعانه يعني الله تعالي دي دهغه توبه قبوله کړي او په جديد لغت کې مغربي جانب ته ونيلی شي ايغر غرا غرغر غرغرة، بالشي فعللة ، دکوم څيز دتباهئ انتظام کول ځنکدن ته هم غرغره په دي وجه ونيلی شي

تشريح . "مالم يغرغر" ددي مطلب دادی چي دهغه وخته پوري دبنده توبه قبليدی شي ترڅو پوري چي دده روح مرئ ته رارسيدلی نه وي او مرګ يي يقيني شوی نه وي او فرشتي يي ليدلي نه وي

حکيم الامت اشرف علي تهانوي ليکلي دي چي دمرګ په وخت کې دانسان دوه حالتونه دي، اولني حالت ته "حالت ياس" ونيلی شي يعني انسان دظاهري اسبابو په درجه کې دژوندګئ نه نااميده شي مګر په دغه وخت کې هغه ته دعالم برزخ احوال منکشف شوي نه وي نو په دي وخت کې په اتفاق سره دمسلمانانو او کافرانو توبه قبليږي ، دويم حالت هغه دی په کوم کې چي هغه ته دعالم برزخ حالت منکشف کيدل شروع شي او فرشتي اوويني نو په داسي حالت کې دچا توبه نه قبليږي په پورتني حديث کې هم ددي حالت بيان دی او ددي حديث مفهوم په

---

[1] سنن ابن ماجه/الزهد ٣٠ (٤٢٥٣) (تحفة الأشراف: ٦٦٤٣)

قران كريم كې داسي بيان شوى دى " وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ حَتَّىٰ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ إِنِّي تُبْتُ الْآنَ وَلَا الَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمْ كُفَّارٌ أُولَٰئِكَ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا.
ترجمه يعني دداسي كسانو ايمان به معتبر نه وي څوك چي بد كارونه كوي تردي چي مرګ ورته راشي نو بيا دوئ ووايي چي زمونږتوبه ده او څوك چي د كفر په حالت كي مړه شي نو دداسي خلقو دپاره مونږ دردناك عذاب تيار كړى دى.
په دي حديث كې دي خبري ته ترغيب وركولى شي چي كله دانسان نه ګناه اوشي نو فورا دي توبه اوباسي هسي نه چي مرګ وربانديي راشي او بيا توبي اوباسي او قبليږي به نه ، حقيقت دادى چي دبنده دعبديت تقاضا داده چي اول خو دي په قصد سره دخپل معبود نافرماني او ګناه نه كوي خو كه په ناداني سره ورنه ګناه اوشي نو دخپل خالق دقهر او غضب نه دي اوويږي اوفورا دي توبه اوباسي.

بيان القران تحت تفسير وليست التوبة للذين يعملون السيئات .

****

٣٥٣٨_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ. عَنْ أَبِي الزِّنَادِ. عَنِ الْأَعْرَجِ. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَلَّهُ أَفْرَحُ بِتَوْبَةِ أَحَدِكُمْ مِنْ أَحَدِكُمْ بِضَالَّتِهِ إِذَا وَجَدَهَا". قَالَ: وَفِي الْبَابِ. عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ. وَالنُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ. وَأَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ أَبِي الزِّنَادِ. وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ مَكْحُولٍ. بِإِسْنَادٍ لَهُ عَنْ أَبِي ذَرٍّ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. نَحْوَ هَذَا. ([1])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي الله تعالي دبنده په توبي ددينه زيات خوشحاليږي څومره چي يو كس دخپلي وركي شوي سورلئ په موندلو خوشحاليږي

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند د ابو الزناد په روايت حسن صحيح غريب دي . او په دي باب كي دابن مسعود او نعمان بن بشير او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي همدا رنګي دا حديث مكحول پخپل سند دابوذر رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني نقل كړي دي

تشريح : علماء وائي په پورتني حديث كې دي خبري ته ترغيب دى چي دالله تعالي درحمت او كرم اميد دهغه دعذاب په خوف باندي غالب كول پكار دي، په يو روايت كې راغلي دي

[1] _ صحيح مسلم/التوبة ١(٢/٢٦٧٥) (تحفة الأشراف: ١٣٨٨٠)، و مسند احمد (٢/٣١٦، ٥٠٠)

دقيامت په ورځ چي به کله ديوسړي په حق کې دجهنم فيصله کولی شي نو دی به داسي وائي چي ای الله ماخو په تا باندي ښه ګمان لرلو الله تعالي به ورته اووائي ورشئ او دی واپس راولئ يقينا چي زه دبنده سره دهغه دګمان مطابق فيصله کوم

لله افرح بتوبة عبده من احدکم. دلته دالله تعالي رحم او کرم بيانولي شي

خلاصه داده چي الله تعالي دبنده په لړ شان توبي باندي هغه ته ډيره توجه ورکوي نو په دي وجه په بنده باندي لازم دي چي الله تعالي ته هر وخت متوجه وي او که داسي اونکړي نو مونږ به چاته لاړ شو او چاته به اوژاړو.

****

٣٥٣٩_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ قَيْسٍ قَاصِّ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ أَبِي صِرْمَةَ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، أَنَّهُ قَالَ حِينَ حَضَرَتْهُ الْوَفَاةُ: قَدْ كَتَمْتُ عَنْكُمْ شَيْئًا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَوْلَا أَنَّكُمْ تُذْنِبُونَ لَخَلَقَ اللَّهُ خَلْقًا يُذْنِبُونَ وَيَغْفِرُ لَهُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ الْقُرَظِيِّ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ.

حَدَّثَنَا بِذَلِكَ قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الرِّجَالِ، عَنْ عُمَرَ مَوْلَى غُفْرَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ الْقُرَظِيِّ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ.[1]

ترجمه: دابو ايوب خالد بن زيد رضي الله عنه نه روايت دی چي د وفات کيدو وخت کي وونيل ما ستاسو نه يو شي پټ ساتلی وو چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلی وو د ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلی دی چي که چری تاسو ګناه نه کولی نو الله تعالي به داسی خلق پيدا کړي وو چي ګناه به يی کوله او بيا به يی پری طلب دبخښنی کولو او الله به ورته بخښنه کوله.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن غريب دي داحديث دمحمد بن کعب نه مروي دي او هغه دابوايوب په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه په همدي مضمون نقل کړي دي.

لغات: لخلق: خلق دنصر نه خلقا وخلقة پيدا کول، اود عدم نه وجود ته راوړل.

الکذب: دروغ جوړول.

الاديم: ذکټ کولو نه مخکي دچمړي اندازه کول.

[1] _ صحيح مسلم/التوبة ٢ (٢٧٤٨) (تحفة الأشراف: ٣٥٠٠)

تشريح : په دي حديث کې الله تعالي دخپل صفت غفاريت ظهور په مخلوق کې غواړي دالله تعالي په متعددو صفاتو کې يو صفت غفاريت او ستاريت او رحمت وغيره دي ددي صفاتو داظهار دپاره الله تعالي انسان پيدا کړی دی چي دخير او شر دواړه مادي يې پکې ايخودلي دي ترديې چي کله دشر ماده په خير غالبه شي نو الله تعالي طرف ته متوجه شي نو الله تعالي دخپل صفت غفاريت او ستاريت موظاهره اوکړي انسان خو دي اول دا کوشش اوکړي چي دشر والاماده مغلوبه اوساتي او ددي دپاره مجاهده اوکړي خو که دا ماده غالبه شي نو فورا دي الله تعالي ته متوجه شي چي الله تعالي دا شر والاماده ددي دپاره پيدا کړي ده چي دخپل صفت مغفرت مظاهره اوکړي خو په دي شرط چي دګناه نه پس په زړه کې افسوس وي چي ما دالله تعالي نافرماني اوکړه او بيا فورا الله تعالي ته متوجه شي کله چي په زړه کې دا کيفيت پيدا شي نو بيا دزړه نه زړه جوړ شي.

مطلب دادی چي په دي روايت کې دالله تعالي دمغفرت او رحمت وسعت بيانولی شي چي دخپل غفاريت او ستاريت صفت دظاهرولو دپاره بي انتهاء مغفرت کوي نو په دي وجه خلقولره پکار دي چي هر کله ورنه ګناه اوشي نو دخپلي ګناه نه په توبې کولو کې دي کوتاهي نه کوي بعضي ناپوهه خلقو ددي حديث نه دا مطلب اخستی دی چي په دي کې ګناه کولو ته ترغيب دی نو که خبره داسي وي نو بيا په قران کې دګناه نه دبچ کيدو ترغيب ولي راغلی دی او انبياء دنيا ته ولي راليږلی شوي دي.

دابو ايوب خالد بن زيد انصاري رضي الله عنه حالات

نوم خالد کنيه ابو ايوب قبيله خزرج کې دبنو نجار خاندان سره تعلق لري دنسب پوره سلسله يې داسي ده خالد بن زيد بن کليب بن ثعلبه بن عبدعوف خزرجي

په بيعت عقبه کې داسلام قبلونکو مسلمانانو دجملي نه وو مديني ته دراتلو نه وروسته نبي کريم صلي الله عليه وسلم دده په کور کې قيام کړی وو او درسول الله صلي الله عليه وسلم سره هميشه په غزواتو کې شريک شوی دی په صحابه کرامو کې دفقهاؤ په ډله کې شميرلی شي داختلاف په وخت کې به دصحابه کرامو مرجع وه (اسد الغابه)

په خالد کې يو دري خصوصيات وو . اول حب رسول. دويم ايماني جذبه. دريم حق ګويي . په دي باره کې ډير واقعات مشهور دي غرض دا چي په تبعي طور حياء او شرم هم پکې زيات وو دبخاري په يو روايت کې راځي چي کله به يې په کوهي يا حوض وغيره کې غسل کولو نو دشرم په وجه به يې څلورو واړو طرفونو ته کپړي زوړندولي (بخاري)

وفات: قسطنطنيه (تورکي) باندي دحملي دپاره روان وو چي په ۵۳هجري کې ديزيد بن معاويه په امارت کې دا تقريب منعقد شوی وو غرض دا چي په دي سفر کې عام او وباء خوره

شوه او ډير خلق پکې مړه شول چې يو پکې خالد هم وو دقسطنطنيه د ديوال سره نژدې دفن کړی شو چې اوس يې هم زيارت موجود دی دمروياتو شمير يې ۱۵۰دی چې اوه پکې متفق عليه دي.

****

٣٥٤٠_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ إِسْحَاقَ الْجَوْهَرِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا كَثِيرُ بْنُ فَائِدٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُبَيْدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ بَكْرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ الْمُزَنِيَّ، يَقُولُ: حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: " قَالَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ مَا دَعَوْتَنِي وَرَجَوْتَنِي غَفَرْتُ لَكَ عَلَى مَا كَانَ فِيكَ وَلَا أُبَالِي، يَا ابْنَ آدَمَ لَوْ بَلَغَتْ ذُنُوبُكَ عَنَانَ السَّمَاءِ ثُمَّ اسْتَغْفَرْتَنِي غَفَرْتُ لَكَ وَلَا أُبَالِي، يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ لَوْ أَتَيْتَنِي بِقُرَابِ الْأَرْضِ خَطَايَا ثُمَّ لَقِيتَنِي لَا تُشْرِكُ بِي شَيْئًا لَأَتَيْتُكَ بِقُرَابِهَا مَغْفِرَةً ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (١)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دی چې ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلی دی چې الله تعالي فرمائي ای د ادم اولاده! ته چې ترڅو پورې مانه دعا غواړې او دمعافۍ اميد ساتې خه به تا معاف کوم، خواه تا هرڅومره نامناسب کارونه کړي وي او خما پرې هيڅ پرواه نشته، ای د ادم خويه! که ستا دګناهونو انبار دومره اوچت شي چې تر اسمانه پورې اورسيږي او ته خمانه بخښنه اوغواړې نو بيا به دې هم خه معاف کړم، او ای دادم خويه! خما پرې هيڅ پرواه نشته، ، کچرې ته دزمکې دډکوالي برابر ګناه خان سره راوړې مانه راشې په دې شرط چې ماسره دې شرك نه وي کړی نو خه به تاسره دهغې په برابرۍ مغفرت سره ملاو شم

امام ترمذي رحمه الله وايي دا حديث حسن غريب دی او مونږ يې صرف په همدې سند پيژنو.

لغات رجوتني رجاء دنصر نه رجاءً ورجواً ورجاةً په معني داميد وار کيدو دي او دخوف کولو دي لکه رجا الرجل يعني دسړي نه يې اميد وکړو.

"عنان السماء" دعين زور سره ددی معني دا ښودلی شوي ده چې سر اوچتولو سره تاته څومره په نظر راځي . بعضي وائي چې ددی نه وريځ مراد ده "قُراب الارض" په قاف باندې پيش دی او زير هم دواړه قسمه راځي ليکن زيات صحيح او مشهور پيش سره دی يعني هغه څيزچې

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٢٥٣)

ددی د کوالي ته نژدی وي.

تشریح: "لو بلغت ذنوبك عنان السماء" مطلب دادی که په ناداني او غفلت کې دچا نه ګناه اوشي نو خلق په طور دمبالغي وائي چي ګناه يي اسمان ته رسيدلي ده او که دچا ګناه اسمان ته هم ورسيږي نو بیاهم دهغه دپاره دالله تعالي درحمت نه نااميده کیدل نه دي پکار يعني کله چي بنده په اخلاص سره توبه اوباسي نو الله تعالي ده لره پخپل رحمت کې راګير کړي او دټولو ګناهونونه يي اووينځي خو په دي شرط چي دخفګان په وجه يي دسترګو نه اوښکي تلي وي.

علامه قليب الدين يوه واقعه ليکلي ده کله چي سفيان ثوري رحمة الله عليه بيمار شو نو حماد بن ابي مسلمه دهغه بيمار پرسۍ ته ورغلو سفيان ثوري حماد ته اووئيل چي ايا ستا دا ګمان دی چي الله تعالي به زما پشان ناچيز ته مغفرت اوکړي؟ حماد په جواب کې اووئيل که ماته اختيار راکړی شي چي دحساب کتاب کولو دپاره خپل پلارته ورخي او که الله تعالي ته ورخي ستا خپله خوښه ده نو زه به خپل خان الله تعالي ته دحساب دپاره پيش کړم ځکه چي الله تعالي په ما باندي دخپل پلار نه هم زيات رحم کونکی دی.

****

١٠٠_باب خَلْقِ اللَّهِ مِائَةَ رَحْمَةٍ

الله تعالي سل رحمتونه پيدا کړي دي

٣٥٤١_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ. عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ. عَنْ أَبِيهِ. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: " خَلَقَ اللَّهُ مِائَةَ رَحْمَةٍ. فَوَضَعَ رَحْمَةً وَاحِدَةً بَيْنَ خَلْقِهِ يَتَرَاحَمُونَ بِهَا. وَعِنْدَ اللَّهِ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ رَحْمَةً ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ. عَنْ سَلْمَانَ. وَجُنْدَبِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سُفْيَانَ الْبَجَلِيِّ. وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه . دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي سل رحمتونه پيدا کړي دي او يو رحمت يي دخپل مخلوق په مينځ کې په دنيا کې پريخودلي دي دکوم په برکت چي دوی په دنيا کې پخپل مينځ کې ديو بل سره رحم او شفقت کوي او باقي پاتي يو کم سل ٩٩ رحمتونه يي دخان سره ساتلي دي.

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کې دسلمان او جندب بن عبدالله بجلي رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ١٩ (٦٤٦٩) . صحيح مسلم /التوبة ٤ (٢٧٥٢) . سنن ابن ماجه/الزهد ٣٥ (٤٢٩٣) (تحفة الأشراف : ١٤٠٤٤) . مسند احمد (٢/٣٣٤ . ٥١٣)

****

٣٥٤٢_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَوْ يَعْلَمُ الْمُؤْمِنُ مَا عِنْدَ اللَّهِ مِنَ الْعُقُوبَةِ مَا طَمِعَ فِي الْجَنَّةِ أَحَدٌ، وَلَوْ يَعْلَمُ الْكَافِرُ مَا عِنْدَ اللَّهِ مِنَ الرَّحْمَةِ، مَا قَنَطَ مِنَ الْجَنَّةِ أَحَدٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. [1]

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كه يو مومن ته معلومه شي چي دالله تعالي سره څنګه سزاګاني دي نو هيڅوك به دجنت اميد اونكړي، او كه يو كافر ته دا معلومه شي چي دالله تعالي رحمت څومره فراخه دي نو جنت ته درسيدو نه به هيڅوك نااميده نشي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن دي مونږ يي صرف دابو العلاء په روايت پيژنو كوم چي هغه دخپل پلار او دهغه پلار دابوهريره رضي الله عنه نه نقل كړي دي.

****

٣٥٤٣_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ حِينَ خَلَقَ الْخَلْقَ كَتَبَ بِيَدِهِ عَلَى نَفْسِهِ إِنَّ رَحْمَتِي تَغْلِبُ غَضَبِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. [2]

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي الله تعالي مخلوق پيدا كړو نو پخپل خان يي اوليكل (يعني په ځان يي مقرره كړه) چي زما رحمت به په غضب غالب كيږي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

تشريح: لاندېني ايت هم د پورتني حديث د مضمون دپاره مؤيد دى: الله تعالي فرمائيلي دي:

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ١٩ (٦٤٦٩). صحيح مسلم /التوبة ٤ (٢٧٥٥) (تحفة الأشراف: ١٤٠٧٩). و مسند احمد (٢/٣٣٤، ٣٩٧)

[2] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /بدء الخلق ١ (٣١٩٤). والتوحيد ١٥ (٧٤٠٤). و٢٢ (٧٤٥٣). و٥٥ (٧٥٥٣، ٧٥٥٤). صحيح مسلم /التوبة ٤ (٢٧٥١). سنن ابن ماجه/المقدمة ١٣ (١٨٩). والزهد ٣٥ (٤٢٩٥) (تحفة الأشراف: ١٣١٣٩). و مسند احمد (٢/٢٤٢، ٢٥٨، ٢٦٠، ٣١٣، ٣٥٨، ٣٨١، ٣٩٧)

عَذَابِيٓ أُصِيبُ بِهِۦ مَنۡ أَشَآءُۖ وَرَحۡمَتِي وَسِعَتۡ كُلَّ شَيۡءٖۚ يعني زه خپل عذاب په هغه چا واقع كوم په چا يې چې اوغواړم اوزما رحمت دهرڅيز نه راچاپيريدونكي دي
يعني زما رحمت دهر يو څيز دپاره عام دي په دنيا كې څوك مومن وي او كه كافر وي مكلف وي او كه غير مكلف البته په اخرت كې به په كافرانو رحمت نه وي څكه چې دبل چا په عبادت كولو سره يې خپل ځان دالله درحمت نه خارج كړي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما تمام امت به جنت ته ځي خو هغه څوك به نه ځي چې انكار يې كړي وي عرض اوكړي شو انكار به څوك كوي نو ويې فرمائيل څوك چې زما اطاعت اوكړي هغه به جنت ته ځي اوچاچې زما نافرماني اوكړه نوهغه انكار اوكړو «رواه البخاري»
عطيه عوفي ددې ايت په تشريح كې فرمائيلي دي دالله تعالي رحمت خو هر يو څيز ته شامل دي ليكن درحمت وجوب يې صرف دمتقيانو دپاره دي يعني دالله تعالي رحمت دمومنانودپاره وسيع دي ددوئ په وجه كافرانو ته هم رزق ملاويږي او مصيبتونه ورنه دفع كيږي او دوئ هم په دې سبب دالله درحمت نه مستفيد كيږي پس كله چې مومنان اخرت ته اورسيږي نو رحمت الهي به په دوئ پورې خاص شي «او كافران به بغير درحمت نه پاتي شي» لكه چې دبل چا ډرنړا نه څوك فائده اخلي خو چې كله چراغ والاخپل چراغ ويسي نو دي محروم پاتي شي "فَسَأَكۡتُبُهَا" يعني اې بني اسرائيلو زه به په اخرت كې په تاسو كې دهغه چادپاره رحمت واجب كوم '' لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ" څوك چې دكفر اومعصيت نه بچ كيږي "وَيُؤۡتُونَ الزَّكَوٰةَ" په يتقون كې دقرض ادا كول هم داخل وو مگر په خصوصيت سره يې څكه ذكر كړو چې په نفس باندې زكات ادا كول ډير سخت او گران وي "باياتنا" يعني زما په تماموكتابونو "يؤمنون" ايمان لري ، اودهيڅ څيز نه انكار نه كوي ، چونكه دالله تعالي په علم كې وو چې دموسي عليه السلام شريعت به په يو وخت كې منسوخ كيږي نو څكه يې په اننده ايت كې په دې خبره تنبيه وركړه او بني اسرائيلوته يې دخاتم الانبياء د اتباع ترغيب وركړو «مظهري»

****

٣٥٤٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي الثَّلْجِ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ بَغْدَادَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ صَاحِبُ أَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ زَرْبِيٍّ، عَنْ عَاصِمٍ الأَحْوَلِ، وَثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسْجِدَ، وَرَجُلٌ قَدْ صَلَّى وَهُوَ يَدْعُو وَيَقُولُ فِي دُعَائِهِ: اللَّهُمَّ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ الْمَنَّانُ بَدِيعُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ ذَا الْجَلَالِ وَالإِكْرَامِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَتَدْرُونَ بِمَ دَعَا اللَّهَ؟ دَعَا اللَّهَ بِاسْمِهِ الأَعْظَمِ الَّذِي إِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ وَإِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى».

قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ ثَابِتٍ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ، عَنْ أَنَسٍ. (1)

ترجمه. دانس ﷺ نه روايت دي فرماني چي رسول كريم صلي الله عليه وسلم مسجد ته داخل شو اويوسړي مونځ كوو اودعايى كوله چي اللَّهُمَّ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ الْمَنَّانُ بَدِيعُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ ذَا الْجَلَالِ وَالإِكْرَامِ. يعني اي الله ستانه سوال كوم په دي وجه چي ته دحمدلائق يې ستانه علاوه بل معبودنشته دى ته احسان كونكى يي نا اشناپيداكونكى داسمانونواودزمكي يى اي دجلال اوداكرام والاذاته اي ژونديه اي قائمه، رسول كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ايا تاسو ته معلومه ده چي په كومو الفاظو يي دعا اوغوښتله يقينا ده راوبللو الله تعالي لره دهغه په لويى نوم سره په كوم سره چي كله هغه راوبللى شي اوقبلول كوي اوكله چي بري سوال اوكړى شي نو وركول كوي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث د ثابت په سند غريب دي اوددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم د انس رضي الله عنه نه مروي دى.

****

١٠١_باب قَوْلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ

ددي ارشاد نبوي مطلب ''رغم انف رجل''

٣٥٤٥_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدَّوْرَقِيُّ، حَدَّثَنَا رِبْعِيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " رَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ، وَرَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ دَخَلَ عَلَيْهِ رَمَضَانُ ثُمَّ انْسَلَخَ قَبْلَ أَنْ يُغْفَرَ لَهُ، وَرَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ أَدْرَكَ عِنْدَهُ أَبَوَاهُ الْكِبَرَ فَلَمْ يُدْخِلَاهُ الْجَنَّةَ ". قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ: وَأَظُنُّهُ قَالَ: " أَوْ أَحَدُهُمَا ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ جَابِرٍ، وَأَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَرِبْعِيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ هُوَ أَخُو إِسْمَاعِيل بْنِ إِبْرَاهِيمَ وَهُوَ ثِقَةٌ وَهُوَ ابْنُ عُلَيَّةَ. وَيُرْوَى عَنْ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، قَالَ: إِذَا صَلَّى الرَّجُلُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً فِي

---

(1) ـ سنن ابي داود/ الصلاة ٣٥٨ (١٤٩٥)، سنن النسائي/السهو ٥٨ (١٣٠١)، سنن ابن ماجه/ الدعاء ٩ (٣٨٥٨) (تحفة الأشراف: ٩٢٦، ٣٠٠)، و مسند احمد (٣/١٢٠، ١٥٨، ٢٤٥)

الْمَجْلِسِ أَجْزَأَ عَنْهُ مَا كَانَ فِي ذَلِكَ الْمَجْلِسِ. (1)

ترجمه: ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دهغه سړي پوزه په خاورو ككړه شه (خوار اوذليل دي شي) دچامخكې چي زما نوم واخستى شي اوهغه په مادرود اونه وائي . دهغه سړي پوزه په خاورو ككړه شه (خوار اوذليل دي شي) په چاچي رمضان مياشت راشي او داسي تيره شي چي ده ته پكي مغفرت اونه شي دهغه سړي پوزه په خاورو ككړه شه (خوار اوذليل دي شي)چاچي خپل مور او پلار دبوډاوالي په عمر كي موندلي وي او ده هغوئ سره دحسن سلوك نه كولو په وجه خان دجنت مستحق جوړ كړي نه وي، دراوي عبدالرحمن قول دي زما خيال دادي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دواړه يعني مور او پلار ياد كړل او يا دا چي په دوئ كي يې يو ياد كړو (چي مور او پلار يا په دوئ كي يو يې په بوډاوالي كي موندلي وي او ځان يې ورباندي بخلي نه وي) داحديث په دي سند حسن غريب دي، ربعي بن ابراهيم داسماعيل بن ابراهيم ورور دي او يو ثقه راوي دي او په ابن عُلَيّه مشهور دي، او په دي باب كي دجابر او انس رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي ، دبعضي اهل علمو نه مروي دي كله چي يو بنده په مجلس كي په رسول الله صلي الله عليه وسلم يو ځل درود اووائي نو په دي مجلس كي چي هر څو پيري درسول الله نوم ذكر كيږي يو ځل درود وئيل به دټولو دپاره كافي وي (يعني هر ځل درود وئيل به ضروري نه وي)

لغات: رغم انف: لفظي معني په خاورو كي پوزه ككړيدل مراد ورنه ذلت او حقارت دي.

تشريح: يقينا چي دهغه كس نه به زيات بدقسمت څوك وي چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم احسانات هير كړي او درود ورباندي اونه وائي رسول الله خو خپل كلى او وطن پريخودلى وو او په امت يې دشفقت كولو په وجه دخپلو عزيزانو او رشته دارو نه جدائي اختيار كړي وه او په طائف كې په كاڼو ويشتلى شوى وو او په احد كې يې غابنونه شهيدان شوى وو او دمرګ په وخت كې يې هم خپل امت ياد وو او دقيامت په ورځ هم چي تمام انبياء عليهم السلام به نفسي نفسي اواز كوي مګر رسول الله به امت نه هيروي او امتي امتي الفاظ به وائي.

علامه سخاوي هغه وعيدونه جمع كړي دي كوم چي په رسول الله باندي د درود نه وئيلو په وجه وارد دي چي دداسي كس دپ ـد هلاكت دى او شقاوت دى او داسي كس دجنت لاري لره هيرونكى دى اوجهنم ته داخليدونكى او ظالم او بخيل دى او دين يې ناقص دى او دقيامت په

---

1 ـ تفرد به المؤلف والجملة الأخيرة عند مسلم في البر والصلة ٣ (٢٥٥١) (تحفة الأشراف : ١٢٩٤٤) . و مسند احمد (٢/٢٥٤)

ورخ به هم درسول الله دزيارت نه محروم شي همدا وجه ده چي علامه عبدالبر ليکلي دي چي کله درسول الله نوم واخستلی شي نو درود ونيل به ورباندي واجب وي ليکن جمهور علماء وائي که په مجلس کې يوځل هم درود اوونيلی شي نو کافي ده او دهر ځل نوم اخستلو سره درود ونيل مستحب او باعث دبرکت دي

****

٣٥٤٦ـحَدَّثَنَايَحْيَى بْنُ مُوسَى، وَزِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ، قَالَا: حَدَّثَنَاأَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بِلَالٍ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ غَزِيَّةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ حُسَيْنِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْبَخِيلُ الَّذِي مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه : علي رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ډيربخيل دی هغه سړی دچا مخکې چي زما نوم واخستی شي اوبه مادرود اونه وائي اوبخيل دالله تعالي ناخوښه دی،

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

لغات : ذکرت: ذکر يذکر ذکرا معني تذکره کول ، يصل: صلي يصل صلاة معني دعا: مصلي دمونځ کولو ځاي.

تشريح : ددي حديث مضمون په ډيرو احاديثو کې راغلی دی دابوهريره رضي الله عنه بيان دی چي کامل بخيل هغه کس دی دچا په وړاندي چي درسول الله ذکر اوشي او دی درود اونه وائي په يو بل روايت کې دا ارشاد نبوي راغلی دی چي هلاکت دي وي دهغه کس دپاره څوك چي دقيامت په ورځ مالره اونه ويني عائشه رضي الله عنها عرض اوکړو داسي به څوك وي چي ستا ليدل به نه غواړي ورته يي اوفرمائيل څوك چي بخيل وي عائشه رضي الله عنها عرض اوکړو بخيل څوك دی ورته يې اوفرمائيل چي بخيل هغه څوك دی چي زما ذکر واوري او درود اونه وائي. دحسن او حسين دواړو په روايتونو کې راغلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ديو سړي دبخيل کيدو دپاره دا کافي دي چي دهغه په وړاندي زما ذکر اوکړی شي او درود اونه وائي.

شارح دحديث نبوي او محقق بي مثال مولانا محمد حسين صديقي ددي حديث په تشريح کې

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ٣٢١٢)

ليکلي دي: د ابوذر غفاري رضي الله عنه بيان دي چي زه يو ځل دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شوم رسول الله دصحابه کرامو نه تپوس اوکړو چي ايا په ټولو کي زيات بخيل انسان درته اونه ښايم صحابه کرامو عرض اوکړو ضرور يي راته اوښايه رسول الله اوفرمائيل دچا په وړاندي چي زما ذکر اوشي او هغه راباندي درود اونه وائي علامه سخاوي وائي چي داسي کس په دنيا کي دهر چانه زيات بخيل دی.

****

١٠٢ــباب فِي دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

درسول الله صلي الله عليه وسلم ددعا ګانو بيان

٣٥٤٧ــحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدَّوْرَقِيُّ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " اللَّهُمَّ بَرِّدْ قَلْبِي بِالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَالْمَاءِ الْبَارِدِ. اللَّهُمَّ نَقِّ قَلْبِي مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه : د عبد الله بن ابي اوفي رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به اکثر دا دعا ونيله:

"" اللَّهُمَّ بَرِّدْ قَلْبِي بِالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَالْمَاءِ الْبَارِدِ. اللَّهُمَّ نَقِّ قَلْبِي مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ ""

يعني اي الله زما زړه د واوري په ابو اوګلي باندي اووينځه، اي الله زما زړه دګناهونو نه داسي صاف کړه لکه څنګه چي سپينه کپړه دخيري نه تا صفا کړي ده

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح غريب دی

****

٣٥٤٨ــحَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَرَفَةَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ الْقُرَشِيِّ الْمُلَيْكِيِّ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ فُتِحَ لَهُ مِنْكُمْ بَابُ الدُّعَاءِ فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الرَّحْمَةِ، وَمَا سُئِلَ اللَّهُ شَيْئًا يَعْنِي أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ أَنْ

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٥١٧٥)

يُسْأَلَ العَافِيَةَ ". وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ الدُّعَاءَ يَنْفَعُ مِمَّا نَزَلَ وَمِمَّا لَمْ يَنْزِلْ فَعَلَيْكُمْ عِبَادَ اللَّهِ بِالدُّعَاءِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ القُرَشِيِّ وَهُوَ المَكِّيُّ المُلَيْكِيُّ وَهُوَ ضَعِيفٌ فِي الحَدِيثِ ضَعَّفَهُ بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. ([1])

ترجمه د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په تاسو کي چي دچا دپاره ددعا دروازه پرانيستلي شوه نو ګويا کي هغه ته درحمت دروازه پرانيستلي شوه او دالله تعالي نه په غوښتلي شوو څيزونو کي الله تعالي ته دعافيت دغوښتلو نه بل څيز زيات محبوب نه دي (يعني دالله تعالي نه چي څومره څيزونه غوښتلي شوي دي په هغوی کي دعافيت نه زيات بل بهتر څيز نه دي غوښتلي شوي).

ارشاد نبوي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يقينا چي دعا دنازل شوو امورو او غير نازل شوو امورو دواړو دپاره فائده ورکوي پس لازم دي په تاسو باندي اي دالله بندګانو دعاغوښتل.

امام ترمذي واني داحديث غريب دي مونږ يي صرف دعبدالرحمن بن ابي بکر قرشي په سند پيژنو چي مکي دي او په باب دحديث کي ضعيف ګڼلي شوي دي دحفظ په اعتبار وربانذي اهل علمو جرح کړي ده.

****

٣٥٤٩ـوَقَدْ رَوَى إِسْرَائِيلُ هَذَا الحَدِيثَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَا سُئِلَ اللَّهُ شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنَ العَافِيَةِ ". حَدَّثَنَا بِذَلِكَ القَاسِمُ بْنُ دِينَارٍ الكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ الكُوفِيُّ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، بِهَذَا. ([2])

ترجمه : د ابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله فرمايلي دي: دالله تعالي نه په غوښتلي شوو څيزونو کي الله تعالي ته دعافيت دغوښتلو نه بل څيز زيات محبوب نه دي (يعني دالله تعالي نه چي څومره څيزونه غوښتلي شوي دي په هغوی کي دعافيت نه زيات بل بهتر څيز نه دي غوښتلي شوي).

امام ترمذي رحمه الله وايي: اسحاق بن منصور هم داسرائيل نه په مذکوره سند همدا مضمون

---

[1] ـ انظر حديث رقم ٣٥١٥

[2] ـ انظر ما قبله (تلخيص المستدرک ١/٤٩٨)

نقل کړي دي

****

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو النَّضْرِ، حَدَّثَنَا بَكْرُ بْنُ خُنَيْسٍ، عَنْ مُحَمَّدٍ الْقُرَشِيِّ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ الْخَوْلَانِيِّ، عَنْ بِلَالٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " عَلَيْكُمْ بِقِيَامِ اللَّيْلِ فَإِنَّهُ دَأْبُ الصَّالِحِينَ قَبْلَكُمْ، وَإِنَّ قِيَامَ اللَّيْلِ قُرْبَةٌ إِلَى اللهِ وَمَنْهَاةٌ عَنِ الإِثْمِ، وَتَكْفِيرٌ لِلسَّيِّئَاتِ وَمَطْرَدَةٌ لِلدَّاءِ عَنِ الْجَسَدِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ بِلَالٍ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَلَا يَصِحُّ مِنْ قِبَلِ إِسْنَادِهِ، قَالَ: سَمِعْت مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيل، يَقُولُ: مُحَمَّدٌ الْقُرَشِيُّ هُوَ مُحَمَّدُ بْنُ سَعِيدٍ الشَّامِيُّ وَهُوَ ابْنُ أَبِي قَيْسٍ وَهُوَ مُحَمَّدُ بْنُ حَسَّانَ وَقَدْ تُرِكَ حَدِيثُهُ.

وَقَدْ رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ الْخَوْلَانِيِّ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: " عَلَيْكُمْ بِقِيَامِ اللَّيْلِ فَإِنَّهُ دَأْبُ الصَّالِحِينَ قَبْلَكُمْ، وَهُوَ قُرْبَةٌ إِلَى رَبِّكُمْ، وَمَكْفَرَةٌ لِلسَّيِّئَاتِ وَمَنْهَاةٌ لِلإِثْمِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ أَبِي إِدْرِيسَ، عَنْ بِلَالٍ. [1]

ترجمه : د ابو امامه رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي لازم دي په تاسو باندي قيام الليل (تهجد) کول ځکه چي دا عادت دصالحينو وو چي ستاسو نه مخکي تير شوي دي او يقينا چي قيام الليل سبب دنزديکت او رسيدو دي الله تعالي ته او سبب دمنع کيدو دي دګناهونو او کفاره ده دپاره دګناهونو او د مرض دشړلو سبب دي دجسد (بدن) نه

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث غريب دي دبلال په روايت مونږ ته صرف په مذکوره سند معلوم دي مګر دسند په اعتبار بهتر نه دي ما دامام بخاري نه اوريدلي دي ونيل يي محمد قرشي محمد بن سعيد شامي دي او ابن ابي قيس يي کنيه ده.او محمد بن حسان متروك الحديث دي

دارنګي دا حديث معاويه بن صالح د ربيعه بن يزيد نه او هغه د ابو ادريس خولاني نه او هغه د امامه په واسطه د نبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړی دی چي فرمائيل يي لازم دي په تاسو باندي قيام الليل (تهجد) کول ځکه چي دا عادت دصالحينو وو چي ستاسو نه مخکي

[1] ـ سنن ابن ماجه/الزهد ٢٧ (٤٢٣٦)، وانظر حديث رقم ٣٢٣١ (تحفة الأشراف : ٤٨٠٢٨)

تير شوي دي ، اودا سبب دنزديكت ستاسو دى خپل رب ته او سبب د كفاري دى د گناهونو ستاسو اوسبب دمنع كيدو ستاسو دى د گناهونو نه
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث زيات صحيح دى دهغه روايت نه كوم كوم چي ابو ادريس دبلال نه نقل كوي.

****

٣٥٥٠ـ حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ عَرَفَةَ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مُحَمَّدٍ المُحَارِبِيُّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَعْمَارُ أُمَّتِي مَا بَيْنَ السِّتِّينَ إِلَى السَّبْعِينَ، وَأَقَلُّهُمْ مَنْ يَجُوزُ ذَلِكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الوَجْهِ. [1]

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما دامت دخلقو عمرونه به دشپيتو نه تر اويا كالو پوري مينځ كي وي مګر ډير به كم وي هغه څوك چي دي عمر ته ورسيږي (يعني داكثرو مرګ ددي عمر نه مخكي مخكي واقع كيږي).
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث دمحمد بن عمرو په روايت حسن غريب دي چي دابو سلمه نه يي دابوهريره په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كوي دا روايت مونږ ته ددي سند نه علاوه په بل سند نه دي معلوم، مګر بعضي اهل علمو په نورو سندونو هم دابوهريره په سند نقل كړي دي

****

١٠٣ـ باب فِي دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دعاګاني

٣٥٥١ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الحَفَرِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الحَارِثِ، عَنْ طُلَيْقِ بْنِ قَيْسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو، يَقُولُ: "رَبِّ أَعِنِّي وَلَا تُعِنْ عَلَيَّ، وَانْصُرْنِي وَلَا تَنْصُرْ عَلَيَّ، وَامْكُرْ لِي وَلَا تَمْكُرْ عَلَيَّ، وَاهْدِنِي وَيَسِّرِ الهُدَى لِي، وَانْصُرْنِي عَلَى مَنْ بَغَى عَلَيَّ، رَبِّ اجْعَلْنِي لَكَ شَكَّارًا، لَكَ ذَكَّارًا، لَكَ رَهَّابًا، لَكَ مِطْوَاعًا، لَكَ مُخْبِتًا، إِلَيْكَ أَوَّاهًا مُنِيبًا، رَبِّ تَقَبَّلْ تَوْبَتِي وَاغْسِلْ حَوْبَتِي وَأَجِبْ دَعْوَتِي وَثَبِّتْ حُجَّتِي

[1] ـ سنن ابن ماجه/الزهد ٢٧ (٤٢٣٦)، وانظر حديث رقم ٢٣٣١ (تحفة الأشراف: ١٥٠٣٤)

وَسَدِّدْ لِسَانِي وَاهْدِ قَلْبِي وَاسْلُلْ سَخِيمَةَ صَدْرِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

قَالَ مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ: وَحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ الْعَبْدِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، بِهَذَا الإِسْنَادِ، نَحْوَهُ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي فرماني چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به کله دعا غوښتله نو دا کلمات به يي ونيل:

" رَبِّ أَعِنِّي وَلَا تُعِنْ عَلَيَّ، وَانْصُرْنِي وَلَا تَنْصُرْ عَلَيَّ، وَامْكُرْ لِي وَلَا تَمْكُرْ عَلَيَّ، وَاهْدِنِي وَيَسِّرِ الْهُدَى لِي، وَانْصُرْنِي عَلَى مَنْ بَغَى عَلَيَّ، رَبِّ اجْعَلْنِي لَكَ شَكَّارًا، لَكَ ذَكَّارًا، لَكَ رَهَّابًا، لَكَ مِطْوَاعًا، لَكَ مُخْبِتًا، إِلَيْكَ أَوَّاهًا مُنِيبًا، رَبِّ تَقَبَّلْ تَوْبَتِي وَاغْسِلْ حَوْبَتِي وَأَجِبْ دَعْوَتِي وَثَبِّتْ حُجَّتِي وَسَدِّدْ لِسَانِي وَاهْدِ قَلْبِي وَاسْلُلْ سَخِيمَةَ صَدْرِي"

يعني اي الله زما مدد اوکړي او زما خلاف دچا مدد اونکړي اي الله ته زما تائيد او نصرت اوکړي او زما په خلاف دچا تائيد اونصرت اونکړي، زما دپاره تدبير اوکړي او زما په خلاف دچا دپاره تدبير اونکړي او اي الله ماته هدايت اوکړي او هدايت زما دپاره اسان کړي، اي الله دهغه چا په مقابل کي زما مدد اوکړي څوك چي زما خلاف بغاوت او سرکشي کوي، اي الله ته زما رب يي مالره دخپل خان ډير شکرګذار بنده جوړ کړي او ستا ذکر کونکي مي جوړ کړي او ستا نه ډير ويريدونکي مي جوړي کړي او ستا ډير تابعدار مي جوړ کړي او ستا په وړاندي عاجزي کونکي مي جوړ کړي او دخپل خان درد او تکليف بيانونکي او تاته رجوع کونکي مي جوړ کړي اي زما ربه زما توبه قبوله کړي او زما ګناهونه اووينځي اوزما دعا قبوله کړي زما حجت مضبوط کړي او زما ژبه حق ويونکي جوړه کړي، زما زړه ته هدايت اوکړي، او زما دزړه نه کينه او حسد اوباسي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٥٥٢_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ أَبِي حَمْزَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ دَعَا عَلَى مَنْ ظَلَمَهُ فَقَدِ انْتَصَرَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ أَبِي حَمْزَةَ، وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي أَبِي حَمْزَةَ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ، وَهُوَ مَيْمُونٌ الأَعْوَرُ.

---

[1] ـ سنن ابي داود/ الصلاة ٣٦٠ (١٥١٠)، سنن ابن ماجه/الدعاء ٢ (٣٨٣١) (تحفة الأشراف : ٥٧٦٥)، و مسند احمد (١/٢٢٧)

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الرُّؤَاسِيُّ، عَنْ أَبِي الأَحْوَصِ، عَنْ أَبِي حَمْزَةَ بِهَذَا الإِسْنَادِ، نَحْوَهُ. (1)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيانْ دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به فرمائيل چاچي پخپل خان باندي دظلم كونكي په خلاف خيري اوكړي نو ده دهغه نه بدله واخستله.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي مونږ يي دحمزه په روايت پيژنو او په حمزه راوي بعضي محدثينو دحافظي په اعتبار كلام كړي دي او دي په ميمون الاعور مشهور دي.

حميد بن عبد الرحمن رواسي د ابو الاحوص نه په همدي سند د ماقبل هم معني روايت نقل كړي دي.

تشريح: انتصر د انتصار نه مشتق دي اود ابوداود په روايت كي ددي خارجي مصداق بيان شوى دى كوم چي مندرجه ذيل دى دابن عون نه روايت دى فرمائي چي ما په دي ايت كريمه كي : (وَلَمَنِ انْتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهِ فَأُولَئِكَ مَا عَلَيْهِمْ مِنْ سَبِيلٍ) دانتصار دلفظ معني معلومولو نوماته علي بن زيد بن جدعان دخپل پلار دبنخي ام محمد نه حديث بيان كړو خلقو وئيل چي هغي دام المومنين عائشي رضي الله عنها نه اوريدلى وو چي فرمائيل يى رسول كريم صلي الله عليه وسلم زماخواته راغى اودرسول كريم صلي الله عليه وسلم بله بي بي زينب بنت جحش رضي الله عنها زماخواته ناسته وه اورسول كريم صلي الله عليه وسلم زماسره لاس لګول (يعني زه ئي چيړلم) ، ماورته دلاسويه اشاري سره ووئيل چي زينب بنت جحش رضي الله عنها ده ماچي ورته اشاره وكړه نورسول كريم صلي الله عليه وسلم پوه شواومنع شواوزينب عائشي رضي الله عنها ته بدرد وئيل شروع كړل رسول كريم صلي الله عليه وسلم منع كوله خوهغي نه منله نورسول كريم صلي الله عليه وسلم عائشي ته ووئيل چي ته هم ورته بدرد ووايه نوعائشي رضي الله عنها ورته بدرد وئيل شروع كړل اوپه زينب باندي غالبه شوه نوزينب علي رضي الله عنه ته ورغله اوورته ئي ووئيل چي عائشي تاته بدوئيلي دي نوفاطمه رسول كريم صلي الله عليه وسلم ته راغله (بطورشكايت) رسول كريم صلي الله عليه وسلم ورته ووئيل هغه ستادپلارملګري ده ،راوي وائي دكعبي په رب قسم فاطمي چي دا واوريدل نوواپس لاړه اوبني هاشم قبيلي ته ئي ووئيل مارسول كريم صلي الله عليه وسلم ته عرض وكړو اوهغه داسي ووئيل ، بهرحال بيارسول كريم صلي الله عليه وسلم علي رضي الله عنه ته پخپله ورغلو اوپه دي باره كي ئي ورسره خبري وكړي.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣-٢٩٠٢)

****

١٠٤_ باب

د سابقه باب متعلق يوبل باب

٣٥٥٣_ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الكِنْدِيُّ الكُوفِيُّ. حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ. قَالَ: وَأَخْبَرَنِي سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى. عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ قَالَ عَشْرَ مَرَّاتٍ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ المُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، كَانَتْ لَهُ عِدْلَ أَرْبَعِ رِقَابٍ مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيل". قَالَ: وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الحَدِيثُ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ مَوْقُوفًا. (1)

ترجمه: دابوايوب رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي لس پيري دا كلمات اووئيل " لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ المُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. " نشته لائق دبندګئ مګر صرف الله تعالي دي چي يواځي دي او شريك ورسره نشته خاص دهغه دپاره بادشاهي ده او خاص الله تعالي دستائيني لائق دي چي ژوندي كول او مړه كول كوي او په هر يو كار قادر دي وبي فرمائيل چي دده دپاره به داسماعيل عليه السلام په اولاد كي دڅلورو غلامانو دازادولو د اجر برابر ثواب وي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: او داحديث دابو ايوب انصاري نه موقوفا هم مروي دي.

****

٣٥٥٤_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الوَارِثِ. حَدَّثَنَا هَاشِمٌ وَهُوَ ابْنُ سَعِيدٍ الكُوفِيُّ. حَدَّثَنِي كِنَانَةُ مَوْلَى صَفِيَّةَ. قَال: سَمِعْتُ صَفِيَّةَ. تَقُولُ: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ يَدَيَّ أَرْبَعَةُ آلَافِ نَوَاةٍ أُسَبِّحُ بِهَا. فَقُلْتُ: لَقَدْ سَبَّحْتُ بِهَذِهِ. فَقَالَ: "أَلَا أُعَلِّمُكِ بِأَكْثَرَ مِمَّا سَبَّحْتِ بِهِ؟" فَقُلْتُ: بَلَى عَلِّمْنِي. فَقَالَ: قُولِي سُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ خَلْقِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ صَفِيَّةَ إِلَّا مِنْ هَذَا الوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ هَاشِمِ بْنِ سَعِيدٍ الكُوفِيِّ. وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمَعْرُوفٍ. وَفِي البَابِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. (2)

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الدعوات ٦٣ (٦٤٠٣). صحيح مسلم /الذكر والدعاء ١٠ (٢٦٩٣) (تحفة الأشراف: ٣٤٦٤)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٩٠٢)

ترجمه : دصفيه رضي الله عنها د ازاد كړي غلام كنانه بيان دي فرمائي چي ما دام المؤمنين صفيه رضي الله عنها نه واوريدل وئيل يي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته راغلو او دغه وخت زما مخي ته دكجورو دځلور زره زړو ډيري پروت وو چي تسبيحات به مي ورباندي وئيل ما ورته اووئيل زه په دي باندي تسبيحات وايم رسول الله اوفرمائيل ايا داسي به بنه نه وي چي ددينه درته زياته اسانه طريقه اوښايم او تا خومره وئيلي دي؟ ما ورته اووئيل ضرور يي راته اوښايه نو رسولُ الله اوفرمائيل "سبحان الله عدد خلقه" يعني زه ستا دمخلوقاتو دتعداد برابر تسبيح وايم يعني دا الفاظ وايه

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي او داحديث مونږ ته دصفيه په روايت صرف په همدي سند وارد دي يعني دهاشم بن سعيد كوفي په سند او دده سند معروف نه دي. او په دي باب كي دابن عباس رضي الله عنهما نه هم حديث وارد دي.

****

٣٥٥٥_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ: سَمِعْتُ كُرَيْبًا يُحَدِّثُ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ جُوَيْرِيَةَ بِنْتِ الحَارِثِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَيْهَا وَهِيَ فِي مَسْجِدٍ، ثُمَّ مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَا قَرِيبًا مِنْ نِصْفِ النَّهَارِ، فَقَالَ لَهَا: "مَا زِلْتِ عَلَى حَالِكِ؟" فَقَالَتْ: نَعَمْ، قَالَ: "أَلَا أُعَلِّمُكِ كَلِمَاتٍ تَقُولِينَهَا، سُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ خَلْقِهِ سُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ خَلْقِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ خَلْقِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ رِضَا نَفْسِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ رِضَا نَفْسِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ رِضَا نَفْسِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ زِنَةَ عَرْشِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ زِنَةَ عَرْشِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ زِنَةَ عَرْشِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ مِدَادَ كَلِمَاتِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ مِدَادَ كَلِمَاتِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ مِدَادَ كَلِمَاتِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ هُوَ مَوْلَى آلِ طَلْحَةَ، وَهُوَ شَيْخٌ مَدَنِيٌّ ثِقَةٌ، وَقَدْ رَوَى عَنْهُ المَسْعُودِيُّ، سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ هَذَا الحَدِيثَ.[1]

ترجمه : دام المومنين جويريه بنت الحارث رضي الله عنها نه روايت دى چي يوه ورځ رسول الله صلي الله عليه وسلم سحر مانځه نه پس دهغې كور نه بهر ته تشريف يوړو او هغه په خپله مصلي ناسته وه ذكر يې كولو رسول الله صلي الله عليه وسلم چي دڅاښت مونځ اوكړو و بيايې كور ته تشريف راوړو او جويريه رضي الله عنها هغه شان په مصلي ناسته وه نو رسول الله صلي

---

[1] _ صحيح مسلم الذكر والدعاء ١٩ (٢٧٢٦) . سنن النسائي/السهو ٩٢ (١٣٥٢) . سنن ابن ماجه/الأدب ٥٦ (٣٨٠٨) (تحفة الأشراف : ١٥٧٨٨) . و مسند احمد (٦/٣٢٥)

الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل ته هم هغه شان په مصلي ناسته يې هغي ورته اوونيل هو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل ايا زه درته يو څو جملې اونه ښايم چي ته به يې وائي هغه جملې دادي:

" سُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ خَلْقِهِ سُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ خَلْقِهِ. سُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ خَلْقِهِ. سُبْحَانَ اللَّهِ رِضَا نَفْسِهِ. سُبْحَانَ اللَّهِ رِضَا نَفْسِهِ. سُبْحَانَ اللَّهِ رِضَا نَفْسِهِ. سُبْحَانَ اللَّهِ زِنَةَ عَرْشِهِ. سُبْحَانَ اللَّهِ زِنَةَ عَرْشِهِ. سُبْحَانَ اللَّهِ زِنَةَ عَرْشِهِ. سُبْحَانَ اللَّهِ مِدَادَ كَلِمَاتِهِ. سُبْحَانَ اللَّهِ مِدَادَ كَلِمَاتِهِ. سُبْحَانَ اللَّهِ مِدَادَ كَلِمَاتِهِ "

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي، محمد بن عبدالرحمن دال طلحه ازاد کړي غلام دي او دمديني اوسيدونکي شيخ او ثقه دي او دا حديث مسعودي اوسفيان ثوري هم دده نه نقل کړي دي.

تشريح: الحمدلله عدد خلقه الحمدلله رضا نفسه الحمدلله زنه عرشه الحمدلله مداد کلماته: کې دالله تعالي دپاکۍ بيان کوم او دالله تعالي تعريف وايم او دالله تعالي دمخلوقاتو دتعداد په مقدار او دهغه دذات دمرضۍ موافق او دعرش دوزن مطابق او دده دکلماتو پشان.

کلماته: ددينه مراد کتابونه دي يا صحيفي دي يا دالله تعالي اسماء دي يا دالله تعالي اوصاف امر او نهي وغيره مراد دي.

لوزتهن قاضي عياض وائي چي ددي ترجمه لرجحت هن ده يعني دا کلمات به درانه اوخيژي. علماؤ دلته دا مسئله معلومه کړي ده چي په ذکر کې کيفيت لره اعتبار وي کيميت لره نه وي.

دام المومنين جويريه بنت الحارث رضي الله عنها حالات

نوم جويريه دپلار نوم يې حارث بن ضرار دی چي دقبيله بنو مصطلق سردار وو ډير ښکلې وو او موزون اندامونه يې وو دجويريه اولنۍ نکاح پخپل خاندان کې درافع بن صفوان سره شوي وه ليکن کله چي دهجرت په پينځم کال په دويم شعبان غزوه مرسيع اوشوه نو په دي کې جويريه رضي الله عنها ګرفتاره شوه اول دثابت بن قيس په حصه کې راغله هغه په نهه اوقيه زرو مکاتبه کړه او بيا جويريه دمال په سلسله کې درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کې حاضره شوه رسول الله ورته اوفرمائيل ايا زه ستا دطرف نه دکتابت مال ادا کړم او نکاح به درسره اوکړم؟ نو په دي باندي ته راضي يې نو جويريه په دي باندي راضي شوه نو رسول الله صلي الله عليه وسلم دکتابت مال هم ادا کړو او نکاح يې هم ورسره اوکړه په طبقات ابن سعد کې دي چي دکتابت دا مال دجويريه پلار ادا کړی وو دا په هغه وخت کې کله چي ازاد شوی وو او بيا يې درسول الله سره نکاح اوکړه جويريه رضي الله عنها ډيره عابدانه زندګي تيروله جويره

رضي الله عنها دهجرت په ۵۰کال ددنیا نه رخصت شوه او په دغه وخت کې ددې عمر ۷۵کلونه وو چې مروان ورباندې جنازه اوکړه او په جنة البقيع کې خاورو ته اوسپارلې شوه.

****

۱۰۵_باب

دسابقه باب متعلق يو بل باب

۳۵۵٦_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، قَالَ: أَنْبَأَنَا جَعْفَرُ بْنُ مَيْمُونٍ صَاحِبُ الأَنْمَاطِ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، عَنْ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ حَيِيٌّ كَرِيمٌ يَسْتَحْيِي إِذَا رَفَعَ الرَّجُلُ إِلَيْهِ يَدَيْهِ أَنْ يَرُدَّهُمَا صِفْرًا خَائِبَتَيْنِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَرَوَاهُ بَعْضُهُمْ وَلَمْ يَرْفَعْهُ.[1]

ترجمه: دسلمان فارسي ﷺنه روايت دی فرمائي چې رسول کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي بيشکه ستاسو رب ډيرحياداراو سخي دی څوك چې كله هغه ته لاس اوچتوي نوحيا ورله ورځي چې خالي يې واپس کړي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي او بعضو راويانو مرفوع نه دي ذكر كړي.

دابوعبدالله سلمان الفارسي رضي الله عنه حالات

نوم مجوسي مايه وو داسلام قبلولو نه پس ورباندې سلمان نوم كيخودى شو كنيه يې ابو عبدالله ده نسب نامه يې داسې ده مايه بن لوذ خشان بن مرسلان بن بهنوخان بن پيروز بن سهرك

دجاهليت په زمانه كې په مجوسيت كې هم ډير كلك وو دده شمير په هغه اورپرست خلقو كې شوى دى كومو چې به په هيڅ وخت كې اور وژلو ته نه پريخودو بيا عيسائي مذهب ته مائل شو او په دې سلسله كې يې دمتعددو فادريانو سره وخت تير كړو اخري فادري ورته درسول الله صلي الله عليه وسلم دراتلو بشارت وركړى وو كله چې دى رسول الله ته راورسيدو نو مسلمان شو رسول الله دده او دابوالدرداء ورورولي قائمه كړه.

دده اولنۍ غزوه خندق وه او دخندق نه پس بيا په تمامو غزواتو كې شريك شوى دى (مسند احمد)

عمر رضي الله عنه دده لره دمدائن والي مقرر كړى دى دده په زندګۍ كې يو څو صفات ډير

[1] ـ ابي داود/الصلاة ۳۵۸ (۱۴۸۸)، ابن ماجه/الدعاء ۱۳ (۳۸٦۵) (تحفة الأشراف: ۴۴۹۴)، ومسند احمد (۵/۴۳۸)

پرقيدونكي وو اول زهد او تقوي دويم درهبانيت نه نفرت ، دريم صداقت، څلورم سخاوت، پينځم دصدقات اخستلو نه اجتناب كول ، مروي دي چي دعثمان رضي الله عنه په زمانه كې وفات شوى دى دده دمروياتو تعداد ۲۰ دى ابوسعيد خدري ، ابن عباس، اوس بن مالك رضي الله عنهم وغيره دده شاګردان دي مزيد حالت يې طبقات ابن سعد او تهذيب الكمال كې كتلى شئ

****

۳۵۵۷_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا صَفْوَانُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَجْلَانَ، عَنِ الْقَعْقَاعِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَجُلًا كَانَ يَدْعُو بِإِصْبَعَيْهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَحِّدْ أَحِّدْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَمَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ: إِذَا أَشَارَ الرَّجُلُ بِإِصْبَعَيْهِ فِي الدُّعَاءِ عِنْدَ الشَّهَادَةِ لَا يُشِيرُ إِلَّا بِإِصْبَعٍ وَاحِدَةٍ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي يو كس به دخپلو دوه ګوتو په اشاري سره دعا كوله رسول الله اوفرمائيل احد احد يعني په يوه ګوته اشاره كوه.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي او ددي حديث معني داده كله چي سړي پخپلو ګوتو په دعا كي دشهادت وخت كي اشاره كوي نوصرف په يوه ګوته دي اشاره كوي.

****

۱۰۶_باب

د سابقه باب متعلق يوبل باب

۳۵۵۸_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ وَهُوَ ابْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، أَنَّ مُعَاذَ بْنَ رِفَاعَةَ أَخْبَرَهُ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَامَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ عَلَى الْمِنْبَرِ ثُمَّ بَكَى، فَقَالَ: قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْأَوَّلِ عَلَى الْمِنْبَرِ، ثُمَّ بَكَى، فَقَالَ: " اسْأَلُوا اللَّهَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فَإِنَّ أَحَدًا لَمْ يُعْطَ بَعْدَ الْيَقِينِ خَيْرًا مِنَ الْعَافِيَةِ ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. (2)

---

1 _ سنن النسائي/السهو ۳۷ (۱۲۷۳) (تحفة الأشراف: ۱۲۸٦٥)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٥٩٣)

ترجمه : درفاعه بن رافع انصاري بيان دي فرماني چي ابوبكر صديق رضي الله عنه په منبر كيناستو او بنه ډير يې اوژړل او بيا يې اوونيل رسول الله صلي الله عليه وسلم دهجرت په اول كال په منبر كيناستو او وېي ژړل او بيا يې اوونيل دالله تعالي نه دګناهونو معافي او د مصيبتونو ګمراهيانو نه عافيت اوغواړئ ځكه چي ايمان او ديقين نه پس كوم بنده ته دعافيت نه بل بهتر څيز نه دي وركړي شوي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي.

درفاعه بن رافع رضي الله عنه حالات

نوم رفاعه كنيه ابو معاذ دمور نوم ام مالك بنت ابي سلول چي د عبدالله بن ابئ منافق خور وه، رفاعه پلار رافع په قبيله بني خزرج كې دتولو نه ړومبى مسلمانيدونكى شخصيت دى، دبيعت عقبه نه دوه كاله مخكې مسلمان شوى دى او دده مور هم ربښتوني مومنه وه او رفاعه پخپله په عقبه ثانيه كې دخپل پلار سره مكي ته لاړو او درسول الله په لاس مسلمان شو او په تمامو غزواتو كې يې شركت كړى دى دبدر ذكر خو په بخاري كې دى خو په جنګ جمل او صفين كې هم دعلي رضي الله عنه سره ملګرى وو چي په ۴۱يا ۴۳هجري كې وفات شوى دى او دا دامير معاويه دحكومت ابتدائي زمانه وه يو څو روايات ورنه مروي دي چي دري ددينه په بخاري كې هم موجود دي.

****

۱۰۷ـ باب

دسابقه باب متعلق يوبل باب

۳۵۵۹ـ حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ يَزِيدَ الكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو يَحْيَى الحِمَّانِيُّ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ وَاقِدٍ، عَنْ أَبِي نُصَيْرَةَ، عَنْ مَوْلًى لِأَبِي بَكْرٍ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا أَصَرَّ مَنِ اسْتَغْفَرَ وَلَوْ فَعَلَهُ فِي اليَوْمِ سَبْعِينَ مَرَّةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ أَبِي نُصَيْرَةَ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالقَوِيِّ. [1]

ترجمه : دابوبكر صديق رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي دګناه كولو نه پس توبه اوباسي او پخپله ګناه پخيمانه شي برابره خبره ده كه دي دا ګناه په يوه ورځ كي اويا پيري هم اوكړي او دي په ګناه باندي تينګ او په ضد ولاړ نه ګڼرلي كيږي.

[1] ـ سنن ابي داود/الصلاة ۳۶۱ (۱۵۱۴) (تحفة الأشراف : ۶۶۲۸)

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي مونږ يې صرف دابو نصيره په روايت پيژنو او سند يې څه خاص قوي نه دي.

****

۱۰۸_باب

د سابقه باب متعلق يو بل باب

۳۵٦۰_حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، وَسُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، المعنى واحد، قَالَا: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، حَدَّثَنَا الأَصْبَغُ بْنُ زَيْدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو العَلَاءِ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، قَالَ: لَبِسَ عُمَرُ بْنُ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ثَوْبًا جَدِيدًا، فَقَالَ: الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي كَسَانِي مَا أُوَارِي بِهِ عَوْرَتِي وَأَتَجَمَّلُ بِهِ فِي حَيَاتِي، ثُمَّ عَمَدَ إِلَى الثَّوْبِ الَّذِي أَخْلَقَ فَتَصَدَّقَ بِهِ ثُمَّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَنْ لَبِسَ ثَوْبًا جَدِيدًا، فَقَالَ: الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي كَسَانِي مَا أُوَارِي بِهِ عَوْرَتِي وَأَتَجَمَّلُ بِهِ فِي حَيَاتِي، ثُمَّ عَمَدَ إِلَى الثَّوْبِ الَّذِي أَخْلَقَ فَتَصَدَّقَ بِهِ، كَانَ فِي كَنَفِ اللَّهِ وَفِي حِفْظِ اللَّهِ وَفِي سَتْرِ اللَّهِ حَيًّا وَمَيِّتًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ.

وَقَدْ رَوَاهُ يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ زَحْرٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ القَاسِمِ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ.[1]

ترجمه: دابوامامه باهلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې عمر فاروق رضي الله عنه نوي جامې واغوستلې او دا دعا يې اولوستله " الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي كَسَانِي مَا أُوَارِي بِهِ عَوْرَتِي وَأَتَجَمَّلُ بِهِ فِي حَيَاتِي " تمام تعريفونه دهغه ذات دپاره دي چاچې ماته جامې داغوستلو دپاره راكړې چې زه ورباندې خپله پرده راولم او خپله زندګي ورباندې ښائسته كوم او بيا يې خپلې زړې جامې راواخستلې او په صدقه كې يې وركړې، او بيا يې اووئيل درسول الله صلى الله عليه وسلم نه مې اوريدلي دي فرمائيل يې چې څوك چې نوې جامه واغوندي دا كلمات دې اووائي " الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي كَسَانِي مَا أُوَارِي بِهِ عَوْرَتِي وَأَتَجَمَّلُ بِهِ فِي حَيَاتِي " او بيا رسول الله خپلې زړې جامې په صدقه كې وركړې (او بيا يې اوفرمائيل څوك چې داسې كار اوكړي) هغه به دالله تعالى په پناه كې راشي په زندګۍ كې هم او دمرګ نه پس هم.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي.

****

---

[1] _ سنن ابن ماجه/اللباس ۲ (۳۵۵۷) (تحفة الأشراف - ۱۰۲٦۰)

۱۰۹_باب

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٥٦١_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْحَسَنِ التِّرْمِذِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ نَافِعٍ الصَّائِغُ قِرَاءَةً عَلَيْهِ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ أَبِي حُمَيْدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا قِبَلَ نَجْدٍ فَغَنِمُوا غَنَائِمَ كَثِيرَةً وَأَسْرَعُوا الرَّجْعَةَ. فَقَالَ رَجُلٌ مِمَّنْ لَمْ يَخْرُجْ: مَا رَأَيْنَا بَعْثًا أَسْرَعَ رَجْعَةً وَلَا أَفْضَلَ غَنِيمَةً مِنْ هَذَا الْبَعْثِ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى قَوْمٍ أَفْضَلُ غَنِيمَةً وَأَسْرَعُ رَجْعَةً، قَوْمٌ شَهِدُوا صَلَاةَ الصُّبْحِ ثُمَّ جَلَسُوا يَذْكُرُونَ اللهَ حَتَّى طَلَعَتْ عَلَيْهِمُ الشَّمْسُ فَأُولَئِكَ أَسْرَعُ رَجْعَةً وَأَفْضَلُ غَنِيمَةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَحَمَّادُ بْنُ أَبِي حُمَيْدٍ هُوَ مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي حُمَيْدٍ الْمَدَنِيُّ، وَهُوَ أَبُو إِبْرَاهِيمَ الْأَنْصَارِيُّ الْمُزَنِيُّ، وَهُوَ ضَعِيفٌ فِي الْحَدِيثِ.[1]

ترجمه : عمرفاروق رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم نجد طرف ته يوه فوجي دسته اوليږله او هغوئ ډير غنيمت حاصل کړو او ډير زر واپس راغلل په دوئ کي دناشنا کسانو نه يو کس اووئيل ما ددي فوج نه بهتر فوج نه دي ليدلي چي دومره زر واپس راتلونکي او زيات غنيمت راوړونکي وي. رسول الله اوفرمائيل چي ايا زه تاسوته ديو داسي جماعت باره کي خبر درنکړم څوک چي ډير غنيمت والا وي؟ او دا هغه کسان دي څوک چي مونځونو ته حاضريږي او بيا دالله ذکر ته کيني تردي پوري چي سحر نمر راوخيژي . دغه کسان ددوئ نه هم زر واپس کيدونکي دي او ددوئ نه زيات غنيمت راوړونکي دي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي. مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو، حماد بن ابي حميد محمد بن ابي حميد دي او دده اسم کنيه ابوابراهيم انصاري ده او دمديني اوسيدونکي دي او په حديث بيانولو کي ضعيف دي.

****

۱۱۰_باب

د سابقه باب متعلق يو بل باب

٣٥٦٢_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ، عَنْ سَالِمٍ،

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۰۴۰۰)

عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ عُمَرَ أَنَّهُ اسْتَأْذَنَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْعُمْرَةِ، فَقَالَ: "أَيْ أُخَيَّ أَشْرِكْنَا فِي دُعَائِكَ وَلاَ تَنْسَنَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: دعمر بن الخطاب رضي الله عنه نه روايت دی چي ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه دعمری کولو اجازت اوغوښتو. نو هغوي اجازت راکړو او راته یي اوونيل . ای روره ؛ ما په خپله دعا کې خان سره شريك کړه

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دی .

تشريح : **ياأخي اشركنا في دعائك"** يعني ای زما وروره پخپله دعا کې مو هير نکړې، ددينه معلوميږي چي حج یادیني سفر کونکي ته ددعا درخواست کول مستحب دي خکه چي دی به اوس په غائبانه طورسره دعاکوي اوغائبانه دعاډيره زر قبليږي اوخاصکر کله چي دحج ياعمري سفر وي نوهلته خو ددعا دقبليدو مقامات زيات دي ضرور به دعا قبليږي بعضي علماء وائي په دي کې دا ارشاد هم دی چي دالله نه کله دعا غواړې نو په مقاماتو داجابت کې صرف دخان دپاره مه غواړې بلکه دنورو مسلمانانو دپاره هم دعا اوغواړې او دخان سره يي په دعا کې شريك کړې

****

۱۱۱_باب

د قرض دخلاصيدو دپاره ددعا غوښتلو بيان

۳۵۶۳_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ حَسَّانَ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ سَيَّارٍ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ مُكَاتَبًا جَاءَهُ، فَقَالَ: إِنِّي قَدْ عَجَزْتُ عَنْ كِتَابَتِي فَأَعِنِّي، قَالَ: أَلاَ أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ عَلَّمَنِيهِنَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كَانَ عَلَيْكَ مِثْلُ جَبَلِ صِيرٍ دَيْنًا أَدَّاهُ اللَّهُ عَنْكَ ؟ قَالَ: "قُلْ: اللَّهُمَّ اكْفِنِي بِحَلاَلِكَ عَنْ حَرَامِكَ، وَأَغْنِنِي بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ. (2)

ترجمه : علي رضي الله عنه نه روايت دی چي هغه ته يو مکاتب راغلو اووېی ونيل زه دخپل بدل کتابت ادا کولو نه عاجز شوی يم نه يی شم ادا کولی، نو ته راسره پکې امداد اوکړه علي رضي الله عنه ورته اوفرمائيل ايا تاته هغه کلمات اونه ښايم کوم چي ماته رسول الله صلي الله

---

1 _ سنن ابي داود/ الصلاة ۳۵۸ (۱۴۹۸) . سنن ابن ماجه/المناسک ۵ (۲۸۹۴)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ۱۰۱۲۸)

عليه وسلم خودلي دي كه تاباندي دغره هومره قرض وي ددی کلماتو په برکت به درته الله تعالي د ادا كولو توفيق دركړي هغه كلمات دادي اللَّهُمَّ اكْفِنِي بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ، وَأَغْنِنِي بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ يا الله جل جلاله ته په حلال رزق ما دحرامونه بچ کړی اوپه خپل فضل می ستانه علاوه دنورو نه بی پرواه کړی.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن غريب دی.

لغات : مکاتبا: ددي مطلب دادی چي څوك خپل غلام ته اووائي ماته دومره دومره مال راکړه تابه ازاد کړم او هغه يي قبول کړي نو داسي غلام ته مکاتب وئيلی شي، جبل معني غر جمع يې جبال راځي، اكفني كفي يكفي كفايتا په معني دکافي کيدلو.

تشريح : الا اعلمك بكلمات يعني تاته هغه کلمات ونه ښايم.

سوال: مکاتب خو مال غوښتلی وو علي رضي الله عنه ورته دسوال مطابق جواب ولي ورنکړو.

جواب: پدغه وخت کې دعلي رضي الله عنه سره مال نه وو او خالي لاس يي واپس ليږل خوښ نه وو نو ځکه يي اووئيل چي څه ناڅه ورته ورکړه.

دويم جواب دادی چي علي رضي الله عنه ګويا کې اوفرمائيل تاسو دخلقو نه سوال کوئ حال دادی چي ضرورت پوره کونکی خو دالله تعالي ذات دی نو په دي وجه ته دا دعا وايه ضرورت به دي ضرور پوره شي.

لوکان عليك مثل جبل دينا: په پورتني حديث کې خو مثل جبل لفظ دی ليکن په نورو روايتونو کې جبل احد لفظ راغلی دی او په يو بل روايت کې مثل جبل لفظ راغلی دی، ددي تولو نه مراد کثرت دی احد غر خو مديني ته نږدي يو مشهور غر دی خواته يي نږدي جنګ هم شوی وو او په همدي وجه ورته غزوه احد وئيلی شي، او صير هم ديو غر نوم دی ليکن په دي کې اختلاف دی چي دا غر چرته دی دبعضو قول دی چي په يمن کې دی او دبعضو په قول د سيراف او عمان په مينځ کې دی.

****

١١٢_باب في دُعَاءِ الْمَرِيضِ
دمريض ددعا بيان

٣٥٦٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلِمَةَ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: كُنْتُ شَاكِيًا فَمَرَّ بِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَقُولُ: اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ أَجَلِي قَدْ حَضَرَ فَأَرِحْنِي وَإِنْ كَانَ مُتَأَخِّرًا فَارْفَعْنِي وَإِنْ كَانَ بَلَاءً فَصَبِّرْنِي، فَقَالَ

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَيْفَ قُلْتَ؟ قَالَ: فَأَعَادَ عَلَيْهِ مَا قَالَ. فَضَرَبَهُ بِرِجْلِهِ فَقَالَ: "اللَّهُمَّ عَافِهِ أَوِ اشْفِهِ" شُعْبَةُ الشَّاكُّ فَمَا اشْتَكَيْتُ وَجَعِي بَعْدُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دعلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي يو ځل زه بيماروم رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته تشريف راوړو او هغه وخت ما دا دعا غوښتله " اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ أَجَلِي قَدْ حَضَرَ فَأَرِحْنِي وَإِنْ كَانَ مُتَأَخِّرًا فَارْفَعْنِي وَإِنْ كَانَ بَلَاءً فَصَبِّرْنِي." يعني اي زما ربه كه زما دمرګ وخت رارسيدلي وي نو په مرګ راته راحت راكړي او كه مرګ مي روسته وي نو صحت راته راكړي او كچري دا ازمائښ وي نو صبر راته راكړي، رسول الله اوفرمائيل څنګه دي اووئيل؟ نو هغه چي څه وئيلي وو هغه يي تكرار كړل رسول الله هغه ته په خپه ديكه وركړه او وبي فرمائيل "اللهم عافه او اشفه" (دشعبه راوي شك دي چي په دي دوه الفاظو كي يي كوم يو لفظ اولوستلو) علي رضي الله عنه فرمائي ماته كله دشكايت موقعه نه ده راغلي
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٥٦٥_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا عَادَ مَرِيضًا قَالَ: "اللَّهُمَّ أَذْهِبِ الْبَأْسَ رَبَّ النَّاسِ، وَاشْفِ فَأَنْتَ الشَّافِي لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ. ([2])

ترجمه : د علي رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم چي به كله د چا دبيمار تپوس كولو نوښي لاس مبارك به يي په بيمار رابنكلو او په دی الفاظو به يي ورته دعا كوله:

اللَّهُمَّ أَذْهِبِ الْبَأْسَ رَبَّ النَّاسِ، وَاشْفِ فَأَنْتَ الشَّافِي لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا

ای دټولو خلقو پروردګاره ده نه مرض لری كړی او شفاوركړی ته شفا وركونكی يي بغير ستا نه بل څوك شفا نشي وركولی داسی كامله شفا وركړی چي هيڅ مرض پكښی پاتی نه شي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: دعلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي كله به رسول الله صلي

[1] ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٣٠٤ (١٠٥٨) (تحفة الأشراف: ١٠١٨٤)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٠٥٠)

الله عليه وسلم دكوم مريض عيادت (بيمار پرسي) كوله نو دا دعا به يي ونيله:
" اللَّهُمَّ أَذْهِبِ الْبَأْسَ رَبَّ النَّاسِ. وَاشْفِ فَأَنْتَ الشَّافِي لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ. شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا "
يعني اي الله دمخلوق پروردګاره عذاب او تکليف ختم کړي او شفا ورکړي يقينا چي ته بهتر شفا ورکونکي يي او ستا دورکړي شفا نه علاوه بله کومه شفا نشته او داسي شفا ورته ورکړي چي دبيمارۍ هيڅ قسم اثر باقي پاتي نشي
امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي
لغات: البائس: عذاب، درد، بهادري، قوت، مرض، البؤس شدت او محتاجي.

تشريح "كان يعود" يعني بيمار پرسي به يي كوله او دبخاري په يو روايت کې يعوذ لفظ راغلى دى ابن حجر وائي چي په دي روايت کې يعوذ په معني د دمولو دى.
خپل ښى لاس به يي دمريض په دردمنه حصه کرخولو علامه طبري وائي په داسي عمل به رسول الله دمول کول دمرض دختميدو دپاره دا قسم دم اچول جائز دي.

****

۱۱۳_باب فِي دُعَاءِ الْوِتْرِ
دوترو ددعا بيان

۳۵۶۶_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عَمْرٍو الْفَزَارِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ فِي وِتْرِهِ: " اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَأَعُوذُ بِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ حَدِيثِ عَلِيٍّ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ. [1]
ترجمه: دعلي ﷺنه روايت دى فرمائي چي رسول كريم صلي الله عليه وسلم به دوترو په اخر كې دا مذكوره دعا لوستله:
" اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَأَعُوذُ بِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ "
يا الله زه دستا دغضب نه دستا درضا په واسطه پناه غواړم اودستا دعذاب نه ستا درحمت په

[1] _ سنن ابي داود/ الصلاة ۳۴۰ (۱۴۲۷)، سنن النسائي/قيام الليل ۵۱ (۱۷۴۸)، سنن ابن ماجه/الإقامة ۱۱۷ (۱۱۷۹) (تحفة الأشراف: ۱۰۲۰۷)، و مسند احمد (۹۶/۱، ۱۱۸، ۱۵۰)

واسطه پناه غوارم اوستا دقهر نه دستا درحمت په واسطه پناه غوارم زه ثنا ستا نشم پوره کولی څنګه چې يې حق دی ته هم هغه شان يې څنګه چې تا خپله خپل خان ستائلی دی
امام ترمذي رحمه الله وايي: دا روايت دحمادنه علاوه بل چادهشام نه روايت نه دی کړی. او په دي سند حسن غريب دی.

تشريح : "لااحصي ثناء عليك" يعني زه ستا دداسي ثنا بيانولو طاقت نه لرم دکومي چې ته لائق يي ، يا ددي دا مطلب دی چې ستا ديو نعمت دتعريف دبيانولو طاقت هم نه لرم امام سيوطي وائي ددي مطلب دادی چې زه ستا په تعريف احاطه نشم کولی.

انت كما اثنيت على نفسك: يعني ته داسي يي لکه څرنګ چې دي خپل تعريف کړی دی علامه خطابي وائي په دي جمله کې دانساني عجز او انکساري بيان دی انسان که هر څومره کوشش اوکړي خو دالله تعالي په تعريف بيانولو احاطه نشي کولي يو طرف ته دانسان په ذمه تعريف کول هم دي او بل طرف ته استغفار کول هم دي چې ای الله ماستا دتعريف حق ادا نکړو دکوم چې ته مستحق يي (نو بخښنه راته وکړي).

****

١١٤ـ باب فِي دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَعَوُّذِهِ دُبُرَ كُلِّ صَلاَةٍ

دهر مونځ نه پس د نبي کريم صلي الله عليه وسلم ددعا غوښتلو او دمعوذاتو ويلو بيان

٣٥٦٧ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا زَكَرِيَّا بْنُ عَدِيٍّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ هُوَ ابْنُ عَمْرٍو الرَّقِّيُّ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ، وَعَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ، قَالاَ: كَانَ سَعْدٌ يُعَلِّمُ بَنِيهِ هَؤُلاَءِ الْكَلِمَاتِ كَمَا يُعَلِّمُ الْمُكَتِّبُ الْغِلْمَانَ وَيَقُولُ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَعَوَّذُ بِهِنَّ دُبُرَ الصَّلاَةِ: " اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَرْذَلِ الْعُمُرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ ". قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ: أَبُو إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ مُضْطَرِبٌ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، وَيَقُولُ: عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ، عَنْ عُمَرَ، وَيَقُولُ: عَنْ غَيْرِهِ وَيَضْطَرِبُ فِيهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه : مصعب بن سعد او عمرو بن ميمون وايي چې سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه به خپل اولاد ته ددي کلماتو داسي تعليم ورکولو څنګه چې ماشومانو ته خلق تعليم ورکوي او

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجهاد ١٢٥ (٢٨٢٢) . والدعوات ٣٧ (٦٣٦٥) . و٤١ (٦٣٧٠) . و٤٤ (٦٣٧٤) . و٥٦ (٦٣٩٠) . سنن النسائي/الاستعاذة ٥ (٥٤٤٧) . و٦ (٥٤٤٩) (تحفة الأشراف : ٣٩١٠ . و٣٩٢٢) . و مسند احمد (١/١٨٣ . ١٨٦)

ونيل به يې رسول الله صلي الله عليه وسلم به په دي كلماتو د مونځ نه پس پناهي غوښتله:
اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَرْذَلِ الْعُمُرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ
يا الله جل جلاله زه په تا پناه غوارم دبزدلئ نه اوبخيلئ نه اوزه په تاسره پناه غوارم ددی نه چې دذلت عمرته اورسولی شم اوزه په تاباندي پناه غوارم ددنيا دفتنو نه اوزه په تاباندي پناه غوارم دقبر د قبر د عذاب نه.
امام ترمذي رحمه الله وايي: عبد الله بن عبد الرحمن وايي چي اسحاق همداني په دي روايت كې مضطرب شوی دی او دا حديث په دي سند حسن دی.
لغات: الجبن: معني بزدلي ، فتنة، گمراه كيدل ، ازمائش كول ، الدنيا دني يدنو دنوا په معني دقريب كيدو اود باب سمع نه په معني دذليل.
تشريح: جبن معني بزدلي دشجاعت ضد دی او بخل معني كنجوسي دسخاوت ضد دی "چې انتهائي بوډاوالي ته ورسيږم" په داسي حالت كې دانسان حركات دماشومانو پشان دي او په داسي وخت كې هر انسان دالله معرفت او ظاهري او باطني عبادات په كامل طور سره نشي كولی نو څكه دداسي عمرنه پناه غوښتلی شوي ده.
علي رضي الله عنه وائي ددينه مراد دپينځه اوياؤ كالو عمر دی په دي كې عموما دانسان اعضاء كمزوري كيږي.
من فتنة الدنيا: چي په دنيا كې دومره مشغول شي چي الله ورنه هم هير شي او دعبادت نه هم منع شي او خواهشات نفسانيه طرف ته روان شي.
اعوذبك من فتنة القبر: دعذاب قبر چي كوم حالات په احاديثو كې راغلي دي داسي دي چي په فلانئ فلانئ طريقه به دقبرعذاب وي ددينه پناه غوښتلی شوي ده، دبعضو په نزد دمنكر نكير سوال او جواب مراد دی.

****

٣٥٦٨_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْحَسَنِ، حَدَّثَنَا أَصْبَغُ بْنُ الْفَرَجِ، أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِلَالٍ، عَنْ خُزَيْمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ بِنْتِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنْ أَبِيهَا، أَنَّهُ دَخَلَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى امْرَأَةٍ وَبَيْنَ يَدَيْهَا نَوًى، أَوْ قَالَ حَصًى تُسَبِّحُ بِهِ، فَقَالَ: " أَلَا أُخْبِرُكِ بِمَا هُوَ أَيْسَرُ عَلَيْكِ مِنْ هَذَا أَوْ أَفْضَلُ؟ سُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي السَّمَاءِ، وَسُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي الْأَرْضِ، وَسُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا بَيْنَ ذَلِكَ، وَسُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ

مَا هُوَ خَالِقٌ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ مِثْلَ ذَلِكَ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ مِثْلَ ذَلِكَ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ مِثْلَ ذَلِكَ ".
قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ حَدِيثِ سَعْدٍ. ([1])

ترجمه : د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه بيان دي فرمائي زه د رسول الله سره يوي ښځي كره داخل شوم او د غه وخت د هغي مخي ته دكجورو زړي پراته وو هغي وونيل چي مونږ په دي باندي تسبيحات وايو رسول الله اوفرمانيل ايا داسي به ښه نه وي چي ددينه درته زياته اسانه طريقه اوښايم او تا څومره ونيلي دي؟ ما ورته اوونيل ضرور يي راته اوښايه نو رسول الله اوفرمانيل :

"سُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي السَّمَاءِ، وَسُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي الأَرْضِ، وَسُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا بَيْنَ ذَلِكَ، وَسُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا هُوَ خَالِقٌ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ مِثْلَ ذَلِكَ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ مِثْلَ ذَلِكَ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ مِثْلَ ذَلِكَ"

يعني زه ستا دمخلوقاتو دتعداد برابر تسبيح وايم يعني دا الفاظ وايه.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي او داحديث مونږ ته دصفيه په روايت صرف په همدي سند وارد دي يعني دهاشم بن سعيد كوفي په سند او دده سند معروف نه دي، او په دي باب كي دابن عباس رضي الله عنهما نه هم حديث وارد دي.

****

٣٥٦٩ـ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، وَزَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِي حَكِيمٍ خَطْمِيٍّ مَوْلَى الزُّبَيْرِ، عَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا مِنْ صَبَاحٍ يُصْبِحُ الْعَبْدُ فِيهِ إِلَّا وَمُنَادٍ يُنَادِي: سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا غَرِيبٌ. ([2])

ترجمه دزبير بن عوام رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هيڅ يو سحر داسي نشته چي دالله تعالي بندګان سبا كړي مګر يو اواز كونكي دا اواز كوي سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ" يعني دا الفاظ وائي
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي

****

[1] ـ سنن ابي داود/ الصلاة ٣٥٩ (١٥٠٠) (تحفة الأشراف: ٣٩٥٢)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٦٣٤)

7/14

١١٥_باب في دُعَاءِ الحِفْظِ

دقران حفظ كولو ددعا بيان

٣٥٧٠_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْحَسَنِ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، وَعِكْرِمَةَ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَهُ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ، فَقَالَ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي تَفَلَّتَ هَذَا الْقُرْآنُ مِنْ صَدْرِي فَمَا أَجِدُنِي أَقْدِرُ عَلَيْهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يَا أَبَا الْحَسَنِ أَفَلَا أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ يَنْفَعُكَ اللَّهُ بِهِنَّ وَيَنْفَعُ بِهِنَّ مَنْ عَلَّمْتَهُ وَيُثَبِّتُ مَا تَعَلَّمْتَ فِي صَدْرِكَ ؟ ". قَالَ: أَجَلْ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَعَلِّمْنِي، قَالَ: " إِذَا كَانَ لَيْلَةُ الْجُمُعَةِ فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تَقُومَ فِي ثُلُثِ اللَّيْلِ الآخِرِ، فَإِنَّهَا سَاعَةٌ مَشْهُودَةٌ وَالدُّعَاءُ فِيهَا مُسْتَجَابٌ، وَقَدْ قَالَ أَخِي يَعْقُوبُ لِبَنِيهِ: سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّي يَقُولُ: حَتَّى تَأْتِيَ لَيْلَةُ الْجُمْعَةِ فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ، فَقُمْ فِي وَسَطِهَا، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ، فَقُمْ فِي أَوَّلِهَا فَصَلِّ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ، تَقْرَأُ فِي الرَّكْعَةِ الأُولَى بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ، وَسُورَةِ يس، وَفِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ، وحم الدُّخَانِ، وَفِي الرَّكْعَةِ الثَّالِثَةِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ، وَ الم تَنْزِيلُ السَّجْدَةَ، وَفِي الرَّكْعَةِ الرَّابِعَةِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ، وَتَبَارَكَ الْمُفَصَّلَ، فَإِذَا فَرَغْتَ مِنَ التَّشَهُّدِ، فَاحْمَدِ اللَّهَ، وَأَحْسِنِ الثَّنَاءَ عَلَى اللَّهِ، وَصَلِّ عَلَيَّ، وَأَحْسِنْ، وَعَلَى سَائِرِ النَّبِيِّينَ، وَاسْتَغْفِرْ لِلْمُؤْمِنِينَ، وَالْمُؤْمِنَاتِ، وَلإِخْوَانِكَ الَّذِينَ سَبَقُوكَ بِالإِيمَانِ، ثُمَّ قُلْ فِي آخِرِ ذَلِكَ: اللَّهُمَّ ارْحَمْنِي بِتَرْكِ الْمَعَاصِي أَبَدًا مَا أَبْقَيْتَنِي، وَارْحَمْنِي أَنْ أَتَكَلَّفَ مَا لَا يَعْنِينِي، وَارْزُقْنِي حُسْنَ النَّظَرِ فِيمَا يُرْضِيكَ عَنِّي، اللَّهُمَّ بَدِيعَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ ذَا الْجَلَالِ وَالإِكْرَامِ وَالْعِزَّةِ الَّتِي لَا تُرَامُ، أَسْأَلُكَ يَا أَللَّهُ يَا رَحْمَنُ بِجَلَالِكَ، وَنُورِ وَجْهِكَ أَنْ تُلْزِمَ قَلْبِي حِفْظَ كِتَابِكَ كَمَا عَلَّمْتَنِي، وَارْزُقْنِي أَنْ أَتْلُوَهُ عَلَى النَّحْوِ الَّذِي يُرْضِيكَ عَنِّي، اللَّهُمَّ بَدِيعَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ ذَا الْجَلَالِ وَالإِكْرَامِ وَالْعِزَّةِ الَّتِي لَا تُرَامُ، أَسْأَلُكَ يَا أَللَّهُ يَا رَحْمَنُ بِجَلَالِكَ وَنُورِ وَجْهِكَ أَنْ تُنَوِّرَ بِكِتَابِكَ بَصَرِي، وَأَنْ تُطْلِقَ بِهِ لِسَانِي، وَأَنْ تُفَرِّجَ بِهِ عَنْ قَلْبِي، وَأَنْ تَشْرَحَ بِهِ صَدْرِي، وَأَنْ تَغْسِلَ بِهِ بَدَنِي، لأَنَّهُ لَا يُعِينُنِي عَلَى الْحَقِّ غَيْرُكَ، وَلَا يُؤْتِيهِ إِلَّا أَنْتَ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ، يَا أَبَا الْحَسَنِ تَفْعَلُ ذَلِكَ ثَلَاثَ جُمَعٍ، أَوْ خَمْسَ، أَوْ سَبْعَ تُجَابُ بِإِذْنِ اللَّهِ، وَالَّذِي بَعَثَنِي بِالْحَقِّ مَا أَخْطَأَ مُؤْمِنًا قَطُّ ". قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبَّاسٍ: فَوَاللَّهِ مَا لَبِثَ عَلِيٌّ إِلَّا خَمْسًا أَوْ سَبْعًا حَتَّى جَاءَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مِثْلِ ذَلِكَ

الْمَجْلِسِ. فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي كُنْتُ فِيمَا خَلَا لَا آخُذُ إِلَّا أَرْبَعَ آيَاتٍ أَوْ نَحْوَهُنَّ. وَإِذَا قَرَأْتُهُنَّ عَلَى نَفْسِي تَفَلَّتْنَ. وَأَنَا أَتَعَلَّمُ الْيَوْمَ أَرْبَعِينَ آيَةً أَوْ نَحْوَهَا وَإِذَا قَرَأْتُهَا عَلَى نَفْسِي فَكَأَنَّمَا كِتَابُ اللهِ بَيْنَ عَيْنَيَّ. وَلَقَدْ كُنْتُ أَسْمَعُ الْحَدِيثَ فَإِذَا رَدَدْتُهُ تَفَلَّتَ وَأَنَا الْيَوْمَ أَسْمَعُ الْأَحَادِيثَ فَإِذَا تَحَدَّثْتُ بِهَا لَمْ أَخْرِمْ مِنْهَا حَرْفًا. فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ ذَلِكَ: " مُؤْمِنٌ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ يَا أَبَا الْحَسَنِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ الْوَلِيدِ بْنِ مُسْلِمٍ. [1]

ترجمه دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي يو وخت کي درسول الله صلي الله سره موجود وو چي علي رضي الله عنه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شو او عرض يي اوکړو زما مور او پلار دي په تا قربان شي قران خو زما دسيني نه روان دي اوخي او زه خو يي محفوظ کولي نشم رسول الله ورته اوفرمائيل اي ابوالحسن ايا زه درته داسي کلماتو خبر درنکړم دکومو په ذريعه چي به الله تعالي تاته فائده درکړي او هغه چاته به هم فائده ورکړي چاته چي ته ددي تعليم ورکړي بيا چي ته څه يادوي هغه به ستا په سينه کي محفوظ وي ما اووئيل هو راته يي بيان کړه اي دالله رسوله رسول الله اوفرمائيل کله چي دجمعي شپه وي او دشپي په اخري دريمه حصه کي که ته اودريدي شي نو اودريږه او دغه وخت کي عبادت اوکړه ځکه چي دشپي د دريمي اخري حصي داسي وخت وي په کوم کي چي فرشتي هم موجود وي او دعا پکي هم قبليږي زما ورور يعقوب عليه السلام هم خپلو ځامنو ته اووئيل **"سوف استغفرلكم ربي"** يعني زر ده چي زه به ستاسو دپاره دخپل رب نه مغفرت اوغواړم. که دراتلونکي جمعي په شپه دشپي په اخري حصه کي بيدار نشوي نو په درمياني حصه کي اودريږه او که په مينځني حصه کي بيدارنشي نو په اولني حصه کي اودريږه او څلور رکعاته مونځ اوکړه. په اولني رکعات کي سورة فاتحه او سورة يسين اووايه په دويم رکعات کي سورة فاتحه او سورة دخان او په دريم رکعات کي سورة فاتحه او سورة السجده اووايه او په څلورم رکعات کي سورة فاتحه او سورة ملك اووايه بيا چي دتشهد نه فارغ شي نو الله تعالي حمد اووايه او په ښه شان سره ثناء بيان کړه او په ماباندي درود په ښه شان سره اووايه او په ټولو نبيانو باندي درود اووايه او دمومنانو سړو او مومنانو ښځو دپاره مغفرت اوغواړه او دهغه مومنانو رونړو دپاره هم مغفرت دعا اووايه څوك چي ستا نه مخکي تير شوي دي بيا ددي ټولو کارونو کولو نه پس دا دعا اووايه:

اللَّهُمَّ ارْحَمْنِي بِتَرْكِ الْمَعَاصِي أَبَدًا مَا أَبْقَيْتَنِي، وَارْحَمْنِي أَنْ أَتَكَلَّفَ مَا لَا يَعْنِينِي، وَارْزُقْنِي حُسْنَ

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٩٢٤، و ٦١٥٢)

النَّظَرِ فِيمَا يُرْضِيكَ عَنِّي. اللَّهُمَّ بَدِيعَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ وَالْعِزَّةِ الَّتِي لَا تُرَامُ. أَسْأَلُكَ يَا أَللّٰهُ يَا رَحْمٰنُ بِجَلَالِكَ، وَنُورِ وَجْهِكَ أَنْ تُلْزِمَ قَلْبِي حِفْظَ كِتَابِكَ كَمَا عَلَّمْتَنِي، وَارْزُقْنِي أَنْ أَتْلُوَهُ عَلَى النَّحْوِ الَّذِي يُرْضِيكَ عَنِّيَ. اللَّهُمَّ بَدِيعَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ وَالْعِزَّةِ الَّتِي لَا تُرَامُ. أَسْأَلُكَ يَا أَللّٰهُ يَا رَحْمٰنُ بِجَلَالِكَ وَنُورِ وَجْهِكَ أَنْ تُنَوِّرَ بِكِتَابِكَ بَصَرِي، وَأَنْ تُطْلِقَ بِهِ لِسَانِي، وَأَنْ تُفَرِّجَ بِهِ عَنْ قَلْبِي، وَأَنْ تَشْرَحَ بِهِ صَدْرِي، وَأَنْ تَغْسِلَ بِهِ بَدَنِي، لِأَنَّهُ لَا يُعِينُنِي عَلَى الْحَقِّ غَيْرُكَ، وَلَا يُؤْتِيهِ إِلَّا أَنْتَ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ "

يعني اي الله په ماباندي رحم اوکړي په داسي شان سره چي څو پوري زما ژوند وي چي زه بيا هيڅ کله ګناه اونکړم او اي الله ته په ماداسي رحم اوکړي چي زه په بي فائدي کارونو کي مبتلا نشم او چي کوم کارونه ستا درضا اسباب دي دهغي دپيژندلو دپاره ماته ښائسته نظر راکړي. اي الله داسمانونو او زمکو پيداکونکيه اي دجلال او اکرام مالکه ته دداسي عزت او مرتبي والا يي دکومي دحاصلولو چي څوك قصد او اراده نشي کولي. اي الله اي دلوي رحمت مالکه زه ستا دجلال او ستا دمنور مخ په وسيله ستا نه دعا غواړم چي ته زما زړه ستا دکتاب دحفظ سره اوتړي کوم قران چي تا ماته خودلي دي چي دا زما په زړه کي محفوظ پاتي شي او ته ماته ددي خبري توفيق راکړي چي زه دا کتاب په ښه طريقه اولولم چي تاله زمانه راضي او خوشحاله کړي، اي الله داسمانونو او زمکي پيداکونکيه دجاه او جلال او عزت مالکه دکوم عزت چي څوك اراده هم نشي کولي. اي الله او اي رحمان ذاته ستا دجلال او ستا دمخ دنور په وسيله زه ستا نه دا سوال کوم چي ته دخپل کتاب په ذريعه زما نظر منور کړي (چي معرفت الهي راته حاصل شي) او زما ژبه هم ددي موافق اوچليږي، او ددي په ذريعه زما دزړه غم ختم کړي او ددي په ذريعه زما سينه پرانيزي (چي زه ښي خبري اوپيژنم) او ددي په ذريعه زما بدن اووينځي (چي زه پاك او صاف پاتي شم) خکه چي په حق باندي زما دتلو دپاره ستا نه علاوه بل څوك مددګاري نشي کولي او نه ستا نه علاوه ماته بل څوك حق راکولي شي او الله تعالي چي لوي شان والا او لوي ذات والا دي دهغه نه علاوه بل څوك دګناهونونه دراګرځيدو او دنيکيانو دجاري ساتلو توفيق بل څوك نشي ورکولي. اي ابولحسن همداسي کوه تردري جمعو يا پنځو جمعو يا اوه جمعو پوري، الله تعالي به ستا دعا قبوله کړي، او زما دي په هغه ذات قسم وي چاچي زه په حقه راليږلي يم په دي طريقه چي هر يو مومن عمل اوکړي هغه به محروم پاتي نشي. دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي زما دي په الله قسم وي علي رضي الله عنه به پنځه يا اوه جمعي اودريدلي وي چي بيا درسول الله په خدمت کي په يو مجلس کي حاضر شو او عرض يي اوکړو اي دالله رسوله ما ددينه مخکي څلور ايتونه يا ددي پشان دوه يا يو ايت يا کم او زيات يادول او چي کله به مي دا په زړه کي تکرارول نو بيا به رانه هير شول مګر اوس زما دا

حال دي چي څلويښت ايتونه يا دڅلويښتو نه دوه يا څلور کم ايتونه يادوم او چي کله زه دا تکراروم نو ماته داسي ښکاري لکه چي قران زما په وړاندي پرانيستلي پروت دي اوزه يي په روانۍ سره لولم، او همدا رنګي ددينه مخکي چي ما احاديث اوريدل او بيا به مي تکرارول نو زما په دماغو کي به نه پاتي کيدل ليکن نن زما دا خيال دي چي زه احاديث واورم او بيا يي بيانوم نو په هغي کي رانه يو حرف هم نه پاتي کيږي رسول الله صلي الله عليه وسلم په دي موقعه اوفرمائيل دکعبي په رب مي دي قسم وي اي ابوالحسن ته مومن يي
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي صرف دوليد بن مسلم په سند پيژنو.

****

١١٦_باب فِي انتِظَارِ الْفَرَجِ وَغَيْرِ ذَلِكَ

فراخۍ ته دا نتظار کولو بيان

٣٥٧١_حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُعَاذٍ العَقَدِيُّ البَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ وَاقِدٍ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي الأَحْوَصِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سَلُوا اللَّهَ مِنْ فَضْلِهِ فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يُحِبُّ أَنْ يُسْأَلَ، وَأَفْضَلُ العِبَادَةِ انْتِظَارُ الفَرَجِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَكَذَا رَوَى حَمَّادُ بْنُ وَاقِدٍ هَذَا الحَدِيثَ، وَقَدْ خُولِفَ فِي رِوَايَتِهِ، وَحَمَّادُ بْنُ وَاقِدٍ هَذَا هُوَ الصَّفَّارُ لَيْسَ بِالحَافِظِ، وَهُوَ عِنْدَنَا شَيْخٌ بَصْرِيٌّ، وَرَوَى أَبُو نُعَيْمٍ هَذَا الحَدِيثَ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ رَجُلٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا، وَحَدِيثُ أَبِي نُعَيْمٍ أَشْبَهُ أَنْ يَكُونَ أَصَحَّ.[1]

ترجمه: دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دالله تعالي نه دهغه فضل اوغواړۍ يقينا چي الله تعالي دا خوښوي چي غوښتل ورنه اوکړي شي او په عبادتونو کي بهترين عبادت دفراخۍ راتلو انتظار کول دي
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حماد بن واقد همداسي نقل کړي دي، او دده په روايت کي دده خلاف شوي دي او حماد بن واقد په صفار مشهور دي او حافظ نه دي او زمونږ په نزد دبصري اوسيدونکي شيخ دي، دارنګي دا حديث ابو نعيم داسرائيل نه او هغه دحکم بن جبير نه ديو کس په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه مرسل نقل کړي دي او دابونعيم حديث دصحت سره زيات مشابه دي.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٥١٥)

****

٣٥٧٢_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا عَاصِمٌ الأَحْوَلُ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَالْعَجْزِ وَالْبُخْلِ ". وَبِهَذَا الإِسْنَادِ، وَبِهَذَا الإِسْنَادِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ " يَتَعَوَّذُ مِنَ الْهَرَمِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه دزيد بن ارقم رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دا دعا اوريدلي ده چي وئيل يي " اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَالْعَجْزِ وَالْبُخْلِ". يعني اي الله زه په تا باندي پناه غوارم دسستئ او كاهلئ نه او د عاجز كيدو او خواريدو نه او دبخل او كنجوسئ نه، او په همدي سند دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به پناهي غوښتله دبوډوالي او دقبر دعذاب نه.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي

****

٣٥٧٣_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الدَّارِمِيُّ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ، عَنِ ابْنِ ثَوْبَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، أَنَّ عُبَادَةَ بْنَ الصَّامِتِ حَدَّثَهُمْ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَا عَلَى الأَرْضِ مُسْلِمٌ يَدْعُو اللَّهَ بِدَعْوَةٍ إِلَّا آتَاهُ اللَّهُ إِيَّاهَا أَوْ صَرَفَ عَنْهُ مِنَ السُّوءِ مِثْلَهَا مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ، أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ ". فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: إِذًا نُكْثِرَ، قَالَ: " اللَّهُ أَكْثَرُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ. وَابْنُ ثَوْبَانَ هُوَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ ثَابِتِ بْنِ ثَوْبَانَ الْعَابِدُ الشَّامِيُّ. (١)

ترجمه عباده بن الصامت رضي الله عنه فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي هر يو بنده چي دالله تعالي نه دعا غواړي نو ده ته خو يا هغه څيز ورکړي شي کوم چي يي غوښتلي وي او يا ددي دعا په نتيجه کي ددي دعا په مثل چي کوم مصيبت ده ته راتلونکي وي هغه ورنه الله تعالي لري کړي مګر څو پوري چي دګناه باره کي دا دعا نه وي اويا دصله رحمئ قطع کولو باره کي نه وي.

---

١ صحيح مسلم/الذكر والدعاء ١٨ (٢٧٢٢)، سنن النسائي/الاستعاذة ١٣ (٥٤٦٠)، و٦٥ (٥٥٤٠) (تحفة الأشراف: ٣٦٨٦) ، ومسند احمد (٤/٣٧١)

١ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٠٤٣)

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي او دابن ثوبان نوم عبدالرحمن بن ثابت بن ثوبان العابد الشامي، دي

دعباده بن صامت رضي الله عنهٔ حالات:

نوم عباده كنيه ابو الوليد په بني خزرج كې يې دسالم خاندان سره تعلق دی دپلار نوم يې صامت او دمور نوم يې قرة العين وو. په غزوه بدر او ددينه پس په تمامو غزواتو كې شريك پاتي شوی دی او په بيعة الرضوان كې هم موجود وو ،طبقات ابن سعد،

خلافت صديقي او فاروقي كې هم په جنګونو كې شريك پاتي شوی دی

عمرفاروق رضي الله عنه دخپل خلافت په زمانه كې دی دفلسطين قاضي مقرر كړی دی عباده د حفاظو صحابه كرامو دجملي نه وو چي اصحاب صفه ته به يې دقرائت تعليم وركولو ،مسند احمد،

عمرفاروق رضي الله عنه دی په شام كې دمسلمانانو دتعليم دپاره متعين كړی وو دقرائت نه علاوه په فقه كې ورته هم مهارت حاصل وو يوځل قتاده دعباده ملاقات ته لاړو نو ويې وئيل "وكان قد تفقها في دين الله" يعني عباده دالله په دين كې مهارت حاصل كړی وو

وفات د دوه اوياكالو په عمر كې دهجرت په ۳۴كال وفات شو دوفات وخت يې چي نژدې شو نو يو خوي يې ورته دوصيت كولو درخواست اوكړو نو ويې فرمائيل مانيغ كينوئ او بيايې ددينه پس اوفرمائيل ای بچيه په تقدير به يقين ساتي ورنه ايمان ته دي خيرنشته ،مسند احمد،

دده د دفن كيدو دخاي په باره كې دعلماؤ دري اقوال دي . اول ابن سعد رمله مقام ليكلی دی. دويم بعضي علماؤ بيت المقدس ليكلی دی او امام بخاري فلسطين ليكلی دی. ددي دري وارو په حقيقت كې څه اختلاف نشته ځكه چي رمله په فلسطين كې يوه صوبه ده او بيت المقدس هم يود ضلع ده دده دروايت شمير ۱۸۱ دی چي شپږ متفق عليه دي او دوه صرف بخاري نقل كړي دي

****

۱۱۷_باب

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٥٧٤_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ. حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ، حَدَّثَنِي الْبَرَاءُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا أَخَذْتَ مَضْجَعَكَ، فَتَوَضَّأْ وُضُوءَكَ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ اضْطَجِعْ عَلَى شِقِّكَ الأَيْمَنِ، ثُمَّ قُلْ: اللَّهُمَّ أَسْلَمْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ، وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ، وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ

رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ. لَا مَلْجَأَ وَلَا مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ. آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ. وَنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ. فَإِنْ مُتَّ فِي لَيْلَتِكَ مُتَّ عَلَى الفِطْرَةِ". قَالَ: فَرَدَدْتُهُنَّ لِأَسْتَذْكِرَهُ. فَقُلْتُ: آمَنْتُ بِرَسُولِكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ. فَقَالَ: قُلْ آمَنْتُ بِنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ. قَالَ: وَهَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنِ البَرَاءِ. وَلَا نَعْلَمُ فِي شَيْءٍ مِنَ الرِّوَايَاتِ ذِكْرَ الوُضُوءِ إِلَّا فِي هَذَا الحَدِيثِ. [1]

ترجمه براء بن عازب رضي الله عنهما راوي دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته اوفرمائيل چي کله ته خپل دخوب ځای ته راتلل غواړې نو اول دمانځه پشان اودس اوکړه بيا په ښي اړخ باندی څمله او دا دعا اولوله:

اللَّهُمَّ أَسْلَمْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ. وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ. وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ. لَا مَلْجَأَ وَلَا مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ. آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ. وَنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ

ای الله ما خپل روح تاته اوسپارلو. خپل مخ مي ستا طرف ته کړو. خپل کارونه مي تاته حواله کړل. او ستا په حفاظت کي راغلم. خوشالی خوشالی او په ويره ويره نه خوچرته ستا نه دتښتيدو ځای شته اونه ستا نه دبچ کيدو کوم مقام شته . ما ستا په نازل کړی کتاب او ستا راليږلی نبي باندی ايمان راوړلو. بيا که چرې ته په دې شپه کي مړشوی نو ستا دا مرګ به په فطرت باندی وي ستا دا دعا دي ستا اخري کلام وي ايعني ددينه پس بله څه خبره مه کوه، راوي وايي چي ما ددي کلماتو تکرار وکړو ددي دپاره چي حفظ يي کړم نو مابه برسولك الذي ارسلت ونيل راته يي اوفرمائيل بنبيك الذي ارسلت وايه.

امام ترمذي رحمه الله وايي دا حديث حسن صحيح دي. دا حديث دبراء بن عازب نه په يو څو سندونو مروي دي مګر ددي روايت نه علاوه مونږ په هيڅ يو روايت کي دا نه دي موندلي چي داودس ذکر پکي شوي وي.

لغات شقك . جانب . کناره والجائت سپارل ملجاء دلجيه لجا فتح نه او سمع نه په معني دپناه اخستلو.

تشريح فتوضاء اودس اوکړه . دا اودس مستحب دی.

وضوءك للصلاة: په شان دهغه اودس چي ته يي دمونځ دپاره کوي اودس وکړه، دلته اعتراض دی دهغه لغوي اودس نه دکوم اطلاق چي په لاس وينځو او غرغري کولو کيږي لکه چي دخوراك نه مخکي چي کولی شي

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الوضوء ٧٥ (٢٤٧) . صحيح مسلم/الذكر والدعاء ١٧ (٢٧١٠). سنن ابن ماجه/الدعاء ١٥(٣٨٧٦)(تحفة الأشراف: ١٣ ـ ١٧) . وسنن الدارمي الاستئذان ٥١ (٢٧٢٥)

شقك الايمن: عياضي عياض وائي په بني اړخ پريوتوکې دا فائده ده چې دانسان زړه چپ طرف ته وي نو که دی په چپ طرف څملي نو په خوب کې به بالکل مستغرق نه وي او زيات راحت او سکون به ورته ملاؤ نشي نو په تهجدو کې به ورته پاڅيدل اسان وي او که ددي په خلاف څملي نو دغفلت خوب به ورباندي راشي او پاڅيدل به ورته ګران شي

سوال رسول الله به په ښي اړخ ولي څملاستو دهغه زړه خوبه بيدار وو هيڅ کله به نه غافل کيدو.

جواب رسول الله په شرف والاهر کار کې ښی طرف خوښولو دويم دا چې په دي کې دامت دپاره تعليم دی

اللهم اسلمت نفسي: ای الله ماتاته خپل خان سپارلی دی يعني خپل خان مي ستا تابع کړی دی خکه چې هيڅ نفع نشي ملاويدی او هيڅ تکليف نشي لري کيدی ترڅوپوري چې تا غوښتلي نه وي زه تاته سپارلی شوی يم نو اوس که په ما هر څه حال راخي زه به په تا باندي اعتراض اونکړم

****

٣٥٧٥_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل بْنِ أَبِي فُدَيْكٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْبَرَّادِ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ خُبَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: خَرَجْنَا فِي لَيْلَةٍ مَطِيرَةٍ، وَظُلْمَةٍ شَدِيدَةٍ، نَطْلُبُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي لَنَا. قَالَ: فَأَدْرَكْتُهُ. فَقَالَ: قُلْ: فَلَمْ أَقُلْ شَيْئًا. ثُمَّ قَالَ: قُلْ: فَلَمْ أَقُلْ شَيْئًا. قَالَ: قُلْ. فَقُلْتُ: مَا أَقُولُ؟ قَالَ: قُلْ: " قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ، وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ حِينَ تُمْسِي وَتُصْبِحُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ تَكْفِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، مِنْ هَذَا الْوَجْهِ وَأَبُو سَعِيدٍ الْبَرَّادُ هُوَ أَسِيدُ بْنُ أَبِي أَسِيدٍ مَدَنِيٌّ. (1)

ترجمه عبدالله بن خبيب رضي الله عنه وائي چې ماته رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې سحر اومابنام قل هو الله احد اومعوذتين دري دري خله لوله دا به دهر څيز نه تاته کفايت اوکړي څه تکليف او څه ضرر به تاته اونه رسيږي،

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي او دابوسعيد براد نوم اسيد بن ابي اسيد مدني دي

لغات المعوذتين قل اعوذ برب الفلق، او ، قل اعوذ برب الناس، تكفيك كفي يكفي كفاية معني كافي کيدل.

1. سنن ابي داود/الأدب ١١٠ (٥٠٨٢) سنن النسائي/الاستعاذة ١ (٥٤٣٠) (تحفة الأشراف : ٥٢٥٠)

تشريح دسحر او ماښام په دعاګانو کې سورة اخلاص او معوذتين هم دي ددي سورتونو په احاديثو کې ډير فضائل راغلي دي په يو روايت کې راځي چې سورة اخلاص لوستل په ثواب کې دقران د دريمي حصي سره برابر دی او په بل روايت کې راځي چې څوك روزانه دوه سوه پيري قل هوالله احد وائي نو دده دعمل نامي نه به دپنځوسو کالو ګناهونه ختم کړی شي په يو بل روايت کې دي چې څوك لس پيري روزانه سورة اخلاص وائي نو دده دپاره به په جنت کې يو کور جوړ کړی شي

همدا رنګي دمعوذتينو هم ډير فضائل راغلي دي په يو روايت کې راځي چې يو ځل رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل نن شپه داسي ايتونه نازل شوي دي چې ددي برابر نور چرته نه دي نازل شوي او هغه قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس دي

اول دي سورة اخلاص اووائي ځکه چې دا په منزله دحمد او ثناء دی او بيا دي معوذتين اووائي ځکه چې دا په منزله ددعا دي او دکومي دعا نه مخکې چې حمد او ثناء وي هغه زر قبليږي ددي دواړو صورتونو دري دري پيري ويل پکار دي علماء وائي چې ددعا په ادابو کې دا هم دي چې سړی دي دعا دري دري پيري وائي

يکفيك من کل شيئ: يعني دا دري سورتونه دومره جامع دي چې دتمامو دعاګانو او دتمامي شيي دضررونو دختمولو دپاره کافي دي بعضي علماء وائي چې دکافي کيدو نه مراد قيام الليل دي

دعبدالله بن خبيب رضي الله عنه حالات

نوم عبدالله دپلار نوم خبيب دجهيني قبيلي سره تعلق لري چې دانصارو حليف ده، او دمديني اوسيدونکی وو او صرف دري روايات ورنه منقول دي. علامه برقي وائي چې دده نه صرف دوه احاديث مروي دي ليکن علامه ابن جوزي وائي چې دري روايات ورنه منقول دي.

****

١١٨_ بَابٌ فِي دُعَاءِ الضَّيْفِ

ميلمه به کوربه ته څه دعا کوي

٣٥٧٦_ حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ خُمَيْرٍ الشَّامِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ، قَالَ: نَزَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَبِي، فَقَرَّبْنَا إِلَيْهِ طَعَامًا فَأَكَلَ مِنْهُ، ثُمَّ أُتِيَ بِتَمْرٍ فَكَانَ يَأْكُلُ وَيُلْقِي النَّوَى بِإِصْبَعَيْهِ جَمَعَ السَّبَّابَةَ وَالْوُسْطَى، قَالَ شُعْبَةُ: وَهُوَ ظَنِّي فِيهِ إِنْ شَاءَ اللَّهُ، وَأَلْقَى النَّوَى بَيْنَ أُصْبُعَيْنِ ثُمَّ أُتِيَ بِشَرَابٍ فَشَرِبَهُ، ثُمَّ نَاوَلَهُ الَّذِي

عَنْ يَمِينِهِ، قَالَ: فَقَالَ أَبِي وَأَخَذَ بِلِجَامِ دَابَّتِهِ: ادْعُ لَنَا. فَقَالَ: " اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِيمَا رَزَقْتَهُمْ، وَاغْفِرْ لَهُمْ، وَارْحَمْهُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ بُسْرٍ. (1)

ترجمه دعبدالله بن بسر ...نه روايت دی فرمائي چي رسول كريم صلي الله عليه وسلم زمادپلارخواته تشريف راوړو اودهغه ميلمه شو زماپلار ورته خوراك پيش كړو رسول كريم صلي الله عليه وسلم اوخوړلو اوبيايي ورته اوبه راوړلی هغه يې هم وڅكلي او دخان نه ښي طرف والا كس ته يی وركړي اوبيايي كجوروي اوخوړلی اودكجورو زړي به يې دګوتوپه شاګانو باندي غورځول ، راوي وايي چي
زماپلار وويل رسول كريم صلي الله عليه وسلم دسورلی واګي ونيولي او دا دعا يي اوفرمائيله : اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِيمَا رَزَقْتَهُمْ، وَاغْفِرْ لَهُمْ، وَارْحَمْهُمْ اي الله دوي ته بركت وركړي په هغه څيزكې كوم چي تادوي ته وركړی دی اوبخښنه وكړي دوي ته اورحم وكړي په دوي باندي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي او ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم دعبدالله بن بسر رضي الله عنه نه مروي دي

دعبدالله بن بسر رضي الله عنه حالات

نوم عبدالله دپلار نوم بسر او د مازن قبيلي سره يي تعلق وو دده مور او پلار او ورور چي علي دی او دده خور صحماء ټولو ته د رسول الله صلي الله عليه وسلم دملاقات شرف حاصل شوی دی رسول الله صلي الله عليه وسلم ددوی دپاره دعمر د اوږدوالي دعا غوښتلي ده ۵۰ روايات ورنه منقول دي چي په بخاري او مسلم كې يو يو ذكر شوي دي.
اصحاب سير ليكلي دي چي دده مرګ ناڅاپي داودس په وخت كې واقع شو دده دپاره نبي كريم صلي الله عليه وسلم دعمر داوږدوالي دپاره دعا غوښتلي وه نو خكه يې عمر ډېر اوږد وو چي په شام ياحمص كې په ۸۸هجري كې وفات شو او عمر يي ۹۴ كلونو ته رسيدو او دبعضو په نزد دده عمر سل كاله وو (تهذيب التهذيب)

****

۳۵۷۷_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ الشَّنِّيُّ، حَدَّثَنِي أَبِي عُمَرُ بْنُ مُرَّةَ، قَالَ: سَمِعْتُ بِلَالَ بْنَ يَسَارِ بْنِ زَيْدٍ مَوْلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،

1 _ صحيح مسلم/الأشربة والأطعمة ۲۲ (۲۰۴۲) ، سنن ابي داود/ الأشربة ۲۰ (۳۷۲۹) (تحفة الأشراف : ۵۲۰۵) ، سنن الدارمي/الأطعمة ۲ (۲۰۶۵)

حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ جَدِّي، سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " مَنْ قَالَ: أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ الْعَظِيمَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيَّ الْقَيُّومَ، وَأَتُوبُ إِلَيْهِ غُفِرَ لَهُ وَإِنْ كَانَ فَرَّ مِنَ الزَّحْفِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه بلال بن يسار ... دخپل پلارنه روايت كوي فرمائي چي دخپل پلارنه مي اوريدلي دي چي حديث يې بيانول زمادنيكه نه چي هغه درسول كريم صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چي فرمائيل يې چاچي دا دعاوونيله

أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ الْعَظِيمَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيَّ الْقَيُّومَ، وَأَتُوبُ إِلَيْهِ»

بخنه غوارم د الله تعالي نه چي ډير لوي دي او الله داسي ذات دي د چا نه علاوه چي بل حقدار دبندګئ نشته. او هميشه ژوندي دي او تدبير كونكي دى. نوبخنه به ورته وشي اګركه دكافرو دمقابلي نه تختيدلى وي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي مونږ يې صرف په همدي سند پيژنو.

****

١١٩_باب

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٣٥٧٨_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ حُنَيْفٍ، أَنَّ رَجُلًا ضَرِيرَ الْبَصَرِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: ادْعُ اللَّهَ أَنْ يُعَافِيَنِي، قَالَ: " إِنْ شِئْتَ دَعَوْتُ وَإِنْ شِئْتَ صَبَرْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ ". قَالَ: فَادْعُهْ، قَالَ: فَأَمَرَهُ أَنْ يَتَوَضَّأَ فَيُحْسِنَ وُضُوءَهُ وَيَدْعُوَ بِهَذَا الدُّعَاءِ: " اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ وَأَتَوَجَّهُ إِلَيْكَ بِنَبِيِّكَ، مُحَمَّدٍ نَبِيِّ الرَّحْمَةِ، إِنِّي تَوَجَّهْتُ بِكَ إِلَى رَبِّي فِي حَاجَتِي هَذِهِ لِتُقْضَى لِيَ، اللَّهُمَّ فَشَفِّعْهُ فِيَّ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ أَبِي جَعْفَرٍ وَهُوَ الْخَطْمِيُّ، وَعُثْمَانُ بْنُ حُنَيْفٍ هُوَ أَخُو سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ. (2)

ترجمه دعثمان بن حنيف رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي يو نابينا كس دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو او عرض يې اوكړو يوه داسي دعا راته اوښايه

---

1 سنن ابي داود/ الصلاة ٣٦١ (١٥١٧)

2 سنن ابن ماجه/الإقامة ١٨٩ (١٣٨٥) (تحفة الأشراف: ٩٧٦٠)

چي الله تعالي راته عافيت راکړي رسول الله ورته اوفرمائيل که ستا خوښه وي نو زه به يې درته اوبنايم او که خوښه دي وي صبر اوکړه خکه چي دا ستا دپاره ډير فائده بند دي هغه اوونيل دعا راته بيان کړئ رسول الله ورته حکم اوکړو چي اودس اوکړه او اودس په ښه شان سره اوکړه او بيا دا دعا اوغواړه

"اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ وَأَتَوَجَّهُ إِلَيْكَ بِنَبِيِّكَ، مُحَمَّدٍ نَبِيِّ الرَّحْمَةِ، إِنِّي تَوَجَّهْتُ بِكَ إِلَى رَبِّي فِي حَاجَتِي هَذِهِ لِتُقْضَى لِيَ، اللَّهُمَّ فَشَفِّعْهُ فِيَّ"

يعني اي الله زه ستا نه صحت غواړم او ستا دنبي محمد څوك چي نبي درحمت دي دهغه په وسيله تاته متوجه کيږم، ما ستا په واسطه پخپل دي ضرورت کي خپل رب ته توجه کړي ده تردي چي ته اي الله زما دا ضرورت پوره کړي پس اي الله ته زما په باره کي دده شفاعت قبول کړي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو يعني دابو جعفر په روايت او ابو جعفر خطمي دي او عثمان بن حنيف دسهل بن حنيف درور دي.

****

٣٥٧٩ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا إِسْحَاقُ بْنُ عِيسَى، قَالَ: حَدَّثَنِي مَعْنٌ، حَدَّثَنِي مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ ضَمْرَةَ بْنِ حَبِيبٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا أُمَامَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ عَبَسَةَ، أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الرَّبُّ مِنَ الْعَبْدِ فِي جَوْفِ اللَّيْلِ الآخِرِ، فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تَكُونَ مِمَّنْ يَذْكُرُ اللَّهَ فِي تِلْكَ السَّاعَةِ فَكُنْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه: دعمرو بن عنبسه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي الله تعالي خپل بنده ته دټولو نه زيات دشپي په اخري حصه کي نزدي کيږي نو کچري ستا نه کيدي شي چي کوم خلق دشپي په دغه حصه کي عبادت کوي نو ته هم په دي کي شامل شه او ددي خلقو دجملي نه جوړ شه (يعني تهجد اوکړه).

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي.

دعمروبن عبسه حالات

[1] ـ سنن ابي داود/ الصلاة ٢٩٩ (١٢٧٧) (تحفة الأشراف: ١٠٧٥٨)

نوم عمرو كنيه ابو نجيح دپلار نوم عبسه بن عامر اودمور نوم يي رمله بنت رفيعه وو عمرو بن عبسه ابوذر غفاري رضي الله عنه مور شريك ورور وو
داسلام په ابتداء كې مسلمان شوى وو چي واقعه يي په پورتني حديث كې موجودده دطائف او فتح مكه وغيره په غزواتو كې درسول الله سره شركت كړى دى.
دطائف په محاصره كې چي كله رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كه څوك يو غشى اولي هغه ته به دجنت يوه دروازه پرانيستلى شي ددي بشارت په اوريدوسره عمرو شپاړس غشي اوويشتل.
صاحب داصابه ليكلي دي چي عمرو دخلافت عثماني په اخركې وفات شوى دى.
مرويات: چونكه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم صحبت موقعه ورته كمه ملاؤشوي وه ليكن ددي باوجود دحديث په كتابونو كې دده نه ۴۸روايات مروي دي تهذيب الكمال.

****

٣٥٨٠_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا أَبُو الوَلِيدِ الدِّمَشْقِيُّ أَحْمَدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ بَكَّارٍ، حَدَّثَنَا الوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا عُفَيْرُ بْنُ مَعْدَانَ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا دَوْسٍ اليَحْصُبِيَّ يُحَدِّثُ، عَنِ ابْنِ عَائِذٍ اليَحْصُبِيِّ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ زَعْكَرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُولُ: " إِنَّ عَبْدِي كُلَّ عَبْدِيَ الَّذِي يَذْكُرُنِي وَهُوَ مُلَاقٍ قِرْنَهُ يَعْنِي عِنْدَ القِتَالِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الوَجْهِ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالقَوِيِّ، وَلَا نَعْرِفُ لِعُمَارَةَ بْنِ زَعْكَرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا هَذَا الحَدِيثَ الوَاحِدَ، وَمَعْنَى قَوْلِهِ: وَهُوَ مُلَاقٍ قِرْنَهُ إِنَّمَا يَعْنِي عِنْدَ القِتَالِ، يَعْنِي أَنْ يَذْكُرَ اللَّهَ فِي تِلْكَ السَّاعَةِ.[1]

ترجمه: دعماره بن زعكره بيان دي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي الله تعالي فرمائي زما بنده، زما كامل بنده هغه څوك دي چي ما دهغه وخته پوري يادوي كله چي دي دجنګ په وخت كې دخپل دوشمن مخي ته ولاړ وي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو او سند يي قوي نه دي او ددي يو حديث نه علاوه دعماره بن زعكره بل كوم حديث چي درسول الله نه يي نقل كړي وي مونږ ته معلوم نه دي. او دالله تعالي دقول "وهو ملاق قرنه" مطلب دادي چي دجنګ په وخت كې يعني په داسي وخت كې هم هغه دالله تعالي ذكر جاري ساتي.

****

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف

۱۲۰_باب فِي فَضْلِ لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللّٰهِ

د " لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللّٰهِ " فضيلت

۳۵۸۱_حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى. حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ. حَدَّثَنِي أَبِي. قَالَ: سَمِعْتُ مَنْصُورَ بْنَ زَاذَانَ يُحَدِّثُ. عَنْ مَيْمُونِ بْنِ أَبِي شَبِيبٍ. عَنْ قَيْسِ بْنِ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ. أَنَّ أَبَاهُ دَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْدُمُهُ. قَالَ: فَمَرَّ بِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ صَلَّيْتُ فَضَرَبَنِي بِرِجْلِهِ وَقَالَ: " أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى بَابٍ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ؟ ". قُلْتُ: بَلَى. قَالَ: " لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه : دقيس بن سعد بن عباده نه روايت دي فرمائي چي زما پلار سعد بن عباده زه نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته دهغوي دخدمت دپاره حواله كړم قيس وائي زه دمونځ كولو نه پس ناست وم چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زما په خوا كي تير شو او زما دخبرولو دپاره ي زما نه خپله خپه اولګوله او بيا يي اوفرمائيل ايا دجنت په دروازو كي درته يوه دروازه اونه ښايم ما اووئيل ولي نه ضرور يي راته اوښايه نو ويي فرمائيل ولاحول ولاقوة الابالله ونيل دي امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي

****

۳۵۸۲_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ. حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ. عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي جَعْفَرٍ. عَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ. قَالَ: " مَا نَهَضَ مَلَكٌ مِنَ الْأَرْضِ حَتَّى قَالَ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ ". [2]

ترجمه : صفوان بن سليم وائي هيڅ يوه فرشته د "لاحول ولاقوة الابالله" ونيلو نه بغير دزمكي نه پورته نه خيژي

****

۱۲۱_باب فِي فَضْلِ التَّسْبِيحِ وَالتَّهْلِيلِ وَالتَّقْدِيسِ

دتسبيح اوتهليل او تقديس بيان

۳۵۸۳_حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ حِزَامٍ. وَعَبْدُ بْنُ حميد. وغير واحد. قَالُوا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ. فَقَالَ: سَمِعْتُ هَانِئَ بْنَ عُثْمَانَ. عَنْ أُمِّهِ حُمَيْضَةَ بِنْتِ يَاسِرٍ. عَنْ جَدَّتِهَا يُسَيْرَةَ وَكَانَتْ مِنَ

[1] _ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ۱۳۰ (دد ۲) (تحفة الأشراف ـ ۱۱۰۹) . ومسند احمد (۴۲۲ ۳)

[2] _ تفرد به المؤلف.

الْمُهَاجِرَاتِ، قَالَتْ: قَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " عَلَيْكُنَّ بِالتَّسْبِيحِ وَالتَّهْلِيلِ وَالتَّقْدِيسِ، وَاعْقِدْنَ بِالأَنَامِلِ فَإِنَّهُنَّ مَسْئُولاَتٌ مُسْتَنْطَقَاتٌ، وَلاَ تَغْفُلْنَ فَتَنْسَيْنَ الرَّحْمَةَ ".
قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ هَانِئِ بْنِ عُثْمَانَ، وَقَدْ رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ رَبِيعَةَ، عَنْ هَانِئِ بْنِ عُثْمَانَ. ([1])

ترجمه د يسيره رضي الله عنها نه روايت دى او يسيره دمهاجراتو د جملي نه ده، فرمايي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته وفرمائيل لازم دي په تاسو باندي تسبيح، او لااله الا الله، او سبحان الله وئيل. اودا به په ګوتو شميرئ خکه چي دګوتونه به دقيامت په ورځ تپوس كيږي اودوي به خبري كوي او غفلت مه اختياروئ كنه نو درحمت په ويش كي به هيري كړئ شئ.
امام ترمذي رحمه الله وايي: دا روايت مونږ صرف د هاني بن عثمان په روايت پيژنو، او محمد بن ربعيه هم دا روايت د هاني بن عثمان نه نقل كړى دى.

تشريح: په قيامت كي د انساني اعضاؤ په خبرو كولو باندي قراني متواتر نصوص شاهد دي مثلا په سورت النور كي ارشاد الهي دي: يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝ په كومه ورځ چي به ګواهي كوى په دوئ باندي ژبي ددوئ اولاسونو ددوئ.
ابن جرير او ابن ابي حاتم دابو موسي اشعري رضي الله عنه نه روايت نقل كړي دي چي دقيامت په ورځ به الله تعالي بنده لره دحساب دپاره راطلب كړي اودده هغه كړي اعمال به دده په وړاندي حاضر كړي كوم چي دبنده او د الله تعالي په مينځ كي وي يعني حقوق الله سره تعلق لرونكي اعمال چي بنده به ورنه هم واقف وي .مومن به اقرار وكړي او عرض به وكړي چي اي زما ربه ما دا كړي وو او ما دا كړي وو، او ددينه پس به ورباندي الله تعالي پرده واچوي او معافي به ورته وكړي اوګناه به يي په داسي شان سرد پټه شي چي دزمكي په مخ به يي هيڅوك نشي ليدلي مګر دده نيكياني به ښكاره وي او ټول خلق به دده نيكياني ويني او پخپل مينځ كي به يي بيانوي، منافق چي كله دحساب دپاره راوغوښتلي شي او دده رب دده اعمال دده په وړاندي موجود كړي نو دي به انكار اوكړي او عرض به اوكړي اي زما پروردګاره ستا په عزت مي دي قسم وي چي دا كارونه مانه دي كړي فرشتو دا كارونه په ما پسي ليكلي دي ، فرشتي به اووائي ايا په فلاني فلاني خاي كي دي دا كارونه نه وو كړي منافق به اووائي درب په عزت مي دي قسم وي چي ما نه دي كړي نو پدغه وخت كي به دده په خوله باندي مهر اووهلي شي او

[1] _ سنن ابي داود/ الصلاة ٣٥٨(١٥٠١) (تحفة الأشراف : ١٨٣٠١) ، وسنن احمد (٦/٣٧١)

دده اندامونه به شهادت ورکړي ابو موسي رضي الله عنه اوونیل زما گمان دي چي دتولو نه مخکې به دده ښي طرف والا ورون گواهي ورکړي او بیا ابوموسي ایت کریمه "**الیوم نختم علی افواههم**" تلاوت کړو.

ابو یعلي او حاکم دابوسعید خدري رضي الله عنه نه روایت بیان کړي دي او حاکم صحیح هم گڼلي دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم داسي فرمائیلي وو

امام احمد په صحیح سند سره او طبراني هم دعقبه بن عامر رضي االله عنه نه روایت بیان کړي دي چي نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمائیل په کومه ورځ چي به په خوله باندي مهر اووهلي شي نوبیدغه ورځ چي به دده په هډوکو کي کوم یو دټولو نه مخکې خبري کوي هغه به دده ورون وي.

امام احمد او نسائي او حاکم او بیهقي دمعاویه بن جیده نه روایت بیان کړي دي او حاکم یي تصحیح هم کړي ده چي رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل دقیامت په ورځ به پداسي حالت کې راشي چي په خولو به یي داني ختلي وي (یعني بندي به وي) نودټولو نه مخکې به دسري ورون او ورغوي خبري کوي.

مسلم په باب دروئیت دباري تعالي کې دابو هریره رضي الله عنه نه دیو اوږد حدیث په ضمن کې نقل کړي دي چي دانسان په عمل به شهادت دده ورون او دده غوښي او دده هډوکي ورکوي او داسي کس به منافق وي او په ده به دالله تعالي غضب وي.

شبهه: دلته الله تعالي اوفرمائیل چي ددوئ ژبي به گواهي ورکوي او په بل ایت کې یي فرمائیلي دي چي ددوئ په خولو به مهر اولگوو او ددوئ لاسونه او خپي به زمونږ سره خبري کوي نو په ظاهري اعتبار سره په دوارو ایتونو کې اختلاف دي.

جواب: په خوله باندي دمهر لگولو مطلب دادي چي هغوئ به پخپله پخپلي ارادي سره په خوله خبري نشي کولي (یعني دخپل مرضئ مطابق به په ژبو خبري نشي کولي) دا مطلب نه دي چي ددوئ د ارادو نه خلاف به هم ددوئ دژبو نه کوم لفظ نه وځي.

قرطبي لیکلي دي جسماني اعضاء به دهغه کسانو خلاف شهادت ورکوي کوم چي دعمل نامو لیکلو نه منکر دي او جگړي کوي نودداسي خلقو په خلاف به اعضاء شهادت ورکوي زه وایم ددي تفسیر په بنا به دتیر شوي ایت دنزول تعلق دعبدالله بن ابي سره وي لکه څرنگه چي دقتاده قول دي

****

۱۲۲_باب فِي الدُّعَاءِ إِذَا غَزَا

د غزا وخت کې ددعاغوښتلو بیان

7/15

٣٥٨٤_حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الجَهْضَمِيُّ، أَخْبَرَنِي أَبِي، عَنِ الْمُثَنَّى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا غَزَا قَالَ: "اللَّهُمَّ أَنْتَ عَضُدِي، وَأَنْتَ نَصِيرِي، وَبِكَ أُقَاتِلُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَمَعْنَى قَوْلِهِ: عَضُدِي يَعْنِي عَوْنِي. (1)

: «اللهم أنت عضدي وأنت نصيري وبك أقاتل»

ترجمه : انس رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلي الله علیه وسلم به کله غزا شروع کوله نو دا دعا به یې غوښتله یا الله ته خما متیې یې او ته خما مددګار یې ، او ستا په طاقت جنګیږم.

امام ترمذي رحمه الله وایي: داحدیث حسن غریب دي او د "عضدي" معني مددګار دي.

لغات : عضد: معني متې ترخنګلو پورې جمع عضد او اعضاد راځي.

تشریح : ددې حدیث باره کې علماء وائي چې هر وخت کې الله تعالي ته متوجه کیدل پکار دي لیکن خاصکر دسختۍ په وختونو کې په کومو کې چې جنګ هم شامل دی په دې وخت کې الله تعالي طرف ته کامله توجه او کامل اعتماد پکار دی لکه چې په دې موقعه درسول الله صلي الله علیه وسلم دا عادت شریفه وو.

****

١٢٣_بَاب فِي دُعَاءِ يَوْمِ عَرَفَةَ

دعرفې دورځې ددعا بیان

٣٥٨٥_حَدَّثَنَا أَبُو عَمْرٍو مُسْلِمُ بْنُ عَمْرٍو الْحَذَّاءُ الْمَدِينِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نَافِعٍ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ أَبِي حُمَيْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "خَيْرُ الدُّعَاءِ دُعَاءُ يَوْمِ عَرَفَةَ، وَخَيْرُ مَا قُلْتُ أَنَا وَالنَّبِيُّونَ مِنْ قَبْلِي: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ، وَحَمَّادُ بْنُ أَبِي حُمَيْدٍ هُوَ مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي حُمَيْدٍ، وَهُوَ أَبُو إِبْرَاهِيمَ الأَنْصَارِيُّ الْمَدَنِيُّ، وَلَيْسَ هُوَ بِالْقَوِيِّ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ. (2)

---

1 _ سنن ابي داود/ الجهاد ٩٩ (٢٦٣٢) (تحفة الأشراف: ١٣٢٤)

2 _ تفرد به المؤلف تحفة الأشراف: ١٦٩٨)

ترجمه دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي په ټولو دعاګانو کي بهتره دعا د عرفي دورځي دعا ده او ما چي اوسه پوري دذکر په طور څه ونيلي دي زما نه مخکي انبياؤ چي څه ونيلي دي په دي ټولو کي بهتره دعا داده " لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ "يعني الله يو دي او دهغه نه علاوه بل څوك حقدار دبندګئ نشته او هيڅوك شريك ورسره نشته او هغه دپاره دتمام جهان بادشاهي ده او دهغه دپاره تمام تعريفونه دي او يقينا هغه په هر څيز قدرت لري.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند غريب دي ، دحماد بن ابي حميد نوم محمد بن ابي حميد دي او کنيه يي ابو ابراهيم انصاري مدني ده او دمحدثينو په نزد زيات قوي نه دي.

****

١٢٤_باب

د سابقه باب متعلق يوبل باب

٣٥٨٦_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ أَبِي بَكْرٍ، عَنِ الْجَرَّاحِ بْنِ الضَّحَّاكِ الْكِنْدِيِّ، عَنْ أَبِي شَيْبَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُكَيْمٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، قَالَ: عَلَّمَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " قُلْ: اللَّهُمَّ اجْعَلْ سَرِيرَتِي خَيْرًا مِنْ عَلَانِيَتِي، وَاجْعَلْ عَلَانِيَتِي صَالِحَةً. اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ صَالِحِ مَا تُؤْتِي النَّاسَ مِنَ الْمَالِ وَالْأَهْلِ وَالْوَلَدِ غَيْرِ الضَّالِّ وَلَا الْمُضِلِّ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ. ([1])

ترجمه دعمر بن الخطاب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته دا دعا خودلي ده او راته يي فرمائيل چي وايه

" اللَّهُمَّ اجْعَلْ سَرِيرَتِي خَيْرًا مِنْ عَلَانِيَتِي، وَاجْعَلْ عَلَانِيَتِي صَالِحَةً. اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ صَالِحِ مَا تُؤْتِي النَّاسَ مِنَ الْمَالِ وَالْأَهْلِ وَالْوَلَدِ غَيْرِ الضَّالِّ وَلَا الْمُضِلِّ "

يعني اي الله زما باطل زما دظاهر نه ښائسته کړي او زما ظاهر نيك کړي او خلقو ته چي ته کوم مال دښځي او بچو په شکل کي ورکوي په هغي کي راته ښه مال راکړه چي نه پخپله ګمراه وي او نه بل چالره ګمراه کوي

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠٤٨٣)

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو او سند يي قوي نه دي.

****

۱۲۵_باب
د سابقه باب متعلق يوبل باب

۳۵۸۷_حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ مُكْرَمٍ. حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ سُفْيَانَ الْجَحْدَرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَعْدَانَ. قَالَ: أَخْبَرَنِي عَاصِمُ بْنُ كُلَيْبٍ الْجَرْمِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّي وَقَدْ وَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُسْرَى وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُمْنَى، وَقَبَضَ أَصَابِعَهُ وَبَسَطَ السَّبَّابَةَ وَهُوَ يَقُولُ: "يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه : عاصم بن کليب د خپل پلار او هغه دده د نيکه نه روايت نقل کوي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي په داسي حال کي حاضر شوم چي مونځ يي کولو او ګس لاس يي په ګس پتون اينبودلی وو او ښي لاس يي په ښي پتون اينبودلی وو او ګوتي يي بندي کړي وي او سبابه ګوته يي نه وه راټوله کړي او دا کلمات يي ويل: "**يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ**" يعني ای دزړونو بدلونکيه خما زړه په خپل دين مضبوط کړی
امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث په دي سند غريب دي.

لغات : مقلب اړونکي، ثبت ثابت شو، کيناستو، دکرم نه معني بهادري.

تشريح: يا مقلب القلوب، ای دزړونو اړونکيه يعني دهدايت نه پس ګمراهي يا دګمراهۍ نه پس هدايت ورکونکيه.

ثبت قلبي علي دينك زما زړه پخپل دين مضبوط کړي دا دعا به رسول الله تواضعا کوله ورنه هغه خو معصوم وو او په دين باندي دهغه استقامت لازمي وو علماء وائي دي حديث کي دي خبري ته اشاره شوي ده چي اصل مقصد په دين استقامت او حسن خاتمه ده او که دا دولت دچا نصيب نشي نو تمام عبادات به يي ضايع شي

علماء وائي دقران کريم په دي ايت "ربنا لاتزغ قلوبنا بعد اذهديتنا، کې هم دي ته اشاره ده يعني ای زمونږ پروردګاره زمونږه زړونه کاږه نکړي پس دهغه نه چي تا مونږ ته هدايت

[1] تفرد به المؤلف رحمه الله.

رانصيب کړی دی.

****

١٢٦_باب فِي الرُّقْيَةِ إِذَا اشْتَكَى

دبيمارئ او تكليف وخت كي د دم اچولو بيان

٣٥٨٨_حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ عَبْدِ الصَّمَدِ، حَدَّثَنِي أَبِي، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَالِمٍ، حَدَّثَنَا ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ، قَالَ: قَالَ لِي: يَا مُحَمَّدُ إِذَا اشْتَكَيْتَ فَضَعْ يَدَكَ حَيْثُ تَشْتَكِي، وَقُلْ: "بِسْمِ اللَّهِ، أَعُوذُ بِعِزَّةِ اللَّهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ مِنْ وَجَعِي هَذَا، ثُمَّ ارْفَعْ يَدَكَ ثُمَّ أَعِدْ ذَلِكَ وِتْرًا". فَإِنَّ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ حَدَّثَنِي، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَهُ بِذَلِكَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ سَالِمٍ هَذَا شَيْخٌ بَصْرِيٌّ. ([1])

ترجمه: د محمد بن سالم بيان دي چي مونږ ثابت البناني حديث بيان کړی دی او ماته يي ونيل: اي محمد په درد مند خاي لاس کيده او دا کلمات وايه:

"بِسْمِ اللَّهِ، أَعُوذُ بِعِزَّةِ اللَّهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ مِنْ وَجَعِي هَذَا"

يعني شروع کوم په برکت د نوم د الله اودالله دعظيم قدرت او عزت په واسطه ددي درد نه خلاصی غواړم دکوم نه چي زه په تکليف يم.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث په دي سند حسن غريب دي او محمد بن سالم يو بصري شيخ دي.

تشريح: علماء وايي مستحب دادي چي په کوم خاي درد وي هلته لاس راښکلی شي او بيا ورباندي دم واچولی شي او که صرف په دم اکتفا اوکړی شي او لاس رانه ښکلی شي نو هم صحيح ده پورتنی دعا ډيره مجربه دعا ده ددي روايت نه دا هم معلومه شوه چي يو سړی پخپله هم پخپل خان دم اچولی شي صرف بل چالره د دم دپاره تلل ضروري نه دي.

****

١٢٧_باب دُعَاءِ أُمِّ سَلَمَةَ

دام سلمه رضي الله عنها ددعا بيان

٣٥٨٩_حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ الْأَسْوَدِ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٦٦)

بْنِ إِسْحَاق، عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِيهَا أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: عَلَّمَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: قُولِي: "اللَّهُمَّ هَذَا اسْتِقْبَالُ لَيْلِكَ وَإِدْبَارُ نَهَارِكَ وَأَصْوَاتُ دُعَاتِكَ وَحُضُورُ صَلَوَاتِكَ، أَسْأَلُكَ أَنْ تَغْفِرَ لِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ نَعْرِفُهُ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَحَفْصَةُ بِنْتُ أَبِي كَثِيرٍ لَا نَعْرِفُهَا وَلَا نَعْرِفُ أَبَاهَا. ([1])

ترجمه: دام سلمه رضي الله عنهانه روايت دی فرماني چي رسول الله سلي الله عليه وسلم ماته دا دعا خودلي ده «اَللّٰهُمَّ إِنَّ هَذَا إِقْبَالُ لَيْلِكَ وَإِدْبَارُ نَهَارِكَ وَأَصْوَاتُ دُعَاتِكَ وَحُضُورُ صَلَوَاتِكَ، أَسْأَلُكَ أَنْ تَغْفِرَ لِي». يعني اي الله ستا دشپې دراتلو او ستا دورځي دتلو وخت دي او ستا د يادولو داوازونو او ستا دمونځ وخت رارسيدلي دي او زه په همداسي وخت كي دخپل مغفرت دپاره تاته درخواست كوم.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي او مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو، او حفصه بنت ابي كثير مونږ نه پيژنو او نه مونږ ددي پلار پيژنو.

****

٣٥٩٠_حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ يَزِيدَ الصُّدَائِيُّ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ الْقَاسِمِ بْنِ الْوَلِيدِ الْهَمْدَانِيُّ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ كَيْسَانَ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا قَالَ عَبْدٌ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ قَطُّ مُخْلِصًا إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ حَتَّى تُفْضِيَ إِلَى الْعَرْشِ مَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ. ([2])

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر كله چي يو بنده دزړه په اخلاص سره "لااله الاالله" ووائي او دلويو ګناهونو نه خان ساتي نو دهغه دپاره به داسمان دروازي پرانيستلي شي او دا كلمه لااله الاالله به عرش ته خان رسوي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي.

****

٣٥٩١_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ بَشِيرٍ، وَأَبُو أُسَامَةَ، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنْ زِيَادِ بْنِ عِلَاقَةَ، عَنْ عَمِّهِ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ مُنْكَرَاتِ

---

[1] ـ سنن ابي داود/ الصلاة ٣٩ (٥٣٠) (تحفة الأشراف: ١٨٢٢٦)

[2] ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٣٤٣ (٨٣٣) (تحفة الأشراف: ١٣٤٣٩)

الأَخْلَاقِ، وَالأَعْمَالِ، وَالأَهْوَاءِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَعَمُّ زِيَادِ بْنِ عِلَاقَةَ هُوَ قُطْبَةُ بْنُ مَالِكٍ صَاحِبُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه : زيد بن علاقه رضي الله عنه دخپل تره قطبه بن مالك رضي الله عنه نه روايت كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دا دعا غوښتله اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ مُنْكَرَاتِ الأَخْلَاقِ، وَالأَعْمَالِ، وَالأَهْوَاءِ يا الله جلا جلاله زه دخرابو اخلاقو خرابو اعمالو او خراب خيالاتو نه په تا باندي پناه غوارم.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن غريب دي او دزياد بن علاقه د تره نوم قطبه بن مالك دي او دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دصحابيت شرف ورته حاصل دي.

لغات : منكرات: هرهغه فعل كوم چي د الله اورسول دمرضئ خلاف وي ، اخلاق: عادت، الاهواء: خواهشات.

تشريح : "منكرات الاخلاق" يعني بد اخلاق ، بد اخلاق هر هغه قول او فعل ته وئيلى شي دكوم په ناجائز كيدو چي داهل شرع اتفاق وي ، او داخلاقو نه مراد باطني اعمال دي دلته ورنه مراد بخل او حسد او بزدلي ده او د "والاعمال" نه مراد ظاهري اعمال دي نو تمام واړه او لوي ګناهونه پكي داخل شول او الاهواء جمع دهوي ده دلغت په اعتبار خواهش ته وئيلى شي برابره خبره ده چي نيك خواهش وي او كه بد ليكن وروسته يي بيا اطلاق په بد خواهش كي مخصوص شوى دى كوم ته چي خواهشات نفسانيه وئيلى شي او په همدي معني په قران مجيد كي هم استعمال شوى دى مثلا ولاتتبع الهوي.

په دي كي به هر قسم خواهشات داخل وي برابره خبره ده چي دعقائدو سره يي تعلق وي او كه دعباداتو سره او كه دبلي كومي نوعي سره يي تعلق وي.

د زيد بن علاقه رضي الله عنه حالات

نوم زيد دپلار نوم علاقه دقبيله بني ثقيف سره تعلق لري په دي تابعينو كي شميرلى شوى دى په ۱۵۳ يا ۱۵۸ كي وفات شوى دى او دده عمر پدغه وخت كي دسل كالو نه زيات وو چي صحاح سته ورنه نقل درروايت كړى وو او په ثقه راويانو كي شميرلى شوى دى.

****

۳۵۹۲ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدَّوْرَقِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا الحَجَّاجُ بْنُ أَبِي

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۱۰۸۸)

عُثْمَانَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ عَوْنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ نُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِذْ قَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: اللَّهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيرًا، وَسُبْحَانَ اللَّهِ بُكْرَةً وَأَصِيلًا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنِ الْقَائِلُ كَذَا وَكَذَا". فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: "عَجِبْتُ لَهَا فُتِحَتْ لَهَا أَبْوَابُ السَّمَاءِ". قَالَ ابْنُ عُمَرَ: مَا تَرَكْتُهُنَّ مُنْذُ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ، وَحَجَّاجُ بْنُ أَبِي عُثْمَانَ هُوَ حَجَّاجُ بْنُ مَيْسَرَةَ الصَّوَّافُ، وَيُكْنَى: أَبَا الصَّلْتِ، وَهُوَ ثِقَةٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ. (1)

ترجمه دعبد الله بن عمر رضي الله عنهما بيان دى چي مونږ د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره مونځ كولو چي په قوم كي يو كس دا كلمات وونيل " اللَّهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيرًا، وَسُبْحَانَ اللَّهِ بُكْرَةً وَأَصِيلًا" الله دټولونه لوئى اودټولونه ډير لوئى اوحمد خو خالص دالله دپاره دى ډيرزيات حمد خودالله دپاره دي اوهغه دټولو عيبونونه پاك دى سهر اومابنام ثنا دهغه دپاره ده اوروستوبه يى داكلمات هم ونيل، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل داسي داسي كلمات چا وونيل؟ په قوم كي يو كس وونيل ما ونيلي دي اي د الله رسوله ، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زه ورته حيران شوم دي كلماتو ته خو د اسمان دروازي پرانستلى شوي، د عمر فاروق بيان دي دكله نه چي مي دا كلمات د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي دهغي نه پس مي بيا چرته ندي پريښودلي

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي، حجاج بن ابوعثمان په حجاج بن ميسره صواف ياديږي دده كنيه ابو صلد ده او دمحدثينو په نزدثقه راوي دي.

****

۱۲۸_باب أَيُّ الْكَلَامِ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ

دالله تعالي په نزد محبوب اوزيات بهتر كلام كوم يو دي

۳۵۹۳_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدَّوْرَقِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، أَخْبَرَنَا الْجُرَيْرِيُّ، عَنْ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ الْجَسْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الصَّامِتِ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَادَهُ أَوْ أَنَّ أَبَا ذَرٍّ عَادَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُولَ

---

1 _ صحيح مسلم/المساجد ۲۷(۶۰۱)، سنن النسائي/الافتتاح ۸(۸۸۶) (تحفة الأشراف: ۷۳۶۹)، و مسند احمد (۲/۱۴)

اللهِ، أَيُّ الْكَلَامِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ؟ قَالَ: "مَا اصْطَفَى اللهُ لِمَلَائِكَتِهِ سُبْحَانَ رَبِّي وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ رَبِّي وَبِحَمْدِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ.(1)

ترجمه دابوذر رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زما بيمار پرسي اوکړه (دراوي شك دي او كه داسي يي اووئيل) چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم بيمار پرسي اوکړه، ما عرض اوکړو زما مور او پلار دي په تا باندي قربان شي اي دالله رسوله کوم يو کلام په کلامونو کي دالله ډير خوښ دي رسول الله اوفرمائيل هغه کلام يي ډير خوښ دي کوم چي الله تعالي دفرشتو دپاره منتخب کړي دي (او هغه دادي)" سُبْحَانَ رَبِّي وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ رَبِّي وَبِحَمْدِهِ " يعني زما رب پاك دي او تمام تعريفونه خاص دهغه دپاره دي، زما رب پاك دي او هر قسم حمد دهغه دشان لائق دي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

١٢٩_باب فِي الْعَفْوِ وَالْعَافِيَةِ

په دنيا او اخرت کي دعافيت غوښتلو بيان

٣٥٩٤_حَدَّثَنَا أَبُو هِشَامٍ الرِّفَاعِيُّ مُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ الْيَمَانِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ زَيْدٍ الْعَمِّيِّ، عَنْ أَبِي إِيَاسٍ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الدُّعَاءُ لَا يُرَدُّ بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ". قَالُوا: فَمَاذَا نَقُولُ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: "سَلُوا اللهَ الْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ، وَقَدْ زَادَ يَحْيَى بْنُ الْيَمَانِ فِي هَذَا الْحَدِيثِ هَذَا الْحَرْفَ قَالُوا: فَمَاذَا نَقُولُ؟ قَالَ: "سَلُوا اللهَ الْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ".(2)

ترجمه: انس بن مالك رضي الله عنه وائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل داذان او اقامت په مينځ کي غوښتلی شوی دعا نشي واپس کيدلي (قبليږي) صحابه کرامو عرض وکړو چي دغه وخت کي مونږ دپاره څه باره کي دعا غوښتل پکار دي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل د الله تعالي نه ددنيا او اخرت بهتري غواړه.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن دي او يحي بن يمان په دي روايت کي دا اضافه نقل کړي ده چي صحابه کرامو عرض وکړو چي دغه وخت کي مونږ دپاره څه باره کي دعا

1_ صحيح مسلم/الذكر والدعاء ٢٢(٢٧٣١) (تحفة الأشراف: ١١٩٢٩)

2_ انظر حديث رقم ٢١٢

غوښتل پکار دي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمایل د الله تعالي نه ددنیا او اخرت بهتري غواړه.

لغات : لایردُ: دنصر رداً په معني داپس کولو او رد کولو لکه ردّ فلانا یعني فلاني لره خطا کار گرځول.

تشریح : "لایرد بین الاذان والاقامة" یعني داذان او اقامت مینځ کې که څوك دعا اوغواړي نو نه به رد کیږي په یو بل روایت کې داسي راغلي دي "الدعوة لاترد بین الاذان والاقامة" یعني داذان او اقامت مینځ کې دعا نه رد کیږي په یو بل روایت کې راغلي دي الدعاء بین الاذان والاقامة یستجاب فدعوا ، یعني د اذان او اقامت مینځ کې دعا قبلیږي نو په دي وخت کې دعا اوغواړئ.

په دي سلسله کې علامه قاضي ابوبکر محمد بن عبدالله المعروف بابن عربي ویلي دي چې د اذان نه پس درحمت دروازي کولاویږي نو خکه په جلتۍ سره دعا قبلیږي.

****

٣٥٩٥_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، وَعَبْدُ الرَّزَّاقِ، وَأَبُو أَحْمَدَ، وَأَبُو نُعَيْمٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ زَيْدٍ الْعَمِّيِّ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الدُّعَاءُ لَا يُرَدُّ بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَكَذَا رَوَى أَبُو إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ بُرَيْدِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ الْكُوفِيِّ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا وَهَذَا أَصَحُّ. [1]

ترجمه : انس بن مالك رضي الله عنه وائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائیل داذان او اقامت په مینځ کې غوښتلی شوی دعا نشي واپس کیدلي (قبلیږي).

امام ترمذي رحمه الله وایي: ابو اسحاق همداني دبریده بن ابي مریم کوفي نه او هغه دانس په واسطه دنبي کریم صلي الله علیه وسلم نه ددي پشان روایت نقل کړي دي او دا زیات صحیح روایت دي.

****

٣٥٩٦_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، أَخْبَرَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ عُمَرَ بْنِ رَاشِدٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سَبَقَ

---

[1] _ انظر حدیث رقم ٢١٢

الْمُفْرِدُونَ ". قَالُوا: وَمَا الْمُفْرِدُونَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: " الْمُسْتَهْتَرُونَ فِي ذِكْرِ اللهِ، يَضَعُ الذِّكْرُ عَنْهُمْ أَثْقَالَهُمْ فَيَأْتُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ خِفَافًا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي مفردون مخکې شو اصحابو عرض اوکړو مفردون څوك دي، يا رسول الله! رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دالله تعالي دوبيدونکي ،ډير ډير ذکر کوونکي خلق ، او ذکر به ددوئ نه ددوئ بوجونه لري کړي او د قيامت په ورځ به سپك حالت كي راشي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن غريب دی.

لغات : المفردون: دضرب نه يواځي كيدونكي اوبه مزيدو كې دباب افعال نه راځي.

امام نووي فرمائي المفردون د "ر" په شد اوبی شده دواړه روايت شوی دی خو مشهور و عالمانو شد خوښ کړی دی.

تشريح: دا حديث د رسول الله صلي الله عليه وسلم دهغه وخت وينا ده كله چي دمكي نه مديني ته راروان وو او په حمدان غر كې موجود وو كوم چي دمديني نه يو منزل لري دی په دي وخت كې صحابه كرام په تيزئ سره خپلو كورونو ته روان شول او څوك چي ورنه شاته پاتي شوي وو رسول الله دهغوئ نه تپوس اوكړو چي مخكې تلونكي كـان څوك دي مطلب خو بالكل ظاهر وو چي مخكې تلونكي خو هغه كـان وو څوك چي مديني ته مخكې داخل شوي وو ليكن صحابه كرام پوهه شول چي ددي سوال مطلب بل څه دی نو په دي وجه رسول الله زمونږ نه تپوس اوكړو نو په دي وخت كې رسول الله اوفرمائيل چي مخكې كيدونكي الله تعالي طرف ته هغه كـان دي څوك چي په كثرت سره دالله په ياد كې مشغول وي علماء وائي كله چي به دصحابه كرامو ذهن دنيا طرف ته تلو نو رسول الله به ورته زر داخرت ذكر كولو او دلته يي هم داسي كړي دي چي حقيقي مخكې والي طرف ته يي ددوئ توجه راګرځولي ده

سوال ډير ذكر كونكي څوك دي.

جواب: دناستي پاستي پريوتو او دويښي چي كومي دعاګاني په كومو وختونو كې درسول الله نه منقول دي دهغي په ونيلو سره انسان دذاكرينو په صف كې داخليږي او همدا مضمون دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه مروي دي.

په يو بل روايت كې راغلي دي چي دمونځونو نه پس ذكر او سحر او مابنام او دشپي د پريوتو نه مخكې ذكر او دويخيدو نه پس دعاګاني ونيل انسان لره په كثرتوالاكې شامل وي په دي باره كې دمجاهد قول دادی چي څوك په ناسته ولاړه او وينبه او اودو كې ذكر كوي دی په كثرت

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٢١١)

سره ذکر کونکو کې شاملیږي

****

۳۵۹۷_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَأَنْ أَقُولَ: سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي په ټول کائنات کې چې نمر ورباندي راخيژي ماته دا کلمات زيات خوښ دي " سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ" الله تعالي پاك دي او دتعريف حقدار دي او دهغه نه علاوه بل هيڅوك لائق دبندګۍ نشته او الله تعالي دهر څانه لوي دي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

۳۵۹۸_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ سَعْدَانَ الْقُبِّيِّ، عَنْ أَبِي مُجَاهِدٍ، عَنْ أَبِي مُدِلَّةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ثَلَاثَةٌ لَا تُرَدُّ دَعْوَتُهُمْ: الصَّائِمُ حَتَّى يُفْطِرَ، وَالإِمَامُ الْعَادِلُ، وَدَعْوَةُ الْمَظْلُومِ يَرْفَعُهَا اللَّهُ فَوْقَ الْغَمَامِ، وَيَفْتَحُ لَهَا أَبْوَابَ السَّمَاءِ، وَيَقُولُ الرَّبُّ: وَعِزَّتِي لَأَنْصُرَنَّكِ وَلَوْ بَعْدَ حِينٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ، وَسَعْدَانُ الْقُبِّيُّ هُوَ سَعْدَانُ بْنُ بِشْرٍ، وَقَدْ رَوَى عَنْهُ عِيسَى بْنُ يُونُسَ، وَأَبُو عَاصِمٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ كِبَارِ أَهْلِ الْحَدِيثِ، وَأَبُو مُجَاهِدٍ هُوَ سَعْدٌ الطَّائِيُّ، وَأَبُو مُدِلَّةَ هُوَ مَوْلَى أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ عَائِشَةَ، وَإِنَّمَا نَعْرِفُهُ بِهَذَا الْحَدِيثِ، وَيُرْوَى عَنْهُ هَذَا الْحَدِيثُ أَتَمَّ مِنْ هَذَا وَأَطْوَلَ. (٢)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي دري قسمه خلق داسي دي چي دعا يي نه رد کيږي، يو روژه دار دي چي روژې يي خو پوري نه وي ماته کړي، دويم انصاف دار بادشاه دي ، او دريم مظلوم دي دده دعا الله تعالي د وريځو دپاسه پورته خيژوي او دده ددعا دپاره داسمان دروازي پرانيستل کيږي او رب اواز کوي، زما دي پخپل عزت قسم وي زه به ستا مددګار شم اګر که څه موده پس ولي نه وي.

1_ صحيح مسلم/الذكر والدعاء ١٠(٢٦٩٥) (تحفة الأشراف: ١٢٥١١)

2_ سنن ابن ماجه/الصيام ٤٨ (١٧٥٢) (تحفة الأشراف: ١٥٤٥٦)، ومسند احمد (٢/٣٠٤، ٣٠٥، ٤٤٥، ٤٧٧)

امام ترمذي رحمه الله وائي: داحديث حسن دي او دسعدان قبي نوم سعدان بن بشر دي عيسي بن يونس دده نه روايت نقل كوي او ابو عاصم او څو لويو محدثينو دده نه نقل دروايت كړي دي او دابو مجاهد نه مراد سعد طائي دي او ابو مدله دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها ازاد كړي غلام دي مونږ يې صرف په همدي حديث پيژنو او همدا حديث دهغه نه ددي حديث نه زيات مكمل او اوږد منقول دي.

****

٣٥٩٩ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اللَّهُمَّ انْفَعْنِي بِمَا عَلَّمْتَنِي، وَعَلِّمْنِي مَا يَنْفَعُنِي، وَزِدْنِي عِلْمًا، الْحَمْدُ لِلَّهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ، وَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ حَالِ أَهْلِ النَّارِ ".
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله سلي الله عليه وسلم دا دعا اولوستله:

" اللَّهُمَّ انْفَعْنِي بِمَا عَلَّمْتَنِي، وَعَلِّمْنِي مَا يَنْفَعُنِي، وَزِدْنِي عِلْمًا، الْحَمْدُ لِلَّهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ، وَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ حَالِ أَهْلِ النَّارِ "

يعني اي الله ماته په هغه علم نفع راكړي كوم چي تا ماته خودلي دي او ماته هغه علم راكړي كوم چي ماته فائده راكوي او زما علم زيات كړي او په هر حال كي دالله تعالي دپاره تعريف دي او زه دجهنميانو دحال نه په الله پناه غواړم.

امام ترمذي رحمه الله وايي داحديث په دي سند حسن غريب دي.

تشريح : بعضي علماء وائي چي الله تعالي دهيڅ دپاره دهيڅ څيز دزياتولو حكم نه دى كړى علاوه دعلم نه چي په دي كې يې دزياتولو حكم كړى دى. او په يو روايت كې ورسره دا الفاظ هم دي واعوذ بالله من حال النار.

د علم په فضائلو كي قرآني نصوص په كثرت سره وارد دي چي دمفسرينو دا قوالو په رڼا كي يې تاسو ته پيش كوو:

قال الله تعالى: ﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ [الزمر : ٩].

ارشاد دى اى پيغمبره، اووايه ايا عالمان اوبى علمه سره برابر دي (يعني نه دي برابر)
دلته استفهام انكاري دى چي دا دواړه ډلي برابري نشي كيدى يوه ډله دالله پيژندونكو ده

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ٢٣ (٢٥١). والدعاء (٣٨٣٣) (تحفة الأشراف: ١٣٣٥٦)

اودوئ هغه کسان دي څوك چي دالله جلالي او جمالي صفات مني او دهغه دعذاب نه يرېږي او درحمت اميد يي کوي دويمه هغه ډله ده چي په هيڅ نه پوهيږي او نه يي مني دلته دا سوال دی چي ايا دا دواړه په مرتبه کې برابر کيدی شي نو جواب په نفي کې دی چي نه دبعضي اهل علمو قول دی چي دا خو تاکيدي جمله ده ليکن په طور دتنبيه ده يعني لکه څنګه چي عالم او جاهل برابر نشي کيدی نو همدارنګي فرمانبردار او نافرمان هم برابر نشي کيدی.

علامه قرطبي ليکلي دي په دي ايت کې هغه علماء مراد دي څوك چي دپوهيدو باوجود عمل هم کوي او څوك چي پوهيږي خو عمل نه کوي په بعضي روايتونو کې راځي دالذين يعلمون نه مراد عمار بن ياسر رضي الله عنه دی او دالذين لايعلمون نه مراد ابوحذيفه مخزومي دی.

وقال الله تعالى: ﴿يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ﴾ [المجادلة:١١].

ارشاد دی: الله تعالي دايماندارو او بيا په ايماندارو کې دهغه چاچي علم دين ورکړی شوی وي درجې ډيرې اوچتوي.

په دي ايت کې داهل علمو نه مراد باعمله علماء دي يعني الله تعالي باعمله علماؤ ته هغه درجات ورکوي کوم چي جاهلانو ته نه ورکوي ځکه چي يو طرف ته خو عالم ته دهغه اجر ملاويږي دويم ورته هغه اجر ملاويږي چاته چي ده څه خودلي وي او هغه وربانديي عمل کوي.

دحسن بصري قول دی چي عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دا ايت اولوستلو او ويې فرمائيل ای خلقو دا زده کړئ دا ايت تاسو ته دعلم ترغيب درکوي او تاسو ته دا ښايي چي مومن عالم دجاهل نه ډيري درجي اوچت دی ځکه چي علم دتمامو عباداتو بنياد دی او باقي هر څه فروعات دي همدا وجه ده چي په قران مجيد کې بار بار ديته توجه ورکړی شوي ده.

وقال تعالى: ﴿إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ﴾ [فاطر: ٢٨].

ارشاد دی، دالله بنده ګانو کې دهغه نه هغه کسان ډير ويريږي، څوك چي عالمان دي.

په دي ايت کې دعلماء نه مراد هغه کسان دي څوك چي دالله تعالي په ذات او صفاتو کماحقه علم لري او په مخلوقاتو کې دتصروفاتو او احساناتو او انعاماتو معلومات لري ددي ايت باره کې دشعبي او مجاهد قول دی العالم من خاف الله. يعني عالم هغه چاته ونيلی شي څوك چي دالله نه يريږي، دربيع بن انس قول دی من لم يخش الله فليس بعالم. يعني څوك چي دالله نه نه يريږي هغه عالم نه دی، دشيخ شهاب الدين سخروردي قول دی په دي ايت کې دي خبري ته اشاره ده چي په چا کې خشيت الهي نه وي هغه عالم نه دی.

دحسن بصري قول دی چي عالم هغه څوك دی څوك چي دخلوت او جلوت په دواړو حالتونو کې دالله نه يريږي او چي کوم څيز ته الله تعالي ترغيب ورکړی وي هغه يي خوښ وي او دکوم څيز نه چي دالله تعالي نفرت وي دهغي نه نفرت کوي په قران کريم کې نور هم داسي ډير ايتونه

راغلي دي چي يو څوېكې لاندې ذكر كولى شي.

****

١٣٠ـ بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ لِلَّهِ مَلَائِكَةً سَيَّاحِينَ فِي الأَرْضِ

د الله دپاره په زمكه كې ګرځېدونكي فرښتې دي

٣٦٠٠ـ حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَوْ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ لِلَّهِ مَلَائِكَةً سَيَّاحِينَ فِي الأَرْضِ فُضُلًا عَنْ كُتَّابِ النَّاسِ، فَإِذَا وَجَدُوا أَقْوَامًا يَذْكُرُونَ اللَّهَ تَنَادَوْا: هَلُمُّوا إِلَى بُغْيَتِكُمْ، فَيَجِيئُونَ فَيَحُفُّونَ بِهِمْ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، فَيَقُولُ اللَّهُ: عَلَى أَيِّ شَيْءٍ تَرَكْتُمْ عِبَادِي يَصْنَعُونَ؟ فَيَقُولُونَ: تَرَكْنَاهُمْ يَحْمَدُونَكَ، وَيُمَجِّدُونَكَ، وَيَذْكُرُونَكَ، قَالَ: فَيَقُولُ: فَهَلْ رَأَوْنِي؟ فَيَقُولُونَ: لَا، قَالَ: فَيَقُولُ: فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْنِي؟ قَالَ: فَيَقُولُونَ: لَوْ رَأَوْكَ لَكَانُوا أَشَدَّ تَحْمِيدًا، وَأَشَدَّ تَمْجِيدًا، وَأَشَدَّ لَكَ ذِكْرًا، قَالَ: فَيَقُولُ: وَأَيُّ شَيْءٍ يَطْلُبُونَ؟ قَالَ: فَيَقُولُونَ: يَطْلُبُونَ الجَنَّةَ، قَالَ: فَيَقُولُ: وَهَلْ رَأَوْهَا؟ قَالَ: فَيَقُولُونَ: لَا، قَالَ: فَيَقُولُ: فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْهَا؟ قَالَ: فَيَقُولُونَ: لَوْ رَأَوْهَا كَانُوا لَهَا أَشَدَّ طَلَبًا، وَأَشَدَّ عَلَيْهَا حِرْصًا، قَالَ: فَيَقُولُ: فَمِنْ أَيِّ شَيْءٍ يَتَعَوَّذُونَ؟ قَالُوا: يَتَعَوَّذُونَ مِنَ النَّارِ، قَالَ: فَيَقُولُ: هَلْ رَأَوْهَا؟ فَيَقُولُونَ: لَا، فَيَقُولُ: فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْهَا؟ فَيَقُولُونَ: لَوْ رَأَوْهَا كَانُوا مِنْهَا أَشَدَّ هَرَبًا، وَأَشَدَّ مِنْهَا خَوْفًا، وَأَشَدَّ مِنْهَا تَعَوُّذًا، قَالَ: فَيَقُولُ: فَإِنِّي أُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ، فَيَقُولُونَ: إِنَّ فِيهِمْ فُلَانًا الخَطَّاءَ لَمْ يُرِدْهُمْ إِنَّمَا جَاءَهُمْ لِحَاجَةٍ، فَيَقُولُ: هُمُ القَوْمُ لَا يَشْقَى لَهُمْ جَلِيسٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الوَجْهِ.[1]

ترجمه: د ابوهريره رضي الله عنه يا ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: دالله تعالى دفرښتو يوه ډله داسې ده چې په كوڅو كې ګرزي مګر د خلقو د ليونكو نه علاوه، ذاكرين لټوي چې چرته دذاكرينو ډله اووينې نو خپلو ملګروته اواز وركړي رامنده كړئ تاسو چې يې لټوئ دادي دلته دي، نو فرښتې يې په خپلو وزرو كې پټ كړي تراسمانه پورې ،بياچې دوئ واپس شي، نو الله تعالى ترې تپوس اوكړي خما بندګانو څه كول؟ هغوئ اووائي هغوئ ستا ثنا ونيله، اوستا لوني يې بيانوله اوستا حمد يې ونيلو اوستا عظمت يې بيانولو الله تعالى ورته ووائي ايا دوئ زه ليدلى يم، رسول الله

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٠١٥، و١٢٥٣٠)، و مسند احمد (٢/٢٥١)

اوفرمائيل فرشتي به اووايي كه ته يې ليدلى وى نو ستا عظمت اوحمدوثنا به يې نور هم ډير ډير بيانول الله تعالي ورته اووائي خما بندگان مانه څه غواړي فرشتې اووائي هغوئ تانه جنت غواړي الله تعالي اوفرمائي ايا دوئ جنت ليدلى دى فرشتې ووايي نه ، ، رسول الله اوفرمائيل فرشتي به اووايي كه يې ليدلى وي نو ددې دحاصلولو حرص به يې نور هم زيات شوى وو او ددې په طلب كې به يې نور هم كوشش كړى وو ، رسول الله اوفرمائيل الله تعالي به اووايي خما بندگان دڅه نه پناه غواړي فرشتې اووائي داور نه پناه غواړي الله تعالي اوفرمائل ايا دوئ دا اور ليدلى دى . فرشتې اووائي نه والله نه يې دى ليدلى الله تعالي اوفرمائي كه يې ليدلى يې وى نو څه حال به يې وو فرشتي اووائي كه ليدلى يې وى نو ډير زيات به تري تښتيدل ، او ويره به يې ترينه ډيره زياته شوي وه او ډيره ډيره پناهي به يي ورنه غوښتلي وه. رسول الله اوفرمائيل الله تعالي به اووايي زه تاسو گواه كوم چي ما دوئ اوبخښل فرشتي به اوايي يا الله په دى مجلس كې فلانى هم دى هغه ددوئ ملگرى نه دى څه كار پسى راغلى دي الله تعالي اوفرمائي دا داسې خلقو مجلس دى چي دوئ سره ناست بنده محروم نشي پاتيى كيدى .
امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دي اود ابو هريره رضي الله عنه نه په نورو سندونو هم مروي دى.

لغات : لا يشقي نه بدبخته كيږي.

تشريح : "الله تعالي دفرشتو نه بار بار سوال كوي ايا الله تعالي دبندگانو دحالاتو نه واقف نه دى؟

جواب دفرشتو نه دا سوال په طور دالزام دى څكه چي كله الله تعالي دانسانانو پيدا كولو فيصله اوكړه نو فرشتو اعتراض كړى وو چي انسانان به په زمكه كې فسادونه خوروي او وينې به تويوي او په مونږ كې دا خصلت موجود دى چي "ولحن نسبح بحمدك ونقدس لك".
خلاصه داده چي په فرشتو باندي دبني ادم فضيلت ظاهرول ددي سوالاتو مقصود دى او هغه دادى چي په چا باندي تاسو اعتراض كړى وو هغوئ څنگه زما په عبادت كې مشغول دي چي اوس يې پخپله تاسو گواهي وركوى:

هل راوها: ايا دوئ جنت ليدلى دى ددينه معلوميږي چي جنت پيدا كړى‌شوى دى لكه چي داهل سنت والجماعت عقيده ده په بخاري كې ددي سوال جواب هم مذكور دى چي انسان كه جنت ليدلى وى نو څه حال به يي وو ددي جواب يي دا كړى دى چي نور زيات شوق او رغبت به يي كړى وو ليكن دمسلم روايت كې صرف دا سوال مذكور دى او جواب نشته محدثينو ددي دا وجه بيان كړي ده چي په بخاري كې دنفس سوال دپاره جواب دى نو په دي وجه جواب ته ضرورت پيښ شو او په مسلم كې سوال دتعجب دپاره دى نو جواب كولو ته ضرورت پاتي نشو.

لايشقي بهم جليسهم: يعني دذاكرينو په مجلس كې ناست كس هم دفلاح او سعادت نه نه محروم كيږي. ديوعارف قول دى سړي لره پكار دي چي پخپله دالله په ياد كې مشغول اوسي او كه داسي نشي كولى نو دهغه خلقو صحبت دي اختيار كړي څوك چي دالله تعالي په ذكر كې مشغول وي دا هم دسړي دپاره دسعادت.ذريعه جوړيدى شي او ددي په سبب لوړو مرتبو ته رسيدى شي.

****

۱۳۱_باب فَضْلِ لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ

د " لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ " فضيلت

۳۶۰۱_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ الأَحْمَرُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ الْغَازِ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَكْثِرْ مِنْ قَوْلِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، فَإِنَّهَا كَنْزٌ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ قَالَ مَكْحُولٌ: فَمَنْ قَالَ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ وَلَا مَنْجَأَ مِنَ اللَّهِ إِلَّا إِلَيْهِ كَشَفَ عَنْهُ سَبْعِينَ بَابًا مِنَ الضُّرِّ أَدْنَاهُنَّ الْفَقْرُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ، مَكْحُولٌ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دا كلمات "لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ" په كثرت سره لولئ خكه چي دا دجنت په خزانو كي يوه خزانه ده، دمكحول قول دي چاچي "لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ وَلَا مَنْجَأَ مِنَ اللَّهِ إِلَّا إِلَيْهِ" اووئيل الله تعالي به دده نه اويا قسمه ضررونه دفع كړي په كومو كي چي كم تري درجي والاضرر فقر او محتاجي ده.

امام ترمذي رحمه الله وايي: ددي روايت سند متصل نه دي دمكحول سماع دابوهريره رضي الله عنه نه ثابت نه ده.

****

۳۶۰۲_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ، وَإِنِّي اخْتَبَأْتُ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لِأُمَّتِي، وَهِيَ نَائِلَةٌ إِنْ شَاءَ اللَّهُ مَنْ مَاتَ مِنْهُمْ لَا يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حديثٌ حَسَنٌ

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۲۶۲۱)

صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دهر يو نبي دپاره يوه مقبوله دعا وي مګر ما خپله دعا دخپل امت دشفاعت دپاره محفوظه ساتلي ده او ددي دعا فائده به انشاء الله دامت هر هغه کس ته حاصليږي چاچي دمرګ نه مخکي دالله تعالي سره هيڅ قسم شريك مقرر کړي نه وي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

١٣٢_باب فِي حُسْنِ الظَّنِّ بِاللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ

په الله تعالي باندي دښه ګمان کولو بيان

٣٦٠٢_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ. وَأَبُو مُعَاوِيَةَ. عَنِ الأَعْمَشِ. عَنْ أَبِي صَالِحٍ. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: " أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي، وَأَنَا مَعَهُ حِينَ يَذْكُرُنِي. فَإِنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي، وَإِنْ ذَكَرَنِي فِي مَلَإٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلَإٍ خَيْرٍ مِنْهُمْ. وَإِنِ اقْتَرَبَ إِلَيَّ شِبْرًا اقْتَرَبْتُ مِنْهُ ذِرَاعًا. وَإِنِ اقْتَرَبَ إِلَيَّ ذِرَاعًا اقْتَرَبْتُ إِلَيْهِ بَاعًا. وَإِنْ أَتَانِي يَمْشِي أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَيُرْوَى عَنِ الأَعْمَشِ فِي تَفْسِيرِ هَذَا الْحَدِيثِ: مَنْ تَقَرَّبَ مِنِّي شِبْرًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ ذِرَاعًا يَعْنِي بِالْمَغْفِرَةِ وَالرَّحْمَةِ. وَهَكَذَا فَسَّرَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ هَذَا الْحَدِيثَ. قَالُوا: إِنَّمَا مَعْنَاهُ يَقُولُ: إِذَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ الْعَبْدُ بِطَاعَتِي وَمَا أَمَرْتُ أُسْرِعُ إِلَيْهِ بِمَغْفِرَتِي وَرَحْمَتِي. [2]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي دالله تعالي ارشاد دی خه خپل بنده سره دهغه دګمان موافق معامله کوم او هغه چي چرته هم ما يادوي خه هغه سره يم . اوکه ما په ګنره کي يادوي نو زه يي دهغی نه په بهتره ګنره کي (يعني دفرشتو په ډله کي) يادوم کله چي يو بنده زما دقرب حاصلولو کوشش کوي نو چي هغه يو لويشت رانژدي شي زه يو لاس ورنزدي شم او چي هغه يو لاس رانژدي شي زه يو ګز نژدي شم

[1] ـ صحيح مسلم/الإيمان ٨٦ (١٩٨) . سنن ابن ماجه/الزهد ٣٧ (٤٣٠٧) (تحفة الأشراف : ١٢٥١٢) . و مسند احمد (٢/٢٧٥، ٣١٣، ٣٨١، ٣٩٦، ٤٠٩، ٤٢٦، ٤٣٠، ٤٨٦، ٤٨٦) . وسنن الدارمي/الرقاق ٨٥ (٢٨٤٧، ٢٨٤٨)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /التوحيد ١٥ (٧٤٠٥) . و٣٥ (٧٥٠٥) . صحيح مسلم/الذكر والدعاء ٦ (٢٦٧٥) . سنن ابن ماجه/الأدب ٥٨ (٣٨٢٢) (تحفة الأشراف : ١٢٥٠٥) (وراجع ماتقدم عند المؤلف في الزهد (برقم ٢٣٨٨)

او چي بنده ماته راروان وي زه په منډه ورشم (بخاري) (يعني بنده چي دنږدي کيدو څومره کوشش کوي زه دهغي نه زياته کاميابي ورکوم).
امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن صحيح دی، ددي حديث په تفسير کي داعمش نه مروي دي الله تعالي چي فرمائيلي دي " مَنْ تَقَرَّبَ مِنِّي شِبْرًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ ذِرَاعًا" څوک چي ماته يو ګز راوړاندي کيږي زه هغه ته يو لاس ورنږدي کيږم ددي مطلب دادي چي زه هغه سره درحمت او مغفرت معامله کوم ، او دا رنګي بعضي اهل علمو ددي روايت دا تفسير کړي دي چي ددينه مراد دادي کله چي بنده زما په اطاعت او مامراتو عمل اوکړي او ماته نږدي کيدل غواړي نو زه دخپل رحمت او مغفرت سره دهغه طرف ته په منډه ورځم.
لغات: شبراً: شبر شبرا دنصر او ضرب نه په معني دناپ کولو دي په بالبنت سره او جمع يي ابشار ده.
الذراع: ذراع معني څنګل داوږو نه واخله دمينځني ګوتي دسره پوري جمع يي اذرع او ذرعان ده.
باعاً: باع ددواړو لاسونو دغزولو په مقدار تقريبا دشپږو پټو پوري فاصلي ته ونيلي شي.
هرولة: هرولة معني تيزرفتاري اومنډه
تشريح : " په دي حديث کي الله تعالي باندي حسن ظن کولو ته ترغيب ورکولی شي لکه څرنګه چي په الله تعالي دبنده ګمان وي هم هغه شان معامله به ورسره کوي مثلا دچاپه الله دا ګمان وي چي الله تعالي معافي کونکی دی نو اميد دی چي معافي به ورته اوکړي او که دچا په الله دا ګمان وي چي الله تعالي سخت عذاب ضرور ورکوي نو کيدی شي چي دده سره دده دګمان مطابق معامله اوکړي بعضي علماء وائي په پورتني حديث کي دي خبري ته ترغيب دی چي دالله تعالي درحمت او کرم اميد دهغه دعذاب په خوف باندي غالب کول پکار دي، په يو روايت کي راغلي دي دقيامت په ورځ چي به کله ديوسړي په حق کي دجهنم فيصله کولی شي نو دی به داسي وائي چي ای الله ماخو په تا باندي ښه ګمان لرلو الله تعالي به ورته اووائي ورشئ او دی واپس راولئ يقينا چي زه دبنده سره دهغه دګمان مطابق فيصله کوم.
وانا معه حين يذکرني، مطلب دادي چي کله به بنده الله يادوي نو الله تعالي ورته هم متوجه کيږي او مدد او نصرت ورسره کوي خو په دي شرط چي الله په اخلاص يادوي.
"اذا تقرب العبد الي شبرا تقربت اليه ذراعا" يعني کله چي بنده زما طرف ته يوه لويشت رانږدي کيږي نو زه هغه ته دګز په مقدار ورنږدي کيږم الله ته دبنده دنږدي کيدو مطلب دادی چي کله بنده دالله اطاعت شروع کړي مطلب دادی چي معمولي عبادت کوي نو الله تعالي زيات اجر ورکوي او بيا چي ددينه عبادت لږ زيات کړي نو الله تعالي اجر ورکول هم زيات

کړي. الخ.
خلاصه داده چي الله تعالی دبنده په لړ شان توبې باندي هغه ته ډيره توجه ورکوي نو په دي وجه په بنده باندي لازم دي چي الله تعالی ته هر وخت متوجه وي او که داسي اونکړي نو مونږ به چاته لاړ شو او چاته به اوژاړو.

****

وَرُوِيَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، أَنَّهُ قَالَ فِي هَذِهِ الآيَةِ: فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ سورة البقرة آية ١٥٢ قَالَ: اذْكُرُونِي بِطَاعَتِي أَذْكُرْكُمْ بِمَغْفِرَتِي. حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ مُوسَى، وَعَمْرُو بْنُ هَاشِمٍ الرَّمْلِيُّ، عَنِ ابْنِ لَهِيعَةَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ بِهَذَا. ([1])

ترجمه: او بعضي راويانو دسعيد بن جبير نه نقل کړي دي چي هغه ددي ايت " فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ " په تفسير کي وئيلي دي ياد کړئ مالره په طاعت سره نو ياد به کړم تاسو لره په مغفرت سره عطاء بن يسار هم پخپل سند دسعيد بن جبير نه دمذکوره روايت هم معني مضمون نقل کړي دي.

****

١٣٣_بَاب فِي الاِسْتِعَاذَةِ

په الله باندي دپناه غوښتلو بيان

٣٦٠٤_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اسْتَعِيذُوا بِاللَّهِ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَاسْتَعِيذُوا بِاللَّهِ مِنْ عَذَابِ القَبْرِ، اسْتَعِيذُوا بِاللَّهِ مِنْ فِتْنَةِ المَسِيحِ الدَّجَّالِ، وَاسْتَعِيذُوا بِاللَّهِ مِنْ فِتْنَةِ المَحْيَا وَالمَمَاتِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي:
"اسْتَعِيذُوا بِاللَّهِ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَاسْتَعِيذُوا بِاللَّهِ مِنْ عَذَابِ القَبْرِ، اسْتَعِيذُوا بِاللَّهِ مِنْ فِتْنَةِ المَسِيحِ الدَّجَّالِ، وَاسْتَعِيذُوا بِاللَّهِ مِنْ فِتْنَةِ المَحْيَا وَالمَمَاتِ"

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /التوحيد ١٥ (٧٤٠٥) ، و٣٥ (٧٥٠٥) . صحيح مسلم/الذكر والدعاء ٦ (٢٦٧٥) . سنن ابن ماجه/الأدب ٥٨ (٣٨٢٢) (تحفة الأشراف : ١٢٥٠٥) (وراجع ماتقدم عند المؤلف في الزهد (برقم ٢٣٨٨)

[2] _ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ١٩٢ (٥٩٠) ، و مسند احمد (٢/٢٩٠) (تحفة الأشراف : ١٢٧٥٣)

پناهي اوغواړئ په الله باندي دجهنم دعذاب نه او پناه اوغواړئ په الله باندي دقبر دعذاب نه، پناه اوغواړئ په الله دمسيح دجال دفتني نه. او پناه اوغواړئ په الله باندي د ژوند او مرگ دفتني نه.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ حَسَّانَ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ قَالَ حِينَ يُمْسِي ثَلَاثَ مَرَّاتٍ: أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ لَمْ يَضُرَّهُ حُمَةٌ تِلْكَ اللَّيْلَةَ ". قَالَ سُهَيْلٌ: فَكَانَ أَهْلُنَا تَعَلَّمُوهَا فَكَانُوا يَقُولُونَهَا كُلَّ لَيْلَةٍ، فَلُدِغَتْ جَارِيَةٌ مِنْهُمْ، فَلَمْ تَجِدْ لَهَا وَجَعًا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ هَذَا الحَدِيثَ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَوَى عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ وَغَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ سُهَيْلٍ وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه دا هم روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوك چي ماښام وخت كي دري پيري دا كلمات اووايي:

أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ "

(ترجمه) زه دالله د كلمات تامه په ذريعه دهغه په پناه كي راځم مخلوق دشر نه. نو پدغه شپه ورته تبه تكليف ونه رسولی شي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث حسن دي او امام مالك داحديث دسهيل بن ابي صالح نه نقل كړي دي او هغه دخپل پلار نه دابوهريره په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه، او عبيدالله بن عمرو وغيره راويانو دا حديث دسهيل نه نقل كړي دي مگر دوئ پخپل سند كي دابوهريره واسطه نه ده ذكر كړي.

لغات : التامات: كامل پوره ، تمّ تماما معني پوره كيدل.

تشريح : همدا روايت په بعضي كتابونو دحديث كي داسي دي: ان رجلا من اسلم قال: مانمت هذه الليلة فقال له رسول الله صلي الله عليه وسلم من اي شيء؟ قال لدغتني عقرب.

التامات: په دي كلام كي هيڅ قسم عيب او نقصان نشته لكه د انسانانو په كلام كي چي وي.

1 سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ١٩٢(٥٩٠)، و مسند احمد (٢/٢٩٠) (تحفة الأشراف: ١٢٥٣)

په مذکوره روایت کې راغلي دي څوك چې په ماښام کې دا کلمات درې پیرې اووائي نو په دې شپه به يې هيڅ زهريله څيز اونه چيچي او نه به و رته ضرر اورسوي په يو بل روايت کې هم دي چې څوك دسحر په وخت کې دا کلمات اولولي نو تولـه ورځ به دهريله څناورو نه په حفاظت کې وي.

علامه قطب الدين دمفضل بن يسار نه روايت نقل کوي چې څوك دا کلمات لولي نو دده دپاره اويازره فرشتې مغفرت غواړي او که ددې دعا ونيلو نه پس مړ شي نو شهيد به مړ شي.

****

١٣٤_بَاب مِنْ أَدْعِيَةِ النَّبِيِّ ﷺ

درسول الله صلي الله عليه وسلم غوښتلي دعاګانې

حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا وَكِيعٌ، أَخْبَرَنَا أَبُو فَضَالَةَ الفَرَجُ بْنُ فَضَالَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ المَقْبُرِيِّ، أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ، قَالَ: دُعَاءٌ حَفِظْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا أَدَعُهُ: "اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي أُعَظِّمُ شُكْرَكَ وَأُكْثِرُ ذِكْرَكَ وَأَتَّبِعُ نَصِيحَتَكَ وَأَحْفَظُ وَصِيَّتَكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي فرماي چې ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه يوه دعا ياده کړې ده چې ما به هيڅ کله نه پرېخودله او هغه دعا داده :

"اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي أُعَظِّمُ شُكْرَكَ وَأُكْثِرُ ذِكْرَكَ وَأَتَّبِعُ نَصِيحَتَكَ وَأَحْفَظُ وَصِيَّتَكَ"

يعني اې الله ماته توفيق راکړې چې ستا شکر اداء کړم او دا توفيق راکړې چې زيات نه زيات ذکر دې اوکړم او ستا دنصيحت تابعداري اوکړم ، او ستا وصيت ياد اوساتم.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دې.

****

١٣٥_بَاب اسْتِجَابَةِ الدُّعَاءِ فِي غَيْرِ قَطِيعَةِ رَحِمٍ

دصلح رحمۍ قطع کولو نه علاوه دبل هر قسم دعا دقبليدو بيان

حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، أَخْبَرَنَا اللَّيْثُ هُوَ ابْنُ أَبِي سُلَيْمٍ، عَنْ زِيَادٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ رَجُلٍ يَدْعُو اللَّهَ بِدُعَاءٍ إِلَّا اسْتُجِيبَ لَهُ،

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف ١٢٩٤٠)

فَإِمَّا أَنْ يُعَجِّلَ لَهُ فِي الدُّنْيَا، وَإِمَّا أَنْ يَدَّخِرَ لَهُ فِي الآخِرَةِ، وَإِمَّا أَنْ يُكَفِّرَ عَنْهُ مِنْ ذُنُوبِهِ بِقَدْرِ مَا دَعَا، مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ، أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ، أَوْ يَسْتَعْجِلُ". قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَكَيْفَ يَسْتَعْجِلُ؟ قَالَ: "يَقُولُ: دَعَوْتُ رَبِّي فَمَا اسْتَجَابَ لِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ هَذَا الوَجْهِ. (1)

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هيڅ يو مسلمان داسي نشته چي د الله تعالي نه څه حاجت اوغواړي او هغه يي ورته ورنکړي مګر دده دعابه قبلوي، يابه يي په تعجيل سره په دنيا کي قبوله کړي، او يا به يي په اخرت کي دده دپاره ذخيره کړي، او يا به دده ددعا په مقدار دده ګناهونه اوبخي مګر ترڅو چي دګناه د کوم کار دپاره دعا ونه غواړي . او صله رحمۍ قطع کولو دپاره دعا ونه غواړي، او تادي اونه کړي . صحابه کرامو عرض وکړو د تادۍ کولو نه څه مراد دي؟ رسول الله اوفرمائيل چي دا اونه وائي مادخپل رب نه سوال کړی وو خو قبول يی نه کړو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: دا حديث په دي سند غريب دی.

لغات : قطعية: درشته دارۍ نه کټ کيدل صله رحمي قطع کول يستعجل دباب استفعال نه په معني دجلتۍ کولو.

تشريح : مطلب دادی چي انسان دجلدبازۍ او مايوسۍ په وجه دعا کول پريږدي داسي کول نه دي پکار انسان دي په دي خبره يقين اوساتي چي زما دعا به ضرور قبليږي مګر دا ممکن ده چي کله کله انسان په ډير اخلاص او اضطرار سره دعا غواړي او دده دا اخلاص دالله تعالي ډير خوښ شي نو په دي وجه دده د دعا په قبوليت کي تاخير اوشي او دبعضو خلقو ددعاګانو تسلسل ددوۍ دترقۍ سبب وی نو څکه الله تعالي ددوۍ دعا زر نه قبلوي ددي دپاره چي دوۍ ددي عظيم نعمت نه محروم نشي.

په جلدبازۍ کي خو يو نقصان دادی چي بيا انسان دعا کول پريږدي او دويم نقصان دادی چي نااميده شي دريم نقصان دادی انسان دا ګمان اوکړي ګني اوس زما ددعا دقبوليت وخت لاته دی راغلی علامه توربشتي وائي په دعا کي دجلد بازۍ نه کار اخستل نه دي پکار څکه چي دا خو الله تعالي ته معلومه ده چي کله به دده دعا قبلوي او کله يي نه قبلوي.(روضة)

****

حَدَّثَنَا يَحْيَى، أَخْبَرَنَا يَعْلَى بْنُ عُبَيْدٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ عَبْدٍ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَتَّى يَبْدُوَ إِبْطُهُ يَسْأَلُ اللَّهَ

---

(1) ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٩٠٦)

مَسْأَلَةً إِلَّا آتَاهَا إِيَّاهُ مَا لَمْ يَعْجَلْ ". قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَكَيْفَ عَجَلَتُهُ ؟ قَالَ: "يَقُولُ: قَدْ سَأَلْتُ وَسَأَلْتُ وَلَمْ أُعْطَ شَيْئًا".

وَرَوَى هَذَا الحَدِيثَ الزُّهْرِيُّ، عَنْ أَبِي عُبَيْدٍ مَوْلَى ابْنِ أَزْهَرَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يُسْتَجَابُ لِأَحَدِكُمْ مَا لَمْ يَعْجَلْ، يَقُولُ: دَعَوْتُ فَلَمْ يُسْتَجَبْ لِي". [1]

ترجمه: ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: هيڅ بنده داسي نشته چي الله تعالي ته په داسي شان لاس پورته کړي چي ترخونه يي بښکاره شي اود الله نه سوال وکړي مګر الله تعالي يي ضرور ورته ورکوي ترڅو چي بيړه اونه کړي اصحابو عرض اوکړو يا رسول الله دبيړی څه مطلب رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل: دهر مسلمان دعاقبليږي ترڅو چي تادي اونه کړي چي دا اونه وائي مادخپل رب نه سوال کړی وو خو قبول يی نه کړو، مادخپل رب نه سوال کړی وو خو قبول يی نه کړو.

امام ترمذي رحمه الله وايي: ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: په تاسو کي د هر يوکس سوال به قبليږي خو تادي ونکړي، چي دا اونه وائي مادخپل رب نه سوال کړی وو خو قبول يی نه کړو.

لغات: قطعية: درشته داریٔ نه کټ کيدل صله رحمي قطع کول يستعجل دباب استفعال نه په معني دجلتیٔ کولو.

تشريح: مطلب دادی چي انسان دجلدبازیٔ او مايوسیٔ په وجه دعا کول پريږدي داسي کول نه دي پکار انسان دي په دي خبره يقين اوساتي چي زما دعا به ضرور قبليږي مګر دا ممکن ده چي کله کله انسان په ډير اخلاص او اضطرار سره دعا غواړي او دده دا اخلاص دالله تعالي ډير خوښ شي نو په دي وجه دده د دعا په قبوليت کي تاخير اوشي او دبعضو خلقو ددعاګانو تسلسل ددویٔ دطرقیٔ سبب دی نو ځکه الله تعالي ددویٔ دعا زر نه قبلوي ددي دپاره چي دویٔ ددي عظيم نعمت نه محروم نشي.

په جلدبازیٔ کي خو يو نقصان دادی چي بيا انسان دعا کول پريږدي او دويم نقصان دادی چي ناامېده شي دريم نقصان دادی انسان دا ګمان اوکړي ګني اوس زما ددعا دقبوليت وخت لانه دی راغلی علامه توريشتي وائي په دعا کي دجلد بازیٔ نه کار اخستل نه دي پکار ځکه چي دا خو الله تعالي ته معلومه ده چي کله به دده دعا قبلوي او کله يي نه قبلوي.

****

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣١٢٥)

حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَخْبَرَنَا صَدَقَةُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ وَاسِعٍ، عَنْ شُتَيْرِ بْنِ نَهَارٍ العَبْدِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ حُسْنَ الظَّنِّ بِاللَّهِ مِنْ حُسْنِ عِبَادَةِ اللَّهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ هَذَا الوَجْهِ. (1)

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: په الله تعالي باندي ښه ګمان کول د ښه عبادت دجملي نه حسابيږي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث په دي سند غريب دي.

****

حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لِيَنْظُرَنَّ أَحَدُكُمْ مَا الَّذِي يَتَمَنَّى فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي مَا يُكْتَبُ لَهُ مِنْ أُمْنِيَّتِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ. (2)

ترجمه : دابو سلمه رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په تاسو کي هر يو کس لره پکار دي چي ديته اوګوري چي دي دالله نه دڅه تمنا کوي خکه چي ده ته نه ده معلومه چي دده په تمناګانو کي څه ليکلي کيږي.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن دي.

عمر بن ابي سلمه عبدالله بن عبدالاسد رضي الله عنه حالات

عمر دام سلمه رضي الله عنها بچی دی کوم چي ددي دمخکني خاوند ابوسلمه نه پيدا شوی وو عمر دهجرت نه دوه کاله مخکي پيداشوی وو او دا هغه وخت وو کله چي ام سلمه په حبشه کي وه عمرو پخپلو خويندو او رونړو کي دټولو نه مشر وو کله چي دام سلمه رضي الله عنها سره درسول الله صلي الله عليه وسلم نکاح اوشوه په دي وخت کي دی ماشوم وو او بيا ددينه پس درسول الله صلي الله عليه وسلم په فرورش کي راغی دی درسول الله صلي الله عليه وسلم نه هم راه راست روايات نقل کوي او دخپلي مور ام سلمه رضي الله عنها نه هم نقل کوي (سير اعلام لنبلاء).

عمر دعبدالملک بن مروان په زمانه کي وفات شو (اسد الغابه) دابن الاسير په قول دده دوفات کيدو کال ۸۳هجري دی.

****

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٤٨٨)

[2] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٩٥٤٤)

١٣٦_بَاب اللهم مَتِّعْنِي بِسَمْعِي إلخ

اي الله فائده راكړې ماته په اوريدو زما

حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا جَابِرُ بْنُ نُوحٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو فَيَقُولُ: " اللَّهُمَّ مَتِّعْنِي بِسَمْعِي وَبَصَرِي، وَاجْعَلْهُمَا الْوَارِثَ مِنِّي، وَانْصُرْنِي عَلَى مَنْ يَظْلِمُنِي، وَخُذْ مِنْهُ بِثَأْرِي ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ. (١)

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم چي به دعا غوښتله نو داسي به يې فرمائيل.

" اللَّهُمَّ مَتِّعْنِي بِسَمْعِي وَبَصَرِي، وَاجْعَلْهُمَا الْوَارِثَ مِنِّي، وَانْصُرْنِي عَلَى مَنْ يَظْلِمُنِي، وَخُذْ مِنْهُ بِثَأْرِي"

يعني اي الله ماته زما دسماعت او بصارت نه فائده راکړې او دوئ زما وارثان کړې (يعني زما دژونده پورې يې باقي اوساتې) او څوك چې په ما ظلم كوي دهغه په خلاف زما مدد اوكړې او زما بدله ورنه واخلې.

امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث حسن غريب دی.

****

١٣٧_بَاب لِيَسْأَلْ الْحَاجَةَ مَهْمَا صَغُرَتْ

خپل هر قسم حاجت اګر كه هر څومره ووړكي وي دالله تعالي نه غوښتل پكار دي

حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ سُلَيْمَانُ بْنُ الْأَشْعَثِ السِّجْزِيُّ، حَدَّثَنَا قَطَنٌ الْبَصْرِيُّ، أَخْبَرَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لِيَسْأَلْ أَحَدُكُمْ رَبَّهُ حَاجَتَهُ كُلَّهَا حَتَّى يَسْأَلَ شِسْعَ نَعْلِهِ إِذَا انْقَطَعَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ، وَرَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ سُلَيْمَانَ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنْ أَنَسٍ. (٢)

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په

---

١ _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٠١٠)

٢ _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٤٦)

تاسو کي هر يو لره پکار دي چي دخپل رب نه خپل حاجت اوغواړي تردي پوري که دچا دپيزار تسمه هم اوشليږي نو دا دي هم دخپل رب نه اوغواړي.
امام ترمذي رحمه الله وايي: داحديث غريب دي، يو څو راويانو داحديث دجعفر بن سليمان نه او هغه دثابت بناني نه او هغه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي مګر دوئ پخپل سند کي دانس رضي الله عنه ذکر نه کوي.

****

حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ عَبْدِ اللهِ، أَخْبَرَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لِيَسْأَلْ أَحَدُكُمْ رَبَّهُ حَاجَتَهُ حَتَّى يَسْأَلَهُ الْمِلْحَ، وَحَتَّى يَسْأَلَهُ شِسْعَ نَعْلِهِ إِذَا انْقَطَعَ" وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ قَطَنٍ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ سُلَيْمَانَ. [1]

ترجمه : دثابت بناني رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر چادپاره پکار ده چي خپل ټول ضروريات دالله تعالي نه اوغواړي تردي پوري چي مالګه به هم دالله نه غواړي او دپيزار تسمه به هم دالله نه غواړي خو چي کله اوشليږي، او دا حديث دقطن په روايت زيات صحيح دي کوم چي هغه دجعفر بن سليمان نه نقل کړي دي.

تشريح : "حتي يساله شسع نعله" يعني که دچا دپيزار تسمه هم اوشليږي دا به دالله تعالي نه غواړي دا کنايه ده ددي خبري نه چي وړوکي وړوکي څيز به هم دالله تعالي نه غواړئ او دبل چانه به سوال نه کوئ ځکه چي الله تعالي پخپلو بندګانو ډير مهربان دي او هغه داسي مهربان دي چي بغير دغوښتلو نه هم ورکوي او په نه غوښتلو ناراضه کيږي لهذا هر حاجت دالله پاك نه غوښتل پکار دي برابره خبره ده چي وړوکي حاجت وي او که لوي.

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ، وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

(سورة الصافات: ١٨٢)

****

****

*****

[1] ـ تفرد به المؤلف. وانظر ما قبله (تحفة الأشراف: ٤٧٦)